# نبوي سيرت

## (سيرت النبي)

(لومړی ټوک)

څېړنه:

اجرالدين اقبال

بسم الله الرحمن الرحيم

**((لَّقَدْ كانَ لَكُمْ فى رَسولِ اللَّهِ أُسوَةٌ حَسنَةٌ لِّمَن كانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَ الْيَوْمَ الاَخِرَ وَ ذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً (الاحزاب/۲۱)= په يقين د الله د استازي په ژوند کې مو هغو خلکو ته غوره بېلګه ده، چې الله او د اخرت ورځې ته هيلمن وي او الله ډېر يادوي.))**

# نبوي سيرت

## (سيرت النبي)

(لومړی ټوک)

څېړنه:
اجرالدين اقبال

مخخوړ:
د کتاب نوم: غوره بېلګه (سيرت النبي) – لومړی ټوک
څېړنه: اجرالدين اقبال
کمپيوټري چارې: انديال خپرندويه او علمي ټولنه www. andyal. com
د چاپ کال او وار: لومړی - مصر
د چاپ کال او وار: دويم
د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکونه

# خپلې خبرې

سپېڅلی څښتن مو وايي: ((لَّقَدْ كانَ لَكُمْ فى رَسولِ اللَّهِ أُسوَةٌ حَسنَةٌ لِّمَن كانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَ الْيَوْمَ الاَخِرَ وَ ذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً (الاحزاب/۲۱)= په يقين د الله د استازي په ژوند کې مو هغو خلکو ته غوره بېلګه ده، چې الله او د اخرت ورځې ته هيلمن وي او الله ډېر يادوي.))

ستاينه يوازې د نړۍ پالونکي څښتن ته ده، سلام او درود دې زموږ پر ښاغلي او لارښود حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه و آله وسلم، پر سپېڅلې کورنی او د هغه پر عزتمنو اصحابو دې وي.

((په رښتيا د رسول الله (ص) ژوند غوره بېلګه ده))

د رسول الله (ص) سيرت انسانانو ته غوره بېلګه ده.

د رسول الله (ص) سيرت عبرتناک او د انسان د ودې لامل دی.

د رسول الله (ص) پر سيرت ټول انسانان پوهېدای او عملي کولای شي.

د رسول الله (ص) سيرت د اروايیزو او جسمي رنځونو درملنه ده.

د رسول الله (ص) سيرت د انسان ټولنيز پوهاوی زياتوي.

د رسول الله (ص) سيرت د انسان کړنې مانيزوي.

د رسول الله (ص) سيرت تل؛ نوی او تازه دی.

د رسول الله (ص) سيرت يو اخلاقي، عبادي، عرفاني او ټولنيز کړندود دی.

د رسول الله (ص) سيرت انسان بيمه کوي.

د رسول الله (ص) سيرت انسان ته وګړه او مقام ورکوي.

په دې کتاب کې د قرآن له نظره د نبي کريم خويونه تشريح شوي او د يوه روايت له مخې، چې "د حضرت محمد (ص) ګرد سره خويونه قرآن و" نو ددې کتاب په لوستو به ددې روايت پر هر اړخيزه مانا هم پوه شو. د کتاب لوستنه ځوان کهول ته اړينه ده، چې خپلې ناستې ولاړې او راشه درشه د کتاب د منځپانګې له مخې تر سره کړي، د هغې پېر په تمه، چې راتلونکی کهول مو نړيوالو ته د بشپړ محمدي اخلاقو بېلګه وي.

رسول الله ښه خويونو ته مبعوث شوی و. رسول الله ښه خوی درلود. رسول الله په لورنه کې بې ساری و. رسول الله همېشه معطر و. د رسول الله سيرت دا و، چې يې څوک له ځان نه نهيلول. رسول الله خورا مېړنی او سخي و. رسول الله د نورو په پرتله ډېر لږ غوسه کېده او که غوسه کېده هم نو غوسه يې په حقه وه او تر ټولو ژر پخلا کېده. رسول الله د بېسدۍ تر بريده د الله له ډاره ژړل او چې له کومې غونډې به پاڅېده؛ نو ۲۵ ځل يې استغفار وايه. نشتمن يې د

نشتمنی او رنځور يې د رنځ له لامله نه راته نه د کوم پاچا له زورځواکی او ځواکه ډارېده. په هر چار کې يې زغم کاوه. اړين يې همداسې نه پرېښود، که څه به ورسره وو، ورکول يې که به نه وو، ويل يې: الله دې يې درکړي" رسول الله تر ويدېدو وړاندې قرآن لوسته.
رسول الله وويل: "زموږ د اهلبيتو ځوانمردي په دې کې ده، چې که چا راباندې تېری کړی وي، ترې تېرېږو او سره له دې، که چا بې برخې کړو؛ نو ورکړه ترې نه سپموو"
اوس که وغواړو سم ژوند دود زده کړه، بايد د رسول الله (ص) په سيرت پسې ولاړ شو.
انسان که د ځان او د خپل چاپېريال اندونو او کړنو ته ووينې نو نه يوازې يې انساني موخو ته رسولای نشي؛ بلکې شونې ده، بې لارې يې هم کړي. الله دې هغه ورځ را نه ولي، چې زموږ د نوي کهول بېلګې پردی او غير اسلامي وي. موږ د افغان مسلمان ولس په توګه د الله اوامرو ته غاړه ږدو او الله په قرآن کې رسول الله (ص) غوره بېلګه راښوولې ده؛ نوځکه لازم دي، چې ځان پر نبوي؛ خويونو پوه او عمل پرې وکړو.
پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم موږ ته بېلګه دی. آنحضرت (ص) د **۲۳** کلونو په اوږدو کې وکړای شول، "امت" جوړ کړي او نړيوالو ته يې وروښووله، چې د بشري ستونزو د هواري لار؛ يعنې "مدينة النبي".
موږ، چې د آنحضرت (ص) لارويان يو او هغه راته بېلګه دی بايد ځان وپوهو، چې آنحضرت له کومو طريقو کار واخست، چې دا بريا ور پر برخه شوه. په دې کتاب کې د آنحضرت اسلوب او چاردود خورا ښه شنل شوی او په دې حالاتو کې راښيي، چې څنګه د ټولنې د شرايطوپه پامنيوي ټولنيزې او سياسي هڅې وکړو، چې په هېواد کې د "مدينة النبي" په لاروی ټولنه جوړه کړو او پردې سربېره، ځوان کهول د کتاب تر مطالعې روسته په خپلمنځي خبرو اترو او وينو کې له پياوړي استدلاله برخمنولای شي.
او پخپله حضرت رسول الله (ص) حضرت علي کرم الله وجهه ته په وصيتونو کې ويلي، چې: ((شپږم وصيت مې دادی، چې په لمانځه، روژې او صدقې کې به راپسې راځې او سنت به مې عملي کوې.)) حضرت علي (ک) وويل: "چې څوک ځان پر الهي آدابو وپسولي، الله به يې د همېشنی ژغورنې پر لور ښيون کړي. "
امام صادق رحمة الله عليه وويل: "دا مې ښه ايسي، چې مسلمان هله ومري، چې د نبي کريم ګرد سره سنتونه که څه د يو ځل لپاره وي؛ خو عملي کړې يې وي. "
بېشکه کمال او آريزې موخې ته وررسېدل هله شونې دي، چې انسان په ټولو کړنو، راشه درشه او چلن کې د رسول الله لاروي وکړي او ځان د آنحضرت په ظاهري او باطني آدابو وپسولي، چې په دې بڼه کې د دنيا او آخرت له ښېګڼې برخمنېږي.

د اسلام ستر پېغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه و آله) انسانانو ته بېلگه دی، چې يې تر پېژندو روسته باید لاروي وشي، زموږ ديني ټولنې، چې د تاريخ په بهير کې د يرغلگرو پر وړاندې بې سارې سرښندنې کړي او نيت يې هم د "محمد رسول الله" (ص) په مشری د ديني غونډال - نظام ټينگول وو خو په خواشينی، چې د ټولنې د هڅوبيزې، سياسي، علمي، وټيزې او اډانيزې- تشکيلاتي ودې د نشتوالي له لامله، دې موخې ته رسېدلې نه ده؛ خو اوس چې د لوی الله په فضل، ټولو هېوادوالو ته لار پرانستل شوې، چې په دين ځان پوه کړي او پلې کولو ته يې راودانگي، چې گرد هېوادوال مو د اسلام له پېغمبر(صلی الله علیه و آله) نه د سمې پوهېدنې په رڼا کې يو بل ته د روری لاسونه ورکړي او په هېواد کې د(مدينة النبي) په لاروی ارماني ټولنه جوړه کړي.

اسلام په خپلو گروهيزو آرونو (توحيد+نبوت+معاد) کې له بله تقليد او په پټو سترگو تگ روا نه گڼي؛ يعنې څو مو پخپله په دې آرونو سر نه وي خلاص شوی نو د نورو د استدلال پر بنسټ په دې آرونو گروهې درځنې نه منل کېږي او بايد ددې آرونو د منلو لپاره د خپل عقل او پوهې هومره دلايل ولرې، چې زړه دې يې هم تصديق کړي وي، چې يو له دې گروهيزو آرونو څنې نبوت دی؛ نو موږ په دې کتاب کې د "سيرة النبي" په کښلو کې پر يو نوښت لاس پورې کړ او هغه داچې کتاب نېغ په نېغ پخپله د رسول الله (ص) په سيرت پيل نه کړو؛ بلکې لومړی پر نبوت بيا د پېغمبرانو په ځانگړنو او وروسې "د غوره بېلگې" پر ځانگړنو، خويونو، دودونو، کړلارو او ويناوو رڼا واچوو.

دا کتاب د ښوونځيو او پوهنتون زدکړيالانو ته د نبوي؛ خويونو غورچاڼ دی، چې د تنکی ځوانی په منگ کې ځان پرې پوه او عملي يې کړي او په دغسې عمر کې د يو څه زده کړه او عملي کول يې د کاڼي کرښه وي؛ نو هيله ده، چې همدا اوس ددې کتاب په لوستو د ځان جوړونې په بهير لاس پورې کړو.

دا کتاب د بشريت د ستر لارښود حضرت "محمد" صلی الله علیه و آله وسلم څېړنيز-شننيز سيرت دی، چې پکې په نوي انداز اړوند چارې څېړل شوي او له لوستو يې پوهېدای شو، چې پر "افغان ولس" د راتپل شويو خوځښتونو پر وړاندې د نوي کهول انديز، سياسي او تشکيلاتي اډانه غښتلې کوي.

ددې سيرت لوستل؛ نوي کهول ته مخه خلاصوي، چې څنگه مشری ته ورسي، څنگه ټولنه جوړه کړای شي، څنگه پر خپل ولس ډډه وکړي او څنگه له ولسه په قانوني توگه مشر راوټوکېږي.

پردي د خپلو ارزښتونو له مخې راته خپل لوبڅي تبليغوي او نوی کهول، چې د مشرۍ او انسان جوړونې په باب سمې ديني او ملي پوهېدنې و نه لري؛ نو هرومرو به د تبليغاتو ښکار شي؛؛ نوځکه ددې سيرت لوستل، ددې ډول هڅوبيز - فرهنګي يرغل پر وړاندې پياوړی ډال او يرغليز خوځښت دی.

هيله ده، چې د هېواد په ((اسلامي)) نظام کې ګرد سياسي ګوندونه، ټولنيز سازمانونه او مدني ټولنې په خپلو تشکيلاتي کړيو کې ددغسې سيرتونو په تدريس لاس پورې کړي، چې د نظام ستنې ټينګې او ټولنه جوړه شي.

رور مو

اجرالدين اقبال

# ويينې ته د ورننوتو دريمځه

## بېلګې ته اړتيا

د روزنې يوه غوره لار د برياليو بېلګو پېژندنه ده. بېلګې کلياتو او څرګندونو ته ژوند ورکوي.
ښه بېلګه انسان په بدې بېلګې پسې له ورتګه ژغوري. ښه بېلګه عملي بلنه او تبليغ دی.
د امامانو او د اسلام د مخکښانو د تلين ورځې نمانځنه همدې ته ده، چې په تاريخ کې د ايمان او زغم د بېلګو بېرغ اوچت وي.
الله به تل خپل استازي ته حکم کاوه، چې د انسانيت غوره بېلګې خلکو ته ور وپېژني، چې هېرې نشي.
په يو آيت کې وايي: د حضرت ابراهيم عليه السلام ياد ژوندی وساته (وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ) او په يو بل آيت کې وايي: د حضرت مريم عليه السلام ياد ژوندی وساته. (وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ)
((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً[1]=په يقين د رسول الله په ژوند کې مو هغو خلکو ته غوره بېلګه ده، چې الله او د آخرت ورځې ته هيلمن وي او الله ډېر يادوي.))
**"أُسْوَةٌ"** په ښو چارو کې له نورو د لاروی لپاره په کارېږي.
په قرآن کې دوه ځل دا ټکی کارول شوی يو ځل حضرت ابراهيم عليه السلام ته او بل ځل د حضرت محمد(صلی الله عليه و اله وسلم) لپاره، چې پاموړ خو دادي، چې حضرت ابراهيم له شرک او مشرکانو په برائت کې بېلګه دی؛ خو د اسلام پيغمبر د ټولو ښو چارو بېلګه دی.
رسول الله (ص) په هر څه کې، هر کهول ته په هر وخت کې بېلګه ده:
په مشرۍ کې تر لاس لاندېو باندې لورنه، ورين تندی، مشوره، اخلاص، ساده ژوند، علم ته هڅونه، عبادت استقامت، زغم، کړه وړه، له ظلم او تېري سره مبارزه، نظم، پاکوالي او خوړ بوی، مساوات، کورني ژوند، له ماشومانو سره مينه او....
رسول الله (ص) په ټولو چارو کې بېلګه ده، چې په تېرو مخونو کې څه نا څه اشاره ورته وشوه. په تاريخ کې د رسول الله (ص) پر بېلګه توب لېينې- شاهدۍ ته ډېر روايتونه او آيتونه شته؛ لکه د احزاب په جګړه کې د رسول الله (ص) ونډه، د مشرانو او رهبرانو بېلګه دی: لښکر

[1] (احزاب/۲۱)

او سرتېرو ته لارښوونه، هيله ورکول، خندق (کنده) کنل، ټوکې کول، ډاډه کول، دښمن ته تر ټولو په لومړۍ ليکه کې کېناستل.

حضرت علي کرم الله وجهه وويل: د جگړې لمبې به چې بلې شوې؛ نو موږ به رسول الله ته پناه وړه او په هغو شېبو کې په موږ کې، د رسول الله په څېر څوک دښمن ته ورنژدې نه و. [1]

که څه پورتنی آيت د احزاب د جنگ د آيتونو په شمېر کې راغي خو د اسلام پېغمبر په ټولو چارو کې تاريخ ته بېلگه دی.

څو ټکيو ته پام وکړئ:

۱ـ آيت پر "لَقَدْ" پيل شوی، چې هم د "لام" ټکی د قطعاً پر مانا دی او هم د "قد" ټکی؛ يعنې رسول الله (ص) قطعاً او حتماً درته بېلگه دی، چې په دې خبره کې اړنگ- شک مه کوئ.

۲ـ د "كَانَ" ټکی د ثبات او دوام لپاره دی؛ يعنې رسول الله په ټولو وختونو کې د ټولو کهولونو لپاره بېلگه دی.

۳ـ ددې پرځای، چې ووايي ((رسول الله (ص) بېلگه دی))، وايي: په رسول الله (ص) کې "أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ" ده؛ يعنې تاسې کله هم د رسول الله (ص) په څېر نشئ کيدای خو کړای شئ په اخلاقواو کړنو کې يې ځان ته بېلگه ومومئ.

رسول الله (ص) په څو اړخونو او يا چارو کې بېلگه نه؛ بلکې ټولې چارې يې بېلگه دي.

د آيت په پای کې وايي: هغوی کړای شي رسول الله (ص) ځان لپاره بېلگه کړي، چې پر الله او د قيامت پر ورځ ايمان لري. (لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ).

## د رسول الله بې سارې وگړه، د ټولو پېرونو لپاره تلپاتې بېلگه ده

د رسول الله ژوند- د خدای لپاره، د خدای په لار کې او الهي ښوونو ته وقف ژوند –او ايکي يو او بې ساری شخصيت، د اسلام د تاريخ د ټولو پېرونو لپاره يو تلپاتې بېلگه او زده کړه ده؛ ((لکم فی رسول الله اسوة حسنة[2])) له دې مجاهدت او هڅو سره، د اسلام ښوونې په ټول تاريخ کې خپرې شوې. دا ښوونې يوازې د مسلمانانو لپاره نه دي؛ ټول بشريت د اسلامي ښوونو له خپراوي گټنه کوي. موږ مسلمانان که د اسلامي ښوونو په قدر پوه شو او په ژورو يې ځان پوه کړو؛ نو و به کړای شو، چې د انسان له فطري او حقيقي غوښتنو سره سمه يوه نوې نړۍ جوړه کړو. اسلامي امت کولای شي، په اسلام په منگولو لگولو سره، په شهوتونو کې له

[1]. (نهج البلاغه/۲٦۰ حکمت).

[2]. د احزاب سورت، ۲۱ آيت.

ډوبې، د غوسې، جاهلیت، خودخواهۍ او ځانلمانځنې له نړۍ ځان وژغوري. د ټولو اسلامي ښوونو اروا همدا ده، چې په ژوند کې د انسان د کړنو او حرکت واګې شهوت او غوسې ته ور نه کړل شي؛ انسان او انساني ټولنې ته له خودخواهۍ ښیون وکړي؛ بېوزلۍ، بې برخېتوبونه، تبیعضونه، فسادونه، جهالتونه او بې ځایه تعصبونه، جګړې، مظلومیتونه، ظلمونه او قساوتونه په بشري ټولنه کې له کومه راځي؟ ددې ټولو جرړه په دې کې ده، چې هغه انسانان، چې د خپل نفس واګې په لاس کې نه لري او د شهوت، غضب، خودخواهۍ، مقام غوارۍ او مال راټولنې بندیوان دي؛ نو هر مهال، چې د نړۍ په یوه ګوټ کې د بشر پر برخلیک واکمن شي؛ نو بشریت یې بېوزلۍ، جګړې، جهالت، تبعیض، فساد او فتنو ته ورمخ کړی دی؛ اسلام غوارې د دې درملنه وکړي؛ اسلام وايي: د بشر د ارادې او هوډ واګې دې – چې بشر ته یو له سترو الهي نعمتونو ځنې ده- جهالت، شقاوت، نړۍ لمانځنې، ځان غوارۍ ته ور نه کړل شي؛ بلکې د عقل او تقوا په لاس کې دې وي.

د اسلام د مکرم نبي (صلی الله علیه و آله وسلم) شتون، په ټولو اسلامي پېرونو کې د یووالي او وحدت تومنه ده او نن هم کولای شي، شي؛ ځکه له دې سپېځلي انسان سره د ټولو مسلمانانو ګروهه له عاطفې او مینې سره مل ده؛ نو د هغه بختور نازولي شتون د ټولو مسلمانانو د عواطفو او عقایدو مرکز او چورلیځ دی او همدار چورلیز د مسلمانانو د زړونو د انس او د بېلابېلو اسلامي ډلو د نږدېوالي وزله ده.

هېڅ څوک نشي کولای، د نبي اکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) د شخصیت پر ټولو اړخونو په بشپړه توګه رڼا واچوي او د هغه بختور شخصیت ته ورنږدې واقعي انځور یې انځور کړي. څه چې موږ د نړۍ پال پالونکي د ټاکلي او د ټول تاریخ په ترڅ کې د پېغمبرانو د سردار په باب پېژندلي او پوه شوي پرې یو، د آنحضرت (صلی الله علیه و آله وسلم) د مانیز، باطني او حقیقي وجود یو سیوری دی؛ خو همدومره پېژندنه هم مسلمانانو ته بسیا دي، چې لومړی یې د کمال پر لوري یون تضمین کړي او د انسانیت لوړه څوکه او د بشري تکامل روستی پوړ یې د سترګو مخې ته ورانځور کړي او دویم داچې هغوی اسلامي وحدت او پر شاوخوا یې راټولېدلو ته وهڅوي؛ نو ځکه د نړۍ ټولو مسلمانانو ته مو سپارښتنه ده، چې د رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) د شخصیت او وګړې پر بېلابېلو اړخونو، ژوند، خویونو او هغه زده کړې، چې ترې راپاتې دي، ډېر کار وشي.

په لویدیځ او مسیحیت کې د منځنۍ پېړۍ تر پېر روسته، د رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) پر شخصیت خورا یرغلونه وشول او پرخلاف یې خورا ناوړه تبلیغات هم پیل شول او

د اسلام قسم خوړلي دښمنان پوه شول، چې له اسلام سره د مقابلې يوه لار داده، چې د رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) څېره ناوړه انځور کړي او په دې باب يې خورا کارونه هم وکړل او تر ننه هم کېږي، چې دښمن په دوامداره توګه او په بېلابېلو لارو هڅې کوي، چې د نړۍ د آزادو انسانانو له ذهنه د رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) څېره پاکه کړي؛ خو ځومره، چې په دې باب غورځې پورځې کوي؛ په نړۍ کې خورا خلک شته، چې څومره چې د نړۍ مسلمانان د خدای استازی پېژني، يا يې تر هغوی لږ وپېژني-يعنې د آنحضرت د شخصيت يو څرک هم که ووينې- نو اسلام او اسلامي معنوياتو ته به يې ورلېوالتيا تضمين شي او موږ بايد په دې مسله کار وکړو.

## د رسول الله (ص) د وګړې د معرفۍ لپاره پراخه او هر اړخيزې چارې

د اسلام د تبليغ لپاره کېدای شي، تر ټولو غوره لار همدا وي، چې موږ د اسلام د پېغمبر (صلی الله عليه و آله وسلم) څېره د نړۍ ليدونکيو او پلټونکيو ته روښانه کړو او ډېره پر ځای به وي، چې مخکې تردې چې د اسلام دښمنان او مخالفان په خپلو بېلابېلو پېچليو فرهنګي او هنري کړلارو زموږ د رسول الله څېره د نړۍ د بې خبره خلکو په ذهنونو کې مخدوشه کړي؛ هنرمند او پوه مسلمانان په نړۍ کې په شته بېلابېلو لارو، د آنحضرت (صلی الله عليه و آله وسلم) شخصيت خلکو ته په علمي، فرهنګي، هنري او تبليغي چارو روښانه کړي او دا اړينې چارې دي، چې بايد وشي.

### د ټولنيزو هڅو ترڅنګ د زړګني بدلون اړتيا

مهمه داده، چې موږ د هغو سترانو د لارو د پلويانو په نامه ـ چې لږ تر لږه مو دا ادعا ده او د نړۍ خلک مو د همدې ادعا په نامه پېژني – کوښښ وکړو، چې ددې سترو الهي وګړو بېلابېل اړخونه په خپل وګړيز وجود کې ـ که څه لږ وي – راژوندي کړو. بسيا نه ده، چې يوازې في سبيل الله مجاهدين او د اسلامي حکومت د رامنځ ته کولو لپاره هڅاندان، د ټولنې او نظام د جوړولو په فکر کې ووسي – که څه دا يوه ستره دنده، ستر واجب او کېدای شي د يوه مؤمن او مسلم له آريزو واجباتو څنې وي -؛ خو د اسلامي نظام د رامنځ ته کولو او د بريا د بشپړولو لپاره يې چې کومې هڅې او مجاهدتونه کوو، يوه بله هڅه او مجاهدت هم اړين دی، چې په خپل وجود، زړه او اراو کې يو بدلون او انقلاب رامنځ ته کړو.

د لورنې پېغمبر (ص) او الهي رسالت ته د بشريت د تل لپاره اړتيا

ددې ورځو لمانځل، زموږ د تذکر لپاره دي؛ ددې ورځې د مولود د ستريا د تذکر لپاره، چې حقيقتا بشري پوهه او ادراک تر هغه څه خورا کوشني دي، چې وکولای شي، هغه ستر حقيقت او هغه ستره اروا له هومره ستر نورانيت سره په سمه توګه درک کړي. څه چې زموږ په څېر د وګړيو پر ژبو راځي، يوازې د قضيې ظاهري اړخونه دي، چې:

فاق النبيين فی خلق و فی خلق و لم يدانوه فی علم ولاکرم
و کلهم من رسول اله ملتمس غرفا من البحر او رشفا من الديم[1]

دا هغه څيزونه دي، چې د بشر عقل او ادراک يې له لرې د نبي اعظم (ص) په وجود کېويني او د آنحضرت د احکامو په برکتونو، قوانينو او کليمو کې ځان ورغوپه کوي.

موږ نن د مسلمان او انسان په نامه، رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ته اړتيا لرو؛ ان د بشر له نوغي د خلکو په نامه؛ ځکه رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم رحمة للعالمين و؛ نه يوازې رحمة للمسلمين. ټول بشريت د پېغمبر اعظم د لورنو او برکتونو مرهون دی. څه چې آنحضرت د الهي رسالت په نامه بشريت ته ورکړل- چې د ټولو مهام او کلياتو جامع يې قرآن کريم دی- نن موږ ورته اړتيا لرو او کولای شو، چې ګټنه ترې وکړو.

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د بشر پر مخ د خلاصون لار پرانستې ده؛ د سمونې لار يې بشر ته هواره کړې؛ بشريت يې پر يوه داسې لار حرکت ته وهڅاوه، چې پردې لار حرکت کولای شي، د بشريت ستونزې له منځه يوسي؛ د دردونو درملنه وکړي. بشريت پخواني او پاخه دردونه لري، چې په يوه پېر او وخت پورې اړوند نه دي؛ بشريت عدالت ته اړمن دی. هدايت ته اړمن دی، لوړو انساني خويونو ته اړمن دی، لاسنيوي او لارښوونې ته اړمن دی؛ د بشر عقل، الهي مبعوثانو ته اړمن دی. بشر ته دا لار، پېغمبر اعظم له ټولې سعه او الهي هدايت ظرفيت سره پرانستې ده. څه چې لامل شول او تردې روسته هم لاملېږي، چې بشر د دې هدايت له برکتونو او الهي اعانت نه برخمن نشي، په خپله انسانانو پورې اړوند ده؛ زموږ په ناپوهۍ پورې اړوند ده؛ زموږ په لنډون او ناغېرۍ پورې اړوند ده؛ زموږ په ځاني غوښتنو او ځانپالنې پورې اړوند ده. بشر که سترګې پرانځي، له عقل نه کار واخلي، همت وکړي، حرکت وکړي؛ نو د دې چار لپاره لار پرانستې پرته ده، چې د بشر پخواني او پاخه دردونه او ټپونه درمل شي. د دې بلنې پر وړاندې شيطاني بلنه ده، چې جنود، ملګري او لاس روزلي يې تل د انبياوو پر وړاندې بسيج کړي دي او بشر د دوه لارې پر سر دی او بايد ټاکنه وکړي.

[1]. المصباح للکفعمي، ۷۳۱ مخ.

نن اسلامي امت- په ټولو اسلامي ليکو کې- د اسلام شريعت او د اسلام دين ته يوه نوې کتنه پيدا کړې ده؛ تر اوږدو غفلتونو روسته، د پېړيو پېړيو او پړله پسې کلونو لپاره د اسلامي حقايقو له وړانگو نه تر لرې پاتېدو روسته. نن بشر سترگې پرانستې دي؛ اسلامي نړۍ او اسلامي امت، اسلامي احکامو او اسلامي ښوونو ته سترگې پرانستې دي؛ ځکه د بشر په لاس جوړو شويو فلسفو، په ډگر کې خپله کمزوري او بېوسي ښوولې ده. نن اسلامي نړۍ کولای شي، په اسلامي شريعت او اسلامي ښوونو په منگولو لگولو، د تعالي او کمال پر لوري د بشريت مخکښان شي. نن نړۍ د اسلامي امت يون ته چمتو ده. د بشر علمي پرمختگونه- په غټو غټو برخو کې يې اخلاق، معنويت او ديني اروا گوښې شوې ده-، بشري پوهه او د نړۍ طبيعي حقايقو ته د بشر نوې کتنه کولای شي، د اسلامي امت د حرکت لپاره تومنه شي. اسلامي ښوونې، د اسلامي نړۍ په واک کې دي؛ د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم سيرت، د رسول الله وينا او تر دوی اوچت ((قرآن کريم)) د اسلامي نړۍ په واک کې دي او اسلامي نړۍ کولای شي، حرکت وکړي.

# نبوت

په الهي نړۍ لید کې، پېغمبرانو ته د انسان اړتیا څرگنده ده. که هستي موخه لري او پخپل بهیر کې سمه روانه وي؛ نو انسان هم، چې د نړۍ یوه برخه ده، باید څرگنده او له هر ډول تېروتنې پاکه لار ولري او که داسې نه وي؛ نو نېکمرغه به نشي.
په توکیز نړۍ لید کې، چې نړۍ ته موخه نشته او انسان هم بې له پخوانۍ ونډې او طرح جوړ شوی او تر څه مودې روسته به له منځه ولاړ شي؛ نو په دې نړۍ لید کې د نبوت خبره نوموتې نه ده.

## د توحید او نبوت اړیکه

ددې خبرې رایادول اړین گڼم، چې پنځگر غونډال پخپله پر پېغمبرانو او رسالت یې ژوندی لووی-گواه دی که پنځگر غونډال ته یوه لنډه کتنه وشي؛ نو الله د موجوداتو یوه اړتیا یې هم نه ده پرېښې د بېلگې په توگه: که لیدو ته یې سترگې ورکړې دي؛ نو ساتلو ته یې باڼه او وریزې هم ورکړي، چې د رڼا ورننوتل اوډون کړي. د سترگو په گوټ کې یې د اوښکو کڅوړې جوړې کړي، چې سترگه لمده وساتي؛ ځکه د سترگې وچېدل، سترگه له منځه وړي او د همدې سترگې په گوټ کې یې یو وړوکی سوری جوړ کړی، چې اضافي اوبه د پوزې له لارې ترې وباسي او که دواړه سوري نه وي؛ نو دا ټولې اوبه به مو پرمخ رابهېدې! د سترگې گاټې ته یې هومره حساسیت ورکړی، چې د پیاوړي او کمزورې رڼا پر وړاندې پخپله تنگ او پراخېږي، چې رڼا تنظیم شي او سترگه زیان و نه ویني. د سترگې شاوخوا ته یې ډول ډول عضلات جوړ کړي، چې بې د سر له تاوولو خپله شاوخوا بې له کومې ستونزې ووینې؛ نو پخپله ووایئ، الله چې د بشر دا ټولې غوښتنې چمتو کړي؛ نو ایا بشر به له یوه ډاډمن مشره بې برخې کړي، چې له وحې سره اړیکه لري ؟!
د هېواد مشهور فیلسوف "ابوعلي سینا بلخي" پخپل مشهور کتاب "شفا" کې لیکلي:
*د الهي پېغمبرانو راتگ ته د انسان اړتیا تر بڼو، وېښتانو او وریزو ډېره ده؛ نو (ناشونې ده)، چې الله هغه راکړي او دا را نه کړي.

**انبياوو عليه السلام ته د اړتيا دليلونه**

**۱ـد هستۍ موخه درلودل**

په الهي نړۍ ليد کې، هستي موخه لري او انسان هم د هستۍ يوه برخه ده او هستي انسان ته جوړه شوې او په واک کې يې ده؛ نو داسې خو نشي کېدای، چې انسان په هستۍ کې سرايله وي.

فرض کړئ د يو ښوونځي پرانستو ته ټول شونتياوې وي؛ لکه لابراتوار، کتابتون، علمي شونتياوې او... ، زدکړيالان هم په ټولګي کې ناست وي؛ خو ښوونکی نه وي؛ نو دا ټولې چارې به بې ځايه او بې ګټې وي.

**۲ـد هستۍ حرکت**

د الميزان تفسير مفسر علامه طباطبايي وايي: بېشکه ټوله هستي يو حرکت لري. پردې مانا، چې ټول موجودات پخپله وده کې شکمن نه دي او په پای کې ودې او کمال ته وررسي نو په دې ترڅ کې آيا سمه ده، چې انسان هېښنده وي؟ اړنګ نشته چې انسان هم بايد بې خطا او څپڅپاندی ولري، چې ورباندې پر تلو کمال ته ورسي او دا لار حکيم او عادل الله څنګه چې نورو موجوداتو ته ښوولې، انسان ته يې هم ښوولې ده؛ خو کوم توپير، چې انسان له نورو موجوداتو سره لري، دادی چې انسان کړای شي پردې لار ولاړ شي او يا يې پرېږدي.

**۳ـ د الله پېرزو**

الله (ج) د پېرزو له مخې خپلو بندګانو ته لار ورښيي او د الهي پېغمبرانو او اسماني کتابونو رالېږل هم يوه ستره الهي پېرزو ده؛ لکه څنګه چې په قرآن شريف کې وايو: ((إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَى =په يقين چې لارښوونه يوازې زموږ(پرغاړه) ده))

الله خبر دی، چې د انسان د تګ په بهير کې ډول ډول کړلېچونه دي، شيطانان ورته پټ دي او ځاني غوښتنې يې هرې خوا ته راکاږي نو ووايئ، چې آيا لوراند څښتن به انسان بې لارښوده پرېږدي؟

**٤ـد انسان ناپوهي**

په دې خو ټول خبر دي، چې انسان د ځان او هستۍ په هکله خورا لږ معلومات لري؛ خو مجهولات يې ډېر دي؛ نو بشر ښوونکي ته اړتيا لري، چې خپل مجهولات کم او معلومات ډېر کړي.

کېدای شي، ذهن ته راشي، چې د وخت په تېرېدو د انسان معلومات ډېرېږي؛ نو پېغمبرانو ته اړتيا نه لري، په ځواب کې دې يې وويل شي: که څه د وخت په تېرېدو انسان پر يو لړ خبرو

پوهېدای شي؛ خو دا معلومات ورته بسیا نه دي، چې لاندې آیت له دې حقیقته پرده اوچته کړې: ((وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ=پر څه چې نه پوهېدای، الله دروښوول.))
دا آیت وایي: داسې څیز نشته چې پرې نه پوهېږئ! پخپله ووایئ، چې بشر به څنګه وکړای شي پخپلو محدودو ماغزو د برزخ او قیامت پر پېښو پوه شي؛ نو پوه شئ، چې دا چار یوازې د انبیاوو علیه السلام کار دی.

**د انبیاوو علیه السلام لار د انسانانو پخوانۍ غوښتنه وه**

نیاو-عدالت غوښتنه د انسان طبیعي هیله ده او د تاریخي لاسوندونو- شواهدو له مخې ددې ډول حکومتونو څرګنده بېلګه، یوازې په انبیاوو او په نیاومن-عادلانه غونډال کې یې او په هغوی کې لیدل شوې، چې د دین له پلوه انبیاوو ته ورنږدې ول او دې طبیعي غوښتنې ته یوازې د انبیاوو لیکه مثبت ځواب ورکولای شي.

**پر نبوت نه ګروهه د الله نه ښانده - پېژندنه ده**

الله (ج) ټوله نړۍ د انسان ګټنې ته پیدا کړې او موږ ټول یې تلپاتې نېکمرغۍ ته خپلې نمانځنې ته رابللي یو او ددې خبرې په پامنیوي، چې لار نه پېژنو او د لارې په ټاکنه کې تېروځوو او پر لار د تګ پرمهال پر تېروتنو، شیطاني وسوسو او کږلاریو ککړېږو نو دلته مو کوربه لوراند ښتن دی؛ نو که د پیغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم په څېر مشر د معجزې په څېر له څراغ سره او د قرآن په څېر له بشپړ قانون سره را و نه لېږي؛ نو الله چې کومې بلنې راکړې، بې ځایه به وي.
د پیغمبرانو له رالېږلو نهایي موخه د واقعي تکامل پر لور د انسان یون دی او هر یون مبداء، مقصد او د لارې مشر او وسیلې ته اړتیا لري او په دې ټولو اړتیاوو کې مشر ته اړتیا خورا اړین چار دی؛ ځکه که مشر نه وي؛ نو هم به لار ورکه کړو او هم موخه او هم به له وسیلو پخپل ځای کې ګټه وانخلو.
د قرآن شریف د وینا له مخې: ((أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ[1] = ایا(له تا) د جاهلیت حکم او پرېکړه غواړي ؟! حال دا منونکې ډلې ته به د الله له پرېکړې د چا پرېکړه غوره وي؟))

[1] (مائده/۱۵۰)

الله تر ټولو پوه دی، پنځولي يې يو او د هر څه پنځګر د خپل پنځولي په هکله بشپړ کره معلومات لري.
قرآن شريف وايي: ((أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ[1] = آيا چاچې (موجودات) پنځولي، له حاله يې خبر نه دی؟ حال دا هغه (له دقيقو رازونو) خبر دی.))
پخپله ووايئ، څنګه به داسې وشي، چې حکيم الله ټول ژوي - موجودات انسان ته پيدا کړي؛ خو انسان بې کړلار خوشې او ايله پر خپل حال پرېږدي؟ آيا دا چار د حکمت پرخلاف نه دی؟که څوک اندي؛ نو سمه خبره خو داده، چې الله يې سم نه دی پېژندلی.

## آيا علم او عقل بسيا دي؟

اسلام عقل او پوهې ته خورا ارزښت ورکړی، تردې چې عقل د انسان دننني پيغمبر ګڼي او د انسانانو سزا او ثواب يې د هغوی د عقل پر بنسټ ټاکلې ده. قرآن شريف ټول اندنې ، تعقل او تدبر ته رابللي او په ډېرو آيتونو کې خو يې يوازې عقلمن او انديالان مخاطب دي.
څه چې اسلام د پوهې د ارزښت په هکله د جاهليت پرمهال ويلي ول، تر وسه يو عالم هم په يوه ځای کې، هغه ته ورته نه دي ويلي.
د يو ښوونځي خاوند پيدا کړئ، چې د پوهې د زده کړې موده يې له زانګو تر مړينې ټاکلې وي او زده کړې ته لرې لرې مسافرتونه ان تر اسمانه پراخوي؛ خو له دې ټولو سره، علم او عقل کله هم نشي کړای د انبياوو عليه السلام ځای ونيسي او له پيغمبرانو مو مړه خوا کړي.

## د بشري پوهې د نيمګړتيا دليلونه

### الف: د انسان د علم محدوديت

هره ورځ وينو، چې په دنيا کې پوهنځي زياتېږي او انسان ډول ډول راسپړنې کوي؛ خو انسان خپل عقل او علم ته ورپرېښوول، په حقيقت کې يې په کنده کې ورګوزارول دي؛ ځکه د خلکو پوهه او علم توپير لري. ډېری خلک يو څيز د ځان په ګټه ګڼي خو نور يې په خپل تاوان. هو! د انسان پوهه لږه ده. نه له تېرو سم خبر دی او نه له راتلونکي او نه د خپلو کړنو له چټک او سوکه سوکه غبرګونونو خبر دی. څومره ښه يې ويلي، چې د انسان پوهه يې د ناپوهۍ په پرتله؛ لکه څاڅکي چې سمندر ته وي.

[1] (ملک/۱۴)

**ب: د ښاندې - معرفت پر لار د خنډونو ډېروالی**

انسان هله پر حق پوهېدای شي، چې د ښاندې په لار کې يې خنډونه نه وي. انسان د عقل، آند او پوهې په درلودو کله داسې د غريزو په توپانو کې ښکېل شي، چې د واقعيت په پېژندو کې سرګردان شي او لار ورکی شي. ډېر داسې باطل دي، چې حق ښکاري او ډېر داسې حق، چې باطل ښکاري. داچې انسان د غريزو په ځاله کې راښکېل دی او واقعيتونه نهويني او کله هم د سمې پوهېدنې پرخلاف عمل کوي؛ نو انسان د قانون جوړونې حق نه لري. قرآن شريف وايي: ((إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ))

**ج: په پوهېدو کې ځنډ**

کله د وخت په تېرېدو او د علم په پرمختګ يو لړ واقعيتونو ته رسي خو دا د کلونو د ځنډ ګناه به د چا پر غاړه وي ؟ د ساري په توګه: تقريباً نيمه پېړۍ کېږي، چې انسان پوه شوی، چې د سرکوزي د غوښې خوړل د کدو دانې او د ((تريشين)) چنجي د رنځ لامل ګرځي خو هغوی چې په وحې د سرکوزي د غوښې له حراموالي خبر ول له پېړيو پېړيو راهيسي له دې ګواښه ژغورل شوي دي. د اسلام د سپېڅلي دين ډېری داسې احکام او اسرار دي، چې علم يې د وخت په تېرېدو له اسرارو پرده اوچته کړې ده؛ خو د انبياوو عليه السلام لارويان له هماغه پيله په يوه داسې پړاو کې واقع شول، چې د علم او تجربې پر بنسټ عالمان تر پېړيو روسته ور و رسېدل.

**پر معنوياتو پوهېدنه**

انسان په خپل عقل، علم، مشورې او څېړونو يوازې کړای شي د محسوسو توکيزو چارو په هکله ګام اوچت کړي او ځان ته لار وټاکي خو له تلپاتې نېکمرغۍ، مانيزې ودې او اروايزې روزنې ته انسان لاس رسي نه لري، چې بې له وحې او انبياو بله لار نه لري.

**د قانون ساز ځانګړنې**

۱ـ قانونساز بايد د انسان پر ټولو ظاهري او باطني اړتياوو پوه وي.

۲ـپر انسان ولورېږي.

۳ـبشپړ نياومن وي او پر حقيقت او سازښت-مصلحت خپلې غوښتنې غوره وګڼي.

نو ښکاره ده، چې داسې يو قانونساز بې له الله بل څوک نشي کېدای، چې د انبياوو عليه السلام له لارې انسانانو ته لارښوونې او پيغامونه رالېږي.

د انبیاوو علیه السلام په هکله د قرآن شریف وینا
د عقل له پلوه مو انبیاوو علیه السلام ته پر اړتیا رڼا واچوله نو اوس به هم د قرآن شریف څو آیتونو ته اشاره وکړو:
*((وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاء رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ[1]= او هر امت ته یو استازی وي او چې کله یې استازی راشي؛ نو ترمنځ یې په انصاف پرېکړې کېږي او هېڅ ډول تېری به پرې ونشي.)).
* ((وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلاَّ خلاَ فِيهَا نَذِيرٌ[2]= او هېڅ داسې امت نه و خو داچې خبروونکی پکې تېر شوی دی.))
*((لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَى مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ[3]= هغوی چې هلاك (اوبې لارې)کېږي په ښکاره دلیل هلاك شي او هغوی چې ژوندي کېږي (او سمه لار مومي) له څرګند دلیل سره ژوندي پاتې شي)).
هو! باید لار روښانه وي، چې انسان یې په پوهه او پوره ازادۍ وټاکي.
*((رُّسُلاً مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ[4]=(دا ټول) پېغمبران زېري ورکوونکي او وېروونکي لېږل شوي ول، چې د پېغمبرانو (تر لېږلو) روسته خلکو ته د الله په مقابل کې پلمه نه وي (او پر ټولو غاړه خلاصه شي).

**د انبیاوو علیه السلام ښاندلار**

د انبیاوو علیه السلام ښاندې ته درې لارې دي:
۱_معجزه.
۲_د انبیاوو علیه السلام د تېرو چارو، حالاتو او کارنامو څېړنه.
۳_د تېرو پېغمبرانو یادونې.
الف) معجزه:

---

[1] (یونس/۴۷)
[2] (فاطر/۲۴)
[3] (انفال/۴۲)
[4] (نساء/۱۶۵)

څوک چې وايي الله د لاربښوونې دنده راکړې او د هستۍ له خاوند او ناپایه ځواک سره په اړیکه کې یم؛ نو باید داسې کار وکړي، چې نور ترې بېوسې وي او له دې لارې خپله خبره جوته کړي، چې په رښتیا له بلې نړۍ سره په اړیکه کې دی، چې دې عمل ته معجزه وايي[1].

هر الهي پېغمبر خپل حقانیت جوتولو ته معجزه او معجزې درلودې؛ لکه:

١_حضرت داود علیه السلام ته د اوسپنې نرمېدل: ((وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ))

٢_حضرت سلیمان علیه السلام ته د باد ابلېدل: ((فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِ))

٣_حضرت صالح علیه السلام ته له غره د اوښې راوتل. ((إِنَّا مُرْسِلُو النَّاقَةِ))

٤_پر ښامار د حضرت موسی علیه السلام د کونټۍ اوړېدل. ((فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ))

٥_د حضرت عیسی علیه السلام په لاس د مرغۍ جوړېدل. ((أَنِّي أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللّهِ وَأُبْرِئُ الأكْمَهَ والأَبْرَصَ وَأُحْيِي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللّهِ))

د انبیاوو علیه السلام چار له مخترعانو، مرتاضانو، کوډګرو او پهلوانانو سره څه توپیر لري؟ هغوی هم یو لړ چارې کوي، چې نور یې نشي کړای؛ نو ولې ورته پېغمبران نه ویل کېږي؟!

## د پېغمبرانو علیه السلام او نابغو توپیر

نوابغ هغه وګړي دي، چې د آند، تعقل او حساب غښتلی ځواک لري؛ یعنې په حواسو له څیزونو سره اړیکه نیسي او د خپل عقل په حسابګر ځواک د خپل ذهن په محصولاتو کار کوي او پایلې ته رسي او شونې ده، تېر هم وځي.

الهي پېغمبران د آند، تعقل او حساب پر غښتلي ځواک سربېره، د وحې په ځواک هم سمبال دي، چې نابغې ترې بې برخې دي؛؛ نوځکه هېڅکله نه شو کړای نابغې له پېغمبرانو سره پرتله کړو؛ ځکه پرتلنه هغه مهال سمه ده، چې د دواړو ډلو چار یو ډول وي؛ خو که دوه ډوله وي؛ نو پرتلنه ناسمه ده. د بېلګې په توګه: آیا سمه ده، چې د دوو کسانو د لیدو، اورېدو او یا آندیز ځواک پرتله کړو او ووایو، چې کوم یې غښتلی دی.

د نابغو نبوغ په آندنې او انساني آند په ځواک پورې اړوند دی؛ خو د پېغمبرانو سربانډېتوب په وحې او د هستۍ په مبداء پورې د تړاو له لامله دی؛ نو دا دواړه پرتله کول ناسم چار دی.

١_ دا خلک اړوند چارو ته روزل شوي؛ خو انبیاء علیه السلام ښوونکي نه لري.

[1] د څېړونکي یادونه: پردې مطلب لا پوهېدو ته د ستر عالم ابوالقاسم خويي " قرآن پوهنه" ولولئ، چې په پښتو مې اړولی او چاپ شوی هم دی.

۲_ د دوی چارې د تمرين پايله ده؛ خو انبياء عليه السلام داسې نه ول. هغه پهلوان كه درانه درانه وزنونه پورته كوي؛ نو دې ځای ته تر كلونو كلونو تمرين روسته رسېدلي دي. هغه خلک، چې له حضرت صالح عليه السلام څخه راتاو شوي ول ورته يې وويل: كه له الهي ځواک سره په اړيكه كې يې نو همدا اوس له غره له دغو ځانګړونو سره اوښه راوباسه نو حضرت صالح عليه السلام ورته ونه ويل: لږ صبر وكړئ، چې تمرين يې وكړم او زده يې كړم نو بيا به دا كار وكړم او پردې سربېره، اصولاً دا چار په تمرين هم ترسره كېدای نشي.
۳_ ددې خلكو د چارو موخه توكيزه ده. كه پهلوان درانه وزنونه پورته كوي، جادوګر جادو كوي؛ نو د خلكو د پام راګرځولو او مادياتو ته وي؛ خو د انبياوو عليه السلام موخه د نېكمرغه غښتلي انسان او ټولنې جوړول دي.
٤_دا خلک تېروتوونكي او ګناهكاران دي؛ خو الهي انبياء عليه السلام سپين لمني دي او په خپل ژوند كې هېڅ ډول نيمګړتيا نه لري.
٥_جادوګر، پهلوان او.... هېڅكله نه وايي، كوم چار چې كوم، بل يې نشي كولای او د سيال رابللو مړانه هم نه لري؛ خو الهي انبياء عليه السلام په پوره ډاډ وايي: كوم چار، چې كوو، بل يې نشي كولای.
ځكه د الهي پېغمبرانو او د نورو سترګو تېرايستونكيو په چارو كې هم د موخې او هم د عمل له پلوه خورا توپيرونه دي.

**نندارتون نه معجزه**

هره معجزه، چې خلكو غوښته انبياوو عليه السلام ترسره كوله؟
كله يې ويل: كه پېغمبر يې نو الله راوله! ((تَأْتِيَ بِاللّهِ)) خو داچې الله جسم نه دی؛ نو دا چار ناشونی و.
كله يې ويل: كه پېغمبر يې نو اسمان ټوټې ټوټې كړه او راګوزار يې كړه: ((أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاء كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا)) او كله يې ويل: كه پېغمبر يې نو كور دې بايد له سرو زرو جوړ شوی وي. ((أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ)) او د ډول ډول ونو، انګورو او كجورو بڼ ولرې: ((أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ)).
آيا د بڼ او ماڼۍ درلودل له الله سره اړيكه راښيي؟ فرعونانو، قارونانو او نمرودانو دا هرڅه درلودل؛ نو آيا هغوی له الله سره په اړيكه كې وو؟

؛ نوڅکه معجزه یوازې هغه ده، چې له ستر الله سره د پېغمبر اړیکه څرګنده کړي او داسې نه ده، چې هر چاته په هر وخت کې د هر چا په خوښه، هره شېبه پېغمبران معجزه وکړي.

## په معجزه کې سنخیت

داچې حضرت موسی علیه السلام په یو داسې وخت کې پېغمبر شو، چې د جادو او کوډو بازار ګرم و معجزه یې د ښامار کونتی کېدل وو.

داچې د حضرت عیسی علیه السلام په پېر کې رنځ درملنه او طبابت پر مخ تللی و نو د الله په امر یې مړي راژوندي کول او زموږ د خپل ګران پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم په پېر کې شعر پر مخ تللی و نو معجزه یې کلام وه. دا له یوه پلوه او بلخوا داچې تلپاتې نړیوال دین تلپاتې نړیوالې معجزې ته اړتیا لري او قرآن شریف زموږ د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم تلپاتې معجزه ده، چې د رسول الله (ص) په رحلت یې معجزه له منځه ولانړه او پر خپل حال پاتې ده.

## دویمه لار: د لاسوندونو او د انبیاوو علیه السلام د چارو او حالاتو څېړنه:

د الله استازی څوک و؟ هم اُمي، هم نالوستی [1] او هم امین و. ولې یې د کفر، شرک، بوت نمانځنې، تفرقې او کږنو او انګېرنو-خرافاتو په پلازمېنه کې راپاڅېد او د فساد او ورکاوي پرخلاف یې پرېکنده مبارزه وکړه؟

د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم مخالفین ستر ځواکي، څانمني، پېسمني، ښاڅمني، زېښېنونکي او زور متې ول. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یوازې د حق پر لار روان و. له چا سره یې د مادیاتو ژمنه و نه کړه. په ریا، چل ول او ناسمو لارو یې خپل دین ته پراختیا ورنه کړه. وینا یې د قرآن شریف سپېڅلي احکام ول او روزل شوي یې اصحاب کرام وو.

رښتیا! که رسول الله (ص) مو معجزه هم نه درلوده؛ نو د ژوند حالات او موخه یې پر رښتینولۍ ستر لووي-ګواه دي.

## درېیمه لار: د تېرو پېغمبرانو یادونې:

پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم راغی، و یې ویل: هماغه پېغمبر یم، چې نوم او نښې مې په تورات او انجیل کې راغلي دي.

---

[1]. په راتلونکیو څېرکیو کې مو د پېغمبراکرم د نالوستي د جوتېدو لپاره اړوند مطالب راوړي دي.

په قرآن شریف کې راغلي: ((يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ)) هغوی پخپلو کتابونو کې د الله د روستي استازي نوم موندلی و. د اسلام د پېغمبر راتګ د نورو ادیانو لارویانو ته دومره څرګند و، چې په دې هکله قرآن شریف وایي: ((يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءهُمُ)) هغوی څنګه چې خپل اولاد پېژانده، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یې هم پېژانده؛ خو سره له دې ټولو، یهودانو په جګړو لاسونه پورې کړل او مسیحیانو خورا جزیې ومنلې. که دا خبره یې په کتابونو کې نه وه نو په ډېره اسانه به د الله په استازي (ص) پسې راپاڅېدلي ول او نه یوازې پر هغه به یې ایمان نه راووړ؛ بلکې دروغجن یې ورته وایه؛ نو هغه جګړې، جزیې او تاوانونه، چې هغه مهال د اسلام دښمنانو وزغمل، ددې خبرې پخلی کوي، چې زموږ د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم نوم او نښې یې په اسماني کتابونو کې راغلې وې خو نن یې پکې بدلون راوړی دی.

### د انبیاوو علیه السلام ځانګړنې

الهي انبیاء علیه السلام یو لړ ځانګړنې لري، چې معرفی او موخو پلي کولو ته یې ګټورې دي، چې څو ته یې اشاره کوو.

**۱_معجزه:**

معجزه یو له هغو ګټورو او محسوسو اوزارو څخه ده، چې انبیاوو علیه السلام درلوده، چې په دې اړه مو مخکې خبرې وکړې.

**۲_وحې:**

له دې لارې به پېغمبرانو له الله سره اړیکه نیوه او د الله پېغام به ورته راته. الله د نورو پېغمبرانو په هکله خپل روستي استازي ته وایي: ((وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ إِلاَّ رِجَالاً نُّوحِي إِلَيْهِمْ[۱] = موږ تر تا مخکې یوازې سړي (چې انسانان او د بشر له جنسه وو، د پېغمبرانو په توګه) لېږلي وو، چې وحې مو ورته کوله.))

د وحې په هکله یو لړ پوښتنې اوڅارېږي، چې پر دوو یې رڼا اچوو:

پوښتنه: آیا وحې یو ډول بشري نبوغ نه دی ؟

ځواب: ځینې، چې نه غواړي له بلې نړۍ سره اړیکه ومني؛ نو په وحې او ورته مسلو کې لټې وهي، چې یوه توکیزه مخونه ورته راوړي.

---

[۱] (انبیاء/۷)

که د انبیاوو علیه السلام د ځانګړونو برخه ولولئ؛ نو پوه به شئ، چې د انبیاوو علیه السلام او بشري نوابغو ترمنځ خورا توپیر دی له هر ډول اړنګ - شک، تېروتنې او ګناه څخه عصمت، له غیبو خبرېدل، نړه او د زړه له تله عبادت او هر څه د الله ګڼل، هغه خبرې دي، چې په نوابغو کې نشته؛ ځکه نوابغ هم تېروځي او هم سپین لمني نه دي او هم له غیبو خبر نه دي او له الهي عارفانه نړه عبادته لرې دي او څه چې لري، د الله (ج) له لوري یې نه ګڼي.

مګر موږ نورې نابغې نه لرو نو ولې هغوی د قرآن شریف په څېر رانه وړو او نشی کړای رایې وړي ؟

پوښتنه: ولې موږ ته وحې نه کېږي؟

ځواب: هره راډیو، هر چاینل او څپې نه را کاږي. دننني اخلاص، پاکي، تقوا او نور شرطونه پکار دي او باید زړه الهي وحې او الهام ته چمتو والی ولري.

**۳_د غیبو علم:**

انبیاء علیه السلام د غیبو علم لري. په دې هکله قرآن شریف وایي: ((عَالِمُ الْغَيْبِ فَلاَ يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا. إِلاَّ مَنِ ارْتَضَى مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا[1]= (هغه) پر غیبو پوهېږي او هېڅوك د خپلو غیبو (پر رازونو) نه پوهوي؛ خو هغه استازی (ترې خبروي)، چې (دې کار ته یې) غوره کړي نو په حقیقت کې مخکې او شاته یې ورته ساتونکي ګومارلي دي))

پوښتنه: د قرآن شریف په آیتونو کې لولو: بې له الله بل څوک د غیبو علم نه لري: ((وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ)) نو ددې آیت په شتون کې، چې د غیبو علم یې یوازې د الله لپاره ځانګړی کړی دی؛ نو څنګه یې پېغمبرانو ته جوتولای شئ ؟

ځواب: د غیبو علم یوازې په الله پورې ځانګړی دی او که پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم په دې هکله څه معلومات لري؛ نو الله به ورکړي وي او پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم له ځانه له غیبو خبر نه وي.

**٤_عصمت:**

د الله د استازي (ص) بل امتیاز عصمت (سپینلمنوب) دی. عصمت؛ یعنې انسان د ایمان، معرفت او بشپړ یقین له کبله د داسې ستر روح خاوند شي، چې په بشپړه ازادی، واک او پوهې ګناه نه کوي؛ بلکې د ګناه په فکر کې هم نه وي.

---

[1] (جن/ ۲٦، ۲۷)

**د اسماني مشر د عصمت اړتيا**

معصوم مشر ته؛ ځکه اړمن يو، چې نور انسانان تېروتنې، انديزې او عملي بې لارې لري؛ نو الله دې انسان له هغه ورځې ساتي، چې مشر هم بې لارې شي؛ ځکه په دې بڼه به دا مشر هم معصوم مشر ته اړمن شي او که هغه هم معصوم نه وي؛ نو بل معصوم ته به اړمن شي.

**څو يادونې:**

الف: ځينو د قرآن شريف ځينې آيتونه لوبځي کوي او د پېغمبرانو عصمت ټکنی کوي. موږ چې د قرآن شريف په آيتونو کې کومه څېړنه کړې نو سره له دې چې پېغمبرانو ته وړانديزونه، خبر او اخطارونه ورکړل شوي؛ خو دا يو هم د عصمت له مقام سره په ټکر کې نه دي.
ب: پېغمبران نه يوازې په گروهو او احکامو کې او نه يوازې په کبيره گناهونو کې؛ بلکې په ټولو گناهونو کې او نه يوازې په لوی لاس تېروتنو؛ بلکې په سهوي تېروتنو کې هم معصوم وي، چې دښمن ته يوه پلمه هم د دوست د ډاډ د خرابولو لپاره پيدا نشي. په قرآن شريف کې راغلي: ((فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ= ټينگ (او غوڅ) دليل خو له الله سره دی))
ج: عصمت د الله د استازي له لمونځونو، مغفرتونو او ژړاگانو سره په ټکر کې نه دی؛ ځکه همداچې د الله استازی ځان د الله پر وړاندې وگوري نو د زړه له کومې يې مني، چې الله يې له ماغزو او زړه خبر دی او ځاري يې او ټولې کړنې يې ليکل کېږي؛ نو داسې يو حالت پرې راپېښېږي، هغه کارونه، چې گناه هم نه وي؛ نو حيا کوي. د ساري په توگه: که په کور کې ټوخېږ م نو نه شرمېږم خو چې خلکو ته خبرې کوم نو که يو ټوخی هم وکړم نو سره له دې چې دا کار گناه نه ده؛ خو شرمېږم او له خلکو بښنه غواړم؛ ځکه ځان د خلکو پر وړاندې وينم نو د الله اولياء هم، چې ځان د الله پر وړاندې ويني نو ان له خپل کوشني عمله شرمېږي.

**د څو پوښتنو ځوابونه**

پوښتنه: ولې انبياء عليه السلام بشر دي ؟
ځواب: يوه نيوکه، چې پر انبياوو عليه السلام کېده دا وه، چې ولې بشر دي او پرښتې نه دي؟ حال دا ددې چارې ښکلا په همدې کې ده، چې انبياء بشر وي؛ ځکه که بشر نه وي؛ نو بشر به لانجه کوله، چې انبياء زموږ له ستونزو او مسايلو خبر نه دي او يوازې حکمونه راکوي!

انبياء بايد د نورو انسانانو په څېر شهوت او غضب ولري او ځان کابو کړي، چې نورو ته بېلگه شي. الله خپل استازي (ص) ته وايي: ((قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ[1]= زه خو ستاسې په څېر يو بشر يم)).

**آيا انبياوو عليه السلام خپله ارماني ټولنه جوړه کړه ؟**

ځواب: د خلکو ښيون-ښيون ته د انبياوو عليه السلام او اسماني قانون راتگ يو اړين چار دی؛ خو د خلکو له لوري د يوې دندې منل جلا چار دی او ددې دواړو حساب و کتاب توپير لري. د الله کړلار داسې نه ده، چې خلک په زور ښيون شي او که داسې وي؛ نو اوس به ټول ښيون شوي ول. ((وَلَوْ شَاء لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ))

د الله استازی ډانگ په لاس نه و او د چا ازادي يې هم له منځه يونړه: ((لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ[2]= ته پر هغوی زرور نه يې (چې ايمان راوړ ته يې اړ باسې).))

الله بايد خلکو ته ښيون وزله چمتو کړي: ((إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَى[3]= په يقين چې لارښوونه يوازې زموږ (پرغاړه) ده))

او خلک هم بايد ښيون منونکي وي؛ خو ځينو خلکو ښيون ونه مانه او دا خبره بايد ددې لامل نشي، چې د الله له لوري د نورو د ښيون لړۍ هم پرې شي؛ لکه څنگه چې بڼوال کله هم د مرداربوټو له کبله د ټول بڼ د ونو له څروبولو لاس نه اخلي.

په قرآن شريف کې لولو: ((وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُواْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاء وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ[4]=(هغه وخت درياد کړه) چې ستا پالونکي پرښتو ته وويل: ((زه پر ځمکه ځايناستی خليفه (استازی) ټاکم.)) (پرښتو) وويل: (((پالونکيه!) ايا ته داسې څوك ټاکې، چې فساد او وينه تويه کړي؟ (ځکه تر آدمه مخکې ځمکني موجودات پر فساد او وينه تويېدنه ککړ ول، که د دغه انسان له پيدايښته موخه عبادت وي) نو موږ (خو)دې ستايو او تا پر سپېڅلتوب ستايو.)) الله وويل: ((پر څه چې پوهېږم، پرې نه پوهېږئ.))

دا خلک دي، چې بايد ارماني ټولنه جوړه کړي او که د الله استازيو ارماني ټولنه جوړه نه کړه؛ نو په دې کې د خلکو ناغېړي وه.

---

[1] (فصلت/٦)

[2] (غاشيه/٢٢)

[3] (ليل/١٢)

[4] (بقره/٣٠)

**پوښتنه: ولې ټول انبياء په ختيځ کې راغلي دي ؟**

ځواب: موږ ته د لويديځ پخوانی تاريخ روښانه نه دی او موږ هم هېڅ داسې دليل نه لرو، چې ټول انبياء عليه السلام په ختيځ کې راغلي دي؛ خو د ((وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ ))له آيته په ګټنې ويلای شم، چې هر ملت پېغمبر درلود.

**پوښتنه: انبياء عليه السلام څو تنه ول او پر ټولو ايمان ته څه اړتيا ده؟**

ځواب: په قرآن شريف کې د پينځه ويش پېغمبرانو نومونه راغلي دي؛ خو د غافر په سورت کې لولو: ((وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلاً مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ[1] = او په يقين موږ تر تا مخکې استازي لېږلي وو، د ځينو قيصې مو درته کړي او د ځينو نه))

له دې آيته ګټنه کېږي، چې د پېغمبرانو شمېر يوازې دومره نه و، چې په قرآن شريف کې يې نومونه راغلي دي. په روايتونو کې ډول ډول شمېرې ښوول شوي چې تر ټولو مشهور يې هغه حديث دی، چې له حضرت ابوذر غفاري (رض) را نقل شوی، چې وايي: رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم مې وپوښت: انبياء عليه السلام څو تنه وو؟ و يې ويل: يو لک او څلرويشت زره. او همداراز د بقرې د سورت د ١٣٦ آيت له مخې او د آل عمران د سورت د ٨٦ آيت له مخې او همداراز د نساء د سورت د ١٠٥ سورت په رڼا کې، پر ټولوانبياوو عليه السلام ايمان پکار دی او کېدای شي دليل يې دا وي، چې بعثت يو ناڅاپي چار نه دی؛ بلکې يو الهي چار او پړاو دی. پر پخوانيو پېغمبرانو ايمان؛ يعنې د تاريخ په پوړيو کې پر انسانانو د الله پر همېشني او تلپاتې پېرزو ايمان درلودل د الله پر ثابت حکمت باندې؛ يعنې پر باطل د حق پر لاسبرېدو ايمان درلودل او ايمان درلودل، چې په تاريخ کې پر حقه انسانان يوې لوري ته او طاغوت بلې لوري ته و او په دې ټولو پړاوونو کې په پای کې بری د حق و او د باطل پوزه پر خاورو وه او د الله پر همدې سنت ايمان درلودل، د ودې، استقامت او پايداری راز دی.

[1] (غافر/٧٨)

**د پېغمبرانو عليه السلام ځانګړنې**

پېغمبران عليه السلام ، چې په وحې د هستی له مبداء او جرړې سره په اړيکه کې دي ځانګړې ځانګړنې لري، چې دادي:

**✸اعجاز:**

هر پېغمبر، چې الله مبعوثوي؛ نو له ځانګړي ځواکه برخمن وي، چې په دې خارق العاده ځواک د بشر له ځواکه هاخوا يو يا څو اغېزې ښيي، چې له الهي خارق العاده ځواکه يې د برخمنۍ ښکاروندی ده او د خبرې او د اسماني بلنې پر رښتينولۍ يې لووی دی.

قرآن کريم دې خارق العاده ځواک ته "آيت" وايي، چې پېغمبران يې د الله په اجازه د خپلې خبرې پر رښتينولۍ لووی نيسي؛ يعنې د "نبوت نښه" ورته وايي. اسلامي متکلمين ورته؛ ځکه "معجزه" وايي، چې د نورو وګړيو بېوسي ښيي.

قرآن کريم وايي، چې د هر پېغمبر د پېر خلکو له خپل پېغمبره د "آيت" او "معجزې" غوښتنه کوله او هغو پېغمبرانو به يوازې د هغوی معقولو او سوليزو-منطقي غوښتنو ته -؛ ځکه دا غوښتنې حقيقت پلټونکيو درلودې او بې له دې به يې د پېغمبرانو د پېژندو بله لار نه درلوده_ مثبت ځواب ورکاوه؛ خو که له معجزې غوښتو به يې حقيقت پلټنه موخه نه وه- د بېلګې په توګه: معامله يې ورسره کوله، چې که پلانی کار وکړې نو نبوت دې منو_ نو پېغمبرانو به يې غوښتنو ته منفي ځواب ورکاوه.

او؛ لکه څنګه مو چې په تېرو مخونو کې ورته اشاره وکړه، چې قرآن کريم د پېغمبرانو خورا معجزې بيان کړې؛ لکه د مړي ژوندي کول، په زانګو کې خبرې، د کونټۍ پر مار اوړېدل او له راتلونکي خبر ورکول.

**✸عصمت**

عصمت؛ يعنې له ګناه او تېروتنې خونديېنه-مصونيت؛ يعنې پېغمبران نه د ځاني غوښتنو تر واک لاندې راځي او نه ګناه کوي او نه په خپل چار کې تېروځي. له ګناه او تېروتنې يې خونديېنه، پرې د ډاډ د وړتيا خورا لوړه درجه ده.

اوس بايد پوه شو، چې دا خونديېنه په کومه بڼه ده؟ د بېلګې په توګه: آيا داسې ده، چې کله ګناه کوي؛ نو له غيبو يو مامور راځي او؛ لکه څنګه چې پلار خپل اولاد له تېروتنې ژغوري، د دوی مخه هم نيول کېږي؟ يا د پېغمبرانو خټه او فطرت داسې دی، چې نه پکې ګناه شونې ده او نه تېروتنه؛ لکه څنګه چې پرښته؛ ځکه زنا نه کوي، چې شهوت نه لري او يا د حساب ماشين

نه تېروځي؛ ځکه ذهن نه لري؟ یا داچې د پیغمبرانو گناه نه کول او نه تېروتل یې د لید د ځرنگوالي، د یقین او ایمان د درجې پایله ده؟ ؛البته همدا روستۍ خبره سمه ده.

**✸له گناه خوندیېنه:**

انسان مختار دی او خپلې چارې د گټې، تاوان، مصالحو او مفاسدو په پامنیوي ټاکي؛ نوځکه نومېرنه -"تشخیص" په اختیار او ټاکنه کې مهمه ونډه لري او ناشونې ده، انسان داسې چار وټاکي، چې نه یوازې گټه یې پکې نه وي؛ بلکې تاوان یې هم پکې وي د بېلگې په توگه: هوښیار او ژوند ته لېوال انسان کله هم ځان له غره نه راگوزاروي او یا وژونکي زهر نه خوري. "وگړیز ایمان" او د گناه آثارو ته پام له "لید لوري" سره توپیر لري څومره چې یې ایمان پیاوړی او د گناه آثارو ته یې پام ډېر وي هومره به له گناه ډډه کوي او گناه به یې لږه وي. که د ایمان درجه "شهود" او "عیان" ته ورسي، تردې چې د گناه کولو پرمهال ځان په هغه حالت کې ووینې، چې له غره ځان راگوزاروي او یا وژونکي زهر څښې نو په داسې حالتو کې د گناه د اختیار احتمال صفر ته رسي؛ یعنې هېڅکله د گناه پر لور نه ځي، چې دې حالت ته "له گناه عصمت" وایي.

نو له گناه عصمت، د ایمان د کمال او د تقوا د مزبوتۍ پایله ده. اړینه نه ده، چې انسان له گناه "خوندیېنې" او "عصمت" ته د رسېدو لپاره، بهرنې جبري ځواک ته اړمن وي او یا داچې د معصوم بدن داسې وي، چې گناه کول پکې ناشونې وي.

که انسان د گناه ځواک و نه لري او یو جبري ځواک یې تل له گناه ژغوري نو دا گناه نه کول ورته کمال نه گڼل کېږي؛ ځکه په بند کې د بندي انسان په څېر دی، چې د سرغړونې وس و نه لري. د داسې انسان سرغړونه نه کول یې په سرېتوب او امانت ساتۍ کې نه شمېرل کېږي.

**✸ له تېروتنې خوندیېنه:**

له تېروتنې خوندیېنه هم د پیغمبرانو د لید د ځرنگوالي زوکړه ده. تېروتنه هغه مهال رامنځ ته کېږي، چې انسان په بهرنې او یا دننني حس له یو واقعیت سره په اړیکه کې شي او پخپل ذهن کې یې یو لړ ذهني بڼې چمتو کوي او په عقل یې شننه او یو ځای کوي او ډول ډول تصرفات پکې کوي؛ نو هله له بهرنې واقعیتونو سره د ذهني بڼو په اړخ لگولو او اوډون کې تېروځي خو هغه مهال چې انسان په ځانگړي حس له عیني واقعیت سره نېغ په نېغه مخ وي او د واقعیت ادراک عین له واقعیت سره نښلون وي نه ذهني بڼه یې نو دلته تېروتنه مانا نه لري.

الهي پیغمبران له دننه نه د هستۍ له واقعیت سره اړیکه او نښلون لري. د واقعیت په متن کې تېروتنه نه فرضېږي. د بېلگې په توگه: که موږ د تسبیح سل دانې په لوښي کې واچوو او بیا سل

دانې واچوو او دا کار سل ځل وکړو؛ نو شونې ده، ذهن مو تېروځي او وانگېري، چې دا کار مو نهه نوي ځل کړی دی او یا داچې تر سلو اوچت شمېر وښیي.
هغه انسانان، چې د پوهې له پلوه د واقعیتونو په متن کې وي؛ نو په خپل وجود له بهیرونو سره یو ځای کېږي او له هر ډول تېروتنې خوندي کېږي او له گناه معصومېږي.

**✸مشري:**

سره له دې چې "پېغمبري" د الله پر لور له مانیز لوري او د الله ذات ته له ورنږدېدو او له خلکو له ځان شلولو (سیر من الخلق الی الحق)نه پیلېږي، چې غوښتنه یې بهر تا شا کول او دننه ته مخ کول دي؛ خو بالاخره د خلکو د ژوند د سمونې او سمې لارې ته د انسانانو د لارښوونې په موخه بهر او خلکو ته په راستنېدو (سیر بالحق فی الخلق) پای ته رسي.
په عربي کې "نبي" د "خبرراوړونکي" په مانا دی او "رسول" د "استازي" په مانا دی.
پېغمبر د الله پېغام د الله مخلوقاتو ته اوروي، ځواکونه یې راویښوي، نظم ورکوي او د الله او د هغه څه پر لور یې بوځي، چې د الله خوښي ده؛ یعنې سولې، مینې، سمونپالۍ، د نورو نه ځورولو، له "غیرالله" ازادي، نیاو او ښه خویونو ته یې رابلي او له ځاني غوښتنو او د ډول ډول بوتانو او طاغوتانو له لاروۍ یې ژغوري.
علامه محمد اقبال لاهوري پېغمبران او هغه نور وگړي، چې د الله پر لور مانیز بهیر لري (عارفان) خو د پېغمبرۍ رسالت نه لري او علامه ورته "باطني انسان" وایي، داسې توپیروي:
(("باطني انسان" نه غواړي په مانیز بهیر کې د باطني ډاډ او هوساینې تر پیدا کېدو روسته دنیوي ژوند ته راستون شي؛ خو د اړتیا له مخې نو راستنېدل یې بشریت ته دومره گټه نه لري؛ خو د پېغمبر راستنېدل له نوښت او گټه رسونې سره وي راستنېږي او په دې هوډ د زمانې په بهیر ورننوځي، چې د تاریخ بهیر تر واک لاندې کړي او له دې لارې له مطلوبو کمالونو نوې نړۍ جوړه کړي. "باطني انسان" ته روستی پوړ هوساینه ده؛ خو پېغمبر ته د روحي ځواکونو راوېښېدل دي، چې نړۍ وخوځوي او دا ځواکونه دومره منظم او د حساب له مخې دي، چې ټوله بشري نړۍ به بشپړه بدله کړي.)) [1]
د الله خوښي او د بشریت سمونې ته یې د خلکو مشري او د انساني ځواکونو اوډون او خوځښت، له پېغمبرۍ څخه یو نه بېلېدونکې چار دی.

[1]. احیای فکر دیني در اسلام، ۱۴۳ مخ، د احمد آرام ژباړه، چې موږ د استاد مرتضی مطهري د "وحې او نبوت له کتابه راخستی دی.

**✸نيت نړه کول:**

داچې پيغمبران الهي اډانه لري او الهي رسالت او دنده يې هډو هيريږي نه نو پخپل چار کې خلوص لري؛ يعنې بې د بشر له لارښوونې، بله هېڅ موخه نه لري او له خلکو د "رسالت" اجر نه غواړي.

قرآن کريم په الشعراء سورت کې په لنډه د ډېرى پيغمبرانو ويناوې راخستي، چې له خپلو امتونو سره د مخېدو پرمهال يې ورته کړې وې ؛ البته هر پيغمبر به د خپل وخت د ستونزو له مخې، خپل قوم ته ځانګړی پيغام درلود؛ خو يو مطلب، چې د ټولو پيغمبرانو په پيغام کې راغلی دادی، چې: ((زه له تاسې د خپل رسالت اجر نه غواړم)) نو خلوص او بې ساری توب د پيغمبرانو يوه ځانګړنه ده؛ نوځکه د پيغمبرانو پيغام له بې ساري پرېکندتوب سره يو ځای دی.

داچې پيغمبران ځان "مبعوث" ننګېري او د خپل رسالت په ګټورتوب او ورته په اړتيا کې يې پوټی اړنګ –شک هم نه لري؛ نو په بشپړ پرېکندتوب خپل رسالت تبليغوي او دفاع ترې کوي.

حضرت موسى بن عمران عليه السلام له خپل رور حضرت هارون عليه السلام سره داسې فرعون ته ورغلل، چې ساده جامې يې اغوستې وې او يوه کونټۍ ورسره وه او ټولې وزلې يې همدا وې او په بشپړ پرېکندتوب يې راوباله، ورته يې وويل: ((که بلنه مو و نه منې نو د واکمنۍ ړنګېدل دې هرومرو دي او که و يې منې او پر هغه لار راسره ولاړ شې، چې موږ پرې روان يو نو عزت دې تضمينوو.))

فرعون هېښنده وويل: ((دوی ته وګوره! که ورپسې ولاړ شم نو عزت مې تضمينوي، که نه د واکمنۍ ړنګېدل مې هرومرو دي!!!)) [1]

د اسلام پيغمبر د بعثت په لومړيو کلونو کې، چې د مسلمانانو شمېر د ګوتو هومره و، د "يوم الانذار" په غونډه کې يې د بني هاشمو مشرانو ته په پشپړ پرېکندتوب وويل: ((دين به مې نړيوال شي او نېکمرغي مو په دې کې ده، چې بلنه مې ومنئ.))

دا خبره اورېدونکيو ته دومره درنه او د نه باور وړ وه، چې ټولو يو بل ته وکتل، هېڅ يې هم و نه ويل او ووتل.

---

[1]. وګ: نهج البلاغه/۱۹۰ خطبه.

"قریش"، چې د رسول الله (ص) تره "ابوطالب" ته راغلل او غوره ژمنه یې ورسره وکړه، چې که وراره دې له تبلیغه لاس واخلي نو چې څه غواړي، ور به یې کړو خوغوځ ځواب یې ورکړ: ((قسم پر الله! که لمر راته په یوه لاس او سپوږمۍ راته په بل لاس کې کېږدي، چې له خپل رسالته لاس واخلم نو هېڅکله به دا کار و نه کړم او خپل رسالت به پرېنږدم.))
هو!؛ لکه څنګه چې د انسانانو مشرۍ ته له ګناه او تېروتنې عصمت د وحې پایله ده خلوص او پرېکندتوب هم د پیغمبرۍ غوښتنه ده.

**✹رغاونه:**

پېغمبران یوازې د وګړي او ټولنې جوړولو لپاره ځواکونو ته نظم او حرکت ورکوي په بله وینا: دا کار د بشر نېکمرغۍ ته کوي او ناشونې ده، د وګړي یا انساني ټولنې فساد ته یې وکړي.
که د یو چا بلنه، چې د پیغمبرۍ دعوا کوي، د ټولنې او انسانانو فاسدول وي؛ نو پخپله همدا بلنه یې پر دروغجنۍ ستر ګواه ده. علامه محمد اقبال لاهوري دلته هم ارزښتمنه خبره لري، وایي:
((د یو پېغمبر د دیني تجربې د ارزښت (د رسالت حقیقت او له دننه یې له الله سره اړیکه) د ارزونې لپاره بله لار داده، چې هغه انسانیت وارزول شي، چې رامنځ ته کړی یې دی او همداراز هغه فرهنګ او تمدن ته پام کول دي، چې دده له رسالته راولاړ شوی دی.))[1]

**✹مبارزه:**

له شرکونو، کږنو انګېرنو، ناپوهیو، خیالپلونو او زورمتیو سره مبارزه د پیغمبرۍ د دعوا کوونکي د خبرې د رښتینولۍ نښه ده؛ یعنې ناشونې ده، څوک د الله استازی وي او په پیغام کې یې له شرک، زورمتیو او بې عدالتۍ سره مبارزه نه وي او یا د شرکونو، کږنو انګېرنو، ناپوهیو، خیالپلونو او زورمتیو پر وړاندې چوپ کېني.
د ټولو پیغمبرانو د بلنې آرونه "توحید"، "عقل" او "عدل" دي او یوازې د هغو بلنه ته غوږ ایښودای شو، چې بلنه یې په همدې بهیر کې وي؛ یعنې که څوک پخپله بلنه کې د "توحید"، "عقل" او "عدل" پر ضد خبره وکړي؛ نو پیغام یې د لوستو وړ نه دی او پر نبوت یې هم دلیلېدای نشي. همداراز د هغه بلنه د غوږ ایښوولو وړ نه ده او پر نبوت یې دلیلېدای نشي، چې ګناه وکړي، تېروځي یا د خلکو د مشرۍ وس و نه لري (که څه ددې بېوسۍ لامل جسمي او

[1]. احیای فکر دیني در اسلام: ۱٤٤ مخ.

يا داسې رنځ؛ لکه جذام وي، چې د خلکو ترې کرکه وشي) يا داچې بلنه يې د رغاونې لپاره نه وي؛ نو که څه خورا معجزې راوړاندې کړي عقل يې لاروي نه مني.

**✸بشري اړخ:**

سره له دې چې پېغمبران خارق العاده اړخونه(؛ لکه معجزه، له گناه او تېروتنې عصمت، بې سارې مشري، بې سارې رغاونه، له شرک، کږنو انگېرنو او زورمتيو سره بې سارې مبارزه) لري؛ خو بيا هم پېغمبران بشر دي؛ يعنې د بشريت ټولې اړتياوې لري: د نورو په څېر خوري، ويدېږي، گرځي، واده کوي، اولاد زيږوي او بالاخره مري؛ يعنې ټولې هغه چارې، چې د بشريت غوښتنه ده.

پېغمبران مکلف دي، پر هغه څه پخپله هم عمل وکړي، چې نورو ته يې وايي حلال ورته حلال او حرام ورته حرام دي او په ځينو چارو کې د پېغمبرانو پر غاړه ستونزمنې دندې هم وي؛ لکه څنگه چې پر رسول الله (ص) د شپې لمونځ فرض و.

پېغمبران هېڅکله ځانونه له احکامو استثناء نه گڼي د نورو په څېر او تر نورو ډېر له خدايه وېرېږي تر نورو ډېر د الله عبادت کوي، لمونځ کوي، روژې نيسي، جهاد کوي، زکات ورکوي، له خلکو سره نېکي کوي، د ځان، کورنۍ او خلکو ژوند ته هڅاند دي او په ژوند کې پر نورو پېټې نه دي.

له نورو سره د پېغمبرانو توپير په وحې او د وحې په سريزو او غوښتنو کې دی. وحې پېغمبران له بشريته نه وباسي؛ بلکې بشپړ انسانان او نورو ته يې غوره بېلگه کوي؛ نوځکه د نورو لارښود او مشران دي.

## د الله تعالی شريعت څښتني استازي

**په ټوليزه توگه پېغمبران دوې ډلې دي:**

يوه ډله يې لږگي- اقليت دي، چې په خپلواکه بڼه د يو لړ قوانينو او احکامو وحې ورته شوې او دنده ور پر غاړه شوې، چې دا قوانين او احکام خلکو ته تبليغ کړي او ددې قوانينو او احکامو پر بنسټ ورته لارښوونه وکړي. دې پېغمبرانو ته د قرآن په څرگندنه-اصطلاح "اولوالعزم" ويل کېږي.

کټ مټ نه پوهېږو، چې "اولوالعزم پېغمبران" څو ول په تېره، چې قرآن کريم هم په ډاگه کوي، چې يوازې د ځينو پېغمبرانو کيسې يې کړې دي (که قرآن د ټولو پېغمبرانو کيسې کړې وای او يا لږ تر لږه مدعي وو، چې ټول مهم پېغمبران په قرآن کې ياد شوي دي؛ نو شونې وه، چې د قرآن له مخې د "اولوالعزم" پېغمبرانو پر شمېر پوهېدلي وای) خو دومره خبر يو، چې

حضرت نوح، حضرت حضرت ابراهیم، حضرت موسی، حضرت عیسی او حضرت محمد (صلوات الله علیه و علیهم) ټول الوالعزمه او شریعت څښتني ول او دې هر یوه ته د یو لړ قوانینو او احکامو وحې شوې ده، چې تبلیغ یې کړي او پر بنسټ یې خلک وروزي.
دویمه ډله هغه پېغمبران دي، چې خپل شریعت او قوانین یې نه درلودل؛ یعنې د هغه شریعت او قوانینو د تبلیغ دنده یې درلوده، چې په هغه وخت کې ول او ډېری پېغمبران په دې ډله کې دي؛ لکه "هود"، "صالح"، "لوط"، "اسحاق"، "اسماعیل"، "یعقوب"، "یوسف"، "یوشع"، "شعیب"، "هارون"، "زکریا" او "یحیی" علیهم السلام.

## د پېغمبرانو علیه السلام تاریخي ونډه

آیا پېغمبرانو د تاریخ په بهیر کې منفي یا مثبته ونډه درلوده که نه بېخي یې نه درلوده؟ که ونډه یې درلوده؛ نو څه وه؟مثبت که منفي؟
پردې د دین مخالفان هم منښته-اعتراف کوي، چې پېغمبرانو په تاریخ کې ګټوره ونډه درلودلې او بې اغېزې وګړي نه ول.
پخوا پېغمبران د ستر ملي ځواک ښکارندوی ول.
په دې کې څه خبره نشته چې پېغمبران په دیني ملاتړ یو ځواک و خو خبره ددې ځواک د کړنو په لوري کې ده او له همدې ځایه بېلابېلې څرګندونې راولاړې شوې دي.
الف- ځینو په لیکنو کې ډېر په اسانه ویلي: پېغمبرانو منفي ونډه درلوده، وایي:
((د پېغمبرانو دریځ نیونه، مانیزه-معنوي او د دنیا ضد وه د پېغمبرانو د ویناوو چورلیځ دنیا ته شا، اخرت ته مخه، بهر پرېږده، سر په ګرېوان کې ښکته کړه، ذهنیت ته پام او عینیت ته شاکول دي؛؛ نوځکه دین او پېغمبران، چې ددې ځواک ښکاروندی ول، د بشر د پرمختګ په مخ کې خنډ او له ژونده زړه تورونکي ول؛ نوځکه په تاریخ کې د پېغمبرانو ونډه منفي ده.))
ب - بله ډله په بله بڼه د دین د خاوندانو ونډه ښيي دوی د لومړی ډلې اپوټه د دین خاوندانو ته دنیا ته د لېوالتیا پر لوري پر دریځ نیونه قایل دي او مانیزه دریځ نیونه یې دې چارو ته پوښښ او د خلکو تېرایستل او درغلي ښوولې او مدعي دي، چې دنیا ته د لېوالتیا دا دریځ د موجوده حالاتو د ساتنې او د لاسبرې ټولنې پر ګټه او تر لاس لاندې ټولنې پر تاوان او د ټولنې له پرمختګ سره د مبارزې لپاره ده. مدعي دي، چې تاریخ د هرې ښکارندې په څېر یو دیالکتیکي یون لري؛ یعنې له دننني تضاده راولاړ حرکت. د مالکیت په رامنځ ته کېدو ټولنه پر دوو دښمنو ډلو وویشل شوه: واکمنه او زبېښوونکې او بله بې برخې او زبېښل شوې. واکمنه

ډله د خپلو ګټو د خونديېنې لپاره تل د موجوده حالاتو پلوې وه او د توليد د اوزارو له جبري تکامل سره سره غواړي ټولنه په يوه حال کې وساتي خو بې برخې او د توليد له اوزارو سره همغږې ټولنه غواړي موجوده حالات واړوي او ښه حالات يې ځايناستي کړي: واکمنه ټولنه په درې ځېرو کې خپله ونډه ترسره کوي: دين، دولت او شتمني. په بله وينا: د زور، زر او درغلۍ لاملونه.
د دين د خاوندانو ونډه د ظالمانو او زبېښوونکيو پر ګټه د خلکو تېرايستل او ورسره درغلي ده. د دين د خاوندانو آخرت ګروهي واقعي نه وه؛ بلکې د خپلې دنياګروهۍ د پټولو او د بېوزليو تېرايستنې ته يو چل دی؛ نو د دين د خاوندانو تاريخي ونډه؛ ځکه منفي وه، چې تل دودپالي او د موجوده حالاتو ساتونکي وو؛ يعنې د زر، زور او تزوير پلويان ول.
تاريخ ته په مخونه کې د مارکسزم تز همدا دی د مارکسزم له ليد لوري د دين، دولت او شتمنۍ درې لاملونه، په تاريخ کې د مالکيت له اصل سره غبرګ او د خلکو ضد لاملونه ول.
ج_ځينې تاريخ بل ډول او د پورتنۍ څرګندونې پر ضد تفسيروي؛ خو ورسره د دين او پېغمبرانو ونډه منفي ګڼي. دوی مدعي دي، چې د طبيعت او د تاريخ د تکامل قانون د زرورو د غښتلېدو او د کمزرويو په له منځه وړو کې دی زرور د تاريخ د پرمختګ او کمزوري يې د پر شا تګ او درېدو لامل ول او دي کمزوريو دين راوايست، چې د زرورو مخه پرې ونيسي.
دينوالو هم د نياو - عدل، آزادۍ، رښتينولۍ، انصاف، مينې، لورنې، مرستې او... په بله وينا: د مريېنې اخلاق يې د کمزوريو پر ګټه او د زرورو پر تاوان راوايستل او د زرورو وجدان يې له ځانه اغېزمن کړ او د کمزوريو د له منځ تلو او د بشر د خپل د سمونې او د سترو انسانانو د رامنځ ته کېدو لامل شول؛ نو د دين او پېغمبرانو ونډه؛ ځکه منفي ده، چې د زرورو د اخلاقو پر ضد، د "مريېنې د اخلاقو" پلويان ول.
الماني توکيزپال فيلسوف "نيچه" هم ددې څرګندونې پلوی دی.
د-نورې ډلې ان له دينه نمښتي هم په تاريخ کې د پېغمبرانو او اديانو ونډه مثبته ګڼي دې ډلې له يوه اړخه د پېغمبرانو اخلاقي او ټولنيزو منځپانګو ته پام کړی او ورسره يې د تاريخ عيني واقعيتونو ته هم اشاره کړې او دې پايلې ته رسېدلي، چې پېغمبرانو بشريت سمونې او پرمختګ ته يې اغېزمن مثبت ګامونه اخستي دي.
**بشري تمدن دوه اړخونه لري: توکيز او مانيز.**
د تمدن توکيز اړخ فني او صنعتي اړخ دی، چې پېر په پېر پرمخ تللی او ترديې ځايه رارسېدلی دی.

د تمدن مانيز اړخ د انسانانو ترمنځ د انساني اړيکو دی. د تمدن مانيز اړخ د پېغمبرانو د غورځو پرځو پايله ده او د تمدن د مانيزو وړانګو په رڼا کې، توکيز اړخ يې هم د ودې ساه واخسته؛ نو د بشري تمدن د مانيز اړخ په تکامل کې د پېغمبرانو ونډه سيده او نېغ په نېغه ده او په توکيز اړخ کې يې ناسيده او غير مستقيمه ده.

ددې ډلې له ليد لوري: په تېر وخت کې د پېغمبرانو له مثبتې ونډې څوک منکرېدای نشي؛ خو په دوی کې ځينې ډلې د پېغمبرانو او اديانو مثبته ونډه په تېر وخت پورې ځانګړې بولي، وايي: نن ددې ډول ښوونو وخت نه دی او ديني ښوونو ارزښت له لاسه ورکړی دی او په ګانده - راتلونکې کې به يې نور هم له لاسه ورکړي؛ خو ځينې ګروهن دي، چې د ديني آند او ايمان ونډه هغه ونډه ده، چې علمي پرمختګونه يې ځايناستېدای نشي؛ لکه څنګه چې فلسفي ښوونځيو هم و نه شو کړای ځايناستي يې شي.

په هغو بېلابېلو ونډو کې، چې پېغمبرانو په تېر وخت کې درلودې، احياناً داسې موارد پکې پيدا کېږي، چې د بشر د ټولنيز تکامل شعور، بشر له ديني ښوونو مړه خوا کوي؛ خو تر ټولو بنسټيزې ونډې يې هماغه دي، چې په تېر وخت کې وې او په راتلونکې کې به هم له بشپړ ځواک سره پر خپل ځای وي.

## د بشريت پېغام او درې مهمو کړلارو؛ اسلامي بلنې، علم او اخلاق، تزکيه او اخلاق او عدالت او انصاف ته د بشريت اړتيا

د خاتم پېغمبر (صلی الله عليه و آله وسلم) بعثت، بشريت د يوه ور پرانستېدل ول، چې هغوی د بشري ټولنو له پخوانيو او پخو دردونو وژغوري. ځينو دا غږ ومانه او له ګټو څنې يې ګټنه وکړه، ځينو هم سرغړونه ترې وکړه او تاوان يې وکړ.

نن هم زما په اند، چې بشر خورا اړمن دی، د بعثت پېغام ته او د سترو الهي پېغمبرانو له ښوونو لاروی ته، چې ټول يې په بشپړه توګه، د اسلام په ښوونو او قرآن کې راټول شوي دي. د اسلامي بلنې د کړلار په سر کې درې څيزونه تر ټولو مهم دي، چې د قرآن کريم په آيتونو کې په څرګنده راغلي دي: علم او حکمت، تزکيه او اخلاق او عدالت او انصاف.

که سم ووينو؛ نو نن هم بشر همدې دريو څيزونو ته اړتيا لري. د بشر علم نن خورا پرمختګونه کړي دي؛ خو په يوه ځانګړي اړخ کې. توکيز او طبيعي علوم- او په توکيز ژوند پورې اړوند علوم- په بشريت کې خورا پرمختګ کړی دی؛ خو بشر د مانيزو علومو- څه چې د بشر ذهن د پنځون پر مبداء او الهي توحيد روښانوي؛ زړه ته يې ښيون کوي، پر هغه لوري، چې بشر يې

ورته پنځول شوی دی – زده کړې ته اړمن دی. علم ته د اسلام رابلنه، یوه هر اړخیزه بلنه ده. د اخلاقو او مانیزې او اراویي تزکيې مسله تر دوی هم نن خورا مهمه ده. د بشر د ستونزو لامل د اخلاقو له تزکیو روسته پاتېدنه ده.

په لومړۍ درجه کې د ولسونو مخور، د هېواد او ټولنو د چارو سمبالوونکي، ددې وینامخاطبان دي. که د بشري ټولنو په سوکو کې – چې سیاسي، علمي او فرهنگي مخور دي- اخلاق او معنویت او تزکیه وي؛ نو د فیاض دا سرچینه به لمنو ته هم راورسي او خلک به هم له نېکو اخلاقو برخمن شي.

د اسلامي هېوادونو چارواکي، په لومړۍ درجه کې ددې وینا مخاطبان دي. له دنیا سره مینه، له شهوتونو سره مینه، له حیواني غوښتنو او لېوالتیاوو سره مینه، هغه دوستۍ او دښمنۍ، چې سرچینه یې حیواني او توکیزه وي؛ هغه جگړې، چې سرچینه یې ځواک غواړي او د توکیز ځواک پراختیا ده، هغه نا امنۍ، چې سرچینه یې خباثتونه او د هېواد د سیاسي چارواکیو سیاسي رذالتونه دي، د بشر سترې ستونزې دي.

د یوه هېواد لپاره د اخلاق تزکیه، یو خورا اړین چار دی؛ یو له بل سره د انسانانو مینه، یو له بل سره د انسانانو انصاف، د انسان د ژوند په کړلار کې یو د بل حال په پام کې نیول، د انسانانو ترمنځ رحم او مروت، هغه چارې دي، چې د انسان ژوند ته هوساینه وربښي. که ووینئ، نننۍ نړۍ تر پخوا ډېره د نا امنیو په اور کې سوځي- نن نا امني د بشر تر ټولو سترو بلا او یا لږ تر لږه د بشر له بلاگانو څنې یوه یې ده؛ انسانان په خپلو کورنیو کې امنیت نه لري؛ د ټولنیز ژوند په چاپېریال کې امنیت نه لري؛ په خپل هېواد او وطن کې امنیت نه لري- ددې نا امنیو سرچینه په ناوړه سیاستونو، ځواک غواړیو، بې اخلاقیو او له تزکیې د انسان په لرې پاتېدنه کې ده. او اسلام موږ تزکیې ته رابلي او د اسلام د ښوونو له سترو چارو څنې یوه یې ده. ((یتلوا علیکم ایاتنا و یزکیکم و یعلمکم الکتاب و الحکمة[1])) الهي آیتونه تلاوت کوي او هغه تزکیه کوي؛ هغه تعلیم ورکوي.

او عدالت. د عدالت پلي کول، د ټولو الهي انبیاوو حکم دی، چې و یې ویل: د استازیو او کتابونو دراستول او د انبیاوو او د هغوی د لارویانو دا ټولې هڅې ددې لپاره وې، چې: ((لیقوم الناس بالقسط[2])) د خلکو ژوند له قسط سره وي.

---

[1]. د بقره سورت، ۱۵۱ آیت.

[2]. د حدید سورت، ۲۵ آیت.

د اسلام د مکرم نبي (صلی الله علیه و آله وسلم) شخیص شخصیت د ټولو اسلامي ډلو د اتحاد لپاره یو چورلیز ټکی دی. زړونه ټول د رسول الله له مینې ډک دي. ټول اسلامي امت، د خدای پردې ټاکل شوي بنده او د ټول تاریخ پردې ستر انسان زړه بایللی دی. دا دې د اسلامي امت چورلیځ کړي او اسلامي امت دې سره نږدې شي.

**دین که ادیان؟**

معمولاً دیني علماء او دیني تاریخپوهان د "ادیانو" په نامه وبینه کوي د بېلګې په توګه وایي: د حضرت ابراهیم علیه السلام دین، د یهود دین، د مسیح دین او د اسلام دین او د شریعت هر یو خاوند پېغمبر د یو دین راوړونکی ګڼي. په خلکو کې خپره څرګندنه همدا ده.
خو قرآن کریم ځانګړې څرګندنه لري، چې له ځانګړي لیده یې سرچینه اخلي. د قرآن له پلوه له "آدمه" تر "خاتمه" د ټولو دین یو دی ټولو پېغمبرانو که د شریعت خاوندان ول که نه یو ښوونځي ته یې بلنه کوله. د انبیاوو علیه السلام د ښوونځي آرونه، چې "دین" نومېږي یو دي. د آسماني شرایعو توپیرونه په یو لړ فرعي مسایلو کې ول، چې د وخت د غوښتنو، د چاپېریال د ځانګړنو او د خلکو د ځانګړنو پر بنسټ ول او ټول په بېلابېلو بڼو د یوه حقیقت او د یوې موخې پر لور ول او بل توپیر یې د ښوونو په کچه کې و، چې روستیو پېغمبرانو د بشر له تکامل سره سم په لوړه کچه ښوونې کولې، چې ټول په یوه زمینه کې ول. د بېلګې په توګه: د معاد او د نړۍ د مبداء په هکله د اسلام او د مخکېنیو ادیانو د ښوونو کچه له ځمکې تر اسمانه توپیر لري. په بله وینا: د انبیاوو علیه السلام په ښوونو کې بشر د زده کوونکي په څېر و، چې له لومړي ټولګي تر روستي ټولګي اوچت شوی دی. دا د دین تکامل دی نه د ادیانو اړیپچ.
قرآن کریم هېڅکله د دین ټکی د جمع په بڼه (ادیان) راوړی نه دی. د قرآن له پلوه، څه چې ول، دین و نه ادیان.
د پېغمبرانو علیه السلام ، نابغو او سترو فیلسوفانو یو توپیر په دې کې دی، چې فیلسوفانو هر یو ځان ته ځانګړی ښوونځی درلود؛ نوځکه تل په نړۍ کې "فلسفې" وې نه "فلسفه" خو تل الهي پېغمبران یو د بل تاییدونکي او تصدیقوونکي ول او یو بل یې نه نفې کاوه. که هر یو پېغمبر د بل پېغمبر په چاپېریال او وخت کې و نو د هماغه په څېر قانون یې راووړ.
قرآن ټینګار کوي، چې د پېغمبرانو لړۍ یوه ده او پخوانیو پېغمبرانو د راتلونکیو پېغمبرانو د راتګ زېرې ورکړی و او روستي پېغمبران د تېرو پېغمبران تاییدونکي ول او هم په دې خبره ټینګار کوي، چې له ټولو پېغمبرانو کلکه ژمنه اخستل شوې، چې یو د بل تاییدونکي به وي.

((وَإِذْ أَخَذَ اللّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّيْنَ لَمَا آتَيْتُكُم مِّن كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَلِكُمْ إِصْرِي قَالُواْ أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُواْ وَأَنَاْ مَعَكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ [1] = او (درياد کړه) چې الله له پيغمبرانو (او له لارويانو يې) ټينګه ژمنه واخسته، چې کله مې کتاب او حکمت درکړ او بيا کوم پيغمبر درغی او هغه (لار ښوونې) يې تصديق کړې، چې له تاسې سره وې؛ نو ايمان پرې راوړئ او ملاتړ به يې کوئ. بيا (الله) ورته وويل: ((ايا پردې موضوع مو منښته وکړه او په دې مو راسره ټينګه ژمنه ده؟)) هغوی وويل: (((هو) منښته مو وکړه.)) (الله ورته) وويل: ((نو شاهدان وسئ او زه هم درسره شاهد يم.))

قرآن کريم، چې د الله دين له آدمه تر خاتمه يو پرلپسې بهير ښيي نه څو يو نوم پرې ږدي او هغه "اسلام" دی ؛البته مراد دا نه دی، چې په ټولو وختونو کې د الله دين په همدې نامه يادېده او په دې نامه په خلکو کې مشهور و ؛ بلکې مراد دادی، چې دين يوه منځپانګه لري، چې غوره معرفي کوونکی يې د "اسلام" لفظ دی وايي: ((إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللّهِ الإِسْلاَمُ [2] = په حقيقت کې د الله پر وړاندې (خو يوازېنی) دين همدا اسلام (او د حق پر وړاندې تسلېمېدل) دي.))

يا داچې وايي: ((مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلاَ نَصْرَانِيًّا وَلَكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ [3] = ابراهيم نه يهودی و، نه نصراني بلکې سپېڅلی مؤحد او مسلمان و او هېڅکله له مشرکانو څخه نه و.))

---

[1]. (آل عمران/۸۱)

[2]. (آل عمران/۱۹)

[3]. (آل عمران/٦٧)

## د نبوت پای

و مو ویل: پېغمبران له ټولو فرعي اړېیچونو سره په یوه ښوونځي پورې د اړوند پېغام راوړونکي ول. دا ښوونځی د انساني ټولنې د استعداد له مخې راوړاندې شوی دی. تردې چې بشر داسې ځای ته ورسېد، چې دا ښوونځی ورته جامع او بشپړ راوړاندې کړای شو او دې ټکي ته چې راورسېد؛ نو نبوت پای ته ورسېد هغه چې دا ښوونځی پرې بشپړ راوړاندې شو حضرت محمد بن عبدالله صلی الله علیه و آله وسلم دی؛ لکه څنګه چې قرآن کریم وایي: ((وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلاً لاَّ مُبَدِّلِ لِكَلِمَاتِهِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ [1] = د رښتینولی او عدالت له مخې د پالونکي وینا دې (بیخي په ټول) پوره ده، هېڅوك یې خبرې بدلولای نشي او هغه اورېدونکی (او) پوه دی.))

## حضرت محمد (ص) د پېغمبرانو خاتم دی

د اسلام پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم د پېغمبرانو علیه السلام خاتم او د الله روستی استازی دی. په دې اړه قرآن شریف وایي: ((مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ[2]= محمد(ص) ستاسې د هېڅ یوه سړي پلار نه دی؛ خو د الله استازی او د پېغمبرانو (د لړۍ)پای ته رسوونکی دی.))

**پوښتنه: ولې د نبوت پړاو پر حضرت محمد (ص) پای ته ورسېد؟**

ځواب: نوي پېغمبر ته اړتیا هله پیدا کېږي، چې په پخواني کتاب او دین کې اړونه راشي؛ نو د قرآن شریف ان یو ټکی هم اړول شوی نه دی او داسې څه به نه وي، چې قرآن شریف ورته ځواب نه وي ورکړی؛ نو نوي پېغمبر ته څه اړتیا ده ؟

که پخواني اسماني کتابونو ته لنډه کتنه وشي؛ نو دومره اړونې پکې شوي، چې انسان یې په ویلو شرمېږي. بلخوا یو نالوستی، چې لرې ځای ته سفر وکړي؛ نو دلته بې له دې بله چاره نه لرو، چې کوڅه په کوڅه پته ورته ورکړو خو که همدې ځای ته یو لوستی ځي؛ نو بسیا ده، چې د یوې ټولیزې پتې او د ښار د نقشې په ورکولو خپله لار پیدا کړي.

[1]. (انعام/۱۱۵)

[2] (احزاب/۴۰)

پخوانيو ټولنو خو دومره وده نه وه کړې نو کوڅه په کوڅه پته ورته پکار وه خو ټولنو، چې وده وکړه؛ نو که ټوليزه نقشه هم ورکړ شي؛ نو خپله لار پيدا کوي او نېغ لارښود (پېغمبر) ته اړتيا نه پيدا کوي ؛ البته د قانون ساتنې او پلي کولو ته د امامانو او فقهاو شتون پکار دی.

بل مطلب داچې پخوانيو پېغمبرانو (بې له څو تنو)معمولاً کتاب نه درلود او ډېری يې د نورو سترو پېغمبرانو لارښوونې تبليغولې او داسې نه ول، چې ټول تېر شوي پېغمبران د کتاب خاوندان ول؛ نو پردې بنسټ د امامانو او د متقي اسلام پوهانو په شتون کې بل پېغمبر ته اړتيا نه پيدا کېږي؛ ځکه د دين تبليغ د دين عادل عالمان هم کولای شي؛ ځکه نه ښايي له اجتهاده سترګې پټې کړو؛ ځکه عادل فقهاء د اسلام د ټوليزو قوانينو په رڼا کې کړای شي له قرآن شريف او سنتو اسلامي حکم راوباسي.

## د خاتميت دليلونه

ددې خبرې د جوتولو لپاره دليلونه ډېردي؛ خو روښانه يې دا درې دي:

**۱- د مسلې اړتيا:**

و مو ويل: د نړۍ په هر ګوټ کې که له هر مسلمان سره مخ شئ؛ نو د اسلام د پېغمبر پر خاتميت ګروهن دی؛ نو چاچې د دليل او سول-منطق له لارې اسلام منلی وي؛ نو بې د خاتميت د آر-اصل له منلو به هېڅ چاره نه لري او همدغسې په تېرو مخونو کې مو ددې دين حقانيت جوت کړ؛ نو بايد خاتميت هم ومنو، چې ددې دين له ضروورياتو څنې دی.

**۲-د قرآن کرم آيتونو هم په ډاګه د حضرت محمد د خاتميت خبره کوي؛ لکه:**

((مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِن رِّجَالِكُمْ وَلكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيماً [1]= محمد(ص) ستاسې د هېڅ يوه سړي پلار نه دی؛ خو د الله استازی او د پېغمبرانو (د لړۍ) پای ته رسوونکی دی او الله پر هر څه ښه پوه دی.))

دا تعبير هله وکارېد، چې د "زوی ويلي" خبرې په عربو کې دود درلود؛ يعنې هغه چې له بل موروپلاره رېږېدلی و خو خپل اولاد يې ګاڼه او د يو حقيقي زوی په څېر يې په کور کې محرمېده او ميراث هم ورسېده؛ خو اسلام راغی او د جاهليت دا دود يې له منځه يووړ، و يې ويل: زوی ويلی هېڅکله د حقيقي اولاد په څېر حقوقي او شرعي حقونه نه لري، چې "زيد" هم پکې شامل و، چې پېغمبراکرم ورته زوی ويلی و خو د پېغمبر زوی نه و نو ددې پرځای،

[1] (احزاب /٤٠)

چې د اسلام پیغمبر د چا پلار معرفي کړي هغه یې پر خپل او حقیقي ځانګړنو وستایه "رسالت" او بل "خاتمیت".
دا تعبیر راښیي، چې د اسلام د پیغمبر خاتمیت د رسالت په څېر ټولو ته روښانه او څرګند و.
یوازې پوښتنه، چې پیدا کېږي داده، چې د "خاتمیت" حقیقي مفهوم څه دی؟
"خاتم" د "ختم" له مادې اخستل شوی، چې د خلاصونکي پر مانا دی یا په یو څیز، چې یو کار پای ته ورسي، د بېلګې په توګه: یوه ټاپه، چې د یوه لیک په پای کې وهل کېږي، ورته "خاتم" وایي او که وګورو، چې ګوتې ته هم "خاتم" ویل کېږي؛ ځکه دي، چې هغه مهال ګوته د نوم د ټاپې پرځای کارېده او هر چا د خپل؛ نوم ټاپه پخپله ګوته کې جوړه کړې وه.
په اسلامي روایتونو کې لولو: رسول الله (ص)، چې غوښتل پاچایانو ته لیک ولیکي او اسلام ته یې راوبلي نو ورته وویل شو، چې د عجمو واکمنان بې له ټاپې لیک نه قبلوي. تر هغه وخته د رسول الله (ص) ټول لیکونه ساده او بې ټاپې ول؛ نو حکم یې وکړ، چې ورته پر یوه ګوتمه د "لااله الاالله محمد رسول الله (ص)"، غونډله ټاپه کړي او رسول الله (ص) تردې روسته حکم کاوه، چې تر لیکونو لاندې یې دا ټاپه ووهل شي؛ نو د خاتم آریزه مانا پای ورکوونکی دی.

**۳- روایتونه د حضرت محمد خاتمیت جوتوي:**

الف: حضرت "جابر بن عبدالله" په یوه معتبرحدیث کې د الله له رسوله رانقل کړي دي: ((په نورو پیغمبرانو علیه السلام کې مې بېلګه د هغه چا په څېر دی، چې یو ښکلی او بشپړ کور یې جوړ کړی وي؛ خو د یوې خښتې ځای پکې تش وي زه هماغه روستۍ خښته یم او د پیغمبرانو لړۍ پر ما پای ته رسېدلې ده [1].))
د امام صادق (رح) وینا ده: د حضرت محمد(ص) حلال د قیامت تر ورځې حلال او حرام یې د قیامت تر ورځې حرام دي [2].
په یوه مشهور حدیث کې، چې شیعه او سني دواړو رانقل کړی راغلي: علي! داسې راته یې؛ لکه هارون، چې موسی ته و خو په دومره توپیر، چې تر ما روسته بل پیغمبر نه راځي.))
او داسې نور ډېر زیات حدیثونه.
د پیغمبراکرم د خاتمیت په باب ځینې پوښتنې ذهن ته راځي، چې څو ته یې مو پام را اړوم:

---
[1] د مجمع البیان تفسیر
[2] کافي ۱ / ۵۸

۱-ځينې وايي: که د پيغمبر رالېږل يو نعمت دی؛ نو ولې زموږ د وخت خلک له دې نعمته بې برخې دي؟ او يو نوی لاربښود ورته نه راځي؟!
په ځواب کې يې وايو: دا؛ ځکه چې همېږي مو په يوه داسې پړاو کې پراته دي، چې په آنديز او د پوهې په لار کې د بشريت کاروان يو داسې ځای ته رارسېدلی، چې کړای شي د اسلام په لاربښوونو خپله لار ووهي.
بده به نه وي، چې يوه بېلګه راوړم: اولوالعزم پيغمبران؛ يعنې هغوی چې اسماني کتاب درلود، پينځه تنه ول: ((حضرت نوح، حضرت ابراهيم، حضرت موسی، حضرت عيسی او د اسلام پيغمبر)) چې دوی هر يو د تاريخ په يوه وخت کې د بشر بشپړتيا او لاربښوونې ته هڅې وکړې او دا کاروان يې له يوه پړاوه راايستلی او په بل پړاو کې يې بل اولوالعزم پيغمبر ته ورسپارلی دی، چې داسې پړاو ته راورسېد، چې کړای شي پخپله لار ووهي، د يوه زدکړيال په څېر، چې د خپل زده کړې پړاوونه تېر کړي او بيا فارغ التحصيل شي.
(البته دلته له زده کړو فراغت مانا نه لري؛ بلکې مراد ترې دادی، چې پر خپلو پښو لار وهلی شي)
که يو ډاکټر پوهنتون ته نه ځي؛ نومانا يې دا نه ده، چې ورتيا نه لري؛ بلکې ددې لپاره دي، دا څومره معلومات، چې لري، کړای شي خپلې علمي ستونزې پرې هوارې کړي او خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.
۲-ټولنه تل د بدلون په حال کې ده؛ نو څرنګه د اسلام ثابت قوانين کړای شي د وخت غوښتنو ته ځواب ورکړي؟!
ځواب: اسلام دوه ډوله قوانين لري يو لړ قوانين د انسان د ځانګړنو په څېر ثابت دي؛ لکه پر توحيد ګروهه، د عدالت د آرونو پلي کول، له هر ډول ظلم سره مبارزه خو بله برخه يو لړ ټوليز او هراړخيز آرونه دي، چې د موضاعوتو په بدلېدو يې بڼه بدلېږي، چې د هر وخت غوښتنو ته ځواب ورکوي د بېلګې په توګه: په اسلام کې يو ټوليز آر لرو: ((اوفوابالعقود)) (پر خپلو تړونونو مو ولاړ وسئ)
روښانه ده، د وخت په تېرېدو يو لړ ګټور، ټولنيز، سوداګريز او سياسي تړونونه رامنځ ته کيږي، چې کړای شو د پورتني آر په پامنيوي ځواب ورکړو.
يو بل آر لرو: هر حکم او قانون، چې د ټولنې په تاوان وي، بايد محدود کړای شي.

ګورئ، چې د اسلام ټوليز قوانين څومره چارسازي دي، چې داسې قوانين په اسلام کې خورا زيات دي او په همدې ټوليزو آرونو دي، چې کړای شو د خپل وخت ستونزو ته ځواب ورکړو.[1]

## د اسلام د پېغمبر پر حقانيت يو بل سند

داچې ځان د نبوت د مدعي د بلنې پر حقانيت، يا يې پر دروغو ځان پوه کړو؛ نو بې د "اعجاز" له غوښتو بله چاره هم لرو، چې دا پخپله کړای شي، موخې ته د وررسېدو لپاره يو بل ژوندی دليل وي، چې دادي:
۱-اخلاقي ځانګړنې او ټولنيزه مخينه.
۲-هغه شرايط، چې د بلنې پر چاپيرېال واکمن دي.
۳-د وخت شرايط.
٤-د بلنې منځپانګه.
۵-پلي کوونکې کړلارې او موخې ته د وررسېدو وزلې.
٦-د بلنې پرچاپېريال د بلنې اغېز.
۷-بلنه ورکوونکی څومره پر خپله بلنه ايمان لري او ورته سرښندنه کوي.
۸-له کړو وړانديزونو سره جوړجاړی نه کول.
۹-پرعمومي افکارو د اغېز چټکتيا.
۱۰-داچې لارويان او پلويان يې څوک ول.
څه چې پورته وويل شول، د اسلام د پېغمبر په باب ورته يوه لنډه کتنه کوو.
۱-د اسلام د پېغمبر دوست او دښمن ټول يوه خوله دي او تاريخ هم دا خبره ليکلې، چې رسول الله (ص) دومره پاک او سم سړی و، چې ان د جاهليت پر وخت يې د امين لقب درلود، تاريخ ليکي: چې رسول الله (ص) غوښتل مدينې ته هجرت وکړي؛ نو علي ته يې دنده ورکړه، چې ورسره د خلکو امانتونه يې خاوندانو ته ورکړي.
مېړانې، صبر، ښه خوی، پراخې سينې، سړېتوب او هله به حيران شئ، چې د مکې تر سوبې روسته او په ښار کې د اسلام خونړيو دښمنانو ته د عمومي ښښنې اعلان، پردې خبرې ژوندی سند دی.

[1] (استاد ناصر مکارم شيرازي/اصول عقايد)

۲-ټول پوه يو، چې معمولي انسانان ان نابغې که وغواړي که نه، د خپل چاپېريال رنګ اخلي ؛ البته ځيني ډېر او ځينې کم اوس پخپله فکر وکړئ، د خلکو ورځنی ژوند، چې شرک او خرافات وي؛ نو څرنګه کېدای شي يو کس پکې د توحيد بېرغ هسک او د شرک له ټولو نښو سره مبارزې ته ملا وتړي؟!
څرنګه شونې ده، د ناپوهی له چاپېرياله د علم لوړه رڼا راوبريخي؟!
ايا باور کړای شو بې له الهي پېرزوينو به داسې هېښنده پېښې وشي؟
۳-بايد ووينو، چې ددې پېغمبر د راښکاره کېدو وخت کله و؟ دا خبره د حضرت علي کرم الله وجهه له خولې اورو، چې پخپله د اسلام د مخکې او روسته حالاتو شاهد و، وايي: ((الله پېغمبر هغه وخت مبعوث کړ، چې خلک په نړۍ کې بې لارې، ورک او سرګردان ول، عقلونه يې وژونکيو ځاني غوښتنو نيولي ول، کبر کندې ته ورګوزار کړي ول، د ناپوهۍ تيارو پر ورانه روان کړي ول او په ناپوهۍ او تشويش کې سرګردان ول. [1]))
فکر وکړئ! هغه دين، چې شعار يې د انسانانو مساوات او د توکمي او طبقاتي تبعيض له منځه وړل او ((انماالمؤمنون اخوة)) دی، له هغه وخت سره څه تناسب لري؟
٤-د بلنې منځپانګه: په ټولو برخو کې توحيد، د ظالمانه امتيازاتو له منځه وړل، د انسانيت د نړۍ يووالی، له تېري سره مبارزه، د نړيوال حکومت کړلار، له بېوزليو ملاتړ او د انسان د ارزښت په نامه د انسان لپاره د تقوی، پاکۍ او امانت قبلول.
۵-په اجرايي کړلارو کې يې هېڅکله اجازه ورنه کړه، چې د ((موخه وسيلې ته مخونه ورکوي)) له منطقه ګټنه وشي، سپېڅليو موخو ته د وررسېدو لپاره په سپېڅلو وسيلو پسې و او ښکاره يې داخبره کوله: له يوې ډلې سره دښمني مو د عدالت له پلې کولو مخنيوی و نه کړي.
((يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلّه شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُوا إِعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ[2]=مؤمنانو! تل د الله (د فرايضو) لپاره راپاڅئ او په قسط او عدل ګواهي ورکړئ، له کومې ډلې سره دښمني دې تاسې دې ته اړ نه کړي، چې عدالت و نه کړئ عدالت وکړئ چې هغه (ځان ساتنې او) پرهېزګارۍ ته ډېر نژدې دی او (ځانونه مو) د الله له (عذابه) وساتئ، څه چې کوئ، الله پرې ښه خبر دی.))

[1] (نهج البلاغه/۹۱ خطبه)
[2] (مائده / ۸)

د جګړې په ډګر کې یې تل د اصولي اخلاقو پر پاملرنې ټینګار درلود ویل یې: پر ملکیانو یرغل و نه کړئ، ونې بوټي او بڼ ونه له منځه یونسئ، د دښمن د څښاک اوبه چټلې نه کړئ، له بندیانو سره پر درناوي چلن وکړئ او داسې نور حکمونه...
٦-پر هغه چاپېریال د رسول الله (ص) د بلنې اغېز دومره و، چې دښمنانو یې له وېرې، خلک له ورنېږدېدو منع کول؛ ځکه د رسول الله (ص) بلنې زیات نفوذ او جاذبه درلوده او کله یې داسې هم کول، چې رسول الله (ص) خبرې کولې نو ګڼه ګوڼه یې جوړوله، چې خلک یې خبرې وا نه وري نو د همدې هېښنده اغېز له لامله یې پر پېغمبراکرم د کوډګر ټاپه ولګوله او د پېغمبراکرم (ص) خبرې یې کوډې ګڼلې، چې دا کار یې د دښمنۍ ترڅنګ د پېغمبراکرم پر هېښنده نفوذ منښته ده.
٧-په دې لار کې یې خورا سرښندنه درلوده او دا راښیي چې تر ټولو زیات یې پردې دین ایمان درلود.
په ځینو جګړو کې، چې تازه مسلمانان شوي وتښتېدل؛ نو پخپله په مړانه وجنګید او د دښمن د غوړو غوړو ژمنو پر وړاندې یې بیخي چرت هم خراب نه کړ او تل یې پر خپل دین ټینګار درلود او هېڅکله یې په دې لارکې له ځانه کمزوري ونه ښووه.
٨-خورا کوښښونه او هڅې وشوې، چې رسول الله (ص) له کړلاریو سره جوړجاړی وکړي؛ خو هېڅکله تسلیم نه شو، ویل یې: که لمر راته په ښي لاس او سپوږمۍ راته په کیڼ لاس کې کېږدئ هېڅکله به له خپلې بلنې لاس وانه خلم.
٩-نه یوازې د رسول الله (ص) د بلنې اغېز ته عمومي افکار ګوته پر خوله حیران وو؛ بلکې لویدیځوال هم د اسلام د چټکې خپرېدو څغاستې ته حیران دي؛ لکه د لویدیځ درې مخورو استادانو، چې پردې حقیقت منښته کړې وایي: ((سره له دې چې د اسلام د چټک پر مختګ د لامل د پېژندو لپاره ډېر کوښښونه شوي دي؛ خو تر وسه دا خبره د یوې معما په بڼه پاتې ده، چې تر یوې پېړۍ په لږ وخت کې یې د نړۍ د تمدن پر ډېره برخه سیوری واچوه.))
هو! ایا په رښتیا معما ده، چې اسلام په هغو ورځو کې له هغو وسایلو سره، په چټکۍ د میلیونونو انسانانو په زړه کې ځای پیدا کړ، تمدنونه یې په ځان کې هضم کړل او یو نوی تمدن یې رامنځ ته کړ؟!
١٠-بالاخره دې ځای ته رارسو، چې د پېغمبراکرم (ص) دښمنان ماړه ظالم کفار ول. داچې پلویان یې د پاک زړونو خاوندان، ځوانان، حق غواړي اوان مریان ول، داسې پلویان، چې بې د زړه له پاکوالي یې هېڅ شتمني نه درلوده او د حق تږي ول.

تردې ټولو څېړنو روسته چې شرح يې ډېره مفصله ده، په ښه توګه پايله اخستای شو، چې دا الهي بلنه وه هغه بلنه، چې د څښتن له لوري له فساد، تباهی، ناپوهی، شرک تېري او بې عدالتۍ څخه د انسان د ژغورنې لپاره رالېږل شوې وه.

## د حضرت محمد(ص) نړیوال رسالت

د اسلام د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم رسالت نړيوال دی؛ يعنې په يو ځانګړي وخت پورې ځانګړی نه دی؛ بلکې ټولو وختونو او کهولونو ته دی، چې قرآن شريف په پرلپسې توګه دې خبرې ته اشاره کړې ده.
((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيراً وَنَذِيرًا[1]= او موږ ته ټولو خلکو ته (د الهي مکافاتو) زېری ورکونکی او (له عذابه يې) وېرونکی لېږلی.))
((قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا[2]= (ورته) ووايه: ((خلکو! زه تاسې ټولو ته د الله استازی يم))
پخپله پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم هم دې خبرې ته اشاره کړې ده: ((زه د ټولو پېغمبر يم هم د هغوی چې زما په ژوند کې ول او هم د هغوی چې تر ما روسته دي.
پردې سربېره هغه ليکونه، چې رسول الله په هغه وخت کې د نورو هېوادونو واکمنانو ته لېږل، د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم د رسالت پر نړيوالی دليل دی.
يوه ورځ رسول الله (ص) خپل اصحاب راوغوښتل و يې ويل: ((پاڅئ او د رسالت استازي شئ او دا غږ نړيوالو ته ورسوئ...)
او بيا يې د خپل رسالت د رسولو لپاره شپږ تنه ايران، روم، مصر، حبشې، يمامه، بحرين او اردن ته ولېږل.

**د رسول الله (ص) رسالت نړيوال و؛ ځکه قرآن وايي:**
((قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً قُلِ اللّهُ شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هذَا الْقُرْآنُ لأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللّهِ آلِهَةً أُخْرَى قُل لاَ أَشْهَدُ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلهٌ وَاحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ[3]= ورته ووايه: ((د چا شاهدي تر ټولو لويه ده ؟)) (او په خپله ځواب ورکړه او) ورته ووايه: ((الله زما او ستاسې ترمنځ ګواه دی (او غوره دليل يې دادی، چې) دا قرآن پرما وحې

[1] (سبا/۲۸)
[2] (اعراف/۱۵۸)
[3] (انعام/۱۹)

شوی، چې تاسې او چاته چې دا(قرآن) رسي، ټول خبردار کړم (او د الله د حکم له مخالفته يې ووېروم) ايا تاسې په رښتيا شاهدي ورکوئ، چې له " الله " سره نور معبودان هم شته ؟)) ورته ووايه: ((زه خو هېڅکله دغسې شاهدي نه ورکوم.)) ورته ووايه: ((الله خو هماغه يو دی او بېشکه زه له هغه څه بېزاريم، چې تاسې يې له الله سره شريکوئ)).

په بل ځای کې وايي: ((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيراً وَنَذِيراً وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ[١]=او موږ ته ټولوخلکو ته (د الهي مکافاتو) زېری ورکونکی او (له عذابه يې) وېرونکی لېږلی خو ډېری خلك نه پوهېږي.))

په بل ځای کې وايي: ((قُلْ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعاً الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّماوَاتِ وَالْأَرْضِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُوا بِاللّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ[٢]= (ورته) ووايه: ((خلکو! زه تاسې ټولو ته د هغه الله استازی يم، چې د اسمانو او ځمکې واکمني يې ده، بې له هغه بل معبود نشته، همدا يې ژوندي کوي او مړه کوي؛ نو پر" الله " او د هغه پر هغه پېغمبر او نالوستي استازي ايمان راوړئ، چې په الله او د هغه په کلمو (او ښوونو) ايمان لري او ددې پېغمبر لاروي وکړئ، چې سمه لار ومومئ.))

قرآن ويلي دي: ((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ[٣]= او (الله) هغه دی، چې خپل پېغمبر يې له لارښوونې اوحق دين سره ولېږه، چې پر ټولو اديانو يې لاسبری کړي، که څه مشرکان ناخوښه وي.))

((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيداً[٤]= (الله) هغه دی، چې خپل استازی يې له سمې لارښوونې او حق دين سره لېږلی دی، چې پر ټولو اديانو يې بريالی کړي او(د پېغمبر پر حقانيت) د الله شاهدي بس ده.))

((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ[٥] [= (الله) هغه دی، چې خپل استازی يې له سمې لارښوونې او حق دين سره راولېږه، چې هغه پر ټولو دينونو بريالی کړي او که څه مشرکان پرې خوښ نه وي.))

[١] (سبا/، ٢٨)
[٢] (اعراف /١٥٨)
[٣] (توبه/٣٣)
[٤] (فتح/٢٨)
[٥] (صف/٩)

په روايتونوکې راغلي، چې رسول الله (ص) وويل: ((زه د هر سپين، تور او سور پوټکي لپاره معبوث شوی يم.[1]))

حديث دی: ((د حضرت محمد (ص) حلال د قيامت تر ورځې حلال او حرام يې د قيامت تر ورځې حرام دي.))

پېغمبراکرم د حبشې، ايران، بحرين، روم، جندل، مصر، دمشق، يمامه، عمان، حضرموت، نجران، يمن، سماوه او د ۱۸۵ ټبرونو مشرانو ته ليکونه او پېغامونه واستول، دا ټول راښيي، چې د رسول الله (ص) رسالت نړيوال و.

د پېغمبراکرم د رسالت نړيوالتوب په لاندې آيتونو کې راغلی دی:

((أُولئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ قُل لاَّأَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْراً إِنْ هُوَ إِلاَّ ذِكْرَى لِلْعَالَمِينَ[2]= هغوی (پېغمبران) داسې کسان دي، چې الله ورته لار ښوولې ده؛ نو ته هم د هماغو پړلار ولاړ شه (او) ووايه: ((چې زه (ددې رسالت) له تاسې څه اجر (او باړه) نه غواړم دا (رسالت او قرآن) يوازې نړيوالو ته نصيحت دی!))

((وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلاَمِ دِيناً فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ[3]= او څوك چې له اسلام (او د حق د حکم له غاړه ايښوول) پرته بله لار (دين) غوره کړي نو هېڅکله به ترې و نه منل شي او په اخرت کې به له زيانکارانو وي.))

((تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيراً[4]=[ ډېر برکتي (او پايند) دی هغه ذات، چې فرقان [=د باطلو او حق بېلوونکی کتاب] يې پر خپل بنده نازل کړ، چې نړيوالو ته وېروونکی وي.))

پوښتنه: که د پېغمبراکرم رسالت نړيوال و نو ولې د قرآن په ځينو آيتونو کې ورته دنده ورکړه شوې، چې خپلوان دې راوبله. ((وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ[5])) ((وَلِتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا[6])).

ځواب: آيتونه او روايتونه د پېغمبراکرم د رسالت نړيوالتوب جوتوي؛ خو د هرې ټوليزې کړلار د پلي کېدو لپاره حرکتونه، گام په گام دي.

---

[1] (امالي شيخ طوسي /٤٨٤)
[2] (انعام/۹۰)
[3] (آل عمران/۸۵)
[4] (فرقان/۱)
[5] (شعراء/۲۱۴)
[6] (انعام /۹۲)

لومړی پیغمبر باید پر ځان پام وکړي، ځان له چټلی پاک کړي، هم له ظاهري چټلی [وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ[1]] او هم له مانيزې چټلی څخه [وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ[2]] هم نړه صبر[وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ[3]] او هم نه پرتمه کېدل [وَلاَ تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ[4]] او بیا خپلوان، بیا خپله سیمه او بیا نورو هېوادونو ته ورسي.

## زېری

په اعراف سورت ۱۵۷آیت کې لولو:

((الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوباً عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُوْلئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ[5]= هغوی چې (د الله د استازي، " اُمي " پېغمبر لاروي وکړي، چې د هغه (نوم او ځانګړنې) په خپل تورات او انجیل کې لیکلي مومي (هماغه پېغمبر چې) دوی ته د غوره چارو (پر ترسره کولو) امر کوي او له ناوړه چارو یې منع کوي، دوی ته پاك څیزونه حلالوي او ناپاکه ورته حراموي او د دوی (له اوړو او غاړو) درانه پېټې او ځنځیرونه لرې کوي؛ نو هغوی چې پرې ایمان راوړي او درناوی او مرسته یې وکړي او په هغې رڼا پسې ولاړ شي، چې له ده سره نازله شوې ده (نو) همدوی بریالي دي.))

د صف د سورت په ٦ م آیت کې راغلي:

((وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَابَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم مُصَدِّقاً لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّراً بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ فَلَمَّا جَاءَهُم بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هذَا سِحْرٌ مُبِينٌ[6]= او (درياد کړه) چې کله عیسی د مریمې زوی وویل: ((بني اسراییلو (= د یعقوب اولادې)! په واقع کې زه درته د الله استازی یم [حال دا] تورات چې تر ما مخکې راغلی، رښتینی یې ګڼم او د هغه استازي زېری درکوم، چې تر ما روسته راځي [او] نوم یې "احمد" دی)) نو چې هغه [=احمد] ورته له معجزو او روښانه دلایلو سره راغی (نو) و یې ویل: ((دا خو ښکاره کوډې دي.))

[1] (مدثر/۴)

[2] (مدثر/۵)

[3] (مدثر/۷)

[4] (مدثر/٦)

[5] (اعراف/۱۵۷)

[6] (صف/٦)

زموږ خبره خو داده، چې که د رسول الله (ص) نوم په تورات اوانجیل کې نه و راغلی نو ویل به یې چې نه دی راغلی او له دې لارې به یې د خپلې خبرې پخلی کاوه او هم به یې اسلام بې پته کاوه او هم به یې ځان له جګړو، جزیه ګانو او نورو ستونزو خلاصاوه، ګورو چې یهودانو جګړې کولې، مسیحیانو جزیې ورکولې خو تورات او انجیل یې نه رامخکې؛ نو جوتوي، چې د رسول الله (ص) نوم او نښه راغلی وه، که څه په نننی توراتونو او انجیلونو کې ډېر زیات بدلونونه راوړل شوي؛ خو قرآن وایي، چې د یهودو او نصاراوو عالمانو، پېغمبراکرم د خپل اولاد په څېر پېژانده او په زړه پورې خو داده، چې ځینو عالمانو د رسول الله (ص) د راتګ زېرې کول، چې په نوي پېغمبر به پر دښمنانو لاسبري شي (وَكَانُواْ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُواْ) خو همداچې هغه پېغمبر، چې هغوی په خپله پېژنده، ورته راغی؛ نو پرې کافران شول.

## رسول الله (ص) د قرآن کریم بشپړ انځور دی

رسول الله (ص) د قرآن بشپړ انځور دی؛ نو د سیرت کښل یې ستونزمن چار دی هغه پېغمبر، چې الله یې ستاینه کړې ده، هغه پېغمبر، چې الله اسمانونو ته بوته او د پرښتو ځای یې د هغه پر ګامونه مبارک کړ، هغه پېغمبر، چې یوې اسماني سېرلی په یوه شپه کې له "مسجدالحرام" څخه "مسجدالاقصی" ته بوت.

((سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى[1] =پاك دی هغه الله، چې خپل بنده یې د شپې له مسجدالحرامه مسجد الاقصی ته بوت.))

هغه پېغمبر، چې د ظرافت، عاطفې او دقت نړۍ ده او کله به دې د هغه عاطفي کارونه داسې هک پک کړي، چې ګوته پرخوله به ورته ودرېږې. یوه ورځ یې اودس کاوه، چې یوه تږې پیشو یې ولیده، اودس یې پرېښود او د اوداسه اوبه یې پیشو ته کېښوولې. هغه پېغمبر، چې له دښمن سره په چلن کې؛ لکه د غره کلک او له دوست سره په چلن کې تر اوبو نرم دی له خپل حقه، ان له دښمنه ډېر په اسانه تېرېږي خو د قانون په پلي کولو کې دومره پرېکنده دی، چې قسم خوري، که لور مې هم د اسلامي احکامو پرخلاف څه وکړل؛ نو الهي حدود به پرې جاري کړم. هغه مهال چې د ډېرو لږو لیک لوست زده و نو و یې ویل: [طلب العلم فریضته علی کل مسلم ومسلمه[2]]، چې څوارلس پېړۍ روسته د پوهې د زده کړې د اهمیت په باب

[1] (اسراء/۱)

[2] (بحارلانوار۶۰۷/۶۸)

دومره څرګند شعار لا راغلی نه دی. په هغه وخت کې، که له یوه ټبره به چا یو تن وواژه نو په غچ کې به یې د وژنکي د ټبر څو تنه وژل او بې رحمي ډېره زیاته وه خو پېغمبراکرم حکم وکړ، چې که څوک د مکې په سفر کې وي او خپل څاروی مکې ته د ژر رسېدو لپاره وکړوي؛ نو لېینه – ګواهي یې اعتبار نه لري؛ ځکه هغه چې خپل څاروی کړولی، په زړه کې خیری لري او دداسې وګړي د لېینې - شاهدۍ منل ناروا دي.

هو ګرانه! دا احکام او مینه یې وه، چې هغه مړ ملت یې راژوندی کړ.

((دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ[1] = هغه تاسې داسې څیزونو ته راوبللئ، چې راژوندي یې کړئ.))

((مَن يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّهَ[2] =چاچې د رسول لاروي وکړه، په حقیقت کې یې زما لاروي کړې ده.))

((وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى[3] = هغه هېڅ کله د ځاني غوښتنو له مخې څه نه وايي.))

((إِنَّكَ عَلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ[4] هغه تل پرسمه دی.))

څنګه به وکړای شم د هغه چا سیرت ولیکم، چې الله په ځانګړې توګه تایید کړی دی.

((وَيَنْصُرَكَ اللَّهُ نَصْراً عَزِيزاً[5] = او الله به درسره په ناماتې بریا مرسته وکړي.))

په څو کرښو کې څنګه هغه پېغمبر معرفي کړم، چې الله یې نوم او ښوونځي ته مقام ورکړی دی (وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ[6]). دا به شونې وي، چې د یو داسې انسان اخلاق په یوه کوشنې کتاب کې راټول کړو، چې الله یې په اړه ویلي دي: ((وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ[7] = او په ربښتیا ته ستر خوښونه لرې.))

همدا قرآن، چې دنیا په "متاع قلیل" یادوي، د رسول الله (ص) اخلاقو ته ((عظیم)) وایي.

څنګه به وکړای شو هغه پېغمبر وستایو، چې الله ورته په دنیا کې کوثر او ډېر خېر ورکړی دی:

((إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ[8] = په حقیقت کې کوثر [= خیر او ډېربرکت ] مو درکړ.))

---

[1] (انفال /٢٤)

[2] (نساء/ ٨٠)

[3] (نجم /٣)

[4] (زخرف/ ٤٣)

[5] (فتح /٣)

[6] (الشراح /۴)

[7] (قلم /٤)

[8] (کوثر/١)

او په آخرت کې يې هم ورته د شفاعت لوړ مقام ورکړی دی. د هغه چا په هکله به څه ووايم، چې زوکړې يې د فارس اورتون مړ کړ او بعثت يې د فساد لمبې مړې کړې. زوکړې يې د کسرى د ماڼۍ ستنې وخوځولې او بعثت يې د خلکو زړونه او مغزونه.
د هغه چا په اړه به څه وليکم ، چې قرآن ټولو نړيوالو ته رحمت ګڼلی دی: ((رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ)).
د هغه چا په اړه به څه ووايم، چې په سترواليکې داسې ځای ته ورسېد، چې يو خوا معراج ته ولاړ او د الله مېلمه شو او بلخوا وايي: ((که په يو لرې ځای کې يومريی بلنه راکړي؛ نو په سر سترګه به يې ومنم)).
سترواليته يې همدا بس، چې د اسماني سفر لپاره ورته اسماني سپرلۍ راوړل شوه او دومره تواضع لري، چې پر بې کتې خره سپرېږي.
بايد سترواليته يې ووايم: حضرت جبرائيل عليه السلام پرې د الله له لوري اسلام وايي او د تواضع په هکله يې ووايم: د مکې پر ماشومانو يې سلام اچوه، د سجدې پرمهال يې خپل تندى او زړه الله ته سپاره او د کور ماشومانو به چې د سجدې پر حال وليد؛ نو پرې سورېدل او هغه هم سجده اوږدوله، چې ماشومان ترې و نه غورځېږي.
الله اکبر! څومره ستر دی دا انسان، چې په يوه شېبه کې به يې هم له الله سره راز و نياز کاوه او هم به يې له ماشومانوسره مينه! د هغه د وګړې-شخصيت ټول اړخونه نه کنټل کېږي، نه يې ويلای شو او نه يې انځورولای شو.
ټوکې يې کولې خو کله هم له بريده نه تېرېده، د خپل زوی ابراهيم د مړينې پرمهال يې وژړل خو کله يې هم د حق پرخلاف خبره و نه کړه.
په سهار کې يې له خپل الله سره رازونياز کاوه او د ورځې پر کار بوخت و. د يارانو اولادونو ته يې سيالي ايښوولهاو ګټوونکي ته يې انعام ټاکه خو څنګه سيالي؟ هغه سيالي، چې اس چلونکی او غشی ايشتونکی يې له دينه د دفاع لپاره پر کار راشي، نه هغه سيالی، چې د ټولنې کوم درد درمل نه کړای شي؛ خو انعام يې څه و؟ د کجورې ونه، چې ټولو يې له لرګيو، پاڼو، مېوې او سيوري ګټنه کوله (توليدي انعام نه مصرفي).

### د رسول الله د ښوونو زده کړه، د اسلامي عزت د بياژواکۍ لار ده

موږ مسلمانان داچې هدايت ومومو، کافي ده، چې رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم و پېژنو؛ البته زموږ ګروهه داده، چې ټول بشريت بايد د پيغمبر له وجوده ګټنه وکړي او کوي يې؛ خو

موږ مسلمانان ترې په ګټنه کې ړومبي يو. دا ستر موجود، د ستر خلق خاوند او دا شخصيت او وګړه، چې متعال خدای د بشريت د تاريخ تر ټولو ستر رسالت ته وروزه، چې امام صادق يې په باب وايي: ((ان الله عزوجل ادب نبيه فاحسن ادبه فلما اکمل له الادب قال انک لعلی خلق عظيم ثم فوض اليه امر الدين و العباد ليسوس عباده[1])) متعال خدای دا ستر شخصيت وروزه، وده يې ورکړه، د يوه ستر تاريخي چار د ترسره کولو ټولې وزلې يې د آنحضرت په سپېڅلي وجود کې ورچمتو کړې او بيا يې درون پېټی ور پر اوږو کړ، د تاريخي رسالت دا درون بار؛ نو نن چې د ربيع الأول مياشت اوولسمه ورځ ده، د نبي مکرم د زوکړې ورځ ده، او ويلای شو چې د بشريت لپاره د انساني تاريخ تر ټولو اختر دی، چې متعال خدای بشر او د بشر تاريخ ته يو داسې ستر انسان ورډالی کړ او آنحضرت هم له بشپړې چمتوتيا سره پاڅون وکړ.
که نن موږ مسلمانان د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم پر شخصيت تمرکز وکړو، ځيرنه وکړو، زده کړه ترې وکړو؛ نو دين او دنيا دواړو ته مو بسيا دي، د عزت بيا راستنولو ته مو دې ستر شخصيت ته کتل او له هغه نه زده کړه بسيا ده. د علم څرګندوی و، د امانت څرګندوی و، د اخلاقو څرګندوی و، د عدالت څرګندوی و. بشر څه ته اړتيا لري؟ د بشر اړتياوې همدا دي. دا د بشر هغه اړتياوې دي، چې د تاريخ په ترڅ کې بدلون پکې نه دی راغلی، د بشر په ژوند کې له ړومبي انسانه تر ننه پورې څومره بدلونه رامنځ ته شوي دي- چې د ژوند حالات او تشکيلات يې بدل کړي دي- د بشر آريزې اړتياوې بدلې شوې نه دي. له هماغه پيله بشر په امنيت او ارامش پسې و، په عدالت پسې و، په نېکو اخلاقو پسې و او د پنځون له سرچينې سره د ټينګې اړيکې په لټه کې و. دا د انسان آريزې اړتياوې دي، چې سرچينه يې د انسان په فطرت کې ده، د دې ټولو څرګندوی، رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم و.
موږ اسلامي امت نن اړتيا لرو، دې ټولو ځانګړنو ته اړتيا لرو. اسلامي امت نن علمي پرمختګ ته اړتيا لري، متعال خدای ته اړتيا لرو، خپل منځي حسنه او نېکو اخلاقو ته اړتيا لرو، بايد په خپل منځ کې ورووليلي ولرو، بايد پر يو بل حلم ولرو، بايد له اغماض سره چلن وکړو. د دې ټولو ځانګړنو څرګندوی، رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم دی. د هغه پوهه، د هغه حلم، د هغه اغماض، د هغه لورنه او په تېره پر بېوزليو يې لورنه، له ټولې ټولنې سره يې په عدالت چلن، ددې ټولو څرګندوی، رسول الله دی. له رسول الله نه دې زده کړه وکړو، موږ دې چار ته اړين يو. موږ نن پر متعال خدای ډاډ ته اړتيا لرو، د خدای پر ژمنو ډاډ ته اړتيا لرو. متعال خدای راسره ژمنه کړې؛ ويلي يې دي، چې که هڅه وکړئ، مجاهدت وکړئ، خدای به مو خپل

[1]. کافي، لومړی ټوک، ۲٦٦ مخ.

مقصود ته ور ورسوي او تاسې د استقامت تر سيوري لاندې خپلو موخو ته لاسرسی پيدا کولای شئ؛ د دنيوي شهوتونو پر وړاندې کمزوري څرګنده نه کړو؛ د شتمنۍ پر وړاندې، د مقام پر وړاندې، د بېلابېلو نفساني وسوسو پر وړاندې کمزوري و نه کړو؛ استقامت وکړو. دا هغه چارې دي، چې د کمال لوړو سوکو ته مو رسوي. يو ملت ته عزت وربښي. يو ټولنه واقعي نېکمرغۍ ته ور رسوي. موږ دې ته اړتيا لرو؛ ددې ټولو څرګندوی، زموږ ګران رسول الله دی. دا د مکرم نبي ژوند دی، هغه يې ماشومتوب دی،هغه يې ځواني ده، تر بعثت مخکې. امانت يې داسې و، چې څومره قريشو او عربو، چې پېژنده، د ((امين)) لقب يې ورکړی و. له وګړيو سره يې انصاف، وګړيو ته يې عادلانه کتل داسې دي،چې کله غواړي، چې حجرالاسود په خپل ځای کې ولګوي او عرب ټبرونه پرې يو له بل سره شخړه لري؛ نو هغه په خپلو منځونو کې حکم کوونکی ټاکي؛ حال داچې يو ځوان و. دا يې ټولو ته د منصفانه ليدو څرګندوی ده، چې ټول په دې خبره يوه وو. هغه يې رښتين ګڼه، هغه يې امين ګڼه. دا يې د ځوانۍ پېر دی. بيا هم د بعثت پېر؛ هغه سرښندنه، هغه هڅه، هغه استقامت. د هغه ورځې هر څوک چې ورسره مخامخېدل او پر وړاندې يې وو، د هغه پر وړاندې يې حرکت کاوه او ورسره په ټکر کې وو. دا دومره دباو، د مکې ديارلس کاله، څومره سخت کلونه ول، رسول الله ودرېد او ولاړې يې داسې خورا کلک او پياوړي انسانان جوړ کړل، چې يو دباو هم پرې اغېز نه کاوه. دا موږ ته زده کړه ده. بيا يې مدني ټولنه جوړه کړه، تر لسو کالو يې هم ډېر حکومت و نه کړ؛ خو يوه داسې بنسټ ډېره يې کېښووله، چې بيا همدا ټولنه د پېړيو پېړيو لپاره، د بشريت د پوهې، تمدن، مانيز پرمختګ، اخلاقي پرمختګ او شتمنۍ لوړپوړې وه. هغه ټولنه وه، چې رسول الله يې بنسټ ايښی و او جوړه کړې يې وه.

## د نبي اکرم (ص) لوړ مقام او پېغام

هم د شخصيت له پلوه په خپله د اسلام مکرم نبي، د پنځون نړۍ لوړپوړی دی؛ څه په هغو اړخونو کې چې بشر ته د پوهې وړ دی؛ لکه همدا لوړې انساني کچې-عقل، تدبير، هوښيارتيا، کرم، لورنه، ښښنه، پرېکندتوب او دې ته ورته چارې – څه په هغو اړخونو کې چې د انسان له ذهنه اوچت دي-د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په وجود کې د حق تعالی د اسم اعظم تجلي او متعال الله ته د رسول الله د قرب مقام-چې مونږ يوازې د دوی يوه نامه اورېدلې او په حقيقت يې ستر خدای او ستر اولياء يې پوهېږي او هم د بشر د نېکمرغۍ لپاره د آنحضرت پېغام تر ټولو ستر او لوړ پېغام دی؛ د توحيد پېغام، د انسان د رتبې د لوړاوي پېغام او د بشر د وجود د تکامل پېغام.

سمه ده، چې بشر تر ننه توفيق نه دی موندلای، چې دا پېغام په خپل ژوند کې په بشپړه او هر اړخيزه توګه پلي کړي؛ خو بېشکه د انسان د تعالي او پرمختګ يون به يوه ورځ هرومرو دې ټکي ته ور و رسي. دا د انسان لپاره يو لوړ ټکی او يوه تعالي ده. په دې فرض، چې د بشريت پوهه، فکر او لوړ ادراکات د پرمختګ پر لوري ده او د اسلام پېغام هم ژوندی دی؛ نو بېشکه چې يوه ورځ به دا پېغام، خپل ځای په بشري ژوند کې پيدا کړي. د نبوي پېغام حقانيت، د اسلام د توحيد حقانيت، د ژوند لپاره د اسلام ښوونې، د انسان د پرمختګ او نېکمرغۍ لپاره د اسلام پېغام، به بشر هغه ټکي ته ورسوي، چې روښانه او هواره لار ومومي او لارويان يې، مخې ته ولاړ شي او خپل تکامل او تعالي ومومي.

څه چې مونږ مسلمانانو ته مهم دي، دادي، چې اسلام او له رسول الله نه مو پوهه ډېره کړو. نن په اسلامي نړۍ کې يو ستر درد د درز او اختلاف درد دی. رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د اسلامي نړۍ د يووالي چورليځ-د ټولو د ګروهې ټکی، د ټولو انسانانو د عواطفو د تمرکز ټکی-کېدای شي. مونږ مسلمانان يو ټکی هم دومره روښانه او پراخ بنسټه-رسول الله-نه لرو، چې ټول مسلمانان پرې ګروهن دي، هم پر ګروهې سربېره، يو عاطفي او مانيز تړاو، د مسلمانانو زړونه له آنحضرت سره نښلولي دي. دا د وحدت تر ټولو غوره او ستر مرکز دی.

## رسول الله ته د دښمنانو د سپکاوي د لاملونو پېژندنه

ناڅاپي نه دي، چې مونږ نن ګورو، چې په دې روستيو کلونو کې؛ لکه د منځنيو پېړيو او د مستشرقينو مغرضانه شننو پېر، د رسول الله سپکاوی روا ګنې.

د منځنیو پېړیو په پېر کې، مسیحي کشیشانو، په خپلو لیکنو، ویناوو او هنري کارونو کې او هغه مهال، چې د مستشرقینو تاریخ لیکل دود شو؛ نو په خپلو آثارو کې یې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سپکاوی کاوه.
په تېره پېړۍ کې مو بیا هم ولیدل، چې نامسلمانو لویدیزي مستشرقینو، یو له هغو ټکیو څنې چې خوله یې ورپسې راوسپړله او سپکاوی یې وکړ، د اسلام د مکرم نبي شخصیت و.
یو څه وخت چوپ ول؛ خو په دې روستیو کې یې بیا پیل کړی دی. په دې روستیو کلونو کې، په نړۍ کې انسان د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د شخصیت پرخلاف یو مطبوعاتي، فرهنګي، چټل او شوم یرغل ویني.
دا له مخکې جوړ شوی چار دی؛ ځکه دې ټکي ته خورا توجه شوې ده، چې مسلمانان کولای شي، پر رسول الله د ګروهې او ورسره د مینې پر چورلیځ راټول شي؛ نو ځکه په دې مرکز یرغلونه او سپکاوی یې کوي.
اسلامي علماء، مسلمان روښانفکران، لیکوالان، شاعران او د اسلامي نړۍ هنرمندان نن دنده لري، چې تر خپلې وسې، د نبي اکرم شخصیت او د ستریا اړخونو یې مسلمانانو او نامسلمانانو ته انځور کړي. دا چار به د اسلامي امت له یووالي او له هغې راپاڅېدنې سره مرسته وکړي، چې نن د اسلام پر لوري د اسلامي نړۍ په نوي نسل کې رامنځ ته شوی دی.

# د سيرت پوهنې غوره لار

**سيرت سازي حکمونه**

الله پر خپلو څرګندو او کله په پړلپسې حکمونو د رسول الله (ص) کړلار او د ژوند سيرت ټاکه. څو بېلګو ته پام وکړئ.

۱ـ همداچې حکم يې ورکړ، چې ووايه: پالونکيه! پوهه مې زياته کړې (وَقُل رَبِّ زِدْنِي عِلْماً[۱]) لار ورښيي، چې کله هم ځان له زده کړې فارغ او خلاص شوی مه ګڼه.

۲ـهمداچې په سهار او ماښام کې د الله د ياد حکم ورکوي، ورته وايي: له غافلينو مه وسه: ((وَاذْكُر رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعاً وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ والآصَالِ وَلاَ تَكُن مِنَ الْغَافِلِينَ[۲] = ((او خپل پالونکی دې ګهيځ او ماښام په زړه کې په زاريو او وېرې، ورو او ارام ياد کړه او له ناخبرو مه وسه!))

دا د رسول الله (ص) لمانځيز سيرت انځوروي .

۳ـ د سجدې، تسبيح، تهجد او تلاوت په حکم يې لمانځيز سيرت ټاکي.

حضرت ام سلمه بي بي (د رسول الله (ص) مېرمن) وويل: رسول الله (ص) به په نيمه شپه کې ولاړ و، لاسونه به يې پورته ول، اوښکې يې تويولې، ويل يې: ((خدايه! راکړې نعمتونه دې راڅخه مه اخله. دښمن مې ښاد نه کړې او له هغو بلاګانو، چې دې ساتلی يم، بېرته مې پرې اخته نه کړې او د سترګې د رپ هومره مې هم پر خپل حال مه پرېږده، حضرت يونس يوې شېبې ته پر خپل حال پرېښوول شو، چې د کب په نس کې راګېرشو)). [۳]

هو! د رسول الله (ص) خوی د الهي احکامو له مخې و. يوې بېلګې ته مو پام را اړوم: همداچې د احد په جګړه کې مسلمانانو د رسول الله (ص) خبره ونه منله او ماتې يې وخوړه او دوه اويا ياران يې شهيدان شول او غاښ يې مات شو او د مکې د مشرکينو له راتلونکې پرېشانه و، چې داسې چلن يې وکړ؛ نو و يې ويل: ((څنګه به داسې خلک نېکمرغه شي، چې د الله له رسول سره داسې چلن کوي؟ [٤])) چې آيت راغی: د خلکو راتلونکی درپورې اړه نه لري: ((لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ))؛ يعنې ان که هغوی خورا بد کارونه هم وکړل؛ نو مه نهيلېږه، کېدای شي همدا مشرکان سبا مسلمانان شي.

---

[۱] (طه /۱۱٤)

[۲] (اعراف/۲۰۵)

[۳]. (بحارالانوار ۲۱۷/۱٦).

[٤]. (کشف الغمه ۱/ ۱۸۸)

((لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ[1] = ته (د كافرانو د ښښنې يا له جگړې د تښتېدليومؤمنانو په باب) هېڅ ډول اختيار نه لرې خو داچې (الله) وغواړي و يې ښښي يا سزا ورکړي ځکه هغوی ظالمان دي.))

نو د رسول الله (ص) کړنلار د الهي حکمونو پر بنسټ ده. د رسول الله (ص) خوی دا و پر څه چې پوهېده؛ نو هغه يې ويل او پرڅه، چې نه پوهېده، نه يې ويل.

الله ورته وايي: خلکو ته ووايه: خبرې مې د وحې پر بنسټ دي او د هماغې وحې تابع دي او هېڅ کله نه وايم، چې د الله خزانې راسره دي يا داچې له ټولو عيبونو خبر يم يا داچې پرښته يم [2].

له خلکوسره د رسول الله (ص) اړيکې داسې وې، چې خلکو نېغ په نېغه پوښته، کله د روح په هکله، [وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ[3]] کله د سپوږمۍ د غټېدو او نرۍ کېدو په هکله [يَسْأَلُونَكَ عَنِ الأَهِلَّةِ[4] کله د عمومي مالونو په اړه [يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ[5]] کله د قيامت د ورځې د وخت په هکله [يَسْئَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ[6]] او کله يې د ښځو د حيض په هکله [وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ[7]].

---

[1] (آل عمران/ ۱۲۸)

[2] (آل عمران/۱۴۴)

[3] (اسراء/ ۸۵)

[4] (بقره/۱۸۹)

[5] (انفال /۱)

[6] (اعراف /۱۸۷)

[7] (بقره/۲۳۲)

# د سيرت سريزه

د پيغمبراکرم (ص) سيرت د اسلام له نظره د شناخت- پېژندنې يوه سرچينه ده. خبرې يې خو پر ځای پرېږده، وګړه-شخصيت يې؛ يعنې سيرت او طريقه يې پېژندنې ته يوه سرچينه ده. د رسول الله (ص) سيرت را ته د الهام يوه سرچينه ده.
«لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً[1]- په يقين د الله د استازي په ژوند کې مو هغو خلکو ته غوره بېلګه ده، چې الله او د اخرت ورځې ته هيلمن وي او الله ډېر يادوي.))
دا روښانول غواړم، چې د رسول الله (ص) سيرت څه ته وايي او په کومه بڼه راته د پېژندنې سرچينه ده؛ خو دلته يو ټکی ويل غواړم:
کوم ظلم مو چې له قرآن سره کړی، هماغه مو له پيغمبراکرم سره هم کړی. کله، چې وايي، رسول الله (ص) داسې و نو وايو، هغه خو پيغمبر و، ته مو له رسول الله (ص) سره پرتله کوې؟
د پيغمبراکرم پر "سيرة" لنډه وينه کوو، چې په حقيقت کې د پورته آيت يو ډول شننه هم ده.

## د سيرت مانا او ډولونه

((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً[2]-په يقين چې د الله د استازي په ژوند کې مو هغو خلکو ته غوره بېلګه ده، چې الله او د اخرت ورځې ته هيلمن وي او الله ډېر يادوي.))
د رسول الله (ص) سيرت د پېژندنې يوه زېرمه ده، چې مسلمان بايد خپل ليد پرې سم او بشپړ کړي.
پر موږ مسلمانانو دا د خدای پېرزوينه ده او د نورو اديانو د لارويانو په پرتله زموږ د مسلمانانو وياړنه ده، چې يو خوا د پيغمبراکرم ډېرې خبرې مو په لاس کې دي او د کانې کرښه ده، چې دا خبرې د رسول الله (ص) دي؛ يعنې متواتر او ډاډمنې دي[3]، حال دا نور اديان داشان ادعا نشي کړای، چې په غوڅ ډول ووايي، دا غونډله-جمله د ساري په ډول د حضرت موسی عليه السلام يا حضرت عيسی عليه السلام ده، غونډلې يې ډېرې دي؛ خو دومره ډاډمنې نه دي. موږ له خپل پيغمبره متواترې خبرې لرو.

[1] (احزاب/۲۱)
[2] (احزاب/۲۱)
[3]. په وروستيو څېرکيو کې مو د پيغمبر اکرم د ويناوو يوه ټولګه هم راوړې ده.

بلخوا د رسول الله (ص) تاريخ مو خورا روښانه او مستند دی. په دې اړخ کې هم د نړۍ نور مشران راسره ګډون نه لري، ان د پيغمبراکرم د ژوند دقيقې شيبې مو په غوڅ ډول په لاس کې دي، چې د يو چا په هکله هم داسې نه دي. کال، مياشت، د زوکړې ورځ او ان د زوکړې اوومه ورځ، د شېدو خوړنې پېر، هغه پېر، چې په بېديا کې يې تېر کړی، تر بلوغ مخکې پېر، له عربستانه بهر سفرونه، تر نبوت مخکې يې، چې کومې بوختياوې درلودې، واده يې پر کوم کال و، اولادونه يې او داچې تر خپلې مړينې مخکې يې څومره اولادونه مړه شوي دي، پر کومو کلنو مړه شوي او داسې نور، چې ورپسې د رسالت او بعثت پېر ته رارسي. دلته معلومات لاپسې دقيقېږي؛ ځکه ستره پېښه پېښېږي: لومړی پرې چا ايمان راووړ؟ دويم او درېيم څوک ول؟ پلاني پر کوم کال ايمان راووړ؟ کومې خبرې د هغه او نورو ترمنځ وشوې؟ څه کارونه يې وکړل؟څه طريقه يې درلوده؟حال دا حضرت عيسی عليه السلام ، چې د شريعت څښتن و او په ټولو سترو پېغمبرانو کې موږ ته نږدې دی، که قرآن هغه نه وای تاييد کړی او داچې مسلمانانو د قرآن په حکم، هغه يو حقيقي الهي پېغمبر نه وای ګڼلی نو ناشونې وه، چې حضرت عيسی عليه السلام په دنيا کې اثبات او تاييد شوی وای.

قرآن د حضرت عيسی عليه السلام وجود تاييد کړی او داچې موږ پر قرآن ايمان لرو نو پردې مطلب کله هم اړنګ نه کوو. همداراز د حضرت عيسی عليه السلام حواريون څوک ول؟ انجيل په کوم تاريخ او تر حضرت عيسی څو سوه کاله روسته د کتاب په بڼه شو؟ څو انجيله ول؟ دا ټول هر څه ناڅرګند دي.

خو موږ مسلمانانو ته دا سرچينه، که د پېغمبراکرم چلن وي يا وينا په ډېر څرګند او غوڅ ډول شته. دا هماغه مطلب و، چې غوښتل مې ويې وايم.

موظف يو، د پېغمبراکرم له ويناوو، چلن، قول او کړ- فعله ګټنه وکړو، چې هم راته لارښود او هم لاسوند- سند دی.

## د رسول الله (ص) ژورې خبرې

د مشرانو په خبرو کې ستر چار دادی، چې ډېر دقيق ټکي پکې اينبوول شوي، چې خلک پرې پوه شي، په تېره رسول الله (ص) د خپلو خبرو په هکله وايي: ((خدای راته جامع کلمات راکړي دي[1].))؛ يعنې الله راته داسې ځواک راکړی، چې په يوې وړوکې خبرې کې د

[1] (امالي شيخ طوسي۹۹، ۲/۹۸)

نړۍ هومره مطلب ویلای شم [ او د پښتنو په څرګندنه: سیند په کوزه کې ځایولای شم. ]
ټولو د پیغمبراکرم خبرې واورېدې خو ټولو و نه شو کړای؛ لکه څرنګه چې باید وي، هماغسې د آنحضرت د خبرو ژورو ته ورسي؟ کله هم نه. نهه نوي سلنه هم ورته نه شو رسېدای. خپله پیغمبراکرم د دې وړاندوینه کړې وه، چې مفهوم یې دی: کومې خبرې چې راڅخه اورئ نو ضبط او و یې ساتئ او راتلونکي کهول ته یې وسپارئ او تر تاسو، چې ممبر ته مې ناست یاست، راتلوونکی او ډېر لرې کهول به مې د خبرو په مانا غوره پوه شي.
د شیعه او سني ګډو سندونو د پیغمبراکرم دا حدیث را اخستی دی:
((خدای دې د هغه بنده څېره خوشحاله کړي، چې خبره مې واوري، ثبت یې کړي او هغو ته یې ورسوي، چې له ما یې نه وي اورېدلي.))
آنحضرت بیا وایي: ((فَرُبَّ حامل فقه غیر فقه و رب حامل فقه الی من هو افقه منه)).
په دې غونډله کې ډېری ټکي دي یعنې راتلونکي ته اشاره ده. "فقه"؛ یعنې ژور پوهېدل خو دلته موخه هغه غونډله ده، چې ژوروالی ولري. له "فهم"سره د "فقه" توپیر دادی، چې "فهم" مطلق پوهېدو ته وایي او "فقه"ژور فهم ته وایي. کله چې "فقه" کلام ته وویل شي؛ یعنې هغه خبره، چې ډېر ژوروالی لري. آنحضرت وایي: ((داسې خلک شته چې د ژورې خبرې وړونکي وي؛ خو خپله ژور نه دي.)) تل غونډلې رانقلوي؛ خو خپله یې په ژوروالي نه پوهېږي. بیا آنحضرت وایي، داسې خلک شته چې غونډله، فقهي وړي؛ یعنې هغه غونډله یې، چې له ما اورېدلې، حفظوي یې، خپله فقیه هم دی خو هغه ته یې نقلوي، چې خپله تر ده هم فقیه دی؛ یعنې هغه ته یې نقلوي، چې له ده ژور دی او د فکر ژوروالی یې ډېر دی او په هغه څه پوهېږي، چې دا نقلوونکي پرې نه پوهېږي.
وینو، چې په هره برخه کې دقیقا پېړۍ په پېړۍ د پیغمبراکرم خبرو ته لا ژوروالی موندل شوی دی(نه وایم، چې پیدا کړی یې دی). په لومړۍ او دویمه پېړۍ کې د دریمې پېړۍ هومره د پیغمبراکرم د خبرو په ژوروالي دومره څوک نه پوهېدل او په دریمه پېړۍ کې د څلورمې پېړۍ هومره او په څلورمه کې د پینځمې پېړۍ هومره څوک د آنحضرت د خبرو په ژوروالي نه پوهېدل. د اسلامي علومو تاریخ دا چار راښيي. که اخلاق، فقه، معارف او فلسفه ولولئ او عرفان ته وګورئ؛ نو وینئ، چې پیغمبراکرم په هره برخه کې، چې څه ویلي، هغه مفسرین، چې په روسته پېړونو کې

راغلي نو واقعاً ښه په دې توانېدلي، چې د پېغمبراکرم د خبرې ژوروالي ته ورسي. د رسول الله اعجاز په همدې ځای کې دی. راتلونکې هم دا شان ده، دوه يا درې سوه کاله روسته به داسې کسان راپیدا شي، چې لا ژور به د رسول الله په خبرو پوه شي.

**د رسول الله (ص) پوخ چلن**

د رسول الله د چلن تفسير او مخونې ته هم کټ مټ همدا مطلب دی؛ لکه څرنګه چې د آنحضرت خبره مانا لري او خبره يې يو مانا ته ادا شوې؛ نو د پېغمبراکرم چلنونه هم ټول مانا او تفسير لري او بايد ژوره څېړنه پکې وکړو.

((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً[1]- په يقين چې د الله د استازي په ژوند کې مو هغو خلکو ته غوره بېلګه ده، چې الله او د اخرت ورځې ته هيلمن وي او الله ډېر يادوي.))

په تېره هغه تعبير، چې قرآن يې وايي، چې د رسول الله په ژوند کې خلکو ته غوره بېلګه ده. پېغمبراکرم هغه مرکز دی، چې موږ ترې بايد د خپل ژوند لار راوباسو. څوک دې راشي او د رسول الله(ص) ويناوې دې رانقل کړي؛ نو دا په يوازې ځان بسيا نه ده. ډېری راويان دي، چې څه نه درک کوي. داچې د پېغمبراکرم تاريخ رانقل کړو، چې په پلاني ځای کې يې داسې وکړل؛ نو دا بسيا نه ده؛ بلکې د رسول الله د کړنو تفسير او مخونه مهمه ده. په پلاني ځای کې آنحضرت داسې چلن کړی و ؟موخه يې څه وه؟؛ لکه څرنګه چې د رسول الله وينا ژوروالي او تفسير ته اړتيا لري همدا شان چلن يې هم ژوروالي او تفسير ته اړتيا لري. د ځان په هکله خواشيني يو چې موږ د "اخرالزمان پېغمبر" امتيان يو خو که څوک مو وپوښتي نه مو د پېغمبراکرم څو خبرې يادې دي او نه يې سيرت.

---

[1] (احزاب/۲۱)

## د "سیرت" مانا

لومړی به سیرت مانا کړم، چې دا مو نه وي مانا کړی؛ نو د رسول الله سیرت تفسیرولای نشم.
سیرت په عربۍ کې د "سِیر" له مادې دی. "سیر"؛ یعنې تګ، تلل او پر لار تګ. "سیرت"؛ یعنې پر لار د تګ ډول. سیرت د "فِعلة" پر وزن دی او "فِعلة" په عربۍ کې ډول راښیي، د ساري په ډول: "جلسه"؛ یعنې ناسته او جلسه؛ یعنې سبک او د ناستې ډول او دا دقیق ټکی دی.
"سیر"؛ یعنې تلل، چلن خو "سیرت"؛ یعنې د چلن ډول او سبک، څه چې مهم دي، د رسول الله (ص) د چلن د سبک پېژندنه ده. هغوی چې سیره کښلې، د رسول الله (ص) چلن یې کښلی دی. کوم کتابونه، چې موږ د "سیرت" په نامه لرو، سیر دي، سیرت نه دي. د ساري په ډول: د "حلبیه سیرت" سیر دی، سیرت نه دی. نوم یې سیرت دی خو په واقع کې سیر دی، په چلن کې د رسول الله (ص) سبک نه، د رسول الله (ص) د چلن اسلوب نه، د رسول الله (ص) میتود نه؛ بلکې د پېغمبراکرم چلن پکې کښل شوی.

## سبک پوهنه

د میتود مسله ډېره مهمه ده. د ساري په ډول: د شعر په هکله وایو، چې "خوشال بابا" ته هم شاعر وایو همداشان "حمزه بابا"، "رحمان بابا"، "حمید مؤمند"، "ګل پاچا الفت" او " منلګ جان" ته هم شاعر وایو. هغه سړی، چې د شعر سبک ته نه وي ننوتی، ټول ورته شعر ښکاري. وایي: شعر، شعر دی او توپیر نه کوي؛ خو پوهان پوهېږي، چې بېلابېل سبکونه لري، په هندي سبک کې شعر لرو، د خراسان په سبک شعر لرو او د عرفان په سبک شعر لرو او داسې نور. په شعر پوهنه کې سبک پوهنه مهمه ده. "ملک الشعرای بهار" په سبک پوهنه کې کتاب هم کښلی، ان په نثر کې هم سبک پوهنه شته او په شعر پورې ځانګړې نه ده. سبک پوهنه بې له شعرپوهنې او نثرپوهنې ده. انسان هغه وخت نثر پېژندلای شي، چې د نثر بېلابېل سبکونه لاس ته راوړي، شعر هغه وخت پېژندلای شي، چې د شعر بېلابېل سبکونه لاس ته راوړي.
هنر ته راځو. هغه چې په هنر نه پوهېږي؛ نو یوه ودانۍ ورته یوازې ودانۍ ښکاري، کاشي کاري ورته تشه کاشي کاري ښکاري خو هنرمند ته ورشئ، و به وینئ، چې په نړۍ کې په لس ګونو هنرونه شته او صنعتونه او هنرونه هر یو ځان ته سبک

لري. د اسلامي هنر په هکله یو کتاب کښل شوی، چې اسلامي هنر ځانګړی سبک لري.

آندونو ته راځو هغه چې په دې هکله پوه نه وي، ارسطو یو فیلسوف، عالم او اندیال دی، د هېواد مشهور پوه "ابوریحان بیروني" یو عالم او اندیال دی، فرانسیس بیکن یو اندیال عالم دی. استورات میل، دکارت او هګل هم همداشان. بلې ډلې ته ځو، شیخ صدوق یو عالم دی، همدا شان شیخ کلیني، اخوان الصفا او خواجه نصیرالدین طوسي هم هر یو عالمان دي؛ خو په دې اړه پوه سړی پوهېږي، چې د دې علماوو په سبک، میتود او طریقه کې له ځمکې تر اسمانه توپیر دی. د یو عالم سبک استدلالي او قیاسي دی؛ یعنې په ټولو مسایلو کې د ارسطو له منطق-سول لاروي کوی، داسې که طب یې په چوپړ کې کړې نو په ارسطویي منطق طب لاس ته راوړي او که فقه ورکړې نو په ارسطویي منطق استدلال کوي، که ادبیات، صرف او نحوه ورکړې، ارسطویي منطق کاروي؛ ځکه سبک یې داسې دی، سبک یې تجربي سبک دی؛ لکه د ډېرو نویو علماوو په شان. وایي، د ابوریحان بیروني او بوعلي سینا بلخي د سبک توپیر دا دی، چې د بوعلي سینا سبک ارسطویي منطق دی خو د ابوریحان ډېر حسي او تجربي دی، په دې چې دا دواړه همپېري او دواړه نابغه هم دي، د یو سبک عقلي او د بل نقلي دی. ځینې نور اصلا عقلي سبک نه لري، په ټولو مسایلو کې یې ډاډ یوازې پر منقولاتو دی او بې له منقولاتو په بل څه هم ډاډ نه لري. د ساري په ډول: که مرحوم علامه مجلسي وغواړي طب ولیکي نو د منقولاتو له مخې یې لیکي، که سعد (بختورتوب) او نحس (سپېره توب) هم غواړي ولیکي بیا هم په منقولاتو استناد کوي. د یوه سبک منقول، د بل معقول، د یو حسي او د بل استدلالي، د ننیو په وینا: د یو دیالکتیکي دی؛ یعنې څیزونه په بهیر او حرکت کې ویني او د یو سبک ستاتیک دی؛ یعنې حرکت اصلا په هستۍ کې نه ګڼي نو څو ډوله سبکونه شته دی.

اوس چلن ته راځو. په چلنونو کې هم سبکونه شته. سیرت پوهنه؛ یعنې سبک پوهنه. لومړی داچې یو کلیت (ټولیزواله) لري: د نړۍ سلاطین په ټولیز ډول د ټولو اړپیچونو-اختلافونو سره سره یو سبک او یوه سیرت او ځانګړې طریقه لري. فیلسوفان هم ځانګړی سبک لري، ریاضت هم ځانګړی سبک لري. رسول الله (ص) هم ځانګړی سبک لري.

ومې ویل: هنر، شعر او آند بېلابېل سبکونه لري، په عمل کې سبکونه بېلابیل دي، دا هغو ته دي، چې سبک لري. ډېری خلک سبک نه لري. ډېر خلک، چې شعر وایي،

سبک نه لري، په سبک نه پوهېږي، ډېرى هنرمندان اصلا سبک نه پېژني. ډېرى خلک په آند کې اصلا سبک او منطق نه لري، يو ځل په عقل استناد کوي او بل ځل په نقل، يو ځل حسي او بل ځل عقلي کېږي. دوى د منطق خاوندان نه دي او ټيټ دي. په چلن کې هم ډېرى خلک سبک نه لري. که راته وويل شي، د چلن سبک دې راوښيه او خپله سيرت دې راڅرګنده کړه، طريقه دې بيان کړه، د ژوند د ستونزو په هواري کې کومه طريقه کاروې؟ نو ځواب ورته نه لرو.

هر څوک په ژوند کې ځان ته موخه لري، هر څه چې وي، د يوه موخه ستره وي او د بل پرېوتې، د يوه موخه خداى او د بل دنيا وي. په پاى کې انسانان هم موخې لري. ځينې اصلاً خپلې موخې ته سبک نه لري، طريقه يې ځان ته ټاکلې نه ده، په طريقې نه پوهېږي خو ځينې شته چې په کوم لار ځي، ورته سبک او طريقه لري. ډېر لږ خلک داسې وي که نه ډېرى خلک بې منطقه دي، بې سبکه دي او پر کړنو يې اړ دوړ واکمن وي.

**د پيغمبراکرم سيرت؛** يعني د رسول الله (ص) سبک او هغه میتود، چې پيغمبراکرم



په عمل او طريقه کې خپلو موخو ته کاراوه. زموږ وينه د رسول الله (ص) د موخو په اړه نه ده، چې د رسول الله (ص) موخې موږ ته غوښې او څرګندې دي؛ بلکې د سبک په هکله يې ده؛ يعنې هغه طريقه، چې رسول الله (ص) خپلې موخې ته کاروله. د ساري په ډول: آنحضرت(ص) تبليغ کاوه، د تبليغ طريقه يې څرنګه وه[١]؟ د تبليغ سبک يې څرنګه و؟ رسول الله په هماغه حال کې، چې مبلغ و او اسلام يې تبليغاوه، د خپلې ټولنې يو سياسي مشر هم و. چې مدينې ته راغى؛ نو ټولنه يې جوړه کړه، حکومت يې جوړ کړ او پخپله د ټولنې مشر و. په ټولنه کې د رسول الله د مشرۍ او سمبالنې سبک او ميتود څرنګه و؟ رسول الله په هماغه حال کې قاضي هم و او په خلکو کې يې ورمندون- قضاوت هم؛ نو ورمندون يې پر کوم سبک و؟ رسول الله د نورو په شان کورنى ژوند درلود، مېرمنې يې درلودې، اولاد يې درلود، په مېرمن پالې کې يې سبک څرنګه و؟ له اصحابو او يارانو سره يې معاشرت څرنګه و؟ رسول الله سرسخت دښمنان درلودل؛ نو له دښمنانو سره يې چلن څرنګه و؟ او نور په لس ګونو سبکونه، چې بايد روښانه شي [٢].

[١]. په دې هکله په دې کتاب کې يو ځانګړى څېرکى لرو.

[٢]. په دې کتاب کې هڅه شوې، چې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه د رسول الله (ص) ميتود په شننيز

## په چلن کې بېلابېل سبکونه

د ساري په ډول: اساساً د ځينو ټولنيزو او سياسي مشرانو سبک يوازې زور دی؛ يعنې بې له زوره په بل څه ډاډ او ايمان نه لري، دا يې سول- منطق دی. بې له زوره، چې هر څه وي، شاته يې غورځوي؛ يعنې هغه سياست، چې اوسمهال يې ځينې لويديځي ستر ځواکونه په نړۍ کې کاروي، دوی گروهن دي، چې ستونزې يوازې په زور هوارېدای شي، بې له زوره هر څه شا ته واچوه. ځينې نور په سياست او سمبالنه- مديريت کې، په ټګۍ برګۍ خورا ډاډ لري؛ لکه د انګريزانو سياست.

د بل چا ميتود ممکن په رښتيني مانا اخلاق وي او د بل په ظاهره اخلاقي وي. په سياست کې د حضرت علي (ک) او امير معاويه بن ابي سفيان د سيرت ترمنځ توپير په همدې کې و. د هغه وخت ډېری خلکو د معاويه بن ابي سفيان سياست ته غوراوی ورکاوه او ويل يې، چې سياست؛ يعنې څه چې معاويه بن ابي سفيان کوي، راتلل او حضرت علي (ک) ته يې ويل: ولې هغه لار نه کاروې، چې معاويه بن ابي سفيان يې کاروي، چې کار دې پر مخ ولاړ شي؟ ته يوازې په دې غم کې وسه، چې کار دې مخې ته ولاړ شي، څه، چې کېږي، هغه به کېږي، په يو ځای کې دې سړی پور واخلي، له دې يې واخلي، بل ته دې ورکړي، ژمنې دې وکړي او بيا دې ترې پر شا شي. پرېږده، چې کار دې مخې ته ولاړ شي، تر ټولو مهم دا دي. تردې، چې ځينو ته توهم پيدا شو، چې ښايي، حضرت علي (ک) په دې لارو چارو نه پوهېږي او معاويه هوښيار دی او حضرت علي (ک) دا هوښيارتيا نه لري، چې حضرت علي (ک) په ځواب کې وويل: ((تاسې ولې تېروځئ، پر خدای قسم، معاويه تر ما هوښيار نه دی، تاسې انګېرئ، چې زه غدر نه کاروم، په لارو چارو يې نه پوهېږم. هغه ټګي برګي کاروي او فسق او فجور کوي، که داسې نه وای، چې د خدای غداري نه خوښېږي؛ نو تاسې به هغه وخت ليدلي ول، چې په واقعي مانا(زه هوښيار يم که نه)، چې تاسې معاويه ته هوښيار وايئ نو هغه وخت به تاسې ليدلي وه، چې داهيه- هوښيار څوک دی، زه که معاويه؟ زه څرنګه په سياست کې له ټګۍ برګۍ کار واخلم، حال دا پوهېږم ټګي برګي او خيانت، فسق او فجور دي او دا فسق او فجور د کفر په حد کې دي او په قيامت کې به هر غدار له يوه بېرغ سره

---

ډول راوړل شي. په راتلونکيو څېرکيو کې مو په دې هکله مفصل معلومات راوړاندې کړي دي.

محشورېږي، زه کله هم چل ول نه کاروم.))

ځيني په سبک کې لرليدي- دور انديشه دي، ځيني غوڅ او ځيني نور يې نه وي. ځيني په سبک کې وګړيز دي؛ يعنې په يوازې ځان تصميم نيسي. ځيني اساسا دې چمتو نه دي، چې په يوازې ځان تصميم ونيسي، که څه مطلب ورته بشپړ روښانه وي؛ خو بيا هم په يوازې ځان تصميم نه نيسي او په تېره دا د پيغمبراکرم په سيرت کې هېښنده ده. د نبوت په مقام کې په هغه مقام کې، چې اصحاب پر رسول الله دومره ايمان لري او وايي که حکم راکړې، چې ځان په سيند کې واچوو؛ نو دا کار به وکړو؛ نو آنحضرت(ص) نه غواړي سبک يې وګړيز وي او په چارو کې يوازې هوډ وکړي؛ ځکه ددې کار لړترلړه تاوان دادی چې خپلو اصحابو ته يې شخصيت نه دی ورکړی؛ يعنې ددې مطلب دا دی، چې له بېخه آند، پوهه شعور نه لرئ، يوازې اوزار ياست، زه يوازې حکم کوم او تاسې پرې عمل کوئ؛ نو ددې کار لازمه داده، که سبا بل هر څوک مشر شو؛ نو همدا شان عمل به کوي او وايي به: د مشر لازمه داده، چې يوازې مشر فکر او څرګندونه وکړي او بې له مشره نور دې بې ارادې اوزارونه وي او عمل دې کوي.

خو رسول الله د نبوت په مقام کې دا شان کار نه کوي. شورا جوړوي، چې اصحابو څه وکړو؟ "بدر" راپېښېږي شورا جوړوي، "احد" راپېښېږي شورا جوړوي، وايي: دوی تر مديني رارسېدلي، سلا مو څه ده؟ له مديني بهر ورسره جګړه وکړو که په همدې مدينه کې پاتې شو او په دننه کې خپل حالات مزبوت کړو، څه موده به کلابند شو، که بريالي نه شول؛ نو مات به بېرته ستانه شي. د ډېرو پوخمنګو او تجربه کارو تشخيص دا و، چې مصلحت دادی په مدينه کې پاتې شو. ځوانانو ويل: په مدينه کې پاتې شو او را دې شي او موږ دې کلابند کړي، نه! بهر ځو، څنګه چې وي، ورسره جنګېږو. تاريخ ليکي: پخپله رسول الله مصلحت نه ليده، چې له مدينې ووځي او ويل يې: که په مدينه کې پاتې شو؛ نو بريا مو ډېره ده؛ يعنې اند يې له پوخمنګو او تجربه کارو سره يو و خو ويې ليدل، چې اصحاب، چې هماغه ځوانان ول، و يې ويل: نه! رسول الله (ص)! له مدينې وځوو او د احد په کنډو کې ورسره جګړه کوو. غونډه پای ته ورسېده، ويې ليدل، چې رسول الله وسله راوخسته، راغلل او ورته يې وويل: رسول الله (ص)! داچې نظر مو وغوښت، دا شان نظر مو ورکړ خو په عين حال کې موږ ستاسې تابع يو، که مصلحت نه وينئ؛ نو د خپل نظر

پرخلاف په مدینه کې پاتېږو. رسول الله وویل:
((پیغمبر، چې وسله وال او را بهر شو؛ نو سمه نه ده، چې وسله بېرته کېږدي، اوس چې باید بهر ولاړ شو؛ نو بهر ځو.))
موخه داده، چې دا بېلابېل سبکونه او طریقې دي، چې په بېلابېلو برخو کې دې وڅېړل شي.

**عملي ثابت منطق/ سول**

ومو ویل، چې "سیر"غیر له "سیرته" دی. سیر؛ یعنې چلن. هر څوک په نړۍ کې؛ لکه څنګه چې وینا لري، چلن هم لري؛ خو سیرت ځانګړي اسلوب یا سبک ته وایي، چې د سبک، اسلوب او سول درلودونکي وګړي یې په خپل سیر کې کاروي. ټول خلک سیر لري؛ خو سیرت نه لري؛ یعنې دا شان نه ده، چې ټول خلک دې په خپل چلن کې له ځانګړي سوله پلوي وکړي او په خپل چلن کې یو لړ آرونه ولري، چې دا آرونه یې د چلن کچه وي. دا غونډلې هغو ته وایم، چې له منطق سره اشنایي لري: په اندیز سول کې، ټول خلک فکر کوي؛ خو ټول خلک سولیز فکر نه کوي. سولیز فکر کول؛ یعنې انسان د "سول- منطق"په نامه یو لړ کچې لري، چې د سول په علم کې څرګند دي او تفکر یې د همدې کچو پر بنسټ وي. ډېر لږ دي، چې کله تفکر کوي؛ نو دا حساب یې په لاس کې وي، چې تفکر یې له دې کچو سره اړخ ولګوي. همداراز لږ خلک پیدا کېږي، چې چلن یې د سول درلودونکی وي؛ یعنې د یو لړ ټاکلو کچو پر بنسټ وي، چې له دې معیارونو، اصول او دریځونو کله هم نه جلا کېږي که نه د ډېری خلکو چلن سول نه لري او؛ لکه څنګه چې فکر یې سول نه لري او اړدوړ پرې واکمن دی؛ نو پر چلن یې هم اړدوړ واکمن وي.

**د سول وېش**

په حکمت او فلسفه کې دا خبره ویل شوې، چې حکمت دوه ډوله دی: نظري او عملي. الهیاتو، ریاضیاتو(ریاضي، هندسه، نجوم، موسیقي) او طبیعیاتو(فیزیک، ځاروپیوهنه، بوټپوهنې) ته نظري حکمت یا نظري فلسفه وایي او په مقابل کې اخلاقو، سیاست او تدبیر منزل ته عملي حکمت وایي. په سول کې دا شان خبره نه ده شوې؛ خو مطلب سم دی؛ لکه څنګه چې فلسفه دوه ډوله ده: نظري او عملي منطق؛ یعنې د بشر معیارونه هم دوه ډوله دي: نظري معیارونه(هماغه معمولي منطق) او عملي معیارونه. عملي معیارونه هماغه دي، چې

د "سيرت" يا طريقې نوم مو پرې ايښی دی.

**ايا په عمل کې ثابت سول درلودای شو؟**

و مې ويل: ځينې وگړي سول وال وي او ځينې نه. دلته دا مسله رامخې ته کېږي او په تېره ممکن د ځوانانو پاملرنه دې مطلب ته راماته شي، چې ايا يو انسان کړای شي په عمل کې په ټولو وختونو او ځايو کې يو سول ولري، يو ثابت مظبوط سول، چې ترې وانه وړي؟

موږ د رسول الله (ص) په هکله دا شان خبرې کوو، چې آنحضرت(ص) داسې تن و، چې په عمل کې يې سيرت درلود، طريقه او اسلوب يې درلود، سول يې درلود او زموږ د مسلمانانو دا دنده ده، چې د رسول الله سيرت وپېژنو، عملي سول يې راوسپړو؛ ځکه په عمل کې ترې بايد گټنه وکړو.

يو انسان کړای شي د عمر له پيله تر پايه يو سول ولري، چې هغه سول ورته آر- اصل او اصالت ولري؟ يا اصلا بشر نشي کړای ثابت سول ولري؛ يعنې انسان د وخت او ځای د شرايطو او د ژوند د شرايطو تابع وي، په تېره د پاټکيزو- طبقاتي دريځونو تابع وي او د ټولن وټيزو-اجتماعي اقتصادي په هر شرايطو کې، چې وي؛ نو



جبراً له يوه ځانگړي سوله دې لاروي وکړي؟

دا مهمه مسله ده، چې په نننۍ نړۍ کې نوموتې ده. مارکسزم پردې بنسټ دی. مارکسزم آند، گروهې او ايمان ته د ټولن وټيزو او په تېره د پاټکيز موقعيت پر وړاندې پر کوم اصالت قايل نه دی، وايي: اساسا انسان نشي کړای په بېلابېلو شرايطو کې يو شان فکر وکړي او يو سول وکاروي، انسان په خاورين کور او ماڼۍ کې دوه سوله لري، په ماڼۍ کې يو شان او په خاورين کور کې بل شان فکر کوي، ماڼۍ انسان ته يو ډول سول ورکوي او خاورين کور بل شان. يو بې برخې کس، چې ټول عمر تر تېري او زندۍ لاندې و او بېلابېل بې برخېتوبونه يې ليدلي او لا اوس هم پرې تېرېږي؛ نو دا سړي که وغواړو که نه نو يو ډول فکر کوي؛ يعنې د ژوند وضع يې ورته يو ډول فکر رامنځ ته کوي، وايي: عدالت، مساوات، برابري او آزادي. دا يې واقعاً فکر دی؛ ځکه د وضع غوښتنه يې دا ده، چې دا شان فکر وکړي. د همدې کس په وضع کې که بدلون راشي او که دا خاورين مېشتی ماڼۍ مېشتی شي او خاورين کور يې ماڼۍ شي، بهرني شرايط ورته بدلون مومي نو په دې بڼه کې فکر يې هم بدلېږي او وايي، چې نه دا خبرې سمې نه دي او د مصلحت غوښتنه بل څه ده،

مساوات سمه خبره نه ده، د څه آزادیو مخه دې هم ونیول شي او نیاو-عدالت هم بل شان تفسیروي؛ یعنې د ژوند وضع، چې بدله شوه، ګټې یې بدلې شوې او داچې انسان نشي کړای له خپلو ګټو تېر شي؛ نو فکر یې هم بدلیږي. ددې ښوونځي له مخې، د بشر د فکر د ساعت ستنه داسې جوړه شوې، چې خپلې ګټې یې مقناطیس دی، که ګټې یې په بېوزله پوړ کې وي؛ نو هماغه لوري ته ورګرځي او که ګټې یې بدلې شوې او د شتمنو لوري ته شوې؛ نو دا ستنه هم که وغواړو که نه، جبراً د شتمن پوړ لوري ته ورګرځي.

## رسول الله (ص)

د رسول الله عملي ژوند د مارکس څرګندونه نقض کړه. د ابوطالب د درې وخت رسول الله ته وګورئ او د مرګ پرمهال رسول الله ته وګورئ. په ابوطالب دره کې رسول الله دی او لږ شمېر اصحاب، چې په دره کې بندیان دي اوبه، خواړه او نورې اړتیاوې نه ورسي او دومره پرې سخته وه او هغه مسلمانانو، چې په پټه مسلمانان شوي ول او په مکه کې اوسېدل، په دره کې یې له ځینو مسلمانانو او په تېره له حضرت علي (ک) سره اړیکې نیولې وې او ده ته یې لږ څه خواړه ورکول او دا لږ خواړه یې په شعب کې په ټولو مسلمانانو

ویشل. لسم هجري کال رارسي او په دې وخت کې د نړۍ حکومتونه پرې شمېري او د رسول الله پر وړاندې خطر ننګېري. نه یوازې ټول عربي ټاپووزمه یې تر ولکې لاندې ده؛ بلکې د نړۍ سیاستوال وړاندوینه کوي، چې ډېر ژر به دا ځواک له دې عربي ټاپووزمې ګردې نړۍ ته خپور شي. په دې حال کې د لسم هجري کال د رسول الله او په شعب ابیطالب کې د رسول الله په روحیه کې هېڅ توپیر نشته.

د هجرت پر لسم کال د رسول الله شهرت نور هم زیات شو، یو عرب یې لیدو ته راځي او غواړي ورسره خبرې وکړي، دا کس دومره د رسول الله تر اغېز لاندې راغی، چې ژبه یې بنده شوه، رسول الله خپه شو او له مخې سره یې په غېږ کې ونیو، ویې ویل: ((مه وارخطا کېږه له څه وېرېږې؟ څه چې انګېرې له هغو ظالمو نه یم، زه د هغې ښځې زوی یم، چې پخپله یې اوزه رالوشوله، زه دې؛ لکه د رور په شان یم، څه چې دې په زړه دي، راته یې ووایه.))

ایا دې وضع، واک، نفوذ، پراختیا او شونتیاوو وکړای شول، چې لږ هم د رسول الله په اروا کې بدلون راولي؟ نه! و مې ویل: یوازې رسول الله دا شان نه دی؛ بلکې د رسول الله مقام له دې خبرو ډېر پورته دی.

**برهان او شعر**

په نظري سول کې برهان او شعر لرو.
برهان دهغو دلايلو په څېر دی، چې په رياضياتو کې مطلب وړاندې کونې ته کارول کېږي. يوه زدکړيال، چې رياضيات وايي او د مثلثاتو احکام ورته ويل کېږي، چې د مثلث ټوليزه زاويه له ۱۸۰ درجو سره مساوي ده او ناشونې ده، ۱۸۱ يا ۱۷۹ شي او برهان ورته راوړي. د ښوونکي دا واک شته چې يو ځل برهان راوړي او ووايي: د مثلث زاويې له ۱۸۰ سره مساوي دي او بيا وايي: له ۱۲۰ سره مساوي دي؟ دا اختيار ورسره نشته. نظري عقلي اصول د انسان په اختيار کې نه دي او بشر يې بايد اېل وي. که انشټاين هم دې نړۍ ته راوړل شي او د هغه ښوونکي په شان برهان راوړي نو زده کوونکي يې غندي. ولې؟؛ ځکه د زور خبره کوي او د زور خبره عقل نه مني. څه چې عقل نه مني نو د نړۍ تر ټولو مزبوت کسان يې هم پرخلاف خبرې نشي کړای؛ ځکه دلته خبره د برهان ده.
راځو شعر ته. شعر د موم په څېر د انسان په لاس کې دی. انسان کړای شي هر څه ته د خپلې پوهې له مخې له تشبيه، استعارې او تخيله يو څه جوړ کړي. شعر دی، سول او برهان خو نه دی. د ساري په ډول: شاعر ته وايه د پلاني څيز ستاينه وکړه؛ نو ستايي يې، ورته ووايه، چې همدا وغنده؛ نو غندي يې.
يو شاعر ته ووايه، چې مسافرت وستايه نو وايي هو! مسافرت ښه دی، په ځای په ټپه کېناستل څه مانا لري؟

درخت اگر متحرک بُدی ز جای به جای
نــــه جـــــور ارّه کشيدی و نه جـفای تبر

دا ونه ګورئ، چې اره کوي يې او پر تبر يې وهي؛ ځکه ځای پر ځای ولاړه ده. که مسافره وه نو دا شان به نه وه. ورته ووايه اوس راشه اپوټه يې شعر ووايه، چې پر ځای ناست ښه دی، وايي: تېره چې پر ځای وي؛ نو درنه ښکاري، دې غره ته وګوره، چې پر ځای ولاړ دی خو دا باد وينې، چې د چا پروا هم نه ساتي؛ ځکه تل په حرکت کې دی. دا ډول شعر ويل؛ يعنې په تخيل يو څيز له بل سره تشبيه کول دي.
تېروتنه دې ونشي، شعر د تخيل په مانا وايم، زه هر نظم ته شعر نه وايم، منظوم کلام نه وايم، د سول په څرګندنه -اصطلاح شعر وايم؛ يعنې په تخيل د مسلو جوړول. تخيل مقياس او ميزان نه لري.
ځينې په عملي سول کې د برهان په څېر کلک او مزبوت دي، له کومو آرونو، چې پلوي کوي؛ نو هېڅ واک يې ترې نشي اخستای. زور، تمه، ټولنيز شرايط، وټيزه اوضاع او پاټکيزه وضع ناشوني دي، (چې

دا اصول ترې واخلي)، ټينګ اصول د برهاني او رياضي آرونو په څېر د وګړي په واک کې نه دي، چې بدلون پکې راوړي، د سړي په زړه نه دي او په عاطفې پورې هم تړلي نه دي.

رسول الله؛ يعنې هغه چې دا شان اصول لري؛ يعنې داسې کس، چې دا شان اصول لري؛ بلکې لارويان يې هم دا شان دي؛ يعنې هغوی چې دا شان اصول لري؛ خو په ژوند کې د ځينو اصول د شاعر د انديزو آرونو په شان دي. پيسې ورکړه، فکر يې بدلېږي، ژمنه ورسره وکړه، فکر يې بدلېږي؛ ځکه فکر يې مبداء او آر نه لري؛ نو يو له غټو مطلبونو، چې موږ يې بايد د رسول الله (ص) په سيرت کې پرې وبينه وکړو، دا ده، چې ايا اصلاً اسلام دا شان دين دی، چې له مخې يې انسان دا شان فطرت او خورزون- ختِه لري؛ لکه څنګه چې کړای شي په نظري سول کې له پولادي سوله لاروي وکړي؛ نو همداراز په عملي سول کې هم کړای شي داسې ځای ته ورسي، چې يو واک يې هم خوځولای نشي.

د ايمان په هکله يې ويلي: ((مؤمن د هغه غره په څېر دی، چې هېڅ څيز او بادونه يې له ځايه نشي؛ خوځولای.))

دا توند بادونه څه دي؟ بې برخيتوب يو څوک له ځايه خوځوي او بل سوکالي له ځايه خوځوي.

((وَمِنَ النَّاسِ مَن يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَى حَرْفٍ فَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ اطْمَأَنَّ بِهِ وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ انقَلَبَ عَلَى وَجْهِهِ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ[1]- او په خلکو کې څوك داسې دی، چې الله يوازې په ژبه (شک او د خپلو ګټو له مخې) لمانځي (او د زړه ايمان يې کمزوری دی) همداچې(دنيا ورته مخه کړي، ګټه او) خير ورسي نو ډاډه کېږي او که د ازمېښت لپاره ورته کوم کړاو ورسي (نو کفرته) مخ اړوي (او په دې توګه) دنيا او اخرت دواړه له لاسه ورکوي.))

## "سيرت" او د اخلاقو نسبيت

مخکېنی وبينه مو دا وه، په بېلابېلو مکاني او زماني شرايطو کې او په بېلابېلو ټولنيزو اوضاعو کې او په جلا جلا پاټکيزو موقعيتونو کې ايا انسان ته دا شونې ده، ثابت عملي سولونه او معيارونه ولري او دا؛ ځکه اړين و، څه مې چې وويل، که بې له دې وي؛ نو د قرآن په تعبير "اسوه" او د بشپړ انسان او امام، مشر او مقتدا وييني به بېخي مانا نه درلوده. (او داسې به يې ويل) يو انسان، چې يو زر او څوارلس پېړۍ

[1] (حج/١١)

مخکې پر ځانګړي سول عمل کاوه، زه خو اوس د هغه په شرایطو کې نه یم او هغه خو زما په شرایطو کې نه و او هر شرایط ځان ته ځانګړی سول غواړي. ددې خبرې مانا دا ده، چې هېڅ انسان نشي کړای بېلګه وسي. ؛ ځکه مې تېره وېینه وکړه، چې دا مطلب مې ځوابولی وي او د خدای په مرسته په راتلوونکي وېینه کې به یې لا روښانه کړم؛ ځکه زموږ په پېر کې یو مسله خپره شوې او داچې سم پرې نه دي پوهېدلي نو یو لږ بدې ښوونې یې رامنځ ته کړې دي او هغه د اخلاقو د نسبیت مسله ده. داچې څه ښه دي او څه بد، انسان دې ځرنګه وي او ځرنګه دې نه وي، دا یو نسبي چار دی که مطلق؟ که دا وېینه ډېره نوموتې نه وه نو نه مې ویله[1].

ځینې ګروهن دي، چې په ټولیز ډول اخلاق نسبي دي؛ یعنې د اخلاقو ښې او بدې کچې نسبي دي. په بله وینا: انسانتوب نسبي چار دی. د یو ځیز د نسبیت مانا داده، چې دا ځیز په بېلابېلو وختونو او ځایونو کې بدلېږي. یو ځیز په یو وخت او شرایطو کې له اخلاقي اړخه ښه دی او همدا ځیز په بل وخت او ځای کې د اخلاقو ضد دی. یو ځیز په یو اوضاع او احوال کې انساني دی او همدا ځیز په بله اوضاع او احوال کې انساني ضد دی. دا د اخلاقو د نسبیت مانا ده، چې نن ډېره خپره ده.

یو مطلب دی، چې اوس یې اصله مدعا وایم، بیا پرې رڼا اچوم او هغه داچې د اخلاقو لومړني اصول او د انسانیت لومړني معیارونه هېڅ نسبي نه دي او مطلق دي؛ خو ثانویه-دویمني معیارونه نسبي دي او په اسلام کې هم له دې مسلې سره مخ یو. د نبوي سیرت په هکله، چې کومه وېینه کوم نو دامطلب به سوکه سوکه ځرګند کړم.

رسول الله پخپل سیرت او طریقه کې پخپل عملي سول کې کله هم له ناروا آرونو او طریقو ګټنه نه ده کړې؛ لکه ځرنګه، چې نورو امامانو هم له دې آرونو او معیارونو ګټنه نه ده کړې. دا د اسلام له نظره او په ټولو شرایطو، وختونو او ځایونو کې بد دي.

## د وسیلې ګومارنې ځرنګوالی

د وزلې ګومارنې ځرنګوالی هغه مسله ده، چې د رسول الله له سیرې یې باید زده کړو. انسان دې لومړی پخپلو موخو کې مسلمان وي؛ یعنې موخه دې یې سپېڅلې، ستره او

[1] [په دې مطلب ښه پوهېدنې ته د استاد مرتضی مطهري "ښوونه او روزنه په اسلام کې" کتاب ولولئ، چې پښتو ته اړول شوی او چاپ شوی هم دی. ]

الهي وي. دویم داچې همدې موخو ته د وزلې په ګومارنه کې هم واقعاً مسلمان وي. ځینې د موخې له اړخه مسلمان نه وي؛ یعنې په ژوند کې بې له خوراک څښاک او خوندپالۍ بله موخه نه لري، یوازې ددې موخې په هکله فکر کوي، چې څرنګه ژوند وکړي، چې لا ډېر په اسرهت – رفاه کې وي. په حقیقت کې موخې یې د یو څاروي د موخې له پولې نه اوړي. دوی ته نه یوازې مسلمان نه شو ویلای؛ بلکې انسان هم ورته ویلای نشو. یو انسان له هغه اړخه، چې انسان دی، د حیواني شهوتونو له پولو پورته اند دې ولري او که انسان رښتینی مسلمان وي، ټولې موخې یې په یوه کلمه کې راغورچاڼېږي، چې هغه خدای او خوښې یې ده.

په بل پړاو کې انسان خامخا- زازو خپلو پاکو، سپېڅلو او سترو موخو ته یوه وسیله کاروي. اوس مسله داده، همدا بسیا دي، چې موخه دې انساني وي او له دې پور ته چې موخه دې الهي وي؟ نو باک نه لري، ور رسېدو ته یې له هرې وزلې ګټنه وشي؟فرض دادی، چې موخه مو الهي ده. ایا سپیڅلې موخې ته هره وسیله که څه ناسپېڅلې او ناوړه وي، ترې ګټنه کړای شو؟ که نه، سپیڅلې موخې ته دې سپېڅلې وسیله وکارول شي، نه ناسپېڅلې او ناوړه. څو بېلګې یې وړاندې کوو.

## د دین په تبلیغ کې له نامشروع وزلې ګټنه

موخه د دین تبلیغ دی. یو وخت په یو کار کې مو موخه خپل ځان وي، کار ځان ته کوم، د ځان اسرهت، ښښګلوی- رفاه او ګټې ته یې کوم خو یو وخت ځان ته نه؛ بلکې دین ته کار کول غواړم، په دې حالت کې ایا جایز دي، چې له هرې وزلې ګټنه وکړم؟ که غواړم خپلو ګټو ته کار وکړم، د ساري په ډول: کار مې په (دولتي) اداره کې نښتی او درځم، چې ستونزه مې هواره کړئ، درته دروغ وایم، چې د ستونزې غوټه مې پرانستل شي، دلته به مې ټول ملامتوي، چې د ستونزې هواري ته غوړه مالي کوي، دروغ وایي، تورونه تپي خو په یو وخت کې موخه بل څه وي، غواړم جومات جوړ کړم، ځان ته یې نه جوړوم او په دې جوړونه کې ناسپېڅلې موخه هم نه لرم، نیت مې کړی، چې په پلاني ځای کې خلکو ته جومات جوړ کړو. جومات جوړونې او سامان ته اړتیا لري، نور کړاوونه لري، ممکن اداري ستونزې ولري او له خلکو دې هم پیسې واخستل شي. یو خیرغواړي سړي متې رانغاړلي، چې جومات جوړ کړي، په یو سړي پسې ځي او دروغ ورته وایي، چې لرې پیسې ترې واخلي. بل ته هم دروغ وایي. د بل غوړه مالي کوي او بوس

ورلاندې کوي، چې پيسې ترې واخلي او په همدې بنه له نورو هم بسپنه راټولوي. اوس موږ دې ته څه وايو؟ ښايي ډېرې خلک دا عمل سپېڅلی او يو ډول سرښندنه وګڼي او وايي: کمبخت ګهيځ تر ماښامه ځان ته څه نه کوي او متې يې رانغاړلي، چې جومات جوړ کړي. دې کار ته ځومره منلېه ترړه وهي، له هرې لارې، چې جومات ته پيسې راغونډوي؛ نو رښتيا هم، چې د لوی سينې خاوند او سرښندويه دی.

دا کار سم دی که نه؟

## حديث جعلول

په تاريخ کې پېښې شوي، داچې خلکو ته لارښوونه وکړي، له رسول الله يا کوم امامه جعلي حديث رانقلوي، حال دا دا وګړی وګړيزه موخه نه لري؛ بلکې غواړي خلکو ته لارښوونه وکړي، انګېري که دا شان جعلي حديث رانقل کړم. خلک به يې ښه ومني. د ساري په ډول: له ځان سره وايي: داچې خلک دومره غيبتونه او بېځايه خبرې کوي او داچې خلک له دې چارو منع کړم، راشه د پلانی دعا په هکله يو جعلي حديث جوړ کړم، چې خلک يې د غيبت او بېځايه خبرو پر ځای ووايي يا داچې د قرآن شريف پلانی سورت که



څوک څلوېښت ځل پرلپسې ووايي نو پلانی اغېزه لري.

دا څه ښه کا دی؟ موخه سپېڅلې ده؛ خو يو غواړي په دروغو او جعل دا سپېڅلې موخه عملي کړي، دا سمه ده که نه؟ په تاريخ کې ډېرې داسې ول، چې دا کار يې کړی. يو حديث دی، چې د تفسير په زياترو کتابونو کې يې کښلی او د مجمع البيان په سريزه کې هم راغلی، چې دا حديث، "ابیّ بن کعب" د قرآن شريف د سورتونو د فضايلو په هکله ځانګړی رانقل کړی. د ساري په ډول: د ((سبح اسم)) سورت ته ځانګړی فضيلت يادوي. ((هل اتیک حديث الغاشيه)) ته بل فضيلت او ((لم يکن الذين کفرو)) ته بل ثواب، بقرې سورت ته بل او آل عمران ته بل او ټول يې هم له رسول الله روايت کړي دي. چا وپوښت: دا څنګه خبره ده، چې دا حديث يوازې ته روايتوې او بې له تا ان يو تن هم نه دی روايت کړی؟ و يې ويل: که رښتيا راباندې وايې، دا حديث مې د خدای رضا ته جعل کړی دی، ومې ليدل، چې خلک په ناستو کې د جاهليت شعرونه، افسانې او تاريخونه وايي او خپل وخت هسې تېروي، داچې ددې چټې کار پر ځای مې خلک د قرآن تلاوت ته هڅولي وي؛ نو حديث مې د رسول الله له خولې رانقل کړ، دا خو کوم باک نه لري؟!

بل راځي، پلانۍ موخې ته یو جعلي خوب وايي او انګېري، چې په دې خوب به خلکو ته لارښوونه وکړم. ایا دا کارونه سم دی، چې انسان دې سپېڅلې موخې ته له ناسپېڅلو وسایلو ګټنه وکړي؟

نه! دا کار غلط دی.

نن مې د المیزان تفسیر لوسته، ده(مرحوم علامه طباطبايي) هم د نبوت د تبلیغ ادب، چې له قرآنه يې استنباط کړی (په ټولیز ډول پېغمبرانو او له هغوی رسول الله کومو ادابو ته پاملرنه کوله.) پخپل تفسیر کې يې راوړي، چې انبیاوو کله هم پخپله سیرت او طریقه کې، حق ته د وررسېدو لپاره له باطلو ګټنه نه ده کړې؛ بلکې له خپله حقه يې ګټنه کړې ده.

## نبوي سیرت او د اسلام چټکه پراختیا

((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ[1]-خلکو ته د الهي رحمت (په برکت) نرم (او لوراند) شوی يې او که تونډ خویه او سخت زړی وې؛ نو خلك درځنې خورېدل؛ نو له هغوی تېرشه او ښښنه ورته وغواړه او په چاروکې ور سره مشوره وکړه؛ خو چې هوډ دې وکړ (نو پرېکنده وسه او) پر الله توکل وکړه.))
د اسلام د زغردې پراختیا مسله د تاریخ مهمه مسله ده، چې د علتونو په هکله یې وینه او خبرې کېږي. که څه مسیحت او تر څه بریده بودایي دین هم په نړۍ کې خپور شوی دی، په تېره مسیحت، چې "بیت المقدس" یې ځانګو او ټاټوبی دی خو تر ختیځې نړۍ په لویدیځې کې ډېر خپور شوی دی؛ لکه څنګه چې پوهېږو د امریکا او اروپا ډېری خلک مسیحیان دي او؛ لکه چې په دې روستیو کې مسیحیتوالی یې زیاتره نومیزه- اسمي بڼه لري، نه رسمي او واقعي خو بیا هم سیمه یې د مسیحیت په نامه یادېږي. د بودا دین هم په هند کې راوټوکېد خو له هنده بهر په "چین" او "جاپان" کې یې پراخوالی وموند، که څه په هند کې هم لارویان لري. د یهودو دین، قومي او توکمیزه دی او له یوه قوم او توکم بهر نه دی وتلی. د زرتشت دین هم تقریباً ځایي دین دی، چې په ایران کې راښکاره شو او ان و یې نه شو کړای، چې د ایران ټول خلک قانع کړي او په هر حال له ایرانه یې پښه بهر کېښښوه. که نن وینو، چې په هند کې زرتشتیان دي، چې د "هند د پارسیانو" په نامه یادېږي؛ نو دوی هندوان نه؛ بلکې ایرانیان دي، چې هند ته کډن شوي او چې هلته ولاړل؛ نو و یې نه کړای شول، چې خپل دین خپور کړي.
اسلام له هغه اړخه د مسیحیت په شان دی، چې له خپلې ځمکې ووت او نو څنډې یې پرانستې. اسلام په عربي ټاپووزمه کې راښکاره شو او نن وینو، چې په اسیا، آفریقا، اروپا، امریکا او د نړۍ په بېلابېلو توکمونو کې لارویان لري او تر مسیحیانو یې شمېر ډېر دی، که څه مسیحیان هڅه کوي، چې دا شمېره لږه وښیي؛ خو په دې اړه څېړنه شوې، چې تر مسیحانو یې شمېره ډېره ده. د پراختیا له اړخه په اسلام کې یوه ځانګړنه ده، چې په مسیحیت کې نشته او

[1] (آل عمران/۱۵۹)

هغه د اسلام د ځغردې پراختیا مسله ده. مسیحیت د مېړې په مزله پراختیا موندلې خو اسلام فوق العاده زغرده پراختیا موندلې ده، که هغه په عربستان کې وي او که ترې بهر؛ لکه په آسیا، آفریقا او نورو ځایونو کې.

اوس دا مسله نوموتې-اوځار ده، چې اسلام ولې په دې زغردی پراختیا ومونده. نامتو فرانسوی شاعر "لامارتین" وایي: که درې څیزونه په پام کې ونیسو نو څوک هم د اسلام پېغمبر ته نشي رسېدلای، چې یو یې د توکیزو-مادي وسایلو نشتوالی دی. یو سړی راښکاره کېږي او بلنه کوي، حال دا هېڅ ځواک او واک نه لري، ان خپل نږدې کسان او کورنۍ یې دښمنېږي، په یوازې ځان راښکاره کېږي، هېڅ همکار او هملاسی نه لري، له ځانه یې پیلوي، مېرمن یې پرې ایمان راوړي، هغه ماشوم پرې ایمان راوړي، چې په کور کې یې دی او د تره زوی یې دی(حضرت علي (ک)، سوکه سوکه نور کسان هم ایمان راوړي او هغه هم پر خورا سختیو او کړاوونو کې.

دویم د پرمختګ زغردوالی-سرعت یا د وخت عامل دی او دریم د موخې ستروالی - بزرګي یې ده. که د موخې اهمیت د وسایلو له نشتوالي او له هغه زغردتوب سره په پام کې ونیسو، چې د وسایلو په نشتوالي کې هغه موخې ته رسېدلی نو د "لامارتین" په وینا، چې رښتیا هم وایي، د اسلام پېغمبر په نړۍ کې ساری نه لري. که مسیحیت هم په نړۍ کې پرمختګ کړی؛ نو د حضرت عیسی له رفع (پورته عالم ته د حضرت عیسی ختل) څخه څو سوه کاله تېر شوي وو؛ نو ایله بیله یې په نړۍ کې ځان ته ځای پیدا کړ.

د اسلام د ځغردي پرمختګ د علتونو په هکله موږ د خپلې وییني؛ یعنې نبوي سیرې په تناسب خبرې کوو.

قرآن دا مطلب څرګند کړی او تاریخ هم همدا مطلب په څرګنده تاییدوي، چې له دې علتونو یو یې "نبوي سیرت" او د رسول الله طریقه؛ یعنې خوی، چلن او د رسول الله د بلنې او تبلیغ طریقه ده. که څه په دې هکله نور علتونه هم شته. خپله قرآن، چې د رسول الله معجزه ده. بېشکه لومړی لامل د قرآن، ښکلا، ژورتیا، ولوله توب او جاذبه- راکښنه ده. د اسلام د نفوذ او پراختیا لومړی لامل په هر ځای کې خپله قرآن او د قرآن منځپانګه ده؛ خو له قرآنه چې راتېر شو، د اسلام په پراختیا او نفوذ کې دویم لامل د رسول الله وګړه، خوی، سیرت، د مشرۍ او سمبالنې ډول دی. ان د رسول الله تر مرګ روسته هم د آنحضرت د ژوند تاریخ؛ یعنې سیرت یې، چې په تاریخ کې رانقل شوی نو خپله دا تاریخي سیرت هم د اسلام په پرمختګ کې ستر لامل دی.

((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ)) خدای، رسول الله (ص) ته وايي: د الهي رحمت په برکت نرم او د الهي پېرزوينو په رڼا کې د مسلمانانو پر وړاندې نرم خوی لرې، نرمښت لرې، داسې روحيه دې ده، چې تل له مسلمانانو سره لويه سينه او ورسره غوره چلن کوې. ((وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ)) که دا خوی دې نه و او توند خويه وې؛ نو مسلمانان درځنې خورېدل؛ يعنې د مسلمانانو په راماتېدنه کې دې اخلاق يو لامل دی.

دا ښيي، چې مشر، مدير او هغه چې خلک اسلام ته رابلي، يو شرط يې دادی، چې په وګړيزو اخلاقو کې نرم وي. دلته بايد لږه څرګندونه وکړم، چې په ذهنونو کې راټوکېدلې پوښتنې وځوابوي.

## په وګړيزو چارو کې نرموالی او په آريزو چارو کې سختوالی

داچې وايو، رسول الله نرم خويه و او يو مشر دې نرم خويه وي، موخه يې داده، چې آنحضرت په وګړيزو چارو کې نرم خويه و نه په آريزو او ټوليزو چارو کې؛ يعنې په اصولي او ټوليزو مسايلو کې يې سختوالی درلود او نرم نه و. يو وخت به چا له پېغمبراکرم سره ناوړه چلن کاوه، د ساري په ډول: رسول الله ته يې سپکې سپورې ويلې، دې مسلې پخپله په رسول الله (ص)



پورې اړه درلوده. يو وخت به چا د اسلام قانون تر پښو لاندې کاوه، د ساري په ډول: غلا يې کوله. داچې وايو، رسول الله (ص) نرم خويه و نو له دې موخه څه ده؟؛ يعنې که چا شراب څښل؛ نو آنحضرت ويل، چې مهمه نه ده، په کوړو يې مه وهئ، سزا مه ورکوئ؟ دا اوس په پېغمبر پورې اړه نه لري او د اسلام په قانون پورې اړه لري. که چا غلا کولای نو آنحضرت به ويل، چې مهمه نه ده او اړينه نه ده، چې سزا ورکړه شي؟

نه! آنحضرت په وګړيزو او شخصي مسايلو کې نرم چلن درلود؛ خو په ټولنيزو مسوليتونو او ژمنو کې يې تر روستي بريده سختوالی درلود. د ساري په ډول: يو کس راغی او په کوڅه کې د آنحضرت مخې ته ودرېد، چې ته مې پوروړی يې او همدا اوس مې پور راکړه. آنحضرت وويل: لومړی خو زه ستا پوروړی نه يم او بيځايه ادعا کوې او دويم داچې اوس پيسې نه لرم، اجازه راکړه، چې ولاړ شم. کس وويل: قدم به هم راځخه هاخوا وانخلې (رسول الله غوښتل په لمانځه کې ګډون وکړي)همدا اوس مې پيسې راکړه. رسول الله، چې ځومره نرمېده دا سړی لا سختېده، ان داچې د رسول الله (ص) ګرېوان ته يې لاس واچوه او د رسول الله چپنه يې د هغه له اورمېږه تاوه کړه او

راکشوي يې، چې د آنحضرت ورمېږ سور تغمه شو. مسلمانانو وويل، چې رسول الله ولې ناوخته کړ، ويې ليدل، چې يو يهودی داسې ادعا لري. مسلمانانو غوښت دا يهودی ووهي خو آنحضرت وويل، نه! کار ورسره مه لرئ، زه پوهېږم، چې له دې انډيوال سره مې څه وکړم. آنحضرت دومره نرموالی وښود، چې همدې يهودي په همدې ځای کې له مخې سره کلمه تېره کړه ((اشهد ان لا اله الا الله و اشهد انک رسول الله (ص))) ورته يې وويل، ته له دې دومره ځواک سره سره دومره زغم لرې، دا زغم د يو عادي کس زغم نه دی؛ بلکې پېغمبري زغم دی.

ظاهراً د مکې په سوبه کې د قريشو يوې شتمنې ښځې غلا کړې ده، د اسلام د قانون حکم دی، لاس دې يې پرې شي، چې دا پېښه ځرگنده او جوته شوه او ښځې منښته وکړه، چې غلا مې کړې، په اړه يې بايد حکم پلی شي. دلته سپارښتنې او منځگړتوبونه پيل شول، يو وويل: رسول الله (ص)! که شونې وي؛ نو له سزا يې تېر شئ، د پلانې مېرمن ده، پوهېږې څومره دروند کس دی او يوه کورنۍ بې پته کېږي. پلار، رور او نور راغلل، چې يوه درنه کورنۍ بې پته کېږي، څومره يې، چې ورته وويل خو رسول الله وويل: ((ناشونې ده، وايې د اسلام قانون وځنډوم؟! که همدا مېرمن بې څوکه وه او له شتمنې کورنۍ ځنې نه وه، تاسې ټولو به ويل، هو غله ده او سزا دې ورکړه شي، يو بېوزلی، چې د بېوزلۍ له لامله غلا کوي، ورته دې سزا ورکړه شي او دا ښځه، چې د قريشو له شتمنې کورنۍ ځنې ده او په وينا مو يوه شتمنه کورنۍ بې پته کېږي؛ نو سزا دې ور نه کړه شي؟ د خدای قانون ځنډېدای نشي.)) آنحضرت په دې اړه هېڅ ډول سپارښت او منځگړتوب ونه مانه.

نو رسول الله په اصولي مسايلو کې کله هم نرموالی ونښود، حال دا په وگړيزو مسايلو کې په فوق العاده ډول نرم او لوراند و او فوق العاده ښښنه يې درلوده؛ نو دا دې يو له بل سره گډ نشي.

خدای د آنحضرت په هکله وايي: ((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ- خلکو ته د الهي رحمت (په برکت) نرم (او لوراند) شوی يې او که توند خويه او سخت زړی وې؛ نوخلك درځنې خورېدل))

نرموالی، ورکماني او راماتونه هغه طريقه، لار، سبک او سول دی، چې اسلام يې په مشرۍ او سمبالنه- مديريت کې خوښوي، نه داچې بدبوړی او سخت وسې.

قرآن وايي: ((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ)) د الهي پېرزوينې له مخې، له مسلمانانو سره دې شخصي او وگړيز چلن نرم دی؛ ځکه دې مسلمانان رامات کړي دي او که توند خويه او د سخت زړه

خاوند وي؛ نو مسلمانان به درڅخه خپاره شوي ول. ((فَاعْفُ عَنْهُمْ)) له هغوی تېر شه (ښښنه خپله نرمي ده). ((وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ)) او ښښنه ورته وکړه، تېروتنه کوي او درته راځي، ورته دعا وکړه.

رسول الله له مسلمانانو سره څه هېښنده نرم اخلاق درلودل. مسلمانان له آنحضرت سره خورا مينه لري او پرې مين دي. د يوې ښځې زوی وشو، په منډه يې آنحضرت ته راوست، چې په غوږ کې ورته اذان وکړي. د بلې زوی يو کلن شو او آنحضرت ته يې راوست او و يې ويل: رسول الله (ص)! زړه مې غواړي دا زوی مې پخپل زنګون کېنوې او ورته وګورې، چې مبارک شي، يا مې زوی ته دعا وکړې. رسول الله ورته ويل: ښه. د سني او شيعه په روايتونو کې راغلي، چې يو ماشوم ان د رسول الله په غېږ کې تشې متيازې وکړې، مورو پلار يې ورمنډې کړې، چې راوايېخلي خو آنحضرت وويل: ((پرېږدئ، چې متيازې وکړي، داسې څه مه کوئ، چې ماشوم خپلې متيازې کول ودروي؛ ځکه د رنځ لامل ګرځي.)) (او دا هغه مسله ده، چې په طب او ارواپوهنه کې ثابته شوې، چې دا کار تېروتنه ده. مورو پلار کله نا کله ماشوم په يو ځای کې کېنوي، چې تشې متيازې کوي، مورو پلار، چې دا حالت ويني نو غوسه کېږي او ماشوم رنځورېږي، چې د عمر تر پايه ورسره وي؛ ځکه د پرېشانۍ حالت پيدا کوي. د ماشوم له نظره متيازې کول يو طبيعي چار دی، چې بيا د مورو پلار له سخت غبرګون سره مخېږي. طبيعت وايي، متيازې وکړه او مورو پلار وايي مه يې کړه؛ نو په پايله کې ماشوم ارواييي پريشاني پيدا کوي.) رسول الله دومره نرم و.

### سلامشوره

((وشاورهم فی الامر)). دا هم د آنحضرت له نرمو اخلاقو څنې و. قرآن وايي: پېغمبره! په چارو کې ورسره سلا مشوره کوه.

هېښنده ده! هغه خو پېغمبر دی، سلا مشورې ته اړتيا نه لري. هغه مشر سلامشوره کوي، چې ورته اړتيا ولري. داچې د دې آر ستړه يې نه وي ايښې، چې روسته که هر څوک واکمن او شو، ووايي: زه تر نورو پورته يم او يوازې حکم وکړي او نور پرې عمل وکړي او سلامشوره څه مانا نه لري؛ نو رسول الله سلامشوره کوله. که څه سلا مشورې ته يې اړتيا نه درلوده؛ خو آنحضرت به سلامشورې کولې؛ ځکه چې نور يې زده کړي او دويم داچې سلامشوره کول، خپلو هملارو او لارويانو ته شخصيت ورکول دي. هغه مشر، چې په يوازې ځان سلا مشوره کوي، ان که سل په سلو کې يقين هم ولري؛ نو لاروي به يې

څه فکر کوي؟ وايي به: جوتېږي، چې موږ د حکم اوزار يو، بې روحه او بې ساه اوزار خو چې کله دې له ځان سره په سلامشوره کې ګډ کړل؛ نو دوی به وګړه ننګېږي او په پايله کې به ښه لاروي کوي. ((وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ)) پېغمبره! تر هوډ کولو مخکې مشوره کوه او مشر، چې هوډ وکړ، هوډ يې بايد غوڅ وي. تر هوډ روسته يو وايي، که داسې وکړو؛ نو څنګه به وي؟بل وايي: که هغسې وکړو؛ نو څنګه به وي؟ بايد وويل شي: نه! هوډ مو وکړ او کار پای ته ورسېد. تر هوډ مخکې سلامشوره او تر هوډ روسته غوڅوالی. داچې هوډ دې وکړ؛ نو پر خدای توکل وکړه اوکار دې پيل کړه او له خدايه هم مرسته وغواړه.

دا وينه مې، چې وکړه، د بلنې او تبليغ په اړه وه، چې د بلنې او تبليغ له آرونو يو يې نرموالی او له هر راز ځيګوالي، زور او کرکې ډډه ده. د مشرۍ او سمبالنې مسله په نبوي سيرت کې خپلواکه مسله ده، چې په دې وينه به بيا رڼا واچو.

### له توحيد څخه دفاع

اسلام د تورې دين دی؛ خو که د مسلمانانو ځان، مال، ځمکه او يا توحيد په خطر کې وي؛ نو توره ترې تل دفاع ته چمتو ده.

علامه طباطبايي د الميزان په تفسير کې د بقرې سورت د قتال په آيت کې او هم په ((لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ[1]= کې آيت په دې اړه اوچته وينه کړې ده.

هو! اسلام يو مطلب يوازې د بشريت ګڼي او هغه داچې په کوم ځای کې، چې توحيد ته ګواښ وي؛ نو اسلام توحيد ژغورنې ته هڅه کوي؛ ځکه توحيد تر ټولو درونډ انساني حقيقت دی. هغوی چې د آزادۍ په هکله وينه کوي، نه پوهېږي توحيد لږ تر لږه د آزادۍ په بريد کې دی، چې په غوڅ ډول ترې پورته هم دی. که څوک له ځانه دفاع وکړي، دا دفاع سمه مني که غلطه؟که ځان مو وګواښل شي؛ نو وايئ، څه چې کوي، و دې يې کړي، زه دې زور و نه کاروم، پرېږده، چې مړ مې کړي؟ نه! وايو، که د چا په ناموس يرغل وشو؛ نو بايد دفاع ترې وکړي، که د چا په خاوره تېری وشو، دفاع ترې بايد وکړي. تردې ځايه څوک وينه نه لري. وايو: که د مظلومو پر ځان، مال او خاوره تېری وشي؛ نو له مظلومه په دفاع کې د درېيمګړي ګډون سم چار دی که نه؟ دا کار نه يوازې سم دی؛ بلکې ترې پورته هم دی؛ ځکه انسان که له خپلې آزادۍ دفاع وکړي، له ځانه يې دفاع کړې ده او که د بل له آزادۍ دفاع

[1] (بقره/۲۵۶)

وکړي؛ نو له هغې آزادۍ يې دفاع کړې، چې ډېره سپېڅلې ده. که څوک د علم په دفاع کې وجنګېږي؛ نو څنګه ده؟ که د سولې ژغورنې ته وجنګېږي؛ نو څنګه ده؟ نو دا هم همدا شان ده.

توحيد هغه حقيقت دی، چې زما او ستا نه؛ بلکې د بشريت دی. توحيد د انسان د فطرت يوه برخه ده او کله هم بشری فکر هغه د توحيد پر ضد نه راپاڅوي؛ بلکې بل عامل پکې ښکېل دی خو که په کوم ځای کې توحيد تر ګواښ لاندې راشي؛ نو اسلام يې ژغورنې ته راپورته کېږي؛ خو دا په دې مانا نه ده، چې توحيد په زوره د خلکو زړونو ته ننباسي؛ بلکې اسلام هغه عوامل له منځه وړي، چې د توحيد د منځه وړنې لاملېږي. دا عوامل، چې له منځه ولاړل، د انسان فطرت د توحيد لوري ته راماتېږي. د ساري په ډول: تقليدونه، هڅونې، بوتخانې او نور څيزونه بايد له منځه ولاړ شي، چې شتون يې ددې لاملېږي، چې انسان اصلاً د توحيد په هکله فکر و نه کړي، چې د خلکو فکر آزاد شي او د قرآن په تعبير، چې د حضرت ابراهيم په هکله وايي:

پر هغه ورځ چې خلک له ښاره ووتل او ښار تش شو او په بوتخانو کې هم څوک نه ول؛ نو ابراهيم عليه السلام هم ټول بوتان مات کړل او تبر يې د لوی بوت په غاړه کې راځوړند کړ. د شپې، چې خلک راستانه شول، و يې ليدل، چې ټول بوتان مات دي او يوازې غټ بوت پاتې دی، چې تبر يې پر غاړه دی. په ظاهر خو داسې ښکاري، چې دا لوی بوت راغلی او دا نور ټول بوتان يې مات کړي؛ خو د بشر فطرت يې نه مني. دا کار چا کړی؟[ قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ[1]-(ځينو) وويل: ((موږ له يوه زلمي د بوتانو (د مخالفت په اړه) خبره اورېدلې وه، چې ابراهيم يې بولي.))] په حضرت ابراهيم پسې ځي. [ قَالُوا أَأَنتَ فَعَلْتَ هَذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ[2]-(ابراهيم يې چې راووست نو) ويې ويل: ((ابراهيمه! تا زموږ له خدايانو سره دا کار کړی دی ؟))] [قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِن كَانُوا يَنطِقُونَ[3]=(ابراهيم) وويل: ((بلکې دا کار به دې لوی بوت کړی وي؛ نوکه خبرې کړای شي، پوښتنه ترې وکړئ.)) دوی وويل: هغه خبرې نشي کړای. حضرت ابراهيم ورته وويل، که خبرې نشي کړای نو ولې يې نمانځئ؟! قرآن وايي: [فَرَجَعُوا إِلَى أَنفُسِهِمْ[4]=او(هغو ددې خبرې په اورېدو) خپل وجدان ته راوګرځېدل ]

[1] (انبياء/٦٠)
[2] (انبياء/٦٢)
[3] (انبياء/١٦٣)
[4] (انبياء/١٦٤)

## د ګروهې آزادي

هغوی چې د ګروهې د آزادۍ په پلمه بوتخانو ته ورننوځي او يوه خبره هم نه کوي(په واقع کې د اسارت درناوی کوي) د انګلستان ملکه هندوستان ته ولاړه، که څه خپله هندوان د "مندر" په وره کې څپلۍ باسي خو دې ملکې د هندوانو د ګروهې درناوی ته خپلې څپلۍ، ان په کوڅه وښکلې، چې خلکو ته وښيي څومره د خلکو د ګروهې درناوی کوي!

دا ګروهه خو څه انسان ته فکر نه ورکوي!

دا ګروهه انعقاد- تړنه ده، تقليد دی؛ يعنې هغه زنځير دی، چې وهم د بشر پښې او لاسونه پرې تړلي دي. بشر په داسې ګروهو کې آزاد پرووښول، په دې مانا دي، هغه اوهامي زنځيرونه، چې خپله بشر، خپلو پښو او لاسونو ته اچولي نو په همدې حالت کې يې بايد پرېږدو. دا د اسارت درناوی دی، نه د آزادۍ.

د آزادۍ درناوی دا دی، چې له دې ګروهو سره مبارزه وشي، چې فکر نه؛ بلکې ګروهه ده؛ يعنې تشه تړنه ده. ګروهه ممکن له آندنې راټوکېدلې وي يا هم له تقليد او تقنينه او يا هم له زرګونو نورو څيزونو. هغه ګروهې، چې له عقل او فکره نه وي راټوکېدلې نو يوازې روحي انعقاد- تړنه ده؛ يعنې اراوايي، زنځير او تړاو دی.

اسلام کله هم اجازه نه ورکوي زنځير د بشر پښو او لاسونو ته پروت وي، که څه دا زنځير بشر پخپلو لاسونو ځان ته جوړ کړی وي.

نو په عمومي مانا د عقېدې د آزادۍ مسله يو مطلب دی او د فکر آزادي او د ايمان آزادي بل مطلب دی، په دې مانا، چې هر څوک دې خپل ايمان د پلټنې او فکر له لارې لاس ته راوړي. قرآن له دې سره په جګړه کې دی، چې د ټولنيزو او انديزو- فکري آزاديو په لار کې شته خنډونه له منځه يوسي.

پوښتې: ولې مسلمانانو پر پلانې هېواد يرغل وکړ؟

ځواب: دې ته نه ول تللي، چې ووايي ټول مسلمانان شئ. ظالمو حکومتونو د خلکو پښې او لاسونه په زنځيرونو تړلي وو، مسلمانان له حکومتونو سره وجنګېدل او ملتونه يې آزاد کړل. دوی دا دواړه سره غلطوي. مسلمانان که له ايران او روم سره وجنګېدل؛ نو له هغو زورمټو حکومتونو سره وجنګېدل او ملتونه يې آزاد کړل؛ ځکه خلک پخپله خوښه او خوشحالۍ مسلمانان شول. ولې تاريخ وايي، چې د مسلمانانو لښکرې به رانووتې نو خلکو به يې په ګلونو هر کلی کاوه؟؛ ځکه دوی يې د ژغورنې پرښتې ګڼلې. ځينې خلک دا يو له بل سره غلطوي او وايي: هېښنده ده! مسلمانانو پر ايران بريد وکړ. تر بريد روسته

به خلکو ته تلل او ورته يې ويل، چې بايد اسلام راوړئ.
دوی له خلکو سره کار نه درلود او کار يې يوازې له زورمتو حکومتونو سره و. بيا يې د خلکو د ايمانونو دروازې آزادې پرېښوولې او ورته يې وويل: که مسلمانان شوئ نو کټ مټ زموږ په شان به ياست او که مسلمانان نه شوئ نو په نورو شرايطو کې به درسره تړون وتړو، چې دې شرايطو ته د"ذمّه شرايط" وايي، چې د مسلمانانو ذمّه شرايط فوق العاده اسان او ساده ول.
نو خپله د ايمان په هکله(نه د ايمان د انديز- فکري او ټولنيزو خنډونو په هکله، چې بېل حساب لري) د گټې رسونې، نرمۍ، له تاوتريخوالي او زوره ډډه کول د اسلامي بلنې له آرونو څخه دي.
((لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ[1]= د دين په منلو کې زور او اړ ايستل نشته (ځکه) سمه له کږې لارې روښانه او بېله شوې ده؛ نو ځکه څوك چې پر طاغوت [ =بوت، شيطان او هر سرغړاند] کافر شي او پر الله ايمان راوړي نو هغه داسې ټينگه کړۍ ونيوه.))
د قرآن لنډ سول دادی، چې د دين په چار کې زور نشته؛ ځکه حقيقت روښانه دی، د لارښوونې او ودې لار هم روښانه ده، بې لارې هم روښانه ده، څوک چې غواړي دا لار غوره کړي، که هغه بله.
ددې آيت په شان نزول کې يې، چې يو بل سره نږدې دي او ټول کړای شي په ان واحد کې سم وي. "بني نضير"، چې د مسلمانانو هم ژمني ول خيانت يې، چې وکړ، رسول الله حکم ورکړ، چې له دې سيمې دې ووځي. د مسلمانانو ځينې اولاد پکې ول، چې يهودان ول. يهودان ولې؟(د اسلام تر را تلو مخکې) يهودانو تر عربو لوړ کلتور درلود. د حجاز خلک فوق العاده نالوستي او بې خبره ول. يهودان کتابي او لوستي وو او ډېر معلومات يې درلودل؛ نو خپل فکر يې پر عربانو تپه. ان داچې بوتلمانځو هم په دوی گروهه درلوده. حضرت ابن عباس (رض) وايي: د مدينې په ښځو کې به داسې پېښېدل، چې بچې يې نه کېدل؛ نو نذر يې کاوه، که بچې يې وشي، يهودانو ته به يې واستوي، چې يهودي شي. پردې گروهن ول، چې د يهودانو دين زموږ تر بوتلمانځنې اوچت دی. کله به يې خپل تی خور ماشوم، شېدو ورکونې ته يهودانو ته لېږه. دا نذر کړای شوي بچې به يهودېدل او يهودانو ته به تلل او هغو ماشومانو ته يې، چې شېدې ورکولې، دوی هم د يهودانو په خوی

---

[1] (بقره/٢٥٦)

کېدل، رضاعي مور، رور، خور يې موندل او ورسره بلدېدل او ځينې به يې يهودان شول.

په هر حال ځينې داسې يهودي ماشومان هم پکې ول، چې موروپلار يې انصار او د "اوس" او "خزرج" ول، چې هوکړه په دې راغله، چې "بني النضير" دې ولاړ شي؛ نو مسلمانانو وويل: مورږ به يې پرېنږدو، چې اولاد مو له ځان سره بوځي او يهودان پاتې شي؛ خو خپله ځينو اولادونو وويل: غواړو له خپلو هم دينو سره ولاړ شو. رسول الله (ص) ته راغلل، و يې ويل: رسول الله (ص)! مورږ نه پرېږدو، چې زامن مو ورسره ولاړ شي. (آيت ظاهراً هلته نازل شوی) آنحضرت وويل: ((د زور خبره نه ده، که د اولادونو زړونه مو غواړي نو اسلام دې راوړي که نه غواړي، خپله خوښه يې ده، چې ځي ولاړ دې شي، دين په زور نه دی. (لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ)؛ ځکه د ايمان طبيعت کله هم زور او تاوتريخوالی نه مني.

فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ. لَسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ. إِلَّا مَن تَوَلَّى وَكَفَرَ. فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ[1]= نو نصيحت کوه، چې په واقع کې ته يوازې نصيحت کوونکی يې. ته پر هغوی زرور نه يې (چې ايمان راوړ ته يې اړ باسې)؛ خو که چا مخ واړاوه اوکافر شو؛ نو الله به په ډېر ستر عذاب سزا ورکړي.))

پېغمبره! خلکو ته يادونه- تذکر وکړه، خلک د غفلت له خوبه راويښ کړه، خلکو ته ويښتيا ورکړه، خلکو ته اګاهي ورکړه، خلک په ويښتيا او اګاهی دين ته راوبوله (إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ)، ته بې له نصيحت کونې بل مقام نه لرې، زرور نه يې؛ يعنې خدای داسې نه يې رالېږلی، چې په زوره دا کار وکړې(إِلَّا مَن تَوَلَّى وَكَفَرَ) ايا (إِلَّا مَن تَوَلَّى وَكَفَرَ) له (لَسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ) څخه يا له (فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ)استثنا دی؟ په الميزان تفسير کې وايي او دليل يادوي، چې له (فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ) څخه استثنا دی. تذکر ورکړه (إِلَّا مَن تَوَلَّى وَكَفَرَ) خو هغو وګړيو ته چې تا ورته يادونه ورکړې ده. په دې، چې تا ورته يادونه ورکړې ده؛ نو دوی ترې مخ واړوه، اوس تر يادونې روسته تذکر ګټه نه لري. (فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ) خدای به ورته ډېر ستر عذاب ورکړي.

---

[1] (غاشيه ٢١-٢٤)

## د رسول الله ژوند لیک او د آنحضرت وینايیزه شننه

((لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَاعَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَحِيمٌ[1]=په رښتيا پخپله له همدا تاسې درته يو استازی راغلی، چې ستاسې ځورونې پرې سختې پرېوځي (او) ستاسې پر لارښوونې ټينګارکوي، پر مؤمنانو خواخوږی (او) زړه سواندی دی.))

## د نبي مکرم (ص) د روزنيز پېغام عقلاني، اخلاقي او قانوني اړخونه

د مکرم نبي (ص) د بعثت په باب، چې زموږ قاصرو ژبو او لنډو ذهنونو خورا زيات مطالب ويلي دي- او ټولو ويلي دي- په واقع کې يوه ستره عرصه ده، چې په نږدېيو کې يې د دې سترې پېښې بيانول شوني نه وي. څومره چې وخت مخې ته ځي او بشر په بېلابېلو تجربو، د خپل ژوند نواقص، ډېر درک کوي؛ نو د نبي مکرم بعثت به خپل ډېری اړخونه راڅرګندوي. په واقع کې دا بعثت، عقلاني روزنې، اخلاقي روزنې او قانوني روزنې د خلکو رابلل وو. دا هغه څېزونه دي، چې د انسان هوسا او مخ په تکامل ژوند ورته اړتيا لري.

لومړی ټوک

په لومړۍ درجه کې عقلاني روزنه ده؛ يعنې د انسان د عقلاني ځواک رابرسېره کول، هغه د انسان پر کړنو حکم کوونکی ټاکل، د انسان لاسونو ته د انسان د عقلاني مشال ورسپارل، چې په دې مشال لار تشخيص کړي او پر لار د تګ وسه ورکړي؛ دا لومړۍ مسله ده او تر ټولو خورا مهمه هم همدا ده. سربېره پردې چې د رسول الله په بعثت کې په لومړۍ درجه کې، د عقل مسله مطرح شوې، د پوهې مسله مطرح شوې، په ټول قرآن او د رسول الله په غيرقرآني ښوونو کې هم، چې تاسې څومره ووينئ، پر عقل، تامل، تدبر، تفکر او دې په ورته تعبيراتو اډانه شوې ده. ان د قيامت پر ورځ د مجرمانو له خولې قرآن وايي: ((لو کنا نسمع او نعقل ما کنا فی اصحاب السعير[2])) داچې موږ د دوزخ پر اور ککړ شوو، لامل يې دا و، چې د خپل عقل مو وا نه ورېده او زړه مو پرې و نه تړه؛ نو نن چې د قيامت ورځ ده، په دې تلپاتې تريخ برخليک اخته شوو.

د ټولو پېغمبرانو (ع) په کړنليک، د ټولو پېغمبرانو په ژوند- دا په خاتم پېغمبر پورې ځانګړی نه دی- عقل ته رابلنه په لومړۍ درجه کې دی؛ البته دا په اسلام کې خورا پياوړی، خورا روڼ او خورا څرګند دی؛ نو اميرالمؤمنين عليه الصلاة و السلام د انبياوو

[1] (توبه/۱۲۸)

[2]. د ملک سورت، لسم آيت.

د بعثت د لامل په باب وايي: ((ليستادوهم ميثاق فطرته)) ترديې چې وايي: ((ويثيروا لهم دفائن العقول[1])) د عقل زېرمې را برسېره کړي. دا د عقل زېرمې زموږ او ستاسې په زړونو کې دي. زموږ او ستاسې د چار نيمګړتيا په دې کې دی، چې د هغه تن په څېر يو، چې پر زېرمه ويده دی؛ خو خبر ترې نه دی او ګټنه ترې نه کوي او له لوږې مړ شي. زموږ حالات داسې دي. وخت په وخت عقل ته مراجعه نه کوو، عقل خپل ځان ته حکم کوونکی نه ټاکو، وخت په وخت په عقل روزنه نه کوو، د نفس واګې وخت په وخت عقل ته نه ورسپارو، دا زموږ حالات دي.

دا زېرمه زموږ په واک کې ده؛ خو ګټنه ترې نه کوو او هغه مهال په دنيا او آخرت کې د بې عقلۍ، جهل او د هغوی له عوارضو له لامله په خورا ستونزو ککړېږي؛ نو د اسلام مکرم نبي صلی الله عليه و آله وسلم په يوه حديث کې وايي: ((ان العقل عقال من الجهل[2])) عقل د جهل عقال دی. عقال هغه پړی دی، چې د څاروي پښې پرې تړي، چې حرکت و نه کړي او د قابو کولو وړ وي. وايي: عقل د جهل عقال دی. دا هغه د پښو تړونکی دی، چې لاملېږي انسان له جهالت سره حرکت و نه کړي. بيا وايي: ((و النفس کمثل اخبث الدواب[3])) نفس د خورا شرورو څارويو په څېر دی؛ نفس دادی. ((فان لم تعقل حارث)) چې کله مو دا عقل عقال نه کړ، قابوکوونکی مو نه کړ، سمبالنه مو يې په لاس کې وا نه خسته، سرګردانه به شئ، د هغه وحشي څاروي، چې نه پوهېږي، چې چېرې روان دی، سرګردانېږي؛ له همدې سرګردانۍ سره دي، چې انسان ته په وګړيز ژوند او ټولنيز ژوند د خپل ځان او انساني ټولنې ته ستونزې رامنځ کېږي. عقل دادی. د پېغمبر مکرم (ص) لومړی کار د عقل اثاره ده، د تفکر د ځواک راپارول دي؛ په يوه ټولنه کې د تفکر پياوړي کول دي. دا د ستونزو هوارونکی دی. عقل دی، چې انسان ته د دين لارښود دی، انسان دين ته راکاږي. عقل دی، چې انسان د خدای عبوديت ته اړباسي. عقل دی، چې انسان له سفيهانه، پر ناپوهيو ککړو چارو او د دنيا پر بازار زړه نه تړلو ژغوري. عقل دادی. نو لومړی کار دادی، چې په ټولنه کې عقل پياوړی شي او زموږ دنده هم داده.

موږ هم چې نن غواړو، چې اسلامي ټولنه د پېغمبر مکرم (ص) د اسلامي ټولنې يوه بېلګه شي، له ټولو کمزوريو، له ټولو لنډونونو سره چې په موږ کې دي، د رسول

[1]. نهج البلاغه، لومړی خطبه.
[2].تحف العقول، ۱۵ مخ.
[3]. تحف العقول، ۱۵ مخ.

الله د عظمت پر وړاندې داسې حرکت کوو، داسې مو وغوښتل، چې د هغه یوه بېلګه جوړه کړو. په دې ټولنه کې هم باید معیار عقل وي.

دویمه روزنه، اخلاقي روزنه ده، چې: ((بعثت لاتمم مکارم الاخلاق[1])) اخلاقي مکرمتونه او اخلاقي فضیلتونه په خلکو کې بشپړ کړي. اخلاق هغه لطیفه هوا ده، چې که په هره ټولنه کې وي، انسانان کولای شي، په تنفس کولو یې روغ ژوند ولري. اخلاق چې نه ول او بې اخلاقي چې واکمنه شوه؛ نو حرصونه، کنجوسی، د ځاني غوښتنو پر بنسټ چلنونه، ناپوهی، دنیاغواړي، وګړیزې کینې او اخلاقي رذایل رامنځ ته کېږي.- ژوند به ستونزمن شي؛ تنګسه به شي او له انسانه به د سم تنفس وس واخستل شي؛ نو په قرآن کریم کې په څو ځایونو کې ((یزکیهم و یعلمهم الکتاب و الحکمة))- تزکیه، چې هماغه اخلاقي ودې ورکونې ته وایي، تر تعلیمه مخکې راغلی دی. په همدې روایت کې هم چې د عقل په باب مو له رسول الله نه رانقل کړ- بیا چې عقل بیانوي- وایي، چې بیا هغه مهال له عقل نه حلم رامنځ ته شو. له حلم نه علم رامنځ ته شو. ددې مسلو ترتیب ته دې انسان توجه وکړي: عقل لومړی حلم رامنځ ته کړ؛ پراخه سینه او زغم یې رامنځ ته کړ، پراخه سینه او زغم، چې وي؛ نو د علم زده کړې او د خپلو- وګړي او ټولنې- معلوماتو ډېرولوو ته زمینه چمتو کېږي؛ یعنې علم د حلم تر پړاو روسته دی. حلم، اخلاق دی. د قرآن په آیت کې هم ((یزکیهم و یعلمهم الکتاب و الحکمة)) تزکیه یې مخکې راوړې ده. دا اخلاقي روزنه ده. نن موږ دې اخلاقي روزنې ته خورا اړتیا لرو.

بیا په هغه قانوني روزنې پسې دی. قانوني انضباط. د اسلام پر ټولو احکامو لومړی عامل په خپله د اسلام مکرم نبي و. له ام المؤمنین عایشې بي بي رانقل شوي دي، چې د رسول الله په باب پوښتنه وشوه- د رسول الله د اخلاقو او کړنو په باب- ورته یې وویل: ((کان خلقه القرآن))؛ د هغه اخلاق، چلن او ژوند د قرآن انځور و؛ یعنې داسې څه نه ول، چې په خپله به یې د هغه امر کړی وي او په خپله به یې نه وي ترسره کړی. دا ټولې زموږ لپاره زده کړې دي. دا ټولې زده کړې دي. نه داچې وغواړو، چې هغه ستریا د ځان له سپکو سره په پرتله کړو؛ هغه سوکه ده او موږ لمنې یو، موږ په لمنو کې حرکت کوو؛ خو د سوکې پر لور ورروان یو. کچه او معیار هلته دی.

رسول الله په خپله عالم و؛ ((آمن الرسول بما انزل الیه من ربه[2])) او مؤمنین هم په

[1]. بحارالانوار، ٦٨ ټوک، ٣٨٢ مخ.

[2]. د بقره سورت، ٢٨٥ آیت.

پېغمبر پسې ول. هغه عامل دی، خلک هم د هغه عمل ته ګوري، لاره پیدا کوي او د ټولنې د مشرانو او مخورو ونډه داده. یوازې په خبره باید اکتفا و نه کړو.

مبعث یوازې یو جشن نه دی، چې و یې لمانځو، چکچکې ووهو، خواږه وخورو او خپاره یې کړو او خوشحالي وکړو؛ دا نه دی. مبعث یوه مقطع ده؛ یو اختر دی. اختر؛ یعنې هغه مقطع، چې انسان یو حقیقت ته ورمتوجه کوي. یو اختر دی. موږ مبعث ته ګورو، رسول الله ته ګورو، هغو سترو هڅو او مجاهدتونو ته ګورو او بیا سترو اغېزو ته ګورو؛ لس کاله – د یوه ولس په ژوند کې لس کاله د سترګو د رپ هومره وي- په دې لس کاله کې د ستر انسان، دې عظیم العظماء څه وکړل! چېرې به هغه لس کاله، چې رسول الله پکې حکومت وکړ، له لسو کالو سره په پرتله شي! څه حرکت یې په بشر کې رامنځ ته کړ؛ څه توپان یې راولاړ کړ او د دې توپان ورهاخوا یې څومره ارام کڅ بشر ته وروښود او څنګه لار یې ور وښووله! درې شپېته کاله یې هم عمر وکړ. موږ اوس غواړو له دې اوږدو عمرونو سره، د ماشومتوب په دې حرکت پر هغه لار- تر کومه چې شونې وي- مخې ته ولاړ شو. چې کله هغسې حرکت له هومره اخلاص سره،له هومره هڅو سره له هغه رباني هدایت سره ترسره کېږي؛ نو پایله هغه څه کېږي، چې د رسول الله په لس کاله حکومت کې ترسره شول او هغه ستریا یې رامنځ ته کړه.

یادونه:

د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وآله وسلم پر سیرت، کړنلارو، کړلارو او کړچارو د ښه پوهېدو لپاره، په کار ده، پر هغو شرایطو هم ځان پوه کړو، چې آنحضرت پکې مبعوث شوی و، چې د وینې دوام مو همدې چار ته ځانګړی کړی دی.

## تر اسلام وړاندې د عربي ټولنې حالت

**له اسلام وړاندې د عربي ټولنې د حالت څېړنې ته د درېيو چارو څېړنه لازمه ده.**
۱- د عربو اصل او نژاد (آر او خېل)
۲- له اسلام وړاندې د عربو ديني، فرهنګي او ټولنوټيزه (اقتصادي او اجتماعي) وضع.
۳- د نبي اکرم صلی الله علیه وآله وسلم تر بعثت او هجرت مخکې د مکې او مدينې وضع.

**د عربو اصل او نژاد (آر او خېل)**
وايي اعراب، د نوح عليه السلام د زوی، سام له خېله دي. ټول عربان په آر (اصل) کې د عدنان او قحطان په دوو څوځاتونو ويشل کېږي، چې شرح يې داده:
۱- د عدنان څوځات: دوی د ابراهيم عليه السلام د زوی اسماعيل عليه السلام څوځات دی، دوی په آر کې په مکه او بيا د نجد په سيمو او چې تر بعثت وړاندې په مکه کې ول، د قريشو ټبر نه و.
۲- د قحطان څوځات: دوی د يعرب بن قحطان لړی ده په آر کې مېشت ځي يې د يمن سيمې وې روسته يې لس ټبرونه شام، عراق او مدينې ته ولېږدېدل، هغوی چې مدينې ته ورغلل، د اوس او خزاج دوه ټبرونه وو[1].

**له اسلام مخکې د عربو ديني، فرهنګي او ټولنوټيز حالات**
**په جزيرة العرب کې ديني حالات:**
په عربي ټاپووزمي او چاپېريال کې يې د پالونکي له لوري د خلکو هدايت ته درې شريعته راغلي وو، چې د خاتم الانبياء صلی الله عليه وآله وسلم تر بعثت وړاندې يې لارويانو درې وانه اړولي ول.

[1] وګورئ: ابن کلبي، مختصر جمهرة انسان العرب. ابن حزم، انساب، د عربانو د اوسېدنې د ځايونو پر پوهېدو لپاره وګورئ: عمر رضا کحاله، قبايل العرب

## (۱) د ابراهيم، خليل الرحمن عليه السلام شريعت

په قرآن او نبوي حديث کې ددې شريعت د لارويانو نامې «حنيف» او جمع يې «احناف» او «حنفاء» دي، «حَنَفَ» په عربي ژبه کې حق ته له باطلو ځنې د مخ اړونې پر مانا ده[1] - او «حنيف» يعنې حق ته له باطلو ځنې مخ اړوونکی. په قرآن کې دا نامه له «مسلم» لفظ سره يو ځای راغلې ده. ((مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلاَ نَصْرَانِيًّا وَلَكِنْ كَانَ حَنِيفًا مُسْلِمًا (آل عمران/٦٧) = ابراهيم يهودي او مسيحي نه و؛ بلکې حقپال مسلمان و.))

تر ابراهيم روسته، زوی يې اسماعيل عليه السلام او وروسته يې اولاده د ابراهيم پر شريعت وو او په «حنفاء» و کې شمېرېدل. لومړي تن چې د حضرت ابراهيم شريعت يې واړو، د اسماعيل له ځوځاته «عمر و بن لحي» و. نوموړی شام ته په يوه سفر کې د «بلقاء[2]» سيمې يو ښار «قاب» ته ورسېد، دلته د عمالقه قوم بوتپالی و، عمرو ترې وپوښتل: دا څه لمانځئ؟ و يې ويل دا بوتان دي اوربښت ترې غواړو، راوروي يې، پر غليم برلاسي غواړو، لاسنيوی مو کوي!

عمر وويل: يو يې راکړئ، د «هبل» بوت يې ورکړ او مکې ته يې راووړ او و يې دراوه او خلک يې د هبل لمانځنې او درناوي ته اړ کړل او په ابراهيم دين کې يې نور نوښتونه هم راوړل[3].

تردې روسته په قريشو او د اسماعيل د ځوځات په ټبرونو کې بوتپالي خپره شوه؛ خو حال دا، دوی د تاريخ د خورا ستر بوتماتي ابراهيم اولاده وه.

په دې توګه د ابراهيم لارويانو اخر- چې د زوی يې اسماعيل له اولادې ځنې وه او مکه مېشتي ول- د هغې کعبې ګرچاپېره - چې د بشري تاريخ ستر بوتماتي، دا يکي يو الله لمانځنې ته جوړه کړې وه- د عربو مشهور ترين بوتان ودرول، ترې راچورېدل او اړتياوې يې ترې غوښتې.

له دې حالاتو سره، قريشو ځانونه د ابراهيم شريعت وارثين (پاتوړي)، د کعبې کونجي والا او د بيت الله د حاجيانو مېلمه پالي ګڼل او له همدې لامله يې ځانونه د آدم د ځوځات غوره وګړي بلل.

د عربانو نور ټبرونه هم بوتپالي وو؛ خو ډېرو لږو يې د يهودو او نصاراوو دين ته

---

[1] په عربي ژبه کې «حنف» د «جنف» پر وړاندې دی، چې مانا يې له حق څخه د باطل خوا ته مخ وراړول دي، وګورئ: مفردات الفاظ القرآن

[2] بلقاء، د شام او (مدينې ته نژدې) د وادي القرى ترمنځ يوه سيمه وه، وګورئ: په معجم البلدان کې د «بلقاء» او «ماب» شرح.

[3] وګورئ: ابن هشام، السيرة النبويه: ١ټ، ٨١- ٨٢ مخونه، د عمرو بن لحي او عبادة الاصنام قيصه.

ورمخه کړې وه او دې ټولو (بوتپالو) د بيت الله حج کاوه؛ خو د حج مراسم يې هم، څه چې ابراهيم خليل الله راوړي وو، اړولي وه.
دوی څلور مياشتې، حرامې ګڼلې او جګړې يې پکې نه کولې چې دا وې:
«ذی قعده»، «ذی حجه»، «محرم» چې په دوی کې حج ته ورتلل او راستنېدل او په «رجب» مياشت کې عمرې ته ورتلل.
په دې څلورو مياشتو کې د عربي ټاپو وزمې خلک په امن کې اوسېدل او که چا پکې د خپل پلار قاتل هم ليده، څه غبرګون يې نه ورښووه. په دې موده کې يې له سوداګرۍ هم ګټنه کوله او په خپلو بازارونو کې يې پېر پلور کاوه.
د قريشو او نورو بوتپالوعربانو دې ته هېڅ پام نه و، چې د ابراهيم حنيف شريعت اړول شوی تردې چې څلورو لاندې وګړيو يې، د بوتپالنې په يوه موسم کې دې تحريف او اړونې ته ورپام شو:
تر بعثت وړاندې څلور تنه حکيمان: ورقه بن نوفل، عبيد الله بن جحش، عثمان بن حويرث او زيد بن عمرو بن نفېل، يو بل ته يې وويل: قوم مو بېلارې شوی او زموږ د پلرونو، ابراهيم پر دين نه دي، دا ډبرې څه دي چې ترې چورلې او اړتيا ترې غواړې، سره له دې چې دوی سترګور او اورېدونکي نه دي؟! راځئ په ښارونو کې د ابراهيم حنيف د دين په لټه کې شو.
په پايله کې له دوی څنې ورقه او عثمان، مسيحيت ته ورمخه کړه، عبيدالله اسلام راووړ، بيا مرتد او مسيحي شو او زيد بن عمرو بن نفېل بوتپالي او د قريشو نوښتونه (بدعتونه) يې پرېښوول او په کعبې کې يې قريشو ته په لوړ غږ وويل: تاسې د ابراهيم پر دين نه ياست[۱].
ددې څلور تنو کار، قريشو ته يو سپيناوی او يوه روښانګري وه او د خاتم الانبياء صلى الله عليه وآله وسلم بعثت ته د دوی د ذهن چمتو کول وو.

## (۲) د حضرت موسى بن عمران عليه السلام شريعت

د موسى بن عمران شريعت که څه په پيل کې په سينا غره کې پرې ورنازل شو؛ خو مخاطب قوم يې (بني اسرائيل) بيت المقدس ته د مسافرت پر حال وو، قبله او ديني مرکز يې په شام کې بيت المقدس و.
د يهودو قوم، بني اسرائيل، چې ددې شريعت وارثين (پاتوړي) و، له نورو امتونو سره له جګړو روسته، د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم تر بعثت وړاندې ډېر

[۱] ابن هشام، السيرة النبويه: ۱ټ، ۲۴۲-۲۴۷ مخونو کې د زيد د حالاتو شرح په تفصيل کې راغلې ده

لړ یې په یمن کې ورکنومي اوسېدل او نور ډېر لړ یې د شام په ځینو ښارونو کې مېشت وو او ډېر یې په مدینه او چاپېریال کې د خیبر، وادي القری او تیما (شام ته نژدې) په سیمو کې اوسېدل.

لکه څنګه چې د ابراهیم علیه السلام شریعت اړول شوی و، د موسی علیه السلام شریعت او اسماني کتاب؛ تورات یې هم اړولی شوی و. پردې سربېره همدا اړول شوی تورات هم د یهودو له ولسونو سره نه و؛ بلکې د هارون علیه السلام له څوځاته له دیني مشرانو سره یې څه لیکنې وې او په دې توګه یې ددې لیکنې یوه برخه هم پټوله، دوی ډېر د موسی شریعت په ځینو شعارونو پابند وو؛ لکه د بیت المقدس قبله توب، د شنبې ورځې رخصتي او د هارون اولادې روحانیت. ددې دیني مشرانو په شتو لیکنو کې هغه خبرونه او زیري روغ جوړ او بې لاسوهنو پاتې و، چې پکې د بني اسرائیلو پېغمبرانو د خاتم الانبیاء صلی الله علیه وآله وسلم د بعثت په باب کړي وو او د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ځانګړنې یې هم په ګوته کړې وې؛ ځکه دې خبرونو او زېریو یې - د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم تر بعثت وړاندې- د دوی له ورځنیو مصالحو او ګټو سره څه ټکر او تضاد نه درلود؛ نوځکه مدینه مېشتي یهودي عالمانو، د خاتم پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د بعثت او په مدینه کې یې د اوسېدو په باب ډېرې خبرې اترې کولې او دا یې اوسیانو او خزرجیانو ته د عالمانه وړاندوینو په توګه ویل.

### (۳) د عیسی بن مریم علیه السلام شریعت

عیسی بن مریم تر موسی علیه السلام روسته په بیت المقدس کې مبعوث شوی و او خپله له بني اسرائیلو څخه و. اسمان ته تر عروج او ورختلو روسته یې شریعت د نورو دواړو شرایعو په څېر سخت واوړېد، تردې چې لارویان یې په درې ګونو خدایانو: پلار زوی (عیسی) او روح القدس ګروهن (معتقد) شول، د شنبې رخصتي یې پر یکشنبې واړوله... په دې توګه له مسیحیته هم بې له څو شعارونو؛ لکه قبله او د صلیب درلودل، چې ګروهن وو، مسیح یې پرې سولی کړی، څه نه و پاتې.

خو له دې سره سره هغه زېری چې تر حضرت مسیح مخکې پېغمبرانو او خپله حضرت مسیح د خاتم پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په باب کړی و، په دې پار چې د دوی له ورځنیو مصالحو او ګټو سره په ټکر کې نه و؛ نو د نصاراوو په دیني کتابونو او له عالمانو سره بې له اړونې پاتې و او په هر ځای کې د نصاراوو عالمانو د

خاتم پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د راتلو وړاندوینه کوله.
د جزیرة العرب مسیحیان، په شام کې اوسېدل او یوازې ډېر لږ یې په یمن اوعراق کې مېشت وو. د دوی د شیخانو (راهبانو) څو یې د شام او مکې پر لار پراته وو، چې کله ناکله یې له سوداګریزو کاروانونو سره تماس نیوه او د خاتم پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د بعثت خبرې یې کولې.

## د درې ګونو ادیانو د لارویانو خپلمنځې چلن

یهودو او نصاراوو یو له بل سره پخوانۍ کینه او دښمني درلوده، قرآن یې خبرې را اخلي:
((وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَى عَلَىَ شَيْءٍ وَقَالَتِ النَّصَارَى لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلَىَ شَيْءٍ وَهُمْ يَتْلُونَ الْكِتَابَ..... (بقره/۱۱۳) = او یهودیانو وویل: ((مسیحیان پر حق نه دي)) او (همداراز) مسیحیانو وویل: ((یهودیان پر حق نه دي)) حال دا، دواړه ډلې اسماني کتاب لولي.))
بوتپالو هم ځانونه پر حق ګڼل او هم یې کتابیان؛ خو د یهودو یې ډېر درناوی کاوه او دوی یې ړومبي کتابیان ګڼل.

## پر معاد او قیامت ګروهه



د نبي اکرم صلی الله علیه وآله وسلم تر بعثت وړاندې زمانه کې د یوه دین لارویانو، نه صابئي او مجوس او نه یهودو او نصاراوو، د معاد او قیامت په باب څرګنده ګروهه نه درلوده. عربي بوتپالي هم د بیا راژوندي کېدو او قیامت منکر وه؛ لکه چې قرآن یې په اړه وايي:
((إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿مومنون/۳۷﴾ = زموږ بې ددې دنیا له ژونده نور څه نشته، (همدلته یو شمېر) مرو او (یو شمېر) ژوندي کېږو او [هېڅکله] بیا را پاڅېدونکي نه یو!))
او د خدای او بوتانو چې له خدای سره یې شریک ګڼل په اړه یې ګروهه تر همدې بریده وه، چې دنیاوي اړتیاوې یې ترې غوښتې لکه یې ترې غوښتل چې دښمنان یې خوار او ذلیل کړي اوربښت ورته وورو‌ي، رنځوري یې ورغوي اوښان او مېږې یې شیدې ورکړي او...
نوځکه له ناروا او چټلو کړنو؛ لکه وژنې، لوټ، ځورونې او کنځل یې څه پروا نه کوله؛ خو څه چې په دنیاوي ژوند کې پیکه پایلې ورته درلودې؛ لکه پوهېدل که څوک ووژني؛ نو د مقتول ټبر به د قاتل د ټبر، تن ووژني نو له دې کاره یې ډډه کوله او یا کومې چارې چې د خلکو بدې ایسېدې او که په کولو یې نور خبریدل،

چې دی پرې ټپسوری او بدنامېدای شي؛ نو نه یې کولې...

## د عربو فرهنگ

په هغې زمانې کې د عربو فرهنگ دوې مهمې برخې درلودې:
۱- د انسابو علم (څوځاتپوهنه)
۲- بلیغ شعر (څرګند شعر)

**(۱) څوځاتپوهنه:**

عربو په جاهلیت پېر (عصر) کې د خپل خېل د نسب یاد ساتلو (د نیکونو د نامو د لړۍ) په چار کې دومره مبالغه کوله، چې د دویمې پېړۍ هر عربي که له عدنان څوځاته و؛ نو په خپل ګومان یې د خپلو نیکونو نامې تر اسماعیل او ابراهیم علیه السلام په یادو درلودې او که د قحطان له څوځاته و؛ نو تر یعرب بن قحطان پورې یې یادې وې.

دوی د څوځات (انساب) په یادولو کې دومره مبالغه کوله، چې د خپلو اصیلو عربي آسونو نسب (څوځات) یې هم په یادو یاداوه، چې اوس هم د هشام بن محمد بن کلبي[1] «انساب الخیل» کتاب شته؛ خو د عربانو د څوځات په باب جې

د انسابو کوم کتابونه راسره دي، په څو دلایلو شکمن دي.

کله کله د یوه ټبر ځانګه جلا کېده او په بل ټبر پورې ورنښته. په دې باب ابن کلبي د «النواقل[2]» په نامې یو کتاب لري؛ یعنې د عربي ټبرونو هغه ځانګې چې خپل نسب (څوځات) یې بل ټبر ته ورلېږلی دی. په پایله د څوځاتپوهنې په کتابونو کې دا ځانګې د ورنښتې ټبر په نامه یادې شوې دي.

پردې سربېره ډېری عربانو پردي اولادونه پر خپل اولادولۍ نیول او بیا په څوځاتپوهنې کې دا سړی خپل صلبي پلار ته نه ورمنسوبېده؛ بلکې پلار ویلي ته ورمنسوبېده.

همداراز په جاهلیت پېر کې د عربو په انسابو کې یوه بله بېلګه هم شته چې په دې کتابونو کې د ورمنسوبېدو سموالی ټکنی کوي لکه چې د یوه قیصه یې داده:

ابن ابی الحدید د زمخشري له ربیع الابرار راخستې، د عمر وعاص مور نابغه نامې په مکه کې یوه بدلمنې مینزه او د عبدالله بن جدعان ازاده کړای شوې وه، په یوه طهر (د ښځې د دوو حیضو ترمنځ د پاکۍ مودې ته طهر وايي) کې پینځو تنو کوروالی ورسره کړی و.

[1] ددې کتاب عکسي (انځوریزه) نسخه د اصول دین پوهنځي په کتابتون کې شته

[2] وګورئ: هدیه العارفین ۲ټ، ۵۰۹مخ د هاشم بن ابی النصر د حالاتو شرح

۱- ابولهب بن عبدالمطلب ۲- امیه بن خلف ۳- هشام بن مغیره
۴- ابوسفیان بن حرب ۵- عاص بن وائل.

او نابغې تردې روسته عمرو وزیږاوه او سره له دې چې ابوسفیان ته یې ورته والی درلود، د پینځو واړو پرې ادعا وه، چې زوی یې دی، په پای کې یې نابغه د عمرو مور منځګړې کړه، و یې ویل: عمرو د عاص بن وائل زوی دی، تردې روسته یې عمرو ته د عاص بن وائل زوی وایه او د ده په ټبر پورې ورمنسوب شو. د نابغې دلیل دا وه، چې عاص ورته لاس خلاصی و[1].

په پایله کې تر ننه د عربانو د ځوځاتپوهنې په کتابونو کې عمرو د عاص بن وائل زوی لیکل شوی دی.

دا ډول قیصې د قریشو په انسابو کې ډېرې دي[2] او تر قریشو روسته د ثقیف ټبر (د مکې په دولس فرسخی طایف کې) هم په دې باب داستانونه لري؛ خو ځوځاتپوهانو په مدینه کې د اوس او خزرج د ټبرونو او په یمن کې د همدان د ټبرونو او په عربي



ټاپو وزمي کې د قحطان د ټبرونو په هکله څه نه دي ویل:

په لومړي او دویمې پېړیو کې په عربانو کې ځوځات پوهانو شتون درلود، چې پردې قیصو پوهېدل او خلکو ترې یادول؛ لکه حضرت ابوبکر او حضرت عقیل بن ابی طالب، چې د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم اصحاب کرام وو.

(۲) بلیغ شعر

یعقوبي وایی[3]:

عربو، شعر د حکمت پوهنې او نورو ډېرو علومو پر ځای ګاڼه او که په کوم ټبر کې به یو تکړه شاعر و، چې په شعر کې به یې ماناوې ویلې؛ نو دا شاعر به یې خپلو بازارونو ته چې په کال کې به په ځانګړي وخت کې جوړېدل او بیت الله ته د حج په موسم کې له ځان سره بوت، چې په دې ځایونو کې راټول شوي عربان یې شعر واوري او دا کار یې ځان ته یو شرف او ویاړنه بلله.

په چارو کې یې بې له شعره څه خوند رنګ نه و، کله د شاعر شعر دښمنۍ ته اړ باسل او کله یې دوستۍ او یووالي ته، په خبرو

[1] د ابن ابی الحدید د نهج البلاغې شرح، د ۸۳ خطبې شرح: ٦ټ، ۲۸۳ مخ د عمروعاص ځوځات

[2] وګورئ: د ابن ابی الحدید د نهج البلاغې شرح: ۱ټ، ۲۳٦ مخ او ١٦ ټ، ۱۸۷ مخ، د معاویه او زیاد د ځوځات شرح همدغسې د امیه د مري ذکوان داستان، چې پر زوی ولی یې نیولی و او کنیه یې ابوعمر شوه، او «ولید بن عقبة بن ابی معیط بن ابی عمر» یې لمسی و، چې د عثمان مورنی ورور و، (وګورئ: الاغاني: ۱ټ، ۲۴ مخ) او هم د ولید داستان په نقش عایشه ام المؤمنین در تاریخ اسلام: ۱ټ، ۱۵۲ مخ کې.

[3] تاریخ الیعقوبي: ۱ټ، ۲٦۲ مخ: شعراء العرب.

کې يې د شعر بېلګې راوړې، په شعر يې يو پربل لوړوای لټاوه او په خپلو کې يې ښه والی او بد والی ويشه، يو ټبر له بل ټبر سره جنګېده، ستاينې يې کولې او يو بل يې رټل اوغندل.

عربانو، په څلور ماناوو شعر انشاء کاوه:

۱- په جګړو کې د خپل ټبر د زړورو جنګياليو او د دوی د جګړيزو وزليو ستاينه:

توره، نيزه، کمان او اس سوربېدل، شعر يې په دې باب لکه د رستم او د رستم د آس او د رستم د جنګي وسلې په اړه د فردوسي شعرونه دي او د عربانو په شعرونو کې ورزيات څيز پرې، د عربي لار مزلو اوښانو ستاينه ده.

۲- د ځان او خپل ټبر د جود، بخشش او ورکړې په باب يې ستاينې کولې، په تېره د مېلمنو په مېلمه پالنې کې، چې په فارسي [او پښتو] کې دغسې اشعار دود نه دي.

۳- د خپلې محبوبې، د محبوبې د کور او څه چې په محبوبې پورې تړاو لري، شاعر يې ستايي په هره ژبه کې دا ډول شعر شته، کله په دې باب مبتذل اشعار وي لکه د عبيد زاکاني.

۴- د ټبر د وياړونو ستاينه، چې په دې باب يو قوم هم د عربانو په څېر نه موندل کېږي؛ البته په ندرت او ډېر لږ لږ په ځينو عربي قصايدو کې د علمی حکمت؛ يعنې غوره اخلاقو څه ناڅه بيتونه ليدل کېږي او کله نا کله د عربو په بازارونو کې ښو اخلاقو ته په بلنې کې څرګندې ويناوې کېدې او اشعار ويل کېدل، چې را روسته يې لولو:

له اسلام وړاندې د مکې خورا ستر شاعر ابو طالب او د مدينې نامي شاعر حسان بن ثابت و.

## تر اسلام مخکې د عربو وتېز حالات

د عربانو هغه ټبرونه چې د یمن، مدینې، عراق او شام په ښارونو کې اوسېدل، په کرنه، بڼوالۍ او پوونده ګرۍ (دامدارۍ) بوخت وو. مکیان چې د قریشو ټبرونه وو، سوداګري یې کوله د دوی سوداګریز کاروانونه په ژمي کې له شام، فارس او عراق نه مکې ته او په اوړي کې له مکې څخه یمن او په افریقا کې حبشې ته په تلو راتلو کې وو، خدای به دې باب وایي:
((لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ = (الله له دې سپېڅلې څمکې سره) د قریشو د مینې د پیدا کولو لپاره (فیل سپرو ته سزا ورکړه، چې د پیغمبر راتلو ته لار هواره شي).))
((إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ = له ژمنیو او دوبنیو (سوداګریزو) سفرونو سره یې مینه (چې له لامله یې ورته راستانه شي)))
((فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ = نو (ددې ستر نعمت په شکرانه کې) باید ددې خونې (کعبې) پالونکی ولمانځي؛))
((الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ = هماغه (الله) چې له لوږې یې ماړه کړل او له وېرې او ناامنۍ یې (خوندي او) ډاډمن کړل.))
هو، قریشو ددې سوداګریزو سفرونو له لامله، ډېره شتمني راټوله کړې وه، چې په عربو کې یې ساری نه درلود.

د دغسې عربي ټبرونو وتېزه (اقتصادي) وضع دغسې وه؛ خو نور ټبرونه چې د عربي ټاپو وزمې ډېری خلک وو، ګردسره بېدیا مېشتي او پر تنګلاسۍ اخته وو، په وچو کم اوبو او کم وښو سیمو کې اوسېدل.
اوښ ددې ټبرونو آریزه او عمده شتمني وه، چې تر نورو څارویو ډېره تنده زغمي، کله د ټبر جنګیالیو د جګړې تیښتې او د بېدیایي څارویو ښکار ته څو د سپرلۍ اسونه هم درلودل.
بیدیاني عربو د اوسني پېر اروپایانو په څېر چې هر څاروی او حشره خوري، هر بیدیایي څاروی یې ښکاراوه او خوړ یې.
کله یې د ټبر کوم وګړي پر بل ټبر یرغل کاوه او د دواړو ټبرونو جنګیالیو تر خپلې وسې، بل وژل او یو ټبر ماتې کوله، برلاسي او غالب ټبر، د مغلوب او مات شوي ټبر شتمني لوټله، کله یې د دوی ښځې، لوڼې او زامن اسیرانول او کله یې خپل اسیران پر نورو عربي ټبرونو پلورل.
په دې ګردو حالاتو کې، څه د بیدیا د څاروي په ښکار کې یا څرځي ته د اوښانو په وروړو او په تېره جګړو کې لوڼې او ښځې پر نارینه و یو درونډ پېټی او دوی په سراسر ستونزمن ژوند کې له نارینه و سره هیڅ ډول مشارکت او ګډونواله نه درلوده؛

نوځکه کله پلرونو خپلې نوزيږي لونې ژوندۍ ښخولې.
قرآن په دې باب وايي:
((..... وَلاَ تَقْتُلُوا أَوْلاَدَكُمْ مِنْ إِمْلاَقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ...... (انعام/۱۵۱)=.... او خپل اولادونه مو د فقر او تنګلاسۍ له ډاره مه وژنئ؛ موږ، تاسې او دوی ته روزي ورکوو...))
د تېرو څرګندونو له مخې د عربو يوه عايداتي سرچينه، مدينه وه او په دې حال کې يې د مينزې يا مرې له کار څخه ګټنه کوله. کله يې د عايداتو لپاره خپلې مينزې زنا ته اړ باسلې او که په دې حال کې به دوه ځانې شوې نوزيږي به د مينزې د خاوند برخه کېده، چې دا خپله ورته يوه بله ګټه وه[1].
که مينزه آزادېده او زنا ته يې دوام ورکاوه او له دې لارې يې اولاد زيږاوه؛ نو مور د نوزيږي پلار ټاکه، چې له تېر يې شمېرل کېده[2].
کله هم بدلمنو ښځو بدلمنۍ ته د نښې په توګه پر خپلو کورونو يو څړوکی ځوړنداوه[3].
څه چې وويل شول، د هغې ورځې د عربي ټولنې اقتصادي وضع ته يوه اشاره وه، په

[1] په راتلونکي بحث کې، د طايف په وضع کې د عبدالله بن اُبيّ داستان ته ځير شئ
[2] وګورئ د عربو د فرهنګ په بحث کې دعمر وعاص د ځوځات داستان


هغه پېر کې د عربو ټولو ټبرونو په ځانګړو وختونو کې په لاندې شرح بازارونه درلودل:
عربانو د کال په ځانګړو وختونو کې بازارونه درلودل، چې د عربي ټاپو وزمي له ګردو سيمو خلک پکې ورټولېدل او پردې مهال يې ځانونه او مالونه په امنيت کې وو تردې ټولو مهمتر يې په پاس نجد کې دعکاظا (سوق عکاظ) بازار و، چې له طايفه يوه ورځ او له مکې درې ورځې لرې و.
په ذی قعده مياشت کې، قريش او د عربو نور ټبرونه په دې بازار کې راټولېدل دلته پر پېر پلور سربېره د ټبريزو وياړونو د نندارتون د شاعرانو د شعرونو او ويناوو د اورېدو ځای و، همداراز دلته د ټبرونو ترمنځ تړونونه هم کېدل.
ورپسې له دې ځايه د مجنّه- چې تر مکې يوه ورځ لرې و- بازار ته ورتلل او دلته د ذي قعدې تر پايه وسېدل، بيا د مجاز (سوق ذی المجاز) بازار ته ورتلل، چې له عرفې يو فرسخ لرې و او د ذي حجې تر

[3] وګورئ د: المحبّر: ۲۴۰مخ په مکې او طايف کې دې ډول کورونو شتون درلود

اتمې همدلته پاتېدل؛ بیا پر نهمه ورځ د حج مناسکو لپاره عرفې ته ورتلل[1].

تر اسلام وړاندې د عربو ټولنیز او سیاسي حالات

د بشري ټولنو نظام یا الهي دی یا بشري. په کومو ټولنو کې چې الهي نظام وي، وګړي یې پوهاوی، نړۍ لید او د ژوند احکام د پیغمبرانو له لارې، له خپل نړۍ پال پالونکي زده کوي. په دې ډول ټولنو کې خلک هر کار د خدای د رضا لپاره کوي او الله پالي دي.

خو په کومه ټولنو کې چې نظام یې بشري دی، وګړي یې هر کار د خپلې غوښتنې له مخې او د خپلې ګټې او زیان په پامنیوي ترسره کوي. البته داچې بشر ننګیري، په کومه ټولنه کې چې وسي، ګټه و زیان یې د ده ګټه او زیان دی، کله د ټولنې پر ګټې کار کوي، که څه شخصي زیان هم وي.هغه ټولنه چې نظام یې بشري دی، یا د خېل او نژاد له مخې دی؛ لکه په تېرو کې د نازي آلمان ټولنه او په اوسني وخت کې په نیول شوي فلسطین کې د یهودو صهیونستي ټولنه- او یا د هېواد پالي له مخې دی.

په تېرو دواړو حالتو کې کله انسان په دغسې ټولنو کې د ټولنې د مصلحت لپاره کار کوي، ان زیان یې نورو ټولنو تهوررسي او د نورو پر حقوقو تېری کوي.
خو په هغو ټولنو کې چې انسان الله پالی دی او د رضا لپاره یې کار کوي، کار د خپلې وګړیزې ګټې یا د خپلې ټولنې د ګټې لپاره کوي؛ خو نه د نورو پر حقوقو د تېري په بیه نوځکه دغسې یو انسان ځانپالي، خېل پالي یا هېوادپالی نه؛ بلکې الله پالی دی.
عربان په جاهلیت پېر کې ځانپالي او ټبر پالي وو؛ یعنې کار یې د ځان او خپل ټبر پر ګټه نوروته د زیان ور رسولو تر بریده و.

---

[1] په تاریخ الیعقوبي،تاریخ الطبري،مروج الذهب، السیرة النبویه او ابن هشام سیرة کې له اسلام وړاندې د عربو تاریخ وګورئ.

## تر اسلام مخکې د عربو د ټبریز غونډال بنسټونه

په جاهلیت پېر کې د عربو ټبریز نظام، پر څلور ستنو او ځواکونو ولاړ و:
۱- ټبر مشر ۲- د قبر شاعر ۳- د ټبر اتلان او جنګیالي ۴- د ټبر عایدات

### ۱- ټبر مشر

د هغې زمانې په عربي ټولنې کې ټبر مشر، په بشري ټولنو کې د واکمن حیثیت درلود او د ټبر ټول وګړي د ټبر مشر تابعدار او د حکم منوونکي وه. پر وګړي، د شیخ واکمني، د مینې، درناوي او ډار له مخې وه، د جګړېزو ولجو څلورمه برخه د ټبر مشر وه[1] او ددې امتیاز په بدله کې نوموړی د ټبر میلمه پال، د ټبر د حقوقو ملاتړ او مدافع و.

په مکه د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم نیکونه د مکې د ټبرونو مشران وو، تردې چې دا مشري هاشم او بیا یې زوی عبدالمطلب ته ورسېده وروسته ابوطالب د مکې مشر شو. په مدینه کې هم د اوس او خزرج ټبرونو په هر وخت کې ځان ته مشران درلودل.

### ۲- د شعر او شاعرۍ ځواک

شعر په عربي ټولنې کې یوازېنی ښکلی هنر او د خلکو احترام وړ فرهنګ و. د ټبر شاعر د ټبر رسمي ویاند، د ټبر د ویاړنو خپرندوی او د ټبر د ګټو پاسوال او د شرف مدافع و؛ لکه چې مخکې مو وویل، کله د ټبر د شاعر په یوې قصیدې یا څو بیتو شعرونو، دښمني، ماتې او بې پتي رامنځ ته کېده او کله د دوو ټبرو ترمنځ خونړۍ جګړې او کله یې ترمنځ پخلاینه، دوستي او مینه.

په حج او موسمي بازارونو کې د عربي ټبرونو په ټولنو کې اشعار ویل کېدل، چې روسته په ګردو عربي ټولنو کې خوله په خوله کېدل؛ نو په دې توګه شعر په عربي ټولنو کې د ښو او بدو افکارو د خپرېدو یوازېنۍ وزله وه.

نوځکه په هغې ټولنې کې شعري ځواک تر شتمنۍ او تورې اوچت ځواک شمېرل کېده.

---

[1] د ټبر مشر څلورمې برخې اخستو ته یې «مرباع» ویله. د «ربع» شرح ته وګورئ: الصحاح، قاموس المحیط، لسان العرب، تاج العروس او د ابن هشام په السیرة النبویه کې پېغمبر(ص) ته د عديّ بن حاتم د راتلو داستان

### ۳- د تېر اتلان او جنګیالي

په بشري ړومبیو ټولنو او د دوی په بیدیا مېشتی کې، اتلولي او بدني ځواک، زښت اغېزمن دی، دهغې ورځې په بیدیا مېشتې عربي ټولنې کې د اتلولۍ ارزښت تر ډېرې ورته ټولنو ډېر و، په مکه کې تر اسلام وړاندې حمزة بن عبدالمطلب او عمر و بن عبدود د قریشو مشهور ترین اتلان وو.

### ۴- د پانګې ځواک

پانګه او شتمني، تل په انساني ټولنو کې اغېزمنه وه؛ خو شتمني د هغې ورځې په عربي ټولنې کې تر ډېرې انساني ټولنو اغېزمنه وه؛ ځکه دوی مانیز (معنوي) ارزښتونه، بې حقیقته او بې اهمیته ګڼل او ویل یې:

((......مَا هِيَ إِلاَّ حَيَاتُنَا الدُّنْيَا...... وَمَا يُهْلِكُنَا إِلاَّ الدَّهْرُ..... ﴿جاثیه/۲۴﴾ =... یوازې تش مادي جسماني دنیوي ژوند دی.... او دا د هر او زمانه ده، چې مړه کوي مو....))

په هغه سراسر داړن او بداندي ژوند کې، یو رغنده، مثبت او ځرګند ټکي شتون درلود، چې بېلګه یې په نورو ټولنو کې ډېر لږ لیدل کېږي، په تېره اوسني پېر کې، چې دا رغنده ټکی، پر ژمنې او ترون پابندي وه.



## تر اسلام مخکې په عربي ټولنه کې د ژمنې او تړون اهمیت او اعتبار

په انساني ټولنو کې ټولنیزې چارې د ټولنې د وګړیو ترمنځ د ژمنې او تړونونو له مخې روانې وي، د ځېزونو پېر پلور، شتمنۍ او د بشري ژوند اړتیاوې، د چارو د کولو لپاره د خلکو ګډون، د واده تړون، طلاق او بېلښت دا ټولې د ژمنو او تړونونو له مخې دي. نن په ښارونو کې ژمنې او تړونونه لیکل کېږي او غالباً دولتي نظامونه یې تصدیقوي، چې په دې حال کې یې د عملي کولو ضامن هم دي؛ خو له اسلام مخکې د عربو په تېریزو ټولنو کې ژمنې او تړونونه پردې اساس و، چې وګړیو خپلو ژمنو او تړونونو ته درناوی درلود او وګړیو په خپله د ژمنو او تړونونو په عملي کولو کې پوره جدیت او ربښتینتوب ښووه.

د عربو د هغې زمانې په ټولنو کې پر ژمنې او تړون عمل د وګړي پر شرافت او ستریا دلیل و او د تېر ټولو وګړیو یې هم ژمنه او تړون محترم باله او ټول د خپل تېر د وګړیو په تړون عملي کولو کې هڅاند وو.

په هغو ټولنو کې پردي سړي ته د یوې کلمې «ته مې زوی یې» په ویلو- که څه په خپل، ښار او دین کې له ویوونکي لرې و- دا پردی د ویوونکي او مېړمن یې اولاد او د دوی د اولادونو رور کېده او په نسب کې یې د تېر یو تن وګړی شمېر کېده، تر

مړينې روسته يې يو له بله ميراث وړه، د عربو د انسابو راټولوونکيو عالمانو هم دا سړی تر ننه د انسابو په کتابونو کې د ويوونکي زوی ثبت کړی او ددې د ټبر يو تن يې شمېرلی دی.

لکه څنګه چې دووټبرونو يو له بل سره د دوستۍ او ملاتړ ژمنه کوله؛ نو د دواړو ټبرونو هر وګړي په سولې، جګړې او دفاع کې د همژمنې ټبر له وګړيو سره د سرښندنې تر بريده فداکاري کوله.

او هم که د ټبر کوم وګړي به اعلان کړه: «زه د پلاني ټبر د پلاني ملاتړی يم»؛ نو په دې چار کې يې ټولو خپلوانو او د ټبر غړيو ملا تړله او هر يو په خپل وار تر حمايت لاندې سړي دفاع کوله.

همداراز که چا بل ته په يوه کار کې د همکارۍ لاس ورکاوه چې په اصطلاح کې يې «بيعت» ورته وايه- نو موخې ته د ور رسېدو لپاره به يې ښه منډه ورسره وهله.

همداراز که دوو وسلوالو جنګي سړيو به په بېديا کې هلته چې د هېڅ قانون واکمني نشته، مخامخ يو بل ته وويل: «په امان کې يې» دواړه پوره ډاډمن له خپلو آسونو راکېوتل، وسله يې لرې کوله او په پوره ډاډ يې يو د بل ترڅنګ ويدېدل.

ځومره چې يو ټبر او وګړی خپل ظرافت، حيثيت او انسانيت ته په احترام قايل وو؛ نو هومره پر خپلې ژمنې او تړون ټينګ وو.

په هغې جاهلي ټولنه کې دا خوی او سلوک په دې ټولنې کې د ژوند لپاره يو رغنده، مثبت او ځرګند ټکی و، چې زموږ د پېر په هېڅ ټولنې کې يې ساری موندای نشو[1].

❋ ❋ ❋

څه مو چې وويل: په دې مانا نه ده چې د عربانو ترمنځ بې له جګړېز حالته، چې په دې حالت کې تورې واکمني کوله، کله هم څه اختلاف نه رادبره کېده؛ بلکې عربي ټبرونو او وګړيو يې د نورو انسانانو په څېر خپلمنځي شخړې درلودې، چې چار يې د محاکمې تر بريده رسېده او د ستونزې او شخړې هوارې ته منځګړي (احکام) ول، چې شرح به يې راشي.

## د عربو منځګړي

تل په بشري ټولنو کې، د اړيپېچونو (اختلافونو) د هوارۍ لپاره منځګړي او حکام شته، چې خلک ورځي او خپلمنځي ستونزې پرې يوې خوا ته کوي. له اسلام مخکې عربي ټولنه هم له دې

[1] وګورئ: په تاريخ اليعقوبي، تاريخ الطبري، مروج الذهب او السيرة النبوية کې له اسلام وړاندې د عربو تاريخ.

قاعدې وتلې نه وه او په هر وخت کې د شخړو هوارۍ ته یو وګړی یا ډېر کسان وه، چې په عربو کې په درایت، څیرکۍ، استقامت، زغم او رښتینتوب یادېدل، چې ټولو عربي وګړیو د خپلمنځي شخړو دهوارۍ لپاره منل.
دا وګړي «منځګړي= حاکم» نومېدل او له لرې او نژدې ټبرونه یا وګړي ورتلل، چې د ستونزو په هواري کې یې منځګړتوب وکړي. په مکه کې «عبدالمطلب» ورپسې یې زوی «ابو طالب» هر یو، په خپل وخت کې د عربانو «منځګړي. حکام» وو[1].

[1] یعقوبي تاریخ، ۱ ټ، ۲۵۸ مخ، حکام العرب

## له اسلام مخکې د مکې او مدينې حالات

### په مکه او مدينه کې فرهنګ

### د مکيانو فرهنګ

مکيان شام، فارس، عراق او حبشې ته د سوداګريزو سفرونو له لامله، تر ټولو عربانو ډېر د خپلې زمانې د متمدنو ملتونو له فرهنګونو سره اشنايي درلوده او له کتابيانو (يهود او نصارا) سره د ناستې پاستې په پار يې د دوی عادات او دودونه پېژندل.
همداراز عربي ټبرونه د حج او عمرې لپاره مکې ته راتلل او د مکې په شا وخوا کې د عربو بازارونو ته ورتژدې وو. په تېره سوق عکاظ ته چې د عربانو شاعرانو او خطيبانو د راټولېدو ځای و او په عربانو کې د قريشو ژبه او لهجه خورا څرګنده او فصيح وه.
له اسلام مخکې اولس تنو مکيانو ليک لوست زده کړی و[1].

### د مدينوالو فرهنګ

داچې مدينوال له يهودو او د دوی عالمانو سره په تماس کې وو؛ نو ډېر فرهنګي معلومات يې هماغه و، چې له دوی يې اورېده.

تر اسلام مخکې په اوس او خزرج کې يولسو تنو ليک لوست زده کړی وو، له دوی يې اوه تنو «کامل» بلل؛ ځکه پر ليک لوست سربېره يې لامبو او غشي ايشتل هم زده کړي وو؛ نو چاچې دا درې فنون زده کړي وو، د (کامل) له لقبه برخمنېدل[2].

### د مکيانو او مدينوالو سياسي او ټولنيز حالات

د مکې او مدينې سياسې وضع د بېديا مېشتو (صحرانشينو) ټبرونو په څېر (د ټبريز نظام واکمني) وه،خو ټولنيز نظام يې يو له بل سره ډېر توپير درلود، چې و به يې لولو.

### د مکې سياسي او ټولنيز حالات

له نسبي پلوه په مکه کې قريشو، ځانونه د اسماعيل عليه السلام او ابراهيم عليه السلام اولاده ګڼله، چې دا پر نورو عربي ټبرونو د سرلوړاوي لامل شوی و. همداراز له بيت الله سره يې نژدېوالی، چې ګرد عربي ټبرونه چې بې له ډېر لږ شمېره چې يهود او نصارا شوي وو، زيارت ته راتلل؛ چې دې چار د مکيانو وياړ لا پسې زياتوه.
همداراز د «ابرهه» لښکر چې د بيت الله د ويجاړولو په نيت راغلی و او خدای په

[1] بلاذري، فتوح البلدان،. د «امراخط» برخه: ۵۸۰ او ۵۸۳ مخونه

[2] بلاذري، فتوح البلدان: ۵۸۰ او ۵۸۳ مخونه

توتکیو هلاک کړ؛ نو قریشو دا ځان ته ورمنسوب کړ، چې دا يې په عربانو کې يو ډول د ځانونو لوړ ښوول وو.

بلخوا له فارس، شام او عراقه یمن او حبشې ته سوداګري او اپوټه يې ددې لامل شوی و، چې په عربو کې بې مخینه پرېمانه شتمني ترلاسه کړي. همداراز د ډول ډول فحشا، منکرات او بدۍ لکه سودخوري، جواري، زنا او تکبر پکې دود شوي وو؛ نوځکه پر هغه مهال يې په عربي ټاپو وزمي کې بېسارې بد اخلاقي درلودې، دوی ددې آیت مصداق شوي وو.

((كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى. أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَى ﴿علق۸/۷﴾ = انسان چې ځان شتمن ويني؛ نو سرغړاندېږي.))

په مکیانو کې اخلاقي فساد د ګڼو عواملو پایله وه، چې له دې ځنې:

۱- داچې د قیامت له ورځې منکر وو؛ نو له سوداګرۍ او په مکه کې د اوسېدنې پر وخت يې تر خپلې وسې مزې چړچې، شهوتپالنه او فسق و فجور کړای شو.

۲- داچې په ټول کال کې د قریشو يو شمېر نارینه نورو سیمو ته د سوداګرۍ لپاره تلل او مېرمنې يې ډېره موده بې مېړه وې او هم د هغه وخت په عربي ټولنې کې حجاب او ستر نه و، چې له دې ښځو د شهوتپالو نارینه و د کوروالي مخنیوي پرې وشي.

۳- د قریشو په اشرافي کورنیو کې د پرېمانه واده مینزو او مریانو د شتون له لامله د دوی نارینه وو او ښځینه و ته هر ډول جنسي کوروالی شونی و.

تېر مسایل په مکه کې تر نورو عربي ټولنو د فحشا او منکراتو په خپرېدو کې اغېزمن لاملونه وو، د مکیانو پر وضع د ښه پوهېدو لپاره لا «الاغاني» کتابه د يو داستان په راوړو بساینه کوو:

«ابولهب د عبدالمطلب زوی له عاص د هشام زوی سره په سلو اوښانو جواري وکړه، د جوارۍ طریقه يې داسې وه، چې د يوه کاڼي يا غوز په اندازه يې په ځمکه کې کوتی ایسته، وروسې له يوه واټنه يې دا کاڼی یا غوز دې کوتۍ ته ورغورځاوه، که په کوتۍ کې به ولوید؛ نو خاوند يې وړې وه. په دې جوارۍ کې ابو لهب له عاصه سل اوښان یووړل.

دویم ځل يې په سلو اوښانو جواري وکړه، بیا ابولهب وګټله.

درېیم ځل يې جواري وکړه بیا هم ابولهب وګټله او په دې جوارۍ کې عاص خپله ټوله شتمني وبایلله. عاص، ابولهب ته وویل: د عبدالمطلب زویه! د جوارۍ کاڼي دې مل شوی، راځه دا ځل داسې جواري وکړو چې بایلونکی د بل مری شي، ابولهب ورسره ومنله، بیا يې د جوارۍ کاڼی وغورځاوه، دا ځل هم ابولهب وګټله

او عاص يې مړی شو، ترديې روسته عاص ابولهب ته ماليه ورکوله، ترديې چې په بدر جگړه کې، کله چې قريشو پرېکړه وکړه، چې هر څوک دې په جگړه کې برخه واخلي، يا دې پر خپل ځای څوک ولېږي، ابولهب د ځان پر ځای عاص ولېږه او شرط يې وکړ، چې تر راستنېدو روسته به يې ازادوي؛ خو عاص په دې جگړه کې ووژل شو[1]».

**د مکې د باندېيز ښار، طايف حالات**

په مکې کې د فحشا او منکراتو خپراوي پر طايف[2] هم اغېز کړی و، په هغې زمانې کې ډېر طايف مېشتي، د ثقيف له ټبره وو او يو شمېر شتمن قريش هم پکې اوسېدل. ښايي په همدې پار، تر مکيانو روسته طايف مېشتي په زنا او سودخورۍ کې ډېر شهرت درلود[3]. پر طايف او ثقيف د قريشو د اغېز څرگندولو لپاره لاندې داستان را اخلو:

«حارث بن کلاده ثقفي په طايف کې د «سميه» په نامې يوه مينزه درلوده چې خپل رومي مريي ته يې ور واده کړې وه او د زنا له لارې يې ماليه ترې اخسته؛ هغه مهال ابوسفيان له يوه سفر په راستنېدو کې طايف ته ورسېد تر شرابخورۍ روسته، ابو مريم سلولي شراب پلوري ته ورغی، ورته يې وويل: سفر مې اوږد شو. ايا سملاسي کومه بدلمنې لرې؟ نوموړي سميه ته ورساوه.

ترديې پېښې روسته سميه «زياد» و زېږاوه او دا وخت لومړی هجري کال و، زياد ته يې په پيل کې د عبيد رومي (هغه مړی چې د سميه مېړه و) زوی وايه ترديې چې پر ۴۱ يا ۴۲ هجري کال «معاويه» له سميه سره د ابوسفيان د هماغې زنا په پار زياد د ابوسفيان زوی او خپل رور وباله او امويانو د واکمنۍ تر پايه زياد ته يې د ابوسفيان زوی وايه د عباسيانو په پېر کې پر «زياد بن ابيه» يادېده[4]».

له دې داستانه دوه ټکي ترلاسه کېږي:

(الف) لکه چې و مو ويل، د قريشو شتمنو د طايف ښار او ثقيف ټبر په خپلو اخلاقو را اړولی و.

(ب) قريشو نه يوازې په خپل ښار کې د فراغت پرمهال شرابخوري او بدلمني کوله؛

[1] الاغاني: ۴ټ، ۱۷۹مخ، د بدر جگړه، د حسان بن ثابت ژوند ليک. په دې کيسه کې عاص د هشام بن مغيره بن اسد زوی او کنيه يې ابوالبختري ده. وگورئ: السيره النبويه: ۳ټوک، ۲۸۳-۲۸۱ مخونه.

[2] د مکې يو باندېيز ښار دی، چې دولس پرسخه ترې لرې پروت دی.

[3] وگورئ: معجم البلدان، د طايف شرح: ٦ټ، ۱۰-۱٦ مخونه.

[4] وگورئ: الکامل فی التاريخ، د ۴۴ کال پېښې: ۳ټ، ۲۲۳- ۲۲۵ مخونه. الاستيعاب: ۱ټ، ۵۴۸- ۵۵۵ مخونه.الاصابه: ۱ټ، ٥٦۳ مخ

بلکې د سفر پرمهال او په نوور ښارونو کې يې هم له بد اخلاقۍ لاس نه اخسته، ښايي لاندې داستان ددې چار لپاره يو بل ګوا هم وشمېرل شي:

«په بدر غزا کې، نژدې اويا تنه قريش د مسلمانانو اسيران شول، چې پکې يو شمېر د قريشو شتمن او مشران هم ول. منافق «عبدالله بن اُبیّ» وغوښتل چې له خپلو دوو مينزو يوه يې اړ کړي، چې د قريشو له يوه شتمن بندي سره کوروالی وکړي، په دې هيله چې مينزه ترې دوه ځانې او اولاد وزيږوي او دا قريشي تر ازاديدو او مکې ته تر ستنېدا روسته، عبدالله بن ابی ته ډېرې پيسې ورکړي، چې خپل زنا زيږی زوی چې د عربو په دود کې د عبدالله بن ابی ملک ګڼل کېده، ترې وپېري، آزاد يې کړي او مکې ته يې بوزي.

دې دواړو مينزو يوې هم دې چټل کار ته غاړه کېنښوده او په پای کې يې پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ته شکايت وکړ.

خدای په دې باب لاندې آيت نازل کړ:

((.... وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا..... (نور/۳۳) = او خپلې وينځې، چې پخپله پاك لمنې غواړي؛ نو د دنيوي ګټو لپاره يې بدکارۍ ته مه اړ باسئ))

دا داستان راښيي؛ نوموړي شتمن قريش له عبدالله بن ابی دغسې غوښته کړې وه؛ نوځکه عبدالله له مينزو غوښتل چې کوروالی ورسره وکړي. په پای کې يو لنډ داستان ته مو پام راړوم، چې په جاهليت پېر کې د ثقيف ټبر څومره له شرابخورۍ او زنا سره مينه درلوده.

«پر نهم هجري کال، د ثقيف له ټبره يوه ډله له طايف څنې مدينې ته ورغله، چې په ځينو شرايطو اسلام ومني پر هغه وخت يې د زنا او شرابخورۍ د نه پرېښوو په باب په خپلو کې سلا مشوره وکړه، و يې ويل: ثقيف له شرابخورۍ او زنا لاس اخستی نشي» او داچې پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم يې شرايط و نه منل؛ نو له ناچارۍ يې ومنله چې دا دواړه چټل کارونه پرېږدي[1]»

## د مدينې سياسي او ټولنيز حالات

مدينې ته د نبي اکرم صلی الله عليه وآله وسلم تر هجرت وړاندې يهوديان په مدينې او ترې بهر مېشت وه. دوی ټول په ټينګو کلاګانو کې اوسېدل، چې د هغې ورځې په ښو جګړيزو وزليو سنبال او ښه جنګيالي يې درلودل، دوی په څو سيمو کې په پرمختلليو طريقو بڼوالي، کرنه او پوونده ګري (مالداري) کوله او ټولو په

---

[1] وګورئ: مقريزي، امتاع الاسماع: ۴۹۲مخ

تېره مدينه مېشتو يې سوداګري کوله او سود يې هم خوړ. يهود د هغه څه له مخې چې په ديني کتابونو کې يې راغلي، انګېري، چې خدای دوی يو ممتاز قوم او پر نورو انسانانو د ښاغليتوب لپاره پيدا کړي، چې په غبرګون کې بشر بايد د دوی چوپړيالان وي.

نوځکه يهود چې په هره ټولنه کې وي، د ځان لوړ ګڼلو مزاج او طبيعت لري او ځان پر نورو اقوامو جيګ بولي همداراز د زېرمولو او راټولو خوی لري او په هرې وزلې د نورو اقوامو په شتمنۍ راټولو کې هېښنده هڅې کوي.

دوی دې موخو ته (پر نورو اقوامو برلاسي او د دوی د شتمنيو ترلاسه کول) ته د ور رسېدو لپاره، په هر وخت او هره ټولنه کې له هرې وزلې کار اخلي. همداراز کومه ټولنه چې د ټينګو اخلاقو درلودونکي وي، يهود خپلې موخې ترلاسه کولای نشي؛ نوځکه په دغسې ټولنو کې په فساد، فتنې او بې بندوبارۍ لاس پورې کوي.

د يهودو دې ځانګړنې ته په پامنيوي، دوی د عربو دهغې ورځې په ټولنه کې شتمن او سرغړاند خلک وو، ليک لوست پکې دود و، ځان يې د يعقوب عليه السلام اولاده، د بشر غوره مخلوق، د شريعت خاوندان او د ړومبي آسماني کتاب درلودونکي ګڼل، همدا فکر يې د عربي ټاپو وزمې په ولسي پرګنيو کې خپور کړی و.

دوی د فضيلت ښکاره کولو لپاره، د خاتم الانبياء صلی الله عليه وآله وسلم د بعثت په باب مدينوالو ته د تورات وړاندوينې ويلې او د حضرت نبي اکرم صلی الله عليه وآله وسلم د راښکاره کېدو نښې يې څرګندولې او ويل يې: ددې پېغمبر مبعوثېدل نژدې دي او ځای به يې مدينه وي.

دا وړاندوينې لامل شوې «ابو عامر» چې نامه يې «عبد عمرو» او د اوس له ټبره و، په دې هيله چې هماغه موعود پېغمبر شي، مدينې ته د نبي اکرم صلی الله عليه وآله وسلم تر هجرت وړاندې د خدای عبادت ته مخه کړه[1]. وړينې جامې يې اغوستې او... تردې چې شيخ (راهب) ابو عامر يې ورته وايه! نو چې کله پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم مدينې ته هجرت وکړ او و يې ليده، چې خپله پېغمبر نه شو؛ نو په خنډ اچولو يې لاس پورې کړ[2].

يهودو په مدينې کې د خپل تلپاتې خوی په پار د اوس او خزرج ټبرونو ترمنځ فتنې راولاړولې او جګړې ته اړ باسل، تردې چې ترمنځ يې خونړۍ جګړې کېدې.

---

[1] بلاذري، انساب الاشراف: ۱ټ، ۳۴۰ مخ.

[2] ابن هشام، السيرة النبويه: ۲ټ، ۲۳۴او ۲۳۵ مخونه. واقدي، المغازي: د اُحُد غزا په ذکر کې

د اوس او خزرج هر يو ټبر د يهودو له يوه ټبر سره د دوستۍ او همکارۍ تړون درلود او د جگړې پرمهال به يې له خپل يهودي همژمني ټبره وسله په اجاره اخسته، چې له دې لارې يهودي ټبر ستره شتمني تر لاسه کوله او بدمرغي به د اوس يا خزاج غاړې ته ورولويده.
که د اوس او خزرج د ټبرونو حال، د مکې او يمن د ټبرونو له حالاتو سره چې پر هماغه مهال په سوله کې اوسېدل، پرتله کړو، څرگندېږي، چې د دوی(اوس او خزرج) خپلمنځي جگړې د يهودي ټبرونو د فتنې را ولاړولو له لامله وې.

❋ ❋ ❋

مدينوال په دغسې حالاتو کې اوسېدل، تردې چې د اوس او خزرج ټبرونه له پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم سره له مخامخېدو او مدينې ته د نبي اکرم صلی الله عليه وآله وسلم تر مهاجرت مخکې، د خپلې ستونزې د رغېدا په لټه کې شول او ټول يوه خوله شوو، چې ځان ته يو پاچا وټاکي، چې ټول به يې مني او نور يې ترمنځ جگړه ونشي.
ددې کار لپاره يې د مدينې يو مشر «عبدالله بن ابی» وټاکه او ده ته د شاهي تاج جوړولو او له يهودو د مرغلرو پر پېرلو بوخت وو، چې په مکه کې له پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم سره مخ شول او پوه شول کوم پېغمبر چې يهوديانو يې له بعثته خبرې کولې، همدادی؛ نوځکه يې پرحضرت صلی الله عليه وآله وسلم ايمان راووړ او دا يې له يارانو سره مدينې ته وباله.
مدينې ته د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم تر راتلو روسته د حضرت صلی الله عليه وآله وسلم په دستور د گردو مدينه مېشتو (يهود اوس او خزرج) ترمنځ يې تړون وليکل او لاسليک شو، چې له مخې به يې يو مدينه مېشتی پر بل تېری نه کوي او چې چا وکړ، پېغمبر به يې په اړه قضاوت کوي، همداراز که څوک له مدينې دباندې پر مدينوالو تېری کوي، ټول به د تېري پر وړاندې ودرېږي[1].
او د تړون پايله د مسلمانانو ترمنځ اخوت او روري او له مدينه مېشتو يهودو ټبرونو سره ژمنه، د هغې ورځې د عربانو خوی ته په پامنيوي، په ډاگه کېږي.
له اسلام مخکې د عربو وضع په پامنيوي، چې اشاره ورته وشوه او د نبي اکرم صلی الله عليه وآله وسلم سيرت ته لنډه کتنه کړای شو.

---
[1] ابن هشام، السيرة: النبوية: ۲ټ، ۲۳۴ او ۱۴۷ مخونه.
عيون الاثر: ۱ټ، ۱۹۷مخ

## تر بعثت وړاندې د حضرت محمد سيرت ته لنډه کتنه

### د حضرت محمد مصطفی نيکونه

د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ټول نيکونه تر هغه ځايه چې عربانو پېژندل او ترې خبر وو، په مکه کې د قريشو شيخان، رئيسان او مشران وه. داچې د بيت الله الحرام حاجيان د مکيانو ميلمانه وه، د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم نيکونو په دې غرونو او سوځنده درو کې حجاجو ته خواړه او څښاک چمتو کول، تردې چې دا مشري «عبد مناف» ته ورسېده «عبد مناف» څلور زامن درلودل، نامې يې دادي: هاشم، عبد شمس؛ نوفل او مطلب[1].

### د هاشم مشري

د عبد مناف تر مړينې روسته، د «هاشم» او «عبدشمس» ترمنځ د قريشو د مشرۍ پر سر سخته لانجه وشوه، چې په پايله کې هاشم بريالی او په خپل وخت کې تر خپلو پلرونو خورا نامي شو، هاشم لومړی تن و، چې قريشو ته يې د دوبني او ژمنې سوداگريزو سفرونو بنسټ کېښود. په اوړي کې يې سوداگريز کاروان شام ته تله چې دې سفر ته يې «رحلة الصيف» وايه او په ژمي کې د يمن له لارې حبشې او آفريقا ته تلل، چې دا يې په «رحلة الشتا» ياداوه. په هغې زمانې کې چې هېڅ وگړی يا کوم ټبر له لوټنې خوندي نه و، هاشم لومړی په شام کې د روم له پاچا قيصر څخه د ده د واکمنۍ په سيمه کې د قريشو د سوداگريزو کاروانونو لپاره امان ليک واخست. له شام څخه چې مکې ته راستنېده؛ نو په لار کې يې له پرتو عربي ټبرونو د قريشو د سوداگريزو کاروانونو لپاره ژمنه واخسته چې د دوی په سيمو کې به په امان کې وي. په دې توگه په سوداگريزې لارې کې د کاروانونو امنيت خوندي شو، د عربو له ټبرونو سره د قريشو د تړونونو نامه چې په تېرو کې هم اشاره ورته شوې او په قرآن کريم کې هم ياد شوي[2]، «ايلاف» و.

هاشم د سوکړې په کلونو کې تر پايه مکيانو ته خواړه ورکول؛ نوموړی شام ته په يوه سفر کې په مدينه کې تم شو او د خزرج د ټبر د زيد له لور «سلمی» سره يې واده وکړ. سلمی په مدينه کې پاتې شوه او هاشم خپل سوداگريز سفر ته دوام ورکړ، ددې واده په پايله کې سلمی د «شيبه» (عبدالمطلب) په نامې زوی وزيږاوه. چې

[1] ابن هشام، السيرة النبوية: ١ټ، ١١١مخ. د ابن حزم په انساب کتاب کې د فهر ټبر ژوندليک

[2] د قريش سورت

کله هاشم ومړ، د قریشو ټبرونه وډار شول، هسې نه د عربانو ټبرونه پرې لاسبري شي او له لامله یې خپل سوداګریز کاروانونه ونشي خوځولای؛ نو څکه د هاشم دو وروڼو، عبد شمش او نوفل، د حبشې له پاچا نجاشي او د فارس له پاچا کسری سره تړون نوی کړ.

څه موده روسته دا دواړه وروڼه هم مړه شول او د مکې مشري یې رور «مطلب» (عبد مناف زوی) ته ورسېده.

مطلب مدینې ته ولاړ او خپل وراره عبدالمطلب یې مکې ته راوست د مطلب تر مړینې روسته ورار (عبدالمطلب) ته یې د قریشو مشري ورولېږدول شوه.

**د عبدالمطلب مشري**

په څو لاملونو د عبدالمطلب مشری تر نیکونو څخه ډېره یې په قریشو او د حجاز به بیدیاوو کې پراخ شوه:

۱- لومړی داچې عبدالمطلب د عربو د سترو نژادونو؛ عدنان او قحطان له څوڅاته و.

۲-دویم د عبدالمطلب ښې کړنې وې؛ لکه د زمزم څاه ایستل یې چې د اسماعیل علیه السلام له پېره مکیانو او د بیت الله الحرم حاجیانو ګټنه ترې کوله او د څو لاملونو له لامله تر خاورو لاندې پټه شوې وه او چا یې ځای نه پېژانده.



عبدالمطلب له قریشو سره تر شخړو روسته له خپل ایکي یو زوی حارث سره له څاه خاورې لرې کړې او بیا یې اوبه هر ځښونکې ځښلې. له عبدالمطلب سره د څاه په ایستو کې یوازې زوی یې حارث مرستندوی و، نذر یې وکړ، که خدای لس زامن ورکړي؛ نو یو به یې د خدای په لار کې قرباني کړي او کله چې د لسو زامنو پلار شو، د قربانۍ پچه یې د کوشني زوی «عبدالله» په نامه راووته.

عبدالمطلب غوښتل خپل زوی عبدالله د بیت الله پر وړاندې بلهار کړي او قریش چې راټول شوي وو، ورته یې وویل: دا کار مو نورو قریشو ته بېلګه کېږي او ځینې پلرونه به خپل زامن قرباني کوي. ددې خبرو اترو په پایله کې عبدالمطلب ومنله چې د سلو اوښانو او عبدالله ترمنځ پچه واچوي، که پچه د سلو اوښانو په نامې راووته؛ نو اوښان به قرباني کوي او که د عبدالله په نامې راووته؛ نو عبدالله به قرباني کوي چې پچه یې واچوله د سلو اوښانو په نامې راووته، عبدالمطلب ونه منله تردې چې درې ځل یې پچه واچوله او درې ځل د اوښانو په نامې راووته.

عبدالمطلب سل اوښان قرباني کړل او غوښه یې خیرات کړه او په دې توګه عبدالله له قربانۍ وژغورل شو. له خپل زوی سره د عبدالمطلب دې چار، له خپل

زوی اسماعیل سره د ابراهیم کار په خاطرو کې ور ژوندی کړ؛ نو په دې توګه یې عبدالمطلب «ابراهیم ثاني» ونوماوه.
عبدالمطلب «امنه بنت وهب» خپل زوی عبدالله ته ور واده کړه، د واده په پایله کې یې «محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب» (خاتم پیغمبر) وزیږید[1].

**عام الفیل**

پیغمبر د مور په ګېډه کې و، چې پلار یې،عبدالله ومړ د پیغمبر د زوکړې پر کال «ابرهه» د حبشې پاچا له یو ستر لښکر او جنګي فیلانو سره د بیت الله ورانولو ته له یمن څخه مکې ته راوخوځیده.عبدالمطلب د مکې غرونو ته وخوت، لاس په دعا شو، و یې ژړل، خدای یې دعا قبلوه کړه او خدای د ابرهه پر لښکر توتکۍ (ابابیل) ورولیږلې او ټول یې هلاک کړل.
دا داستان په عربي ټاپو وزمې کې مشهور شو او د عبدالمطلب د ځانګړي درناوي لامل شو.
عربو دې کال ته «عام الفیل» ووایه او لکه څنګه چې وویل شو، پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم پرهمدې کال نړۍ ته راغی.
حضرت صلی الله علیه وآله وسلم ړومبی د خپل نیکه، عبدالمطلب تر پالندوینې لاندې و، لا کوشنی و چې مور یې بي بي امنه ومړه او چې اته کلن شو، نیکه یې رنځور او د خپل لمسي محمد صلی الله علیه وآله وسلم پالندوینه یې خپل پټیالي زوی «ابوطالب» ته ور وسپارله او بیا ومړ.

**د ابوطالب مشري**

تر عبدالمطلب روسته، زوی یې ابوطالب د قریشو مشر شو. ابوطالب پرهماغه کال د نورو قریشو په څېر شام ته د سوداګرۍ لپاره ولاړ او خپل وراره، محمد صلی الله علیه وآله وسلم یې هم له ځان سره ملګری کړ. په دې سفر کې د نصاراوو راهبانو په محمد صلی الله علیه وآله وسلم کې د خاتم پیغمبر نښې او ځانګړنې وپېژندې او ابوطالب یې له دې داستان څنې خبر کړ، همداراز نوموړی یې وډار کړ هسې نه چې وراره ته یې یهودان زیان ور ورسوي او ټینګار یې وکړ، چې ډېر ژر دې مکې ته ورستون شي او خپل وراره دې له خپل ټبره دباندې نه وباسي او د ده په ساتنه کې دې هڅه کوي. ابوطالب مکې ته راستون شو او د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په ساتنې کې یې خورا غورزې پرزې کولې.
پیغمبر چې ۲۵ کلن شو، د قریشو له خورا شتمنې ښځې «خدیجې» بي بي سره یې واده وکړ او شتمنه کورنۍ شوه. پرهغه کال

[1] تاریخ الیعقوبي: ۱ټ، ۲۴۲- ۲۵۲مخونه.

چې په مکه کې سخته سوکړه راغله پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم له خپل تره ابوطالبه وغوښتل چې زوی یې علي کرم الله وجهه ور ورسپاري، چې کور ته یې راولي او تر خپلې پالندوینې لاندې یې ونیسي ابوطالب د خپل وراره خبره ومنله[۱] او کوشنی علي د پېغمبر تر پالندوینې لاندې د پېغمبر په کور کې وروزل شو.

## د حجرالاسود ایښوول

د کعبې خونې دیوالونه لانده، تر یوه قده لږ لوړ او بې چهته وو. دننه یې یوه څاه وه، چې د کعبې خزانه پکې پرته وه. د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په ۳۵ کلنۍ کې غلو دا زېرمه لوټ کړه، قریش اړ شول، چې د کعبې خونه نوې جوړه کړي. د کعبې جوړول یې پر ټبرونو وویشل چې کله د حجرالاسود ایښودو وار راغی، په خپل ځای کې د ورایښوو پر سر یې د قریشو د ټبرونو ترمنځ لانجه رامنځ ته شوه، (هر ټبر هڅه کوله، چې ددې امتیاز خاوند شي) په پای کې ټبرونه جګړې ته چمتو شول، چې که هر ټبر برلاس شو؛ نو حجرالاسود به بړدي.

په دې وخت کې د قریشو ډېر بوډا؛ مغیرة بن عبدالله مخزومي، په مسجدالحرم کې را ټول شویو قریشو ته وویل: د قریشو ټبرونو! که څوک همدا اوس جومات ته راننوځي؛ نو منځګړی یې کړئ او څه یې چې ویل، خبره یې ومنئ ټولو دا وړاندیز ومانه.

سترګې د جومات وره ته وې، چې د عبدالمطلب لمسی، محمد بن عبدالله صلی الله علیه وآله وسلم جومات ته راننووت ټولو په لوړ غږ وویل:

هذالامین رضینا، هذا محمد

«دا محمد امین دی او پرمنځګړتوب یې راضي یو»

چې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ورغی او له پېښې خبر شو و یې ویل: یوه ټوټه راولئ، ټوټه یې راوړه پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په خپل لاس حجرالاسود پکې کېښود، بیا یې وویل: هر ټبر دې ددې څادر یوه برخه ونیسي او ډبره دې پورته کړي او د حجرالاسود ځای ته دې یې ورسوي، چې داسې یې وکړل، پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ډبره په خپل لاس واخسته او پر ځای یې ورکېښووله او مخ یې ور جوړ کړ او دا شخړه په دغسې حکمت په خیر پای ته ورسېده[۲].

---

[۱] تاریخ الطبری: ۳ټ، ۱۱۶۳مخ، اروپا چاپ.

[۲] ابن هشام، السیرة النبویة: ۱۱ټ، ۲۰۴- ۲۱۰ مخونه، حدیث بنیان الکعبة

## کتابیان؛ خاتم الانبیاء صلی الله علیه وآله وسلم ته سترګې پر لار

خدای تعالی خپله پېغمبران د خاتم پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم له نښو او ځانګړنو خبر کړی وو: د زوکړې ځای یې د اوسېدنې ځای یې د بعثت او هجرت د زمانې نښې یې، په اندامونو کې یې نښې، په سلوک او چلن کې یې ځانګړنې او هغه امتیازات یې چې په شریعت کې و... ټول یې ویلي او پېغمبرانو ته یې امر کړی و، چې دا ګردې ځانګړنې دې خپلو امتونو ته ورڅرګندې کړي او له خپلو امتونو دې ژمنه واخلي که کله دا پېغمبر له دې ځانګړنو او صفاتو سره مبعوث شو؛ نو ایمان پرې راوړي.

پېغمبرانو دا ګردې ځانګړنې او صفات خپلو امتونو او وصیانو ته ویلې وې، همداراز په اسماني کتابونو او هغو کتابونو کې چې د پېغمرانو وصیانو د اسماني کتابونو په شرح کې لیکلي وو، دا چارې ښه په تفصیل ثبت او ضبط شوې وې.

داچې دا معلومات او مطالب له هغو چارو څخه وو، چې د دوی دنیوي ژوند ته یې چې اسماني کتابونه یې اړول، څه زیان نه رساوه، دا ټول مطالب په دې کتابونو کې روغ رمټ او سالم پاتې او اړول شوي نه وو او د یهودو او نصارا له عالمانو سره وو.

د یهودو او نصاراوو عالمان چې چېرې وو، دا روایات او اخبار یې په تفصیل ویل له دې ځنې هغه معلومات وو، چې دوی عبدالمطلب او ابوطالب(د پېغمبر نیکه او تره) ته شرح کړي وو.

د یهودو عالمانو هم په مدینه کې دا معلومات خپاره کړي وو او خبر یې ورکړی و، چې دا پېغمبر به دې ښار ته هجرت وکړي؛ نوځکه ابوطالب د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم تر بعثت روسته دا چار بیاځلي په خپلو اشعارو کې وایه او همداراز مدینوال په مکه کې له پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم سره په لیده کاتو کې پوه شول، چې دا هماغه پېغمبر دی، چې یهودیانو یې په باب خبرې کولې او ایمان یې پرې راووړ.

## د حضرت محمد د زوکړې نمادين آثار

پر داسې يوه ورځ، متعال خدای، ستره الهي زېرمه، چې د رسول الله سپېڅلی وجود و، وپنځاوه. دا پيل د بشريت په برخليک ټاکنه کې يوه مقطع وه. د آنحضرت د زوکړې په باب يې ويلي، چې کله وزيږېد، د کسری ماڼۍ ستنې راونړېدې، د آذر ګشسب اورتون، چې پېړۍ پېړۍ لګېدلی و، مړ شو، د ساوه سيند، چې د هغه مهال د خلکو لپاره يو سپېڅلی سيند و، وچ شو او هغه بوتان رانسکور شول، چې د کعبې په شاوخوا کې راځړېدلي وو. دا نښانې، چې په بشپړه توګه رمزي او نمادين دي، ددې سپېڅلي او ستر د زوکړې په پار د الهي سنت او ارادې ښوونکې ده. ددې نمادينو پېښو معنا داده، چې په دې مبارکو ګامونو به د بشر د ذلت ټغر، که جابر او مستبدو واکمنانو خپور کړی وي- لکه څه چې د هغه مهال په روم او ايران کې ول- راټول شي او که د غير الله د عبادت په وسيله وي، بايد ټغر يې راټول شي. بشر بايد په دې سپېڅلې زوکړه، ازاد شي، هم له هغه ظلمه، چې ظالمانو واکمنانو د تاريخ په بهير کې په مظلومو انسانانو ورتپلی و او د هغو خرافاتو او ناسمو ګروهو له قيد او بنده، چې انسان له ځانه يوې پرېوتي موجوداتو ته ستايونکی او ذليلوي. نو آيت د نبي اکرم (ص) د بعثت په باب وايي: ((هو الذى ارسل رسوله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كله و كفى بالله شهيد[1])) ليظهره على الدين كله. زمانبندي شوی نه دی؛ دا لوری راښيي. بشريت بايد د دې پېښې په وسيله د مانيزې، ټولنيزې، حقيقي او عقلاني ازادۍ پر لوري حرکت وکړي. دا چار پيل شو او دوام يې زموږ د انسانانو په خپلو لاسونو کې دی. دا هم په پنځون نړۍ کې يو بل سنت دی.

که انسانان ډېر کار، کوښښ او همت وکړي؛ نو الهي موخو- چې په الهي کړلارو کې ټاکل شوې دي- ته ژر ورسي؛ خو که په کار يې وا نه چوي او کمزوري وښيي؛ نو په دې لار کې به په کلونو کلونو وځنډېږي؛ لکه د بني اسراييلو تيه؛ ((اربعين سنة يتيهون فى الارض[2])) بني اسراييل له خپله لاسه په بيديا کې سرګردانه او ځلبانده شول. بني اسراييلو کولای شول، له هغو سختو او کړمنو حالاتو مخه ونيسي، کولای يې شول، چې موده يې رالنډه کړي او کولای يې شول، چې په خپلو کمزوريو يې موده اوږده کړي. زموږ برخليک هم همدا دی. د مسلمانانو لپاره هم، د بشر د

---

[1]. د فتح سورت، ۲۸ آيت.

[2]. د مايده سورت، ۲٦ آيت.

پنځون لوری، بعثت او د پالونکي له لوري د رسولانو او د کتابونو د رالیږلو فلسفه ویل شوې او تاکل شوې ده. په خپله انسانان دي، چې کولای شي، دا لار لنډه یا اوږده کړي، کولای شي، ژر یا په ځنډ مقصد ته ورسي.

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د وجود له رحمته د بشریت د ګټنې د نښې نښانو راڅرګندېدل

د مکرم نبي زوکړه، د بشر په ژوند کې د روڼ سهار پیل و. په دې زوکړې سره، د هغه مهال د خلکو پر سترګو الهي زېري راغلل. د ظالمو پاچیانو د ماڼیو ستنې ړنګې شوې، اورتونونه مړه شول او په الهي ځواک سره د نړۍ په بېلابېلو برخو کې خرافات او کږنې انګېرنې له منځه ولاړې. دا زوکړه د بعثت سریزه وه او دا بعثت د ټولو نړیوالو لپاره یوه لورنه وه؛ لکه څنګه چې یې وویل: ((و ما ارسلناک الا رحمة للعالمین[1])) ټوله نړۍ د دې سپېڅلي وجود له برکته برخمن شوې دي. بشر چې څومره علمي پرمختګونه، په بېلابېلو چارو کې په پوهاویو کې پرمختګ او علمي رابرسېرنې کړي دي، په هغه هېښنده تاریخي پېر کې د اسلام د رڼا د راختو له لامله دي او دا نعمت خلکو ته ورکړل شو. که بشر ډېره پوهه درلودای، ژور معرفت یې درلود او رسول الله یې پېژندلای وای، اسلام یې پېژندلای وای او د هغه پر پېغام یې سر خلاص کړای وای؛ نو نن د بشر د تاریخ پاڼه به بله پاڼه وه. زموږ د انسانانو ناپوهي، زموږ د انسانانو لنډوینې موږ روسته پاتې کړي یو.

یقینا څومره چې تاریخ پر مخ ځي او څومره چې د پوهېدو لپاره د بشر معرفت او ظرفیت لوړېږي؛ نو دا ځلنده لمر به هومره ډېر څرګندوي او د دې ژوند له رڼا به د بشر برخمني ډېرېږي او موږ د دې چار نښې نښانې نن وینو.

نن نړۍ د توکیز تمدن له لامله او د درونو پېټو د ورتپلو له لامله پوزې ته راغلې دی او د خلاصون په لار پسې دي. نن چې تاسې له اسلامي ویښتیا ځنې، په ځینو اسلامي هېوادونو؛ لکه مصر او تونس کې وینئ، د بشریت پوزې ته له راتګه یوه بېلګه ده. چې کله شیطانان د انسانانو پر ژوند واکمنېږي- چې انساني شیطانان تر پیریاني شیطانانو خورا خطرناک دي- د نړۍ مستکبران، چې د خلکو په ټولنیز ژوند، د خلکو په وګړیز ژوند، د خلکو په اقتصاد، د خلکو په لید او پوهه کې لاسوهنه کوي او هغوی کږې لارې ته راکاږي؛ نو ژوند تورتمېږي او د ژوند دا تورتمونه او درونوالی د انسانانو له فطرت

[1]. د انبیاء سورت، ۱۰۷ آیت.

سره اړخ نه لګوي او بالاخره د انسانانو فطرت راويښېږي. دا هغه چار دی، چې په اسلامي نړۍ کې راپېښېږي. لويديزه نړۍ هم چې د توکيز ځواک ښکېله ده، نن پوزې ته راغلې ده. که چېرې موږ مسلمانانو کولای شوای، چې اسلام مو په سمه توګه ورمعرفي کړی وای او که کړنو مو له اسلام سره اړخ درلودای؛ نو ډاډمن ووسئ، چې په نړۍ کې به اسلام ته يوه ډله ايزه او عمومي لېوالتيا پيدا شوې وای. کمزوري په موږ کې ده، بايد ځانونه سم کړو، بايد ځانونه اصلاح کړو.

## د حضرت محمد (ص) زوکړه؛ پر بشريت تلپاتې الهي لورنه ده

دا ستره زوکړه، د بشريت لپاره د تر ټولو د غوره الهي لورنو بېلګه ده؛ ځکه د آنحضرت (ص) وجود او ددې ستر پيغمبر رالېږل، پر بندګانو د حق تعالی يوه ستره لورنه وه. اسلامي نړۍ بايد دا خبره درک کړي، چې دا لورنه لنډمهاله نه ده؛ بلکې همېشنۍ او پرله پسې لورنه ده. پر هغه ورځ، ډېری د بشر وګړي، د جهالت له مخې يا د خودخواهانه تعصبونو له لامله، د بشر د هدايت او د نور له مظهر سره وجنګېدل؛ سره له دې چې رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) د بشريت له اوږو د پېټي اوچتولو لپاره نړۍ ته راغلی و: ((ويضع عنهم اصرهم الاغلال التی کانت عليهم[1])) د هغه مهال د بشر پر اوږو کوم درانه پېټي ول! په کومو درنو زنځيرونو د بشر ورمېږونه تړل شوي ول! نن هم همداسې ده.

که نن څوک ادعا وکړي، چې د ننني بشر پر اوږو داسې درانه پېټي دي، چې د جزيزة العرب د جاهليت د پېر تر بشره درانه دي؛ نو ايله خبره به يې نه وي کړي. دا ظلمونه، چې په ګرد بشريت کېږي، دا حقونه، چې د بشر لتاړل کېږي. د بشريت په ژوند کې د ماديت لاسبرول او د انسانانو د ژوند له چاپېرياله د معنويت ګوښې کول، چې نن په زوره په بشريت ورتپل کېږي. دا د بشر پر اوږو پېټی دی. څه چې نن بشريت په صنعتي پېر کې د جذابې او تېرايستونکې ماديګرۍ تر سيوري لاندې احساسوي، خورا درون او خورا سخت – او په ځينو ځايونو کې – خورا تريخ دی، چې بشر د جاهليت په تورتمونو کې، د اسلام د راښکاره کېدو پر مهال احساساوه او د هغوی پر اوږو يې درونوالی کاوه.

که نن بشر دې رحمت ته ورمتوجه شي – د اسلام د شتون لورنه، د نبوي ښوونو لورنه، د يووالي دا راخوټېدونکې سرچينه – او

[1]. د اعراف سورت، ۱۵۷ آيت.

هغه ومومي او ځان پرې خړوب کړي؛ نو د بشر تر ټولو ستره ستونزه به هواره شي. که څه نن هم د نړۍ شته تمدنونه د اسلام له ښوونو برخمن شوي دي او بېشکه په بشر کې چې څه ښه ځانګړنې، ښه کړنلارې او لوړ مفاهیم دي، له الهي اديانو، د انبياوو (ع) له ښوونو او آسماني وحې اخستل شوي دي او ډېری برخه يې په اسلام پورې اړوند ده؛ خو نن بشر د اسلام معنويت، صفا، څرګندو او حق ښوونو – چې هر انصاف لرونکی زړه دا ښوونې مني او پوهېږي پرې – ته اړتيا لري.

نو ځکه دي، چې اسلامي بلنې په نړۍ کې پلويان پيدا کړي دي او ډېر نامسلمانو هم د اسلام بلنه منلې ده. د اسلام د بلنې منل، په رسمي توګه د اسلام د دين د منلو په معنا نه ده. دا يې يو پړاو دی او بل پړاو يې دادی، چې د نړۍ خلک په يوه خبره کې د اسلام د دين پېغام، ښوونې، حقايق او وړانديزونه ومني. نن هغه ورځ ده، چې کله ولسونه د اسلام پېغام اوري؛ نو داسې احساسوي، چې ورته ګټور دي او کولای شي، د هغوی د ژوند تشې ډکې کړي. څه چې اسلام د انسان د ارزښت او موخو په باب وايي، څه چې اسلام د کورنۍ، ښځې، د علم د موخو او يو له بل سره د ټولنو د اړيکو او د کمزوريو او پياوړيو د ټولنيزو اړيکو په باب وايي، هغه څه دي، چې نن کوم خلک چې د بېلابېلو تمدنونو تر سيوري لاندې ژوندکوي او چې کله دوی ته ګوري؛ نو احساسوي، چې د ژوند د ستونزو غوټې يې په دې څېزونه پرانستل کېږي. نو د اسلام پېغام په زړه پورې دی؛ نو په همدې دليل دي، چې نړيوال استکبار او د نړۍ تبليغاتي غونډالونه – چې د زور او د انسان ځېنې په مرکزونو پورې اړوند دي- د اسلام له پېغام سره زيږ او له دښمنۍ ډک چلن کوي.

## میلاد النبي

د هر ستر انسان د ژوند هر څپرکی د څېړنې وړ دی. کله د یو انسان شخصیت دومره ستر وي، چې د ژوند ټول څپرکي، ان د ماشومتوب او تیخوری پړاو یې هم پاموړ ګرځي.
د ټولنو د لارښوونکیو، د خپل وخت د نابغه وو او د تمدن د قافلې د مشرانو ژوند، معمولاً له خوندورو، پام وړ، حساسو او هېښندو ټکیو ډك وي، د ژوند کتاب یې له هغه وخ ته چې څاڅکی یې تړل کېږي، ترمړینې له اسرارو ډك وي.
قرآن شریف[1] د حضرت موسی علیه السلام د ژوند کیسه ډېره رازمنه سپړلې او وايي: د سلګونو ماشومانو سرونه؛ ځکه پرې شول، چې موسی ونه زیږي خو الهي اراده وه، چې موسی باید وزیږي؛ نو نه یوازې دښمنانو یې کوچنی شانته ازار ور و نه رسولای شو بلکې تر ټولو لوی دښمن یې ملاتړ شو.
قرآن شریف وايي: ((د موسی مور ته مو وحې وکړه، چې خپل زوی په یوه صندوق کې کېږدي، د اوبو څپې به یې ساحل ته ورسوي. زما او د هغه دښمن به یې ملاتړ شي، مینه به یې د دښمنانو په زړونو کې پیدا کړم او زوی به دې بېرته در وګرځوم.
د موسی خور د فرعون ښار ته ورغله او و یې ویل: زه داسې ښځه پېژنم، چې کړای شي، ستاسې دا په زړه پورې زوی وروزي نو د حضرت موسی مور د حکومت له لوري موظفه شوه، چې د هغوی د خوښې ماشوم وروزي.))
د حضرت "عیسی" علیه السلام زوکړه او روزنه به دې تر موسی علیه السلام هم زیات حیران کړي.
قرآن شریف د حضرت مسیح کیسه داسې راوړې ده.[2]
((مریم، د مسیح مور، له خپل قومه لرې شوه، روح (جبرائیل) په بشري بڼه راغی او زېری یې پر وکړ، چې مامور یم، تا ته سپېڅلی زوی درکړم.
مریم حیرانه شوه او و یې ویل: له ما سره خو چا کوروالی نه دی کړی او زه په خپله هم بدکاره نه یم. استازي مو ورته وویل: دا کار الله ته اسان دی، چې بالاخره، الله د مسیح رڼا د هغه د مور په زیلانځ کې کېښووه، د زیږون د درد له لاسه، د خرما ونې ته ولاړه، له خپل زیږونه په خپګان کې وه، حکم مو ورکړ، چې د خرما ونه وخوځوي، چې تازه خرما ترې راتویه شي، زوی یې وزیږېد او مریم له خپل زوی سره خپل ټبر ته ورغله. د خلکو خولې له حیرته وازې شوې او پر مریم د نیوکو سیلاب

[1] (طه سورت ٤١-٤٣ آیتونه)

[2]. تاریخ طبری، ٢ج/ ٧-٨، سیره حلبی ١ج/٥٩.

رامات شو، مريم ته حکم شوی و: څوك چې هره پوښتنه لري؛ نو له دې ماشومه دې يې وکړي. هغوی وويل: آيا په زانګو کې تيخور ويده ماشوم خبرې کړای شي؟ په دې وخت کې "عيسی" خبرې پيل کړې او و يې ويل: زه د الله بنده يم، د الله کتاب او د پيغمبرانو په لړ کې يم.[1]

چې د قرآن، "تورات" او مسيح پلويان ددې دوو الوالعزمو پيغمرانو د زوکړې په باب په ډاډ پر بيان شويو مسايلوګواهي ورکوي؛ نو ولې د اسلام د پيغمبر د زوکړې حيرانوونکې پيښې سختې وګڼل شي او انسان پرې حيران شي. ؟

د احاديثو او تاريخ په کتابو کې لولو: د حضرت "محمد" صلی الله عليه و آله و سلم د زوکړې پرمهال د "کسری" ماڼۍ درزمنه شوه او څو ستنې يې ونړېدې، "د فارس اورتون" مړ شو، د "ساوه سمندر" وچ شو، د مکې بوتان رانسکور شول، له مبارك تنه يې يوه رڼا، چې له لرې کتل کېده د اسمان پر لور اوچته شوه. "انوشېروان" بوږنوړی خوب وليد. حضرت "محمد"(ص)، چې وزيږېد؛ نو نوم يې پرې شوی و او سنت شوی هم و او و يې ويل: ((الله اکبر والحمدلله کثيراً سبحان الله بکرة واصيلاً.))[2]

د پيغمبر اعظم (ص) له زوکړې سره سم، ځينې راپيښې شوې پيښې

د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم زوکړه، يوازې يوه تاريخي پيښه نه ده؛ د بشريت د مسير يوه ټاکونکې پيښه هم ده. د تاريخ د نقل له مخې، هغه پيښې، چې د آنحضرت له زوکړې سم راپيښې شوې دي، دې حقيقت او معنا ته يوه څرګنده اشاره ده. رانقل کړي يې دي، چې د اسلام د مکرم نبي (صلی الله عليه و آله وسلم) د زوکړې پر مهال، د نړۍ په بېلابېلو ګوټونو کې د کفر او شرک نښانې ګډې وډې شوې. د فارس اورتون، چې زر کاله پرله پسې بل و، د رسول الله د زوکړې پر مهال مړ شو. په معبدونو کې بوتان راپرېوتل او بوتلمانځنې، د معبدونو راهبان او چوپړيالان حيران او هک پک پاتې شول، چې دا څه وشول! دا د کفر، شرک او توکيزپالۍ پر نښو نښانو يو نمادين ګوزار و. بلخوا د هغه ورځ د مشرک ايرانۍ امپراطورۍ د جبارانو په ماڼۍ کې هم ګډوډي شوه؛ د ماڼۍ ستنې-څوارلس ستنې- راونړېدې. دا هم يوه بله نمادينه اشاره ده، چې دا زوکړه په نړۍ کې له سرغړونو سره د مبارزې سريزه او زمينه ده؛ له طاغوتانو سره مبارزه. هغه د معنويت او

[1]. سوره مريم ١٨-٣٣

[2]. يعقوبي تاريخ ٢ټوك/٥، بحارالانور، ١٥ټوك/ ٢٤٨، سيره حلبی ١ټوك/ ٦٤

د انسان د زړګني او اندېز هدايت اړخ او دا د ټول بشر د ټولنيز هدايت اړخ. له ظلم سره مبارزه، له سرغړونې سره مبارزه، پر خلکو د ظالمانو له ناحقه واکمنۍ سره مبارزه؛ دا د رسول الله د زوکړې نمادين اشارتونه دي. اميرالمؤمنين عليه السلام په نهج البلاغه کې د هغه مهال په توصيف کې خورا جملې لري، چې رسول الله-دا ځلنده لمر- پکې راښکاره شو. له هغوی جملې ځنې وايي: ((و الدنيا کاسفة النور ظاهرة الغرور[1])) د بشر په ژوند کې رڼا نه وه؛ انسانانو په تورتم کې ژوند کاوه؛ د ناپوهۍ تورتم، د سرغړاندۍ تورتم، د بې لارۍ تورتم، البته د دې ټولو تورتمونو مظهر هماغه د نړۍ هماغه ټکی و، چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم پکې مولود او بيا مبعوث شو؛ يعنې جزيرة العرب. د ټولو تورتمونو او بې لاريو يوه يوه بېلګه په مکه او د جزيرة العرب په عربي ژوند چاپېريال کې شتون درلود. اندېزې او ګروهيزې بې لارۍ، د انسان ذليلوونکی شرک، ځيګ ټولنيز اخلاق، د زړه بې رحمي او دښمنۍ، چې: ((و اذا بشر احدهم بالانثی ظل وجهه مسودا هو کظيم يتواری من القوم من سوء ما بشر به ايمسکه علی هون ام يدسه فی التراب الا ساء ما يحکمون[2])) دا د رسول الله د زوکړې او ورپسې د بعثت پر مهال د بشر د اخلاقو بېلګې دي. ((و کان بعده هدی من الضلال و نورا من العمی[3])) بشريت ړوند و، ليدونکی شو. نړۍ تورتم وه، د رسول الله د وجود په نور، رڼا شوه. دا د دې سترې زوکړې او ورپسې د بعثت معنا ده. نه يوازې موږ مسلمانان د دې سپېڅلې زوکړې په پار د الهي منت او الهي نعمت رهين يو؛ بلکې ټول انسانيت د دې نعمت رهين دی.

سمه ده، چې ډېرې پېړۍ وشوې، چې د رسول الله هدايت تر اوسه لا ټول بشريت نه دی رانغاړلی؛ خو دا ځلنده څراغ، دا ورځ په ورځ خورا ځلېدونکې لمبه، په بشريت کې شته او سوکه سوکه به د کلونو او پېړيو په ترڅ کې انسان د رڼا ددې سرچينې پر لوري هدايتوي.

او د رسول الله د زوکړې او بعثت روسته تاريخ ته چې وګورئ؛ نو ټول تدبير به وګورئ. انسانيت د ارزښتونو پر لور حرکت کړی دی، ارزښتونه يې پېژندلي دي، سوکه سوکه به پراختيا مومي او شدت به يې ورځ تر بلې ډېرېږي، تردې چې انشاء الله ((ليظهره علی الدين کله و لو کره المشرکون[4])) ټوله نړۍ به راونغاړي او

[1].نهج البلاغه، ۸۸ خطبه.
[2]. د نحل سورت، ۵۸ او ۵۹ آيتونه.
[3]. اقبال الاعمال، لومړی ټوک، ۲۹۵ مخ.
[4]. د توبه سورت، ۳۳ آيت.

بشريت به د الهي هدايت او صراط مستقيم پر لار خپل حقيقي حرکت پيل کړي، چې په واقع کې د بشر د ژوند پيل به له هغې ورځې وي. پر هغه ورځ، چې د خدای حجت پر خلکو پای ومومي او بشر به پردې شاهراه شي.

موږ نن د اسلامي امت په نامه د دې ستر نعمت پر وړاندې يو، بايد له دې نعمت نه ګټه وکړو. بايد خپل زړه، خپل دين، خپل اند، خپله نړۍ، خپل ژوند او خپل چاپېريال د دې سپېڅلي دين د ښوونو په برکت روڼ او روښانه کړو؛ ځکه چې رڼا ده، بصيرت او ليدانه ده، کولای شو، ځان ورنږدې کړو او کولای شو ګټنه ترې وکړو، دا زموږ د عمومو مسلمانانو دنده ده.

پر څه چې زه نن اډانه کوم، چې زموږ د مسلمانانو له سترو او لومړۍ درجو دندو څخې ده، د اتحاد او وحدت مسله ده. موږ دا اونۍ، چې پای يې د ربيع الاول اوولسم دی، د انقلاب له پيله د وحدت اونۍ نومولې ده او لامل يې همدا دی، چې د ربيع الاول دولسم، د مشهور روايت له مخې، د اهل سنتو ورونو ترمنځ د زوکړې ورځ ده او د ربيع الاول اوولسم د مشهور روايت له مخې، په شيعه وو کې د زوکړې ورځ ده.

ټول ستر مقصودونه، هڅو ته اړتيا لري، يو داسې ستر مقصد هم نشته، چې بې هڅې به لاس ته راشي. د مسلمانانو ترمنځ يووالی هم بې هڅې او مجاهدته لاس ته نه راځي.

دا زموږ دنده، چې د اسلامي نړۍ د يووالي لپاره هڅې وکړو. دا يووالی کولای شي، د ډېرو ستونزو غوټې پرانځي؛ کولای شي، اسلامي ټولنې او مسلمان ولسونه عزيز کړي. وګورئ، چې د اسلامي نړۍ حالات څنګه دي. وګورئ مسلمانان، چې د نړۍ څلورمه برخه نفوس جوړوي، نن يې حالات څنګه دي. د نړۍ پر سياستونو، ان په خپلو کورنيو مسلو کې يې هم اغېز تر پرديو ځواکونو او د ناوړه نيت خاوندانو ځواکونو خورا کمزوری او لږ دی. دا يوازې د ځواکونو د پرديوالي له لامله نه دي- چې موږ ځان او مخاطبان مو ترې ژغورو- هغوی ناوړه نيت لري؛ د سلطه غواړۍ انګېزې لري، غواړي د ځانونو پر وړاندې، اسلامي ولسونه ذليل کړي، سپک يې کړي او خپل اطاعت ته يې اړ باسي.

ښه، دا څو پنځوس اسلامي هېوادونه، دا مسلمان ولسونه، د دې لپاره چې د داسې يو ستر ځرګند ناوړه او بدمعاش نيت پر وړاندې ودرېږي، لار يې څه ده؟ بې له يووالي؟ بايد سره نږدې شو. د يووالي پر وړاندې دوه غټ او ټوليز لاملونه شتون لري، چې بايد درملنه يې وشي.

يو لامل کورنی لامل دی: زموږ تعصبونه، پر خپل ګروهو مو پابندي؛ هره ډله د خپل ځان لپاره. بايد پردې لاسبري شو. پر خپلو

مبادیو او اصولو او عقایدو ایمان خورا ښه چار دی؛ ټینګار هم پرې ښه چار دی؛ خو دا نباید د اثبات له بریده، له تعرض او دښمنۍ سره د نفې برید ته ور واوړي. هغه ورونه، چې د اسلامي امت په ټولګه کې دي، یو د بل درناوی دې وساتي، که غواړي، چې عقاید وساتي، و دې یې ساتي؛ خو د بل درناوی، د نورو بریدونه، د نورو حقوق او د هغوی د افکارو او عقایدو درناوی او حرمت دې وکړي او بحث او مجادله دې په علمي غونډو کې وکړي. علماء او اهل فن، غواړي کېني او مذهبي بحثونه وکړي، و دې یې کړي؛ خو عالمانه مذهبي بحث او هغه هم په علمي ناسته کې، په ښکاره یو بل ته له سپکو سپورو ویلو سره، د عمومي افکارو په کچه، له هغو افکارو سره په مخاطبه کې چې د علمي تجزیې او تحلیل ځواک نه لري، سره خورا توپیر لري. ددې چار مخه باید علماء ونیسي؛ چارواکي یې باید مخه ونیسي. د مسلمانانو ټولي ډلې په دې باب دنده لري. شیعه هم دنده لري، سني هم دنده لري؛ باید د یووالي پر لور ولاړ شي. دا یو لامل، چې کورنی لامل دی.

یو بهرنی لامل هم د اسلام د دښمنانو مغرض درز اچونکی لاس دی. له دې څنې باید غفلت ونشي. نه یوازې نن؛ بلکې له هغې ورځې، چې په نړۍ کې واکمنو



سیاسي ځواکونو احساس وکړل، چې کولای شي، پر ولسونو اغېز وشیندي، دا درز اچوونکی لاس رامنځ ته شوی او نن تر پخوا هر کله خورا په شدت سره. د ډله ایزو اړیکو وسایل، هغه ماډرن وسایل، چې نن شتون لري، دا هم مرسته کوي. باید آګاه ووسو؛ باید هوښیار ووسو. په خواشینۍ سره، چې په مسلمان ولسونو او اسلامي نړۍ کې یو لړ وګړي، د اصلي دښمن د کړنو سر ته رسوونکي کېږي.

## توحید او عدالت، بشریت ته د حضرت محمد (ص) مانیزې ډالۍ دي

د اسلام د پېغمبر د زوکړې ورځ، ددې مکرم مولود په ناپایه برکتونو کې د تدبر ورځ ده، چې کېدای شي وویلای شو: ددې زوکړې تر ټولو ستر برکت، بشري ټولنو ته د توحید او عدالت ډالۍ کول دي. د نن انسانان هم، چې د علم د پرمختګ او د بشر د فکر د سترو پرمختګونو ورځ ده؛ خو د ګروهې په نړۍ کې بندیوان شوي دي؛ ان په هغو هېوادونو کې چې له توکیز پلوه خورا پرمختللي هم دي؛ نو څرګندېږي، چې په توحید ګروهه، له هغو ټولو برکتونو سره چې لري، یوه نورانیت ته اړتیا لري، چې بې له هغه عقله، چې په الهي وحې هدایت شوی وي، ور رسېدل

ورته ناشوني دي. دا ډلې زموږ ګران پېغمبر (ص) موږ او بشريت ته راکړه؛ لکه څنګه چې تېرو انبياوو ورکړې وه. پر توحيد ګروهه، د انسان په زړه او ماغزو او ان د ژوند په زمينه کې خورا بركتونه لري، چې بايد اندنه پکې وشي او د توحيد د اغېزو او بركتونو پر لور حركت وكړو.

يوه بله ستره الهي ډالۍ، چې په دې زوکړه، بشريت ته ورډالۍ شوه، عدل او عدالت دی. هغه انسان ته د عدل او عدالت ډالۍ، چې په بې عدالتۍ ككړ او پكې راګېر دی. د تاريخ له پيله تر نن پورې د بشريت ستره ستونزه، بې عدالتي ده. دا دين، چې دې مكرمې زوکړې، بشريت ته راوړاندې كړ، انسانان په خپل ژوند كې د توحيد او عدل په څېر سترو چارو ته رابلي؛ نو ددې ورځې بركتونه، هغه بركتونه دي،چې لومړی داچې په ټول بشريت پورې اړه لري؛ يعنې هر څوک چې وكولای شي، ګټنه ترې وكړي؛ دويم داچې په يوه ځانګړي وخت پورې را ايسار نه دی. نن هم بشر دې ته اړتيا لري، چې نړه توحيد او د اسلامي عدل حكم او هغه نسخه، چې اسلام د بشريت د عدالت لپاره وركړې ده، ورستون شي، چې و يې ويل: ((ان اكرمكم عندالله اتقاكم[1]))؛ يعنې تقوا او پرهېزګارۍ او ځانساتۍ ته بلنه، د انسانانو ترمنځ د درز اچونې د انګېزو شاته اچول؛ لكه قوميت، توكم، وينه، رنګ او داسې نور......

نن نړۍ له توكيز پلوه خورا پرمختللې او په پرمختللي هېوادونو كې اوس هم د تور او سپين خبره او ستونزه ده. تور پوستكی په بريدونو كې را ايسار دی او همداراز سپين پوټكی هم. اوس هم توكميزې جګړې شته؛ د وينې جګړې شته، د قوميتونو جګړه شته او د ددې قومي او مليتي ساختګي جګړو په پار ځومره انسانان له منځه ځي؛ وژل كېږي او حقوق يې لتاړل كېږي او در په در خاورې پر سر كېږي! نو نن هم بشر د وحدت، توحيد او عدل غږ ته اړتيا لري، چې بېرغچي يې اسلام او مسلمانان دي. څوک له دې سره مخالف دی؟ هغه ځواكونه، چې له دې درز او تفرقې ګټنه كوي او د ژوند بنسټ او فلسفه يې پر تبيعض ولاړه ده. نن د توكيزې نړۍ ستر ځواكونه؛ يعنې همغوی چې په خپلو هېوادونو كې د ډيموكراسۍ نارې وهي او د ډيموكراسۍ او د ټولنې د وګړيو د حقوقو د يو شان والي ادعا كوي او يوازې په وينا كې د حكومتونو له استبداد سره مخالف دي او بيا همدوی دي، چې په نړۍ كې يې ډيموكراسي له منځه وړې ده. يوه ملت ته پر بل ملت غوراوی وركول، يوې سيمې ته پر بلې سيمې غوراوی

[1] د حجرات سورت، ۱۳ آيت.

ورکول، یوې وینې ته پر بلې وینې غوراوی ورکول! استبداد یې پر نړۍ واکمن کړ، چې څنګه یې چې خوښه وي، هماغسې نړۍ سمبال کړي.

## د حضرت محمد (ص) د زوکړې د ارزښت بېلابېل اړخونه؛ د بعثت په پېر کې او د تاریخ په ټولو پېرونو کې

د نبي اکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) زوکړه له څو اړخه موږ مسلمانانو ته ارزښتمنه ده؛ یعنې د زوکړې خورا له معنا او مضمونه ډکه ورځ ده.

لومړی اړخ دادی، چې د آنحضرت (ص) زوکړه، په نړۍ او تاریخ کې، په یوه داسې مهال کې واقع شوه، چې بشریت، کوم ځانګړی ولس یا هېواد نه ښیو؛ بلکې د بشریت ټولګې، دوه سترې ځانګړنې درلودې: یو له دې دوو ځانګړنو څنې دا وه، چې له علمي، عقلاني او اندیز پلوه د خپل تېر پېر د بشر په پرتله خورا مخکې وو. د هغوی په منځ کې فیلسوفان رامنځ ته شول، پوهان راپیدا شول، ریاضي پوهان، طبیبان، انجینیران او ستر تمدنونه یې درلودل. دا تمدنونه بې علمه نه رامنځ ته



کېدل! په لویدیځ کې آکاډیمیانې، په ختیځ کې هګمتانه، د چین تمدن، د مصر تمدن، ستر تاریخي تمدنونه، ټول تېر شوي ول؛ یعنې بشر بشپړ شوی و. دا یوه ځانګړنه.

دویمه ځانګړنه، چې ددې دوو ځانګړنو یو ځای کېدل خورا هېښنده دي، دا ده، چې پر هغه مهال بشر له اخلاقي پلوه د خپل تېر په پرتله خورا روسته پاتې او که داسې اصطلاح و نه وایو؛ نو ویلای شو، چې له اخلاقي پلوه خورا پرېوتی و. همدا له پوهې برخمن بشر، په شدت په تعصباتو، خرافاتو، خودخواهیو او په بشري ضد او ولس وژونکیو حکومتونو کې راښکېل و او داسې یو حالت پر نړۍ واکمن و. که څوک تاریخ ولولي؛ نو و به ګوري، چې هغه مهال ټول بشر بندیوان و؛ لکه څنګه چې د امیرالمؤمنین علیه السلام وینا ده: ((فی فتن داستهم باخفافها و طیتم باظلاقها و قامت علی سنابکها[1])) په خورا فتنو، دباوونو، ستونزو او ورور وژنه کې، بشر خورا تریخ ژوند درلود.((نومهم سهود)) په همدې خطبه کې امیرالمؤمنین وایي: ((خلکو ارام خوب نه درلود)).

دا به تېروتنه وي، چې څوک ووایي، چې دا ستونزې یوازې په جزیرة العرب کې

[1] د نهج البلاغه شرح (ابن ابی الحدید) لومړی ټوک، ۱۳٦ مخ.

وي؛نه! د نړۍ د هغه مهال د تمدن په زانګو؛ یعنې روم ته هم که تاسې وګورئ، هلته هم همدا خبرې وې او په اصطلاح کې ادعا یې کوله، چې دیموکراسي او سنا لري؛ خو داسې استبدادونه او فسادونه پر خلکو واکمن وو، چې تاسې یې کله کتاب ولولئ؛ نو په ځان پورې به خپجله شئ. انسان شرمېږي، چې بشر یو مهال دومره پرېوتی و. ایران هم، له دې پلوه تر لرغوني روم نه غوره نه و. دوی هم ځواک، توره، نېزه، جګړې او مېړني درلودل؛ خو پاټکیز اړپېچ، ظلم، تبعیض، فساد، زورواکي، جهل او خرافات هم له بریده اوختي ول. په داسې یو شرایطوکې دا مبارک مولود او دې پیغام راوړونکي د بشر ژغورنې ته راودانګل.

داچې په تاریخ او کتابونو کې شته، چې د کسرى د ماڼۍ ستنې ماتې شوې او په نړۍ کې د بوتلمانځنې نبانې څپڅپانده شوې، که دا آثار قطعیت ولري؛ نو شونې ده، هماغه الهي ځواکښوونه وي؛ د یو رمز د اعلام لپاره، چې دا ځواک به د ظلم او فساد ټولې جرړې رانړوي او پوهه به له خرافو او تمدن به له فساد او ظلمونو پاک کړي.دا چار زموږ سپېڅلي پیغمبر (ص) ترسره کړ. دا سپېڅلی مولود، د خپل بعثت پر مهال له داسې یوې نړۍ سره مخ شو او په یو خورا ستونزمن جهاد یې، انسانیت له ناپوهۍ، له خرافاتو، له فساد، له ظلم، له تعصباتو، پر یو بل د انسانانو له زورواکۍ او د هغوی پر اوږو له ورسورېدو، وژغوره. له بیخه یې د بشریت په ټغر کې بدلون راوست.یو نوی ټغر او نوي حالات یې په بشر کې رامنځ ته کړل؛ خو ځرګنده ده، چې د رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) کار دا نه و، چې ټوله نړۍ اصلاح کړي. نه ! آنحضرت باید دا عملي مستوره او دا سمه بېلګه، له الهي وحې اخستې وای او بشر ته یې ورکړې وای، چې بشر په خپل ژوند کې ترې کار واخلي. داچې چا ترې کار واخست او چا شاته واچاوه، دا بېله وییینه ده. آنحضرت (ص) خپل رسالت په بشپړه توګه تر سره کړ او خپله دنده یې سر ته ورسوله او له دې فاني نړۍ یې سترګې پټې کړې.

نن هم دا میلاد او زوکړه له دې اړخه مهمه ده، چې توجه وکړو، چې دنیا هم له علمي پلوه پرمختګ کړی او هم له اخلاقي پلوه راپرېوتې ده. د نړۍ چار دې ته را رسېدلی، چې د نړۍ ستر ځواکونه د خلکو په سترګو کې منکر معروفوي او معروف منکروي! زما په آند د فساد او تباهۍ په نړۍ کې تردې لوړ نور څه نشته. دا چې په روایت کې راغلي، چې رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) وویل: ((داسې کسان به راپیدا شي، چې پر منکر به امر کوي او له معروف نه به نهې کوي.)) انسان احساسوي، چې نن هم په نړۍ کې د نړۍ د سترو استکباري

ځواکونو له لامله دا رنګه يو حالات رامنځ ته شوي دي. نېغ د خلکو په سترګو ورننوځي او دروغ وايي او خپلو دې دروغو ته يو سپېڅلی چار وايي! ظلم ته هڅونه کوي او ظالم د خپل ظلم له لامله په حقه ګڼي! مظلوم رټي، مظلوم ځپي او دا مظلوم ځپنه ښه چار ګڼي.

## په تورات او انجيل کې د حضرت محمد (ص) د پيغمبرۍ وړاندوينه

*شک نشته، نن چې د تورات او انجيل په نامو کوم کتابونه د يهودو او مسيحيانو په لاس کې دي، هغه کتابونه نه دي، چې د الله تعالی له لوري پر حضرت موسی او حضرت مسيح عليهما السلام نازل شوي؛ بلکې د هغو کتابونو ټولگه ده، چې د هغوی يارانو او يا هغو وګړيو راټوله کړې، چې تر هغوی روسته زيږېدلي دي. ددې کتابونو يوه ځغلنده مطالعه، پردې مدعا يو ژوندی گواه دی او په خپله يهود او مسيحيان هم تردې ډېره ادعا نه لري.

البته شک نشته، چې د حضرت موسی او حضرت عيسی د ښوونو يوه برخه په دې کتابونو کې يې د لارويانو له لوري رانقل شوې ده؛ نوځکه له ټولو هغو مطالبو نټه - انکار نشو کړای، چې په عهد قديم (تورات او اړوند کتابونه يې) او عهد جديد(انجيل او اړوندو کتابونه يې) کې راغلي دي؛ بلکې ددې کتابونو منځپانگه، د الله تعالی ددې دوو پيغمبرانو د ښوونو او د نورو افکارو له ورگډ کړای شويو مطالبو گډوله ده.

په دې کتابونو کې په راتلونکې کې د يو ستر پيغمبر د راڅرگندېدو زېری ورکول شوی، چې ځانگړنې يې يوازې د اسلام له پيغمبر سره سمون خوري.

په زړه پورې خو داده، چې بې له هغو وړاندوينو، چې په دې کتابونو کې ليدل کېږي او پر حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم يې تطبيقوي. د «يوحنّا» انجيل په درېيو ځايونو کې په «فارقليط» کلمې ټينگار شوی، چې مانا يې ((تسلي ورکوونکی)) دی. دلته مو له نمونه تفسيره د يوحنا انجيل متن راخستی دی:

«او زه به مې له خپل پلاره وغواړم او هغه به بل ((تسلي ورکونکی)) درکړي، چې تر ابده به درسره پاتې شي[1]. »

او په ۱۵ باب کې راغلي دي:« او چې ((تسلي ورکونکی)) راشي؛ نو زما په اړه به شهادت ورکوي[2].»

او په ۱٦ باب کې هم لولو:« خو تاسې ته رښتيا وايم، چې تاسې ته گټوره ده، چې زه ولاړ شم، چې که زه ولاړ نشم؛ نو هغه ((تسلي ورکونکی)) به درنشي؛ خو که زه ولاړ شم؛ نو هغه ((تسلي ورکونکی)) به در واستوم[3]. »

مهمه داده، چې د اناجيلو په سرياني متن کې، چې له اصل يوناني ځنې اخستل

[1] - يوحنّا انجيل: ۱۴ باب، ۱٦ مه جمله.
[2] - انجيل يوحنّا، ۱۵ باب، ۲٦ مه جمله
[3] - يوحنّا انجيل، ۱٦ باب، ۸ مه جمله

شوی، د ((تسلي ورکونکي)) پر ځای، «پارقلیطا» راغلی او په یوناني متن کې «پیرکلتوس» چې د یوناني فرهنګ له نظره د «ستایل شوي وګړي» په مانا دی، چې په عربي کې یې د «محمّد و احمد» اصطلاحات اندول دي.
خو چې کله د کلیسا اربابان متوجه شول، چې دا ډول ژباړه یې تشکیلات خورا ټکني کوي؛ نو د «پیرکلتوس» پر ځای یې د «پاراکلتوس» کلمه ولیکله، چې د «تسلّي ورکوونکي »په مانا ده او په دې اړونې یې دا ژوندی سند واړاوه، که څه له دې دومره سترې اړونې سره سره، په راتلونکي کې د یو ستر پېغمبر راڅرګندېدل څرګند دي[1].
د فرانسې په ستر دایرة المعارف کې په دې اړه راغلي دي:
«محمّد، د اسلام د دین بنسټګر، د الله استازی او د پېغمبرانو خاتم دی. د «محمّد» کلمه؛ یعنې د ډېر ستایل شوي په مانا ده، چې جرړه یې له «حمد» څنې ده، چې د تجلیل او تمجید مانا ورکوي او بله نامه یې «احمد» ده، چې د «حمد» له جرړې دی او د «محمّد» کلمې هم مانا او هم لفظ دی، چې قوي احتمال یې دی، چې د عربستان مسیحیان یې د «فارقلیط» کلمې پرځای کاروي. احمد؛ یعنې ستایل شوی او ډېر ځلېدلی، چې د «پیرکلتوس» کلمې مانا ده او په ناسمه یې د هغه پر ځای د «پاراکلتوس» کلمه راوړې ده او په دې توګه اسلامي لیکوالو تل ویلي، چې له دې کلمې مراد، د اسلام د پېغمبر راڅرګندېدل دي. قرآن مجید هم په صف سورت، شپږم آیت کې دې خبرې ته په زغرده اشاره کوي[2]. »

**آیا د اسلام د پېغمبر نامه «احمد» وه؟**

الف)په تاریخي کتابونو کې راغلي، چې د اسلام پېغمبر صلی الله علیه و آله له ماشومتوبه دوې نامې درلودې او خلکو به دواړه نامې ورته اخستې، چې یوه یې «محمّد» او بله یې «احمد» وه. لومړی نامه یې نیکه؛ عبدالمطلب او دویمه نامه یې مور بي بي ورته ټاکلې وه. دا مطلب په حلبي سیره کې په تفصیل سره راغلی دی.
ب) یو له هغو کسانو څنې چې د اسلام پېغمبر صلی الله علیه و آله ته یې د «احمد» نامه ډېره اخستې ده، د آنحضرت تره «ابوطالب» دی او نن چې د ابوطالب دیوان په نامه کوم کتاب زموږ په لاسرس کې دی، ډېری اشعار پکې لیدل کېږي،

[1] – فرقان تفسیر.

[2] - د فرانسې ستر دایره المعارف، ۲۳ټ، ۴۱۷۶ مخ له نمونه تفسیر مو راخستی دی.

چې د اسلام پېغمبر ته پکې د «احمد۱»
نامه اخستل شوې؛ لکه:
ارادوا قتل احمد ظالموهم
و ليس بقتلهم فيهم زعيم
ظالمانو يې وژنې ته هوډ کړی و؛ خو دې
کار ته يې مشر و نه موند.
ج) «حسان بن ثابت» د پېغمبر اکرم د پېر
شاعر دی، چې دا تعبير پکې ډېر ليدل
کيږي:
مفجعه قد شفها فقد احمد
فظلت لآلاء الرّسول تعدّد
يوغمځپلی چې د احمد نشتون وارخطا
کړی و، تل يې د رسول ورکړې او
پېرزوينې شمېرلې۲.
* په حديث کې راغلي: پېغمبر اکرم صلی
الله عليه و آله وويل: پر ځمکه مې نامه،
«محمّد» او په آسمانونو کې «احمد»ده»۳.

[1] – د ابوطالب ديوان، له ۲۵ تر ۲۹ مخونه. ابن عساکر، تاريخ، ۱ ټ، ۲۷۵ مخ له نمونه تفسير مو راخستی دی.

[2] - د حسان بن ثابت ديوان، ۵۹ مخ، له نمونه تفسير مو راخستی دی.

[3] – برهان تفسير

## د حضرت محمد (ص) نامه اېښوونه

اوومه ورځ راورسېده. "عبدالمطلب" د الله په شکرانه کې پسه حلال کړ او خلك يې راوغوښتل، چې "قريش" هم پکې هم وو او پر خپل لمسي يې "محمد" نوم کېښود، چې وپوښتل شو، ولې دې پرې د "محمد" نوم کېښود، دا نوم خو په عربو کې ډېره مخينه نه لري؟ "عبدالمطلب": غوښتل مې په ځمکه او اسمانو کې وستايل شي.

په دې باب د رسول الله (ص) شاعر "حسان بن ثابت" ويلي:

((فشق له من اسمه ليجله فذوالعرش محمود و هذا محمد))

(الله تعالى له خپلو نومونو يو نوم په خپل استازي کېښود نو ځکه (الله) ((محمود)) او پېغمبر يې "محمد" دی)

دا دواړه ټکي له يوې رېښې دي او يوه مانا ورکوي.[1]

شك نشته، چې په دې نوم اېښوونه کې الهي الهام و ځکه که څه په عربو کې د "محمد" نوم مشهور و خو په هغه وخت کې لږو خلکو پر خپلو زامنو اېښوده.

شاعر وايي:

ان الذين سموا باسم محمد من قبل خير الناس ضعف الناس

[1]. سيره حلبي، ۱ټوك/۹۳

[2]. سيره حلبى ۱ټوك/ ۹۷



د اسلام له پېغمبرمخکې، شپاړس تنه، د "محمد" په نامه يادېدل.[2]

"احمد" د اسلام د پېغمبر له مشهورو نومونو و.

که چا لږه مطالعه کړې وي؛ نو پوهېږي چې د رسول الله (ص) دوه نومونه وو او خلکو به په دواړو ياداوه: يو "محمد" چې "عبدالمطلب" پرې اېښی و او بل "احمد"، چې مور يې (آمنې بي بي) پرې اېښی و. دا خبره په تاريخونو کې راغلې او "حلبي" په خپل "سيرة" کې هم راختسې ده.[3]

د رسول الله (ص) ګران تره "ابوطالب" (چې د عبدالمطلب تر مړينې روسته يې د "محمد" (ص) پالنه کوله) په خپلو اشعارو کې کله د "محمد" او کله د "احمد" په نامه ياد کړی دی.

## د حضرت محمد (ص) ماشومتوب

سني او شيعه يوه خوله دي، چې د رسول الله زوکړه د ربيع الاول په مياشت کې وه. اهل سنت د دې مياشتې زياتره دولسمه او شيعه يې زياتره اوولسمه ورځ يادوي، بې د "کافي"له خاونده "شيخ کليني"، چې هغه يې هم دولسمه ورځ يادوي. رسول الله په کوم فصل کې وزيږېد؟ په پسرلي کې. په "الحلبيه سيرت" کې يې ليکلي: ((ولد فى

[3]. انسان العيون فى سيره الامين والمامون، ۱ټوك/ ۹۳-۱۰۰

فصل الربیع)) په پسرلي کې وزیږېد. نن ځینو پوهانو شمېرلي، چې د آنحضرت زیږون د لمریزې میاشتې له کومې ورځې سره اړخ لګوي، دې پایلې ته رسېدلي، چې د هغه کال د ربیع دولسم د اپریل له شلمې، چې شلم د اپریل د اوري له یو دېرشمې سره سمون خوري او د ربیع اول اوولسمه د غویي له پینځمې سره سمون خوري[1].

په هر حال دا غوځه ده، چې آنحضرت په پسرلي کې زیږېدلی دی، اوس یا د اوري یودېرشمه وي که د غویي پینځمه. د اونۍ پر کومه ورځ زیږېدلی دی؟ شیعه ګروهن دي، چې د ادینې – جُمعې پر ورځ زیږېدلی، زیاتره اهل سنتو ویلي، چې د دونۍ – دوشنبې پر ورځ زیږېدلی دی. د شواروز په کوم ساعت کې زیږېدلی دی؟ ښایي ټول یوه خوله وي، چې د سهار تر راختو روسته زیږېدلی. د بین الطلوعینو په منځ کې.

د آنحضرت څه هېښنده تاریخ دی. نیکه یې "عبد المطلب" زړور او د درانه خوی خاوند و. "عبدالله" داسې ځوان و، چې په ټوله مکه کې ځلېده، خورا باادبه، ښایسته، زړوراو د ډاډ وړ و او د مکې د پېغلو هیله دا وه، چې مېرمن یې شي. هغه له "آمنې بي بي" سره واده کوي، چې د "وهب" لور او د هغه له نږدې خپلوانو وه. له واده یې ځلویښت ورځې نه وې تېرې، چې له مکې څخه شام او "سوریه" ته په سفر وځي او ظاهراً سوداګریز سفر و. په راستنېدو کې مدینې ته راځي، چې د مور خپلوان یې پکې اوسېدل او په مدینه کې مري. "عبدالله" په داسې وخت کې مري، چې آنحضرت لا د مور په نس دی.

آنحضرت، پلارمړی- یتیم دې نړۍ ته راځي. د هغه وخت د دود له مخې یې دې ماشوم ته اړین ګڼل، چې شیدې ورکونۍ ته یې یوې ښځې ته ورکړي، چې له ځان سره یې بېدیا ته یوسي او هلته شیدې ورکړي.

## د حضرت محمد امین (ص) د تیخورۍ پېر

د قریشو دې ماشوم یوازې درې ورځې د خپلې مور شیدې وروولې او بیا دوې؛ نورې ښځې د پېغمبراکرم په داییتوب ویاړمنې شوې.

**۱ _ ثویبه:**

---

[1] په دې اړه مو په راتلونکیو څپرکیو کې مفصل معلومات راوړي دي.

د "ابولهب" مينځې، څلور مياشتې رسول الله (ص) ته شيدې ورکړې، چې رسول الله (ص) او مېرمن يې حضرت خديجې بي بي تر پايه په ښو يادوله. هغې مخکې حضرت حمزه اسدالله (د رسول الله (ص) تره) ته هم شيدې ورکړې وې. تر بعثت روسته رسول الله (ص) يو تن په "ابولهب" پسې ولېږه، چې ترې و يې پېرې خو "ابولهب" و نه منله خو تر پايه د رسول الله (ص) له مرستو برخمنه وه. چې کله رسول الله (ص) د "خيبر" له سوبې راستون شو؛ نو خبر شو، چې "ثويبه" مړه شوې؛ نو ډېر پرې خواشينی شو. د هغې د زوی پوښتنه يې وکړه، چې په حق کې يې نېکي وکړي خو خبر شو، چې له مور مخکې مړ شوی دی.[1]

## ۲ _ حليمه:

د"ابي ذويب" لور وه، چې د "سعدبن بکربن هوازن" له ټبره وه، چې اولاد يې دا و: "عبدالله"، "اسيه" او "شيما". چې روستي اولاد يې هم د رسول الله (ص) روزنه کړې ده.

د عربو مخورو دود و، چې خپل اولاد يې بېديانيو دايانو ته ورسپاره چې وده يې سمه او هډوکي يې کلك راشي او همداسې هم د "وبا" له رنځ خوندي وي او لنډه دا، چې عربي په ځانګړې چاپېريال کې زده کړي، چې په دې برخه کې د "بني سعد" دايانې مشهورې وې. هغوی به په ټاکلي وخت کې مکې ته راتلې او ماشوم به يې له ځان سره بېوه.

د رسول الله (ص) له زوکړې څلور مياشتې تېرې وې، چې د "بني سعد" ټبر دايانې مکې ته راغلې. پر هغه کال سخته وچکالي او سوکړه وه او دوی شتمنو عربو ته ډېرې اړمنې وې.

ځينې تاريخ ليکونکي ليکي: يوه دايه هم حاضره نه وه، چې حضرت "محمد" ته شيدې ورکړي ځکه هرې يوې غوښتل، چې د هغه چا دايتوب وکړي، چې يتيم نه وي، او پلار يې شتمن وي، ان حليمې هم دا ځل د حضرت "محمد" داييتوب ته غاړه کېنښووله خو داچې حليمه په خپله کمزورې وه، چا ورته خپل اولاد و نه سپاره نو له ناچارې يې د "عبدالمطلب" لمسی قبول کړ او خپل مېړه ته يې وويل: ((تر خالي لاس تلو به ددې يتيم وړل ښه وي. کېدای شي الله راباندې ولورېږي.)) خو اټکل يې رښتيا وخوت او چې له کله يې د حضرت "محمد" (ص) داييتوب ومانه نو د الله د رحمت چينې پرې راماتې شوې.[2]

---

[1]. بحارالانور، ۱۵ټوك/ ۳۸٤او مناقب، ابن شهر اشوب، ۱ټوك/۱۱۹

[2]. بحارالانور ۱۵ټوك/ ٤٤٢

د قریشو دا ماشوم یې؛ څکه بلې دایي ته ورنه کړ، چې حضرت "محمد" د بلې دایي تی وانه خست خو د حلیمې تی یې وروده، چې دې کار د "عبدالمطلب" کورنۍ ډېره خوشحاله کړه.[1]

"عبدالمطلب" دایي ته وویل: د کوم ټبر یې؟ و یې ویل: د بني سعد. بیا یې وپوښتله: نوم دې څه دی؟ ځواب یې ورکړ: حلیمه. "عبدالمطلب" ددې خبرو په اورېدو خوشحاله شو او و یې ویل: افرین! افرین! دوه ښکلي خويونه نېکمرغي او زغم.[2]

تاریخ شاهد دی، چې د مسلمانانو د ستر مشر ژوند له وړکتوبه تر پیغمبرۍ هیښنده کرامتي پېښې درلودې او ټول په یوه خوله گواهي ورکوي، چې د پیغمبر ژوند عادي ژوند نه و.

تاریخپوهان د حلیمې له خولې وایي: له هغې ورځ مې، چې د آمنې د زوی روزنه ومنله؛ نو مور یې ناسته وه. غوښتل مې، چې شیدې ورکړم نو خپل کیڼ تی مې ورکړ خو ماشوم ښي تي ته زور کاوه او زما چې اولاد شوی ښي تی مې وچ دی. ښي تي ته د ماشوم زور دې ته اړه کړم، چې ښي تي ته یې واچوم. ماشوم چې ښی تی وروده شیدې پکې پیدا شوې. دې پېښې ټول حیران کړل.[3]

حلیمه بیا وایي: له هغې ورځې مې، چې "محمد" خپل کور ته راوستی نو په کور کې مې ورځ پر ورځ برکت زیات شوی رمه او مال مې هم ډېر شوی دی.[4]

په قرآن کې همدې ته ورته پېښې د حضرت مریم بي بي (د حضرت "عیسی" مور) په باب شته. د زوکړې وخت، چې راورسېد؛ نو یوې ونې ته یې پناه یووړه او له ډېر درد، یوازېتوب او د خلکو د تورونو له وېرې یې له خدایه مرگ وغوښت، چې په دې وخت کې یې غږ واورېد: مه خپه کیږه! الله دې تر پښو لاندې د اوبو چینه پیدا کړه او د کجورې وچه ونه وخوځوه، چې تازه خرما ترې راتویه شي.[5]

د مریم او حلیمې ترمنځ په مقام او منزلت کې ډېر توپیر دی. که د مریم خپل لیاقت ددې الهي رحمت لامل و خو دلته ددې ماشوم مقام او منزلت ددې لامل شو، چې دا ښځه له الهي رحمته برخمنه شي.

دا ماشوم څلور کاله له خپلې مور، نیکه، نورو خپلوانو او له مکې لرې په بېدیا مېشتو کې له یوې دایې سره اوسي. په څلورکلنۍ کې یې له دایې بېرته اخلي. لورانده مور یې په غېږ کې اخلي. تاسې اوس د آمنې بي

[1]. سیره حلبي، ۱ټوک/ ۱۰۶

[2]. بحارالانور، ۱۵ټوک/ ۳۴۵مخ

[3]. بحارالانور، ۱۵ټوک/ ۳۴۵مخ

[4]. د ابن شهر اشوب مناقب ۱ټوک/۲٤

[5]. سوره مریم/ ۲٤-۲۵

بي حالت ته پام وکړئ: هغه مېرمن، چې د عبدالله په نامه غوره او په اصطلاح ارماني مېړه يې درلود، په کومه شپه يې، چې ورسره واده وکړ؛ نو آمنه بې بي د مکې په ټولو پېغلو وياړي، چې دا ستر وياړ مې په برخه شوی دی. لا يې ماشوم په نس دی، چې دا شان مېړه له لاسه ورکوي. داسې ښځه، چې له خپل مېړه سره دومره مينه لري؛ نو ماشوم يې ورته د خپل خوږ مېړه ستر يادګار ګڼل کېږي، په تېره که دا ماشوم هلک وي. آمنې بې بي خپلې ټولې هيلې، چې په عبدالله کې لېدلې، اوس يې په دې کوشني ماشوم کې ويني، هغه آمنه بې بي، چې بل مېړه هم نه کوي.

عبدالمطلب پر آمنې بې بي سربېره د دې کوشني ماشوم متکفل- رزمنوال هم دی. د آمنې بي بي قوم او خپل خپلوان په مدينه کې ول. آمنه بې بي له عبدالمطلبه اجازه اخلي، چې مدينې ته د خپلو خپلوانو ليدنې ته ولاړه شي او دا ماشوم هم له ځان سره يوسي. له خپلې وينځې "ام ايمن" سره په قافله کې روانېږي. مدينې ته رسي او خپل خپلوان ويني. (آنحضرت په ماشومتوب کې همدا يو سفر کړی، چې پينځه کلن و.) آنحضرت له خپلې مور او د مور له وينځې سره له مدينې راستنېږي. د مکې او يثرب پر لار په "ابواء"کې د آنحضرت مور رنځورېږي، کمزورېږي او له حرکته غورځي او همدلته مري. ماشوم په مسافرت کې د خپلې مور مرګ په سترګو ويني. مور همدلته ښخوي او د مور له وينځې سره بېرته مکې ته راستنېږي، همدا وينځه، چې روسته بيا آزاده شوه، د عمر تر پايه يې د آنحضرت، حضرت علي (ک)، فاطمې بي بي او حسن او حسين له خدمته لاس وانه خست.

قرآن شريف د رسول الله (ص) د يتيمۍ پېر په "الضحی" سورت کې راوړی: "الم يجدك يتيما فاوی" مګر يتيم يې و نه موندې او پناه يې درنه کړه؟ [1]

د قريشو ددې ماشوم د يتيمېدو حکمت لا موږ ته هم نه دی معلوم خو دومره پوهېږو، چې د غمونو دا سېلاب بې حکمته نه و. الله غوښتل د نړۍ مشر مخکې له دې چې پر چارو واکمن شي، د ژوند له خوږو او ترخو سره اشنا او روح يې ستر او باخبره شي او له دې سختيو ورته تجربې لاس ته راشي او ځان بېلابېلو سختيو او محروميتونو ته ونيسي. الله غوښتل له هماغه پېله په ژوند کې ازاد عادت شي او په خپله په خپلو لاسو ځان ته د پرمختګ لار هواره کړي، چې خلکو ته وښيي دا نبوغ بشري نبوغ نه دی او مور و پلار يې په برخليك کې هيڅ ونډه نه لري او د

---

[1]. سوره الضحی/٦

عظمت او ستروالي سرچينه يې د وحې له غرونو رابهېدلې ده.

تردې پېښې تقريباً پينځوس کاله روسته، حدوداً د هجرت درېيم کال و، چې آنحضرت په يو سفر کې له "ابواء" تېرېده او هلته ودرېد. اصحابو وليدل، آنحضرت بې له دې چې له چا سره خبرې وکړي، يوې خوا ته روان دی. ځينې ورپسې شول، چې چېرې ځي، ګوري آنحضرت په يو ځای کې کېناست او دعا، "حمد" او "قل هو الله احد" وايي، هغه ځای ته يې ژور کتل او د دعا ويلو په حال کې يې له سترګو اوښکې راغلې، وپوښتل شو: رسول الله (ص)! ولې ژاړې؟ و يې ويل: دا مې د مور قبر دی، پينځوس کاله مخکې مې مور همدلته ښخه کړه.

د مور تر مرګ روسته، عبدالمطلب د رسول الله پالندوی شو، د خپل زوی او اينګور تر مرګ روسته يې له دې ماشوم سره فوق العاده مينه وه او خپلو زامنو ته يې ويل، چې دا له نورو سره توپير لري. هغه د خدای له لوري راتلونکی لري او تاسې نه پوهېږئ. عبدالمطلب د مړينې پرمهال ډېر پرېشانه و او خپل مشر زوی "ابوطالب" ته يې وويل: له مرګه نه وېرېږم خو ددې ماشوم په هکله مې سودا ده. دا ماشوم چاته وسپارم؟ ايا ته يې منې؟ زما لخوا ژمنېږې، چې پالندويي يې پر غاړه واخلې؟ ابوطالب ورته وويل: هو پلاره! زه يې منم. تر نيکه روسته د حضرت علي (ک) پلار د آنحضرت پالندوی شو.

"عبدالمطلب"، "ابوطالب" ته د څو لاملونو له مخې د رسول الله (ص) پالنه ور پر غاړه کړه: يو داچې "ابوطالب" او "عبدالله" له يوې موره وو او بل دا، چې مشهور، سخي او نېك سړی و. "ابوطالب" رسول الله (ص) ته خورا زيات زحمتونه وګالل، چې تاريخ پرې ګواه دی.[1]

[1]. سيره ابن هشام، ۱ټوك/ ۱۷۹مخ

## د حضرت محمد (ص) د ځوانۍ پېر

د ټولنې مشر باید د پراخې سینې، زغم، مړانې او د ستر روح خاوند وي. ډارن، ضعیف النفس، بې ارادې او سست انسان به څرنګه وکړای شي ټولنه په بېلابېلو کړکېچونو او ستونزو کې رهبري کړي؟څرنګه به د دښمن مقابله وکړای شي او څرنګه به خپل شتون او وګړه د نورو له بریده وساتي. د مشر روحي او جسمي پیاوړتیا پر چاپېریال عجیبه اغېز لري. [1]د قریشو په دې ګران تندي کې له وړکتوب او ځوانۍ د ځواک، مړانې، زغم او تکړه توب نښې وې. هغه په پینځلس کلنۍ کې د "فجار" په جګړه کې، چې د قریشو او هوازن ترمنځ وشو ګډون وکړ. په جګړه کې یې دنده دا وه، چې خپلو ترونو ته یې غشي وررسول.

"ابن هشام" په خپل سیرة کې د رسول الله (ص) له خولې راوړي، چې: ((خپلو ترونو ته یې غشي ورکول، چې ویې توغوي.)) [2]

"ابن اثیر" هم په "النهایة" کې دا حدیث راخستی دی.

په جګړه کې ګډون یې مېړانه راښیي. حضرت علي (ک) یې په باب ویلي: په جګړه کې به چې تنګسه او سختي راغله نو موږ به رسول الله (ص) ته پناه وړه او په

[1]. نهج البلاغه عبده، ۳ټوك/ ۹۲

[2]. سیره ابن هشام، ۱ټوك/ ۱۸٦



موږ کې تر هغه هیڅوك دښمن ته ورنږدې نه و. [3]

## د حضرت محمد مصطفی (ص) سفرونه

رسول الله له عربستانه بهر دوه سفره کړي او دواړه سوریه ته وو او تر رسالت مخکې ول. یو سفر یې په دولس کلنۍ کې له خپل تره ابوطالب او بل یې په پینځه وشت کلنې کې د حضرت خدیجې په سوداګریز کاروان کې و، چې بیا یې له خدیجې بي بي سره واده هم وکړ. که څه تر رسالت روسته دننه په عربستان کې یې سفرو نه کړي دي. د ساري په ډول: طایف ته تللی، خیبر ته تللی، چې د مکې په شمال کې پروت دی، تبوک ته تللی، چې له سوریه سره په پوله پروت دی خو د رسالت په ورځو کې له عربي ټاپو وزمې بهر نه دی تللی.

## د حضرت محمد (ص) بوختیاوې- ورهنې

رسول الله څه بوختیاوې- ورهنې درلودې؟ بې له شپونتوب او سوداګرۍ یې بله ورهنه نه درلوده. ډېری پېغمبرانو تر رسالت

[3]. نهج البلاغه د محمد عبده شرحه ۳ټوك/ ۲۱٤ مخ

وړاندې شپانه ول(داچې په دې که څه الهي راز دی، موږ پرې سم نه پوهېږو خو ترشوني بريده يو لږ رازونو ته يې اشاره کړې)؛ لکه څرنگه چې حضرت موسی عليه السلام شپون و. څرگنده؛ خو داده، چې آنحضرت شپني کوله، بېديا ته يې رمه وړه. سوداگري هم کوله، يو سفر يې دومره په مهارت ترسره کړ، چې ټول ورته هک پک شول. څه وخت يې د څارويو پر روزلو تېره کړه، چې د انسانانو روزلو ته يې سينه پراخه شي، او ټول کړاوونه او خپگانونه ورته اسان او و يې زغملای شي ځکه که انسان څاروي چې د هوش او پوهې له پلوه بيخي له انسان سره د پرتلې وړ نه دی، روزلای شي؛ نو هرومرو به انسان روزلای شي هغه بې لارې انسان ته لاربنوونه وکړای شي، چې فطرت يې پر الله ايمان دی.

په حديث کې راغلي: الله داسې پېغمبر نه دی رالېږلی، چې له پېغمبرۍ مخکې يې شپني نه وي کړې، چې په دې توگه ورته د خلکو روزنه زده کړي.

ډېرو سيره ليکونکيو هم د رسول الله (ص) له خولې ويلي دي: ټولو پېغمبرانو تر پېغمبرېدو مخکې شپني کړې ده. وپوښتل شو: آيا تا هم شپني کړې؟ و يې ويل: هو! ما هم څه موده په "قراريط" کې د مکې رمه څرولې ده.[1]

د کوم شخصيت، چې له "ابولهبانو" او "ابوجهلانو" سره مبارزه وي او د ډېرو او لرگيو له بت لمانځيو داسې انسانان وروزي، چې يوازې حق ته تسليم شي؛ نو بايد د ډېرې مودې لپاره د صبر او زغم په ډول ډول ښوونځيو کې وروزل شي.

دويم علت: داسې انسان ته چې په رگونو کې يې د غيرت، مړانې او ازادۍ وينه بهېږي، ډېره سخته ده، چې د قريشو ظلمونه، فساد، له حقه سرغړونه او د بوتانو عبادت وزغمي نو ځکه رسول الله (ص) سلا وگڼله څه موده په غرونو او دښتو کې تېره کړي، چې د مکيانو له ناوړو چارو لرې وي ؛البته دا په دې مانا نه ده، چې پوه او متقي انسان د ظلم او فساد پر وړاندې چوپ کېني او د خپلو چارو حساب ترې بېل کړي بلکې د پېغمبر چوپ کېدل د الله له لوري وو ځکه لا د بعثت وخت ورته چمتو شوی نه و.

درېيم علت: دا کار ښه فرصت و، چې حضرت "محمد"(ص) په اسمان، ځمکه، ستوريو، تکويني او انفسي آيتونو او نښو کې فکر وکړي.

که څه د پېغمبرانو زړونه له پيدايښته د توحيد په ډيوه روښانه وي؛ خو هغوی

---

[1]. سره ابن هشام، ۱ټوك/۱٦٦

هېڅکله ځان د هستۍ او الهي آیتونو له څېړنې، بې نیازه نه ګڼي او له دې لارې د یقین او ایمان تر ټولو سترې زده کړې تر لاسه کوي او ځان د ځمکو او اسمانو ملکوت ته رسوي.

"ابوطالب"، چې د خپل وراره د ژوند حالات ولیدل؛ نو دې ته اړ شو، چې یو کار ورته پیدا کړي نو ورته یې وویل: "خدیجه" د "خویلد" لور د قریشو سوداګره ده، چې د خپلو چارو سمبالښت ته په ډاډمن سړي پسې ګرځي، چې مالونه یې په "شام" کې وپلوري نو ښه به وي، چې ورته ځان وښیې او دا دنده ومنې. [1]

د حضرت "محمد" (ص) متانت او د روح ستروالي ددې مخه نیوه، چې نېغ په نېغه دې خدیجې ته ځان وښیي نو خپل تره ته یي وویل: کېدای شي هغه په خپله درپسې څوك راولېږي ځکه حضرت "محمد"(ص) پوهېده، چې په خلکو کې په امین مشهور دی او همداسې هم وشول.

حضرت خدیجه چې د "ابوطالب" او حضرت "محمد"(ص) له خبرو خبره شوه؛ نو له واره یې ورپسې څوك ولېږه و یې ویل: ستا ښه خوی، صداقت او امانت مې خوښ شوی دی، زه به دوه ګرایه تنخواه او دوه مریان هم درکړم، چې په چارو کې درسره لاس وکړي. [2]

رسول الله (ص) راغی او کیسه یې خپل تره ته وکړه. تره یې ورته وویل: دا کار دې، چې الله تعالی درپېښ کړ ژوند ته یوه وزله ده.

دلته یوه بله خبره هم باید سپینه شي او هغه داچې: آیا حضرت "محمد" (ص) په کاروان کې د حضرت خدیجې د "اجیر" په توګه ګډون کړی و، که ورسره یې تړون کړی و، چې د مال په ګټه کې ورسره شریك وي؟ (په مضاربې بڼه) نو د هاشمي کورنۍ مقام او موقعیت او د حضرت "محمد"(ص) د عزت نفس غوښته وه، چې د خدیجې اجیر نه بلکې په ګټه کې ورسره شریك وي دا ځکه چې:

لومړی: د "ابوطالب" په خبرو کې داسې کوم ټکی نشته، چې حضرت "محمد"(ص) دې د حضرت خدیجې اجیر شي بلکې له دې مخکې "ابوطالب" له خپلو ورونو سره خبره کړې وه: راځئ د خدیجې کره ولاړ شو او ورتهووایو: څه مال حضرت "محمد"(ص) ته ورکړه، چې سوداګري پرې وکړي. [3]

---

[1]. بحار ۱٦ټوك/ ۲۲مخ

[2]. سیره ابن هشام، لومړی ټوك/ ۱۵۸، کامل ابن اثیر ۲ټوك/ ۲٤

[3]. بحار، ۱٦ټوك/ ۲۲

دويم: "يعقوبي" په خپل تاريخ کې ليکي: پيغمبراکرم په خپل عمر کې د چا اجير نه و. [1]

د قريشو کاروان حرکت ته چمتو شو، حضرت خديجې خپل وکيل او دوو مريانو ته وويل: له ادبه به کار اخلئ او څه چې حضرت "محمد"(ص) کول تاسې پرې د نيوکې حق نه لرئ او څه يې چې درته ويل؛ نو تاسې يې په دواړو سترگو منئ.

کاروان خپل پړاو ته ورسېد او په دې سفر کې هر چا څه وگټل خو حضرت "محمد"(ص) تر ټولو زياتې وگټلې او د "تهامه" په بازار کې يې څه مال پلورلو ته واخست. او کاروان مکې ته راستون شو. په دې سفر کې حضرت "محمد"(ص) په دويم ځل د "عاد" او "ثمود" له سيمو راتېر شو، چې په ليدو يې په چورت کې شو. پردې سربېره، پخواني يادونه يې پر زړه راوورېدل، چې يوه ورځ له خپل تره سره له دې سيمو تېر شوی و.

کاروان مکې ته رانږدې شو، "ميسره"د حضرت خديجې مريي حضرت "محمد" (ص) ته وويل: ښه به وي، چې تاسې تر موږه مخکې مکې ته ورننوځئ او خديجه له دې بې سارې گټې خبره کړئ.

حضرت خديجه په خپله هټۍ کې ناسته وه او حضرت "محمد"(ص) ورته په خپله خوږه ژبه د سوداگرۍ حال ووايه. ډېر وخت لا تېر شوی نه و، چې ميسره هم راورسېد. [2]

ميسره، څه چې په سفر کې تېر شوي وو، ټکي په ټکي حضرت خديجې ته وويل، چې د ميسره ټولو خبرو د حضرت "محمد"(ص) پر عظمت او معنويت گواهي ورکوله. د ميسره خبرې دا وې:

امين په يوه خبره له يو تاجر سره وران شو. تاجر ورته وويل: پر "لات" او "عزی" قسم وخوره، چې په خبره دې باور وکړم. امين ورته وويل: هغوی ماته بې ارزښته دي! زه ترې کرکجن يم. بل داچې امين په بصره کې دمې ته تر يوې ونې لاندې کېناست او چې د راهب سترگې، پرې ولگېدې نو راغی او له ما يې د هغه نوم وپوښته. راهب وويل: دا تر ونې لاندنې ناست، هماغه پيغمبر دی، چې په "تورات" او انجيل کې يې زېری شوی دی.

---

[1]. تاريخ يعقوبی ۲ټوك/ ۱٦ د نجف چاپ

[2]. الخراج/۱۸٦ او بحار ۱٦ټوك/ ٤

## د حضرت محمد (ص) مخينې

تر رسالت مخکې د آنحضرت مخينې څه وې؟ د نړۍ په ټولو پيغمبرانو کې آنحضرت دی، چې پوره څرگند تاريخ لري. په مخينو کې يې تر ټولو څرگنده داده، چې آنحضرت نالوستی-امّي و؛ يعنې ښوونځي ته نه و تللی، چې په قرآن کې هم دا ټکی راغلی دی. د هغې سيمې زياتره خلک په هغه وخت کې نالوستي ول.

بل داچې تر بعثت مخکې په څلوېښت کالو کې يې کله هم بوت ته سجده نه ده کړې او د هغه وخت ټول چاپېريال يوازې بوت پالی و. که څه لږ خلک ول، (چې په حنفاوو يادېدل) دوی هم بوتانو ته سجده نه کوله خو نه داچې دا ناسم دود يې د عمر له پيله تر پايه کړی وي؛ بلکې بيا په دې فکر کې شول، چې دا غلط کار دی او بوتانو ته يې شا کړه او ځينې پکې مسيحيان شول؛ خو آنحضرت په ټول عمر کې له ماشومتوبه تر اخره بوت ته سجده نه ده کړې. دا د آنحضرت له ځانگړنو دي. که د کوم بوت پر وړاندې يې کوشنی تواضع هم کړې وای نو په هغه پېر کې، چې له بوتانو سره يې مبارزه کوله؛ نو ورته به ويل شوي وای: ته هماغه نه يې، چې يوه ورځ دلته راغلې او د "لات" او "هُبل" پر وړاندې دې سر ټيټ کړ.

نه يوازې داچې آنحضرت بوت ته سجده و نه کړه؛ بلکې د ماشومتوب او ځوانۍ په ټول پېر کې، چې مکه د لهو و لعب-چټياتو ښار و خو آنحضرت پرې ککړ نه شو.

له زوکړې تر مړينې يې بې له "الله" تعالی د بل چا عبادت نه دی کړی. روزونکي يې "عبدالمطلب" او "ابوطالب" ټول موحدين وو. په ياد به مو وي، چې د "ابرهه" د فيلانو د بريد پرمهال، "عبدالمطلب" د کعبې کړۍ ونيوه او د موحد په څېر يې له خپل الله سره مناجات وکړ چې: ((خدايه! بې له تا هيچاته هيله من نه يم.)) دغسې، "ابوطالب" به د سوکړې او وچکالۍ پرمهال خپل وراره "مصلی" ته بېوه او د هغه په مقام او منزلت به يې الله ته قسم ورکاوه، چې باران وورويږ. په دې باب "ابوطالب" مشهور شعرونه لري، چې د تاريخ په کتابو کې راغلي دي.

ان په خپله رسول الله (ص) له "بحيرا" (بصري راهب) سره په کتنه کې له بوتانو کرکه څرگنده کړه. هلته چې راهب حضرت "محمد" ته وويل: ستا دې پر "لات او عزی" قسم وي، چې څه درنه پوښتم، ځواب يې راکړه نو حضرت "محمد" په غوسه شو و يې ويل: ما ته پر "لات" و "عزی" قسم مه راکوه، چې له عبادته يې کرکجن يم.

بيا ورته راهب وويل: نو! ستا دې پر الله قسم وي. څه چې درنه پوښتم، ځواب يې راکړه، چې و يې ويل: سمه ده وپوښته.[1]
دا ټولې پېښې گواه دي، چې رسول الله او د "عبدالمطلب" کورنۍ موحدين وو او ددې خبرې تر ټول ستر گواه له بعثته مخکې د رسول الله (ص) اعتکاف دی.
تاريخپوهان يوه خوله دي، چې حضرت "محمد" به په کال کې څو مياشتې په "حرا" غار کې عبادت کاوه او کور ته به چې رانغی؛ نو حضرت خديجې به په ډاډه ويل، چې په حرا غار کې دی او چې څوك به يې ورپسې لېږه؛ نو د عبادت پر حال يې ليده.
په دې باب حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) هر کال د حرا غار ته ته او بې له ما به بل چا نه ليده.[2] ان رسول الله (ص) هغه ورځ چې پر پېغمبرۍ مبعوث شو په حرا غار کې پر عبادت بوخت و.
حضرت علي (ک) د رسول الله (ص) د ژوند ددې برخې په باب وايي: حضرت "محمد"(ص)، چې له تي غوځ شو؛ نو الله يې روزنې ته پرښته وټاکله چې شپه و ورځ يې ورته ښه خويونه ورښوول.[3]

حضرت "محمد" مخکې له دې چې پېغمبر شي، د دوو څيزونو په باب زيات فکر کاوه:
لومړی: د ځمکې او اسمانو په ملکوت کې په فکر بوخت و. د الله په هر مخلوق کې يې د الله رڼا، ځواک او علم ليده او له دې لارې يې ځان ته د غيبو پر لور دريمځې پرانستې.
دويم: د هغې درندې دندې په باب، چې پر اوږو يې اېښوول کېږي. د هغه وخت په فساد کې د ډوبې ټولنې سمون يې، په نظر ناشونی کار نه و خو زياتې هڅې يې غوښتې. د ټولنې فسادونه يې، چې ليدل؛ نو سمون ته يې په فکر کې ډوب و، چې خلکو به بوتانو ته عبادت کاوه نو ډېر به خواشينی کېده او څو پر ضد مبارزې ته يې گومارل شوی نه و؛ نو خلکو ته يې څه نه ويل.
مکې دوه ځانگړنې درلودې: يو داچې د عربستان د بوت پالۍ مرکز و او بل داچې د سوداگرۍ مرکز و او د عربو شتمن په مکه کې مېشت ول او د عربو مريان وال هم په مکه کې ول. دوی مريان او وينځې پلورلې او په پايله کې د شتمنو د مزو چړچو ځای هم و. ډول ډول لهو لعب، چتيات، شرابونه، سازونه او نڅا پکې

[1]. نهج البلاغه، ۱۹۰ خطبه.
[2]. نهج البلاغه و ۱۹۰ خطبه. ، فيض الاسلام / ۷۷۵
[3]. نهج البلاغه

کېدي. له روم(له شام او سوريه څخه) به يې ښکلې وينځې پېرلې او په مکه کې به يې د مزوچړچو خونې جوړولې، چې له دې لارې عشرت کدو به يې مالي ګټنه کوله او قرآن پردې چار په سخته نيوکه کوي:

((او خپلې وينځې چې پخپله پاك لمني غواړي نو د دنيوي ګټو لپاره يې زنا ته مه اړ باسئ او څوك چې هغوی (زنا ته) اړ باسي نو تردې اړ ايستنې روسته الله د اړشويو خلکو لپاره ښه ښښونکی (او) لورانده دی.[1]))

دې کمبختو وينځو غوښتل پاکلمنې وسي خو دوی به زنا ته اړ ايستې او پيسې يې پرې اخستې. د مکې کورونه په دوو برخو کې ول، د ښار په لاندې او پورته برخو کې. پورته يې شتمن او لاندې يې نشتمن اوسېدل. د شتمنو په کورنو کې تل سازونه، سندرې او شرابونه ول. رسول الله پخپل ټول عمر کې کله هم په دې ناستو کې ګډون نه دی کړی.

د رسالت تر پېر مخکې آنحضرت، په رښتينولی، امانت، عقل، پوهې او هوښيارۍ مشهور و. "محمد امين" يې ورته وايه. خلکو يې په رښتينولۍ او امانت خورا ډاډ درلود. په ډېرى کارونو کې يې په عقل ډډه وهله. عقل، رښتينولي او امانت هغه صفتونه دي، چې آنحضرت پرې خورا مشهور و، داسې، چې د رسالت په وخت کې يې ويل: ((تر وسه مو له ما کومه غلطه خبره اورېدلې ده؟)) ټولو ويل: نه! موږ دې په رښتينولۍ او امانت پېژنو.

له هغو بهيرونو، چې د آنحضرت عقل، پوهه او هوښياري ښيي دا ده، چې کله يې کعبه ورانه کړه (او دېوالونه يې ونړول)، چې بيا يې جوړه کړي؛ نو "حجرالاسود" يې هم هاخوا کړه، چې بيا يې ايښووله نو يو ټبر ويل، چې زه يې ږدم او بل ويل زه يې ږدم او نږدې وه، چې سره لاس او ګرېوان شي. آنحضرت راغی او دا کړکېچ او اړېيچ يې ډېر ساده هوار کړ. دا پېښه ډېر مشهوره ده.

د رسالت تر پېر مخکې بله مسله يې د الهي تاييداتو ننګېرنه دی. رسول الله روسته بيا د رسالت په پېر کې د خپل ماشومتوب په هکله وويل: ((ما يې په چارو کې ګډون نه کاوه او ننګېرل مې چې يوه غيبي لاس مې تاييدوي.))

آنحضرت وايي: ((اوه کلن وم، "عبدالله بن جدعان" د مکې شتمن و او مانۍ يې جوړوله، د مکې هلکانو به د شوق لپاره ورسره مرسته کوله او تېرې يې ورته راړوې. ما هم دا کار کاوه، هغوی په لمنو کې تېرې چلولې، داچې پرتګونه يې نه

---

[1] (نور/۳۳)

ول؛ نو عورت يې ښکاريده. زه هم ولاړم او په لمن کې مې تېرې واچولې، داسې مې احساس کړه، چې يو لاس راغی او زما له لاسونو يې لمن خوشې کړه، حس مې کړل، چې دا کار دې و نه کړم، سره له دې چې اوه کلن هم اوم.)) امام باقر(رح) په يوه روايت کې او همداراز حضرت علي (ک) هم دا مطلب په نهج البلاغه کې پوره تاييدوي.

امام باقر(رح) وايي: ((له ماشومتوبه ورسره الهي پرښتې وې.))

رسول الله وايي: ((ما به کله سلام اورېده، چې راته وايي، السلام عليک يا محمد! خو څوک به مې نه ليدل. کله به مې له ځان سره فکر کاوه، چې ښايي، دا تېره يا ونه ده، چې راباندې سلام اچوي، بيا پوه شوم، چې الهي پرښته وه، چې راباندې سلام اچوي.))

تر رسالت مخکې د آنحضرت له پېښو ځنې دا هم دي، چې متکلمين ورته "ارهاصات"وايي، چې د پرښتو همدا داستان هم له دې ارهاصاتو ګڼل کېږي. رسالت ته په نږدې شپو او ورځو کې به آنحضرت څه هېښنده؛ خوبونه ليدل. رسول الله وايي: ((ياتی مثل فلق الصبح= ما د ګهيځ په شان څرګند خوبونه ليدل.)) ځينې خوبونه هماغه وحې او الهام دی خو نه هر خوب، چې له کينو، خيالاتو او مخکېنيو وهمونو راټوکېدلی وي. تر رسالت مخکې، چې آنحضرت وحې او الهام ته کوم لومړني پړاونه تېرول؛ نو هغه د خوبونو ليدل ول، چې د آنحضرت د خپل تعبير له مخې به؛ لکه د روڼ سهار په شان راښکاره کېدل.

کله خوب انسان ته څرګند نه وي او ګډوډ وي او کله څرګنده وي؛ خو تعبير يې رښتينی نه وي؛ خو کله خوب خورا روښانه وي او هېڅ ګډوډي او ابهام پکې نه وي او بيا يې تعبير هم خورا څرګند وي.

د آنحضرت بله مخينه دا وه چې تر پينځويشت کلنۍ دوه ځل له عربستانه بهر پر سفر تللی دی.

رسول الله نشتمن و، څه يې نه درلودل، يا په اصطلاح شتمن نه و. هم پلارمړی و او هم نشتمن او هم يوازې پلار مړی و؛ يعنې موروپلار دواړه يې مړه شوي ول. شتمن نه و؛ ځکه خپله يې کار او ژوند کاوه او يوازې و. انسان، چې دداسې اروا ځښتنېږي او د فکر، احساساتو، مانيزو او اروا داسې پړاو ته رسي، چې د خپل وخت له خلکو سره تجانس نه لري او يوازې پاتېږي. اروايي يوازېتوب تر جسمي يوازيتوبه سل په سلو کې لوړ دی. که څه دا مثال ډېر روښانه نه دی خو د ساري په ډول: تاسې، يو ايمانوال او علمي شخصيت، بې ايمانه او ناپوهه خلکو ته يوسئ، که څه دا خلک يې خپلوان، ورونه يا موروپلار هم وي؛ خو دا عالم به پکې

یوازې وي؛ یعنې جسمي پیوند نشي کړای ورسره یې یو ځای کړي. د اروا له اړخه هغه په یو ځای کې دي او دا خلک په بل ځای کې. وایي: که ناپوه له پوهه وحشت لري؛ نو پوه سل ګرایه له ناپوهه کرکجن وي.

آنحضرت په خپل قوم کې یوازې و او هم آندي یې نه درلودل. تردېرش کلنۍ روسته، حال دا له خدیجې بي بي سره یې واده کړی نو دوه کلن علي خپل کور ته راوړي، څو په رسالت مبعوثېږي؛ نو تر هغه دا ماشوم ورسره دی(؛ یعنې د حضرت علي (ک) تر دولس کلنۍ پورې)؛ یعنې د مکې په دې ټولو خلکو کې یوازې همدا ماشوم دی، چې د آنحضرت د هم اندۍ او هم اروایۍ وړتیا یې پر برخه ده. خپله حضرت علي (ک) نقلوي: ماشوم وم او آنحضرت به چې مخ پر بېدیا کېده؛ نو زه یې پر خپلو اوږو کېنولم او له ځان سره یې بوتم.

په پینځویشت کلنۍ کې معناً خدیجه بي بي پرې مارکه کوي. که څه سړی باید مارکه وکړي؛ خو دا مېرمن د آنحضرت په خوی، مانیزتوب او ښکلا پسې لېونۍ وه. دا مېرمن ځینې وګړي دې ته راهڅوي، چې و یې هڅوئ، چې مارکه راباندې وکړي. دا خلک آنحضرت ته راځي او آنحضرت ورته وایي: "هېڅ هم نه لرم"، دوی ورته وویل: ته د دې څېزونو غم مه کوه، آنحضرت یې پوه کړ، کومه خدیجه، چې ته یادوې، چې شتمنو پرې مارکې کړي؛ نو هغې نه دي منلي، چې په پای کې مارکه او واده ترسره کېږي.

تر هغې ورځې د حضرت "محمد" اقتصادي وضع لا دومره ښه شوې نه وه او د خپل تره "ابوطالب" مالي مرستو ته اړ و او له اقتصادي پلوه پرځان ډاډه نه و، چې واده وکړي خو "شام" ته د حضرت خدیجې د وکیل په توګه سوداګریز سفر د هغه اقتصادي وضع جوته کړه. حضرت خدیجې ته حضرت "محمد"(ص) د کارپوهۍ او مړانې له لامله ډېر ګران و نو ځکه پر ټرون سربېره، یې څه زیاتې پیسې انعام ورکړې خو د قریشو دې ځوان یوازې د خپل ټرون پیسې واخستې او د انعام پیسې یې و نه منلې او د "ابوطالب" کور ته روان شو او څه، چې یې ګټلي وو، په دواړو لاسو یې "ابوطالب" ته ډالۍ کړل.

د سترګې پر لار تره سترګو ته یې په لیدو د خوشحالۍ اوښکې راغلې ځکه وراره یې نور په خپلو پښو درېدلی دی، بیا یې دوه اسونه او دوه اوښان ورکړل، چې سوداګرۍ ته دوام ورکړي او حضرت "محمد"، "ابوطالب" ته ګټلې پیسې ورکړې، چې واده ورته وکړي.

حضرت "محمد"(ص) هوډ وکړ، چې خپل کور اباد کړي خو څنګه وشو، چې حضرت خديجې له دې مخکې د ډېرو شتمنو "عقبه بن ابي معيط" "ابوجهل" او "ابوسفيان" مرکې نه وې منلې او بيا يې ترمنځ دومره الفت پيدا شو، چې حضرت خديجې خپله ټوله شتمني د الله په لار کې ولګوله. کور يې، چې د وخت تر ټولو کورونو مجهز او ښکلی و، د مسلمانانو مرکز شو. ددې پېښو ريښه بايد د حضرت خديجې د ژوند په تاريخ کې ولټوو خو څه چې ترې انکار کېدای نه شي دا دي، چې: داسې ځان تېرېدنه که په معنوياتو کې ريښه و نه لري؛ نو ډېر ژر له منځه ځي.

تاريخ ګواه دی، چې دا واده د حضرت خديجې له ايمان، تقوا، پاکلمنۍ او امانت ساتنې راولاړ شوی و، چې سند يې هغه روايتونه دي، چې د حضرت خديجې د فضيلت په باب راغلي دي.

حضرت خديجه پاکلمنه ښځه وه، چې د ايمانوال مېړه په لټه کې وه نو ځکه يې رسول الله (ص) په اړه وايي: "حضرت خديجه د جنت له ارزښتمنو ښځو ده".

له ښځو لومړنۍ، چې پر حضرت "محمد" (ص) يې ايمان راووړ، حضرت خديجه وه.

حضرت علي (ک) په يوه خطبه کې وايي: يوه مسلمانه کورنۍ هم نه وه خو يوازې د "محمد" او خديجې کورنۍ وه، چې درېيم يې زه وم.

"ابن اثير" ليکي: "عفيف" نومې سوداګر "مسجدالحرام" ته راننووت، چې د درې کسيزې ټولنې عبادت خورا حيران کړ. و يې ليدل، چې رسول الله (ص) له حضرت خديجې او علي سره په عبادت بوخت دی. هغه په دې پېښې پوهېدانې ته د رسول الله (ص) تره "عباس" ته ورغی، "عباس" ورته وويل: هغه د پېغمبرۍ ادعا کوي او هغه بله يې ښځه ده او هغه درېيم زما وراره علي دی. بيا يې وويل: په دې ځمکه بې له دې درېو تنو څوك نه وينم، چې ددې دين پلويان وي.

د حضرت خديجې د فضيلت په باب د نقل شويو روايتونو د راوړو وخت نه لرم؛ خو غوره به وي، چې د هغو علتونو په باب په تفصيل خبرې وکړو، چې دا تاريخي پېښه يې راپېښه کړه.

## د حضرت محمد (ص) او د ام المؤمنين خديجه کبری واده ظاهري او باطني لاملونه

توکيز انسان، چې هر څه ته د مادياتو په سترګو ويني او انګېري:

داچې حضرت خديجه سوداګره او شتمنه وه نو د سوداګريزو چارو د سمبالښت لپاره يې رښتيني سړي ته اړتيا درلوده او حضرت "محمد"(ص) هم دا، چې د هغې د ژوند له وضع او اعتباره خبر و نو سره له دې چې عمرونه يې انډول نه وو (درويشت او څلوېښت) خو بيا يې هم واده وکړ خو تاريخ وايي چې: له حضرت "محمد"(ص) سره د حضرت خديجې واده د مادياتو له مخې نه بلکې د معنوياتو پر بنسټ و، چې لووي يې دا دي:

١ _ کله چې د حضرت خديجې مريي "ميسره" ورته د حضرت "محمد"(ص) د سفر کيسه وکړه او کوم کرامات، چې يې ترې ليدلي وو او د راهب خبرې يې ورته وکړې نو حضرت خديجې خپل مريي ته وويل: مسيره! بس دی، زما مينه دې ورسره نوره هم زياته کړه. ځه ولاړ شه! ته او ستا مېرمن مې ازاد کړئ او هم به درته دوه سوه درهمه، دوه اسونه او ګران بيه جامې درکړم.

حضرت خديجې چې څه له مسيره اورېدلي وو، "ورقه بن نوفل" ته [چې د عربو له پوهانو و] کيسه وکړه. ورقه بن نوفل ورته وويل: ددې کراماتو خاوند هماغه عربي پېغمبر دی.[1]

٢ _ يوه ورځ "حضرت خديجه" په کور کې ناسته وه، چې ګردچاپېره ترې مريان او مينځې راټولې وې. په دې غونډه کې يهودي عالم هم و، چې ناڅاپه يې حضرت "محمد"(ص) د کور له څنګه تېرېده، چې د يهودي عالم سترګې پرې ولګېدې. عالم له حضرت خديجې وغوښتل حضرت "محمد"(ص) دې څو شېبې زموږ په غونډه کې ګډون وکړي. حضرت "محمد" (ص) د يهودي عالم غوښتنه ومنله، چې ورته په خپل بدن د نبوت نښه وښيي. په همدې وخت کې حضرت خديجې يهودي عالم ته وويل: که ترونه يې پوه شول، چې تا يې وراره لټولی دی؛ نو لانجه به جوړه شي ځکه هغوی د خپل وراره په باب له يهودانو ډېر ډارېږي.

يهودي عالم ورته وويل: دا ته څه وايې!؟ مګر څوك حضرت "محمد"(ص) ته زيان رسولای شي!تقدير يې نبوت او د خلکو لارښوونې ته ټاکل شوی دی. ؟

حضرت خديجې وويل: له کومه يې وايې، چې د دومره ستر مقام خاوند دی؟

[1]. سيره ابن هشام، لومړی ټوك/ ٢٦

عالم: ما د اخرې زمانې د پېغمبر په باب په "تورات" کې لوستي، چې له نښو يې يوه دا ده، چې مور و پلار به يې مړه شي او نيکه او تره به يې روزنه کوي او د قريشو له يوې غورې ښځې سره به واده وکړي. بيا يې حضرت خديجې ته اشاره وکړه او و يې ويل: بختوره به وي، چې له حضرت "محمد"(ص) سره واده کوي.[1]

٣ _"ورقه بن نوفل"، د حضرت خديجې تره، د عربو له پوهانو و، چې تل يې ويل: ((له قريشو به يو پېغمبر د الله له لوري د خلکو لارښوونې ته راشي او د قريشو له يوې شتمې ښځې سره به واده وکړي او داچې حضرت خديجه د قريشو شتمنه ښځه وه کله کله يې خديجې ته ويل: يوه ورځ به راشي، چې ته به د ځمکې پر مخ تر ټولو له شريف انسان سره واده وکړې.))[2]

٤ _حضرت خديجې يوه شپه خوب وليد، چې لمر پر مکې چورلي او په ورو ورو راکوز شو او پر کور يې کېناست. خپل خوب يې "ورقه بن نوفل" ته ووايه. هغه ورته تعبير کړ، چې: له ستر انسان سره به واده وکړې، چې په ټوله نړۍ کې به مشهور وي.[3]

**مرکه**

شك نشته چې وړانديز لومړی د حضرت خديجې له لوري و. "ابن هشام" وايي: حضرت خديجې رسول الله (ص) ته خپله مينه ښکاره کړه: د تره زويه! داچې ته په قوم کې پر "امين" مشهور يې او ټول دې پر امانت ساتنه او ښه خوی گواهي ورکوي او په خپله هم عزتمن او ستر انسان يې نو ډېره به خوشحاله شم که درسره واده وکړم. حضرت "محمد"(ص) ورته وويل: په کار ده، چې په دې باب له خپلو ترونو سره سلامشوره وکړم.[4]

خو يوه ډله نور تاريخ ليکونکي وايي چې: "نفيسه" د "عليه" لور وه، چې د حضرت خديجې پېغام يې رسول الله (ص) ته ورساوه: " محمده! ولې د خپل ژوند د شپې تيارې د کورودانې په څراغ نه رڼا کوې؟ که د ښايست، شتمنۍ، شرافت او عزت وړانديز وکړم نو و به يې منې؟ حضرت "محمد" ورته وويل: څوك دې په پام کې نيولې؟ هغې ورته د حضرت خديجې وړانديز وکړ. حضرت "محمد" ورته وويل: آيا هغه په دې کار خوښه ده؟ سره له دې چې زما ژوند (عمر) ورسره ډېر توپير لري؟ "نفېسې" ورته وويل: اختيار يې زما په لاس کې دی، زه به يې راضي کړم.

---

[1]. بحار، ١٦ ټوك/١٩

[2]. بحار، ٦ټوك/ ١٠٤

[3]. بحار، ١٠٤/٦

[4]. سيره ابن هشام ١/ ٢٠٤

ته یو وخت وټاکه، چې د هغه وکیل (عمرو بن اسد) له تا او ستا له ټبر سره په یو ځای کې راټول شي او د واده مراسم پرځای شي.

رسول الله (ص) "ابوطالب" له دې پېښې خبر کړ غونډه یې جوړه کړه، چې د قریشو ستر شخصیتونه پکې راټول شوي وو. لومړی "ابوطالب" د الله تر ستاینې روسته وویل: زما وراره "محمد بن عبدالله" که د قریشو له هر چا سره پرتله کړئ؛ نو تر ټولو غوره دی، که څه له شتمنۍ بې برخې دی؛ خو مال د لاس خیری دی، چې د چا په لاس کې نه پاتې کېږي خو اصل او نسب پاتېدونی دی.[1]

مشهوره ده، حضرت خدیجې چې له حضرت "محمد" سره واده کاوه نو ځلوېښت کلنه وه. له عام الفیله ۱۵ کاله مخکې زیږېدلې وه خو ځینو تاریخپوهانو له دې څه کم لیکلي دي.

حضرت خدیجې پخوا هم دوه ودو نه کړي وو، چې دواړه مړونه یې مړه شوي وو، چې دا: "عتیق بن عایذ" او "ابوهاله بن بناش التمیمي" وو.

[1]. مناقب ۳۰/۱، بحار ۱۶/۱۶

## د حضرت "محمد" (ص) اولاد

د اولاد زوکړه، د مېړه او ښځې ترمنځ د مینې تړون لا پسې ټینگوي او د ژوند شپې یې لا نورې روښانوي. له حضرت خدیجې یې شپږ اولاده درلودل، چې دوه زامن وو. مشر "قاسم" او بل "عبدالله" نومېده، چې "طاهر" او "طیب" یې هم ورته وایه او څلور یې لونې وې.

"ابن هشام" لیکي چې: مشره لور یې "رقیه" وه، ورپسې "زینب"، "ام کلثوم" او "فاطمه" وه. له حضرت خدیجې بي بي د رسول الله (ص) زامن له بعثته مخکې وفات شول؛ خو لونو یې د پلار د نبوت پېر وکوت. ځینې وایي: د رسول الله (ص) زامن تر دوو زیات وو.[2]

په ناوړو پېښو کې له لویې سینې کار اخستل د حضرت "محمد" عادت و خو له دې لویې سینې سره سره، د خپلو زامنو په مرگ کې یې اوښکې راتویې شوې. د "ابراهیم" په مرگ، چې مور یې "ماریه" وه خورا خواشینی و. په خوله یې د الله شکر ایسته، که څه د صبر بېړۍ یې د غم په سمندر کې ډوبه وه. دومره یې وژړل، چې ځینو د رسول الله (ص) پر ژړا نیوکې وکړې. رسول الله (ص) ورته وویل: داسې

[2]. مناقب ابن شهر اشوب، لومړی ټوک/ ۱۴۰؛ قرب الاسناد، ۷۰۶؛الخصال، ۲ټوک، / ۳۷؛بحار الانوار، ۲۲/ ۱۵۱-۱۵۲؛تاریخ طبري ۲/ ۳۵بحار ۲۲/ ۱۶۶

ژړا رحمت وي و يې ويل: څوك، چې پر چا ونه لورېږي؛ نو الله به پرې ونه لورېږي.[1]

هېښنده؛ خو داده، چې آنحضرت اوس د شتمنې او سوداګرې مېرمنې مېړه شوی نو په کار او سوداګرۍ پسې نه ځي او اوس خو يې لا د ګوښېدنې، انزوا او ستاينې پېر پيلېږي. د يوازېتوب هغه حالت؛ يعنې هغه اراويي واټن يې ورځ پر ورځ زياتېږي، چې له خپل قوم سره يې پيدا کړی و، ته وا نور دا مکه او د مکې ټولنه يې اروا خوري د مکې شاوخوا غرونو ته خېژي او تفکر او تدبر کوي.

په مکه کې يوه پېښه وشوه، چې د حضرت "محمد"(ص) انساني عواطف يې ټپي کړل، و يې ليدل، چې يو جوارګر جواري کوي او له بده مرغه په جوارۍ کې يې خپل اوښ او د استوګنې کور يې بايلود، ان کار دې حد ته راورسېد، چې د خپل ژوند لس کاله يې هم وبايلل. دې پېښې حضرت "محمد"(ص) دومره خواشينی کړ، چې له ډېره غمه په مکه کې پاتې نه شو بلکې شاوخوا غرونو ته يې پناه يووړه او نيمه شپه کور ته راستون شو. حضرت "محمد"(ص) به ددې پېښو له ليدو خورا خواشينېده او ددې بې لارې ډلې بې عقلۍ او بې شعورۍ ته به ګوته پر غاښ و.

خدای ښه پوهېږي، چې په کوم يو عالم کې به وي، موږ خو پرې نه پوهېږو. په همدې وخت کې هم بې له حضرت علي (ک) بل څوک يې د خبرو کولو نشته.

د رمضان په مياشت کې د "حراء" په غره کې خلوت کوي. په تاسې کې ډېری به حج ته تللي وي او د "حراء" غار ته به هم ختلي ياست، د همدې غره له لمنې تر څوکې سرې په يو ساعت کې خېژي او په درې پاوو کې بېرته راستنېږي.

د رمضان مياشت، چې شي آنحضرت مکه پرېږدي او ان له خديجې هم لرې کېږي. له ځان سره د "حراء" غره ته خوراک څښاک وړي او خديجه بي بي هر څو ورځې روسته ورته د چا په لاس خوراک څښاک لېږي دا ټوله مياشت په انزوا او ګوښېدنه کې تېروي. کله نا کله به حضرت علي (ک) ورتله؛ څکه حضرت علي (ک) وايي: چې کله وحې راغله نو زه هلته وم.

آنحضرت له دې غره راښکته کېږي او همدلته د خدای ستاينه کوي. داچې څرنګه آندنه يې کوله، څرنګه يې له خدای سره مينه کوله او څه عوالم يې هلته وهل؛ نو دا موږ ته نه انګېرېدونکي ده. حضرت علي (ک) په دې وخت کې دولس کلن ماشوم دی، چې په آنحضرت وحې نازلېږي؛ نو حضرت علي (ک) هلته

[1]. امالی شيخ/ ۲٤۷

حاضر دی. پېغمبراکرم په یو بل عالم کې دی. که زموږ په شان په زرونو هلته وای نو د ځان په شاوخوا کې به یې څه نه احساسول؛ خو حضرت علي (ک) دا بدلونونه ننگېري. د آنحضرت د عالم ډېرې برخه یې درک کوله؛ څکه وایي: ((و لقد سمعت رنّة الشیطان حین نُرول وحی- د وحی د نازلېدو په وخت کې مې د شیطان چغې اورېدې.))

د مانیز زدکړیال په څېر، چې خپل اروایز حالات استاد ته وړاندې کوي، آنحضرت ته یې وویل: یا رسول الله (ص)! پر کومه شېبه، چې پر تاسې وحې نازلېده، ما د رټل شوي شیطان چغې واورېدې.

آنحضرت وویل: ((هو علي! زه چې زه څه اورم، ته یې هم اورې او څه چې وینم، ته یې هم وینې خو ته پېغمبر نه یې[1].))

## د پېغمبراکرم زویولي

حضرت "محمد"، "زید بن حارث" (رض) ته د "حجر الاسود" ترڅنگ خپل زوی وواېه. "زید" د عربو لوټ مارو له "شام" نه راتښتولی و او د مکې په بازار کې یې د حضرت خدیجې پر یوه خپلوان "حکیم بن حزام" پلورلی و خو څرگنده نه ده، چې هغه ترې حضرت خدیجې څرنگه واخست.

د "حیات محمد" لیکونکی وایي: ((حضرت "محمد" د خپلو زامنو پر مړینه خواشینی و، تسلی ته یې له حضرت خدیجې وغوښتل، چې "زید" واخلي. بیا رسول الله هغه ازاد کړ او زوی یې ورته وواېه)) خو ډېری لیکي: ((حضرت خدیجې بي بي، چې له حضرت "محمد"سره واده وکړ نو "حکیم بن حزام" هغه خپلې ترور ته وروښه او دا، چې له هر لوري پاك او هوښیار و نو د حضرت "محمد" پرې د زوی مینه راتله؛ نو حضرت خدیجې هم هغه ورته وروښه.))

څه موده تېره شوه، چې د "زید" اصلي پلار په پوښتنه پوښتنه ځان راورساوه او له حضرت محمده یې وغوښتل اجازه ورکړي، خپلې پلرنۍ سیمې ته یې یوسي. حضرت "محمد" هم ورته اختیار ورکړ، چې پلرنۍ سیمې ته ځي او که پاتې کېږي. د حضرت "محمد" مینه ددې لامل وه، چې زید له پلرنۍ سیمې تېر شي او په مکه کې پاتې شي؛ نو ځکه حضرت "محمد" ازاد کړ او ورته یې خپل زوی وواېه او بیا یې "زینب" د "جحش" لور ورته نکاح کړه.[2]

[1] وگ: صبحي صالحي؛نهج البلاغه: ۱۹۲ خطبه

[2]. الاصابه، ۱/ ۵٤۵، اسدالغابه، ۲/ ۲۲٤

## حضرت محمد (ص)، کوشنی علي خپل کور ته بیایي

د وچکالۍ او سوکړې پر کال، حضرت "محمد" هوډ وکړ له خپل تره سره مرسته وکړي نو ځکه له خپل بل تره "عباس" سره یې په دې باب سلا مشوره وکړه او ټولو ومنله، چې هر یو به د "ابوطالب" یو زوی له ځان سره خپل کور ته بیایي؛ نوځکه "عباس" "جعفر" او حضرت "محمد" "علي" له ځان سره کورو ته بوتلل.

مشهور تاریخپوه "ابوالفرج اصفهاني" لیکي:

(("عباس"، طالب))، (("حمزه"، جعفر)) او ((حضرت "محمد"، علي)) له ځان سره کورونو ته بوتلل او هماغه وخت یې وویل: ما هغه غوره کړ، چې الله راته غوره کړی وو.)) [1]

که څه ددې پېښې ظاهري بڼه دا وه، چې په وچکالۍ کې له "ابوطالب" سره مرسته وشي؛ خو اصلي موخه دا وه، چې علي د حضرت "محمد" په لمن کې لوی شي.

---

[1]. مقاتل الطالبین، ۲٦، تاریخ کامل، ۳۷۱؛ سیره ابن هشام، ۱/ ۲۳٦

## بعثت

### د نبیانو خاتم راغلی رڼا راغله[1]

د اسلام پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په حرا غار کې مبعوث شو.

د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په بعثت، د خلکو هدایت ته د قرآن ۱۱۴ سورتونه نازل شول، د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په بعثت، زموږ لارښوونې ته نبوي سنت راوښوول شول[2].

د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په بعثت، تر نه پر څه چې عمل وشو، عمل وشو او تر قیامت ورځې به عمل پرې وشي.

د اسلام د تبلیغ په لار کې له نارینه وو څنې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تره او د مکې شېخ ابوطالب د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم لاسنیوی وکړ او له ښځو څنې مېرمن یې حضرت خدیجې.

او له نارینه و ړومبي تن علي کرم الله وجهه د ابوطالب زوی ایمان پرې راووړ او له ښځو څنې حضرت خدیجې د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم مېرمن.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تردې لا مخکې په کوشنیتوب کې علي کرم الله وجهه خپل کور ته بوتلی او مړی یې په خوله کې ورایښووه او علي کرم الله وجهه یې په خپل مبارک بدن پورې نښلوه او خپل ښه بوی یې وربویاوه.

او علي کرم الله وجهه د وحې د نزول پر وخت له پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم سره په حرا غار کې و[3].

اسلام ته د بني هاشمو د بلنې او له دوی څنې یې د اسلام بریا ته د ملاتړ غوښتلو پر ورځ په دوی ټولو کې یوازې علي کرم الله وجهه په دې لار کې له پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم سره بیعت وکړ.

د بعثت پر لسم کال ابوطالب او حضرت خدیجه، د اسلام د تبلیغ په لار کې، د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم دوه مرستندویان مړه شول او پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم دا کال عام الحزن ونوماوه.

پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم مدینې ته هجرت وکړ.

پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په مدینې کې ابوطالب او حضرت خدیجه یادول او چې کله یې پسه حلالاوه، د حضرت خدیجې پر خپلوانو یې ویشه.

تر ابوطالب روسته، زوی یې علي کرم الله وجهه د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم

---

[1]. دغه عنوان؛ د امیر حمزه خان شینوراي له شعر نه اخستل شوی دی.

[2] وګورئ: اسماني ادیان او د تحریف مساله، ۱۵- ۲۰ مخونه

[3] وګورئ: نهج البلاغه د قاصعه خطبه

ځانګړی يار او مرستندوی شو، علي کرم الله وجهه په بدر غزا کې تر ګردو مسلمانانو ډېر د قريشو مشرکانو ووژل او بنديان کړل، علي کرم الله وجهه په اُحد غزا کې د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په مخکې توره وهله او له قريشو سره جنګېده او نور وتښتېدل.

علي کرم الله وجهه په خندق غزا کې عمرو د قريشو اتل وواژه او مشرکان وتښتېدل.

علي کرم الله وجهه، په خيبر غزا کې، د خيبر کلا سوبه (فتح) کړه.

علي کرم الله وجهه پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ته د ابوطالب يادګار و او حضرت فاطمه د حضرت خديجې، پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په مدينې کې حضرت فاطمه علي کرم الله وجهه ته ور واده کړه.

له علي کرم الله وجهه او حضرت فاطمې حسن و حسين وزيږېدل.

((فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنْفُسَنَا وَأَنْفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ ﴿آل عمران/٦١﴾ = نو ورته ووايه: ((راځئ، چې موږ به هم خپل زامن راوبلو او تاسې هم خپل زامن، موږ به هم خپلې ښځې راوبلو او تاسې هم خپلې ښځې، موږ به پخپله راشو او تاسې هم پخپله راشئ؛ بيا به ښېرا وکړو (په موږ کې چې څوک دروغ وايي) نو د الله لعنت دې پرې وي.))

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د پورته آيت تر نزول روسته د نجران له نصاراوو سره مباهلې ته له ځان سره حسن و حسين، علي او فاطمه بوتلل.

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د [إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً ﴿احزاب/٣٣﴾ = الله خو يوازې دا غواړي چې له تاسې کوروالو؛ ((اهل البيت = نبوي کورنۍ)) ناپاکي لرې کړي او پوره مو سوتره کړي] د نزول پرمهال حسن په غېږ کې، فاطمه مخې ته کېنوله او علي يې خپل شاته ودراوه او پر دوی يې خپله ردا «څادر» راواچوو، و يې ويل: رب هولاء اهلبيتي

پالونکيه! دوی مې اهلبيت دي.

او په دې توګه يې دا پنځه تنه «اصحاب کسا» ونومول.

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ددې آيت تر نزول روسته، د پينځګونو لمونځونو پرمهال، د ورځې پينځه وارې د خپلې لور فاطمې وره ته ودرېده.

د فاطمې د کور ور جومات ته ورمات و او بل ور يې نه درلود، پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ته به اصحاب په ليکو کې د جماعت لپاره منتظر ناست وو او حضرت صلی الله عليه وآله وسلم به د دوی پر وړاندې د فاطمې پر درشل درېده او ويل يې:

*((السَّلامُ عَلَيْكُمْ يا أهلَ بَيت »* إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً« الصلاة! الصلاة!))
پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ددې جملو تر ویلو روسته محراب ته ورتله او د جماعت لمونځ یې ورکاوه.
او د [قُلْ لاَ أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلاَّ الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىَ (شورا/٢٣) ] آیت په نازلېدو علي، فاطمه، حسن او حسین د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ذوی القربی (ډېر نژدې خپلوان) وپېژندل شول.
او د [وَآتِ ذَا الْقُرْبَىَ حَقَّهُ (اسراء/٢٦) ] آیت په نزول پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم فدک حضرت فاطمې ته ورکړ.
پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د [يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ (مایده/٦٧)] آیت په نزول پسې په خم غدیر کې، علي کرم الله وجهه له لاسه ونیو، لاس یې ور پورته کړ، و یې ویل: *« مَنْ كُنْتُ مَوْلاهُ، فَهذا عَلِيٌّ مَوْلاهُ...»*
پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په ډاګه علي کرم الله وجهه تر ځان روسته خپل وصي کړ.
پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم رنځور شو او د دوشنبې پر ورځ یې خپل سر د علي کرم الله وجهه پر سینه کېښود او وفات شو.



علي کرم الله وجهه د وظیفې له مخې له څو تنو خپلوانو سره د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم پر غسل او کفن کولو بوخت شول.
انصار دا مهال د بني ساعده وو په څپرګي (سقیفه) کې راټول شول، چې له سعد بن عباده (رض) سره بیعت وکړي او د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم خلیفه یې کړي.
د قریشو مهاجرین، سقیفې ته ورغلل، و یې ویل: پېغمبر د قریشو له ټبره دی، عرب نه مني چې خلیفه یې نا قریشي وي.
قریشي مهاجرینو په شخړه او لانجې خپله موخه ترلاسه کړه او له قریشي ابوبکر (رض) سره یې بیعت وکړ، قریشي مهاجرینو پتېیله که څوک له نبوي کورنۍ څنې د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم خلیفه شي، تر ابده به بې له دوی بل خلیفه نشي،خلافت په قریشي کورنیو کې لاس په لاس کړئ، چې د قریشو ټولو ټبرونو ته ورسي.
هغې ډلې چې له ابوبکر (رض) سره بیعت وکړ، تر شپې یې د مدینې په کوڅو کې ګرځاوه او چې څوک یې لیده، ابوبکر (رض) ته یې وربوت او بیعت ته یې اړ باسه. د دوشنبې ورځ پر همدې حال تېره شوه.
ابوبکر (رض) یې د سې شنبې پر ورځ نبوي جومات ته بوت او د پېغمبر صلی الله

علیه وآله وسلم پر منبر یې کېناوه او بیا ځلي یې بیعت ورسره وکړ.
حضرت ابوبکر او حضرت عمر خطبې وویلې او بیا یې په ابوبکر (رض) پسې د جماعت لمونځ وکړ او په دې توگه له ابوبکر(رض) سره د سې شنبې پر ورځ بیعت پای ته ورسېد.
په دې ټولو وختونو کې بني هاشم له پیغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم سره وو او څو تنه یې له علي کرم الله وجهه سره پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ته پر غسل ورکولو او تکفین یې بوخت وو، روسته یې پر مبارک بدن د جنازې لمونځ وکړ.
تر دوی روسته دوشنبې او سه شنبې په ورځو ډله ډله د مدینې مسلمانان د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم خونې ته راتلل او په انفرادي ډول یې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په مبارکه جنازه د جنازې لمونځ کاوه.
دا کار د سې شنبې پر ماښام پای ته ورسېد، د چهارشنبې پر شپه علي کرم الله وجهه له څو تنو سره د نبي اکرم صلی الله علیه وآله وسلم سپېڅلی بدن خاورو ته وسپاره.

## د خاتم النبیین بعثت پر مهال د نړۍ حالات

په حقیقت کې له معنوي پلوه د مبعث د ورځې ارزښت تردې خورا لوړ دی، چې زماپه څېر وګړي وکولای شي، په اړه یې وېناوالي وکړي او رڼا پرې واچوي؛ خو د تاریخ په بېلابېلو پېرونو کې د انسانانو پر ژوندانه د بعثت د اغېز په باب یو لړ ټکي دي، چې د هغوی په باب کولای شو، چې خبرې وکړو.

بعثت پر لومړۍ ورځ، په یوه تشه کې رامنځ ته شو او بشر واقعا دې ستر بعثت ته اړتیا درلوده. متعال خدای هم د خپل بالغه حکمت له مخې، ددې سترې پېښې د راڅرګندېدو ځای داسې یو ځای وټاکه، چې د بعثت واقعي مفهوم، د هغه مهال په دود مفاهیمو له ککړېدو پرته، هم د هغه مهال په نړۍ کې وپېژندل شي او هم په تاریخ کې سم پاتې شي. دا په خپله یو ټکی دی، چې شوني وه، فرض وکړئ، چې روستی بعثت، د هغه مهال په روم، د هغه مهال په یونان او د هغه مهال په پرمختللیو هېوادنو کې رامنځ ته شي.

**د بعثت پر مهال په نړۍ کې خورا ستر تمدنونه ول.** دا ولسونه ول، چې له فلسفې، بشري پوهو او مدنیتي علمونو برخمن ول. کېدای شول، چې بعثت په هغو هېوادونو او په هغو سیمو کې رامنځ ته شي؛ خو متعال خدای، دا بعثت، چې د تاریخ په ترخ کې او خدای پوهېږي، چې څو کاله به د بشر لپاره پاتېږي، هلته یې یو نه ووړ. دا بعثت یې داسې یو ځای ته یو نه ووړ، چې ددې آند او بلنې له رامنځ ته کېدو سره سم پکې، پردي وګړي وکولای شي ورننوځي. د هغه مهال د لویدیځ سیمې، هغه سیمې وې،چې ستر تمدنونه یې درلودل. له پېغمبرانو سره له چلنه یې راڅرګندېږي، چې ستر مدنیتونه یې درلودل او له هغوی څنې هماغه د انطاکینه د ښار خلک، چې د یاسین په سورت کې خدای ورته د درېیو پېغمبرانو د ور استولو خبره کړې ده او په پای کې د هغو خلکو ناشکري ده. دا څه کمه خبره نه ده. تاریخ هم ددې ولسونو ځینې خبرې رانقل کړې دي او دا روستی پېغمبر یې هلته ور وا نه ستاوه.

**په جزیرة العرب کې بشري معارف نه ول.** شرک و او په شرک ککړ معارف، هغه هم په خورا ټیټه کچه. په قرآن کې هم ګورئ، چې له شرک سره پرېکنده مبارزه شوې ده. د اخلاص سورت، چې ((لم یلد او لم یولد)) په دومره څرګنده وایي او ددې کوشني سورت په زړه کې په څلور آیتونو کې ((لم یلد و لم یولد)) راغلی دی او ((و

لم يکن له کفوا احد[۱])) ستر او متلال دي؛ ددې لپاره دي، چې شرک له ذهنونو وځنډل شي او د خدای له پیغام سره ګډ نشي. په اسلام کې په شرک هر ډول شوی چار رټل شوی دی؛ خو له دوی، چې راتېر شو؛ اسلام نږه وزیږېد، نړیوالو ته نږه ورولېږدول شو؛ نږه خپور شو؛ نو هر ځای ته چې ولاړ، له بېلابېلو فرهنګونو او تمدنونو سره په مقابله کې یې خپل پرېکندتوب او ځرګندتوب درلود، تر هغه چې بلونکي یې له هغه خلوصه پرېوتل او بلنه هم له خلوصه پرېوته.دا بعثت د بشر لپاره یو تلپاتې چار دی او دا د خاتم الانبیاء (صلی الله علیه و آله وسلم) د بعثت ځانګړنه ده؛ یعنې هغه مهال، چې د نړۍ زمینه او د بشر ژوند له معنویاتو تش شي، همدا معارف، چې د قرآن پرې ناطق دی، کولای شي، هر مهال راشي او دا تشه ډکه کړي. د اسلامي معارفو کیفیت داسې یو کیفیت دی، چې په ټولو شرایطو کې، په دې قانوني او د معارفو په ټولګه کې یو ځواک شته دی، چې دا مانیزه تشه ډکه کړي او بشریت ته په مانيز چاپېريال کې د ژوند شونتیا ورکړي.

نن هم یو له هغو شرایطو څنې دی. داچې یوه بلنه وکولای شي، په ولسونو او هېوادونو کې ځای پرانځي او اورېدونکی ولري،شرط یې څه دی؟ لومړی داچې منطقي معقول وي. د هغوی باید دې خبرې ته پام وي، چې د اسلامي مسایلو په باب خبرې او ځرګندوني کوي. اسلام عقلاني دین دی. اسلام هغه دین دی، چې روغ عقل او فطرت پرې پوهېدای شي، خوښوي یې او مني یې. دا د اسلام ځانګړنه ده؛ خو نه په دې معنا، چې د اسلام هر حکم باید یو عقلاني برهان او دلیل ولري. د سهار لمونځ ولې دوه رکعته دی؟ یو عقلي دلیل ته اړتیا لري؟ نه ! په دې معنا هم نه ده، چې هر عقل، په هر څه چې پوه شو او درک یې کړ، باید په اسلام کې وي. دا هم نه ده؛ بلکې په دې معنا ده، چې اسلامي معارف، هغه څه چې په اسلام یې استناد د منلو وړ وي او اهل خبره او اهل فن یې قضاوت وکړي، چې په اسلام پورې اړوند دی؛ نو په هر عقلاني او علمي چاپېریال کې د دفاع وړ دی. لمونځ ته کولای شو، چې د نړۍ خورا توکیزپالو انسانانو ته مخونه ورکړو، ورپوه کړو او ورته ویلای شو، چې لمونځ څه شی دی او ولې اسلام لمونځ لازم ګڼلی دی. یو لویدیزی اندیال، په نوولسمه پېړۍ کې، چې په لویدیځ کې د بې دینۍ پېړۍ ده او یو مشهور شخصیت هم دی، چې زه نه غواړم نوم یې واخلم، وايي: ((په لمانځه

[۱]. د اخلاص سورت، ۳ او ۴ آیتونه.

کې یوه ستره خواله پټه ده.)) هو! که ستره خواله پکې پټه نه وه؛ نو یو توکیزپال انسان به یې په اړه داسې شعار نه ورکاوه. انصاف لرونکي انسانان، عالمان انسانان او عقل، منطق او د استدلال څښتن انسانان، ټول اسلامي معارف درک کولای شي؛ کولای شي خوښ یې کړي او و یې مني، دا د اسلام ځانګړنه ده.

**منطقي توب او عقلاني توب د اسلام ځانګړنه ده.** که څوک غواړي، چې اسلام له دې ځانګړنې بېل کړي یا په تبلیغاتو کې ووايي: ((دا علم ضد او عقل ضد دي)) یا په عمل کې داسې خبرې اسلام ته نسبت ورکړي، چې د اسلام نه دي او ددې وړ نه وي، چې یو روغ عقل یې تصدیق او تایید کړي؛ نو دا چار هرومرو د اسلام خپرول ټکنی کوي او هېڅ مرسته ورسره نه کوي. دا یو د دننیو عناصرو له ځانګړنو څخه دی، چې کولای شي اسلام خپور کړي.

د اسلام بله ځانګړنه داده، چې مانيز او الهي دی؛ یعنې د هغه څه پرخلاف، چې مسیحیت ته یې نسبت ورکول کېږي، چې په مسیحیت کې اخروي اړخ پر دنیوي اړخ غالب دی؛ خو اسلام داسې نه دی. اسلام دنیا هم د آخرت یوه برخه ګڼي. ستاسې همدا ژوند، همدا سوداګري، همدا زده کړه کول، ستاسې همدا اداري کار، ستاسې همدا سیاسي کار، ستاسې د آخرت یوه برخه ده. دنیا هم د آخرت یو ټوټه ده. یا دا کوم کارونه، چې تاسې په ښه نیت ترسره کوئ؛ نو دا هغه حسنه ده، چې په آخرت کې به مو د الهي نږدېوالي او مانيزو مقامونو خاوندان کړي یا خدای مه کړه که په بد نیت، یا د خودخواهۍ او ځانلمانځنې په نیت مو کوم کار وکړ؛ د تنزل، ځوړ، انحطاط او سقوط لامل به مو شي.

اسلام داسې دی. زموږ د ژوند ټول چاپېریال، زموږ دنیوي هڅې، د آخرت یوه برخه ده. دنیا او آخرت یو له بله بېل نه دي. بده او ناوړه به هغه وي، چې تاسې په ژوند پورې اړوند توکیزې هڅې، په بد نیت ترسره کړئ او هغه رټل شوې دنیا یې چې ویلې، هغه داده. دا نړۍ له هغې نړۍ بېله نه ده. دا نړۍ د هغې نړۍ پټی دی. پټی؛ یعنې څه؟ مګر کېدای شي، بې له پټي محصول لاس ته راوړو. دا خورا وحدت، همغږي او یووالی راښیي. سره له دې چې د بشر د ژوند په ټولو سیمو کې شته دی او په اسلام کې موقعیت لري؛ خو په عین حال کې اسلام یو مانيز دین دي. د اسلام په چاپېریال کې زړونه باید د خدای پر لوري وي. نیتونه باید د خدای لپاره وي. دا د اسلام له ځانګړنو او د اسلام د خپرولو له وزلو څخه دي.

څه چې نن په نړۍ کې یې لړوالی ننګېرل کېږي او د نړۍ خلک یې هم ننګېري، د

معنويت لړوالی او د معنويت تشه ده، په تېره بيا د لويديځ په نړۍ کې. په مادياتو کې پاتې دي او له معنوياتو لرې شوي دي او په شهوتونو کې ډوب دي. د شهوتونو ځانګړنه داده، چې په پيل کې شهوت دی؛ خو په دوام کې، دوزخ دی! چې شهوتونو د يوه وګړي يا کوم ولس پر ژوند واکمن شي، پر دوزخ اوړي. دا د بشري شهوتونو ځانګړنه ده. شونې نه ده، چې داسې تن ووينئ، چې د اوږد مهال لپاره په شهوتونو کې خوښ پاتې شي. داسې يو کس خدای نه دی پنځولی. که ولاړ شئ او ووينئ او څېړنه وکړئ؛ نو دې معنا ته به ورسئ. دا يو مسلم او څرګند چار دی. شهوتونو ته ادامه ورکول، د انسان لپاره دوزخ دی او دا هماغه دوزخ دی، چې په لويديځ کې يې د ډېری شتمنو وګړيو ګرېوان ته لاس وراچولی دی او هغوی چې شتمن نه دي، د بېوزلۍ او فساد په دوزخ کې ډوب دي.البته مستثنی وګړي هم پکې شته. په هره طبقه کې مستثنی وګړي شته دی. هرومره ښه وګړي هم هلته شته دی؛ خو نوعيت يې داسې دی. د نن نړۍ دې بعثت ته اړتيا لري.[1]

# د بعثت او جاهليت پېر د توپيرونو کچې

د قرآن، حديث او اسلامي عرف په اصطلاح او څرګندنه کې د بعثت پېر مقابل پېر ته د جاهليت پېر وايي. په قرآن کريم کې هم دا اصطلاح په کار وړل شوې ده؛ په رواياتو کې هم شته او د مسلمينو په عرف کې هم. اسلامي پېر هم د جاهلي پېر په مقابل کې بولي؛ البته يو بريد او ضابطه شته. دا ضابطه څه ده؟ په دې ضابطه کې څو ټکي شته، چې د اسلام نړۍ د جاهليت له پېره بېلوي، چې دا د اسلامي ارزښتونو آريز ټکي دي.

**۱-نږه توحيد**

په لومړۍ درجه کې نږه توحيد دی، چې په نږه توحيد؛ يعنې بې له خدايه د بل د عبوديت نفې. دا هغه نږه توحيد دی. توحيد يوازې دا نه و، چې بوتانو ته شا کړي. توحيد د تاريخ په ترڅ کې يوه شامله، عامه او سايره معنا لري. تل خو د مکې بوتان نه وي. تل خو لرګين او ډبرين بوتان نه وي. د توحيد معنا او روح دادی، چې انسان بې له ايکي يوه خدايه د بل عبوديت و نه کړي او بې له خدايه بل ته پر

[1]. د مبعث اختر په مناسبت د نظام چارواکيو ته وينا.۱۳۷۲/۱۰/۲۱

ګونډو نشي. دا د بشپړ او نړه توحید معناده. اوس که تاسې په زیرنه د بشر د ژوند پوهو- ټولنیزوپوهو، روزنیزو پوهو او دې ته ورته- ته په دې معنا وګورئ؛ نو پوه به شئ، چې د عبودیت کړی خورا پراخه ده. هغه قید و بندونه، چې انسان ته تړل کیږي، هر یو یې انسان ته یو ډول عبودیت رامنځ ته کوي. د ناسمو ټولنیزو نظامونو عبودیت، د ناسمو دودونو عبودیت، خرافات، د استبدادي ځواکونو او وګړیو عبودیت، د ځاني غوښتنو عبودیت- چې دا یې تر ټولو ډېر دود دی- د پیسو عبودیت، د زر او زور عبودیت، چې دا ډول ډول عبودیتونه دي. چې کله وایو ((لا اله الا الله، وحده لا شریک له[1]))؛ یعنې نړه توحید. معنا یې داده، چې که دا ټول عبودیتونه شا ته واچول شي او که داسې وشي؛ نو حقیقتا به نېکمرغي شو. داچې و یې ویل: ((قولوا لا اله الا الله تفحلوا[2]))؛ نو دا فلاح یوه حقیقي فلاح ده.یوازې سیاسي فلاح نه ده. یوازې ټولنیزه فلاح نه ده. یوازې مانیزه فلاح نه ده. یوازې د قیامت د ورځې فلاح نه ده؛ بلکې د دنیا او آخرت فلاح ده. دا د اسلامي بلنې په باب یو ستر ټکی دی، چې په بل تعبیر یې هم بیانولای شو او هغه عبارت دی له اسلام، تسلیم، اسلام لوجه

الله او خدای ته تسلیمېدل. دا هم یوبل اړخ او بل پلو د هماغه توحید دی او دا د اسلامي بلنې یوه ځانګړنه ده. هر چېرې چې دا وي، اسلام به وي. هر چېرې چې ددې ټکي اپوټه ټکی وي؛ نو جاهلیت به وي. هر چېرې چې دا دواړه وي؛ نو د اسلام او جاهلیت ترمنځ به وي؛ نړه اسلام به نه وي، بشپړ اسلام به نه وي او شونې ده، نیمګړی او نیمه کاره اسلام وي.

### ۲.د عدل پلي کول

د اسلامي بلنې په باب یو بل ټکی، د انسانانو ترمنځ د عدل پلي کول دي. دجاهلیت ځانګړنه، ظالمانه نظام و. ظلم یو دود و. داسې نه وه، چې کله نا کله به کوم وګړي ظلم کاوه. د ټولنې بنسټ پر ظلم، تبعیض او پر کمزوري د پیاوړي زورمتي وه. پر مېرمنو د سړیو ظلم، پر نشتمن د شتمن ظلم، پر مریي د بادار ظلم او بیا به همدوی د اربابانو، پاچایانو او زور واکیو تېری او ظلم مانه. زور دپاسه زور و. د خلکو ژوند ټول له ظلم او تبعیض نه ډک و. دا د جاهلي ټولنې د ژوند ځانګړنه ده. هر چېرې چې داسې وي، جاهلي ټولنه ده. اسلام یې اپوټه او مقابل ټکی یې رامنځ ته کړ. عدل یې پلي کړ. ((ان الله یامر بالعدل و الاحسان[3])) دا د اسلامي ټولنې له

[1].وسایل الشیعه، لومړی ټوک، ۱۵ مخ.
[2].بحارالانوار، اتلسم ټوک، ۲۰۲ مخ.
[3].د نحل سورت، ۹۰ آیت.

ځانګړنو څنې یوه ځانګړنه ده. عدل یوازې یو شعار نه دی. اسلامي ټولنه باید په عدالت پسې ولاړه شي او عدالت که نه وي؛ نو پلي دې يې کړي. که په نړۍ کې دوه ټکي وي، چې یو ټکی يې عدل او بل ټکی يې ظلم دی او دواړه هم نااسلامي دي؛ نو اسلام له هغه عدل سره موافق دی، که څه نااسلامي هم دی. حبشې ته په خپله رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) مهاجرین واستول؛ یعنې هغوی يې د عدل په پار د یوه کافر پاچا تر سیوري لاندې کړل. په بل تعبیر، خلک يې د هغه ظلم له لامله، چې د خپل ژوند په چاپېریال کې پرې کېدل، لرې کړل. دا هم یو ټکی دی؛ یعنې د عدل پلي کول، د عدل لاروي، د عدل دودول، د عدل لپاره هڅه، په هر ځای کې د عدل درناوی – که څه په نامسلمانو هېوادونو کې هم وي –او د ظلم رټنه، د نړۍ په هر ګوټ کې چې وي. دا هم له اسلامي ځانګړنو څنې یوه ځانګړنه ده او تاسې ګورئ، چې اسلامي ژوند او د رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) ژوند او اسلامي تاریخ د عدل روزنې او عدل غوښتنې سترې بېلګې دي. دا هم د اسلام د پېغمبر د بعثت له ځانګړنو څنې یوه ځانګړنه ده. زه هم دا د بېلګې لپاره راوړم. پام مو وي، چې داسې ټکي ته ورسو، چې له هغې څنې د نن د یون لپاره یو سر رشته ومومو. یوازې نه غواړو، چې تاریخ یا د اسلامي ښوونو یو پېژندنه په ذهن کې بیان کړو او یو ذهنیت ترې جوړ کړو.

په اسلامي نظام کې د بېلګې په توګه یو درېیم ټکی فرضوو، چې عبارت دی له، د اخلاق د مکارمو پر لوري حرکت. او دا بیا له هغو دوو څنې جلا دی. یوه ټولنه یو وخت د سمو اخلاقو خاوند وګړي لري، د هغه ټولنې ډېری وګړي، متفکر، عاقل، خیر ښېګنې او احسان والا، یو له بل سره مرسته کوونکي، په ستونزو کې صبر کوونکي، په سختیو کې د حلم خاوندان، یو له بل سره د ښه چلن خاوندان دي او په هغه کې ځای کې د ایثار او سرښندنې خاوندان دي، چې په کار دی. اپوټه يې هم شونې ده، صدق وکړي؛ یعنې هغه وګړي وي، چې اړیکې يې یو له بل سره نه د رحم، مروت، انصاف او ښو اخلاقو پر بنسټ وي؛ بلکې تر هغه یو بل زغمي، تر څو ګټې يې خوندي وي او که ګټې يې سره همغږې نه وي؛ نو چمتو دي، چې یو بل ووژني او له منځه یوسي. دا هم یو ډول ټولنه ده. دا ټولنه نو جاهلي ټولنه ده او له هغې ټولنې سره توپیر لري، چې د اخلاقو مکارم پرې واکمن دي او اسلامي ټولنه ورته ویل کېږي. د اسلام د پېغمبر (صلی الله علیه و آله وسلم) د بعثت یوه ځانګړنه، د اخلاقو مکارمو ته رابلنه وه. دا هم د پېغبر اکرم د رسالت د ژوند او بعثت یو بل ټکی

دی؛ نو ویلای شو، چې په حقیقت کې د اسلام او جاهلیت یو توپیرونکی ټکی د اخلاقو مسله ده.

یو بل ټکی، چې هغه به مې روستی ټکی وي، دنیوي ژوند ته له ورکتو ځنې راایسارېدل دي. دا هم یو بنسټیز ټکی دی. د جاهلي نظام یوه ځانګړنه داده، چې انسانان یې هر څه په دنیوي ژوند کې ګوري. که په دنیوي ژوند کې؛ یعنې همدا خوراک څښاک او هغه څه چې په انسان پورې اړوندېږي، که څه یې لاس ته راوړل؛ نو ځان بریالی ګڼي؛ خو که داسې کوم چار یا هڅه وي، چې حاصل یې په دې نړۍ کې د انسان ګوتو ته نه راځي؛ نو ځان غولېدلی، مات او تاواني شمېري. دا د جاهلي ژوند یوه ځانګړنه ده. داچې انسان داسې یو کار وکړي او هغه د معنویاتو او د خدای لپاره وکړي؛ نو دا خبرې په جاهلي ژوند کې نشته. اسلام دا هم یوه ځانګړنه کړه، چې د انسان ټولې هڅې یوازې په دنیوي ژوند کې را ایسارې نه وي. دا د بعثت له ځانګړنو ځنې دي، چې مقابل لوري ته یې جاهلیت دی.

## د خاتم النبیین مبعث د انسان د خلقت/ پنځون هومره ستره پېښه ده

که څوک وغواړي، ددې ورځې د ارزښت په باب الفاظ او تعبیرات وکاروي؛ نو شونې ده، په یوه وینا هم ونشو کولای، ستریا او ارزښت یې بیان کړو؛ ځکه الفاظ، په ډېری ځایونو کې، په تکراري ډول، په مجازي معنا په کار وړل شوي دي او دا په زړه پورې توب نه لري، چې وکولای شي، ددې پېښې ستریا بیان کړي. کېدای شي، وویلای شو، مثلا د حضرت خاتم الانبیاء (صلی الله علیه و آله وسلم) بعثت هغه پېښه ده، چې باید د انسان له آریز خلقت سره په پرتله شي؛ دا چار دومره ارزښتمن، ستر او مهم دی. څه چې موږ ته باید له دې اختر او پېښې د ګېتې د زده کړې په نامه مطرح وي، د مبعث له پېغامه زموږ درک او د ګېتې ځواک دی. هغه څه چې په اجمالي توګه پوهېدای او ویلای شو دادي، چې د نبي اکرم بعثت د وګړیز وجود په ولکه کې او د انسان د دننني بدلون او همداراز د انسان د ټولنیز ژوند او ډله ایز ژوند په ولکه کې یې یوه ځانګړې موخه ټاکلې ده. د وګړي د ژوند په ولکه کې، چې آر هم همدا دی، چې په انسان کې یو بدلون رامنځ ته شي؛ نو په دې باب په کلام الله کې آیتونه راغلي دي؛ لکه د

آل عمران د سورت دا مبارک آیت: ((لقد من الله علی المؤمنین اذ بعث فیهم رسولا من انفسهم یتلوا علیهم آیاته و یزکیهم یعلمهم الکتاب و الحکمة[1])) دا تزکیه، د کتاب زده کړه او حکمت هماغه د انسان دننني بدلون دی. داچې انسان د خلقت موخې ته ورسي؛ نو لومړی باید د ځان په باب د انبیاوو د بعثت موخو ته ورسي؛ یعنې متحول شي؛ سم شي؛ ښه شي او له چټلیو، پرېوتیو او نیمګړتیاوو، چې په انسان کې دي او دنیا ورستوي، باید ځان وژغوري.

دا د وګړي د وجود په ولکه کې دي. بعثت ددې لپاره دی. په هغه وینا کې یې چې هم ویلي دي: ((بعثت لاتمم مکارم الاخلاق[2])) ورستنېدا یې دې ته دي. ((مبعوث شوی یم، چې د انسان مکرمتونه بشپړ کړم.))؛ یعنې د انسان تهذیب، د انسان تزکیه، انسان حکمت ته ورسیخول، هغه له عامیانه جهالت نه، پوهې او حکیمانه ژوند ته رسول. دا د وګړي او وګړیز ژوند په ولکه کې دي.

د ټولنیز ژوند په ولکه کې، هغه څه چې د موخې په نامه ټاکل شوي دي، ټولنیز عدالت دی. ((لیقوم الناس بالقسط[3])) قسط له عدل سره توپیر لري. عدل یوه عامه معنا ده. عدل هماغه لوړه او ستره معنا ده، چې په وګړیز او عمومي ژوند، جسم، ځان، ډېره، لرګي او د نړۍ په ټولو پېښو کې شته دی؛ یعنې یوه سمه موازنه؛ یعنې سم چلن؛ سمه موازنه؛ منځلاري او په نیمګړتیا او تېروتنه کې له بریده نه وتل. دا د عدل معنا ده؛ خو قسط؛ لکه څنګه چې انسان ترې پوهېږي، همدا عدل په ټولنیزو مناسباتو کې دی؛ یعنې هغه څه چې نن یې موږ د ټولنیز عدالت په نامه تعبیروو او دا په هغه ټولیزه معنا له عدل سره توپیر لري. که څه انبیاء د عدل پر لور یې په هماغې ټولیزې معنا حرکت کوي ((بالعدل قامت السماوات و الارض[4])) آسمانونه هم په هماغه اعتدال، عدالت او په توله توب ولاړ دي؛ خو هغه څه چې نن د بشر ستونزه ده او ترې یې دی او د هغه په لړو خپل ژوند نشي کولای، قسط دی. قسط؛ یعنې داچې عدل، راوڅېړل شي او د ټولنیز عدالت په ښه شي. ((لیقوم الناس بالقسط[5])).

بشر نشي کولای، د بې عدالتۍ، ظالم چلن او یرغلونو تر سیوري لاندې ژوند وکړي.دا ژوند خو بیا ژوند نه دی، دوزخ دی.انبیاء راغلل، چې د ژوند له چاپېریاله جنت جوړ کړي. التبه که په زیرنه ور

[1] د آل عمران سورت، ۱۶۴ آیت.
[2] بحارالانوار، ٦٨ ټوک، ۳۸۲ مخ.
[3] د حدید سورت،۲۵ آیت.
[4] کافي، پینځم ټوک، ٢٦٦ مخ.
[5] د حدید سورت، ۲۵ آیت.

وګورو، دا دویم هم، چې د ټولنیز ژوند په ولکه کې د انبیاوو موخه ده، هماغې موخې ته د ور رسېدو سریزه ده، چې په وګړنی ولکه کې ده؛ یعنې دننني بدلون؛ سمېدل او سم انسانېدل. په نړۍ کې چې هر څه ووینئ، سمه بنه یې هغه بنه ده، چې مطلوبه ګڼه ترې تر ګوتو شي. انسان دې ته نه دی راغلی، چې تاوان وکړي، له نورو سره حسادت وکړي، هر څه د ځان لپاره وغواړي، نور بې برخې کړي او د انسان او نړۍ لپاره شر شي، په کوشنیو چارو پورې ونښلي او د مطلوبونو له کمال او ارمانونو څخه غافل شي؛ ددې چارو لپاره خو انسان نه دی راغلی! انسان د ښېګڼې لپاره راغلی، اغېزمنتیا ته راغلی، وخوځي او د کمال پر لور ولاړ شي. که داسې شوه او دکمال پر لور یې حرکت وکړ او دا لار هغه او نورو ته ګټوره وه؛ نو دا انسان بدل شوی او ښه انسان دی. دا د بعثت له موخو څخه دی.

## د حضرت محمد (ص) مبعث؛ د سترو ارزښتونو او مفاهيمو زوکړه ده

په رښتينه، چې د ((بعثت)) ورځ د بشريت د تاريخ تر ټولو ستره ورځ ده. د خورا سترو ارزښتونو او مفاهيمو د زوکړې ورځ ده. د نبي اکرم (صلی الله عليه و آله وسلم) بعثت يو عملي حرکت و، چې له يو خوا بشر وګړيز، اروايي او مانيز کمال ته ورسوي او بلخوا ټولنيز ژوند ته تعالي او د ټولنې موجوده حالات سم کړي. خبره داده، چې د رسول الله په بعثت کې، څه چې خلکو ته ور ډالۍ شول، يوازې يو لړ وچ مفاهيم او هغه لار نه وه، چې لاروي پکې نه وي او څوک پر هغه لار د خلکو د چارو واګې په لاس کې نه لري.

له هماغه پيله، دا بعثت د آنحضرت په وجود کې او بيا د مؤمنينو په زړه، ځان او عمل کې، په دې پيغام په عمل پلي شو او جاهليت له هماغه ړومبۍ شېبې له دې پيغامه ضربه وخوړه او ورسره يې مقابله وکړه. دا د انبياوو د بعثت ځانګړنه ده.

او دا يوازې د حضرت خاتم (ص) په بعثت پورې اړوند نه ده. انبياء حرکت کوي او هغه څه چې د ښوونو په مقام کې انسانانو ته ورډالۍ کوي، په عمل کې يې هم ښيي، پخپله ړومبي وګړي دي، چې پردې لار ځي.

((يعلمهم الکتاب و الحکمة[1])) ددې فرع دی، چې د کتاب علم او حکمت د نبي اکرم په سپېڅلي وجود کې په لوړه کچه وجود لري. ((يزکيهم[2])) پردې فرع دی، چې هغه پاک وجود تر ممکنه لوړې کچې پورې د بشری طبيعت لپاره تزکيه شوی دی. له دې ځواک سره دی، چې کولای شي، يوه نړی د تزکيه پر لور بوځي او دا هغه څه دي، چې د بېلابېلو ښوونځيو مشران او د بېلابېلو فلسفي، ټولنيزو، سياسي وغيره مفاهيمو مخکښان ترې پردي دي. د هغوی ذهن ته يو څه راځي او عالم تصور کې يې ذهن ته يو څه راځي او هغه هم خلکو ته ورکوي. يو لړ کسان يې هم ترې زده کوي يا يې نه زده کوي او دا د انبياوو له لارې سره خورا توپير لري، چې له هماغه پيله حرکت دی، له هماغه پيله اقدام دی او هماغه د هغو شعارونو پلي کول دي، چې پر ژبو دي. او دا هغه څه دي، چې د رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) په ژوند کې وشول. له هماغه ړومبۍ شېبې د قسط د پلي کولو لپاره هغه ښوونې، تزکيه او حرکت پيل شو؛ نو له هماغه پيله هم مصادمه او هم معارضه پيل شوه. له هماغه مهاله، چې رسول الله د ((وانذر

---

[1]. د بقره سورت، ۱۲۹ آيت.

[2]. هماغه.

عشیرتک الاقربین[1])) په ځواب کې خپله بلنه پیل کړه، تر هغه چې پراخه او ښکاره یې کړه او تر هغه چې د ټولنیز نظام- چې هماغه د عدل نظام و- پر لور یې حرکت وکړ او هغه یې پلي کړ. البته څه چې موږ په بعثت کې وینو او توصیفوو، د بعثت ظاهري مخ دی. هغه الهي او ملکوتي حقیقت او هغه څه چې د متعال پنځګر او یوه ټاکل شوي او ممتاز انسان ترمنځ پېښېږي، زموږ د ذهن له لاسرسه لرې دی او موږ نه پوهېږو، چې څه پېښ شوي دي. پېښه له دې اړخه خورا ستره ده او موږ ته د تصور وړ نه ده. څه چې موږ وینو او سترګو ته مخامخ دي، هر څوک د خپلې پوهې او تدبر له مخې ترې پر یو څه پوهېږي او همدا پېښه، پر مخاطبانو، انسان او پر خپل شاوخوا اغېز شیندي.

له هماغه پیله، چې دا پېښه رامنځ ته شوه، دوه څېزه پکې د ځرګندو موخو په نامه ول: یو یې د متعال خدای پر لور د یوه دننني، روحاني، نفساني یون رامنځ ته کول او دا هغه ړومبی ټکی دی؛ یعنې د ایمان مسله. نړۍ پال پالونکي ته ورپام کول یا د قرآن د ډېرې آیتونو په تعبیر، ((ذکر)). هغه څه چې د بعثت په وسیله متعال خدای یې په لومړۍ درجه کې انسانانو ته ورکوي، ذکر او تذکر او په خود کې د انسان راتګ دی. دا لومړی ګام دی او تر څو چې دا نه وي شوي؛ نو د بعثت له موخوځنې یوه موخه هم نه پلي کېږي. ((انما تنذر من اتبع الذکر[2])) څوک چې دا تذکر په ځان کې رامنځ ته کړي او لاروي ترې وکړي؛ نو تر هغه روسته د ټولنیزو موخو لپاره د انذار، سمونې، ارشاد، تکامل او مبارزې وړتیا مومي. دا ړومبی ګام دی. بشر چې کله له معنویاتو غافله شو؛ نو د سمونې او اصلاح ټول ورونه ورتړل کېږي. نن توکیزې نړۍ ته وګورئ! نن څه چې کولای شي، په توکیزه نړۍ کې د ټولو سمونو او نېکمرغیو کونجي شي، همدا ده، چې انسانان په خود کې راشي. متذکر شي. د خلقت او پنځون موخه له دې مادي ظواهرو هاخوا ولټوي او د ژوند له دې مادي ظواهرو ورهاخوا، چې همدا خوراک، خوب، شهوتونه، ځواک، مال لمانځنه او دا څېزونه دي، په حقیقت پسې وګرځي. د فساد جرړه، د نړۍ حقیقي باطن ته په پام نه کولو کې ده. د انسان د ژوند خواله، معنا او باطن په دې کې دی: یوې مبدا او مسوولیت ته پام کول. یو الهام ته په تمه کېدل. له غیبه د یوې مبداء وسمن او واکمن او د اختیار څښتن حکم ته غوږ اېښوول. آریزه خبره داده. چې بیا د قرآني تعبیر له مخې، هماغه ((پر غیبو ایمان))

[1]. د شعرا سورت، ۲۱۴ آیت.

[2]. د یس سورت، ۱۱ آیت.

دی: ((الذين يؤمنون بالغيب[1])) د ژوند په دې توکيزو ظواهرو کې نه ورډوبېږي. ژوند يې په همدې خوراک، څښاک، خوب، شهوتونو، انساني لېوالتياوو، رياست او دې ته په ورته چارو کې نه خلاصه کېږي. دا انسانانو ته د بعثت لومړی ډالۍ او د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم لومړی موخه ده، چې هغوی متذکر کړي او هغوی ته ايمان ورکړي؛ هغه هم پر غيبو ايمان.

دويمه موخه، چې له هماغه ړومبۍ شېبې، رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) ورپسې و، عبارت ده له، د انسان د ژوند او معيشت لپاره د يوه روغ او سم چاپېريال رامنځ ته کول دي؛ يعنې هغه نړۍ، چې پکې ظلم او د زورواکيو په واسطه د کمزورويو داړل نه وي؛ هغه نړۍ، چې د کمزوريو لپاره پکې مطلقه ناکامي او د جګړې قانون نه وي؛ يعنې هماغه څه چې د قرآن، حديث او ديني اصطلاحاتو کې ورته، ((قسط او عدل)) ويل کېږي؛ يعنې د بشر تر ټولو ستره هيله. د بشر د تاريخ له پيله ستر ارمان (يعنې له هغه وخته، چې بشر تعقل موندلی او د اند څښتن شوی دی او خپل ژوند ته يې نظم او اوډنه ورکړې ده)، تر ننه يې هيله د عدالت پلي کول دي. اوس ځينې د سولې شعار مطرحوي؛ البته سوله يو خورا ښه څيز دی؛ خو سوله هغه مهال ښه ده، چې عادلانه وي. ډېری عدالت ته د ور رسېدو لپاره د جګړې لار خپلوي او د عدالت په لاره کې جنګېږي؛ نو څرګنده ده، چې عدالت تر سولې غوره او مهم دی. حقيقت هم همدا دی.

بې عدالته د انسان ژوند، هماغه څه دي، چې تاسې يې د بشر د تاريخ په خورا ناوړه څېره کې وينئ. نن هم د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تر سترګو کېږي. تاسې چې څومره بدمرغۍ په بېلابېلو بشري ټولنو کې وينئ، لامل يې ظلم او بې عدالتي ده. شونې ده، د خبرې ظاهر داسې و نه ښيي؛ خو باطن يې همدا دی. که تاسې وينئ، چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ماشومان د خوړو د نه شتون له لامله مري؛ نو د خبرې ظاهر خو دادی، چې وچکالي ده او ورښت نه دی شوی؛ خو د خبرې باطن بل څه دی، باطن يې بې عدالتي ده. که پر هغو ټولنو له تېرو څوځاتونو عدالت واکمن و او که د بشر د ژوند پر چاپېريال عدالت واکمن وای؛ نو انسان کولای شول، د عدالت تر سيوري لاندې د خپل ژوند چاپېريال داسې جوړ کړي، چې د ژوند کولو وړتيا يې پکې درلوده او څوځات يې پکې پوپناه نشي او ژوند يې دومره له ناخوالو ډک او ناوړه نشي. انسانيت د بې

[1]. د بقره سورت، ۳ آيت.

عدالتۍ له لامله په رنځونو او دردونو اخته دی.

د ذکر تر څنګ د ټولو انبياوو (ع) ړومبۍ موخه د عدالت پلي کول دي. دا دوه آريزې موخې دي؛ البته يوه يې خورا آريزه ده او هغه هماغه د تذکر موضوع ده، چې د خبرې جرړه او بنسټ ده. که غفلت وکړي؛ نو څه به يې لاس ته رانشي او عدالت هم نشي راتلای؛ نو تاسې وليدل، چې هغه نظامونه او وګړي، چې د ټولنيز عدالت ادعا يې درلوده، و يې نشو کولای، د خپلو ټولنو خلکو ته د عدالت له ډوله څه ورډالۍ کړي. ولې نه؛ نور څه يې ورکړل! فضا نوردي يې هغوی ته ورکړه؛ توغندي يې ورکړل؛ خو ټولنيز عدالت يې پلي نشو کړای! ټولنيز عدالت، د انسان، نفوسو او بواطنو د سمونې او د خدای د ذکر او ورته د پام تر سيوري لاندې لاس ته راځي. دا دوه د پېغمبر (ص) موخې دي او و يې کولای شول، پلي يې کړي؛ که څه په محدوده ولکه کې.

هغه يوه ټولنه رامنځ ته کړه، چې متذکره او پوه وه او له خورا غوره ټولنيز عدالته برخمنه وه. شونې وه، چې د هغه ټولنې په کوم ګوټ کې کوم وګړی پر بل ظلم وکړي؛ خو دا د عدالت د نه شتون کچه نه ده. د ټولنيز عدالت د شتون او نه شتون کچه د ټولنيز عدالت حاکمانه استقرار دی.

په هغه ټولنه کې چې قانون او واکمني عادلانه وي، واکمن يې عادل دی او نيت يې د عدالت نيت دی. عمومي يون د عدالت پر لوري دی. شونې ده، دا لار ژر يا په ځنډ ووهل شي؛ خو په پای کې به ټولنيز عدالت ته ورسي او داسې يو حالت رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) رامنځ ته کړل. آنحضرت پوټی بې عدالتی و نه منله. بېلګه يې راوښووله، چې البته موږ د نبي کريم تر ژوند روسته هم په اسلامي ټولنه کې د آنحضرت د روزنې آثار وليدل او بيا مو د علي کرم الله وجهه په پېر کې هماغه مطلق عدالت په يوه پاک او سپېڅلي واکمن کې، په هغه مهال په اسلامي ټولنه کې وليد.

دا دوه ځانګړنې د بعثت ځانګړنې دي. موږ چې د مبعث جشن نيسو او لمانځو؛ نو ددې لپاره دي، چې دا دوه ځانګړنې راژوندۍ شي. لمانځنې کوو د وګړو، د کړنلارو او پېښو د ژندوي ساتلو په پار او له هغوی ځنې زده کړه اخستنې په پار.

## بعثت؛ د بشريت د تکاملي يون پيل

حقيقتا په يوه واقع بينانه ارزونه کې بايد وويل شي، چې هغه څه چې نن پېښ شول –د اسلام د پېغمبر (ص) د بعثت شپه- يوه ستره پېښه وه، چې د بشريت په تاريخ کې

راپېښه شوې ده او د بشر پر ژوند يې خپل اغېز وکړ. د بعثت پېښه ډېره هېښنده، مهمه، له کيسو ډکه او د اندنې او زيرنې وړ ده.

البته ټول بعثتونه داسې دي. ټولو الهي انبياوو (ع) د بعثت په باب په خپله ازمېينه کې، يوه مهم پړاو تېر کړی دی. د حضرت موسی، حضرت عيسی، حضرت ابراهيم او نورو سترو پېغمبرانو په بعثت کې خورا ستر کارونه شوي دي؛ خو د حضرت خاتم پېغمبر بعثت يو لړ ځانګړنې لري، چې ورته يې نه موندل کېږي.

دا د بعثت سرچينه، چې د نبي اکرم (صلی الله عليه و آله وسلم) په وجود کې راوبهېده، خورا مهم مسير لري؛ يعنې همدلته پای نه مومي، چې د پالونکي له لوري يو حقيقت او نور د يوه ممتاز، ستر او استثنايي انسان په زړه کې راوځلېد. دا لومړی ګام او د کار پيل دی. البته د مسلې مهمه برخه هم همدا برخه ده. د حضرت پېغمبر (ص) په سپېڅلي زړه کې ددې رڼا راځلېدل او د آنحضرت له لوري د وحې د مسووليت منل، هماغه برخه ده، چې په څرګنده، د پنځون نړۍ، د انسان د وجود نړۍ او توکيزه نړۍ د غيبو له معدن سره ورنښلوي. د نښلون کړۍ دلته ده. که څه تل الهي برکات، په دې بهير کې چې اوس به يې ووايم، شتون لري؛ خو د نښلون کړۍ د هماغه بعثت شېبه ده، چې د غيبو له نړۍ، د الهي حقايقو له سرچينې او د بعثت له سرچينې – چې پخپله همدا يوه کليمه بسيا ده- د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم سپېڅلي اروا ته رابهېږي او د رسول الله په سپېڅلي زړه کې خوټېږي؛ نو لومړی ګام د بعثت پلي کېدل دي.

د حقايقو له تمبو ځنې يوه تمبه دې ملکوتي انسان ته پرانستل کېږي او هغه چې دې ازمېينې، دې پېټي وړلو او ستونزو او کړاوونو زغملو ته چمتو دی، خپل ستر حرکت له همدې ړومبۍ شېبې پيلوي؛ نو د بعثت مسله د تعليم له مسلې سره توپير لري؛ يعنې تر تعليم او ښوونې پورته دی؛البته پېغمبرانو (ع) او اولياوو ته د الهي ښوونو او روزنو دسترخوان غوړېدلې ده؛ ((و علم آدم الاسماء[1])) تر پايه هم و.

د حضرت احديت د ځانګړيو زده کړيالانو په نامه د پېغمرانو (ع) تعليم او تاديب يو چار دی، چې شتون لري؛ خو بعثت پر تعليم سربېره يو چار دی. په بعثت کې تعليم، تهذيب او تزکيه هم شته؛ د کتاب اتيان او حکمت هم شته؛ خو يوازې دا نه دي، پر دوی سربېره چارې پکې دي، چې هماغه راپاڅول دي.

دا انسان راپاڅول کېږي، چې هغه پانګه، چې ورکول شوې ده، په کار يې واچوي او

---

[1]. د بقره سورت، ٣١ آيت.

د هغې په وسیله، ځان هغه سر منزل ته ورسوي، چې باید ورسي.دا د بعثت معنا ده. روسته تردې چې لومړی ګام او دا حرکت، د رسول الله سپېڅلي زړه ته د الهي وحې په رابهېدو او د الهي وحې په زغملو پیل شو، هغه مهال د بعثت منځپانګه- چې یوه نوې منځپانګه ده او د یوې نړۍ د جوړولو په معنا او د باطلو او ظالمو بنسټونو د ړنګولو په معنا ده-؛ یعنې د بعثت پلي کېدل، بهر هم پیلېږي، چې مبارزې ته اړتیا لري.

نو تر بعثت روسته ړومبی ګام، خوځښت، مبارزه او حرکت دی. یوه پیغمبر هم و نشو کولای، دا لار بې له مبارزې ووهي؛ دا بار منزل ته ورسوي او دا پیغام خلکو ته ابلاغ کړي. داسې نه ده، چې هغه خلک، چې بعثت یې په زړونو، په منځ او چاپېریال کې ترسره کېږي، هغه څه به په اسانه ومني، چې بعثت یې وړاندیزوي؛ نو له پیغمبرانو سره مبارزه پیلېږي او پیغمبران (ع) هغه خورا دښمن لرونکي انسانان دي، چې د یوه بار،امانت او حق وړونکي دي او بعثت له هماغه ړومبي ورځې له دې دښمنیو سره مخ شو او د رسول الله مبارزه هم له هماغه پیله پیل شوه او دې مبارزې د رسول الله تر مړینې –درویشت کاله- دوام وموند.

پام مو وي، چې دا درویشت کاله، څومره بختور کلونه ول. درویشت کاله یو اوږد عمر او وخت نه دی. تاسې به ډېر وګړيووینئ، چې په شلو، درویشتو او پینځه ویشتو کلونو کې به ان دومره هم بریالي شوي نه وي، چې یو پاموړ کار ترسره کړي. معمولا ژوند یې په وګړیزو چارو تېرېږي. که د سترو انسانانو –که پوهان دي که فیلسوفان دي که سیاستوال دي – کړنلیک وګورئ او د کار پایلې یې په درویشتو کلونو کې وګورئ- البته د وګړي په ظرفیت او وسې پورې اړه لري- نو معلومه نه ده، چې ډېرې سترې چارې به تر سره کړي. هغه درویشت کلونو، چې رسول الله خپل مبارک ژوند د بعثت په پېر کې تېر کړ، څومره به ډېر وي! د جاهلیت په زړه کې او د نړۍ د جاهلیت د پېر په پېړیو کې- نه یوازې جاهلي سیمه؛ بلکې د بشر د جاهلیت او د تورتمونو د راخپرېدو پېر- وکولای شول داسې بنسټ کېږدي او داسې یو څراغ روښانه کړي، چې رڼا به یې د تاریخ په ترڅ کې ورځ تر بلې ډېرېږي او د ډېری خلکو لاسنیوی به کوي او هدایت به ورته کوي.

ددې لار پیل د رسول الله د ژوند په لومړیو دریالسو کلونو کې دی؛ تر دې چې پای یې د حکومت جوړول کېږي. نو بل ګام د تفکر او بعثت پر بنسټ د یوه نظام جوړول دي؛ نو پام مو دی، له دې ترتیبه، په ښه توګه پوهېدای شو، چې د هغوی خبره له

بیخه ناسمه ده، چې هڅه کوي، چې دین او په تېره د اسلام دین له حکومته بېل معرفي کوي؛ البته له دې پلوه ټول ادیان سره یو شان دي؛ خو د اسلام په باب داسې یوه ادعا خورا هېښنده ده، چې څوک وغواړي، د اسلام دین له ژوند، سیاست، له هېواد سمبالنې او حکومته بېل کړي؛ شاته یې واچوي او د دوی ترمنځ تفکیک وکړي. له هماغې ړومبۍ ورځې چې اسلام رامنځ ته شو، له یوې ستونزمنې مبارزې سره د یوه نظام او ټولنې د جوړولو پر لور ولاړ. د رسول الله تر دیارلسو کلونو مبارزې روسته هم، رسول الله وکولای شول- که څه، نه په خپل ښار کې او نه د بعثت د پیل په ځای کې؛ خو د نړۍ په یوه بل ګوټ کې- دا نظام پر پښو ودروي او جوړ یې کړي.

تر هغو اوږدو مبارزو روسته بل ګام،همدادی. د همدې اند او فکر پر بنسټ یو چاپېریال، فضا، یو نظم او نظام جوړول دي او چې دا نظام او د الهي او اسلامي تفکراتو د ملاتړ ځواک چې نه وي، نه شو کولای دا افکار، احکام او الهي مفاهیم د خلکو په ژوند کې خپاره کړو. کټ مټ د هغو کوږ وینو وګړیو د څرګندونو پر خلاف، چې مدعي دي، چې که دین له ځواک سره یو ځای شي؛ نو دین ورستېږي!

نه؛ خبره ددې په اپوټه ده. دین که ځواک سره یو ځای شي؛ نو و به کولای شي، خپور شي او هغه ارمانونه، چې دین یې شعار ورکړی دی، په ټولنه کې به یې رامنځ ته کړي. دا چار بې ځواکه شونی نه دی او په ځواک شونی دی. د بېلګې په توګه، تاسې خیال کوئ، چې په ټولنه کې ټولنیز عدالت په نصحیت، سپارښتنه، هیله کولو او التماس راوړای شو؟! مګر کېدای شي، ټولنیز عدالت، د تبعیض له منځه وړل او د قانون پلي کول په ټولنه کې بې له ځواکه- په یوه بڼه – او د نړۍ په کچه- په بله بڼه رامنځ ته کړو؟!

همداچې کوم حق ټکی په نړۍ کې ویل کېږي؛ لکه څنګه چې د نړۍ ځواکونو وړ وګڼله، چې خپله ضربه ورکړي او ټکنی یې کړي؛ نو ځنډ نه کوي؛ خو داچې وړ یې و نه بولي او دومره ارزښت ور نه کړي! تل داسې وه؛ په نن پورې ځانګړې نه ده، چې تاسې نن وینئ، چې په هر ځای کې چې د اسلام او اسلامي تفکر غبر راپورته کېږي؛ نو بې ځنډه د مستکبرینو، پانګوالو او نړیوالو کمپنیو غوږونه تېز شي، چې وویني، چې څه دي، داسې نه چې کوم خطر یې وګواښي!

تل داسې وه، چې هر چېرې به چې یوه حق خبره له یوې خولې راووته یا کوم زړه، اروا او ستر انسان به هوډ کاوه، چې هرومرو دا حق خبره د نورو غوږونو ته ورسوي؛ نو

ناڅاپه به د دښمنانو او مخالفینو له لوري دېوالونه، خنډونه او اوسپنیز سوکان رامنځ ته کېدل او پر وړاندې به یې لیکې او ټلوالې جوړولې؛ البته ماتې به یې خوړله. باطل –به د حق پر وړاندې- ماتېده؛ په دې کې هېڅ شک نشته. که حق راپاڅي؛ نو بېشکه باطل به مات شي؛ خو مراد دادی، چې بې له مبارزو، هڅو او بې د ځواک له ملاتړه نشي کېدای، چې دیني ارمانونه او افکار-؛بلکې یو ارمان او هیله هم – پلي کېدای نشي؛ البته یو لړ چارې په نصیحت او پسته ژبه هم ترسره کولای شو.

نو پېغمبران (ع) هم د حکومت په جوړېدو پسې ول او تر ټولو څرګند یې زموږ خپل رسول الله دی، چې له هماغې ړومبۍ ورځې یې مبارزه او هڅې وکړې او د اسلامي نظام جوړولو ته لېچې راونغاړلې. بیا یې هم په یثرب کې جوړ کړ او بیا یې دفاع ترې هم وکړه، لمنه یې ورپراخه کړه او دې حرکت تر کلونوکلونو دوام وموند.

نو بل ګام د حکومت جوړول دي؛ خو د حکومت جوړول موخه نه ده. بنسټیز ټکی دلته دی. د حکومت جوړول د ارمانونو د پلي کولو لپاره دی. که حکومت جوړ شو او د ارمانونو د پلي کولو پر لور و نه خوځېد؛ نو حکومت کړلاری دی. دا یوه ټولیزه قاعده ده؛ دا معیار او کچه ده. شونې ده، د ارمانونو پلي کول، کلونه کلونه دوام ومومي، د پلي کولو د لارې پر سر خنډونه او ستونزې وي؛ خو د حکومت لوری-ددې رامنځ ته کېدونکې ځواک لوری-باید هرومرو د هغو ارمانونو، موخو او هیلو پر لور وي، چې شعار یې ورکول شوی دی او ورکول کېږي او د قرآن عظیم الشان په متن او اسلامي احکامو کې شتون لري. که پر هغه لوري نه و؛ نو بېشکه چې حکومت کړلاری دی. کچه داده، چې د قانون پر بنسټ نظم او ټولنیز عدالت رامنځ ته شي او په هر ځای کې الهي قوانین واکمن شي. او چې الهي قوانین واکمن شول؛ د اسلام پر بنسټ نظم رامنځ ته شو او ټولنیز عدالت پلي شو؛ نو تر اوسه یوه منځنۍ موخه یا په واقع کې د لارې یو پړاو مو وهلی دی. بل پړاو دادی، چې هغه خلک، چې په دې نظام کې هوسا، بې دغدغې او له عدل سره ژوند کوي، حسنه اخلاقو د تخلق لپاره یو فرصت او لېوالتیا پیدا کړي او دا هغه څه دي، چې نن غواړم ادانه پرې وکړم او دا ټکی ووایم، چې د حکومت تر جوړېدو روسته دا موخه ده؛ بلکې د عادلانه نظام تر جوړېدو روسته او د ټولنیز عدالت تر واکمنېدو روسته او د واقعي اسلامي حکومت تر رامنځ ته کېدو روسته، دا ورپسې موخه ده.

انسانان باید په حسنه اخلاقو تخلق ومومي، چې البته په حسنه اخلاقو تخلق هم د

تعالي، مانيز او اروايي تکامل او د غوره معرفت لامل دی او د انسان د تکامل له پوړونو څخه دی. موږ هم ډېر نشوکولای، سم درک وکړو. همدومره انسان له شاوخوا او مشرانو يو لړ څيزونه اوربدلي دي. هغه پړاو، چې اوس په موږ پورې اړونديږي، د اخلاقو پړاو دی؛ اخلاق، اخلاق. تاسې ووينئ، چې دا سمه ده، چې رسول الله وايي: ((انما بعثت لاتمم مکارم الاخلاق[1])) دا حديث له فريقينو رانقل شوی دی؛ شيعه او سني رانقل کړی دی.

دا ((انما)) خورا معناوې لري؛ يعنې د بعثت بنسټ مې پردې دی؛ موخه داده؛ نورې يې سريزې دي. ((لاتمم مکارم الاخلاق)) تردې چې په بشر، د ټولنې په وګړيو، انسانانو او په دې امت کې بشپړ شي؛ وده وکړي او ټول ترې برخمن شي او انسانان شو.

بايد انسانان شو. بايد په ځان کې انساني اخلاق تقويت او بشپړ کړو. دا هغه ورپسې او خورا مهم ګام دی. که هغه ټولنه، چې په اسلام پورې اړوند ده، هغه نظام، چې ارکان يې اسلامي ارکان دي، موږ له اسلامي اخلاقو لرې شو او په هوسونو، خودخواهيو او ځان لمانځنې پسې ولاړ شو او هر څوک چې هڅه وکړي، چې ډېر لاس ته راوړي، غوره يې وخوري او غوره ژوند وکړي؛ د هغه او له هغه يې راوشلوي او که په کار وي، تر خپل حقه ډېره ګټنه او تصرف وکړي؛ نه کوم ګذشت وي او نه سربښندنه؛ نو دا به څرنګه حکومت وي؟!

څرنګه اسلام او څرنګه اسلامي ټولنه به وي؟!

دا د هغه مسلې بنسټ دی. ((بعثت لاتمم مکارم الاخلاق))

ګرانو! يوه شئ، چې نن نړۍ دې ته اړتيا لري. په خواشينۍ، چې توکيزه نړۍ بيخي له دې بې برخې ده.

د اسلام په سپېڅلې شرع کې الهي اخلاق او د اخلاقو مکارم په تفضيل شرح شوي دي؛ هغه څيزونه، چې په خپله په انسان پورې اړوند دی-لکه صبر، شکر، اخلاص او قناعت- څه هغه چې په نورو انسانانو پورې اړه لري – لکه ګذشت، تواضع، سربښندنه او د انسانانو درناوی- او هغه چارې، چې د اسلامي ټولنې په ټولګې پورې اړه لري. اسلامي اخلاق پراخ بنسټه دي او دا هماغه څيزونه دي، د ټولو انبياوو، اولياوو او د الهي اديانو مشرانو ډېره هڅه دا وه – او په اسلام کې د اسلام مکرم پيغمبر او سپين لمنو امامانو-چې دا جوړ شي.

البته په يوه جايرانه حکومت کې، شونې ده، دا چارې په خورا سختۍ لاس ته راشي. لکه څنګه مو چې وويل. هغه نظام،

[1]. بحارالانوار، ٦٨ ټوک، ٣٨٢ مخ.

چې بنسټ یې پر باطل، ظلم او مادي ګری دی- لکه د نړۍ د طاغوتونو حکومت- نو طبیعي ده، چې داسې څېزونه په آسانۍ لاس ته نه راځي؛ خو په یوه اسلامي نظام کې یې خورا په اسانۍ لاس ته راوړای شو او نن نړۍ دې ته اړتیا لري.

زموږ ټولنه باید د اسلامي انقلاب د بشپړوونکي په نامه یو حرکت تر سره کړي، چې دا ستر حرکت دې دوه پړاوه ولري: یو د نظام استقرار او زموږ په منځ کې د اسلامي اخلاقو خپراوی؛ زموږ په خلکو کې د اسلامي خویونو ارزښتي کېدل. دا ارزښت څه شی دی. په دې هېواد کې د طاغوتانو د حکومت پر مهال، دا له ارزښته غورځېدلي وو. رښتین انسان د نیمګړو او لنډوینو انسانانو په سترګو کې ساده وي یو ساده انسان وي. رښتین دی؛ چې په څه پوهېږي، وایي یې؛ خو سم سړی هغه دی، چې رښتیا و نه وایي، حقایقو اپوټه کړي او وکولای شي، چل ول او دوکه وکړي! دا د ارزښتونو اپوټه کېدل دي.

د طاغوتانو د حکومت په ترڅ کې د ظالم، جابر، فاسد او اخلاق ضد پاچایان داسې شوي ول او په خواشینۍ، چې په هېواد کې اخلاقي بنسټونه خورا ټکني شوي دي.

البته انقلابي حرکت زموږ په ټولنه کې له اخلاقي بنسټونو، دننني بنسټونو او اخلاقي اروا سره خورا مرسته وکړه؛ را ژوندي یې کړل؛ خو بیا هم کوښښ په کار دی. دا لومړی پړاو دی.

او دویم پړاو یې دادی، چې تاسې دا نړۍ ته ورزده کړئ. نړۍ نن اړتیا لري. بشریت نن په نړیواله کچه د اخلاقو له نشتونه کړېږي. اسلام او مسلمین کولای شي، ولسونو ته د اخلاقو خورا غوره ډالۍ ورکړي. بشریت ته یې ورډالۍ کړي.

ګورئ! دروغ او چل ول؛ یعنې دا! له اخلاقو لرېوالی او له اخلاقو د بشر بې برخېتوب؛ یعنې دا! په نړۍ کې دا خورا کړوونکی دی، چې انسان ووینې، چې هغوی په نړۍ کې د ارزښتونو او فضیلتونو مدعي دي، چې په خپله د فضیلتونو ستر دښمنان دي.

نړۍ ستاسې پېغام او لارې، هغه حقیقت، چې له تاسې سره دی، ستاسې په قرآن او ستاسې په بعثت کې دی، ته اړتیا لري؛ خو هغه ورځ به وکولای شئ، چې نړۍ ته زده کړه وکړئ، چې په خپله مو زده کړه کړې وي؛ مخکې مو په خپله زده کړې وي او عمل مو پرې کړی وي.

## بعثت؛ له ټولو وګړیزو او ټولنیزو تورتمونو د بشریت وتلار ده

مبعث حقیقتا یو اختر دی؛ یو ستر جشن دی؛ هم مسلمانانو ته په ټولو پېرونو کې،

هم د ټولو انسانانو لپاره، که د اسلام په پیغام کې سمه اندنه وکړي.
نبوي بعثت حرکت، د بشر پر وړاندې یوه نوې لار پرانسته ؛((هو الذی یصلی علیکم و ملایکته لیخرجکم من الظلمات الی النور[1])) بعثت ددې لپاره دی، چې انسانان له تورتمونه راوباسي او رڼا ته یې هدایت کړي. دا تورتمونه ټولې هغه تیارې رانغاړي، چې د نړۍ په کچه د انسانانو په ژوند کې او په ټول تاریخ کې رامنځ ته شوي دي؛ د کفر او شرک تورتمونه، د ناپوهۍ او ځلباندۍ تورتمونه، د بې عدالتۍ، تبعیض او ظلم تورتمونه، له اسلامي اخلاقو د لرېوالي تورتمونه او په اخلاقي فساد کې د ورډوبېدو تورتمونه، د ورور وژنې تورتمونه، د ناوړپوهۍ او کرپوهۍ تورتمونه او ډول ډول او بېلابېل تورتمونه. اسلام انسان له تورتمونو راوتو ته هدایتوي او سوکه سوکه په زده کړه، په حرکت، په هوډ، په سمه اندنه او د لارې د خنډونو په پېژندو به دا لاره پیدا کړي.
نن پر نبوي پیغام د پوهېدو لپاره د نړۍ ظرفیت تر پخوا خورا لوړ شوی دی. څومره چې د بشر پوهه ډېرېږي؛ نو د اسلام په پیغام پوهه هم ډېرېږي. څومره چې د نړۍ ځواکمنان- د نړۍ په هر ګوټ کې- د انساني احساساتو د ځپنې، د انسانانو د تسخیر لپاره له حیواني وزلو ډېره ګټنه کوي- چې پر بشر د ځواکونو ظلم په دې بڼه راڅرګند شي-؛ نو د اسلام د رڼا د پېژندو لپاره به لار ښه پرانستل شي او انسانان به یې ډېر تږي شي.
نن موږ د اسلام پیغام – چې د توحید پیغام دی، د معنویاتو پیغام دی، د عدالت پیغام دی، د انسان د کرامت پیغام دی- ته د بشریت د تندې آثار احساسوو؛ انسانان لېوالتیا لري.
البته دا زموږ د مسلمانانو دنده ده، چې په خپلو کړنو، په خپلو وینااوو او په خپله اراده، دا پیغام د نړۍ خلکو ته ور و رسوو. په هر ځای کې چې په اسلام مؤمن انسانان په اسلامي امت کې دننه له فضیلت سره یو حرکت ترسره کړي؛ نو اسلام به د نړۍ د خلکو په سترګو کې خورا نوراني او خورا مطلوب شي. په ګرد سره اسلامي امت کې، په هر ځای کې چې د مسلمانانو کمزوري، ورسته پاتېدنې او ذلتونه ولیدل شي؛ نو دا د اسلام شان راټیټوي. نن که په اسلامي امت کې او د اسلامي امت ځواکمنان – هغوی چې یو کار کولای شي- داسې یوه خبره یا کړنه وکړي، چې د انحطاط نښانه وي؛ نو دا د نړۍ په سترګو کې د اسلام سپکاوی دی؛ نو نن د اسلامي سیاستوالو دنده خورا درنده ده؛ د مسلمانو

[1]. د احزاب سورت، ۴۳ آیت.

روښانفکرانو، هنرمندانو، لیکوالانو او ادیبانو دنده خورا درنه ده؛ په اسلامي امت کې د هغو وګړیو دنده خورا درنه ده، چې په خپل چاپېریال کې اغېزمن دي او یو کار کولای شي. نن هغه ورځ ده، چې کولای شو، چې نړۍ، مظلوم انسانیت او ځبلاند انسان ته مخامخ اسلام په لاس کې نیولی شو او ویلی شو: دا ده ستا د ژغورنې لار؛ دا واقعیتونه دي.

## د بعثت اړخونه او موخې

په حقیقت کې مبعث د هغه رسالت د بیرغ د هسکولو ورځ ده، چې ځانګړنې یې د بشر لپاره ممتازې او بې سارې دي. مبعث په حقیقت کې د علم او معرفت بیرغ هسک کړ. بعثت په ((اقرء)) پیل شو: ((اقرء باسم ربک الذی خلق[1])) او په ((ادع الی سبیل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة[2])) یې دوام وموند؛ یعنې له حکمت سره بلنه. اسلامي بلنه په حقیقت کې په ټوله نړۍ او تاریخ کې د حکمت خپرول دي؛ لکه څنګه چې بعثت د عدل د بیرغ هسکول او هسکوونکی دی؛ یعنې په مؤمنیو، د خدای په بندګانو او ټول بشر کې عدل پلي شي؛ لکه څنګه چې بعثت د سترو الهي اخلاقو د بیرغ هسکول دي؛ ((بعثت لاتمم مکارم الاخلاق[3])) متعال خدای، خپل پېغمبر ته په خطاب کې وایي: ((و ما ارسلناک الا رحمة للعالمین[4]))؛ یعنې ټول هغه څیزونه، چې بشر ورته- په هر وخت، په ټولو حالاتو او د نړۍ په هر ګوټ کې- اړتیا لري، په دې بعثت کې رانغاړل شوي دي؛ یعنې علم او معرفت، حکمت او رحمت، عدل او وروروليې او ټول هغه بنسټیز څیزونه، چې د روغ انسان ژوند ورپورې تړلی دی. ان سره له دې چې په اسلام کې جهاد ټاکل شوی دی او جهاد؛ یعنې له ظلم او یرغل سره مبارزه- البته هغوی چې د بدغواړۍ له مخې، د جهاد د حکم له مخې، اسلام د تورې دین معرفي کړی دی-؛ خو همدا اسلام وایي: ((وان جنحوا للسم فاجنح لها و توکل علی الله[5]))؛ یعنې بیا هم په هغو ځایونو کې چې د حالاتو غوښتنه وي، سولې ته پر جګړې لومړیت ورکوئ.

[1]. د علق سورت، لومړی آیت.
[2]. د نحل سورت، ۱۲۵ آیت.
[3].بحارالانوار، ٦٧ ټوک، ۳۷۲ مخ.
[4]. د انبیاء سورت، ۱۹۷ آیت.
[5]. د انفال سورت، ٦١ آیت.

## تر اسلام مخکې او د اوسني جاهلیت پرتلنه

د نبي اکرم (ص) بعثت د بشر لپاره د يوې نوې لارې پیل و. په کوم چاپېریال کې چې دا پیغام راغی، خورا ناوړه او نازغموړ چاپېریال و. مادیاتو ته د ورلېواله کېدو او ورجذبېدو نړی، د حیوانو خویونو نړی، د چارواکیو، واکمنانو او زورواکو د نه قابو کېدو نړی، د تبعیض، فساد، ظلم، شهوتپالۍ او خپلسرۍ نړۍ. دا حالات یوازې د حجاز په سیمې پورې ځانګړي نه ول؛ هغه دوو دولتونو هم چې له عربستانه راچاپېره وو- یعنې ساساني ایران او د روم امپراتوري- په همدې ستونزو ککړ ول.

کوم جاهلیت، چې د اسلام د راښکاره کېدو پر مهال، د خلکو ژوند تر دباو لاندې نیولی و، یو پراخ بنسټه جاهلیت و. پر هغه مهال د انسان لپاره ملاماتوونکې فتنې، په عربستان او شاوخوا کې یې وې. علم هم و. تمدن هم –د خپل وخت-و. د سلطنتي حکومتونو، نظم، ترتیب او تشریفات هم وو. په هغو هېوادونو کې د مطلقه ځواک له لامله انضباطونه هم وو؛ خو څه چې نه وو، کټ مټ هغه څه وو، چې بشر پرېکنده اړتیا ورته درلوده؛ یعنې د انساني فضیلت چاپېریال، د لورنې، مروت او عدالت چاپېریال. څه چې د هغه مهال خلکو لږ درلودل، عدالت و؛ دا و، چې کمزوری د پیاوړي تر پښو لاندې او نه لتاړل شي؛ دا و، چې د ځمکې پر مخ خیرات د یو لږ ځانګړیو وګړیو په لاس کې متمرکز نشي او نور ترې بې برخې پاتې شي. د بشر ستر دردونه دا وو. د ساساني حکومت تر نامې لاندې هم چې وو، همدا وو؛ د روم امپراتورۍ تر نامې لاندې هم چې وو، همدا وو؛ خو په هر ځای کې یې په خپله بڼه. د هغه ورځې په حجاز کې هم، چې لومړنی او بدوي ژوند و، په بله بڼه و. اسلامي بعثت د دې ټولو پر وړاندې راښکاره شو. دا بعثت په هغې ټولګې پورې ځانګړی نه و؛ په ټول بشر پورې اړوند و: ((ان هو الا ذکر للعالمین[1])) رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وکولای شول، د هغو ټولو ترخو واقعیتونو پر وړاندې ودرېږي او رانسکور یې کړي. رسول الله وکولای شول، د بې عدالتیو او بشري ګډوډیو په دېوالونو کې ستر درزونه رامنځ ته کړي او ځینې یې رانسکور کړي او ځینې یې رانسکورېدو ته چمتو کړي وو. رسول الله په خپل مخ کې خورا ستونزمن او کړمن واقعیتونه درلودل او هغه مهال، چې له ناوړتیا، ګډوډۍ او فساد سره

---
[1]. د تکویر سورت، ۲۷ آیت.

د تورې زور او د سیاست اراده هم یو ځای شي؛ نو د بشریت لپاره یو ستر خطر ترې جوړېږي.

نن د یوویشتمې پېړۍ بشر، له دې دومره ادعاوو سره سره، د ځینو کمزوریو له لامله، چې یې ښیي، پردې لوري ور روان دی، چې یو ځواک یا د یوه نه قابوکېدونکي او پر زړو اډانه وهونکي ځواک یوه ټولګه او پولادي پنجه د خپلې وسلې په زور راپاڅي او د ځان لپاره حق وپنځوي؛ هغه حق، چې بیخي شته دی نه. دا هماغه حالات دي، چې هغه مهال، د بعثت د پیل پر مهال وو. پېغمبر راپاڅېد؛ و یې نه ویل: دا یو واقعیت دی او له دې واقعیت سره خو هېڅ هم نشو کولای. ځینې وګړي خپلو کمزوریو او ناهمتیو ته داسې مخونه ورکوي: یو واقعیت دی، څه به یې کړو؟ هغه واقعیت، چې باید ورتسلیم شو، دا نه دی. طبیعي واقعیتونه، نادرمله واقعیتونه، هغه واقعیتونه، چې پر انسان ورتپل شوي نه دي؛ دا هغه واقعیتونه دي، چې باید سازښت ورسره وکړي؛ خو هغه واقعیتونه، چې ځینو د نیزو او زور په مټ د نورو پر وړاندې رامخې ته کړي دي، باید دړې وړې شي. دا منطقي نه ده، چې ووایو، چې د استکبار ځواک نن یو واقعیت دی، څه ورسره وکړو. دا یو راتپل شوی واقعیت دی. د دې واقعیت پر وړاندې، ستر انسانان، الهي ادیان او د سترو فکرونوخاوندان درېږي او مقابله ورسره کوي، چې بدل یې کړي او بدلېږي هم. د بعثت حقیقت دا و. پر هغه ورځ، چې دا پېغام د مکې چاپېریال ته ورننووت، و یې ویل: ((قولوا لا اله الا الله تفحلوا[1])) که څوک د انصاف خاوند هم و؛ نو مړانه یې نه کوله، چې احتمال یې ورکړي، چې دا پېغام به یوه ورځ بریالی شي؛ ځکه بیخي زمینه یې نه وه. د کعبې پردېوال دا دومره ستر راځوړند شوی بوت، د بوتانو ملاتړ، ژور جاهلي تعصبونه، د مکې هغې سترې ځواکمنې شتمنې کورنۍ، چې لا اله الا الله دا ټول بوتان دړې وړې کړل او د دوی تر شا د روم او ایران ځواکمنې امپراتورۍ؛ مګر چا ځان ته جرات ورکاوه او ان په لومړیو پړاوونو کې یې منلې وای، چې دا پېغام د تعقیبولو او طرحولو وړ دی؟ کمزروي انسانان له همدې ځایه پر شا تګ کوي؛ خو دندې، رسالت او بعثت، رسول الله رامیدان ته کړ. بعثت یعنې برانګېختګي/ هڅونه او دا بعثت راغی او چاپېریال یې لومړی په حجاز کې او ورپسې د هغې ورځې په متمدنې نړۍ کې د څوویشتو کالو په ترڅ کې بدل کړ.

---

[1] بحارالانوار، اتلسم ټوک، ۲۰۲ مخ.

تر اوسه لا د اسلام له راښکاره کېدو نيمه پېړۍ نه وه تېره شوې، چې تر نيمې ډېره متمدنه نړۍ له اسلامه اغېزمنه شوه. داسې و نه ننګېرئ، چې د ځواکمنو امپراتوريو په څېر حکومتونه به علم، عقل، پوځي تشکيلات او د غرور او تکبر ادعا نه کوي؛ ولې نه؛ خو چې د اخلاصمنو، سرښندونکيو او همتي انسانانو په زړه کې پرېکنده، روڼ او پر منطق اډانه وهونکی ايمان وي؛ نو دا ټول خنډونه له لارې هاخوا کېدونکي دي. نن همدا هماغسې ده: اسلامي ايمان، هغه ايمان دی، چې پر استدلال او منطق يې اډانه وهلې او د بشر د خير او نېکمرغۍ تضمينوونکی دی.

## مبعث نمانځنه؛ د بعثت د سترو زده کړو بيا ويل دي

د مبعث نمانځنه، د يوې ګرانې يادېزې تر نمانځلو ډېر، د رسول الله د بعثت د زده کړو مطرحول دي، چې نن بشريت- په تېره د مسلمانانو ټولنه- ورته خورا اړتيا لري. نن بشريت د طاغوتي ځواکونو له واکمنۍ، له ظلم، تبعيض، فساد او د خلکو پر ژوند د ځانګړيو ډلو د هوسونو له واکمنېدو کړېږي. نن بشريت د هغو انسانانو د ځاني غوښتنو په منګولو کې راښکېل دی، چې بيخي په انسانيت نه پوهېږي. نن بشريت تر بل هر وخته د بعثت پيغام ته اړتيا لري.

د نبي اکرم بعثت په لومړۍ درجه کې توحيد ته رابلنه وه. توحيد يوازې يوه فلسفي او انديزه نظريه نه ده؛ بلکې د انسانانو لپاره د ژوند يوه طريقه او لار ده؛ خدای په خپل ژوند کې واکمنول او د بشر له ژونده د بېلابېلو ځواکونو د لاس لنډول دي. لا اله الا الله ، چې زموږ د پېغمبر او ټولو پېغمبرانو آريز پېغام دی، په دې معنا ده، چې د انسان په ژوند، مسير او د ژوند د لارو په ټاکنه کې بايد طاغوتي ځواکونه او شيطانان لاسوهنه و نه کړي او د انسانانو ژوند د خپلو غوښتنو او لېوالتياوو لوبڅی نه کړي. که توحيد په هماغه واقعي معنا، چې اسلام تفسير کړی دی او ټول پېغمبران د هغه پېغام حاملان وو، د مسلمانانو په ټولنو او بشري ژوند کې پلی شي؛ نو بشر به حقيقي نېکمرغۍ او دنيوي او اخروي ښېګڼو ته ورسي او د بشر نړۍ به هم آباده شي؛ د انسان د حقيقي تکامل او تعالي په چوپړ کې نړۍ. د اسلام له ليدلوري دا نړۍ د آخرت سريزه او د ورتګ لار ده. اسلام دنيا نه نفې کوي. دنيوي نعمتونه رټلي نه ګڼي؛ انسان له ټولو استعدادونو او غرايزو سره د ژوند په ډګر کې فعال غواړي؛ خو دا ټول بايد د روح د رفعت او تعالي او د انساني معنويت د بهجت په چوپړ کې وي، چې ژوند په همدې نړۍ کې هم خوږ شي. په داسې يوه نړۍ کې ظلم، جهل، او د داړلو خويونه نه وي او دا يو ستونزمن چار

دی او هڅو ته اړتیا لري او رسول الله دا جهاد او هڅې له هماغه ړومبۍ ورځې پیل کړې.

څه ته چې رسول الله بلنه وکړه، هماغه څه دي، چې بشر ورته د ژوند د تاریخ په ټولو پېرونو کې اړتیا لري. رسول الله انسان پوهې ته راوباله. د قرآن ړومبي آیتونه د پوهې په ستاینه کې دي: ((اقرا باسم ربک الذی خلق. خلق الانسان من علق. اقرا و ربک الاکرم. علم بالقلم[1])) لومړی یې تعلیم مطرح کړ. پوهه د انسان د خلاصون او ښېگڼې وزله ده، چې په کوم ځانگړي مهال او ځای پورې اړوند نه ده او د بشر د ژوند په ټولو پېرونو پورې اړوند ده.

رسول الله انسانان حرکت او پاڅون ته راوبلل. متعال خدای په خپلو لومړیو رالېږلو آیتونو کې وایي: ((قم فانذر[2])) قیام کول، حرکت کول او د رکون او جمود له حالته راوتل او ځان مسوول گڼل. ((قل انما اعظکم بواحدة ان تقوموا لله[3])) د خدای لپاره قیام، د بشر د ژوند په ټولو حالاتو کې چارساز دي او بې قیام او حرکت نشو کولای، کومې لوړې موخې ته ورسو.

رسول الله انسانان دنفس تزکیې، تصفیې او روزنې ته رابلل: ((هو الذی بعث فی الامیین رسولاً منهم یتلوا علیهم آیاته و یزکیهم یعلمهم الکتاب و الحکمة[4])) تزکیه لومړی شرط دی. بې تزکیې به علم هم د بشر د فساد، انحطاط، بې لارۍ او سقوط لپاره یو وزله وي؛ لکه څنگه چې تاسې گورئ، چې نن په نړۍ کې علم د بشر د سقوط وزله شوی دی او په علم ولسونه په زنځیرونه تړي، حقایق پرې اپوټه ښیي او انسانان پرې وړي ساتي. په نړۍ کې څومره انسانان ددې لپاره چې ښکېلاکگرو ځواکونو پرې په علم یرغل کړی دی، نن له خپلو حیاتي سرچینو څنې بې برخې دي او په خورا نشتمنۍ او بې برخېتوب کې ژوند کوي! نن هم همداسې ده. نن نړیوال استکبار- په نړۍ کې د استعمار او ښکېلاک یوه نوې بڼه- په علم او د علم په وزلو په اډانه انسانان بېچاره کوي، هغوی په زنځیرونو تړي، وژني یې او له منځه یې وړي. د بې تزکیې علم پایله داسې وي.

اسلام وگړي، رورولۍ، انسانان یو شان گڼلو، د هغوی ترمنځ تبعیض نه قایلېدو، توکمونه او نژادونه یو د بل ترمنځ د توپیر کچه نه ایښوولو، یوه ولس ته پر بل ولس د طبیعي او ذاتي غوراوي نه قایلېدو ته رابلي. اسلام د متقیانو غوراوي ته بلنه

[1]. د علق سورت، ۱-۴ آیتونه.
[2]. د مدثر سورت، دویم آیت.
[3]. د سبا سورت، ۴۶ آیت.
[4]. د جمعه سورت، دویم آیت.

ورکوي. د غوراوي کچه تقوا ده؛ تقوا يعنې خپلو کړنو ته پام کول؛ تر خپلو پښو لاندې کتل، د الهي بريدونو په پامنيوي ژوند ته کړلار جوړول. دا په يوه ځانگړي وخت پورې اړوند نه دي او بشر نن هم دې ټولو ته اړتيا لري. د بشر علم او مدنيت، چې څومره پرمختگ وکړي، همدا ځيزونه دي، چې د نېکمرغۍ لامل يې دی. اسلامي امت بايد دې چارو ته پام وکړي، دا چارې وغواړي او هڅې ورته وکړي. دا هر څه د مسلمان ولسونو او د اسلامي هېوادونو واکمنانو- هغوی چې د هېواد چارې يې په لاس کې دي- کوټلې ارادې ته اړتيا لري.

د نن په ماثوره دعا کې – و قد علمت ان افضل زاد الراحل اليک عزم ارادة يختارک بها[1]) د يوه انسان تر ټولو با فضيلته توښه داده، چې انسان عزم او اراده ولري، چې د خدای لار وټاکي او پر هغه لار حرکت وکړي. البته دا يوه ستونزمنه لار ده؛ خو د انسان په راسخ عزم اسانېږي. دا هغه ځيزونه دي، چې اسلام يې زده کړه راکړې ده. په هر ځای کې چې موږ دا په خپل ژوند کې تجربه کړي، عملي کړي مو دي؛ يعنې تجربه هم دا تاييدوي.

په صدر اسلام کې يوې کوشنۍ ډلې، چې له مدنيت، پوهې او د ژوند له هر ډول شونيتاوو بې برخې وو، د همدې اصولو په برکت او په همدې پياوړيو ستنو په منگلو لگولو يې وکولای شول، په نړۍ کې يې د څو پېړيو لپاره تر ټولو ستر مدنيت جوړ کړي او نړۍ هم د هغوی له علم، مدنيت او پرمختگه گټنه وکړه. دا زموږ تېره تجربه ده. نن موږ هم په جمهوري اسلامي کې، په هر ځای کې مو چې پر خدای توکل کړی او په هر ځای کې مو چې له خپل ځواکه کار اخستی او خپلو ځاني غوښتنو ته مو شا کړې او موخې مو سترې شمېرلي؛ نو چارې مو بريالۍ وې.

څرگنده ده، چې ټولنه جوړونه او مدنيت جوړونه- چې د اسلام له سترو موخو ځنې يوه يې ده- بې له دښمنۍ ناشونې ده. په صدر اسلام کې هم د اسلام نظام او اسلامي ټولنې له جوړېدو سره دښمني وشوه؛ نن هم همداسې ده. نن په اسلامي نړۍ کې، مسلمان ولسونه، په خپلو ځانونو کې د اسلام د اعتزاز روح مومي او د اسلام په پار د عزت احساس کوي. اسلامي ويښتيا هغه حقيقت دی، چې رامنځ ته شوی دی، که د اسلامي امت دښمنان يې وغواړي، که يې و نه غواړي. ددې لارې وهل د هېوادونو د چارواکيو کوټلې ارادې ته اړتيا لري.

موږ په خپله د دې وينا لومړي مخاطبان يو، چې درنې دندې هم لرو. پيغمبراکرم وويل:

[1]. اقبال الاعمال، دويم ټوک، ٦٧٨ مخ.

((لا تصلح عوام هذه الامة الا بخواصها[1]))
د عوامو او ولسونو سمونه د هغې ټولنې په مخورو او خواصو پورې اړوند ده. له رسول الله نه يې وپوښتل: د امت مخور کوم وګړي دي – ((قيل يا رسول الله و ما خواص امتک؟- و يې ويل: ((خواص امتی العلماء والامراء)) پوهان، روښانفکران، په خبره پوه، چارواکي، واکمنان او خواص.

## د خاتم النبيين؛ محمد مصطفی (ص) بعثت ته بياکتنه

پيغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم مخکې تردې چې څلوېښت کلن شي، هر کال به يې څه موده په حراء غار کې ګوښې تېروله او د خپل پالونکي عبادت يې کاوه. په دې ګوښه توب کې يې علي کرم الله وجهه هم له ځان سره بوت.
چې پيغمبراکرم صلی الله عليه وآله وسلم څلوېښت کلن شو، په حراء غار کې لومړی ځل وحې پرې نازله شوه او علي کرم الله وجهه هم چې ورسره و، د ړومبي وار وحې د راکېوتو شاهد شو[2].
د وحې تر نزول روسته علي کرم الله وجهه او خديجه (رضی الله عنها) ړومبي کسان وو، چې پر پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم يې ايمان راووړ او د وحې تر راکېوتو روسته پر ړومبۍ ورځ يې په پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم پسې د جماعت لمونځ وکړ. ترڅو کلونو پورې بې له دې درېيو تنو بل چا اسلام منلی نه و، په دې اړه طبري او نورو مورخانو له عفيف کندي روايت کړی چې و يې ويل:
«په جاهليت پېر کې مکې ته ولاړم او د عباس بن عبدالمطلب مېلمه وم، يوه ورځ مې پر کعبه نظر شو، يو ځوان مې وليد چې راغی، اسمان ته يې وکتل، بيا کعبې ته ودرېد. څه وخت تېر نه و، چې يو هلک مې وليد، راغی او ښي خوا ته يې ودرېد. ورپسې يوه ښځه راغله او په دوی پسې ودرېده. بيا ځوان سرې رکوع وکړه، هلک او ښځې هم رکوع وکړه، ځوان سړی ودرېد هلک او ښځې هم دغسې وکړل، ځوان سړي سجده وکړه، دې دواړو هم دغسې وکړل.
و مې ويل: عباسه! يو ستر چار دی.
عباس هم وويل: يو ستر چار دی، پوهېږې دا ځوان سړی څوک دی؟
و مې ويل: نه پوهېږم.
و يې ويل: دا مې وراره، محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب دی.
بيا يې وويل: پوهېږې، څوک ورسره دی؟
و مې ويل: نه.

---

[1]. مواعظ العدديه، ۱۲۴ مخ.

[2] د کتاب تېرو بحثونو ته رجوع وکړئ

و يې ويل: دا مې وراره علي بن ابی طالب بن عبدالمطلب دی، دې وراره مې راته وويل: پالونکی مې د اسمان او ځمکې پالونکی دی، دوی چې پر څه دي امر يې ورته کړی پر خدای قسم د ځمکې پر مخ بې له دې دربيو تنو، بل څوک پردې دين نه پېژنم[1]»

د بعثت د سترې دندې لپاره د پېغمبر اعظم (ص) وړتياوې او ځانګړنې

د يوه متواتر او مشهور حديث له مخې، په خپله آنحضرت وايي: ((بعثت لاتمم مکارم الاخلاق[2])) بعثت په دې موخه په نړۍ کې رامنځ ته شو، چې د بشر اخلاقي مکرمتونه او روحي فضيلتونه عموميت وومومي او کمال ته ورسي.

تر څو چې په خپله يو تن د غورو اخلاقي مکارمو څښتن نه وي؛ متعال خدای ورته دا ستر او خطير ماموريت نه ورکوي؛ نو د بعثت په پيل کې، متعال خدای، خپل پېغمبر ته په خطاب کې وويل: ((انک لعلی خلق عظيم[3])) د رسول الله جوړېدل او پخېدل، چې هغه لوښی شي، چې متعال خدای يې خپلې وحې ته مناسب ومومي، دا چارې تر بعثت مخکې چارې دي؛ نو ويل شوي دي، چې رسول الله په ځوانۍ کې په سوداګرۍ بوخت او له دې لارې يې خورا درآمدونه هم درلودل، چې ټول يې د خدای په لار کې صدقه کړل او پر بېوزليو يې وويشل. دا پېر چې د رسول الله د تکامل روستی پېر او تر وحې مخکې وخت دی- هغه پېر چې لا پېغمبر شوی نه و- رسول الله به د حرا غره ته ورخته او الهي آيتونو ته به په ننداره و؛ آسمان، ستورو، ځمکې او دې پنځېدليو ته چې په له بېلابېلو احساساتو او کړنلارو سره پر ځمکه ژوند کوي. آنحضرت (ص) به په دې ټولو کې الهي آيتونه موندل او ورځ په ورځ يې د حق پر وړاندې خضوع او په زړه کې يې د الهي نهې، امر او ارادې پر وړاندې خضوع ډېرېده او ورځ په ورځ پکې نېک خويونو راټوکېدل. په روايت کې راغلي دي، چې: ((من اعقل الناس و اشجعهم[4])) رسول الله تر بعثت مخکې، د الهي آيتونو په ليدو، ورځ په ورځ پخېده، چې څلوېښت کلن شو. ((فلما استکمل اربعين سنة و نظر الله عزوجل الی قلبه فوجده افضل القلوب و اجلها و اطوعها و اخشعها و اخضعها[5])) په څلوېښت کلنۍ کې يې زړه الهي پېغام موندو ته خورا نوراني ترين، خورا خاشع ترين او خورا پر ظرفيت ترين زړه و. ((اذن لابواب السماء ففتحت و محمد ينظر اليها[6])) او هغه

---

[1] تاريخ الطبري: ۳ټ، ۱۱۶۱مخ، اروپا چاپ
[2]. بحارالانوار، ۶۸ ټوک، ۳۸۲ مخ.
[3].د قلم سورت، څلورم آيت.
[4]. مختصر البصائر، ۶۰ مخ.
[5]. امام حسن عسکري ته ورمنسوب تفسير، ۱۵۶ مخ.
[6].بحار الانوار، ۱۷ ټوک، ۳۰۹ مخ.

مهال، چې د معنویت، روحانیت، نورانیت او کمال دې پړاو ته ور و رسېد؛ نو متعال خدای ورته د آسمان او د غیبو د نړۍ تمبې پرانستې او سترګې یې ورته معنوي او غیبي نړیو ته ورپرانستې.

((و اذن للملائکة فنزلوا و محمد ینظر الیهم)) هغه به پرښتې لیدې، خبرې به یې ورسره کولې، د هغوی خبرې به یې اورېدې، چې جبرائیل امین پرې رانازل شو او و یې ویل: ((اقرا))؛ د بعثت پیل.

دا بې ساری الهي مخلوق، دا بشپړ انسان، چې د الهي وحې تر راکېووتو مخکې، د کمال دې پړاو ته رسېدلی دی، د بعثت له هماغې لومړۍ شېبې یې یو هراړخیز ستونزمن جهاد پیل کړ او د درویشت کلونو لپاره یې په خورا ستونزو مخې ته بوتله.

جهاد یې د ځان په دننه کې، جهاد یې له هغو خلکو سره، چې له حقیقته بیخي بې خبره ول او جهاد له هغه مطلق تورتم چاپېریال سره، چې امیرالمؤمنین یې په باب، په نهج البلاغه کې وایي: ((فی فتن داستهم باخفافها و طاتهم باظلافها و قامت علی سنابکها[1])) خلک له هر لوري د فتنو تر دباو لاندې وو: دنیا غواړي، شهوتپالي، ظلم او تېری، د انسانانو د زړونو په تل کې اخلاقي رذایل او د هغو زورواکو شتمنو



تېری، چې پر کمزوریو به یې کاوه، دا تېری نه یوازې په مکه او جزیرة العرب کې و؛ بلکې د هغه ورځ د نړۍ په غوره تمدن؛ یعنې د روم په ستره امپراتورۍ او شاهنشاهي ایران کې هم و. تاریخ ته وکځئ؛ د بشر پر ټول ژوند تورتمونه راخپاره ول. له دومره ځواک سره مجاهدت او هڅې او نه ستړې کېدونکې او غیر قابل تصور هڅې، د بعثت د پیل له هماغو لومړیو شېبو او د الهي وحې زغمل، د رسول الله لپاره پیل شول او الهي وحې هم په پرله پسې توګه، د هغو رڼو اوبو په څېر، چې مستعدې ځمکې ته ورسي، د رسول الله سپېڅلي زړه ته راتله او هغه یې ځواکمناوه او هغه هم خپل ټول ځواک وکاراوه، چې دا نړۍ یوه ستر بدلون سره مخ کړي او بریالی هم شو.

د اسلامي امت لومړۍ ډېره، د مکې په سختو شپو کې د رسول الله په ځواکمن لاس کېښوول شوه؛ یوه پیاوړې بنسټ ډېره، چې د اسلامي امت بنسټ پرې کېښوول شو، لومړي ایمان راوړونکي، لومړي کسان، چې دا پوهه، دا مړانه او دا نورانیت یې درلود، چې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پېغام درک کړي او زړه پرې وتړي. ((فمن یرد الله ان یهدیه یشرح صدره للاسلام[2])) چمتو زړونه او ددې

[1]. نهج البلاغه، دویمه خطبه.

[2]. د انعام سورت، ۱۲۵ آیت.

الهي ښوونو او الهي احکامو پر لوري د زړونود تمبو پرانستونکي، د رسول الله په ځواکمنو لاسونو جوړ شول، دا ذهنونه روښانه شول، دا ارادې ورځ تر بلې پیاوړې شوې او د مکې د پېر ستونزې یوازې پر هغو لوږ مؤمنانو – چې ورځ په ورځ هم ډېرېدل- راغلې، چې زموږ او ستاسې له تصوره بهر دي. په داسې یوه چاپېریال کې چې ټول ارزښتونه، جاهلي ارزښتونه دي، تعصبونه، بې ځایه او ناسم غیرتونه، ژورې کینې، دښمنۍ، شخړې، تېري او شهوتونه سره ګډ شوي دي او د خلکو ژوند یې تر دباو لاندې نیولی او رانغاړلی دی- او په دې کلکو او نانفوذه ډبرو کې- دا زرغون نیالګي راوټوکېدل. ((و ان الشجرة البریة اصلب عودا و اقوی وقودا[1]))، چې امیرالمؤمنین وایي، دادی. یوه توپان هم نشي کولای، دا بوټي، نیالګي او ونې، چې د ډبرو په منځونو کې راټوکېدلي، جرړه یې ځغلولې او وده یې کړې، څوک یې له ځایه وخوځوي. دیارلس کاله تېر شول او بیا پردې کلکو ډبرو، د اسلامي ټولنې او د نبوي مدني ټولنې بنسټ کېښوول شو. امت جوړونې هم لس کاله وخت واخست. دا امت جوړونه یوازې سیاست نه و؛ د هغه سیاست یوه برخه وه او بله ستره برخه یې د بېلابېلو وګړیو روزنه وه: ((هو الذی بعث فی الامیین رسولا منهم یتلوا علیهم آیاته و یزکیهم و یعلمهم الکتاب و الحکمة[2])) یزکیهم، رسول الله بېل بېل زړونه وروزل، رسول الله بېلابېلو ذهنونو او عقلونو ته پوهه او علم ورتلقین کړ. و یعلمهم الکتاب والحکمة. حکمت یو پړاو پورته پوړ دی. یوازې دا نه وه، چې یو لړ قوانین، احکام او مقررات یې ورزده کړل؛ بلکې حکمت یې ورزده کړ. د هغوی سترګې یې د نړۍ پر حقایقو وغړولې. لس کاله هم رسول الله له دې کړلار سره مخې ته ولاړ. بلخوا، سیاست، د حکومت سمبالنه، له اسلامي ټولنې دفاع، د اسلام د لمنې پراخول، له مدینې بهر وګړیو ته د لار پرانستې پرېښوول، چې سوکه سوکه او یو یو د اسلام د ښوونو نوراني ډګر ته راننوځي. بلخوا د بېل بېل وګړي روزنه. ورونو او خویندو! دا دوه یو له بله بېلولای نشو.

یو لړ وګړیو، اسلام یوازې وګړیز چار وباله او سیاست یې له اسلامه واخست. دا هغه څه دي، چې نن په ډېری اسلامي ټولنو او په یرغلیزې مستکبرې، مستعمرې او لویدیزې نړۍ کې دودېږي، چې: اسلام له سیاسته بیل دی، سیاست یې له اسلامه واخست؛ حال داچې د اسلام مکرم نبي (ص) د هجرت په پیل کې، په هماغو

[1]. نهج البلاغه، ۴۵ خطبه.

[2]. د جمعه سورت، دویم آیت.

ړومبیو شېبو کې چې یې ځان د مکې له ستونزې راخلاص کړ، لومړی کار چې یې وکړ، سیاست و. د اسلامي ټولنې جوړول، د اسلامي حکومت جوړول، د اسلامي نظام جوړول، د اسلامي پوځ جوړول، د نړۍ سترو واکمنانو ته لیکونه استول، د هغې ورځې سیاسي ډګر ته وردانګل، سیاست دی. څنګه کولای شو، چې اسلام له سیاسته بیل کړو؟! څنګه کولای شو، چې سیاست د هغه هدایت په لاس، چې د اسلام د هدایت لاس نه دی، معنا او تفسیر او بنه ورکړو؟! ((الذین جعلوا القرآن عضین[1])) ځینې قرآن ټوټه کوي. ((نؤمن ببعض و نکفر ببعض[2])) د قرآن په عبادت ایمان راوړي؛ خو د قرآن په سیاست ایمان نه راوړي! ((لقد ارسلنا رسلنا بالبینات و انزلنا معهم الکتاب و المیزان لیقوم الناس بالقسط[3])) قسط څه شی دی؟ قسط؛ یعنې په ټولنه کې د ټولنیز عدالت پلي کول. څوک کولای شي، دا کار وکړي؟ له ټولنې او قسط سره د ټولنې جوړول، یو سیاسي چار دی؛ د یوه هېواد د چارواکیو کار دی. دا د انبیاوو موخه ده. نه یوازې زموږ پېغمبر؛ بلکې حضرت عیسی، حضرت موسی، حضرت ابراهیم او نور ټول

[1]. د حجر سورت، ۹۱ آیت.
[2]. د نساء سورت، ۱۵۰ آیت.
[3]. د حدید سورت، ۲۵ آیت.



پېغمبران د سیاست او د اسلامي نظام جوړولو لپاره راغلي دي. بیا یو لړ وګړي، د خپل مقدس مآبۍ له مخې، خپل څادر راټولوي او وایي: موږ له سیاست سره کار نه لرو! مګر دین له سیاسته بیل دی؟! لویدیزي خبیث تبلیغات هم تل دې چار ته لمنه وهي، چې دین له سیاسته بیل کړئ، دین له دولته بیل کړئ. که موږ مسلمانان یو، دین او دولت یو له بل سره ګډ دی؛ نه د هغو دوو څیزونو په څېر، چې یو له بل سره نښلول شوي وي. دین او دولت یو څیز دی.

په اسلام کې دین او دولت له یوې سرچینې، سرچینه اخلي او هغه سرچینه الهي وحې ده. قرآن او اسلام دادی. یو لړ وګړي هم دې خوا ته سیاست له اسلامه بیلوي او بلخوا یو لړ وګړي هم یوازې سیاست، سیاست بازي او سیاست کاري ګڼي. اخلاق، معنویت، مینه، فضیلت او کرامت نالیدی ګڼي، چې زموږ د پېغمبر د بعثت تر ټولو ستره موخه ده. دا هم ((الذین جعلوا القرآن عضین[4])) او دا هم ((نؤمن ببعض و نکفر ببعض[5])) دی. اسلام په پرکنده جملو کې سیاسي خلاصه کول، د زړونو له خشوع نه غافلېدل، له ذکر، له

[4]. د حجر سورت، ۹۱ آیت.
[5]. د نساء سورت، ۱۵۹ آیت.

صفا، له معنويت، خدای ته سجده، له خدايه غوښتل، پر خدای زړه تړل، د پالونکي د برم او ستريا پر وړاندې اوښکې تويول، د خدای لورنه غوښتل، صبر، حلم، سخا، جود، گذشت او زورولي ناليدي گڼل او د اسلام په نامه يوازې په سياست پورې نښلېدل، هم هماغه کړلاري ده او توپير ورسره نه کوي.

((يزکيهم و يعلمهم الکتاب و الحکمة[1])) هم تزکيه ده او هم تعليم. د دين د روزنې ډگر، هم زموږ او ستاسې زړه دی، هم زموږ او ستاسې ماغزه او هم زموږ او ستاسې لاس او مټ. ((يا ايها النبی جاهد الکفار و المنافقين و اغلظ عليهم[2])) د دښمن پر وړاندې، د يرغلگر پر وړاندې، د هغه پر وړاندې، چې د معنويت او وحې د وړانگو د خپرېدو پر وړاندې خنډ دي، لاس په کار دی. ((و انزلنا الحديد فيه باس شديد و منافع للناس[3])) بايد په پولادي لاس، اوسپنيز سوک او ناماتې اراده ورسره مخ شو. دا د اسلامي امت د نننيو دردونو درملنه ده.

نن اسلامي امت په واقعي معنا يو اسلامي حکومت ته اړتيا لري. اسلامي حکومت؛ يعنې هغه حکومت، چې د انسانانو د زړه او ولسونو حکومت وي؛ د هغوی په مغزو او علمي پرمختگ ته کار وکړي؛ د هغوی په ځواکمن لاس او موټي کار وکړي؛ په سم سياست يې سمبالنه وکړي. دا نن د اسلامي امت اړتيا ده.

## د بعثت يادونه؛

## د اسلامي امت او ټول بشريت لپاره د نه هېرېدونکيو زده کړو بياکتنه ده

د بعثت يادول، د يوې تاريخي پېښې د رايادولو پر معنا نه دي- دا هغه ټکی دی، چې موږ يې بايد له دې سترې پېښې او د انساني او بشري گرانې خاطرې سره د مخېدو پر مهال په ياد ولرو- بلکې پردې پرتمينه خاطره اډانه، په حقيقت کې د يوې نه هېرېدونکې زده کړې بيا کتنه ده، په لومړۍ درجه کې په خپله د اسلامي امت لپاره؛ څه د ټول امت لپاره، څه د امت مشرانو او مخورو ته- سياستوال، پوهان، روښانفکران- او څه په بله درجه کې د ټول بشريت لپاره. دا د يوې زده کړې تکرار دی، د يوه سرمشق تکرار دی، د يوې زده کوونکې پېښې يادونه ده.

دا پېښه خورا اړخونه لري، چې که حقيقتا څوک وغواړي، په ساده وينا- که څه په

[1]. د جمعه سورت، دويم آيت.

[2]. د تحريم سورت، ۹ آيت.

[3]. د حديد سورت، ۲۵ آيت.

لنډو- د بعثت د مسلې اړخونه بيان کړي، بايد خورا کتابونه پرې وليکل شي او په ساعتونو خبرې پرې وشي؛ خو لکه څنگه چې انسان يوه لومړنی کتنه دې پېښې ته کوي؛ نو بېلابېلي زده کړې ترې کوي. تاسې ووينئ، رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په دې پېغام، چې کمال ته د ورسېدو لپاره د بشر ټولې اړتياوې رانغاړي، په يوه ټولنه کې راڅرگند شو او خپله بلنه يې پيل کړه، چې له هغو کمالاتو څنې يو کمال هم په هغه ټولنه کې نه و.

رسول الله، د علم پېغمبر و. په هغه ټولنه کې علم نه و؛ د عدل پېغمبر و، په هغه ټولنه کې ان د عدل بوی هم د چا پر پزو نه لگېدو او زورواکي د خلکو پر مال او ځان واکمن ول. د اخلاقو، گوزارې، گذشت، انصاف او مينې پېغمبر و؛ خو په هغه ټولنه کې په واقعي معنا ددې چارو سوکړه وه؛ يوه زيږه، زور ويونکې، زور اورېدونکې، له اخلاقو او معنوياتو لرې، له پوهې لرې، په ځاني غوښتنو، جاهلي تعصبونو او بې ځايه غرورونو زړه تړلې ټولنه وه.

په داسې ستونزمنو او متحجرو حالاتو کې او په داسې يوه بې اوبو او بې ښېرازې ډبرين چاپېريال کې دا نيالگی راوټوکېد، ديارلس کاله يې په ستونزمنو حالاتو کې وده وکړه او د دې ديارلس کالو پايله د يوه حکومت جوړول ول؛ د علم، عدل، توحيد، معنويت، اخلاقو او کرامت پر بنسټ د يوې ټولنې جوړول. ذلت يې پر عزت بدل کړ؛ وحشي توب يې رورولی بدل کړ؛ تعصبونه يې په گوزارې کولو او تعقل بدل کړ؛ جهل يې په علم بدل کړ او يو پياوړی او رښتين بنسټ يې کېښود، چې پر همدې پياوړي بنسټ مسلمانانو وکولای شول، د پېړيو پېړيو لپاره د نړۍ پر مدنيت واکمن شي او داسې مخينه رامنځ ته کړي، چې په تاريخ کې يې سارى نه درلود.

ددې حکومت پېر لس کاله دوام وموند. تاسې وگورئ، د ولسونو په عمر کې ديارلس جمع لس کاله څومره عمر دی؛ د يوې شېبې هومره ده، د يوې گړۍ په شان تېرېدونکی دی. په دومره لږ مهاليز واټن کې يو ستر حرکت رامنځ ته شو، چې ويلای شو، تاريخ يې دوه ډوله وويشه: لومړی ډول تر اسلام مخکې او دويم تر اسلام روسته. انسانيت يې پر مخ بوتلو، د اخلاقو بنسټونه يې پياوړي کړل، بشر ته يې نه هېرېدونکې زده کړې يادگار پرېښوولې؛ د بعثت ستريا او عظمت ته له دې ليدلوري وکځئ.

څه چې دا برياوې يې تضمين کړې؛ البته په يو بل کې ډېر بنېل شوي عناصر دي؛ خو په لومړۍ درجه کې هغه پياوړی او جوت کوټلی عنصر، چې معنويت، صفا او د

پالونکي له معرفته او پر خدای له اډانې ډک و، په خپله د رسول الله سپېڅلی وجود و. رسول الله د مکې خورا پوه او هوښيار انسان و، مخکې له دې چې نبوت ته ورسي، د هغه سيمې خورا کريم، شريف او د ښو خويونو خاوند انسان و.

په هغو خلکو کې په دې ستر انسان الهي لورنه وشوه او دا ځل د ده پر اوږو ورکېښوول شوه؛ ځکه خدای ازمېيلی و. خدای خپل بنده پېژندلی و او پوهېده،چې دا مسووليت دا ځل چا ته ور تر غاړې کوي. رسول الله ودرېد، دا را ولاړه او پر هغه موخه له معرفت سره استقامت، چې پر لوري يې ور روان دی، د رسول الله د ټولو پرمختگونو او د دې ستر حرکت د رازغورنېدو او ښېرازېدو اډانه وه.

هو، حق بريالی دی؛ خو له يو لړ شرطونو سره، د حق د بريا شرط، له حق نه دفاع ده. د حق د بريا شرط، د حق پر لاړ استقامت دی.

چې کله د بعثت په لومړي پړاو کې، تر هغه روسته، چې د درېيو او ډېر کلونو په تېرېدو- چې بلنه پټه وه- رسول الله دېرش، څلوېښت تنه مسلمانان کړي وو، بيا الهي حکم وشو، چې: ((فاصدع بما تؤمر و اعرض عن المشركين. انا كفيناك المستهزئين[1])) ښکاره کړه، ور ډگر ته شه، بيرغ په لاس کې واخله او چار دې څرگند کړه. رسول الله ور ميدان ته شو او کيسه يې هماغه ده، چې اورېدلې مو ده. د قريشو مشران، زورواکان او شتمن ووېرېدل او ولړزېدل. لومړی کار چې يې وکړ، د آنحضرت تطيمع کول وو. په ښاغلي ابوطالب پسې ورغلل او ورته يې وويل: که وراره دې رياست غواړي؛ نو موږ به خپل مطلق رياست ورکړو؛ که شتمني غواړي؛ نو دومره شتمني به ورکړو، چې تر موږ ټولو خورا شتمن شي؛ که پاچاهي ته ورلېواله وي؛ نو د خپل پاچا په نامه به يې وټاکو؛ خو ورته ووايه، چې له خبرو دې لاس پر شي. ښاغلی ابوطالب، چې په رسول الله ووېرېد او د هغوی له دسيسو هم ډارېده؛ نو رسول الله ته ورغی او ورته يې وويل: د مکې مشرانو دا پيغام راکړی، کېدای شي نصيحت يې کړی وي، سپارښتنه يې کړې، تاسې هم لږه گوزاره وکړئ، په دې چار کې دا دومره هڅاندي د څه لپاره، دومره خو په کار نه ده. رسول الله ورته وويل: ((يا عم! والله لو وضعوا الشمس فی يمينی و القمر فی شمالی لاعرض عن هذا الامر لا افعله حتی اظهره الله او يذهب بما فيه[2])) تره! که لمر په ښي لاس کې راته کېږدي، سپوږمۍ په کيڼ لاس کې راته کېږدي، ددې لپاره، چې زه

[1]. د حجر سورت، ۹۴ او ۹۵ آيتونه.

[2]. قمي تفسير، دويم ټوک، ۲۲۸ مخ.

له خپلې موخې لاس پر سر شم؛ نو پر خدای قسم، دا کار به و نه کړم، تر هغې چې یا مې خدای بریالی کړي او یا ټول له منځه ولاړ شو.

بیا په روایت کې راغلي، چې: ((ثم اغرورقت عیناه فی الدمع)) د رسول الله مبارکې سترګې له اوښکو ډکې شوې، له ځایه راپاڅېد. ښاغلي ابوطالب، چې کله دا ایمان او استقامت ولید، ورمات شو او و یې ویل: ((یابن اخی اذهب و قل ما احببت)) وراره، ولاړ شه او خپله خوښه دې وکړه او په موخې پسې دې شه. ((والله لا اسلمنک بشیء)) پر خدای قسم، پر هېڅه به دې هم بدل نه کړم. دا استقامت، استقامت زیږوي. په رسول الله کې دا استقامت په ښاغلي ابوطالب کې هم د استقامت جرړه پیاوړې کوي. په موخه دا پابندي، له دښمنه نه ډاربرېدل، هغه څه ته نه په تمه کېدل، چې له دښمن سره دي، پر هغه امتیاز زړه نه تړل، چې دښمن یې له موخې د لاس په سرېدو په شرط ورکوي، استقامت زیږوي، هوساینه پنځوي. پر لار، موخه او هغه خدای ډاډ رامنځ ته کوي، چې دا موخه ورپورې اړوند ده؛ نو تر دېرشو یا ځلوېښتو تنو ډېر نه ول او همدا دېرش، ځلوېښت تنه د هومره ستونزو او کړاوونو پر وړاندې ودرېدل او ورځ تر بلې ډېر شول. هره ورځ یې په مکه کې لیدل، چې له عمار سره څه کېږي، له بلال سره څرنګه چلن کېږي، یاسر او سمیه څنګه تر کړاوو لاندې دي او شهیدېږي؛ دا هر څه یې لیدل؛ خو په عین حال کې یې ایمان راووړ. د حق پرمختګ داسې وي. یوازې په هوساینه او امن او امان حالاتو کې د حق بیرغ هسکول او لاندې یې برېتې تاوولو باندې حق پرمخ نه ځي. حق هغه مهال پرمختګ کوي، چې د حق خاوند، د حق لاروی، د حق د پرمختګ په لار کې له ځانه هڅه او استقامت وښیي.

د قرآن کریم آیت وایي: ((محمد رسول الله والذین معه اشداء علی الکفار رحماء بینهم[1])) پر کفارو اشداء په دې معنا نه ده، چې تل له کفارو سره په جګړه کې وي. اشداء، شدت؛ یعنې کلکوالی، جوت توب او نه ماتېدل. یوه اوسپنه زنګ وهي، ټوټې ټوټې کېږي او ورستېږي، له منځه ځي؛ یوه اوسپنه، چې پېړۍ پېړۍ هم پرې تېرې شي؛ نو نه ټوټې ټوټې کېږي، زنګ یې نه وهي او ورستېږي نه. اشداء؛ یعنې دا. شدت یعنې کلکوالی او استحکام. کلکوالی یو مهال د جګړې په ډګر کې وي، چې خپله بڼه لري، یو وخت له دښمن سره د خبرو پر مهال وي، چې خپله بڼه لري. تاسې وګورئ، رسول الله په خپلو

---

[1]. د فتح سورت، ۲۹ آیت.

جګړو کې هغه مهال، چې په کار ول، چې له خپل مقابل لوري او دښمن سره خبرې وکړي، څرنګه خبرې کوي. له سره تر پښو پورې د رسول الله چارې، استحکام او جوت توب و؛ استوار، پوتې سوړه هم پکې نشته. د احزاب په جګړه کې رسول الله له مقابلو لوریو سره خبرو اترو ته کېني؛ خو څرنګه خبرې اترې، تاریخ ولولئ! که جګړه ده؛ نو له شدت سره؛ که خبرې اترې دي؛ نو له شدت سره؛ که تعامل دی؛ نو له شدت او استحکام سره. دا د اشداء علی الکفار معنا ده.

رحماء بینهم؛ یعنې په خپلو منځونو کې چې دي، نه ؛ دلته نو نرمې خاورې دي، انعطاف شته دی، دلته نو هغه شدت او صلابت نشته، دلته باید زړه ورکړې او زړه واخلې، دلته باید په مینې او محبت چلن وشي.

د بعثت د لومړیو وختونو د هماغه استقامت پایله، د شعب ابیطالب د درې کلن هېښنده استقامت لامل شو. ټوکې نه دي! د مکې تر څنګ په یوه دره کې، بې اوبو، بې بوټي، تر سوځنده لمر لاندې. پیغمبراکرم، ښاغلي ابوطالب، اغلې خدیجې، ټولو مسلمانانو او کورنۍ یې په دې ټوټه- د غره په چاود کې –ژوند وکړ. لار هم تړلې وه، چې دوی ته خواړه رانشي. کله هم د موسم په ورځو کې – چې له جاهلي دود سره سم، ازاده وه؛ یعنې جګړه نه وه- کولای یې شول، چې ښار ته راشي؛ خو همداچې غوښتل یې چې په یوه هټۍ کې یو توکی معامله کړي، ابوجهل، ابولهب او د مکې نورو مشرانو، چې خپلو زامنو او نوکرانو ته سپارښتنه کړې وه، چې هر وخت، چې دوی غواړي، چې کوم څیز وپېري؛ نو تاسې یې دوه ګرایه بیه ورکړئ او توکي تاسې وپېرئ او پرې نه ږدئ، چې هغوی توکي وپېري. په داسې ستونزمنو حالاتو کې یې درې کاله ژوند وکړ. دا څه ټوکې خو نه دي.

هغه لومړی استقامت، د دې کېږدۍ دا کلکه ستنه، هغه متوکل علی الله زړه دی، چې په چاپېریال کې داسې استقامت رامنځ ته کوي، چې د ټولو سینه پراخوي او صبر کوي. ټوله شپه به تر سهار ماشومانو له لوږې ژړل او د ماشومانو د ژړا غږونو به په شعب ابیطالب کې انګازې کولې او د قریشو د کفارو غوږونو ته به رسېدل او د قریشو د بېوزلیو زړه به هم پرې سوځېده؛ خو د قریشو د زورواکو له لامله یې مړانه نه شوه کولای، مرسته ورسره وکړي؛ خو د هغو مسلمانانو، چې ماشومانو یې په مخ کې پړتکې وهلې –چې څومره یې په شعب کې مړه شول، څومره یې رنځوران شول، څومره لوږې یې تېرې کړې- ایمان یې کمزوری نه شو. امیرالمؤمنین خپل ګران زوی محمد بن

حنفيه ته وايي: ((تزول الجبال و لا تزل[1])) شونې ده، غرونه وخوځېږي، له ځایه راونړېږي؛ خو ته مه نړېږه. دا هماغه د رسول الله وصیت دی. دا ده د اسلامي امت د راپاڅېدو لار؛ د اسلامي امت بعثت دادی. دا موږ ته د رسول الله زده کړه ده. دا موږ ته د بعثت زده کړه ده.

یوازې دا چې کېنو او ووايو، آیت رانازل شو او حضرت جبرائیل راغی او رسول الله رسالت ته مبعوث شو او خوشحاله شو، چې چا ایمان راووړ او چا را نهووړ، مسله نه حل کوي. مسله داده، چې موږ باید له دې پېښې- چې د رسول الله د سپېڅلي ژوند د ټولو پېښو مور ده- زده کړه وکړو. دا ټول درویشت کلونه زده کړه ده.

ما یو وخت ځینو دوستانو ته وویل، چې د رسول الله ژوند باید میلیمتر میلیمتر مطالعه شي. هر شېبه یې یوه پېښه ده؛ یوه زده کړه ده؛ یوه ستره انساني پلوشه ده؛ دا ټول درویشت کلونه همداسې دي. زموږ ځوانان دي ولاړ شي او د رسول الله ژوند دې په ډاډمنو او معتبرو سرچینو کې مطالعه کړي او و دې گوري، چې څه پېښ شوي دي. که تاسې وینئ، چې دومره ستر امت جوړ شو- چې نن هم غوره ویناوې، غورې لارې چارې، سترې زده کړې او بشریت ته خورا شفا ورکوونکي درمل، د همدې امت

[1]. مستدرک، ۱۱ ټوک، ۸٦ مخ.



په ټولگه کې دي- داسې رامنځ ته شو، پراختیا یې مونده او جرړه لرونکی شو؛ گنې یوازې داچې حق له موږ سره وي، مخکې نشو تللای؛ حق له استقامت سره. امیرالمؤمنین – څو څو ځل مې دا جمله له آنحضرت نه رانقل کړې ده- د صفین په جگړه کې وویل: لا یحمل هذا العلم الا اهل البصر و الصبر[2])) دا بیرغ هغه کسان هسکولای شي، لومړی داچې د بصیرت خاوند وي، پوه شي، چې خبره څه ده، موخه څه ده؛ دویم داچې صبر ولري. صبر؛ یعنې همدا استقامت او دا باید موږ له بعثت نه زده کړو.

پر هغه مهال، چې معرفت او پوهه نه وه، ناپوهي عمومي وه او ټوله نړۍ یې نیولې وه، نه یوازې په عربي سیمه کې؛ بلکې په ټوله نړۍ کې؛ نو د اسلام د پرمختگ خواله په څه کې وه. د هغه مهال په دوو سترو امپراتوریو- یعنې د ساساني ایران امپراتوري او د روم امپراتوري- کې هم همدا جاهلیت و او په هغو سیمو کې هم عدالت نه و او په هغو سیمو کې هم تبعیض و.

اسلام راښکاره شو او د اسلامي معرفت لمر پر زړونو او ذهنونو ولگېد او په نړۍ کې د جهالت له شتون سره سره او د حالاتو له خرابوالي سره سره، د انسان د ودې دې

[2].نهج البلاغه، ۱۷۳ خطبه.

کاروان په خورا ځغاسته پرمختگ وکړ. د بعثت له پېره لا نيمه پېړۍ نه وه تېره، چې د نړۍ د آبادو سيمو له نيمې ډېره ساحه د اسلام په ولکه کې شوه او د اسلام تر واکمنۍ لاندې راغله. دا څه وړه خبره نه ده. اسلام، چې چېرې ولاړ، خلکو ورته ښه راغلاښت ووايه او په اسانۍ يې مزاحم ځواکونه له لارې لرې کړل. دا کوم لامل و، چې داسې يې وکولای شول، په دې توگه د اسلام اقتدار پر مخ بوځي او بيا يې د اسلامي تمدن بنسټ کېښود، ان د اسلام د سياسي ځواک د انحطاط پر مهال هم د اقتدار په لوړو پوړيو کې پاتې شو؛ د نړۍ فرهنگ ترې اغېزمن شو؛ پوهنه يې خپره کړه او اسلامي فرهنگ يې دود کړ؟ دا په تاريخ کې خورا هېښنده تجربې دي. ددې چارو لامل څه دی؟ دا موضوع يو اوږد بحث دی. څېړونکيو او ليکوالانو پرې څېړنې کړې دي؛ نور هم بايد کار وکړي. څه چې زه نن په دوو درېيو جملو کې ويل غواړم، ددې حقيقت يوه برخه ده.

يقينا يو له هغو عناصرو څنې، چې د اسلام د پرمختگ لامل و، پر خدای او الهي احکامو ډاډ و: ((امن الرسول بما انزل اليه من ربه و المؤمنون کل امن بالله و ملايکته و کتبه و رسله.[1])) په خپله رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم او د صدر اسلام مؤمنين د زړه له کومې د اسلام په پېغام گروهن وو او اسلامي شعارونه، اسلامي حقايق او د بشريت د خلاصون لپاره د اسلام کافيتوب يې حقيقتا د زړه له کومې مانه. دا ايمان يو خورا غوره لامل دی. يو بل لامل، ددې حرکت په سر کې و، چې ځان ته – هغه څه چې له ماديانو د گټنې لپاره په خپله په وگړي پورې اړوندېږي- بې اعتنا وو. دا خورا غوره لامل و. داچې موږ دومره په روايتونو،په نهج البلاغه، د نبي اکرم (ص)، امامانو او ديني مشرانو په ويناوو کې لرو، چې دنيا ته مه ورلېواله کېږئ او ځانونه د دنيا له ځل بله وساتئ، ددې لامل د اغېز له لامله دي؛البته د اسلام دښمنانو او د مسلمينو کرپوهانو، گومان وکړ يا يې داسې وبرېښوله، چې په اسلام کې زهد ويل شوی دی؛ يعنې په دنيا پسې، د عالم وجود د مظاهرو په معنا مه ورځئ او د ژوند په مظاهرو پسې مه ځئ. حال داچې خبره دا نه وه؛ بلکې ناوړه نړۍ او رټل شوې نړۍ او داچې موږ او تاسې، ځان او توکيزې گټې موخه کړو او ورپسې شو او دا هغه څه دي، چې بېچاره کوونکی، ويجاړوونکی او د بدمرغيو بنسټ دی.

الهي اوليا – هغوی چې وکولای شول، دا بيرغ ټينگ په لاس کې ونيسي او دا

[1]. د بقره سورت، ۲۸۵ آيت.

ستونزمنه لار، اسانه، بې سترېا او بې له ښنو غورځېدو ووهي- هغوی ول، چې له دې پانه تېر شول؛ نو د ((ندبه)) په خورا خوش مضمونه دعا کې – چې په پیل کې خدای پر هغه څه ستایي، چې اولیاوو ته یې ورپېښ شوي دي، چې یو له هغو خورا ښکلیو مفاهیمو څنې د دعا په دې لومړیو عبارتونو کې راغلی دی- وایي: ((بعد ان شرطت علیهم الزهد فی درجات هذه الدنیا الدنیة و زخرفها و زبرجها)) هغوی دې د تکامل او مانیز تعالي، لوړپوړي کړل، هغوی ته دې ((لازوال له و لا اضمحلال[1])) نعمتونه ورکړل او و دې ټاکل؛ خو دا شرط دې ورته کېښود. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د انسان د وجود د تعالي لوړپوړی دی. دا چار بې له الهي مرستې ناشونی دی. بې د خدای له زمینه چمتو کولو ناشونی دی؛ خو خدای دا امتیاز د یوه شرط پر وړاندې ورکوي: ((الزهد فی درجات هذه الدنیا الدنیة و زخرفها و زبرجها فشرطوا لک ذلک)) و مې مانه او عمل مې وکړ؛ د پېغمبر او امیرالمؤمنین په څېر وګړي رامنځ ته کېږي؛ پولادیز، نه سترې کېدونکي، ناپایه. یو پېټی پر اوږو وړدي، چې دا ځل یوازې د هغوی په پېر پورې اړوند نه دی، یو داسې حرکت رامنځ ته کوي، چې د خپل عمر په پای ته رسېدو، پای نه مومي.

دا حرکت دوام لري. تاسې اوس ووینئ، تر ځوارلسو پېړیو تېرېدو روسته، اسلام اوس هم ځلېږي. دا ټول د هماغه ستر وجود او هماغو هڅو پر چورلیځ دي. هغوی دي، چې داسې دې حرکت ته تداوم ورېښي.

البته هغه څه چې مسلمانانو، مؤمنینو او مشرانو هم د لارې په منځ کې وکړل، له دې چار سره یې مرسته کړې ده. کومه تمه، چې موږ لرو، داده، چې د اسلامي نړۍ مشران- که سیاستوال دي که دیني مشران- په لومړۍ درجه کې دې خپلو ګټو ته ارزښت نه ورکوي او کومه تمه، چې موږ د خپل پېر له خلکو او مشرانو لرو، هغه تمه نه ده، چې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په کړنو زموږ په زړه کې رامنځ ته شوې ده؛ نه، هغه خو خورا لرې واټن دی. موږ له ځانه هم همدا تمه لرو، په اسلامي نړۍ کې له نورو هم دا تمه لرو، چې خپلې ګټې او ((زه)) دې د موخو په سر کې نه ږدي؛ پر نورو چارو یې مه ورلاسبروئ؛ بلکې اسلام او اسلامي ځواک، تعالي او اسلامي کمال ته رسېدو ته پر خپلو ګټو لومړیت ورکړو. که داسې وشي؛ نو بېشکه نن به د اسلام د باطني ځواک او د اسلام د ذاتي ځواک یوه ستره برخه اسلام ته راستنه

[1]. اقبال الاعمال، لومړی ټوک، ۲۹۵ مخ.

شي. دلته، هغه عنصر، چې وکولای شول، د توجه، ایمان، باور، مینې او د خلکو د یون ستر پېټی د خلکو پر اوږو وزغمي او چار تردې ځایه راورسوي- یعنې زموږ امام- په هغه کې تر ټولو مهم ټکی دا و، چې ځان یې حذف کړ او نالیدی یې کړ او مسوولیت یې د کار او حرکت چورلیځ کړ؛ نو ځکه بریالی شو. د کار بنسټ دادی. موږ په دې درویشت کلونو کې په جمهوري اسلامي کې، په هر ځای کې چې وکولای شول، مسوولیت او موخو ته لومړیت ورکړو او ځانونه، وګړي او ځاني غوښتنې کمزوري کړو؛ نو له لامله یې پر مخ تللي یو؛ خو هر مهال، چې ددې په اپوټه شوي دي، ټکني شوي یو. په اتو کالو راتپل شویو جګړو کې، هغوی چې د کیسې له جزییاتو خبر دي، ښه پوهېږي، په هر ځای کې چې د مسوولیت اروا واکمنه وه او د چارواکیو ځان غوښتنې لږې وې؛ نو پر مخې به تلو؛ خو په کومو ځایونو کې چې ((منیت)) راتله؛ نو ټکني کېدو به او نن هم همداسې ده.

# د وحې پېل

حضرت جبرائیل امین علیه السلام، د الله تعالی له لوري وګومارل شو، چې د پېل لپاره ورته څو آیتونه ولولي او پر ((نبوت)) یې و ویاړي دا ورځ هماغه د "مبعث" ورځ وه، چې د دې ورځې په باب به په راتلونکي کې خبرې وکړو.

بېشکه چې له پرښتې سره مخېدل ځانګړی تیاری غواړي. د چا روح، چې ستر او قوي نه وي؛ نو د نبوت او پرښتې د کتنې زغم نه لري.

حضرت "محمد" دا تیاری له مخکې، په اوږدو عبادتونو، اندنې او الهي عنایت سره کړی و.

ډېری تاریخ پوهان لیکي: له بعثته مخکې یې داسې خوبونه لیدل، چې د رڼا ورځې په څېر یې واقعیت درلود.[1]

تر څه مودې تېرېدو روسته ورته تر ټولو خوشحاله وختونه، هماغه ګوښه توب (خلوت) او عبادت و، چې پرښته راغله و یې ویل: "اقراء"؛ یعنې ولوله داچې هغه اُمي و نو و یې ویل: زه د لوستو وس نه لرم. د وحې پرښتې ورته زور ورکړ او بیا یې ترې وغوښتل: ولوله خو هماغه ځواب یې واورېد. پرښتې بیا زور ورکړ او دا کار درې وار وشو او تر دربیم ځل فشار روسته یې احساس کړه، څه چې پرښتې پر ډېره لیکلي، لوستای شي او حضرت "محمد" په حقیقت کې د بشر د نېکمرغۍ کتاب وو‌ایه، چې آیتونه او ژباړه یې دا ده:

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ= ولوله! د خپل پالونکې په نامه، چې (هرڅه یې) شته کړي دي،

خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ= انسان یې له ځوړندې (پرنډې وینې) پیداکړ.

اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ= ولوله چې ستا پالونکی (تر ټولو) ډېر عزتمن دی

الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ= هغه [ پالونکی ]، چې په قلم یې ښوونه وکړه،

عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ= انسان ته یې هغه څه وښوول، چې پرې نه پوهېده.[2]

جبرائیل خپله دنده سرته ورسوله او رسول الله (ص) هم د وحې تر نازلیدو روسته، د حراء له غاره راکوز شو او د حضرت خدیجې کور ته راغی.[3]

په پېل کې ددې آیتونو نزول د رسول الله (ص) لنډه کړلار راښیي، چې د دین بنسټ یې لوستل، پوهه او قلم کارول دي.

د رسول الله (ص) ستر روح په وحې رڼا شو. څه، چې یې له حضرت جبرائیل امین زده کړي وو، په زړه کې یې ولیکل. تردې پېښې روسته، هماغې پرښتې ورته وویل:

[1]. صحیح بخاري، لومړی ټوك، کتاب العلم/٣، بحارالانور ١٩٤/١٨

[2]. د علق سورت

[3]. سیره ابن هاشم، ٢٣٦/١ او صحیح بخاری ٣/١

((محمده! ته د الله استازی یې او زه جبرائیل یم.))

کله ویل کېږي، چې دا خبره یې هله واورېده، چې له "حرا غاره" راکوز شوی و او دې دواړو پېښو سخت ډارولی و او له هغه لوري یې وېره درلوده، چې ډېره لویه دنده یې ورسپارلې ده ؛ البته دا وېره تر څه ځایه طبیعي ده او د پېښې په باب د حضرت "محمد"(ص) له یقین او ډاډ سره ټکر نه لري؛ ځکه که روح څومره ستر او غښتلی هم وي او له غیبو سره په اړیکه کې وي؛ خو بیا هم، چې انسان په لومړي ځل له داسې پرښتې سره مخ شي، چې کله یې نه وي لیدلی او هغه هم د غره پر سر نو وېره طبیعي ځیز دی، چې روسته دا وېره له منځه ولاړه.

وېره او ستړیا ددې لامل شوه، چې نېغ کور ته راشي. کور ته چې راننوت؛ نو کورودانه یې پر تندي پوه شوه. جریان یې ترې وپوښته. څه، چې پېښ شوي وو، ورته یې وویل. حضرت خدیجې په درناوي ورته وکتل او د خیر دعا یې ورته وکړه: ((الله به دې مل شي.)) رسول الله احساس کړه، چې ستړی دی. حضرت خدیجې ته یې وویل: ((و مې نغاړه!)) پټ یې کړ او یوه شپه وېده شو.

## د عمومي بلنې پیل

تر هغه وخته چې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم له خپل کور دباندې څوک اسلام ته بللی نه و، د چا څه کار ورسره نه و، تردې چې د بعثت پر درېیم کال د «وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ[1]» آیت پرې نازل شو او پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم خپل خپلوان، بني عبدالمطلب، خپل کور ته وبلل تر خوراک روسته یې د اسلام دین ته وبلل، و یې ویل له تاسې څوک مې په دې کار کې لاسنیوی کوي، چې زما خلیفه وزیر او وصي وي؟

ټولو ډډه وکړه او هلک وویل: یا رسول الله زه دې په دې کار کې مرستندوی یم.

پېغمبر درې ځل وبلل، بې له علي کرم الله وجهه نورو ډډه وکړه، ورپسې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم علي کرم الله وجهه له لاسه ونیو و یې ویل: ته مې خلیفه، وزیر وصی یې.

ابولهب پر ابو طالب سختې ملنډې وکړې او له کوره ووتل[2].

تردې روسته زید د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ازاد کړای شوي او د تره زوی یې جعفر بن ابی طالب اسلام راووړ.

[1] شعراء/۲۱۴

[2] تاریخ الطبري: ۱ټ، ۱۱۷ او ۱۷۲مخونه. عیون الاثر: ۱ټ، ۹۸- ۱۰۰ مخونه

تر دوی روسته، حضرت ابوذر غفاري (رض) او څو نورو کسانو او لسمه یې فاطمه، د ابو طالب مېرمن او د علي کرم الله وجهه مور وه[3].

## د قریشو غبرګون او له حضرت محمد (ص) نه یې د مشر ملاتړ

اسلام په مکه کې خپور شو او د قریشو له ځینو ټبرونو څخه یو شمېر مسلمانان شول؛ خو د قریشو کفارو تر هغه وخته چې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم او لارویانو یې د خپل پالونکي عبادت کاوه او د دوی پر بوتپالۍ یې څه نیوکه نه درلوده یوازې په حېرانۍ یې ورکتل او بل چلن یې ورسره نه درلود؛ خو چې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د الله له لوري مؤظف شو، چې بوتپالي وډار کړه او د بوتپالنې بې عقلي ورڅرګنده کړه؛ نو غبرګون یې وښود.

پردې وخت د قریشو مشرکان خپل مشر ابوطالب ته ورغلل، و یې ویل ته مو عزتمن مشر یې، وراره دې زموږ خدایان کنځلي او په بدۍ یې یادوي، امر ورته وکړه چې دغسې نه کوي، موږ یې هم له خپل خدای سره ورپرېږدو. ابوطالب

[3] تاریخ الیعقوبي: ۲ټ، ۲۳ او ۲۸ مخونه

پېغمبر غونډې ته راوغوښت، ورته يې وويل: دا ستا د قوم مشران دي او دغسې غوښتنې درنه لري.
پېغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم وويل: تره! ايا دوی تردې غوره ته ونه بلم؟!
ابوطالب وويل: څه ته يې وربولې؟
پېغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم امر وويل: د يوې داسې کلمې ويلو ته يې رابولم، چې په ويلو يې عرب ورته خاضع او منونکي او پر عجمو (ناعربو) واکمن شي.
ابوجهل وويل: دا يوه څه کلمه ده؟ ووايه لس ځل به يې ووايو.
پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم وويل: داده چې وواست: «لا اله – الا الله» يوازې الله د لمانځنې وړ دی.
دوی په غوسه پاڅېدل، و يې ويل: پر خدای تا او هغه خدای چې دغسې امر درته کوي، کنځوو.
((وَانْطَلَقَ الْمَلأُ مِنْهُمْ أَنِ امْشُوا وَاصْبِرُوا عَلَى آلِهَتِكُمْ إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ يُرَادُ (ص/٦)= او مشران يې په بيړه (له غونډې) ووتل (او و يې ويل چې:) ځئ او د خپلو معبودانو پر لمانځنې ټينګ وسئ، بېشکه دا يو څيز دی، چې غوښتنې يې دي (تاسې بې لارې کړي)))
پورته آيت دې داستان ته اشاره ده.

**د قريشو وړانديزونه**

د قريشو کافرانو بل ځل پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ته وړانديز وکړ چې يو کال به موږ ستا خدای ولمانځو او يو کال به ته زموږ خدای ولمانځې، په ځواب کې يې د کافرون سورت نازل شو.
((قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ. لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ. وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ. وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ. وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ. لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ. = ووايه: ((کافرانو! څه چې (تاسې) لمانځئ، (زه) يې نه لمانځم او څه چې (زه) لمانځم،تاسې يې نه لمانځئ او څه چې (تاسې) لمانځلي دي،زه يې نه لمانځم او څه چې (زه) لمانځم، تاسې يې نه لمانځئ؛(اوس چې داسې ده) ستاسې لپاره خپل دين او زما لپاره خپل دين.))

❋ ❋ ❋

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم خپل کار ته دوام ورکړ، د قريشو مشرکان بيا خپل مشر ته ورغلل، دوی له ځان سره د عماره په نامې يو ښکلی او ځيرک ځوان بوت، ابوطالب ته يې وويل: «د محمد پر ځای دې د قريشو دا ښکلی ځوان ستا وي او محمد راکړه چې و يې وژنو او د قريشو انديښنې لرې شي».
ابوطالب ددې احقمانه وړانديز په ځواب کې ورته وويل: «زوی مې وژنې ته درکړم؟

او پر ځای یې ستاسې زوی وساتم؟» او غوسناک یې خپل همژمني وشړل.
دلته د قریشو کافرانو دا چاره وسنجوله، چې د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم لارویان وځوروي؛ نوځکه هر ټبر مشر، د خپل ټبر د مسلمانانو ربړونه او ځورونه پیل کړه، چې کله ربړونې زور واخست مسلمانانو د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په امر حبشې ته هجرت وکړ او ورپسې یې جعفر بن ابي طالب د دوی پالندوی وګوماره.
د قریشو کافرانو عمرو بن عاص او عماره له ډالیو سره د حبشې پاچا، نجاشي ته ورولېږل، چې ترې وغواړي مسلمانان مکې ته راستانه کړي؛ خو نجاشي یې غوښتنه ونه منله او د جعفر او ملګرو درناوي ته یې دوام ورکړ.
ابوطالب چې د نجاشي له دې چلن څخه خبر شو، دا اشعار یې ورته وویل: او اسلام ته یې وباله:

تعلم خیارالناس ان محمدا
وزیر لموسی والمسیح بن مریم
اتی بهدی متل الذی اتیا به
و کل بامر الله یهدی و یعصم
و انکم تتلونه فی کتابکم
بصدق حدیث لا حدیث التجرم
و انک مایأتیک منا عصابة
لفضلک الا ارجعوا مالتکرم[1]

«ای هغه چې له غوره خلکو یې! پوه شه، محمد د موسی او د مریمې د زوی عیسی مرستندوی دی، ددې دواړو په څېر یې هدایت راوړی دی. او له دې درې واړو پیغمبرانو، هر یو د خدای په امر هدایت او لارښوونه کوي او (خلک له بدیو) ژغوري. او تاسې (نصارا) یې په رښتیا او نه ګومان، په خپل کتاب (انجیل) کې خبر لولی او په رښتیا چې له موږ (مسلمانانو) هره ډله چې پناه دروړي، ستا د فضیلت او درناوي له لامله په احترام او عزت راستنېږي.»
نجاشي، عمروعاص او د جعفر په مشرۍ مسلمانان راټول کړل، جعفر د عمر وعاص خبرې ځواب کړې او نجاشي عمروعاص په خوارۍ او ذلته رخصت کړ.
نجاشي اسلام په رسمیت وپېژانده او د موسی او عیسی د شریعت په څېر یې معرفي کړ، له اتیاو ډېر مسلمانان حبشې ته ورمهاجر شو. دا خبره د عربي ټاپوزمې په ټبرونو کې خپره شو او اسلام د مکې له پولو واوړېد او د ابوذرغفاري په څېر د عربي ټبرونو وګړیو اسلام راووړ.

[1] سیره ابن اسحاق: ۲۲۲ مخ

ابوطالب هم په خپل اشعارو کې له پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم څخه د ملاتړ شودو په ترڅ کې اسلام ته بلنه کوله:

مَنَعنا الرسولَ رسولَ المليكِ
ببيضٍ تلألألمعَ البُرُوق
أذبُّ و أحمي رسولَ المليك
حمَايَة حامٍ عليه شَفيق [1]

«له مالک الملک پېغمره صلی الله علیه وآله وسلم په ځلانده توره ملاتړ کوم، له مالک الملک پېغمبر ځینې زړه سواندي ملاتړي، ملاتړ او دفاع کوي»

او په بل شعر کې وایي:

و اللهِ لـَـن يَصِلوا إليكَ بجَمْعِهِم
حتّى أُوَسَّدَ في التراب دَفِينا
و عرضتَ ديناً قد علمتُ بأنَّه
من خير أديان البريَّة دِيْنا [2]

« پرخدای قسم، د دوی لاسونه نه وررسي؛ خو داچې خاورو ته وسپارل شم، داسې دین دې وړاندې کړی، چې پوه شوم، خلکو ته ډېر غوره دین دی»

او په بل شعر کې وایي:

ألم تعلموا أنّا وجدنا محمداً
نبياً كموسى خُطَّ في أول الكتب [3]



«آیا پوه نشوئ چې محمد مو د موسی په څېر یو پېغمبر وموند، چې په ړومبي کتاب (تورات) کې یې نامه کښل شوې ده»

بل ځل وړاندیز یې ورته وکړ، که پېغمبر دنیوي شتمني غواړي؛ نو له خپلو شتمنیو به دومره ورکړي، چې تر ټولو مکیانو ښه شتمن شي، که پاچاهي غواړې، خپل پاچا به یې کړي، پېغمبر ورته وویل:

«پر خدای قسم که لمر راته په ښي لاس او سپوږمۍ راته په کیڼ لاس کې کېدي، له بلنې به لاس وانخلم».

د قریشو او ابوطالب او پېغمبر ترمنځ په دې خبرو اترو او وړاندیزونو کې ابوطالب پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ته خپله ببوسي وویله، و یې ویل: وراره! قوم دې دغسې او هاغسې وویل: زما او د خپل کار په اړه دې سوچ وکړه او څه مې چې له وسې پوره نه وي، رانه یې مه غواړه.

دلته پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم وژړل، تره ته یې ور شا کړه او روان شو ابوطالب وراره راوغوښت، چې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ورغی ابوطالب ورته وویل: وراره! ورځه څه چې غواړې، و یې وایه؛ پر هېڅ حال دې نه پرېږدم [4].

---

[1] سیره ابن اسحاق: ۱۴۹مخ.
[2] تاریخ الیعقوبي: ۲ټ، ۳۱مخ

[3] سیره ابن اسحاق: ۱۵۷مخ. ابن هشام، السیرة النبویة: ۱ټ، ۳۷۲مخ
[4] ابن هشام السیرة النبویة: ۱ټ، ۲۷۸ مخ.

**له ابوجهل سره د حمزه (رض) نښته**

یوه ورځ ابوجهل، پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په صفا غره کې یوازې ولید، و یې کنځه او اسلام یې په بدیو یاد کړ او پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم یې وځوراوه، یوې مینزې دا حال ولید.

په هغې زمانې کې چې حمزه، په مړانه او نارینتوب کې د قریشو نامي نارینه و، له مکې دباندې ښکار ته وتلی و، دا یې دود، چې له شکاره به راګرځېده، ړومبی یې په مسجدالحرام کې د کعبې طواف کاوه، بیا کور ته تله، په جومات کې به یې د قریشو پر هرې ناستې ډلې سلام اچاوه.

دا ځل چې له ښکاره راستون شو؛ نوموړی مینزې له پیغمبر سره د ابوجهل له چلن خبر کړ، حمزه له غوسې سور شو او په بېړه جومات ته ولاړ؛ خو دا ځل له یوې ډلې سره هم ونه درېد او هغې ډلې ته ورغی چې ابوجهل پکې و، چې وررسېد، د ابوجهل پر سر ودرېد او د ابوجهل سر یې په خپل کمان ورمات کړ، ورته یې وویل: وراره مې کنځې؛ حال داچې زه یې پر دین یم او خبرې یې کوم؟ که نر یې زما مخه ونیسه؟

د بني مخزوم (د ابوجهل کورنی) له ټبره څو تنه د ابوجهل ملاتړ ته پاڅېدل، ابوجهل د کار له عاقبته وډار شو او خپلوانو ته یې وویل: ابوعماره؛ حمزه، پرېږدئ؛ خکه د ده وراره ته مې بدې سپکې سپورې کړي دي.

❋ ❋ ❋

د قریشو ټبر مشر، په دې وخت له پیغمبر څخه په ملاتړ کې د قریشو له کفارو سره سخته مبارزه پیل کړه، په دې مبارزه کې قصیدې یې د تندر په څېر پر دوی لوېدې، په دې مبارزه کې یې خپل کسان او همژمني هم ستایل او خپل ملاتړ ته یې رابلل او په قصایدو کې یې دا مفهوم وایه: «نه پر خدای قسم وراره ته مې څوک لاس ورغځولای نشي او په دې لار کې د بني هاشمو باتوران له تیکو توري راباسي او د زمري په څېر چې پر ښکاره برید کوي، دښمنان ځپي، ښځې په دې لار کې کونډېږي».

ابوطالب په دې مفهوم ډېر قصاید ویلي، چې یوه یې څلور نوي بیتونه لري[1].

**د مکې د مشر پر ضد پاڅون**

د قریشو کفارو، له پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم اسلام او مسلمانانو څخه د ابوطالب د هر اړخیز ملاتړ پر وړاندې بېوسي شول؛ نوځکه تر بعثت روسته پر شپږم کال د دوی پر وړاندې د مقابلې لپاره راټول شول او ژمنه یې وکړه، چې د خپل مخونه.

[1]وګورئ: ابن هشام، السیرة النبویة: ۱ټ، ۲۸۶- ۲۹۸

مشر (ابوطالب) بني هاشمو او بني مطلبو پر ضد پاڅي[1].
په دې منظور یې یو لیک ولیکه او له مخې یې ټول ژمن شول، چې پېر پلور به ورسره نه کوي، په یوې ناستې کې به ورسره نه کېني، دا ژمنلیک یې تر لاسلیکولو روسته په کعبې خونې کې راځوړند کړ.
په دې وخت کې بې له ابولهبه، بني هاشمو او بني مطلبو په مکه کې خپل کورونه پرېښوول او ټول له خپل مشر ابوطالب سره د «شعب ابوطالب» په نامې یوې درې ته ولاړل او همدلته یو ځای اوسېدل.
په دې وخت کې ابوطالب په یوې څرګندې قصیدې کې قریشو ته وویل:
«هن! له لوري مې د لُؤی ټبر او په تېره د کعب[2] ټبر ته پېغام ورسوئ:
آیا نه پوهېږئ موږ محمد د موسی په څېر یو پیغمبر وموند، چې په ړومبي کتاب (تورات) کې یې نامه لیکل شوې ده؟
او خدای یې د بنده ګانو په زړونو کې مینه ورایښې او تر ده بل غوره نشته، چې خدای یې په زړه کې مینه ورکېدې.
او څه مو چې په خپل لیک کې کښلي، درته به سپېره وي؛ لکه د صالح د اوښې د جونګي غړ (د مور تر ټپي کېدو او مړینې روسته) چې نوموړي قوم ته سپېره وه.
[یعنې ددې کار په پار، عذاب درباندې نازلېږي]
ویښ شئ! ویښ شئ! مخکې تردې چې د کور خاورې مو وسپړل شي او بې ګناه د ګناهګار په څېر (په عذاب کې شریک)شي.
په خبر لوڅو پسې مه ورځئ او تر دوستۍ او خپلوۍ روسته له زړه سوي لاس مه اخلئ.
او ډېره اوږده جګړه مه خپلوئ؛ ځکه ډېر ځل جګړه پر هغه کس سخته او پیکه وي، چې جګړه بلوي.
د کعبې پر خدای قسم، هلو محمد د روزګار سختیو ته نه ورپرېږدو.
مخکې له هغه چې په تېرو تورو زموږ او ستاسې لاسونه پرې نه شي، د هغې جګړې په ډګر کې چې د نېزې پترکي وراچول شوي او تور کجیران (لاش خواره) د مړیو غوښو خوړو ته راټول شي؛ په هرې څنډې کې د آسونو ځغاستځی او د جنګیالي، نارو د جګړې دګر ډک کړی وي، آیا پلار مو، هاشم، ملا و نه تړله او خپلو زامنو ته

[1]تاریخ الیعقوبي: ۲ټ، ۳۱مخ، بیروت چاپ ۱۳۷۹س
[2]لُوی بن غالب د قریشو غور نیکه او زامن یې کعب او عامر دي، د قریشو د ټبرونو نسب همدې کعب بن لؤی ته وررسي، چې خپل مشر ابوطالب خطاب ورته کوي، وګورئ ابن حزم الانساب، د بني لؤی ټبرونو د حالاتو شرح (ددې قصیدې سرچینې د تېر شعر په لمنلیک کې ویل شوي).

يې د نيزې اچولو او تورې وهلو وصيت وکړ؟
موږ بني هاشم له جګړې نه ستړي کېږو تر هغه چې جګړه رانه ستړې شي او له پايلو يې هېڅ شکايت نه لرو.
خو موږ د جګړې او عقل خلک يو، هغه وخت چې د اتلانو سا له ډاره کومي ته راورسي.

***

د ابوطالب قصايدو پر قريشو ډېرې اغېزې درلودې، د همدې ګواښونو له ډاره، پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم او نور بني هاشم د قريشو د تورې او هر وسلې له زيانه خوندي وو؛ خو درې کلنې اقتصادي محاصرې سخت اغېزمن کړي وو او په دې موده کې د قريشو خورا شتمنې ښځې حضرت خديجې بي بي خپله ټوله شتمني محاصره شويو ته ورانفاق کړه[1].
په دې موده کې خوراکي توکي په قاچاقي توګه وررسېدل. ابوطالب خپل زوى علي کرم الله وجهه، په شپه کې د آزوقې راوړو لپاره مکې ته لېږه، ابن ابى الحديد په دې اړه روايتوي «علي، د شپې له درې ځنې د غلو په څېر راوته او ځان يې له نورو پټاوه



او هغه ځاى ته به ورته، چې ابوطالب ورښوولى و او د اوړو او غنمو پېټى به يې راوړل[2].
په دې موده کې څوک ترې له درې نه راوته او دوى ته هم څوک نه ورتلل[3].
ابوطالب پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم د شپې داسې ځاى کې سملاوه، چې وليدل شي؛ خو چې څه شپه به تېره شوه له دې ځاى به يې بل ځاى ته بوت او پر ځاى به يې علي سملاوه؛ نو که چا يې وژنې ته ځاى په نښه کړى وي، زوى يې، علي کرم الله وجهه د پېغمبر پر ځاى ووژني[4].
محاصره شوي په سخته تنګسه کې راګېر شوي وو، خداى تعالى وينې مؤظف کړى، چې د ژمنليک ليکنه وخوري. پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم ابوطالب له پېښې خبر کړ، ابوطالب په مسجدالحرام کې قريشو ته ورغى او داستان يې ورڅرګند کړ، و يې ويل: ليک وويني که داسې وي، چې وراره مې ويلي؛ نو محاصره لرې کړئ او که خبره يې سمه نه وي، وراره مې در سپارم چې و يې وژنئ.
قريش خوشحال شول، ليک يې راووړ او و يې ليدل، چې بې له «باسمک اللهم» نور

---

[1] ابن هشام، السيرة النبوية: ١ټ، ٣٧٣- ٣٧٦ مخونه.
[2] ابن ابى الحديد، د نهج البلاغې شرح: ١٣ټ، ٢٥٤مخ، مصر چاپ، د قاصعه خطبې شرح، فصل فى القول فى اسلام ابى بکر و على
[3] د تېرې سرچينې: ١۴ټ، ۵٨مخ.
[4] د تېرې سرچينې: ١۴ټ، ٦۴ مخ. عيون الاثر: ١ټ، ١٢٧مخ. تاريخ اليعقوبي:٢ټ، ٣١- ٣٢ مخونه

ګرد لیک له منځه تللی و یې ویل: «دا خو مازې کوډې وې!».
په دې وخت کې ځینو ایمان راووړ[1].
بیا د بني هاشمو او حضرت خدیجې پینځو تنو خپلوانو لیک د قریشو پر وړاندې څیرې کړ[2].
تردې روسته بني هاشم او بني مطلب له درې راووتل او په مکې کې خپلو کورونو ته ورستانه شول.

## د حضرت خدیجې رضی الله عنها وفات

اسلام د مکې له پولو واوړېد او د عربو په ټبرونو کې خپور شو، له اتیا ډېر مسلمانان افریقا ته ولاړل او توحید یې تر حبشې ورساوه، په دې ټولو سیمو کې قرآن لوستل کېده او خدای په توحید لمانځل کېده؛ نو په دې توګه قریشو د بعثت د لومړي کلونو په څېر، اسلام په نطفه کې له منځه وړای نشو.
بلخوا، ابو طالب (۸۴) کلن او له قریشو سره مبارزې بوډا کړی و او حضرت خدیجه بي بي هم (٦٥) کلنه شوې وه او ټوله شتمني یې د اسلام په لار کې لګولې، تشلاسی او حالاتو ځپلې وه. په دې دواړو مرستندویانو (ابو طالب او خدیجې) څه یې چې له وسې پوره وه، له پېغمبره یې ورځار کړل.
په پای کې خدیجه (رض) مدینې ته تر هجرت درې کاله وړاندې په رمضان میاشت کې وفات شوه[3].

## ابوطالب د ژوند په روستیو وختونو کې

ابوطالب د ژوند په روستیو ساعتونو او مرګوني رنځورۍ کې د اسلام په لار او د اسلام د پېغمبر په ساتنې کې روستۍ هڅې وکړې، و یې ویل:
« وراره! تر مرګ روسته مې د خپلو ماماګانو، د بني نجار ټبر (په مدینه کې د خزرج له ټبره) ته هجرت وکړه؛ ځکه دا ټبر تر نورو خلکو د خپلې کورنۍ په ساتنې او ملاتړ کې هڅاند دي[4]»
روسته د ابوطالب ځنکدن شو، پردې وخت سر ته یې رور، عباس او پېغمبر ناست وو، ابوطالب په کمزوري غږ خبرې کولې، عباس غوږ شو، وا یې ورېدل ابو طالب وایي: «لا اله الا الله»؛ «یوازې الله لمانځوړ دی[5]»
ابوطالب د ژوند په روستیو شېبو کې هماغه کلمه وویله، چې خپل عمر یې ددې کلمې په دودولو او تبلیغولو کې تېر کړی و او

---

[1] تاریخ الیعقوبي: ۲ټ، ۳۵مخ
[2] ابن هشام، السیرة النبویه: ۱ټ، ۴۰۰مخ. تاریخ الطبري: ۱ټ، ۱۱۹۴- ۱۱۹۹ مخونه
[3] تاریخ الیعقوبي: ۲ټ، ۳۵مخ
[4] ذهبی، تاریخ الاسلام: ۱ټ، ۱۳۸مخ، فصل ثم توفی ابو طالب.
[5] سیره ابن اسحاق، باب وفاة ابی طالب: ۲۳۸مخ. ابن هشام، السیرة النبویة: ۲ټ، ۹۵مخ،

ځنګه یې چې د «الله» نامه پرخوله وه ساه یې ورکړه.
هیڅا د ابوطالب په څېر اسلام، د اسلام پېغمبر او د «لا اله- الاالله» کلمې خدمت کړی نه دی یوازې په دې پار چې د علي کرم الله وجهه پلار و او له علي کرم الله وجهه سره یې دښمني درلوده؛ نو دغسې مسلمان ته یې کافر وایه.
یعقوبي وایي:
پېغمبر اکرم د خپل تره د جنازې پر سر وویل:
یا عم ربّیت صغیرا و کفّلت یتیما و نصرت کبیرا فجزاک الله عنی خیرا و مشي بین یدی سریره وجعل یعرفه ویقول: «وصلتک رحم وجزیت خیراً»
«تره! په کوشنیتوب کې دې وپاللم، په یتیمۍ کې دې زما پالندوینه وکړه او چې لو یې شوم زما ملاتړ دې وکړ، خدای دې د خیر بدله درکړي» او د جنازې مخکې یې تله او راګرځېده او جنازې کټ ته یې درېده او ویل یې: «د صله رحم او زړه سوي بدله دور و رسېده او ښه بدله هم در ورسېده[1]»
د اسلام پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم دغسې وویل؛ خو مسلمانانو وویل: «ابوطالب د جهنم په اور کې سوځي» او دا کلام یې له همدې پېغمبره روایت کړی دی!
په نظر مې دا روایات یې د «معاویه» په زمانې کې جوړ کړي او په دروغو یې په پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم پورې ورتړلي دي، ورپسې ټولو خلفاوو تایید او تقویت کړی دی، په تېره عباسي خلفاوو، چې د ابوطالب د ځوځات (امامزادګان) له ښوربښ سره مخ وو.
عباسیانو له دې روایاتو په ګټنې مسلمانانو ته زبادوله، داچې دوی په خپله د پېغمبر د تره، عباس، چې مسلمان و، له ځوځاته دي، په دې توګه په ګردو چارو که مادي وې یا معنوي، کې د پېغمبر اکرم شرعي وارثین وي.
خو امام زادګانو د پېغمبر د بل تره ابوطالب چې په ګومان یې کافر و، له ځوځاته دی او په اسلامي شرع کې کافر او مسلمان یو له بل میراث نه وړي.
خو یو دلیل د ابوطالب پر نا مسلمانتوب نشته او د سیرت او تاریخ په کتابونو کې چې څه د ابوطالب له اشعارو او ویناوو راپاتې دي، په یو مورد کې هم داسې نه موندل کېږي چې ابوطالب د مکیانو او عربي کفارو د بوتانو لکه لات، هبل او غزا، نامې اخستې وي.

[1] تاریخ الیعقوبي: ۲ټ، ۳۵مخ.

ابوطالب په هرځای کې د «الله» او «رب الکعبه» او د خدای نورې نامې اخستې او په دې نامو یې قسمونه یاد کړي او دا نامې یې د خولې ذکر و؛ خو څه چې له عربي مشرکانو راپاتې دي، ددې بوتانو نامې ډېر راغلې دي[1].

ابوطالب تر حضرت خدیجې بي بي درې ورځې ورسته او په بلې وینا مخکې ترې ومړ[2] او خدای یې زوی، علي کرم الله وجهه د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ملاتړ ته وګوماره.

## د اسلام مېړنی، له قریشو سره په مبارزه کې

د ابوطالب تر وفات روسته لازم و چې د بني هاشمو له اړخ د قریشو کافران سخت وګواښل شي، چې ونه انګېري پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم یو مخې بې ملاتړه پاتې شوی او بني هاشم تر خپل مشر روسته پېغمبر یوازې پرېنږدي.

دا کار علي کرم الله وجهه د قریشو د مشر زوی په غوره توګه وکړ، د هغې زمانې په عربي ټولنه کې غوره وزله قصیده ویل و، علي کرم الله وجهه د خپل پلار تر وفات روسته په څرګنده قصیدې کې قریش دغسې وګواښل:

«د ابوطالب د مړینې له خبره د شپې وینښ وم،هغه ابوطالب چې د بېوزلیو پناه ځی او د وجود او ورکړې خاوند و زغمناک ښاغلی چې نه توند خویه و او نه سست پخ د هغه عزتمن مشر له مرګه یې خبر کړم؛ داسې مشر چې د مسکینانو غبز یې اورېده او هره ناخواله یې رغوله؛ د بني هاشمو پاسوال او چا پرې تېری نشو کړای. قریش یې په مړینه ښادمن شول؛ خو زه هېڅ ژوندی وګړی تلپاتې نه وینم. د داسې کارونو نیت یې درلود، چې ځاني غوښتنې یې دا چارې ښه ورته برېښولې وې، په پای کې یوه ورځ رارسي چې دوی بېلارې کوي.

هیلمن وو چې پېغمبر دروغجن وښیي او و یې وژني، دروغ وروتړي او له چار یې انکار وکړي.

[1] د یادونې وړ ده، چې د حضرت ابوطالب د ایمان په باب ډېر کتابونه لیکل شوي، چې ځینې یې:
په الذریعه (: ۲ټ، ۵۱۰- ۵۱۴ کتاب کې ښوول شوي له دې:
بغیة الطالب لایمان ابی طالب و حسن خاتمته (سیوطي).
اسنی المطالب فی نجاة ابی طالب (د مکې شافعي مفتي، سید احمد بن زیني دحلان)
او له هغو کتابونو چې را وروسته بیا چاپ شوي، ځینې یې دا دي:
ایمان ابی طالب (شمس الدین ابی علی فخار بن معد الموسوي)
ابو طالب، مظلوم تاریخ (علامه امیني) چې د «العذیر» کتاب د یوې برخې ژباړه ده.

[2] سیره ابن اسحاق، خبر وفاة ابو طالب: ۲۳۶ مخ. د ابن هشام سیرت او د یعقوبي تاریخ

دورغ مو وګڼل: نه! د خدای پر کور قسم، تردې چې د تېرو نېزو او تورو خوند دروڅکم او چې کله مو اوسپنيزې جامې واغووستې؛ نو سخته منظره به دروښيو او تر هغه چې يا موږ له منځه يوسئ يا تاسې له منځه يوسو يا داچې له خپل ټبر سره سوله غوره وګڼئ.

او که نه دا ټبر د محمد په مخ کې دی، بني هاشم درته وايم، هماغه چې غوره جنګيالي دي، هغه پيغمبر چې وحې راته راوړي او پالونکي مې په خپل اسماني کتاب کې «محمد» نومولی دی

مخ يې لکه د لمر په څېر نوراني دی، د مخ رڼا يې وريځې له مخې لرې کړې دي.

پر هغه څه امين دی، چې خدای يې ور پر زړه کړي او هرڅ چې وايي، بريالی دی[1]»

علي کرم الله وجهه په دې قصيده کې د قريشو کفار ګواښي، ونه انګېري چې که ابوطالب د قريشو مشر ومړ؛ نو بني هاشم خوارېږي.

علي کرم الله وجهه په خپل شعر کې د خپل پلار (ابوطالب) په څېر د محمد صلی الله عليه وآله وسلم پيغمبري د خدای له لوري اعلانوي او د قريشو کفار له خدايه ډاروي او دوی لکه څنګه چې له خدايه نه ډارېږي، چې نه ډارېږي، په اوسپنيزو جامو سنبال د بني هاشمو له تېرو نيزو او تورو ډاروي...

او له پيغمبر څخه د ساتنې په لار کې اخطار ورکوي، که جګړه ونښلي؛ نو يا به بني هاشم تالا ترغی شي يا د قريشو کافران؛ خو داچې قريش له خپلو توربورانو، بني هاشم سره د پخلاينې لار خپله کړي.

چې دلته علي کرم الله وجهه د خپل پلار په څېر هڅه کوي، چې د خپلو توربورانو زړه سوی راوپاروي. داسې ښکاري چې په دې قصيده کې علي کرم الله وجهه، نه بلکې پلار يې ابوطالب دی، چې قريش رټي او وينا ورته کوي، عرب په دې باب څومره ښکلې خبره کوي:

«الشبل من ذاک الاسد» هو، دا زمريالی د هماغه زمري زوی دی.

### ددې قصيدې اغېز

ددې قصيدې د اغېز څرګندولو لپاره لاندې داستان ته ځير شئ.

«په بصرې کې د جمل جګړې تر پای روسته، علي کرم الله وجهه کوفې ته ورغی او د ښار په جومات کې يې په يوه وينا کې خلک وبلل، چې په شام کې له معاويه سره جګړې ته ورشئ. په دې وخت کې د خلکو له منځه يو تن پاڅېد، علي کرم الله وجهه ته يې وويل: شام ته مو لېږې، چې

[1] سيره ابن اسحاق: ۲۳۹- ۲۴۰ مخونه.

په بصره کې خپل ورونه ووژنو! نه، پر خدای قسم دا کار به و نه کړم.
دا خبره د خلکو پر روحیه ډېره اغېزمنه وه؛ خو د علي کرم الله وجهه مېړنی لاروي؛ «مالک اشتر» پاڅېد، و یې ویل: څوک ددې سړي ځواب وایي:
سړی وتښتېد، خلک ورپسې شول او د اسونو په بازار کې یې وموند، تر لغتو لاندې په لاسونو او د تورو په تېکو دومره وواهه چې هلاک شو. علي کرم الله وجهه یې کورنۍ ته له بیت الماله دیه ورکړه و یې ویل: وژونکی یې ناڅرګند دی او دیه یې د مسلمینو پر بیت المال ده[1]»
دلته که «مالک اشتر» نه وای پاڅېدلی او دغسې خبره یې کړې نه وای، ددې سړي همفکرانو یې خبره تاییدوله او علي کرم الله وجهه ماته کوله؛ خو چې د همدان ټبر مشر؛ مالک اشتر دغسې خبره وکړه، ټبر یې پاڅېد او نور ورپسې شو او سړی یې وواژه او په دې توګه مخالفین زاره تړکي شول.
د مکې په داستان کې هم موقعیت ډېر دقیق او خطرناک و د بني هاشمو مشر مړ شوی و او د قریشو یو برید دوی له منځه وړل، د قریشو د مشر د زوی دې قصیدې په ټولنه کې دوه رغنده اغېزې پرېښووې:

۱- پر بني هاشمو او نورو مسلمانانو: بني هاشمو یو زړور محور ته اړتیا درلوده، چې دوی هیلمن کړي او له خپرېدو او ډاره یې خلاص کړي، د علي کرم الله وجهه دې قصیدې نه یوازې دا اړتیا ور پوره کړه؛ بلکې نور مستضعف او بیوزلي کړای شوي مسلمانان یې هم هیلمن او زړور کړل.
۲-پر قریشو: که په دې حال کې یو قریشي کافر پر پېغمبر برید کړی وای، ورپسې په سلګونو نورو پر پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم، بني هاشمو او مستضعفو مسلمینو عمومي یرغل پیدلېده.
خدای، علي کرم الله وجهه وګوماره او په دې قصیدې یې د مکې وضع د پېغمبر اسلام او مسلمانانو په ګټه واړوله لکه څنګه چې د مالک اشتر په یوې وینا د کوفې وضع د علي کرم الله وجهه پر ګټه واوړېده.

### د قریشو د کفارو ځورونه زور اخلي

که څه د قریشو کافران پوهېدل چې د ابوطالب تر وفات روسته نور بني هاشم، پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم یوازې نه پرېږدي؛ نو د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم پر داسې ځورولو یې پیل وکړ، چې

[1] نصر بن مزاحم، وقعة صفین: ۹۴مخ، چاپ: المدني مصر (داستان په لنډو اخستل شوی)

هڅو د ابوطالب پر ژوندونې یې دغسې جرائت او جسارت نه درلود.
اوس په مکه کې د اوسېدنې پرمهال د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د دوو تنو ځورونکیو نامې راوړو او د ځورونې څو بېلګې یې درڅرګندوو.

**ابولهب او مېرمن یې ام جمیل**

ابولهب د عبدالمطلب زوی او د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم تره و، «لهب» د لمبې پر مانا دی او داچې مخ یې خورا ښکلی و، پر ابولهب یې یاداوه؛ یعنې هغه چې مخ یې د لمبې په څېر رڼا کوي.
د ابولهب ځورونه او کار ورانونه له هغې ورځې پیل شوه، چې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم بني عبدالمطلب خپل کور ته راوبلل او دې ځورونې د بدر تر غزا روسته پورې دوام درلود، چې تر یادې غزا روسته، طاعون ته ورته په عدسه رنځوری هلاک شو. له ځورونو یې دادي:
یوه ورځ پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د عمومي بلنې به پیل کې د صفا پر غره ودرېد، غږ یې کړ، «واصباحاه!» دا غږ په عربو کې د یو هولناک کار خبرونې ته کارېږي.
په دې غږ پسې قریش پر پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم راټول شول، پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم وویل: که خبر مو کړم چې د سپرویو لښکر ددې غره له لمنې راځي، منئ یې؟
وویل شول: کله مو هم دروغ درڅخه نه دي اورېدلي [چې په پار یې ستا وینا ونه منو] په دې وخت کې کې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم وویل: زه مو له یوه سخت عذابه ډاروم.
په دې ټولو کې د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم تره ابولهب پېغمبر ته وویل: «تبّاً لک! الهذا جمعتنا؟!»
«هلاک شې! دې خبرې ته دې راټول کړو؟[1]»
ابولهب ویل: دا محمد داسې څیزونه راته وایي او تر مرګ روسته نړۍ وعدې راکوي او په دې باب ادعاوې لري، ګومان نه کوم چې تر مرګ روسته به څه خبره وي او په ملنډو یې د دواړو لاسونو په اورغویو کې پوکل او ویل یې: «تبا لکما!» «غوڅ دې وي: زه خو په لاس کې د محمد له ویناوو څه نه وینم[2]»
د ابولهب مېرمن «ام جمیل» (د ابوسفیان خور او د معاویه ترور، چې له اموي کورنۍ وه) هم د پېغمبر صلی الله علیه وآله

[1] په تفسیري کتابونو او صحیح البخاري کې د مسد سورت تفسیر

[2] ابن هشام، السیرة النبویة: ۱ټ، ۳۷۲.

وسلم یوه له ځوروونکیو څنې وه. د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د تګ پر لار به یې اغزي اچول او د حضرت صلی الله علیه وآله وسلم پر ضد یې فتنې راولاړولې، د ابولهب او مېرمن په باب یې «مسد» سورت نازل شو:

تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ. مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ. سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ. وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ. فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ.

«مات شه د ابولهب دواړه لاسونه او هلاک دې شي! شتمني او لاس ته راوړنې یې ورګټورې نشوې. ژر به غرغنده اور ته ورننوځي (او سوځي به)؛ او خسبه ښځه یې (هم). او په غاړه کې به یې د کجورو (د پوټکیو ځیره) رسۍ وي.[1]»

د ابولهب دوو زامنو «عتبه» او «عتیبه» د پیغمبر له دوو لوڼو سره واده کړی و او «عاص بن وائل سهیمي» له بلې لور سره قریشو دوی ته وویل: د پیغمبر لوڼې ورطلاقې کړئ، چې په معیشت کې یې ښکېل شي او د اسلام له بلنې پاتې شي او په مقابل کې د قریشو هره نجلۍ چې غواړئ ور واده کوو یې.

عاص بن وائل ونه منله او د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم لور یې طلاق نه کړه؛ خو د ابولهب زامنو دا کار وکړ، مور یې ام جمیل د مسد سورت تر نزول روسته ورته وویل: «د محمد لوڼې ورطلاقې نه کړئ، ټکې خبره به درسره و نه کړم!»

ام جمیل له پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم سره په دښمنۍ کې په دې هم بسانه و نه کړه، یو وخت یې د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په هجو او سپکاوي کې یو شعر لوسته نو یوه ډېره واخسته او د خدای کور ته ولاړه، چې پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم پرې وولي؛ خو سره له دې چې پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ته مخامخ ولاړ و؛ خو حضرت صلی الله علیه وآله وسلم یې ونه لیده او ستنه شوه[2].

❋ ❋ ❋

پر پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم تر ټولو قریشو د ابولهب خندونه اچول اغېزمن و.

لکه چې و مو ویل، د قریشو د کفارو د ژمنلیک تر لیکلو روسته، پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم له خپلو یارانو (د بني هاشم او بني مطلب له دوه خېلو سره) د ابوطالب په شعب (دره) کې د قریشي کافرانو تر محاصرې لاندې وو او قریشو پېر پلور پرې منع کړی و او دوی په تنګلاسۍ کې اوسېدل.

[1] ابن هشام السیره النبویة: ۱ټ، ۳۷۶ مخ او په الدرالمنثور سیوطي او نورو تفاسیرو کې د مسد سورت تفسیر وګورئ

[2] ابن هشام السیرة النبویه: ۱ټ، ۳۷۸- ۳۷۹ مخونه.

که په دې وخت کې مکې ته کوم سوداګریز کاروان راتله؛ نو د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم له يارانو يو تن به ورتله چې آذوقه او خواړه ترې وپېري، په دې وخت کې ابولهب د خدای غلیم ودرېده ویل يې، سوداګرو د محمد صلی الله علیه وآله وسلم يارانو ته مو بيې لوړې کړئ، چې څه درڅخه وانخلي،تاسې خو مې له شتمنی او پيسو خبر ياست او هم پر ژمنې له عملي کولو ضمانت درکوم، چې څه زيان به نه دررسي.

بيا سوداګرو بيې دومره لوړولې، چې د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم يارانو څه نشو پېرلی او تش لاس خپلو اولادونو ته ورګرځېدل او کوشنیانو يې له لوږې ژړل او چغې يې وهلې او له دوی سره څه نه ول، چې و يې خوري او په پای کې ابولهب سوداګرو ته د هغه خوراک او جامو ښه ګټه ورکوله چې د محمد صلی الله علیه وآله وسلم پر يارانو يې پلورلي نه وو په دې توګه مسلمانانو له لوږې او بربنډتوبه کړېدل او سختې ورځې يې تېرولې[1].

## مدينې ته هجرت

پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم مدينې ته تر هجرت وړاندې د حج پر وخت چې عربان حج ته راتلل له عربي ټبرونو مرسته غوښته، چې خپل رسالت تبليغ کړای شي.

په دې وخت کې يې د خزرج ټبر له يوې ډلې سره چې له مدينې څخه حج ته راغلې وه، مخ شو او اسلام ته يې راوبلله. دوی چې له يهودو د آخرالزمان پېغمبر د راښکاره کېدو وړاندوينه اورېدلې وه پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم يې وپېژانده او اسلام يې راووړ او چې مدينې ته ستانه شول، مدينوال يې له پېغمبره خبر کړل. په دې توګه اسلام په مدينې کې خپور شو.

بل کال له مدينوالو يوه ډله حج ته راغله او له پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم سره يې په اسلام بيعت وکړ، پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم له مکې مسلمانانو مصعب بن عمير (رض) ورسره ولېږه، چې په مدينه کې مسلمانان شويو ته اسلام او قرآن ورزده کړي او د جماعت لمونځ ورته وکړي.

تردې روسته اسلام په مدينې کې ښه ډېر خپور شو، تردې چې پر درېيم کال څو اويا تنه مدينوال د حج په نيت مکې ته راغلل، په دې سفر کې يې له پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم سره بيعت وکړ چې حضرت صلی الله علیه وآله وسلم دې مدينې ته راشي او اسلامي دولت دې جوړ کړي،

[1] ابن هشام السيرة النبويه: ۲ټ، ۱۷مخ

چې کله دا ډله مدينې ته ورسته شوه، له مصعب (رض) سره يې د جماعت لمونځ وکړ او اسلام په مدينې کې رسمي دين وپېژندل شو. په دې وخت کې پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د مکې مسلمانانو ته دستو ورکړ، چې پټ په پټه مدينې ته هجرت وکړي په پای کې په مکه کې له مسلمانانو څوک پاتې نه شو، بې له علي کرم الله وجهه او څو تنو مسلمانانو چې د دوی مور و پلار او خپلوان يې بنديان کړي ول.

بلخوا، د قريشو کفار چې په مدينه کې د مسلمانانو له ټولېدو اندېښمن وو، راټول شول، سلا مشوره يې وکړه او ژمنه يې وکړه، چې له هر ټبر دې يو تن د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم وژنې ته چمتو شي او د شپې شپې دې حضرت صلی الله عليه وآله وسلم په خپل کور کې ووژني، چې په خپل خيال د اسلام جرړه راوباسي. جبرئيل، پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د دوی له هوډه خبر کړ او د خدای له لوري مدينې ته د هجرت امر ورته وشو.

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم علي کرم الله وجهه د څلورو کارونو کولو ته مکلف کړ:

۱- سفر ته د سپرلۍ وزله ورته چمتو کول.

۲- پر هغې شپې د پېغمبر اکرم په بسترې کې ويدېدل، چې وژونکي وانګېري پېغمبر په خپله بستره کې ويده دی اوحضرت صلی الله عليه وآله وسلم روغ رمټ له مکې ووتلای شي.

۳- له پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم سره د قريشو امانتونه خاوندانو ته يې ورکړي.

۴- مدينې ته د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم کورنۍ راولي.

تردې روسته پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د شپې شپې له حضرت ابوبکر (رض) سره له مکې ووتل او د ثور غره په غار کې پټ شول. علي کرم الله وجهه د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په بستره کې ويده شو قريشو، چې ابولهب (د پېغمبر تره) هم ورسره و، د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم وژنې ته توره په لاس له کوره راچاپېر شول. دوی د انګړ د ديوالو تر شا چې په هغې زمانې کې ټيټ و د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم بستره څارله چې پر ګهيځ مهال پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ووژني او داچې علي کرم الله وجهه يې د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په بستره کې وليده ګومان يې کاوه خپله پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په بستره کې دی؛ خو چې ګهيځ علي کرم الله وجهه له بسترې راپاڅېد، دوی پوه شول چې ټوله شپه تر ګهيځه تېروتي وو.

قريشي کفار چې له خپلې تېروتنې خبر شول؛ نو د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم

په لټه کې شول او ثور غره غار ته ننژدې ورغلل[۱].

په دې وخت کې حضرت ابوبکر (رض) وډار شو، پيغمبر ورته وويل: «مه غمجنېږه! الله راسره دی[۲]».

قريشي وګړي له غاره راوګرځېدل، علي کرم الله وجهه د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم سپرلی ته اوښ وپېره[۳] او يو اوښ يې له عامر بن فهيره سره حضرت ابوبکر (رض) ته راوست[٤] او له بني الديل[٥] ټبر يو تن عبدالله بن اريقط يې لارښود ونيو، چې مسلمان نه و.

پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له دې دريو تنو سره له مکې هجرت وکړ، چې له مدينې دوه ميله دباندې د قبا درې ته ورسېدل حضرت صلی الله عليه وآله وسلم په قبا کې پاتې شو، تردې چې علي کرم الله وجهه له کورنۍ سره يې قبا ته راورسېد او له پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم سره د قريشو امانتونه يې خپلو خاوندانو ته ورکړي وو. د مدينې مسلمانان د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له هجرته خبر شول؛ نور هر ګهيځ له مدينې راوتل او تر ځانښته به د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په انتظار کې وو او بېرته ستنېدل، تردې چې پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له ملګرو سره د دوشنبې پر ورځ د ربيع الاول پر اتمه يا دولسمه، له قبا څخه مدينې ته ورغلل.

د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم اوښ د مدينې په منځنۍ ځمکه کې چو شو، پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم دا ځای وپېره او د مدينې جومات يې پکې له خښتو او خټو جوړ کړ او پر چهت يې د کجورې د ونې لښتې واچولې، د جومات په روستۍ برخه کې يې د «جنحه» په نامې يوه چوتره جوړه کړه او نېستمن مهاجرين يې پکې مېشت کړل.

همداراز د جومات ترڅنګ يې خپلې هرې مېرمنې ته د جومات د کوټې په څېر کوټه جوړه کړه او له هجرت چې اوه مياشتې تېرې شوې، حضرت عايشه يې خپل کور ته راوسته، روسته يې خپله لور فاطمه، د خديجې بي بي يادګار د خپل تره زوی علي کرم الله وجهه د ابوطالب يادګار ته ور واده کړه او د خپل کور ترڅنګ د خپل کور په څېر کور يې ورجوړ کړ.

---

[۱] ابن هشام، السيرة النبويه: ۲ټ، ۱۲۷ مخ.

[۲] دې آيت ته اشاره ده: «إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا».

[۳] مسعودي، مروج الذهب، باب ذکر هجرته

[٤] عيون الاثر: ۱ټ، ۱۸۱ مخ

[٥] عيون الاثر: ۱ټ، ۱۸۴مخ. مروج الذهب: ۲ټ، ۲۷۹ مخ، باب ذکر هجرته

## د اسلامي ټولنې بنسټ ایښوونه

پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم لومبی اسلامي ټولنه دغسې بنیانګذاري کړه؛ له مهاجرینو یې دوه تنه یو له بل سره ورونه کړل؛ لکه حضرت ابوبکر او حضرت عمر او هم له مهاجرینو یې هر یو له یوه انصاري سره رور کړ؛ لکه حضرت ابوبکر له حضرت خارجة بن زبیر انصاري سره او حضرت عمر بن خطاب یې له حضرت عتبان بن مالک انصاري سره او په هر نوبت کې یې علي کرم الله وجهه خپل رور ګاڼه او ورته یې ویل:
«انت اخی فی الدنیا والاخرة: په دنیا او آخرت کې مې رور یې [1]».
همداراز ددې کوشنۍ ټولنې امنیت ساتنې ته یې له مدینه مېشتو شتمنو یهودي ټبرونو سره په سوله کې د ژوند او پر مدینې د یرغلګرانو پر وړاندې یو له بله د ملاتړ او دفاع تړون وکړ، په تېره له بني قینقاع ټبرونو سره چې سوداګر او سودخواره وو او د بني نضیرو او بني قریظه و له دوو ټبرونو سره چې بڼوال بزرګان او پوونده ګر (مالداره) وو، د تړون په ترخ کې حاکمیت (واکمني) او حکمیت (منځګړیتوب) پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ته ورسپارل شوی و[2].

پېغمبر تردې تړونونو او د داخلي امنیت تر ډاډېینې روسته په مکه کې د اسلام دښمنانو؛ قریشو ته ور پام کړ حال دا، په دې کوشنۍ ټولنېکې له قریشو راتښتېدلي په سلګونو مهاجرې کورنۍ وې، چېپه مکه کې یې ټولې شتمنۍ قریشو لوټ کړې وې او په پوره تنګلاسۍ او د انصارو په مرسته یې په سختۍ ژوند کاوه پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ددې کار چارې ته یوه ډله جنګیالي د قریشو په هغه سوداګریز کاروان پسې ولېږله، چې له شامه مکې ته پر لار و او له مدینې نژدې تېرېده، یو ځل د قریشو پر کوشني سوداګریز کاروان لاسبري شول او پېغمبر دا ولجې پر تنګلاسو وویشلې.

### د بدر غزا

وضع دغسې وه چې د هجرت پر دویم کال رمضان میاشت کې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم خبر کړ، چې د قریشو یو ستر کاروان له شام څخه مکې ته را روان دی. پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم مسلمانانو وهڅول چې د کاروان لټې ته له مدینې ووځي او له درې سوه او دیارلسو(۳۱۳) تنو سره په دې نیت له مدینې ووتل او «بدر» سیمې ته نژدې تم

[1] وګورئ: عیون الاثرة ۱ټ، ۲۰۰- ۲۰۱ مخونه، باب ذکر المواخاة

[2] وګوری: عیون الاثر: ۱ټ، ۱۹۷مخ، باب ذکر اموادعة بین المسلمین والیهود

شول، بدر له مدينې څخه اوه منزله لرې د مکې پر لار يوه سيمه ده.

ابوسفيان د قريشو ددې ستر سوداګريز کاروان مشري کوله، له دې پېښې خبر شو ابوسفيان مکيان خبر کړل؛ خو ځان او کاروان يې له نښتې بچ کړ.

قريش له زړو تنو وسلوالو سره له پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم سره د جګړې لپاره له مکې راووتل، ټو تنه بني هاشم هم په زور له لښکر سره يو ځای شوي وو، چې له دې ځنې عباس د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم تره او طالب د علي کرم الله وجهه رور و.

قريشو دوی ټپسورول، له دوی ځنې طالب په لار کې له لښکره وتښتېد او مکې ته ورستون شو. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له پېښې خبر شو. د اسلام د لښکر ډېری وګړي انصار وو دوی له پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم سره ملګرتيا کول په خپل بيعت کې مدينې ته د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د راتګ شرط کړی و. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ددې موضوع په پامنيوي او دادی اوس له مدينې دباندې دي او د جګړې په نيت هم راوتلي نه دي؛ نو په لټه کې شو چې ايا انصار دلته او په دې حال کې ځانونه له پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم سره د مرستې ژمن بولي که نه؟

نوځکه يې د سلا مشورې په نامه لښکر راټول کړ او دوی يې خبر کړل، چې سوداګريز کاروان تښتېدلی او د قريشو جګړيز لښکر راوتلی دی، ورته يې وويل: «اشيروا علی».

«نظر مو راته ووايي! څه بايد وکړو؟»

پردې وخت حضرت ابوبکر او حضرت عمر وويل:

«رسول الله! پر خدای قسم دوی قريش دي، چې له خپل ټول زور او دبدې سره راوتلي دي، په خدای قسم قريش له څه وخت چې ځواکمن او يا دبده شوي تر ننه خوار شوي نه دي، پر خدای قسم له هغې ورځې چې قريش کافر شوي ايمان يې رانه وړ، پر خدای قسم قريش کله هم خپل قدرت او شوکت له لاسه نه ورکوي او درسره جګړه کوي؛ نو جګړې ته چمتو شه.»

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له دواړو او ډارنو خبرو يې مخ واړاوه[1].

په دوی پسې حضرت مقداد پاڅېد و يې ويل:

«رسول الله! د خدای حکم عملي کړه درسره يو. موږ د بني اسرائيلو خبره درته نه کوو، چې خپل پېغمبر ته يې وويل: ته دې

---

[1] صحيح مسلم، کتاب الجهاد والسير، باب غزوه بدر

له خپل خدای سره ورشه جګړه وکړه موږ دلته پاتېږو! بلکې وايو: له خدای سره دې له هغو سره جګړه وکړه درسره يو او ورسره جنګېږو. پر هغه قسم چې پر حق يې رالېږلی، که د سمندر تر کڅه ولاړ شې درسره يو.»

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د خير دعا ورته وکړه او بيا يې خپله خبره وکړه «اشېروا عليّ- خلکو خپل نظر راته ووايئ» انصار پوه شول چې پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د دوی نظر غواړي. حضرت سعد بن معاذ د انصارو له مشرانو پاڅېد و يې ويل: يا رسول الله: لکه چې زموږ نظر غواړې؟ پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم وويل: هو سعد (رض) وويل: د انصارو له لوري ځواب وايم:

«پېغمبره! ښايي د يوه کار په نيت له مدينې راوتلی يې او اوس له خدايه د بل کار حکم دررسېدلی دی. پېغمبره! ايمان مو درباندې راوړی، ته مو تصديق او منلی يې او ژمنه مو درسره کړې، د کوم کار چې امر درته شوی عملي يې کړه. پر هغه قسم چې ته يې پر حق رالېږلی يې، که سمندر ته ورګډېږې، درسره ګډېږو، که څه يو تن مو پاتې نشي. چې له چا سره نښلون غواړې و يې کړه او چې له چا سره پرېکون غواړې؛ نو همدغسې وکړه، څومره چې غواړې له شتمنی مو درواخله او تر نه اخستو يې په اخستو خوشحالېږو» د وينا تر پايه يې:

د سعد (رض) خبرې چې پای ته ورسېدې، پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم وويل: «د خدای په برکت روان شئ، چې زما د بريا زېری يې راکړی اوس ته وا دا کافرانو وژنه وينم.»

بيا يې د قريشو د هر يو مشر وژنځی وروښود[1].

د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم لښکر په بدر کې واړول. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ته يې څپری جوړ کړ او شا ته يې حضرت ابوبکر دې خوندي ځای ته ورغی او همدلته د جګړې تر پايه و[2].

د قريشو وسلوال لښکر چې را ورسېد؛ نو د رمضان مياشتې پر اولسم د کافرانو او مسلمانانو ترمنځ د «بدر» غزا ونښته.

د اسلام په لښکر کې علي کرم الله وجهه او حضرت حمزه تر ټولو ډېر مېړانه وکړه او د کافرانو مشران او اتلان يې ووژل[3].

انصارو هم مېړانه وکړه او سخت وجنګېدل څو تنه بني هاشم چې په زور د قريشو په

[1] وګورئ: واقدی المغازی: ١ټ، ٤٨- ٤٩ مخونه، د بدر غزا روايآت، اکسفورد چاپ. متريزي، امتاع الاسماع: ١ټ، ٧٤- ٧٥ مخونه.

[2] ابن هشام، السيرة النبويه:٢ټ، ٢٦٧ مخ.

[3] وګورئ: ابن هشام، السيرة النبويه،د بدر غزا روايات (په دې کتاب کې اولس ځل د علي کرم الله وجهه نامه راغلې، چې د قريشي کافرانو قاتل دی)

لښکر کې بدر ته راغلي وو، د مسلمانانو پر ضد ونه جنګېدل.

جګړه د مسلمانانو په بريا پای ته ورسېده، مسلمانان څوارلس تنه شهيدان شول، شپږ تنه مهاجرين او اته تنه انصار، د مشرکانو هم اويا تنه ووژل شول او اويا تنه بنديان.

له وژل شويو څنې «عتبه»، «شيبه» او «حنظله» د هندې پلار، رور او زوی و، چې حمزه (رض) اوعلي کرم الله وجهه وژلي وو[1]، «هند» د ابوسفيان مېرمن او د معاويه مور وه.

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د بدر پر ورځ د بني هاشمو او څو تنو نورو نامې واخستې او د دوی وژنه يې نهې کړه. دا هغه کسان وو چې يا په زور د قريشو له لښکر سره راغلي وو؛ لکه بني هاشم او څو تنه نور او يا داچې په مکه کې يې د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د اوسېدنې پرمهال د اسلام خدمت او له پېغمبره يې دفاع کړې وه؛ لکه «ابو البختری» چې د څو تنو په ترڅ کې يې د مسلمانانو پر ضد د قريشو د ژمنليک په څېرې کولو کې همکاري کړې وه.

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په تېره د عباس نامه واخسته، و يې ويل: مه يې وژنئ ځکه قريشو په زور راوستی دی. په دې

وخت کې د عتبه زوی، ابوحذيفه وويل: مور، خپل پلرونه، زامن او خپل کسان ووژنو او عباس ونه وژنو، پر خدای قسم که يې ووينم، توره پکې ور ټومبم!

حضرت عمر وويل: رسول الله! پرېږده، چې په توره يې غاړه ور پرې کړم، پر خدای قسم خپل منافقت يې ښکاره کړ[2].

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم حضرت عمر ته اجازه ور نه کړه.

## د ولجو (غنيمتونو) پر ويش اختلاف/ اړپېچ

د قريشو لشکر چې ماتې وکړه او مخ پر شا شو؛ نو د اسلام يو شمېر جنګيالي په بېديا کې ورپسې شول، څوک چې په لاس ورغی، و يې واژه او يا يې له ځان سره راوړه او يو شمېر کسانو د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له ځايه ګرچاپېره پاسوالي کوله،هسې نه چې دښمن د اسلام پوځ له پېغمبره د لرې والي په حال کې له فرصته ګټنه وکړي او د پېغمبر پر ځای بريد وکړي.

تر جګړې روسته، ددې درې واړو ډلو ترمنځ د غنيمتونو پر سر اختلاف شو. هغې ډلې چې له ځان سره غنيمتونه راوړي وه،

[1] ابن هشام، السيرة النبوية: ۲ټ، ۳۶۵مخ

[2] معجم البلدان: ماده: «سير». ابن هشام، السيرة النبويه: ۲ټ، ۲۸۱مخ.

دا يې د ځان ګڼل او نورو ته پر څه حق قايل نه وو.

هغوی چې په دښمن پسې شوي وو، ويل يې: پر خدای تاسې تر موږ د غنيمتونو حقوال نه ياست؛ ځکه که موږ دښمن تعقيب او بوخت کړی نه وای، دوی نه پرېښوای، چې مالونه يې ولجه (غنيمت) کړئ.

او هغوی چې د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم پاسوالي کوله و يې ويل: چې د دښمن مالونه مو بې پاسواله وليدل؛ نو وډار شو، که ورشو او دا غنيمتونه راټول کړو او دښمن د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ځای بې ساتندويآنو وګوري او راستانه شي او پر پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم بريد وکړي؛ نوځکه موږ پر خپل ځای پاتې شو؛ نو تاسې تر موږ غنيمتونو ته وړ نه ياست.

په دې حال کې پر پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم وحې راکښوته او دا مالونه يې د خدای او رسول وګڼل. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم امر وکړ له چا سره چې غنيمتونه وي رادې وړي او يو تن انصاري يې د غنيمتونو راټولولو مسوول کړ. بيا له بدر څخه د مدينې پر لور رهي شول او مدينې ته نژدې «سير» سيمې ته چې ورسېدل؛ نو دلته تم شول او امر يې وکړ، چې غنيمتونه دې پر ټولو يو رنګ وويشل شي[1].

د عربي ټاپووزمې پر خلکو د بدر غزا اغېزې

د جزيرة العرب د ټبرونو عزتمن او خورا شتمن يې په مکه کې د «قريشو ټبرونه» وو او پر دوی ټولو يې هيبت و، د دوی پر وړاندې خورا بېوزلي خلک په هغې زمانې کې د عربي ټاپو وزمې مسلمانان وو، چې له دوی څخنې يوه ډله يې د قريشو د ربړونې او ځورونې له ډاره حبشې ته ولاړل او نور خپاره واره د شپې شپې او پټ مدينې ته ورمهاجر شول.

دا دواړه ډلې په ځواک کې له توپير سره سره په بدر سيمه کې يو له بل سره وجنګېدې او په پايله کې د قريشو اويا تنه چې مشران يې هم پکې وه ووژل شو او اويا تنه بنديان شول، مسلمانانو د دوی خېمې، اسونه اوښان، جنګي وزلې او نوره شتمني مدينې ته يووړه او پاتې قريشو مات ګوډ له جګړې څخه مکې ته وتښتېدل.

دې حيرانوونکې ښکارندې دا سخت زړي ولړزول او له اسلام او مسلمانانو يې ارزونه واوړېده.

په مدينه کې «عبدالله بن اُبي» چې مدينې ته تر هجرت وړاندې د مدينې د پاچاهۍ

[1] معجم البلدان، ماده «سير».

نوماند و؛ نو د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ورتګ او د انصارو او یهودو ترمنځ د تړون لاسلیک یې ټولې هیلې لاهو کړې، تر بدر جګړې مخکې د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د ماتې هیلمن و؛ خو تر غزا روسته ناچار غاړه یې کېښووه او له ټولو یارانو سره یې اسلام راووړ.

بلخوا، «یهودو» د مدینې ښار نویو نیستمنو راغلیو ته په ټیټه کتل، تر جګړې روسته په خپلې تېروتنې پوه شول. دوی په مدینه کې د اسلام په پرمختګ د خپل پرمختګ د غوراوي او ښاغلیتوب لاملونه له لاسه ورکول؛ ځکه یهود تل په بې بندوباره، بې موخې او ګډه وډه ټولنه کې وده کوي، په سودخورۍ او زېرمو لاس پورې کوي. د اسلام په راتلو په مدینې ښار کې بیخي بې بندوباري له منځه تللې وه، د اوس او خزرج قبایلو شخړې چې په خونړیو جګړو بدلېدې، چې اوس او خزرج هر یو د یهودو له یوه یوه ټبره وسلې اجاره اخستې او ډېره ګټه یې ترې اخسته، دا مهال سره ورونه شوي او په یوې با ثباتې ټینګې پاکې ټولنې کې په سوله ژوند کوي، چې هېڅ پردي پکې سوړه نشو کولای.

یهود، د بدر تر غزا روسته، پر خود شول او د اسلام په چارو کې د خنډ اچونې او د مسلمانانو ترمنځ د دښمن پیدا کولو په لټه کې شول. په دې چار کې تر ټولو فعال د «بني قینقاع» ټبر و، ابن هشام روایتوي.

«پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم دوی د بني قینقاع په بازار کې راټول کړل، ورته یې وویل:

«یهودو! له خدایه وډار شئ چې د قریشو پر حالت اخته نشئ او اسلام راوړئ، تاسې پوهېږئ چې زه د خدای پېغمبر یم، زما پېغمبري ستاسې په کتابونو کې راغلې ده او خدای زما پر پېغمبرۍ ژمنه درنه اخستې ده.»

یهودو وویل: محمده! انګېرې موږ ستا د قوم (قریش) په څېر یو؟ دا دې مغرور نه کړي چې له داسې قوم سره دې جګړه وکړه، چې په جګړې نه پوهېدل او یو فرصت دې ترلاسه کړ، پر خدای قسم که درسره جګړه وکړو، پوه به شې چې موږ پخپله یو!»

## له یهودو سره لومړۍ نښته

یهود د خنډونو پر اچولو لګیا وه، تردې چې یوه ورځ د یو انصاري مېرمن[1] د بني قینقاع په بازارونو کې د یو زرګر هټۍ ته ورغله ټینګار یې پرې وکړ، چې مخ ښکاره کړي، ښځې ونه منله، زرګر د ښځې لمن له شا څخه پر یوې داسې وزلې تر ملا پورې پورته یې وتړه، ښځه چې پاڅېده عورت

[1] واقدي، د ښځې انصاریتوب راخستی دی

يې ښکاره شو. يهودو پرې وخاندل، ښځې چغه کړه، يو مسلمان نارينه پاڅېد او زرگر يې وواژه.

د بني قينقاع خلک راټول شول او دا مسلمان يې وواژه او له پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم سره يې خپل تړون مات کړ او په خپلوکلاگانو کې ورټول او جگړې ته چمتو شول. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم دوی پنځلس ورځې د درېيم هجري کال د شوال له پينځلسمه، د ذی قعدې تر لومړۍ محاصره کړل، چې په پای کې پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ته تسليم شول[1].

په دوی کې اوه سوه جنگيالي وو، پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم دوی ټول د شام اذرعات ته وشړل او د دوی شتمني يې ولجه (غنيمت) کړه. شتمنۍ يې کرنه او د کجورو باغونه نه وه. دوی سوداگر وو او د جگړې وزلې او د زرگرۍ سامان يې درلود. د ولجو (غنيمتونو) پينځمه پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم واخسته او پاتې يې پر مسلمانانو وويشله[2].

تر بدر جگړې روسته مکيان يو کال د خپلو وژل شويو په ماتم او وير کې وو او ځانونه يې غچ اخستو ته چمتو کول. په پای کې يې د درېيو زرو جنگياليو، درېيو زرو اوښانو او د دوه سوو آسونو په سنبال لښکر کې مدينې ته ورمخه کړه.

**د اُحد غذا**

«اُحد» له مدينې دباندې يو ميل لرې د يوه غره نامه ده. قريشي کافرانو پر درېيم هجري کال د ابوسفيان په مشرۍ له سنبال پوځ سره مدينې ته ورمخه کړه، د همدې کال د شوال پر دوولسمه د چهارشنبې پر ورځ د اُحد غره ته ورنژدې يې واړول. «ابوسفيان» له پوځ سره د «لات» او »عزّی» بوتان هم راوړي وو او هم د پوځيانو هڅونې ته يې د قريشو د مشرانو پينځلس تنه مېرمنې د خپلې مېرمنې «هند» په مشرۍ يې له پوځ سره يوځای کړې وې. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له مهاجرو او انصارو سره سلا مشوره وکړه، چې ايا په مدينه کې پاتې شي او نارينه د مدينې په کوڅو کې چې د قريشو لښکر پکې جگړه نشي کولی، مخامخ ورسره وجنگېږي او ښځې او هلکان له بامونو ډبرې پرې وورويي، يا داچې لښکر له مدينې بهر په بېديا کې جگړه ورسره وکړي. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له سوق الجيشي او استراتيژيک نظره په مدينې کې د پاتېدو او جگړې کولو پلوی و او د اوس ټبر مشر

[1] مسعودي،التنبيه والاشراف

[2] وگورئ: واقدي، المغازي: ۱ټ، ۱۷۶- ۱۸۰ مخونه. ابن هشام السيرة النبويه: ۲ټ، ۲۴۶-۴۲۸ مخونه

عبدالله بن اُبي هم همدا نظر و؛ خو ډېری جنګياليو، چې حمزه (رض) هم پکې و، ويل دا مو ماتې ده، چې د قريشو لښکر ته دباندې ولاړ نه شو. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم حکمت په دې کې وليد چې د اسلامي پوځ رای ومني او له مدينې ووځي او په بېديا کې له قريشو سره وجنګېږي؛ ځکه په مدينې کې د پاتېدو په حال کې د جنګياليو د شهادت غوښتنې روحيه کمزورې کېده.

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له زرو تنو جنګياليو سره چې عبدالله بن اُبی او لارويان يې هم په دې لښکر کې ورسره و، له مدينې ووتل. عبدالله بن اُبي په لار کې تر خپل فرمان لاندې کسانو ته وويل: پېغمبر د ځوانانو ومنله او زما رايه يې ماته کړه! او له خپلو درې سوو تنو لارويانو سره مدينې ته ورستون شو.

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له اوو سوو تنو سره د اُحد غره ته نژدې ورسېد او د قريشو د لښکر پر وړاندې يې واړول د شنبې پر ورځ د شوال په نيمايي کې جګړه پيل او پر همدې ورځ پای ته ورسېده.

## د دواړو لښکرو مخامخېدل

پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د اسلام اووه سوه جنګيالي د اُحد غره مخې ته ليکه کړل، چې د اُحد غر يې تر شا و. اُحد غره د لمن په کنډو کې يې د حضرت عبدالله بن جبير په مشرۍ، پنځوس تنه غشي ايشتونکي وګومارل چې هسې نه د قريشو سپاره له کنډو څخه د مسلمينو پر لښکر بريد وکړي؛ نوځکه دوی يې ځای پر ځای کړل، چې د بريد پر وخت يې پر شا وتمبوي. ابوسفيان، «خالد بن وليد» د دوو سو سپرو لښکر مشر کړ او د لښکر بيرغ يې د بني عبدالدار ټبر «اتلانو» ته ورکړ. هند له ورسره ښځو د مشرکانو د لښکر شاته روانه وه، چمبه يې وهله او په حماسي اشعارو او رجز يې لښکر هڅاوه، چې د قريشو د بيرغچيانو شاته ورسېده، په چمبو وهلو يې وويل:

ويها بني عبدالدار، ويها حماة الادبار،خرباً بكل بتار.

«هن د بني عبدالدار نارينه وو، هن اې د لښکر مرستندويانو او د لښکر د شا ساتونکيو! تېرې تورې ووهئ.»

په قريشي لښکر کې د «وحشي» په نامې يو تور او بې باکه مريي و، چې له لرې يې اتلان په نښه کول او کاري ګوزار يې پرې کاوه، هند ورته وويل: که په جګړه کې له محمد، حمزه يا علي کوم يو ووژنې له مريتوبه آزادېږې، وحشي وويل: د محمد او علي څه نه شم کړای؛ ځکه محمد يوه ډله ساتندويان لري او علي هم په جګړه کې د زمري په څېر بريد کوي او په عين

حال کې له هرې خوا ځان څاري؛ خو حمزه ځپلی شم؛ ځکه د زمري په څېر برید کوي؛ خو شا و خوا نه څاري.

**د جګړې پیلامه**

د مشرکانو بیرغچي، طلحه د عثمان زوی، چې «کبش الکتیبه» (د لښکرو د اتل کتنایه ده) یې ورته وایه، جګړه پیل کړه او غږ یې کړ.

«هن د محمد یارانو! انګېرئ، خدای موږ ستاسې په تورو دوزخ ته ورلېږي او تاسې زموږ په تورو جنت ته! ایا داسې څوک درکې شته، چې په توره یې جهنم ته ولاړ شم، یا یې زما توره جنت ته ولېږي؟»

علي کرم الله وجهه ورغی، ورته یې وویل: «پر هغه قسم چې زما ساه یې په واک کې ده درڅخه نه جلا کېږم، تردې چې یا ته مې په توره دوزخ ته ولاړ شې یا ستا په توره جنت ته ولاړشم» او په همدې شېبه کې علي کرم الله وجهه د تورې ګوزار پرې وکړ او یوه پښه یې ترې غوڅه کړه، پر ځمکه ولوېد اوعورت یې ښکاره شو.

په دې وخت کې طلحه، علي کرم الله وجهه ته وویل: د تره زویه! پر خدای او خپلوۍ قسم درکوم، چې ما پرېږده! علي کرم الله وجهه پرېښود، پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په لوړ «الله اکبر» ووایه.

چې علي کرم الله وجهه راستون شو، اصحابو ورته وویل: ولې دې و نه واژه علي کرم الله وجهه وویل: د تره د زوی عروت مې چې ښکاره شو، خپلوي ته یې راوبللم ترې وشرمېدم.

په دې وخت کې جګړه پیل شوه، علي کرم الله وجهه چې د قریشو بیرغچیان له پښو راوغورځوي،هر یو یې واژه، بل یې بیرغ اوچتاوه، جګړې دوام درلود، چې لس تنه یې ووژل شول، تردې روسته د دوی ازاد کړای شوي بیرغ پر اوږو کړ، دا هم علي کرم الله وجهه وواژه، په دې وخت کې د قریشو بیرغ پر ځمکه ولوېد.

د قریشو لښکر چې دا وضعیت ولیده وتښتېدل، حضرت حمزه، حضرت ابودجانه انصاري او نورو مهاجرو او انصارو او جنګیالیو هم مړانه وکړه. د مسلمانانو لښکر د قریشو په لښکر پسې شول، چې خیمو ته یې ورسېدل د قریشو لښکر له خپلو خیمو هم د بېدیا خوا ته وتښتېدل، د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم لښکر چې د قریشو خېمو ته ورسېدل؛ نو د غنیمتونو پر راټولولو بوخت شول.

کومو نارینه وو چې د اُحد غره د لمن کنډو ساته، چې دا حالت یې ولید؛ نو جنګ یې پای ته رسېدلی وګاڼه او څلوېښتو تنو د خپل مشر له امر سره مخالفت وکړ، د ساتنې خپله سیمه یې پرېښووله او د قریشو په خیمو کې د اسلام له لښکر سره یو ځای شول.

خالد بن وليد چې دا صحنه وليده، له فرصته په ګټنې او تر خپل فرمان لاندې له دوو سوو سپرو سره د غوه له شا راغلل، عبدالله بن جبير (رض) او څو تنه ملګري يې ورشهيدان کړل، بيا يې له غوه د لښکر پر شا بريد وکړ او د جګړې ډګر ته ورننووت؛ خو د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم لښکر د مشرکانو په خېمو کې خپور وور و.

په دې وخت کې يو قريشي د قريشو بيرغ اوچت کړ، د قريشو لښکر چې دا حال وليد له بېديا راستانه شول او له بل لوري يې د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم پر لښکر بريد وکړ، د قريشو د دوو ټوليو پوځيانو، د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم لښکر له دوو خواوو راګېر کړ او سخته جګړه ونښته. په دې وخت کې وحشي فرصت وموند او د حمزه (رض) زړه يې په نښه کړ، حمزه (رض) پر ځمکه ولوېد او شهيد شو، د اسلام لښکر يوه بله ډله هم شهيده شوه.

مشرکانو له هرې لوري پر پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم بريد وکړ، نسيبه مازنيه، يوې انصارې ښځې چې په جګړه کې يې ټپيانو ته اوبه ورکولې[1] چې حالت يې داسې وليد، له پيغمبر څخه پر دفاع بوخته شوه چې په پای کې ټپي او جګړې او دفاع بېوسې کړه.

مدينوال خبر شوو، د انصارو ځينې کسان چې په مدينه کې وو، د جګړې ډګر ته ورغلل او شهيدان شول، په دې حال کې يو مشرک پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په تېږه وويشت، مبارک تندی او غاښ يې مات شول مبارکه پوزه يې هم ولګېده او وينه ترې ولاړه، په دې وخت کې د قريشو د اتلانو پر له پسې ډلو د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم وژنې ته له هرې خوا حملې پرې کولې، پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم علي کرم الله وجهه ته وويل: يا علي! دا ټولې لرې کړه، په دې وخت کې جبرئيل، پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ته وويل:

يارسول الله! ان هذا للمواساة

يا رسول الله! داده سرښندنه.

پيغمبر اکرم وويل: «علی له ما دې او زه له علي يم».

---

[1] له چا چې ډېره وينه ولاړه شي، سخت ترې کېږي په تېرو کې ځينو کسانو په جګړو کې ټپيانو ته اوبه رسولې او تر شونې بريده يې پانسمانول.

په اُحد جګړې کې دا چار «نسيبه» کاوه، هغوی چې په جګړې کې د «نسيبه» ګډون په دغسې ټولنو کې د ښځو د ګډون پر جواز دليل بولي،بايد پام يې وي:

- دا جګړه له مدينې يو ميل وړاندې وشوه او کوم مسافر نه و.
- نسيبه په جګړه کې ټپيانو ته د اوبو ورکونې لپاره راغلې وه او چې د پيغمبر (ص) شهيدولو ته يې د مشرکانو بريد وليد، له پيغمبر (ص) څخه يې دفاع ته اقدام وکړ او له پيغمبر (ص) څخه دفاع پر هر مسلمان فرض ده.

نوځکه دا چار په نورو چارو کې د ښځو د ګډون پر جواز دليل کېدای نشي.

جبرئیل وویل: او زه ستاسې د دواړو یم، په دې وخت کې یې یو غږ واورېده چې ویل یې:

لاسیف الا ذوالفقار! لا فتی الاعلی!

بې له ذوالفقاره [د علي توره] بله توره نشته! او بې له علي بل ځوانمرد نشته.

په دې حال کې یو مشرک د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم یو صحابي، مصعب بن عمیر (رض)، شهید کړ او و یې انګېرله، چې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم یې شهید کړی دی؛ نوغږ یې کړ: محمد مې وواژه! دا غږ په دواړو لښکرو کې خپور وور شو او اغېز یې وکړ. د اسلام لښکر د جګړې له ډګره هرې خوا ته وتښتېده.

یعقوبي وایي له پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم سره یوازې علي کرم الله وجهه، حضرت طلحه او حضرت زبیر پاتې وو، د اسلام لښکر یوه تښتېدلې ډله د اُحد غره ته ختلې وه، راټول شول او و یې ویل: کاشکې څوک عبدالله بن اُبي ته ورغلي واي، چې له قریشو امان راته واخلي.

پېغمبر څو تنه تښتېدونکي ولیدل، یوه یوه ته یې په نامې ورغږ کړ، ځینې یې راوګرځېدل، چې پینځلس تنه شول او له پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم راتاو شول، په دې وخت کې یې پېغمبر د اُحد غره ته ور پورته کړ، علي کرم الله وجهه په خپل ډال کې اوبه راوړې او له پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم څخه یې وینې پاکې کړې.

د جګړې دګر له اسلامي جنګیالیو تش شو، «هند» له ځان سره راوستې ښځې ډګر ته راوستې او په خپله یې د حمزه (رض) او نورو شهیدانو پوزې پرې کړې او له دوی یې غاړه کې او خلخال (یو ډول فلزي کړئ ده، چې ښځې یې ښکلا ته په پښو کې اچوي) جوړ کړ او وایي غوستې، خپله غاړه کې او خلخال یې وحشي ته ورکړې. روسته ښځو هم همدغسې وکړل، هند د حمزه (رض) خېټه څېرې کړه، ځیګر یې ترې راویست پر خوله یې کړ، چې و یې وخوري؛ خو و یې نشو کړای او له خولې یې دباندې واچوو، «ابوسفیان» د حمزه (رض) پر جنازې ودرېد او خپلې نېزې یې د حمزه (رض) مخ واهه ویل یې وڅکه چې زړه سوی دې پرې کړ.

حلیس، د احابیش ټبر مشر د قرویشو همژمني دا حالت وکوت،غږ یې کړ: زما ټبره! ووینئ د قریشو مشر د خپل تره زوی له بې سا جنازې سره څه کوي!

ابوسفیان ورته وویل: یوه ښویېدنه وه پټ راباندې واچوه.

په دې وخت کې ابوسفیان غږ کړ: آیا محمد ژوندی دی، ورته وویل شول:هو

ابوسفیان غږ کړ: « اعل هبل! اعل هبل» سرلوړی او غوره اوسئ ای د هبل بوته! سرلوړی او غوره اوسې ای د هبل بوته!
پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم وویل: په ځواب کې یې ووایي: «الله علی و اجل – الله لوی، ستر او با جلالت دی»
ابوسفیان غږ کړ: «لنا العزي ولا عزی لکم»: «موږ د عزی بوت لرو او تاسې یې نه لرئ»
پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم وویل: په ځواب کې یې ووایي: «الله مولانا ولا مولی لکم»: «الله زموږ مولا ښاغلی او پالندوی دی،او تاسې ښاغلی او پالندوی نه لرئ».
د اُحد جګړه د اته شپېتو تنو مسلمان جنګیالیو په شهادت پای ته ورسېده. پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم امر وکړ چې شهیدان د اُحد غره په لمن کې خاورو ته وسپاري او پر همدې ورځ مدینې ته راستانه شول.

**لنډه پرتلنه**

په دې جګړه کې د قریشو له بیرغچي سره د علي کرم الله وجهه چلن او د حمزه سیدالشهداء له تنې سره د ابو سفیان او هند (د معاویه پلار و مور) د چلن پرتلنه د پاموړ ده.
همداراز له پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم سره د مینې او ورځخه د ځان تېرېدنې په باب (د یوې انصارې ښځې) «نسیبه» چلن او د مسلمانانو پر وړاندې د یوې قریشې ښځې هندی چلن پرتلنه هم د پاموړ ده.

**د حمراء الاسد غزوه**

قریشو مکې ته په ستنېدا کې سلا مشوره وکړه، و یې ویل: ولې د محمد لښکر تر ماتې روسته پر مدینه یرغل نه ور وړو، چې کار یې ورتمام کړو؟
پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم چې له اُحد څخه مدینې ته ورستون شوی و، پر لومړۍ شپه له دې خبرې خبر شو، پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم یې پر سبا یکشنبې ورځ د شوال پر اتمه امر وکړ، چې د دښمن تعقیبولو ته له مدینې یو لښکر ووځي او یوازې په اُحد جګړه کې ټپیان دې په لښکر کې برخه نه اخلي.دا دریځ د هغوی ټپسوري وه، چې په اُحد جګړې کې تښتېدلي و، په لښکر کې حاضر ټپیان پر هماغه ورځ له مدینې ووتل او له مدینې اته میله وړاندې حمراءالاسد ته ورسېدل.دلته لښکر تم شو او دوه تنه د خبر موندنې لپاره د قریشو د لښکر پر خوا ورغلل،د خزاعه ټبر یو تن چې له بني هاشمو سره همژمنی و، ابوسفیان یې له دې پېښې خبر کړ او قریش یې د یو څرګند شعر په ترځ کې د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د لښکر له هیبته وډار کړل،

ابوسفيان په ډار د قريشو لشکر مکې ته ور روان کړ او څوک يې ولېږه، چې پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د قريوش له تعقيبه وډار کړي. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم درې ورځې په حمراء الاسد کې پاتې شو او چې مکې ته د قريشو د لښکر له ورتلو خبر شو نو مدينې ته راستون شو[1].

د اسلام د پېغمبر (ص) د بعثت له برکته داسلامي امت ځانګړنې

له ځانګړيو ځانګړونو سره د اسلامي امت جوړېدل، د دې بعثت له برکتونو څخه وو. اسلامي امت يوازې دا نه دی، چې يوه ډله د ګروهيز چورليځ پر شاوخوا راټول شي؛ بلکې اسلامي امت، - لکه څنګه چې د اسلام مکرم نبي او د قرآن ښوونو طرح او کړلار يې ورته جوړه کړې وه- د انسانانو يوه ټولګه ده، چې له علم، اخلاقو، حکمت، اړيکو او ټولنې برخمن دي او د دې ټولو پايله، د هغه تکامل لوړو پوړيو ته ور رسېدل دي، چې خدای يې استعداد په انسان کې ايښی دی. اسلامي امت د اسلامي روزونې څرګندوی دی او دا چار د اسلام مکرم نبي په خورا نامساعدو حالاتو کې له صفره پيل کړ.



پر هغه ورځ، چې د توحيد غږ، د بعثت تر پرتمينې شېبې روسته، د اسلام د مکرم نبي له ستوني راووت، نړۍ- په ټولو ليکو کې يې- د کفر، ظلم، له اخلاقو لرې او په مفاسدو او ستونزو کې ورډوبه نړۍ وه. دا ستر حرکت د رسول الله په ژوند کې د ديارلس کلونو په ترڅ کې د معجزې په بڼه ترسره شو او تر ديارلس کلونو روسته په مدينه کې د اسلامي امت لومړۍ بلاربونکې نطفه کېښوول شوه. هغه څه چې کولای يې شول، چې دا مرکزي هسته، په هغه څه بدله کړي، چې نن يې موږ په څلورمه او پينځمه هجري پېړۍ کې پېژنو، عبارت و له، روښانه ايمان، څرګندې او هر اړخيزې ښوونې، کوټلې اراده او پرله پسې هڅې؛ دا ول، چې و يې کولای شول، د مدينې د څو زره تنيزو کوشنۍ ټولنه يې د هجرت په لومړيو کلونو کې په ستر، ځواکمن، عالم او عزيز امت او د پينځمې او څلورمې پېړۍ د نړۍ لپاره د علم او حکمت راخوټېدونکې سرچينه کړي- چې دا راته تاريخ شرحوي- بيا اسلامي امت په خپلو خورا لاندې باندې کېدو کې، په هر ځای کې يې چې له دې ښوونو غفلت وکړ، مات او پرشا تګ يې وکړ. په هر ځای کې چې يې علم، اخلاق، ټولنيزې اړيکې،

[1] واقدي، مغازي: ۱ټ، ۲۲۴مخ، غزوه حمراءالاسد.
ابن هشام، السيرة النبويه: ۲ټ، ۵۲ مخ

مانيز اقتدار، عزت، وحدت او تردې ټولو غوره، عدالت ته شا کړه؛ نو وده يې په ټپه ودرېده او پرشا تګ يې وکړ او چار يې تردې راورسېد، چې يرغلګرو، متعرضو او طماع ځواکونو وکولای شول، دا امت ټوټه ټوټه کړي. يو د بل پر وړاندې يې کړي او يو بل کمزوري کړي، پر هغوی لاسبري شي او سرچينې يې ترې واخلي.

## د حضرت محمد (ص) شخصیت

د بشر په تاریخ کې د اسلام د پېغمبر وګړې ساري نه درلود هغه وګړه، چې د ځلانده لمر په څېر د انسانیت په اسمان کې ځلېده او اخلاقي ارزښتونو او انساني کمالاتو ته یې ساه ورکوله. داسې ځانګړنې یې درلودې، چې هېڅ قلم، لیکوال او ویاند یې نشي تعریفولای او که څومره یې هم د خویونو او وګړې په هکله خبرې وشي؛ نو حق به مو بیا هم نه وي ادا کړی.

### د رسول الله (ص) څېره

له حضرت علي (ک)، حضرت ابوهریره، حضرت جابربن سمره او حضرت هند بن هاله (رضی الله عنهم) په رانقل شویو روایتو کې راغلي: رسول الله (ص) د هر لیدونکي په نظر کې ډېر ستر او باوقاره ښکارېده، د خلکو په زړونو کې یې ځانګړی ځای درلود، څېره یې د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر ځلېده او د څېرې رنګ یې سپین توربخن و نه چاغ و او نه ډنګر، سپینه او نوراني څېره یې درلوده، غتې او تورې سترګې یې درلودې او وریزې یې تورې او په زړه پورې وې. مبارک سر یې مناسب او غټ و، اوږدوالی یې مناسب و جیګ تندی یې درلود، وریځې یې نښتې او مخ یې کړوپ نه و، د لاس ورغوی یې پلن او متې یې اوږدې وې، اوږې یې پلنې او غټ بندونه یې درلودل، د لاس ورغوی او د پښو تلي یې کلک او پلن ول. سینې یې ویښتان نه درلودل، ته وا د پښې تلي یې د نورو خلکو په څېر نه دي، اوږده بانه یې درلودل، ډکه ږیره یې درلوده، چې د سر او ږیرې په ویښتانو کې یې څو سپین ویښتان هم ول، چې رنګ کړی یې وو، چې شنه ښکارېدل خوله یې مناسبه ستره وه، غاښونه سپین او یو له بله بېل ول. ویښتان یې جړپړ نه ول. له سینې تر نامه یې د ویښتانو یوه نرۍ لیکه وه، د رسول الله (ص) ټول بدن له غړیو سره انډول و نس یې له سینې سره مساوي وه، سینه یې پراخه او ورمېږ یې ښکلی او د سپینو زرو په څېر ځلېده.

### د پېغمبراکرم (ص) اندام

د پېغمبراکرم پښې او لاسونه اوږده او ښوی ول، چې غوټې پکې نه لیدل کېدې، د پښو لینګي‌یې انډول ول او ډېرې غوښينې وې. زنه یې لنډه او مناسبه وه او لږه راوتلې وه. پنډۍ یې پلنې او غټې نه وې. خاصره لګن یې د مېړنیو په څېر پلن و، د رسول الله (ص) غړي کلک نه لنډ او نه اوږده ول، د سر ویښتان یې نه جړ پړ ول او نه ګونجې وو، مخ یې مناسب و، نه ډېر ډنګر و او نه غوښين، د مخ سپین والی یې هم په زړه پورې و.

هډوکي يې کلک او غټ وو، چې پر لار تل په خپل واک کې و. د پوزې سوري يې تنګ نه ول، ګېډې او سينې يې وېښتان نه درلودل خو له سينې تر نامه يې د وېښتانو يوه نرۍ ليکه وه. د سر دواړو اړخ ته يې سپين وېښتان وو، چې د پيغمبر د زوړوالي نښه وه.

**د پيغمبراکرم (ص) تګ**

د لاسو ورغوي يې پلن او د عطارانو په څېر خوږبويه ول د لاس اوږده، قلمي هډوکي يې درلودل، د خندا اوخوشحالۍ پرمهال يې مخ د هنداري په څېر ځلېده، په دبدبه او ورو ګامونه يې اخستل، د تګ پرمهال يې مخې ته کتل، په نېکچاريو کې تر ټولو مخکې و. داسې به تله؛ لکه پر ځوړې، چې روان دی، د خندا پرمهال به يې د ږلۍ په څېر غاښونه راښکاره شول؛ خو د غاښونو سپين والی به يې ډېر ژر په شونډو پټاوه.

په اوږوکې يې د نبوت ټاپه وه:

رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ښکلی اندام او ښکلي اخلاق درلودل، تندی يې ورين و او په ورين تندي يې له خلکو سره خبرې کولې، تندی يې د ځلاند څراغ په څېر د خلکو سترګې ځانته راړولې، د ملغرو په څېر ترې خولې راتويېدې، چې د خولو بوی يې تر مشکو هم په زړه پورې و او د اوږو په منځ کې يې د نبوت ټاپه وه.

د رسول الله (ص) ليدل:

حضرت ابوهريره(رض) ويلي: رسول الله (ص) به چې شا يا مخې ته کتل؛ نو ټول به راګرځېده.

***د پښوپنډۍ يې:**

حضرت جابربن سمره (رض) ويلي، چې د رسول الله (ص) د پښوپنډۍ نرۍ وې.

*په ږيره کې سپين:

حضرت ابوجحيفه (رض) ويلي: د پيغمبراکرم (ص) پر زنه او اننګو کې سپين وېښتان ليدل کېدل.

***د وېښتانو څلور چوټي:**

حضرت ام هاني (رض) وايي: ومې ليدل، چې رسول الله (ص) خپلو وېښتانو ته څلور چوټي وراچولې وې.

ابن شهرآشوب وايي: په واقع کې پيغمبراکرم (ص) به خپلو وېښتانو ته دوه چوټۍ وراچولې، چې دا يې د نېکه (هاشم) يو دود و.

***د پيغمبراکرم (ص) وېښتان:**

حضرت انس بن مالک(رض) وايي: د رسول الله (ص) د ږيرې او سر په وېښتانوکې يوازې څوارلس سپين وېښتان ول.

* او روايت شوي، چې: ۱۷ سپين وېښتان يې درلودل.

*حضرت عبدالله بن عمر (رض) وايي: د رسول الله (ص) د زوړوالي نښه يوازې شل سپين وېښتان ول.

*حضرت براء بن عازب(رض) وايي: د رسول الله (ص) وېښتان تر اوږو اوږده ول.

*حضرت انس بن مالک (رض) وايي: د پېغمبراکرم (ص) وېښتان تر غوږونو لاندې راځوړند ول.

*اوږده وېښتان:

حضرت عايشه بي بي وايي (رض): د رسول الله (ص) وېښتان تر غوږونو لاندې راځوړند ول؛ خو اوږو ته رارسېدلي نه وو.

*خوږ نبوي بوی:

د قصص انبياء عليه السلام په کتاب کې راغلي: رسول الله (ص) به چې له هر ځايه تېر شو؛ نو خلک به د هغه ځای له بويه پوهېدل، چې رسول الله (ص) تېر شوی دی او له هر ځايه به چې تېرېده؛ نو د لارې بوټو او کاڼو ورته سجدې کولې.

*په خوب کې ويښ:

صفار د ((بصائرالدرجات)) په کتاب کې له امام محمد باقر (رح) روايت کړي، چې رسول الله (ص) وويل: په خوب کې زموږ د ټولو پېغمبرانو سترګې پټې وي؛ خو زړونه مو ويښ وي او؛ لکه څنګه چې مخې ته ليدلای شو شا ته څيزونه هم راته ښکاري.

*د نبوت ټاپه که نبويّ معجزه:

قطب راوندي د ((الخرائج والجرائح)) په کتاب کې روايت کړی، چې د رسول الله (ص) له معجزاتو، چې ډېرو روايتونو يې پخلی کړی او مؤمنان او کافر ترې منکر نه دي، دادی سره له دې چې د رسول الله (ص) پرشا او اوږو ګڼ وېښتان ول؛ خو د نبوت ټاپه پکې ښکارېده.

*رسول الله (ص) سيوری نه درلود:

ابن شهرآشوب په مناقب کتاب کې ويلي: د رسول الله (ص) سيوری به پر ځمکه نه غورځېده او سيوری يې نه درلود.

کليني په خپل سند د کافي په کتاب کې روايت کړي، چې علی بن محمد نوخلي وايي: له امام رضا (رح) سره ناست وو، چې د غږ وينه رامنځ ته شوه، امام وويل: امام زين العابدين به چې قرآن لوسته نو غږ يې دومره ښکلی و، چې خلک ورته بې سدېدل او که امام خپل په زړه پورې او ښکلی غږ راوباسي نو خلک به يې د اورېدو زغم ونه لري.

راوي وايي: امام مې وپوښت: خو چې رسول الله (ص) به خلکو ته جماعت ور؛ نو قرآن يې په لوړ غږ نه وايه؟ امام رضا (رح) ورته وويل: رښتيا خو داده، چې رسول الله (ص) د خلکو د وسې هومره غږ لوړاوه.

*د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم رخسار:

امام حسن وويل: له خپل ماما هند بن ابي هاله مې، چې د رسول الله (ص) له ستايونکيو و، وغوښتل رسول الله (ص) راته توصيف کړي، چې مينه مې ورسره نوره هم زياته شي، ماما مې راسره ومنله و يې ويل: رسول الله (ص) داسې وګړه درلوده، چې د هر چا په نظر کې يې دبدبه او ستروالی درلود، څېره يې د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر ځلېده، برابره ونه يې درلوده، سر يې غټ او وېښتان يې بڼل شوي ول، که وېښتان يې نه واړه کول؛ نو پر ټول سر يې راخورېدل او چې وېښتان به يې واړه کړل؛ نو له اوږو به لاندې نه رارسېدل. څېره يې سپينه او نوراني وه، تندی يې اوږد او پلن و، وريزې يې سره له دې، چې کماني او اوږدې وې خو سره له دې بيا هم يو له بله بېلې ليدل کېدې، د وريزو ترمنځ يې يو رګ و، چې رسول الله (ص) به غوسه شو؛ نو پړسېده به، پوزه يې نرۍ او اوږده وه، چې يوه رڼا به ترې راځلېده او ښکارېدل، چې له پوزې پورته يې راځلېږي.

*د مرغللو په څېر غاښونه او د سپينو زروپه څېر ورمېږ

ږيره يې ډکه وه، اننګې يې راوتلي، خوله يې ستره خو مناسبه، غاښونه يې د مرغللو په څېر سپين خو يو له بله بېل ول. له سينې تر نامه يې د وېښتانو يوه نرۍ ليکه درلوده، ورمېږ يې د سپينو زروپه څېر ښايسته و، د دوو اوږو ترمنځ يې واټن ډېر و، څهارشانه و، سينې او ګېډې يې وېښتان نه درلودل.

***د رسول الله (ص) اندام او پر لار تګ:**

سينه او د سينې پاسنۍ برخه يې له وېښتانو ډکه وه. د لاسونو بندونه يې پلن، د لاس ورغوی يې پلن او د پښې تلي يې پلن او کلک وو. پښې او لاسونه يې ښوی او پکې غوټې نه وې، هډوکي يې قلمي او د پښو او لاسونو د تلي د ورغويو ژوروالی يې له معموله ډېر و، پوندې يې پستې وې، د تګ پرمهال يې پښې په ځان پسې نه راښکودې، ګامونه يې پر وقار اوچتول او هر اړخ ته يې، چې کتل؛ نو ټول ورګرځېده.

*د رسول الله (ص) کتنه:

د رسول الله (ص) سترګې تل لاندې وې، ډېر يې ځمکې ته کتل، هېڅ چاته ته نه ځيربېده؛ بلکې هر چاته يې يوه لنډه کتنه درلوده او له چا سره به چې مخامخ شو؛ نو لومړی يې پرې سلام اچوه.

*د رسول الله (ص) د خبرو دود

امام حسن وويل: د رسول الله (ص) د خبرو طريقه راته ووايه! هند وويل: رسول الله (ص) تل په خپګان او فکر کې و، يوې شېبې ته يې هم هوسايي نه درلوده، تل غلی و او يوازې د اړتيا پرمهال ګړېده او چې خبرې يې کولې نو په کلاره کلاره يې کولې، خبرې يې لنډې خو بشپړې وې،

بېځایه یې خپله خبره نه اوږدوله او هرڅوک یې په لنډه پوهول، نرم اخلاق یې درلودل، پر چا یې ظلم نه کاوه، هېڅ څوک یې له ځانه ټیټ او کوشنی نه شمېره، نعمت به چې څومره هم ناڅیزه و خو د هغه په نظر کې به ستر و، په هېڅ نعمت پسې یې بدرد نه ویل نه یوازې په خوړو کې یې هېڅ خبرې نه راایستې؛ بلکې هر ډول خواړه به چې ورته کېښوول شول، ستایل یې.

*د رسول الله (ص) غوسه او خوشحالي:
هېڅکله دنیا اوسختیو یې نه غوسه کاوه؛ خو چې د چا حق به ولتاړل شو؛ نو دومره به غوسه شو چې چا نه پېژانده او له حقه په دفاع کې یې له هېڅ چا وېره نه درلوده، چې چاته یې اشاره کوله؛ نو په ټول لاس یې کوله، چې یو څیز به حیران کړ؛ نو لاسونه یې اړول رااړول او د خبرو پرمهال یې دواړه لاسونه سره ورکړي ول او د کيڼ لاس د ابهام ګوته یې پر ښي لاس وهله، چې غوسه به و نو مخ یې اړواه او په خوشحالۍ کې یې سترګې بندولې. خندا یې موسکا وه او د موسکا پرمهال یې غاښونه د ږلۍ د دانوپه څېر راښکارېدل.

*د رسول الله (ص) دننني حالت:
امام حسن وویل: دا خبره مې څه وخت له خپل رور حسین نه پټه کړې وه خو چې دا خبره مې ورته وکړه، پوه شوم، چې تر ما ډېر له دې خبرې خبر دی و مې پوښت: دا هر څه دې له چا اورېدلي دي؟ و یې ویل: د رسول الله (ص) په باب مې خپل پلار علي بن ابیطالب وپوښت او هغه هم راته هر څه وویل: امام حسین وویل: د رسول الله (ص) د دننني حالت په باب مې خپل پلار وپوښت، و یې ویل: رسول الله (ص) پر خپل واک خپل کور ته تله او په کور کې یې خپل وخت پر درې برخو ویشلی و، یوه برخه یې عبادت ته، بله یې کوروالو ته او بله برخه یې ځانته ځانګړې کړې وه او هغه وخت یې چې ځان ته ځانګړی کړی و پکې یې خپلو یارانو ته لارښوونې کولې، د خلکو ستونزې یې پکې هوارولې او دا وخت یې، چې ځانته ځانګړی کړی و، بیخي یې پکې خپل کارونه نه کول؛ بلکې د خلکو کارونو یې پکې کول.

*له علم والو سره چلن:
د رسول الله (ص) یوه ځانګړنه دا وه، چې تل د فاضلو او پوهانو کتو ته چمتو و او د هر چا یې د علم هومره درناوی کاوه، ورته یې ویل: نیمګړتیاوې مو سمې کړئ، د امت په باب یې پوښتل او د مهمو مطالبو په باب یې ورته خبرې کولې و یې ویل: په کار ده، څوک چې په دې غونډه کې دي، هغوی ته زما خبرې ورسوي، چې په دې غونډه کې نه دي او د هغو خلکو اړتیا راته وواست، چې ما ته ځان رارسولای نشي او

غوړونه مو خلاص کړئ، چاچې يو واکمن ته د يو اړمن اړتيا ورسوله نو الله به يې د قيامت پر ورځ گامونه ټينگ کړي.

*له کوره بهر:

امام حسين وويل: پلار مې د رسول الله له کوره د بهرچلن په باب وپوښت، و يې ويل: رسول الله (ص) به نااړينو خبرو ته خوله نه راسپړله، تندی يې خلکو ته ورين و او څوک يې له ځانه نه شړه او نه يې وېرول، د هر ټبر د مشر درناوی يې کاوه او هغه يې د خپل ټبر مشر ټاکه، بې له دې چې مخ ترې واړوي يا داچې بداخلاقي ورسره وکړي، له بدو خلکو يې ځان ساته. خپلو يارانو ته يې داډ ورکاوه او ځان يې په خلکو د نورو له حالاتو خبراوه، نېکچاري يې ستايله او بدچاري يې رټله، په ټولو چارو کې منځلاری و. د حق په چارو کې يې تل لېچې رانغاړلې وې.

*د پېغمبراکرم (ص) ملگري:

د رسول الله (ص) د شاوخوا کسان نېکان ول او خورا گران پرې هغه و، چې تر ټولو زيات د خلکو په فکر کې و او هغه يې په زړه کې ځانگړی مقام درلود، چې تر ټولو زيات د حق ملگری و.

*د رسول الله (ص) ناسته:

امام حسين وويل: پلار مې د رسول الله (ص) د ناستې په باب وپوښت، و يې ويل: د رسول الله (ص) ناسته پاسته په هغه غونډه کې وه، چې د الله يادونه پکې وه، په غونډه کې يې ځان ته ځانگړی ځای نه ټاکه او له دې کاره يې خلک هم ژغورل او يوې غونډې ته به چې ورننووت نو هر ځای به چې تش و پر هماغه ځای کېناسته او خپلو يارانو ته يې هم په دې باب سپارښتنه کوله.

*د ملگري حق ته پاملرنه:

رسول الله (ص) د ملگري حق پرځای کاوه، تردې چې څوک ورسره ناست و نو داسې يې ننگېرل، چې رسول الله (ص) ته تر ما بله محترمه وگړه نشته، رسول الله (ص)، چې له هر چا سره ناست و نو صبر يې کاوه، چې لومړی هغه پاڅي او ورپسې پخپله، څوک چې د کومې اړتيا لپاره ورتله، يا يې اړتيا ورپوره کوله يا داچې د رسول الله (ص) په زړه پورې خبرو قانع کاوه.

*د پلار په څېر پېغمبر:

د رسول الله (ص) ُخلق وخوی دومره نرم و، چې هر چا خپل لوراند پلار گاڼه او ټول خلک ورته يوشان ښکارېدل.

*د رسول الله (ص) د غونډې ځانگړنې:

غونډه يې د صبر، حيا، رښتينولۍ او امانت غونډه وه، په غونډه کې يې غږ نه لوړېده، د خلکوحريم يې نه ماتاوه او که چا به څه غلطي وکړه؛ نو په بل ځای کې يې درز نه کاوه، د غونډې گډونوال پر عدل چلېدل، يو له بل سره يې چلن د متقيانو چلن و، يو له بل سره متواضع ول، د مشرانو درناوی يې

کاوه او پر کوشنیو لوراند و، اړمن یې تر ځان غوره ګڼل او پر بېوزلیو یې ډېر پام کاوه.

*د ملګرو په باب د رسول الله (ص) سیره:
بیا مې وپوښتل: رسول الله (ص) له خپلو ملګرو سره څنګه و؟ پلار مې راته وویل: تل یې تندی ورین او نرم خویه و. د هغه تندی مې هېڅکله تریو ونه لیده، د خلکو په چاروکې یې خبرې نه راایستې او یوه ورځ یې هم خوله ورانه و نه خوځوله، څوک یې ډېر نه ستایه اوڅه یې، چې خوښ نه وو، پرېښود یې او داسې چلن یې کاوه، چې څوک ترې خپه او نهیلي نشي.

*ځان ساتنه:
رسول الله (ص)ځان له درې څیزونو ساتلی و: شخړه کول، بېځایه خبرې او ډېرې خبرې کول. کله یې هم څوک نه راټه او د چا په کار کې یې خبرې نه راایستې، د خلکو په ټېروتنو پسې نه و خو په هغه ځایو کې، چې خبرې یې ثواب درلود نو خبرې یې کولې او ناستو کسانو به ورته دومره په مینه غوږ ایښوده، چې د چا د ساه ایستو غږ هم نه اورېدل کېده او رسول الله (ص) به چې غلی شو؛ نو هله به خلکو ځان ته د خبرو کولو اجازه ورکوله.

*په غونډه کې ادب ته پاملرنه:
د رسول الله (ص) په مخ کې د خلکو اوبه سره نه خړېدې او په غونډه کې په ناستوکسانو کې به چې کوم پر خبرو شو؛ نو نور به غلي شول، چې خبرې یې پای ته ورسي، د رسول الله (ص) په غونډه کې جرنده که د پلار وه خو په وار وه. که د غونډې ګډونوالو به وخندل؛ نو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم هم ورسره خندل او پر هغه څه یې د حیرانتیا څرګندونه کوله، چې ګډونوالو به وخندول؛ نو رسول الله (ص) به هم ورسره خندل او پر هغه څه یې د حیرانتیا څرګندوله، چې ګډونوال هم پرې حیران شوي ول. که کوم نابلده په خبرو یا پوښتنو کې بې ادبي کوله؛ نو د رسول الله (ص)سینه یې پراخه مونده، تردې چې د پېغمبراکرم (ص) یاران به دې ته اړ شول، چې د رسول الله (ص) مزاحم راونیسي خو رسول الله (ص) ویل:

((چې یو اړمن مو ولید؛ نو ورسره مرسته وکړئ.)) له چا یې غوړه مالي او ستاینه نه منله خو داچې ستاینه یې له رسول الله (ص)څخه د مننې په پار وه، د چا په خبرو کې یې نه وردانګل خو داچې چا به نور له خپلې شرې پښې بهر ولې، چې په دې حالت کې یې یا ژغوره یا یې د غونډې پر پرېښوو د هغه خبره پرېکوله.

*د رسول الله (ص) چوپتیا:
امام حسن وویل: پلار مې د رسول الله (ص) د چوپتیا په باب وپوښت و یې ویل: پېغمبراکرم (ص) په څلورو ځایو کې

چوپېده: د حلم، صبر او له یو څه د ځان ساتنې پرمهال، د تقدیر او آندنې پرمهال. د تقدیر پرمهال؛ ځکه چوپ و، چې د دنیا په باقي او فاني څیزونو کې آندنه وکړي او په حلم کې یې د چوپتیا لامل هغه صبر و، چې پکې و، چې نه غوسه کېده او نه له چا کرکجنېده او په ځان ژغورنه (حذر) کې رسول الله (ص)په څلورو ځایو کې چوپ و: د نېکچارۍ لپاره مخکښ شي، چې خلک یې هم پر پله پل کېږدي، له بدو چارو لرې شي، چې خلک هم ترې لرې شي او پر سمو چارو خپل امت سم کړي او په هغه چارو پسې و، چې د خلکو پکې د دنیا او آخرت ګټه وي.

*تر مشکو او عنبرو هم خوږبویه:

حضرت انس بن مالک (رض) وایي: د رسول الله (ص) د څېرې رنګ سپین و، چې د ملغلرو په څېر ځلېده او په کلاره یې ګامونه اخستل، تر وسه مې د رسول الله (ص)تر عطرو کوم خوږبویه مشک او عنبر نه دی بوی کړی او د رسول الله (ص) د لاس د ورغوي هومره یوه ورېښمینه ټوټه مې هم لمس کړې نه ده.

*د سپوږمۍ په څېر ځلانده څېره:

حضرت کعب بن مالک (رض) وایي: رسول الله (ص) به چې کوم کار خوشحاله کړ؛ نو څېره یې د سپوږمۍ په څېر ځلېده.

*په عربو کې خورا فصیح ژبی:

د پېغمبراکرم (ص) خبرې تر ټولو خوږې او فصیح وې ویل یې: ((په عربو کې تر ټولو فصیح ژبی یم او جنتیان د محمد په ټکیو یو له بل سره خبرې کوي.)) تردې چې و یې ویل: د رسول الله (ص) کلام لنډ خو پراخ بنسټه و، اضافه خبره پکې نه وې او هر څوک پرې پوهېده، وینا یې یو له بل سره تړلې وه، دومره ورو ورو او سم ګړېده، چې اورېدونکیو یې په اسانه خبرې خپل ذهن ته سپارلې.

*د جنتیانو د روح په څېر بدن:

حضرت عایشه بي بي (رض) وایي: رسول الله (ص) ته مې وویل: تر تا سملاسي روسته باس-تشناب ته ننوتم، چې بې د مشکو له بوی پکې څه نه ول. راته یې وویل: ((زموږ د پېغمبرانو بدنونه د جنتیانو د روح په څېر دي او څه چې ترې راوځي، ځمکه یې راکاږي.))

*په سلو کې نهه نوي برخې عقل یې رسول الله (ص) ته ورکړ:

امام صادق (رح) وویل: رسول الله (ص) وویل: ((چې الله عقل وپنځاوه، ورته یې وویل: شا ته ولاړ شه! عقل شا ته ولاړ، بیا یې وویل: رامخې ته شه! عقل رامخې ته شو او بیا څښتن ورته وویل: یو مخلوق مې هم تر تا هومره پر ماګران نه دی، چې دا مهال یې د هغې (عقل) نهه نوي برخې ماته راکړې او هغه یوه پاتې برخه یې پر خپلو نورو ټولو بندګانو وایشله.))

*په نېکو اخلاقو مبعوث شوی یم:
حضرت علي (ک) وویل: د الله له رسول مې واورېدل: ((زه له غوره او نېکو اخلاقو سره مبعوث شوی یم.))
*لس نبوي؛ خویونه:
امام صادق (رح) وویل: څښتن خپل پېغمبر ته ځانګړي خویونه ورکړل؛ نو همدا اوس مو خویونه د رسول الله (ص) له خویونو سره پرتله کړئ، که سمون یې خوړ نو د الله شکر وباسئ او له خدایه وغواړئ، چې هغه خویونه درکې نور هم زیات کړي. بیا امام صادق (رح) هغه لس خویونه وویل: یقین، قناعت، صبر، شکر، حلم، ښه چوپتیا، سخاوت، غیرت، مړانه او سړیتوب.
*ستر مېړنی:
حضرت انس بن مالک (رض) وایي: رسول الله (ص) تر ټولو اتل، مېړنی او سخي و. پر الله قسم، خلکو یوه شپه یو وېرونکی غږ واورېد، ټولو د غږ پر لوري ورمنډې کړې، دا مهال رسول الله (ص)، پر اس سپور و او توره یې پر غاړه وه، راغی، و یې ویل: ((مه وېرېږئ)) پلټنه مو وکړه، یوازې یو غږ و، بل هېڅ څه نه و.
*په جګړه کې سرپناه:
حضرت علي (ک) وایي: چې د جګړې اور به بل شو او دواړه لوري به مخامخ شوې؛ نو موږ ټولو به رسول الله (ص) ته پناه وړه، تر رسول الله (ص) به مو بل څوک دښمن ته نږدې نه مونده.
*د رسول الله (ص) حیا:
حضرت ابوسعید خدري (رض) وایي: د الله په رسول کې تر نجونو هم حیا ډېره وه او چې څه به یې خوښ نه شول؛ نو له څېرې یې پته لګېده.
*صبر ته بلنه:
امام صادق (رح) وویل: که چا صبر وکړ؛ نو لږ صبر یې کړی دی او که چا بیړه وکړه؛ نو لږه بیړه یې کړې ده. بیا امام وویل: ټولو چارو ته دې سینه پراخه کړه، د صبر جامې پر تن کړه؛ ځکه څښتن، حضرت محمد، پېغمبر کړ او ورته یې د صبر سپارښتنه وکړه: [ وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ أُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلاً إِنَّ لَدَيْنَا أَنكَالاً وَجَحِيماً - او (دښمنان) چې څه وایي، صبر پرې وکړه او په ښه توګه ترې لرې شه او ما بډایانو دروغ ګڼونکیو ته پرېږده او لږ مهلت ورکړه.[1] ]
او بیا ورته الله سپارښتنه وکړه: [ وَلاَ تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلاَ السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ - او نېکي او بدي یو شان نه دي، (بدي) پر غوره چلن (نېکۍ) لرې کړه نو ناڅاپه (به وګورې) څوک چې

[1] (مزمل/۱۱ او ۱۲ آیتونه)

درسره دښمني لري، ستاسې د خواخوږي دوست په څېر به وي او دې (مقام) ته یوازې صابران رسېدای شي او (همداراز) دا (ځانګړنه) یوازې (د ایمان او تقوا) د غټې برخې د خاوندانو په برخه کېږي[1].

* پر هغه ورځ رسول الله (ص) خپه شو:

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تل صبر کاوه؛ خو پر هغه ورځ خپه شو، چې نور کارونه یې پرې وروتپل او تورن یې کړ، چې دا مهال څښتن دا آیت رانازل کړه: [ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ - او په یقین موږ پوهېږو، څه چې هغوی وايي، ستا سینه ورته تنګېږي (او تا خورا خپه کوي) (خو علاج یې دادی چې) پالونکی دې ستایه او تسبیح یې وایه او له سجده کوونکیو وسه![2]

بیا یې د الله پر رسول د دروغجن ټاپه ولګوله، چې خپه شو، څښتن ورته وویل: [ قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لاَيُكَذِّبُونَكَ وَلكِنَّ الظَّالِمينَ بِآيَاتِ اللّهِ يَجْحَدُونَ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِن قَبْلِكَ فَصَبَرُوا عَلَى مَاكُذِّبُوا وَأُوذُوا حَتَّى أَتَاهُمْ نَصْرُنَا وَلاَ مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِ اللّهِ وَلَقَدْ جَاءَكَ مِن نَبَإِ الْمُرْسَلِينَ - موږ پوهېږو، چې د هغوی خبرې دې ځوروي؛ خو (مه خپه کېږه او پوه شه چې) هغوی تا نه دروغجنوي بلکې (دا) ظالمان د الله له آیتونو منکرېږي او بېشکه تر تا مخکې هم ډېر پېغمبران دروغجن ګڼل شوي، چې د دروغجن ګڼلو پر وړاندې یې صبر وکړ او (په دې لار کې یې) کړاوونه ګالل، تردې چې زموږ مرسته ور و رسېده[3].

*د الله په باب صبر:

د رسول الله (ص) سینه پراخه ده او صبر یې کاوه؛ خو دا ځل هغوی نور زیاتی هم وکړ او دا ځل یې څښتن تکذیب کړ. رسول الله (ص) وویل: ((ما د خپل ځان، کورنۍ او خپل پت په باب صبر وکړ خو داچې الله ته مو بد وویل؛ نو نور یې نه شم زغملای.)) پردې مهال څښتن آیت رانازل کړ او و یې ویل: [ وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلاَ طَائِرٌ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِن شَيْءٍ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا صُمٌّ وَبُكْمٌ فِي الظُّلُمَاتِ مَن يَشَإِ اللّهُ يُضْلِلْهُ وَمَن يَشَأْ يَجْعَلْهُ عَلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ - او په یقین موږ اسمانونه او ځمکه او څه چې یې ترمنځ دي، په شپږو ورځو [=شپږو پړاوونو] کې پیدا کړي دي او موږ پرې هېڅ ستړي شوي نه یو (نو په دې توګه موږ ته به څنګه د مړیو ژوندي کول ستونزمن وي؟!) نو

[1] (فصلت ۳۴ او ۳۵ آیتونه)
[2] (حجر /۹۷ او ۹۸ آیتونه)
[3] (انعام ۳۳ او ۳۴ آیتونه)

چې څه وايي، صبر پرې وکړه او تر لمر ختو او لمر پرېوتو مخکې د خپل پالونکي تسبيح او ستاينه ووايه[1].

*پر پېغمبراکرم (ص) د الله زېری:

پېغمبراکرم (ص) به هماغسې په چارو کې صبر کاوه تردې، چې زېری پرې وشو، چې له عترت يا څوځاته يې امامان ټاکل کېږي، چې پر صبر ستايل شوي دي. الله وويل: [ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ - او له هغوی مو يو شمېر (په خپل دين کې) د زغم او زموږ پر آيتونو د باور له لامله لار ښووونکي کړل، چې زموږ په حکم يې (خلکو ته) لارښوونه کوله[2].

* د صبر او ايمان تړاو:

دا مهال رسول الله (ص) وويل: ((د صبر او ايمان تړاو؛ لکه د سر او تن دی)) نو الله هم د هغه له دې صبره مننه وکړه او دا آيت يې نازل کړ. [ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللّهِ كَذِباً أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ أُوْلَئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُم مِنَ الْكِتَابِ حَتَّى إِذَا جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُوا أَيْنَ مَاكُنتُمْ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا وَشَهِدُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا كَافِرِينَ -تر هغه به لوی ظالم بل څوك وي، چې په الله پورې دروغ تړي يا آيتونه يې دروغ ګڼي؟ هغوی به (ددې دنيا له نعمتونو) چې څه ورته ټا کل شوي، برخمن شي تر هغې پورې چې زموږ لېږل شوې پرښتې يې ساګانو اخستو ته ور و رسي او ورنه به وپوښتي: ((ستاسې هغه معبودان چېرې دي، چې د الله پرځای مو بلل؟(ولې ستاسې مرستې ته نه راځي) ؟!)) وايي: ((له موږ ورك شول)) او پر خپل زيان شاهدي ورکوي، چې په رښتيا کافران ول[3].

رسول الله (ص) وويل: ((دا هم زېری دی او هم غج!)) او پر همدې مهال وو، چې څښتن خپل پېغمبر ته د مشرکينو د وژلو جواز ورکړ او دا کار يې مباح وباله او آيت يې راولېږه: ((مشرکان مو چې په هرځای کې وليدل و يې وژنئ، و يې نيسئ، کلا بند يې کړئ او په هر ځای کې ورته کمين ونيسئ.

نو الله مشرکين په رسول الله (ص) او د هغخ په مينوالو ووژل او د آخرت پر زېرمې سربېره يې دا کار د رسول الله (ص) د صبر انعام ورګرځاوه نو چاچې صبر وکړ او الله ته يې ور پرېښوول، مخکې تردې، چې له دنيا ولاړ شي، له دښمنانو غچ به پر خپلو سترګو ويني او بې له دې صبر د آخرت لپاره هم ګران بيه زېرمه ده.

* د حضرت جبرائيل ډالۍ:

[1] (ق ۳۸او آيتونه)

[2] (سجده/۲۴)

[3] (اعراف/۱۳۷)

یوه ورځ حضرت جبرائیل علیه السلام رسول الله (ص) ته راغی، و یې ویل: رسول الله! الله له داسې ډالۍ سره رالیږلی یم، چې تر اوسه یې لا چاته ورکړې نه ده.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وویل: ډالۍ څه ده ؟

حضرت جبرائیل وویل: صبر او ترې غوره!

رسول الله (ص): تر صبر غوره څه دي؟

حضرت جبرائیل: رضا او ترې غوره!

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وویل: تر رضا غوره څه دي؟

حضرت جبرائیل: زهد او ترې غوره!

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم: تر زهدغوره څه دي؟

حضرت جبرائیل: یقین او ترې غوره!

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم: تر یقین غوره څه دي؟

حضرت جبرائیل: په رښتیا د یقین پر لوري کلکه پوړۍ پر الله توکل دی.

*د توکل مانا:

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وویل: ((پر الله توکل څه دی؟)) حضرت جبرائیل وویل: پر الله توکل پردې ځان پوهول دي، چې د الله مخلوق نه چاته ضرر وررسولای شي او نه ګټه، نه چاته څه وربښلای شي او نه څه له چا څه ژغورلای شي او د الله له مخلوقاتو نهیلی شي؛ نو یو بنده یې داسې وي، ټولې چارې یوازې خدای ته کوي، یوازې خدای ته هیلمن وي، بې له خدایه له هیڅ چا نه ویرېږي. یوازې خدای ته په تمه وي، داده د توکل مانا.

*د صبر تفسیر:

رسول الله (ص) وویل: ((جبرائیله! صبر تفسیر کړه؟))

حضرت جبرائیل وویل: دا دی، چې په سختیو کې صبر وکړې؛ لکه څنګه په ښادیوکې صبر کوې، د بېوزلۍ پرمهال صبر وکړې؛ لکه څنګه چې په شتمنۍ او ناارمنۍ کې دې صبر کاوه، د خپګان او کړاوونو پرمهال هم د روغتیا او خوشحالۍ په څېر صبر وکړې او د الله پر بندګانو د هغه څه په باب خوله راونه سپړې، چې پرې ورپېښ شوي دي.

*د قناعت تفسیر:

رسول الله (ص) وایي: حضرت جبرائیل مې د قناعت د تفسیر په باب وپوښت، و یې ویل: قناعت دادی، چې انسان پر هغه څه قانع وي، چې په دنیا کې ور رسي او پر لږو هم شکر باسي.

*د رضا تفسیر:

رسول الله (ص): د رضا تفسیر څه دی؟

حضرت جبرائیل وویل: څوک چې له خپل مولی راضي وی نو نه پرې غوسه کیږي، که د دنیا نعمتونه ور رسي که نه او پر خپل لږ عبادت او اطاعت نه راضي کیږي.

*د زهد تفسير:

رسول الله (ص) حضرت جبرائيل ته وويل: د زهد تفسيرڅه دی؟ حضرت جبرائيل وويل: زاهد هغه دی، چې د خپل خالق د دوست ملګری وي او د خپل خالق د دښمن، دښمن وي، د دنيا حلالو ته په احتياط ويني او ترې ځان لرې ساتي او حرامو ته خو يې بيخي پام نه وي؛ ځکه د دنيا حلال حساب او حرام يې عذاب لري، پر ټولو مسلمانانو لورين وي، همداسې، چې چلن يې په لورنې وي، له بېځايه خبرو هم ډډه کوي؛ لکه څنګه چې له اوره ځان ساتي، هيلې يې لنډې وي او مرګ يې تل سترګو ته ولاړ وي.

*د اخلاص تفسير:

رسول الله (ص) حضرت جبرائيل د اخلاص د تفسيرپه باب وپوښت، و يې ويل: مخلص هغه دی، چې له چا څه نه غواړي، چې پخپله يې لاس ته راوړي نه وي او چې لاس ته يې راووړ نو پرې راضي دی او څه چې ورته پاتې شول؛ نو د الله په پار يې ښښي نو که چا له چا څه و نه غوښتل او د الهي ذات پر وړاندې يې پر بندګۍ منښته وکړه او د دنيا له ماله، چې هر څه ور و رسېدل، پرې راضي وي؛ نو الله به هم ترې راضي وي او د الله په لار کې يې ورکړه هم پر الله د ډاډ هومره وي.

*د يقين تفسير:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم حضرت جبرائيل د يقين په باب وپوښت، و يې ويل: هغه چې د يقين خاوند وي؛ نو داسې د الله لپاره کار کوي، ته وا پر خپلو سترګو يې ويني او که هغه الله نه ويني نو الله خو يې ويني او يقين لري، چې څه ته وررسېدلی، سم وررسېدلی او څه ته چې وررسېدلی نه دی بنا نه وه، چې ور رسېدلی وای او دا څه مې، چې درته وويل، د توکل ښاخونه او د زهد پر لوري پرمختګ دی.

*د رسول الله (ص) هيله:

امام باقر وويل: رسول الله (ص) ته يو پرښته راغله و يې ويل: محمده! الله درباندې سلام وايي و يې ويل: که غواړې د مکې سيمه درته له سرو زرو ډکه کړم! رسول الله (ص) خپل سر اسمان ته کړ و يې ويل: ((خدايه! خوښ يم، چې يوه ورځ په مړه نس ويده شم او شکر دې وکړم او بله ورځ په نهره او شکر دې وباسم او له درشله دې يې وغواړم.))

*ستره ټاکنه:

امام باقر(رح) وويل: رسول الله (ص) ته يوه پرښته راغله و يې ويل: الله خپلې خوښې ته پرېښې يې، که غواړې متواضع بنده او استازې يې ووسې يا داچې رسول يې او يو پاچا ووسې. رسول الله (ص) وويل: جبرائيل راته وکتل او پر لاس يې راته اشاره وکړه، چې تواضع وکړه؛ نو

رسول الله (ص) ورته وویل: ((بندګي او تواضع مې له خپل رسالت سره وټاکل.))
د پرښتې په لاس کې د ځمکې د زېرمو کونجیانې وې، و یې ویل: که منلای دې هم وای نو هغه مقام، چې له الله سره لرې پوتې به هم لږ شوی نه و.

*په دنیا کې د رسول الله (ص) زهد:
په نهج البلاغه کې حضرت علي (ک) لیکلي: په سپېڅلي او پاک پیغمبر پسې اقتدا وکړئ. رسول الله (ص) له دنیا د اړتیا هومره بسیا وکړه او دنیا ته یې سترګې نه وې خړې کړې، هېڅ کله یې له دنیا خوله ډکه نه کړه او پام یې ورته و نه کړ، نس یې تر ټولو وړکی و او تر ټولو خلکو یې ډېره لوږه زغملې وه، د دنیا زېرمې یې ورکولې خو ویې نه منلې او چې پوه به شو، الله د یو څه دښمن دی؛ نو هغه به هم ورسره دښمني کوله او د هر څه او چا به چې الله دوست و نو دوستي یې ورسره کوله او څه چې به الله ته حقیر او سپک ول؛ نو هغه به هم حقیر ګڼل او موږ ته د الله د امر د سرغړونې لپاره همدومره بس وو، څه چې مو سترګڼلي وای، چې الله او رسول یې کوشني ګڼل او هغه څه مو کوشني ګڼلي وای، چې هغوی ستر ګڼلي دي.

*د رسول الله (ص) ساده ژوند:
رسول الله (ص) پر ځمکه خواړه خوړل او د بندګانو په څېر کېناسته، خپلې پڼې یې پخپله ګنډلې او پر لوڅ خره سورېده او یو بل تن یې هم له ځان سره کېناوه. یوه ورځ یې ولیدل، چې په کور کې یې یوه پرده را ځوړنده ده، چې انځورونه پرې دي؛ نو مېرمنې ته یې وویل: ښځې! دا پرده له ما پټه کړه؛ ځکه چې یې وینم نو دنیا او ځل بل یې رایادېږي.

*د پیغمبراکرم (ص) پرهېزګاري:
رسول الله (ص) د زړه له کومې له دنیا مخ اړولی و او په ځان کې یې د دنیا یاد وژلی و، خوښ و د دنیا ښکلا یې سترګو ته ورڅېرمه نه وي، هسې نه چې ویاړنې جامې واغوندي او دنیا تلپاتې کور و ګڼي او پکې د پاتېدو هیله ولري؛ نوځکه یې په بشپړه توګه د دنیا یاد له زړه ایستی و.

*رسول الله (ص) ته غوره څیزونه:
امام صادق (رح) وویل: رسول الله (ص) تر هر څه پردې زیات خوښ نه و، چې وږی وي او له خدایهووېرېږي.

*د رسول الله (ص) وېره:
حضرت علي (ک) وویل: رسول الله (ص) به د الله له وېرې دومره وژړل، چې جانماز یې په اوښکو لمدېده سره له دې چې ګناه یې هم نه درلوده.

*آیا د الله شکر و نه کړم؟:
رسول الله (ص) به دومره وژړل، چې بېسده به شو. ورته وویل شول: داسې نه ده، چې الله دې له ګناهونو تېر شوی اوته یې ښښلې یې؟ رسول الله (ص) وویل: آیا د الله شکر و نه کړم.

*په لمانځه کې خضوع:
حضرت ابراهیم خلیل الله به چې پر لمانځه ودرېد؛ نو د الله له وېرې ترې د یو وېرېدلي انسان غږ اورېدل کېده، چې رسول الله (ص) هم همداسې و.
* الله ډېر یاد کړئ:
حضرت ابوسعید خدري (رض) وایي: د ((واذکروالله کثیراً= الله ډېر یاد کړئ)) آیت، چې نازل شو؛ نو رسول الله (ص) دومره پر عبادت بوخت شو، چې کافرانو وویل: د الله پر رسول پیریان ناست دي او لېوني شوی دی.
*د ورځې اویا ځل استغفار:
امام صادق (رح) وویل: رسول الله (ص) د ورځې اویا ځل توبه ایسته. د حدیث راوي امام صادق (رح) ته وویل: آیا رسول الله (ص) به ((استغفر الله واتوب الیه)) ویل ؟ امام وویل: نه؛ بلکې ویل یې: اتوب الی الله. راوي وایي: ما وویل: رسول الله (ص) توبه ایسته خو بېرته نه ستنېده، حال دا موږ توبه باسو خو بیا هم بېرته ګناه ته ورستنېږو! امام صادق (رح): الله دې زموږ مل شي.
*په غونډه کې استغفار
امام صادق (رح) وویل: رسول الله (ص) تر هغې له یوې غونډې نه پاڅېده، چې یې پکې ۲۵ ځل استغفار نه و کړی.



حضرت علي (ک)، چې به د رسول الله (ص) ستاینه کوله؛ نو ویل یې: رسول الله (ص) د لوی زړه خاوند و، لاس خلاصی او مهربانی و، تر ټولو رښتین، پتمن او اخلاق یې تر ټولو خواږه وو، په لومړي ځل، چې به هر چا لیده؛ نو ترې وېرېده؛ خو چې یو ځل به ورسره کېناست او یا خبرې یې ورسره وکړې نو زړه یې پرې بایله، نه یې په پخوانیو کې په څېر څوک و او نه به پیدا شي.
نېک اخلاق، جامه کړئ:
رسول الله (ص) وویل: ((اخلاق مو نېک کړئ؛ ځکه الله له نېکواخلاقو سره مبعوث کړی یم.))
له ښه اخلاقو یو هم تېرېدنه ده، له هغه چا تېرېدنه، چې ظلم یې درباندې کړی وي، هغه وبښې او چاچې درسره مړی ژوندی پرېښی وي، پوښتنې ته یې ورشې او داچې څوک دې پوښتنه نه کوي او چې رنځور شي، پوښتنې ته یې ورشې.
د رسول الله (ص) قسم:
حضرت علي (ک) وویل: د رسول الله (ص) یو قسم دا و، چې ویل یې: نه او له خدایه بښنه غواړم.
د رسول الله (ص) په څېره کې د خوښۍ او غوسې نښې:
حضرت عبدالله بن عمر(رض) ویلي: د رسول الله (ص) په څېره کې به د خوښۍ

او غوسې نښې ښکارېدې، چې کله به خوشحاله و نو څېره يې د سپوږمۍ په څېر ځلېده؛ خو چې غوسه به شو؛ نو د څېرې رنګ به يې واوخوت او تت به شو.

رسول الله (ص) ته ورته انسان:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وويل: وو‌ايم په تاسې کې تر ټولو زيات څوک راته ورته دی؟

اصحابو کرامو وويل: وو‌ايئ؟

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم: هغه چې اخلاق يې نېک او له خلکو سره يې چلن تر ټولو نرم وي او تر ټولو زيات پر ديني ورونو لوراند وي، د حق ملګری وي او تر ټولو زياته غوسه کابو کړي، ښېونکی وي او که خوشحاله اوخپه وي، انصاف او عدالت رعايت کړي.

۷۸_ په خوشحالۍ کې د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم غبرګون:

رسول الله (ص) به چې خوشحاله و نو پخپله ږيره يې په لاس راکښوده.

۷۹_ خورا سخي انسان:

رسول الله (ص) سخي او ښېونکی و، درهم يا دينار يې نه زېرمول او چې څه به ورسره پاتې شول؛ نو تر هغه به خپل کور ته نه تله، چې يې چاته وربښلي نه وو، څه چې ورته الله په روزۍ کې ورکړي ول؛ نو يوازې د يوه کال لپاره يې ترې آذوقه اخسته هغه هم کجورې او جوار او پاتې يې د الله په جات خلکو ته ورکول، څه به چې ترې وغوښتل شول، وربښل يې. دومره صدقه يې ورکړه، چې کال به لا پای ته رسېدلی نه و، چې پخپله به اړين شو.

۸۰_ د رسول الله (ص) ځانګړنې:

په دې اړه ويل شوي: رسول الله (ص) تل د حق ملګری و، ان که د ځان يا يارانو په تاوان يې و، په دښمنانو کې يې بې ساتندويانو تګ راتګ کاوه، کله هم دنيوي پېښو وارخطا نه کړ.

۸۱_ د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم تواضع:

د بېوزليو ملګری و او ورسره يوې کاسې ته کېناسته او د پوهانو او فاضلانو درناوی يې کاوه، له پتمنو سره يې ملګرتيا وه او ورسره يې نېکي کوله، له خپلوانو سره يې تګ راتګ او زړه سوی درلود، پر چا يې ظلم نه کاوه او د خلکو ښښنه يې ژر منله.

۸۲_ ټول عمر د الله په ياد کې و:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د خپل عمر يوه شېبه هم بېځايه تېره نه کړه، خپل ټول وخت يې د الله د بندګۍ او د ځان او خلکو په سمونه کې تېر کړ او کله به د خپلو اصحابو بېونو ته تله.

۸۳_ بېوزله او شتمن ته يې په يوه سترګه کتل:

رسول الله (ص) څوک د بېوزلۍ او رنځ له لامله نه راټه او له يوه پاچا هم د پاچاهۍ له لامله نه وېرېده. بېوزله او سلطان دواړه يې

یو شان الله ته رابلل او ټولو ته یې په یوه سترګه کتل.
۸٤_ ژر خوښېده او لږ غوسه کېده:
رسول الله (ص) تر ټولو روسته غوسه کېده؛ خو ډېر ژر خوښېده تر ټولو لوراند، خیرغواړی اوګټه رسان و.
۸۵_ غوره رضایت:
خوښي او ښادي د رسول الله (ص) خورا غوره خوشحالي وه. د موعظې او نصیحت پرمهال جدي و، د الله لپاره، چې به غوسه شو؛ نو چا یې مخه نه شوه نیوای.
۸٦_ له کړاوه الله ته پناه:
رسول الله (ص) په ټولو چارو کې جدي و او چې خپګان به پرې راغی؛ نو هر څه یې الله ته ورسپارل او مرسته یې ترې غوښته.
۸۷_ حقیقي لارویان او بې لارې لارویان:
امام باقر(رح) وایي : پېغمبراکرم (ص) وویل: یوه شئ! هر عبادت ته یو شدت او افراط وي، چې روسته پر فطرت او راحتۍ اوړي نو د چاچې د عبادت شدت زما له مخې وي؛ نولار یې موندلې او چې څوک مې د سنتو پرخلاف عمل وکړي؛ نو بې لارې شوی دی، عمل یې بې ځایه تللی او ځان یې هم پوپناه کړی دی.
خلکو! پوه شئ زه هم لمونځ کوم او هم خوب! روژه نیسم او روژه ماتی هم کوم، خاندم او کله ژاړم هم، چاچې زما له روښانه سنت مخ واړوه نو له ما ځنې نه دی.

## د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ټولنیزه وګړه

د اسلام ستر پېغمبر د دروند خوی او سترې دبدبې خاوند و، په زړونو کې يې ځای درلود او پر خلکو خورا ګران و، څېره يې د ځوارلسمې سپوږمۍ په څېر ځلېده او په اخلاقو، مانيزې ښکلا او پاکۍ پسوللی و. یوازې به چې و نو په فکر کې به و او په خلکو کې به، چې و نو تندی يې ورين او موسکا يې پر شونډو وه.

د دنيا په مال کې له هغه څه لرې ګرځېده، چې د پېسمنۍ-غرور او د زړه تړنې لامل و او ډېر خوښ و، چې له خپل پالونکي سره خلوت شي.

د اسلام پېغمبر سخت دريځه نه و، خواږه او نرم اخلاق يې درلودل او د دنيا د نورو شتمنو او زورواکو په څېر نه و، چې تل يې غري کول.

یو بېدياني عرب اړتيا درلوده او رسول الله (ص) ته راغی، چې رامخکې شو، له پخوا يې چې څه د پېغمبراکرم په هکله اورېدلي ول، د پېغمبراکرم دبدبه پرې کېناسته ژبه يې بنده او پښې يې وچې شوې.

کتل يې لنډ وو، د چا څېرې ته به نه ځيرېده او ډېری يې سترګې ځمکې ته وې او خلک د عطرو له بويه پوهېدل، چې رسول الله (ص) له دې ځايه تېر شوی دی.

د تګ پرمهال يې خپلې مخې ته کتل او چې غوښتل يې، شا، مخکې او يا شاوخو ته کتل؛ نو له ټول بدن سره به هغې لوري ته ورچورلېده او چې يې چاته اشاره کوله؛ نو په ټول لاس يې ورته اشاره کوله او هېڅکله يې په سترګو او وريزو اشارې نه کولې. ډېر وخت به مخ پر قبله ناست و، ډېره ناسته پاسته يې له بېوزليو سره وه او ورسره به په يوه کاسه کېناسته او پر خپلو لوراندو لاسونو يې خواړه ورکول او کله هم و نه شول، چې کوم بېوزله د بېوزلۍ له لامله ورټيي او له هېڅ واکمن او ځواکمنه نه ډارېده. بېوزله او شتمن د رسول الله په نظر کې يو برابر وو او دواړه يې توحيد ته رابلل نه يې نيوکې کولې او نه يې غوړه مالي او د غوړه مالۍ او ستاينې اورېدو بې زاره و، ویل يې: ((د غوړه مالانو او چاپلوسانو پر مخ خاورې وشيندئ.))

هېڅکله يې څوک له ځانه خوار او ټيټ نه ګاڼه. په حيا او شرم کې بې ساری و، تردې چې که کوم څيز يې خوښ نه و نو له څېرې به يې پوهېدل، چې دا څيز يې نه دی؛ خوښ او چې له چا به خپه شو؛ نو خپګان يې په څېره کې ليدل کېده؛ خو کله يې هم پر چا نيوکه او ګيله نه کوله او چې کوم څيز به يې خوښ شو؛ نو له خوشحالۍ يې څېره د ځوارلسمۍ سپوږمۍ په څېر ځلېده.

هېڅ نعمت یې نه رټه. خواړه یې نه ډېر ستایل او نه ډېر رټل. نعمتونه یې ستر ګڼل که څه په ظاهره به واړه وو.

یوه ورځ یې د یوې مېرمن په کور کې یو کپ ډوډۍ له ځمکې راواچته، ښکل یې کړه او ویې خوړه او بیا یې ورته وویل: ((دا هغه څه دي، چې اسمان، ځمکه او پکې ژوي پکار وو، چې دا کپ در و رسي.))

په ټول عمر کې یې چاته کنځل و نه کړه، له خولې یې چا بېځایه خبره وانه ورېده او هېڅکله یې سپک کار و نه کړ

ویل یې: پالونکي مې حکم راکړی چې:

۱_ ټولې پټې او ښکاره چارې د هغه لپاره وکړم.

۲_له هغه تېر شم، چې پر ما یې تېری کړی او هغه وبښم، چې زه یې بې برخې کړی یم.

۳_ په هغه پورې ځان ور ونښلوم چې ځان یې را څخه پرېکړی دی.

٤_چوپتیا مې د اندنې-تفکر لپاره وي.

٥_لیدل مې د عبرت لپاره وي.

له امام باقر(رح) روایت دی، چې د الله استازي راته وویل، چې پالونکي مې د اوو ځانګړنو حکم راکړی دی:

۱_ له بېوزلیو سره مینه او ورسره ناسته پاسته.

۲_ د ((لاحول و لا قوة الا باالله)) د ذکر ډېر ویل.

۳_له خپلوانو سره مړی ژوندی وکړم، که څه راسره یې نه کوي.

٤_هغوی ته وګورم، چې د شتمنۍ له کبله تر ما ټیټ وي او هغوی ته ونه ګورم، چې تر ما پورته دي.

٥_ د الله په لار کې د چا له رټلو و نه وېرېږم.

٦_د حق خبره وکړم که څه ترخه وي.

٧_له هېڅ چا څه ونه غواړم.

رسول الله مبارک تر ټولو سخي و، مال یې نه زېرمه کاوه او که له خپل خرڅه به څه ورسره پاتې شول؛ نو پر بېوزلیو تر ایشلو مخکې به کور ته نه راستنېده.

کله یې هم کوم سوالګر تش لاس رخصت نه کړ اوڅومره یې چې له لاسه کېدل، د هغه د اړتیا په پوره کولو کې یې کوښښ کاوه او که داسې به نه شول؛ نو په نرمه ژبه یې راضي کاوه.

د هر چا مېلمستیا یې منله او نه یې کتل، چې مېلمستیا د بېوزله ده که د شتمن، د سپین ده که د تور، د ازاد ده او که د مریي.

که چا ورته یو ګوټ شیدې هم ورډالۍ کولې نو پر ورین تندي یې منلې او له ډالۍ راوړنکي یې مننه کوله خو صدقه یې نه قبلوله او صدقه شوي؛ خواړه یې هم نه خوړل.

که کوم واده ته به وبلل شو؛ نو که کوم خنډ او مخنیوی به نه و نو د واده؛ خوړې ته به

ته او په ټاکل شوي وخت به په بلل شوي ځای کې حاضرېده؛ خو هغو غونډو ته به نه ته، چې يوازې شتمن به پکې ول او بېوزله به پکې نه وو او همداسې د فاسقانو غونډو ته خو به بيخي نه ته.

کله خو به داسې هم کېدل، چې رسول الله (ص) به يوه لرې مېلسمتيا منله، د بېلګې په توګه: يوه ورځ د مدينې په شاوخوا کې يو کلي ته مېلمه شو او هغوی ترې يوازې پر سوکړک مېلسمتيا وکړه او د الله استازي به هم د زړه له کومې په داسې غونډو کې ګډون کاوه او په تېره د هغه چا مېلسمتيا او غونډې ته به پر ورين تندي ورتله، چې کوربه يې د تقوا خاوند و.

پېغمبراکرم (ص) به د رنځورانو پوښتنې ته ورتله، که څه د رنځور کور به ډېر لرې و په جنازه کې يې ګډون کاوه.

په جګړو کې، چې به ځواک ته اړتيا شوه؛ نو ډېر وړانديزونه وشول، چې له مشرکه د مشرک پرخلاف کار واخلو خو هغه مبارک به پرېکنده ځواب ورکاوه: زه په مشرک بري ته وررسېدل نه غواړم.

د پېغمبراکرم تندی ټولو ته ورين، سينه يې ټولو ته پراخه، پر ټولو لورانده و او د لوراند پلار په څېر يې ټولو ته په يوه سترګه کتل.

په حقوقو کې ورته ټول مساوي ول، بې له الله يې له چا په زړه کې وېره نه درلوده او د دنيا يوې چارې هم نه وارخطا کاوه.

دنيوي چارو بوختولای نشو خو د پرهېزګارانو تقوا.

د جامې ډول ته يې دومره ارزښت نه ورکاوه؛ خو پاکوالي او سادګۍ يې ورته ارزښت درلود.

که اس و که قاطر، د سپرلۍ ګټنه يې ترې کوله او چې په کوم کار پسې به شو؛ نو ترسره کاوه يې او که څوک يې ملګری کېده، له ځان سره يې سپراوه او دې ته يې نه کتل، داچې پر سپرلۍ راسره کېني، ازاد دی که مريی، بېوزله دی که شتمن او بله داچې ډېر وخت خو پر خپله سپرلۍ نه سورېده او ورسره به پلی تله.

خوږ بوي يې خوښ و، له بېوزليو سره يې داسې ناسته پاسته کوله، چې ته وا له هغوی څنې دی.

تر ټولو ساده او تر ټولو پر نورو لورانده و. له اهل صفه وو سره په لورنې او مينه چلېده او رسول الله ته، چې ډالۍ يا صدقه راتله؛ نو ورکوله يې، د فاضلانو درناوی يې کاوه او د ښو اخلاقو خاوندان پرې ګران وو او د هغوی درناوی يې کاوه. شريفو خلکو ورسره ځانګړی مقام درلود او د هر قوم د مشر درناوی يې کاوه. زړه سوي يا صله رحم ته يې ډېر پام و او هغوی ورته د نورو په پرتله ګران وو، چې په دين کې به غوره او افضل وو. داسې څوک به پيدا نه کړئ، چې د الله استازي ورسره جفا کړې وي.

که څوک تېروته او روسته به پوه شو، چې تېروتی او ښښنه یې غوښته نو ښښنه یې منله. له چا یې تمه نه درلوده او که چا داسې کوم کار وکړ، چې تمه به ترې نه کېده؛ نو څه یې ورته نه ویل خو هغه مهال چې د سمونې او ارشاد په موخه وو.

د بې ادبو پر وړاندې زغمناک و او داسې هم کېدل، چې ځینو به یې په مخ کې ناندارۍ کولې او د الله د استازي حرمت یې نه ساته خو هغه به د متانت او ښو اخلاقو له لامله چوپ پاتېده او څه یې ورته نه ویل.

د رسول الله د کور عادي؛ خواړه روټه وه او ډېر وو، چې په کور کې یې خواړه نه وو. کله خو په میاشتو میاشتو د پاک نبي (ص) په کور کې د پخلي اور نه بلېده. د کور معمولي خواړه یې اوبه او کجورې وې خو پر کومه ورځ چې به انصارو ورته شیدې راوړې. داسې کوم وخت رانغی، چې په یو وخت کې دوه ډوله خواړه وخوري. ډېری یې خواړه اوبه او کجورې وې او که کوم وخت کجورې او ډوډۍ شوه؛ نو یوازې ډوډۍ یې خوړه.

د بېوزلیو او اصحابو په داسې مېلسمتیاګانو کې یې هم ګډون کاوه، چې نه پکې غوښه وه او نه ډوډۍ او پخپله پکې وږی پاتېده او ډېر داسې وختونه راتلل، چې یوازې ډوډۍ او کجوره یې هم په مړه نس نه خوړه او ډېر وو داسې وختونه، چې له لوږې یې تیره پر نس تړله.

کورنۍ یې په هکله وایي:

۸۸ _ نېکخویه

امام صادق (رح) وویل: ښه خوی ښادي راوړي او بیا امام داسې حدیث رانقل کړ، چې مانا یې داسې وه، چې رسول الله (ص) د ښېګڼو او ښو اخلاقو څښتن و.

۸۹_ هغه ښېګڼه، چې قدر یې و نه شو:

حضرت علي (ک) وویل: رسول الله (ص) له هغوی څنې و، چې د نېکو قدر یې و نه شو، حال دا نېکیو یې عرب او عجم دواړو رانغاړل، داسې څوک شته چې له خلکو سره یې نېکۍ او ښېګڼې تر رسول الله (ص) خورا وي؟ زموږ د اهل بیتود نېکیو هم قدر ونه شو او همداسې د مؤمنینود نېکیو هم قدر و نه شو.

۹۰_ د رسول الله (ص) تواضع:

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خپلې جامې پخپله پیوندلې، خپلې پڼې یې ګنډلې، خپلې مېږې یې لوشلې او له خپلو مریانو سره یې خواړه خوړل، پر ځمکه کېناسته، پر خره سورېده او د کور سامان یې پخپله په بازار کې پېره او پخپله یې خپل کورته راوړه. نشتمنو او شتمنو ته یې یو شان لاس ورکاوه او چې مقابل لوري به خپل لاس نه و کش کړی رسول الله (ص) خپل لاس نه راکښود، له چا سره به چې مخ

شو؛ نو لومړی یې سلام اچوه که نشتمن و که شتمن که کوشنی و که غټ. خوړو ته یې د چا بلنه نه ردوله، ان که یوې کجورې خوړو ته به هم مېلمه شو.

۹۱_ د ښې طبعې څښتن و:

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د ژوند لګښت لږ و، د ښې طبعې نرم چلن او د ورین تندي خاوند و، بې له دې چې وخاندي تل موسکی و او بې له دې چې تندی یې تریو وي، تل خپه اوغمجن و.

۹۲_ د مخ او وېښتانو پاکوالی:

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم عادت و، چې هنداري ته یې کتل او د سر وېښتان یې ږومنځول او کله یې دا کار داسې کاوه، چې رېو اوبو ته به درېده او د سر وېښتان یې سمول. هغه نه یوازې خپلې کورنۍ ته؛ بلکې خپلو اصحابو ته هم سینګار کاوه ویل یې:

۹۳_ د الله خوښېږي، چې بنده یې یو د بل کتو ته ورځي او ځان چمتو او وپسولي.

۹٤_ پینځه نبوي سنتونه:

امام صادق (رح) وویل: رسول الله (ص) وویل: پینځه څیزه به تر مرګه پرېنږدم، چې تر ما روسته سنت شي: پر ځمکه خواړه خوړل، له مریانو سره پر لوڅ خره سورېدل، پر خپل لاس اوزې لوشل، وړینې جامې اغوستل او پر ماشومانو سلام.

۹۵_ پر لوی او کوشني سلام کول:

رسول الله (ص) پر لوی او کوشني سلام اچوه.

۹٦_ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د ننوتو اجازه:

حضرت علي (ک) د بني سعد د ټبر یو سړي ته وویل: نه غواړې د ځان او فاطمې په باب درته یو حدیث ووایم؟ بیا حضرت علي (ک) ورته وویل: سهار و، چې رسول الله (ص) مو کور ته راغی، حال دا لا په بستره کې وو و یې ویل: سلام دې پر تاسي وي. او داچې موږ په بستره کې وو خپجله شو او ځواب مو ور نه کړ، یو ځل بیا رسول الله (ص) وویل: ((السلام علیکم)) بیا مو هم ځواب ور نه کړ، درېیم ځل یې وویل: ((السلام علیکم)) نو موږ ووېرېدو، چې رسول الله (ص) ولاړ نشي؛ ځکه د رسول الله (ص) عادت و، چې درې ځل یې سلام اچوه، که ځواب به یې واورېد؛ نو راننوته به ګنې بېرته به تله، ورته مو وویل: سلام دې پر تا وي ای رسول الله (ص)! راځئ؛ نو هله ول، چې رسول الله (ص) راننووت.

۹۷_ پر ښځمنو یې هم سلام اچوه:

امام صادق (رح) وویل: رسول الله (ص) پر ښځمنو هم سلام اچوه او ښځمنو هم د سلام ځواب ورکاوه.

۹۸_ د پیغمبراکرم د کېناستو طریقه:

رسول الله (ص) به درې ډوله کېناسته: یو داچې زنګونه یې راوچتول او دواړه لاسونه

يې ترې راتاوول، کله پر دوو زنګنو کېناسته او کله زنګون کېش او کله يې د کبرجنو په څېر پلتې نه وهله.

۹۹_ دا کارونه يې تل کول:

حضرت علي (ک) وويل: و نه شول، چې رسول الله (ص) چاته لاس ورکړي او تر مقابل لوري مخکې خپل لاس راکاږي. تل يې د خلکواړتيا پوره کوله او داسې و نه شول، چې څوک له رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم سره خبرې پيل کړي او تر مقابل لوري مخکې چوپ شي او چا ترې ونه ليدل، چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلمد چا په مخ کې پښې وغځوي او چې خپلې خوښې ته به پرېښوول شو؛ نو تر ټولو ستونزمن کار يې پر غاړه اخسته، که چا به پرې ظلم وکړ؛ نو د غچ په فکرکې به نه و خو داچې چا به الهي محارمو ته سپکاوی وکړ، چې په دې صورت کې به غوسه شو، د الله لپاره به غوسه کېده، څو ژوندی و نو چا ونه ليد، چې د ډډې په حال کې يې خواړه خوړلي وي.

۱۰۰_ د اړمنو د اړتيا پوره کول:

چاچې څه له رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم نه وغوښتل؛ نو ((نه)) يې ورته نه کوله او کله يې د اړمن اړتيا رد نه کړه او چې شونې وه، د خلکو اړتيا يې پوره کوله او که نه يې شو کړای؛ نو خلک يې له ځانه په خوږو او غوړو خبرو نه راضي کول، لمونځ يې بشپړ او سم و خو لنډ و، خطبې يې لنډې وې، بېځايه خبرې يې پکې نه کولې او خلکو رسول الله صلی الله عليه وآله وسلمله خوږ بويه پېژانده.

۱۰۱_ د دسترخوان آداب:

چې له نورو سره کېناسته نو لومړی تن و، چې خوړل يې پيلول او روستی تن به و، چې له خوړو يې لاس اخسته. په خپل مخ کې يې خوړل او يوازې د کجورو خوړو پرمهال وو، چې د بل چا مخې ته يې هم لاس وراوږداوه، اوبه يې په درې ساه ګانوڅښلې او په يوه ساه يې نه څښلې، اوبه يې نه تېرولې بلکې رولې يې. ښی لاس يې د خوړولو، څښلو، نيوو او ورکولو لپاره ځانګړی کړی و او کيڼ لاس يې نورو چارو ته ساتلی و. په ټولو چاروکې يې تيمن(يو څه په نېک فال نيول) خوښ و په جامو اغوستو کې، د پښو په پښوکولو کې او د وېښتانو په ږومنځولو کې.

۱۰۲_ خلکو ته غږ کول:

چاته چې يې غږ؛ نو درې ځل يې ورته غږ کاوه؛ خو خبرې يې بيا ځلي نه وې، د ننووتو لپاره يې درې ځل اجازه غوښته، خبرې او وينا يې دومره څرګنده وه، چې هر څوک پرې پوهېده، د خبرو کولو پرمهال يې د مخامخ غاښونو سپين والي برېښېده، مخکني غاښونه يې په زړه پوري توګه يو له بله بېل وو خو ازاد نه وو.

۱۰۳_ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم کتل:
د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم لیدل به د یوې شېبې لپاره ول، چاته نه ځیرېده، کومه خبره یې چې خوښه نه وه نو له چاسره یې نه کوله. پر لار داسې روان و، ته وا پر ځوړه روان دی، ګامونه یې په ځان پسې نه راښکودل ویل یې: ((په تاسو کې غوره انسان د ښه اخلاقو خاوند دی.)) د خوړو ستاینه او سپکاوی یې نه کاوه، اصحابو یې په مخ کې نانداری نه کولې.
۱۰٤_ په ټولو چارو کې بې ساری:
چاچې به رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم درک کړ ویل یې: د رسول الله (ص) په څېر نه په پخوانیو کې و او نه به راپیدا شي. د الله درود دې پرې وي.
۱۰۵_ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د کتو او لاس ورکولو سنت:
امام صادق (رح) وایي: رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اصحابو ته یو برابر کتل، پېښې یې د چا په مخ کې نه غځولې او چې چا به لاس ورکړ څو مقابل لوري خپل لاس راکښودی نه و، خپل لاس یې نه راکښوده او چې څوک به له دې خبرې خبر شو؛ نو ډېر ژر یې خپل لاس راکښوده.
۱۰٦_ له خلکو سره ناسته:
امام صادق (رح) وویل: رسول الله (ص) چې له چا سره کېناسته، نو د مقابل لوري تر ناستې یې په جامو کې ادلون بدلون نه راوسته.
۱۰۷_ په خبرو کې موسکی:
رسول الله (ص) د خبرو پرمهال موسکی و.
۱۰۸_ د رسول الله (ص) ټوکې:
له یونس شیباني روایت دی، چې امام صادق (رح) راته وویل: څومره یو له بل سره ټوکې کوئ ؟ ورته مې وویل: ډېرې لږې! امام وویل: ولې یو له بل سره ټوکې نه کوئ؟په رښتیا ټوکې خوږ خلقي ده او په ټوکو یو انسان خوشحالولای شئ، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د خلکو خوشحالولو لپاره ټوکې کولې.
۱۰۹_ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم هم ټوکې کولې:
امام صادق (رح) وویل: هغه مؤمن نه دی، چې ټوکې نه کوي، رسول الله (ص) هم ټوکې کولې او بې د حق له خبرې یې بله خبره هم نه کوله.
۱۱۰—د ټوکو کولو سنت:
مهربن خلاد وایي: امام رضا (رح) مې وپوښت: ځار دې شم! انسان چې په ډله کې کېني، یوه خبره رامنځ ته شي، ټوکې وکړي او وخاندي. امام وویل: که داسې وي؛ نوهېڅ پروا نه لري. راوي وایي: فکر مې وکړ، چې د امام مطلب به کنځلې او بدې ردې وي. بیا امام وویل: یو پانډیڅي به حضرت رسول ته راته او ورته یې ډالۍ

راوړه و یې ویل: د ډالۍ پیسې مې راکړئ، رسول الله (ص) به وخندل، رسول الله (ص) چې به کله هم غمجن و نو ویل یې: ((پانډیڅي څه شو؟ کاشکې اوس دلته وای.))

۱۱۱_ مخ په قبلې کېناستل:

امام صادق (رح) وویل: پیغمبراکرم ډېری مخ پر قبلې کېناسته.

۱۱۲_ پر ماشومانو نوم ایښوونه:

ماشوم به یې چې دعا یا نوم ایښوونې ته پیغمبراکرم (ص) ته راوست نو رسول الله (ص) یې د کورنۍ درناوي ته ماشوم راخسته او په خپل غېږ کې یې اچوه، کله داسې هم کېدل، چې ماشوم به یې په غېږ کې متیازې وکړې نو ناستو کسانو به چې دا کار ولید؛ نو ماشوم به یې راټه، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به ورته ویل: ((ماشوم مه رټئ، مه کوئ، چې متیازې وکړي.)) ماشوم یې په هوسا پرېښود، چې متیازې وکړي. او دعا یا نوم ایښوول چې به پای ته ورسېدل د ماشوم کورنۍ به په خوشحالۍ ماشوم اخسته، بې له دې چې د متیازو له لامله ورته د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تندی تریو شوی وي، چې هغوی ولاړل؛ نو رسول الله (ص) به خپلې جامې پاکې کړې

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم، چې به پر خره سپور و او څوک چې ورسره ترخنګ پر خپلو پښو روان و نو له ځان سره یې راسپراوه او که مقابل لوري ورسره نه منله نو آنحضرت (ص) به ویل: ((پلانیه! تر ما مخکې مخکې ولاړ شه او په پلانې ځای کې راته په تمه شه.))

۱۱٤_ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تېرېدنه:

ابوالقاسم کوفي وايي: رسول الله (ص) کله هم له چا خپل غچ وانه خست اوهغوی به چې کړاوه نو بښل یې او ترې تېرېده.

۱۱۵_ د یارانو پوښتنه:

رسول الله (ص)، چې درې ورځې پرلپسې خپل کوم یار و نه لید نو د هغه پوښتنه یې کوله، که غایب یار یې پر سفر وتلی و نو دعا یې ورته کوله او که په خپل کور کې و نو کور ته یې پوښتنې ته ورتله او که رنځور و نو عیادت ته یې ورتله. حضرت انس بن مالک (رض) وايي: نهه کاله د پیغمبر خادم وم، کله مې هم ترې وانهورېدل، چې راته یې ویلي وي: ولې دې دا کار و نه کړ او کله یې هم زما په چارو کې خبرې راونه ایستې.

۱۱٦_ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم لوراندي:

حضرت انس بن مالک (رض) ویلي: قسم پر هغه الله، چې پیغمبر یې پر حقه پر پیغمبرۍ معبوث کړ، ومې نه لیدل، چې د رسول الله (ص) به کوم کار نه وي؛ خوښ

شوی او يا يې راته ويلي وي، چې ولې دې دا کار ترسره نه کړ او چې د رسول الله (ص) مېرمنو رټلم نو ويل يې: کار ورسره مه لرئ، تقدير و، چې داسې وشول!

۱۱۷_ د رسول الله (ص) ځواب:

چې کوم صحابي يا بل چا به رسول الله (ص) ته غږ کړ؛ نو په ځواب کې يې ويل: ((لبيک))

۱۱۸_ د اصحابو درناوی:

رسول الله (ص) د خپلو يارانو د درناوي او زړه لاس ته راوړو ته، پر کنيه غږ کاوه او چاچې کنيه نه درلوده؛ نو ورته يې کنيه ټاکله او خلکو هم ورته پر هماغه کنيه غږ کاوه، ان پر اولادوالو او بې اولادو ښځو او ماشومانو يې هم کنيه نوم ايښی و او له دې لارې يې د ټولو زړونه لاس ته راوړي ول.

۱۱۹_ پر خپل توشک نور کېنول:

چې څوک به رسول الله (ص) ته راغی؛ نو خپل توشک يې ورکاوه او که مقابل لوري به ورسره نه منله نو آنحضرت(ص) به دومره ټينګار وکړ، چې توشک تر مېلمه لاندې هوار کړي.

۱۲۰_ په روژه کې ښښنه:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم به د رمضان په مياشت کې د سيلۍ په څېر شو، څه يې چې درلودل، خلکو ته يې وربښل.

۱۲۱_اړمنو ته د مرستې برید:

له عجلان نه روايت دی: له امام صادق (رح) سره وم، چې يو اړمن راغی، امام پاڅېد او د کجورو له ټوکرۍ يې يو موټی را ډک کړ، بيا يو بل اړمن راغی او امام بيا پاڅېد د کجورو له ټوکرۍ يې موټی را ډک کړ، درېيم اړمن راغی او امام يو موټی کجورې ورکړې، څلورم، چې راغی؛ نو امام ورته وويل: الله دې موړ او تاسې ته روزي راکړي او راته يې وويل: چاچې څه د الله له رسوله وغوښتل ورکول يې. يوه ورځ يوې ښځې خپل زوی رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ته ورولېږه، و يې ويل: رسول الله (ص) ته ورشه او څه ترې وغواړه او که درته يې وويل، چې څه نه لرم؛ نو ورته ووايه، چې د غاړې کميس دې راکړه!

امام صادق (رح) وويل: رسول الله (ص) خپل کميس راوايست او ماشوم ته يې ورکړ، چې پردې مهال الله د اسرا سورت ۲۹ آيت راولېږه: [ او خپل لاس دې تر غاړې مه تړه (او ښندنه او بښنه مه پرېږده) او مه يې له حده زيات غځولی پرېږه ده، چې پړ او پښېمانه پاتې شې. ]

۱۲۲ــ له ډالۍ يې خوړل:

امام باقر(رح) وويل: چې څه يې په ډالۍ کې رسول الله (ص) ته راوړل خوړل يې خو صدقه يې نه خوړه.

۱۲۳_ پر يوې لار تله او پر بلې راتله:

موسی بن بزيع وويل: امام رضا (رح) ته مې وويل: ځار دې شم!خلک وايي، رسول الله (ص) پر يوې لار تله خو پر بلې

راستنېده، دا خبره سمه ده ؟امام وویل: هو! سمه ده، په خپله هم ډېری داسې کوم او ته هم داسې کوه.

۱۲٤_ له کوره د وتو وخت:

امام صادق (رح) وویل: رسول الله (ص) به د لمر تر راختو روسته له کوره واته.

۱۲۵_ په غونډه کې د رسول الله (ص) د ناستې ځای:

امام صادق (رح) وویل: رسول الله (ص) به چې کومې غونډې ته ورننووت نو له ننووتوسره سم به په هماغه ځای کې کېناسته.

۱۲٦_ د رسول الله (ص) تواضع:

رسول الله (ص) خوښ نه و، چې څوک ورته له ځایه پاڅي؛ ځکه ورته څوک نه پاڅېدل خو د رسول الله (ص) د تګ پرمهال به ورسره ټول پاڅېدل او تر کوره ورسره تلل.

۱۲۷ــ د ښځو د رای پرخلاف کړنه:

د الله رسول(ص)، چې کومې جګړې ته تله؛ نو له ښځو سره یې هم سلا کوله خو د هغوی د مشورې پرخلاف یې کول.

۱۲۸_ په عطرو کې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د بدن خوله:

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د غرمې خوب د ام سلمې (رض) په کوټه کې کاوه ام سلمې یې خولې راټولولې او په عطرو کې یې اچولې.

۱۲۹ _ له خلکوسره خبرې:

امام صادق (رح) وویل: رسول الله (ص) کله هم د خپل عقل هومره له خلکو سره خبرې و نه کړې ویل یې: ((موږ پېغمبرانو ته دنده راکړه شوې، چې له خلکو سره یې د عقل هومره خبرې وکړو.[1]))

۱۳۰_ له خلکو سره جوړجاړی:

رسول الله (ص) وویل: ((څنګه چې موږ پېغمبرانو ته دنده راکړه شوې، چې په خلکو کې واجبات دود کړو؛ نو هماغسې دنده راکړه شوې، چې له خلکوسره ګوزاره او جوړجاړی هم وکړو.))

۱۳۱_ له خلکو سره ګوزاره:

امام صادق (رح) وویل: رسول الله (ص) وویل: لکه څنګه چې پالونکي مې د واجباتو د عملي کولو حکم راکړی، له خلکو سره یې دګوزارې حکم هم راکړی دی[2].

۱۳۲_ رسول الله (ص) قرآني اخلاق درلودل:

[1] دا حدیث په محاسن اوامالي صدوق کې هم راغلی دی.

[2] دا حدیث ابن شعبه په تحف العقول، شیخ صدوق په ((خصال)) او ((معانی الاخبار)) کې روایت کړی دی.

سعد بن هشام وايي: عايشې بي بي (رض) ته ولاړم او د رسول الله (ص) د اخلاقو په باب مې وپوښت، و يې ويل: قرآن دې نه دی لوستی؟ و مې ويل: ولې نه!عايشې بي بي وويل: د رسول الله (ص) اخلاق قرآن دی.

۱۳۳ـــد اهل بيتو ځوانمردي:

رسول الله (ص) وويل: ((زموږ د اهل بيتو ځوانمردي په دې کې ده، هغوی چې پر موږ ظلم کوي، ترې تېرېږو او هغوی چې بې برخې کړي يو، ببښو يې.))

۱۳٤_ له بېوزليو سره مينه:

رسول الله (ص) وايي: ((الله حکم راکړی، چې له بېوزليوسره مينه ولرم.))

۱۳۵_ ښه اخلاق د پېغمبرانو دي:

امام صادق (رح) وويل: صبر، رښتينولي، زغم او ښه خويونه د پېغمبرانو له خويونو څخه دي.

۱۳۶ـــد رسول الله (ص) اخلاقي دعا:

رسول الله (ص) د الله درشل ته ډېرې زارۍ کولې او تل يې ترې غوښتل، چې په اداب او اخلاقي مکارم ورکړي او په ځينو دعاګانو کې يې ويل: ((خدايه خوی مې ښه کړې)) او ويل يې: ((خدايه! له ناوړه خويونو مې بچ کړې.))

۱۳۷_ د بد خلقۍ آفتونه:

رسول الله (ص) وايي: ((د الله له لوري حضرت جبرائيل راغی و يې ويل: محمده! خوی دې ښه کړه؛ ځکه بد خوی د دنيا او آخرت خير له منځه وړي و يې ويل: پوه شئ! په تاسې کې هغه ماته ورته دی، چې اخلاق يې خورا ښه وي.))

۱۳۸_ رسول الله (ص) ټوکې کولې:

حسين بن زيد وويل، امام صادق (رح) ته مې وويل، ځار دې شم! رسول الله (ص) هم ټوکې کولې؟ امام وويل: الله رسول الله (ص) پر ستر او ښکلي خوی ستايلی، الله چې ځومره پېغمبران هم رالېږلي ول، څه ناڅه د تندي تريووالی يې درلود؛ خو رسول الله (ص) يې له پوره رحمت رااستولی و او د رسول الله (ص) يو ښه خوی د او، چې له يارانو سره يې ټوکې کولې، څو د پېغمبر د ستروالي او عظمت تر اغېز لاندې رانشي او وکړای شي خپله اړتيا ورته ووايي.

۱۳۹_ د يارانو خوشحالول:

بيا امام صادق (رح) وويل: چې رسول الله (ص) به کوم يار غمجن ا خپه وليد؛ نو ورسره يې ټوکې کولې، چې خوشحاله يې کړي ويل يې: ((الله د هغه دښمن دی، چې په تريو تندي له بل انسان سره مخېږي.))

۱٤۰_ د هر څه په باب خبرې:

حضرت زيد بن ثابت(رض) روايتوي: چې له رسول الله (ص) سره به کېناستو که د آخرت خبره به وه نو د آخرت خبرې يې کولې او که د دنيا خبره به شوه؛ نو د دنيا په باب خبرې يې کولې او که د خوراک

ښناک خبره به شوه؛ نو د خوراک ښناک خبرې يې کولې.

۱٤۱_ په سترګو يې اشاره نه کوله:

رسول الله (ص) په سترګو او وريځو چاته اشاره نه کوله.

۱٤۲_ د خوړو له زېرمولو منع:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم خپلې يوې مېرمنې ته وويل: ((ژغورلې مې نه وې، چې د سبا لپاره څه مه زېرموه؛ ځکه الله به هر چاته خواړه ور و رسوي.))

۱٤۳_ رسول الله (ص) وويل: ((د پېغمبرانو، صديقينو، شهيدانو او صالحينو تر ټولو غوره او ښه خوی د الله لپاره يو د بل ليدو ته تګ دی.))

۱٤٤_ د بل په ليدو خوشحالېدل:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وويل: ((د پېغمبرانو او صديقانو له خويونو څنې يو دادی، چې کله يو بل ووينې نو خوشحالي يې له خبرې راورېږي او يو بل ته لاسونه ورکوي.))

۱٤۵_ لومړی يې لاس ورکاوه:

چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم به له کوم مسلمان سره مخ شو، لاس يې ورکاه او په هرکلي کې ړومبی و.

۱٤٦_ يارانو ته سپارښتنه:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم خپلو يارانو ته وويل: ((خپلی بدئ ماته مه وياست؛ ځکه خوښ يم په داسې حال مو ووينم، چې په زړه کې درته کينه ونه لرم.))

۱٤۷_ ست نه کول:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وويل: ((زموږ د پېغمبرانو په ژوند کې بېځايه ستونه او تکلفونه نشته.))

۱٤۸_ هر اړخيز پېغمبر:

معبوث شوی يم، چې د زغم مرکز، د پوهې کان او د صبر کور ووسم.

۱٤۹_ بې سته پېغمبر:

له حضرت ابوذر(رض) روايت شوي: رسول الله (ص) به بې سته او بې له کوم ځانګړي ځانه د خپلو يارانو په منځ کې کېناس ته چې کوم نابلده به راغی، رسول الله (ص) به يې نه پېژانده؛ نو موږ له رسول الله (ص) وغوښتل، چې يوځای ورته جوړ کړو، چې ناپېژندګلو خلک دې وپېژني نو تر هغې روسته مو له خټو يوه چوتره جوړه کړه، چې رسول الله (ص) به پرې کېناسته او موږ به يې په شاوخوکې ناست وو.

۱۵۰_ په خبرو کې يې ټولو ته پام و:

د رسول الله (ص) له سنتو يو دا هم و، چې په خبرو کې يې ځانګړي کس ته نه کتل؛ بلکې ټولو ته يې کتل.

۱۵۱_ خپلې چارې پخپله کول:

روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم خپلې جامې او پنې په خپله

ګنډلې او په کور کې یې تر ټولو ډېر درزي توب کاوه.

۱۵۲_ په الهي چوکاټ کې غچ:

رسول الله (ص) خپل مریان او وینځې و نه وهلې؛ خو د الله په لار کې او له چا یې د خپل ځان لپاره غچ وانه خست خو داچې الهي حکم پرې جاري کړي.

۱۵۳_ د پېغمبرانو ګډ اخلاق:

امام صادق (رح) وویل: الله(ج)، چې ځومره پېغمبران هم راستولي، ټولو ته یې په ویناوو کې د رښتینولۍ او امانت ساتۍ حکم ورکاوه.

۱۵٤_ امانت ساته:

امام صادق (رح) وویل: امانت وساتئ؛ ځکه رسول الله (ص) ته چې به چا یو تار او ستنه هم امانت ورکړل؛ نو هغه یې بېرته خپل خاوند ته ورستنول.

۱۵۵_ پر ژمنه عمل:

امام صادق (رح) وویل: رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له یوسړي سره ژمنه وکړه، چې د پلانۍ ډبرې ترڅنګ ورته په تمه وي، څو هغه راشي. امام وویل: د لمر سوځنده تودوخې رسول الله (ص) ډېر سخت کړولی و، چې یارانو یې ورته وویل: څه به وشي، چې سیوري ورشئ؟ رسول الله وویل: همدا مو د وعدې ځای دی، زه به همدلته منتظر یم، که رانغې نو هغه ژمنه پوره کړې نه ده.

۱۵٦_ د اهل بیتو دنده:

حضرت علي (ک) وویل: موږ اهل بیت دنده لرو، چې بېوزلیو ته خواړه ور و رسو او په کړاوونو او خپګانو کې یې پناه ځای شو.

۱۵۷_ مېلمه یې کار ته نه پرېښوده:

امام رضا (رح) ته یو مېلمه راغی، د شپې تر یوه وخته پر خبرو بوخت ول، چې په دې وخت کې د څراغ رڼا کمه شوه. مېلمه لاس رامخکې کړ، چې څراغ سم کړي؛ خو امام یې مخه ونیوه او پخپله یې دا کار وکړ و یې ویل: موږ اهل بیت په مېلمنو کار نه کوو.

۱۵۸_ له مېلمه سره په تګ کې مرسته نه کوو:

د جهینه د ټبر یوه ډله امام صادق (رح) ته راغله، امام ورته ښه مېلمستیا وکړه، چې بېرته تلل؛ نو امام وویل د سفر توښه ورته چمتو کړئ او ډېرې ډالۍ هم ورکړې؛ خو خپلومریانو ته یې وویل، چې د بارونو په تړولو کې ورسره مرسته و نه کړئ، چې مېلمنو خپل بارونه وتړل؛ نو امام ته راغلل و یې ویل: د رسول الله (ص) زویه! زموږ دې ځومره ښه مېلمستیا وکړه خوبیا دې خپلو مریانو ته وویل: د بارونو په تړولو کې ورسره مرسته و نه کړئ؟ امام وویل: له موږ اهل بیتو، چې مېلمانه ځي؛ نو په تلو کې ورسره مرسته نه کوو.

۱۵۹_ له مېلمنوسره خواړه خوړل:

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته چې به مېلمه راغی؛ نو ورسره یې خواړه خوړل او تر هغې یې خوړل، چې مېلمه نه وه بس کړې.

١٦٠_ له مېلمه سره په مخه ښه:
رسول الله (ص) چې مېلمه رخصتاوه؛ نو د وره تر خولې ورسره تله.

١٦١_ د اهل بیتو تدبیر د الله په لاس کې دی:
د امام صادق (رح) یار ابن بکیر وویل: راپېښندل، چې امام صادق (رح) به حلوا او غوړه ډوډۍ راوړه، ورپسې یې ډوډۍ او زیتون راوړل، امام ته وویل شول: که لږ خواړه وساتئ؛ نو په ژوند کې به منځلاري راشي. امام وویل: زموږ د اهل بیتو تدبیر د الله په لاس کې دی، چې الله روزي پراخه راکړه؛ نو لاس مو هم خلاص وي او چې لږه راغله نو قناعت کوو.

١٦٢_ رسول الله (ص) خو داسې نه و:
که ملګری مو نیمګړتیاوې لري؛ نو پېغور مه ورکوئ او هغه ورته هر وخت مه ویاست؛ ځکه نه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم داسې کړي او نه نورو اولیاءالله.

١٦٣_ ناڅیزه ډالۍ یې هم قبلوله:
رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ویل: که څوک مې د ګډې پښو ته هم مېلمه کړي، ورسره به ولاړ شم او که په ډالۍ کې یې هم راوړې وای، منلې به مې وای.

١٦٤_ د رسول الله (ص) مشورت:
رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به له خپلو یارانو سره سلا مشوره کوله او بیا یې هغه کول، چې اراده یې پرې راغله.

١٦٥_ د رسول الله (ص) مناظره:
له امام حسن نه روایت دی، چې خپل پلار ته مې وویل: هغه مهال چې مشرکینو او یهودو له رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره دښمني او ځېل ؛ نو رسول الله (ص) ورسره مناظره او ویینه کوله؟ پلار مې وویل: هو! ډېر یې دا کار وکړ.

١٦٦_ له خلکو سره له شخړې منع شوی و:
رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وویل: ((ړومبی څیز، چې پالونکي مې ترې وژغورلم، له خلکو سره شخړه ده.))

١٦٧_ چاته یې د ((نه)) ځواب ور نه کړ:
حضرت علي (ک) وایي: چې رسول الله (ص) څه غوښتل؛ نو که د هغه کار د کولو اراده یې درلوده؛ نو ویل یې: هو! او که نه یې غوښتل، چې کوم کار وکړي؛ نو چوپ به شو او د ((نه)) ټکی یې پر خوله نه راووړ.

١٦٨_ له رسول الله (ص) ګرچاپېره کېناستو:
حضرت انس بن مالک(رض) وایي: رسول الله (ص) ته چې به راغلو نو ګرچاپېره ترې کېناستو.

١٦٩_ پرښتو، رسول الله (ص) بدرقه کاوه:

حضرت جابر (رض) وايي: چې د ځښتن استازی (ص) بهر وته؛ نو اصحاب ترې مخکې روان وو او پرښتې په پيغمبراکرم (ص) پسې رواني وې.

۱۷۰—د لښکر پر سرتېرو لورنه:

په جګړو کې آنحضرت (ص) تر ټولو روسته حرکت کاوه او ټولو ته يې دعاګانې کولې او که کوم کمزوری انسان يې ليده، چې نور مخکې نشي تلای نو په ځان پسې يې راسپراوه او په لورنه يې لښکر ته وررساوه.

۱۷۱_ د دنيا مال ته نه کتل:

رسول الله (ص) د دنيا هغه مال ته نه کتل، چې د خلکو د پېسمنی-غرور او په دنيا پورې د زړه تړنې لامليده.

۱۷۲_ لمونځ؛ د رسول الله (ص) پناهځی:

چې آنحضرت (ص) به غمجن شو يا پرې خپګان راغی؛ نو لمونځ ته يې پناه وړه.

۱۷۳_ ظاهر يې له خلکو سره خو باطن يې له الله سره و:

سره له دې چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم پر ښه خوی له خلکو سره چلن کاوه؛ خو زړه يې ورسره نه و؛ يعنې ظاهر يې له خلکو سره او باطن يې له الله سره و.

۱۷٤_ له ځان سره خلوت:

له ځان سره خلوت پر آنحضرت (ص) ډېر ګران و.

۱۷۵— په هر حال کې ذکر:

له ام سلمې بي بي روايت دی، چې رسول الله (ص) د ناستې، ولاړې او تګ راتګ په ټولو حالتو کې ويل: ((سبحان الله وبحمده استغفرالله واتوب اليه))، چې ددې کار لامل مو ترې وپوښت، و يې ويل: ((الله دنده راکړې، چې داسې وکړم)) او بيا يې د ((اذا جاء نصرالله)) آيت ولوست.

۱۷٦_اووه ځانګړنې:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وويل: ((الله دنده راکړې، چې اوه ځانګړنې ولرم: ټول ښکاره او پټ کارونه مې د الله لپاره وکړم، چاچې راباندې ظلم کړی ترې تېر شم او هغه وبښم، چې زه يې بې برخې کړی يم، زړه سوی وکړم او له هغوی سره تګ راتګ وکړم، چې راسره يې اړيکه پرېکړې، چوپتيا مې آند او کتل مې عبرت اخستو ته وي.))

۱۷۷— له چوپړيالانو سره مرسته:

آنحضرت(ص) خپلې پنې او جامې ګنډلې، تمبه يې پخپله پرانسته، مېګې يې لوشلې، اوښان يې تړل او خلاصول او بيا يې لوشل او چې کوم خادم به ستړی شو؛ نو ورسره يې لاسنيوی کاوه.

۱۷۸_ د کور له وګړيوسره مرسته:

د شپې لمانځه اوداسه ته يې پخپله اوبه اچولې، چې پر لار روان و، څوک ترې نه مخکې کېدل، چې ناست و، ډډه يې نه وهله، د کور په چارو کې يې له کوروالو

سره مرسته کوله او پخپلو لاسو یې غوښه غوسوله.

۱۷۹_ د خوړو آداب:

پر دسترخوان به د مریانو په څېر ناست و، تر خوړو روسته یې خپلې ګوتې ستلې او کله یې هم د زیاتو خوړو له لامله ارګی نه اچوه. د هر چا بلنه یې منله، که څه یو غړپ شیده ول، ډالۍ یې منله او ترې خوړه یې خو صدقه یې نه خوړه، د چا څېرې ته نه ځیرېده، غوسه یې د الله لپاره وه او کله هم د خپل ځان په پار پرچا غوسه نه شو، له ډېرې لوږې یې کله پرنس تیږه تړله او هر ډول خواړه یې چې ورته مخې ته کېښوول، خوړل یې او کله یې کوم خواړه رد نه کړل.

۱۸۰_ د رسول الله (ص) جامه:

دوه جامې یې په یوځل نه اغوستې، کله یې یوه یمني پټې والا چپنه اغوسته او کله یې وړینه چپنه، همداسې کتاني یا تاري جامې یې اغوستې، زیاتره جامه یې سپینه وه، پر خولۍ یې پګړۍ وهله، کمیس یې له ښي اړخ اغوسته، جمعې ورځې یې ځانګړې جامه درلوده او چې نوې جامې یې اخستې نو زړې یې بېوزلیو ته ورکولې، یوه چپنه یې درلوده، که کېناسته نو هغه یې تر ځان لاندې اچوله، د ښي لاس په کوشنۍ ګوته یې د سپینو زرو ګوته وه.

۱۸۱_ د رسول الله (ص) ټولنیز آداب:

هندوانه یې خوښه وه او مکروه بویونه یې بدې راتلل، اودس یې چې؛ نو مسواک یې هم واهه، چې سپور و نو مریی یا بل پلی یې هم له ځان سره سپراوه، که خر و که کچره پرې سورېده. داسې به هم راپیښ شول، چې بې له چپنې، پګړۍ او پټو بهر راوته. د جنازې په لمانځه کې یې ګډون کاوه او د رنځورانو پوښتنې ته تله، که د ښار په ډېره لرې برخه کې هم و. له بېوزلیو سره کېناسته، ورسره یې خواړه خوړل او پر خپل لاس یې په خوله کې کپ ورکاوه او که څوک پکې د غوره اخلاقو خاوندان ول، د هغوی یې ډېر درناوی کاوه، له پتمنو سره یې دوستي وه او نېکي یې ورسره کوله او له خپلوانو سره یې زړه سوی درلوده؛ خو پر چا یې خپلوان غوره نه بلل. پر چا یې تېری نه کاوه، د عذر غوښتونکیو ښښنه یې منله، بې د قرآن د نازلېدو یا نصیحت او موعظې پرمهال، تل موسکی و خو خټ خټ یې نه خندل.

۱۸۲_ د رسول الله (ص) عفت کلام:

خوراک، څښاک او جامه یې د مریانو په څېر وه، چاته یې بده رده او سپکه و نه کړه، کومه ښځه یا خادمه یې و نه رټله او د رسول الله (ص)په مخ کې که چا څوک ورټل؛ نو ویل یې: ورسره کار مه لرئ. که آزاد به و که بنده؛ خو چې رسول الله (ص) ته به د اړتیا لپاره راغی؛ نو د اړتیا د لرې

کولو لپاره یې ورته کوښښونه کول، د تریخ او د تریو تندي خاوند نه و، په بازار کې یې خپل غږ نه پورته کاوه، چا به چې ورسره بدي وکړه؛ نو هغه ورسره نه کوله؛ بلکې سترګې یې پرې پټولې او بښنه یې، څوک به چې مخې ته ورغی؛ نو سلام یې پرې اچوه.

۱۸۳_ په چارو کې مرسته:

څوک به چې د یو کار لپاره آنحضرت(ص) ته راغی؛ نو په ترسره کولو کې یې ورسره مرسته کوله، څو تر سره شي یا مقابل لوری پښیمانه شي. و نه شول، چې څوک لاس ورکړي او رسول الله (ص) له مقابل لوري ژر لاس راکاږي. څوک به چې مخې ته ورغی؛ نو په سلام اچولو کې ړومبی و.

۱۸٤_ د اړینو اړتیا پوره کول:

رسول الله (ص) ناست و که ولاړ الله یې یاداوه، څوک چې ورسره ترڅنګ ناست و؛ نو لمونځ یې لنډاوه ویل یې: ((اړتیا لرې؟))

۱۸۵_ په ډله کې د کېناستو ادب:

ډېری مخ پر قبله کېناسته او هرې ناستې ته چې ورننووت، په هماغه ځای کې کېناسته او داسې کېناسته، چې پنډۍ یې راپورته کولې او لاسونه یې ترې راتاوول، چې څوک به ورغلل؛ نو پوره درناوی یې کاوه، تردې چې خپل توشک او یا خپله چپنه یې ورلاندې هواروله، که خپه و که خوشحاله خو تل یې د حق خبره کوله.

۱۸٦_ د رسول الله (ص) خوښه مېوه:

بادرنګ یې له کجورې او یا له مالګې سره خوړل، په مېوو کې یې خربوزه او انګور خوښ ول، ډېری خواړه یې کجورې او اوبه وې. کجورې یې له شیدو سره خوړلې او دواړو ته یې ((سوتره خواړه)) ویل. غوښه او کدو یې خوښ ول، د ښکار شوي حیوان غوښه یې خوړه خو پخپله یې ښکار نه کاوه. کله یې ډوډۍ له غوړیو سره خوړه، د پسه د غوښې ماهیچه او ورون یې خوښ و. پوخ شوی کدو، سرکه او یو ډول غوښینه کجوره (عجوه) یې ډېره خوښه وه، په سبزیو کې یې(کاسنی)، غرنی ریحان او کلم خوښ ول.

۱۸۷_ بېوزله ژوند:

رسول الله (ص) په خپلو دعاګانوکې وایي: ((خدایه! په بېوزلۍ او نېستۍ کې ژوند راکړې او په نیستۍ کې مې له دنیا یوسې او له نشتمنو سره مې محشور کړې.))

۱۸۸_ زکات اخستنې پرمهال دعا:

مسلمان، چې رسول الله (ص) ته زکات راووړ نو رسول الله (ص) به هغه او ټبر ته یې دعا کوله، ویل یې: ((خدایه! د پلاني پر کورنۍ او ټبر ولورېږې.))

۱۸۹_ نېک فال:

د آنحضرت (ص) نېک فال ښه او بد فال بدې راتله.

۱۹۰_ د رسول الله (ص) په مخ کې دروغ ویل:

حضرت علي (ک) وویل: چې رسول الله (ص) ته یې دروغ ویل؛ نو موسکی به شو ویل یې: ((دا هغه خبره ده، چې هغه یې کوي.))

۱۹۱_ درې ځل خبره:

رسول الله (ص)، چې خبره یا پوښتنه کوله؛ نو درې ځل یې کوله، چې مقابل لوری پرې پوه شي او نور یې خبرو ته ځیر شي.

۱۹۲_ د سلام آیت:

چې اصحاب کرام راتلل؛ نو آنحضرت(ص) ته یې ویل، شپه مو په خیر یا سهار مو په خیر، چې دا ټکي د جاهلیت د وخت سلام و، چې آیت نازل شو: ((او چې کله هغوی تا ته راځي او په هغه څه چې نه تا ورته ویلي او نه الله، سلام کوي)) بیا رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وویل: ((الله ترې غوره رالېږلی دی ((السلام علیکم))، چې د جنتیانو سلام دی.))

۱۹۳_ تر سلامه زیات ځواب:

چې مسلمان به پر آنحضرت (ص)، السلام علیک سلام واچوه نو رسول الله (ص) ځواب ورکاوه: ((وعلیک السلام ورحمة الله)) او چې چا ویل: السلام علیک ورحمة الله؛ نو رسول الله (ص) به ورته ویل: ((وعلیک السلام ورحمة الله وبرکاته)) او په دې توګه رسول الله(ص) سلام زیات ورځواباوه.

۱۹٤_ د لور زېږی:

حضرت علي وايي: چې د الله پر رسول د لور زېږی وشو ویل یې: ((ریحانه ده او رزق یې پرالله دی.))

۱۹۵_ بېوزلیو ته زکات او صدقه:

رسول الله (ص) وايي: ((دنده راکړه شوې، چې له شتمنو زکات او صدقه واخلم او بېوزلیو ته یې ورکړم.))

۱۹٦_ د زکات ویش:

رسول الله (ص) د کلیو زکات پر کلیوالو او د ښار زکات یې پر ښار والو ویشه.

۱۹۷_ الله روزلی یم:

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وايي: ((الله روزلی یم او علي ما روزلی دی، الله دنده راکړې، چې ښښنه او نېکي وکړم او له کنجوسۍ او ظلم یې ژغورلی یم.))

۱۹۸ـ د هر څه ورکړه:

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وايي: ((که چا راځنې څه وغوښتل او درلودل مو نو ور به یې کړو.))

۱۹۹_ د هېرېدو پرمهال:

د څښتن له استازي به چې څه هېر شول؛ نو تندی به یې په ورغوو کې کېښود ویل

يې: ((خدايه! حمد او ستاينه ستا ده اې د هرڅه راياد وونکې او کوونکيه!راياد کړه څه مې، چې هېر کړې دي.))

۲۰۰_ شپږ ناوړه ځانګړنې:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وايي: ((الله راته شپږ ځانګړنې خوښې نه کړې او ما هم هغه خپل ځايناستو او لارويانو ته يې خوښې نه کړې په لمانځه کې لوبې، په روژه خوله سپکې سپورې او بد رد ويل، تر صدقې روسته منت ايښوول، جنب جومات ته ورننووتل، د شتمنو خلکو کورونو ته ورکتل او په هديره کې خندل.))

۲۰۱_ د پېغمبرانو څلور ځانګړنې:

امام صادق (رح) وايي: څلور څيزونه د پېغمبرانو له ځانګړنو څخه دي: نېکي، ښښنه، په خپګان کې صبر او د حقملي.

۲۰۲_ د ګوتې غمي ته کتل:

حضرت علي وايي: رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د خپلې ګوتې غمی په ورغوي کې ايښوده او ډېرې وخت يې ورکتل.

۲۰۳_ په شپه کې يې لو بدې راتله.

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) د شپې د کجورو له راټولولو او دکښت له لو کولو کرکجن و؛ ځکه فقير او مسکين ترې بې برخې پاتې نشي.

۲۰٤_ د بڼ له مېوو ګټنه:

دبڼ مېوې، چې رسېدې؛ نو آنحضرت(ص) حکم کاوه، چې د بڼ دېوالونه چپه کړئ، څو نورهم د بڼ له مېوو ګټه واخلي.

۲۰۵_بېوزليوته کجورې ورکول:

حضرت علي (ک) وايي: يوه ډله، چې څه يې نه درلودل، د الله له رسوله راتاو شول، انصارو او د مدينې خلکو وويل: غوره به وي، چې له هر بڼه يو وړی ورکړو. دا کار يې وکړ او سنت شو.

۲۰٦_د خورا ورکړې انسان:

حضرت جبرائيل وويل: پر ځمکه مې ټولې کورنۍ چاڼ کړې؛ خو د رسول الله (ص) هومره د ورکړې خاوند مې و نه موند.

۲۰۷_ له اړمنو سره خبرې:

حضرت علي (ک) وايي: چې اړمن رسول الله (ص) ته راتله؛ نو رسول الله (ص) ويل: پروا نه لري، پروا نه لري.

۲۰۸_ د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د ورکړې ژمنه:

حضرت جابر(رض) وايي: راپېښ نه شو، چې له رسول الله (ص) به چا څه غوښتي وي او ورکړې به يې ((نه)) وي.

حضرت ابن عتيبه(رض) وايي: ؛ يعنې که څه يې نه هم درلودل؛ نو د ورکړې ژمنه يې ورسره کوله.

۲۰۹_ لښکر لېږل: رسول الله (ص) خپل لښکر تر غرمې مخکې لېږه.

۲۱۰_ د لښکر د لېږد پرمهال دعا: امام صادق (رح) وايي: د څښتن استاي (ص)

چې کوم ځای ته لښکر لېږه؛ نو دعا یې ورته کوله.

۲۱۱_ د جګړې پر خبرونو یې ځان پوهاوه:

حضرت ریان بن صلت (رض) وایي: رسول الله (ص)، چې چېرې لښکر لېږه؛ نو یو ډاډمن سړی یې ورسره لېږه، چې د جګړې خبرونه ورته راوړي.

۲۱۲_ سرتېرو ته سپارښتنه:

امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) چې چېرې لښکر لېږه؛ نو سرتېرو ته یې د تقوا او له خدایه د وېرې سپارښتنه کوله. ویل یې: ((د الله په نامه د الله په لار کې وجنګېږئ، ټګي او خیانت مه کوئ، له وژل شویو پوزې مه غوڅوئ، ماشومان اوهغوی مه وژنئ، چې په غرونو کې عبادت کوي، د کجورو ونې مه سوځوئ او په اوبو کې یې مه لاهو کوئ، مېوه لرونکي ونې مه غوڅوئ، پټو ته اور مه اچوئ؛ ځکه نه پوهېږئ، کېدای شي اړتیا ورته پیدا کړئ او له حلال غوښوخارویو یوازې هغه حلال کړئ، چې خورئ او چې له دښمن سره مخ شوئ؛ نو ورته د مسلمانېدو، له جګړې د لاس اخستواو یا د مالیاتو ورکولو وړاندیز ورکړئ، چې هر یو یې درسره ومانه، تاسې هم له جګړې لاس واخلئ.))

۲۱۳_ له دښمن سره د مخامخېدو پرمهال دعا:

چې رسول الله(ص) به له دښمن سره مخ شو، پلي، سپاره او اوښ سپاره یې چمتو کول، بیا یې ویل: خدایه! ته مې پناه او مرستندوی یې، له خطرونو مې وساتې. خدایه! ستا په مرسته برید او جګړه کوم.

۲۱۴- د جګړې په ډګر کې یې دعا:

رسول الله (ص) چې به د جګړې په ډګر کې له دښمن سره مخ شو؛ نو ویل یې: ((خدایه!پر حق او حقیقت حکم وکړې.))

۲۱۵— د ښځو د استازي (ص) مړانه:

حضرت علي (ک)، معاویه بن ابي سفیان ته په یوه لیک کې ولیکل: چې جګړه به شوه، نور ټول به له ډاره غلي شول؛ نو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به خپل اهل بیت د لښکر مخې ته کړل او خپل اصحاب یې پخپلو اهل بیتو له تورو او نېزو ساتل.

۲۱۶_ له رسول الله (ص) سره بیعت:

چې عباسي مامون له امام رضا (رح) ولایت عهدی ته بیعت اخسته؛ نو امام رضا (رح) ورته وویل: رسول الله (ص) به داسې له خلکو سره بیعت کاوه، بیا پخپله امام رضا (رح) له خلکو بیعت واخست او لاس یې د هغوی د لاسونو له پاسه و.

۲۱۷_ له ښځمنو سره بیعت:

رسول الله (ص) ښځمنو ته لاس نه ورکاوه، چې له ښځو یې بیعت اخسته؛ نو د اوبو لوښی یې راوړه او پیغمبراکرم (ص) پکې خپل لاس غوپه کاوه او بیا یې ښځوته ویل: تاسې هم پکې لاسونه غوپه کړئ، ویل یې: ((بیعت مې درسره وکړ.))

۲۱۸_ له محرمو سره خبرې:

له ښځو سره د بیعت یو شرط یې دا هم و، چې ویل یې: ((بې له محرمه له سړیو سره خبرې مه کوئ.))

۲۱۹_ د بېکاره مؤمن رټل:

چې د آنحضرت(ص) به کوم سړی خوښ شو؛ نو په پوښتل یې: ((کار کوي؟)) که ورته وویل شول: بېکاره دی؛ نو رسول الله (ص) ویل: ((له سترګومې ولوېده.)) ورته وویل شول: د الله رسوله!ولې ؟ و یې ویل: ((که مؤمن بېکاره شي؛ نو په دین به خپل ژوند چورلوي.))

۲۲۰_ پور ورکول سنت دي:

امام صادق (رح) وویل: پور ورکول، د مېلمه مېلمستیا او کرایه ورکول سنت دي.

۲۲۱_بد پور، ښه ورکړه:

رسول الله (ص) که له چا په پور زوړ درهم واخست؛ نو د ورکولو پرمهال یې روغ ورکاوه.

۲۲۲_ څلور ګران کسان:

رسول الله (ص) وايي: ((الله راته وحې وکړه، چې له څلورو تنو سره مینه وکړم: علي، ابوذر، سلمان او مقداد.))

۲۲۳_ له علي سره مینه ولره:

رسول الله (ص) وویل: ((حضرت جبرائیل راغی، و یې ویل: الله حکم کړی، چې له علي سره مینه ولرې او نور هم دوستي او ولایت ته یې راوهڅوې.))

۲۲٤_ اوو ځانګړنو ته رابلل:

رسول الله (ص) وايي: ((الله د اوو څیزونو امر راکړ له بېوزلیو سره مینه او ورسره ناسته پاسته، د((لاحول ولاقوة الا بالله))ډېر ویل، له خپلوانو سره تګ راتګ، که څه هر څه یې راسره پرېښې وي، په دنیوي چارو کې هغوی ته وګورم، چې تر ما ټیټ دي او تر ځان جیګو ته و نه ګورم او د الله په لار کې له رټنې و نه ډارېږم، د حق خبره وکړم، که څه ترخه وي او له چا څه و نه غواړم.

۲۲۵_ د چا د تېرایستو په فکر کې مه وسه:

رسول الله (ص) وویل: ((څومره مو چې له لاسه کېږي، د چا د تېر ایستو فکر مه کوئ؛ ځکه دا زما سنت دی او څوک چې مې سنت راژوندی کړ؛ نو زه یې راژوندی کړی یم او چاچې زه راژوندی کړم، په جنت کې به راسره وي.))

۲۲٦— ږیره او وېښتان وینځل:

آنحضرت(ص) به ږیره او سر په سدر وینځل.

۲۲۷— اوبه د مؤمن عطر:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) خپل وېښتان ږومنځول او ډېری وخت یې

په اوبو پاکول ويل يې: ((د مؤمن وېښتانو معطرولو ته اوبه بس دي.))

۲۲۸_ د وېښتانو ږومنځولو گټې:

امام صادق (رح) د ((خذوازينتكم عندكل مسجد)) په تفسير کې وويل: مطلب يې ږومنځول دي، ږومنځه وهل روزي زياتوي، وېښتان ښکلي کوي، اړتيا روا کوي، د سړي جنسي ځواک ډېروي ا وبلغم له منځه وړي.

رسول الله (ص) خپله ږيره له لاندې څلوېښت ځل او له پاسه اوه ځل ږومنځوله ويل يې: ((ږومنځه وهل د انسان هوش زياتوي او بلغم له منځه وړي.))

۲۲۹_ د برېتو کمول:

رسول الله (ص) وايي: ((د برېتو کمول زما سنت دی، چې شونډه ترې ښکاره شي.))

۲۳۰_ موږ ږيره پرېږدو:

رسول الله (ص) وويل: ((زرتشتيانو ږيره وهله او برېت يې پرېښوول، چې زيات شي؛ خو موږ خپل بريت وهو او ږيره پرېږدو.))

۲۳۱- د وېښتانو، نوکانو او وينې ښخول سنت دي.

۲۳۲_ د نوکانو اخستل:

امام صادق (رح) وايي: د نوکانو اخستل سنت دي.

۲۳۳_ د سر وېښتان رنگول:

محمد بن مسلم د رنگولوپه باب امام صادق (رح) وپوښت، ورته يې وويل: رسول الله (ص) وېښتان رنگول او همدا اوس يې هم رنگ شوي وېښتان راسره شته دی.

۲۳٤— رسول الله (ص) وېښتانو ته کوم رنگ ورکاوه؟

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم، امام حسين بن علي او امام باقر(رح) په ((کتم)) نومي رنگ وېښتان رنگول؛ خو امام علي بن حسين په نکريزو وېښتان رنگول.

۲۳۵_ واجبي وهل:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم به واجبي وهله.

۲۳٦_ پر بدن واجبي وهل:

امام صادق (رح) وويل: رسول الله (ص) به هره جمعه د شرمځي پر وېښتو واجبي وهله.

۲۳۷_ د واجبي وهلو سنت:

امام صادق (رح) وويل: په هر پينځلس ورځو کې واجبي وهل سنت دي اوکه پر چا شل ورځې تېرې شي او پيسې ونه لري؛ نو پور دې واخلي نو پر الله دی، چې پور يې ادا کړي او که څلوېښت ورځې پرې تېرې شوې، نه مؤمن دی او نه کافر او نه ورته گټه لري.

۲۳۸_ د پاکوالي سنت:

حضرت علي (ک) وايي: څوک چې د تخرګ وېښتان خروي؛ نو له ځانه يې بدبوی لرې کړی او دا سنت دی.

۲۳۹_ د ويدېدو پرمهال رانجه کول:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله، چې ويدېده؛ نوپه سترګو کې يې رانجه کول او شمير يې د طلاق هومره و.

۲۴۰_ د رانجو کولو شمېر:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) تر خوب مخکې په ښي سترګه کې څلور ځل او په کينه کې درې ځل رانجه کول، رسول الله (ص) د رنجو کڅوړه درلوده، چې هره شپه يې رانجه کول او رانجه يې هم له تيرې وو.

۲۴۱_ هره شپه رانجه کول:

آنحضرت(ص) هره شپه له خوبه مخکې رانجه کول.

۲۴۲_ هره شپه درې سلايي رانجه:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص)د رنجو کڅوړه درلوده، چې هره شپه يې ترې درې سلايي رانجه کول [۱].

۲۴۳_د پيغمبرانو څلور ځانګړنې:

امام صادق (رح) وويل: دا څلور ځانګړنې د پيغمبرانو دي، عطر وهل، په چړې د سر وېښتان خرول، له بدنه اضافي وېښتان له منځه وړل او له خپلو ښځوسره ډېرکوروالی.

۲۴۴_ تر اوداسه روسته عطر وهل:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) عطرداني درلوده، چې تر هر اوداسه روسته يې پر ځان عطر وهل؛ نو پايله يې دا وه، چې له کوره واته نو ټوله کوڅه به د عطرو بوی نيولې وه.

۲۴۵_ د عطر ستاينه:

که چا به آنحضرت(ص) ته د عطرو ست وکړ؛ نو پر ځان يې موږل ويل يې: ((بوی يې سوتره او وړل يې اسان دي)) او که د عطر وهلو لپاره يې عذر درلود نو يوازې خپله يوه ګوته يې د عطر پر بوتل ايښووله.

۲۴۶_ د رسول الله (ص) بُخور

آنحضرت(ص) ځان پر عودقماري بخورکاوه.

۲۴۷_ خوښ عطر:

په عطرو کې پرې مشک ګران وو.

۲۴۸_ د عطرو لګښت:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د خوړو په پرتله په عطرو ډېرې پيسې ورکولې.

۲۴۹_ پر برېتو عطر وهل:

---

[۱]. اروابناد سيد محمد حسين طباطبايي (د الميزان تفسير مفسر): د سلايي کولو د شمېر په هکله بېلابېل روايات راښيي، چې پيغمبر اکرم (ص) په بېلابېلو ځايونو کې بېلابېلې کړنې درلودې؛نو ځکه د ويديدو پر مهال رانجه کول سنت دي او شمېر يې مهم نه دی.

حضرت علي (ک) وويل: پر برېتو عطر وهل او د کړنو د ليکوالو پرښتو درناوی د الهي رسولانواخلاق دي.

۲۵۰_ هره جمعه عطر لګول

امام صادق (رح) وويل: پر هر مکلف انسان واجب دي، چې د هرې جمعې پر ورځ نوکان واخلي، د برېتو وېښتان کم کړي او پر ځان عطر ووهي، بيا يې وويل: د جمعې پر ورځ به که رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم عطر پيدا نه کړل؛ نو د خپلو ښځو سپټی به يې لوند او پرمخ يې کېښود او په دې توګه يې ځان معطراوه.

۲۵۱_ پر عطر وهلو ټينګار:

چې د جمعې پر ورځ به آنحضرت(ص) عطر پيدا نه کړل؛ نو پر زعفرانو رنګ شوی ټوکر لمدواه او پر خپلو لاسونواو مخ يې وهله.

۲۵۲_ ښځو ته د عطرو ست:

د کمکي اختر پر ورځ يې، چې آنحضرت ته عطر راوړل؛ نو ړومبی يې خپلو ښځوته ورکول.

۲۵۳_ د عطر او حلوا نه ردول:

حضرت علي وايي: رسول الله (ص) عطر او حلوا نه ردوله.

۲۵٤— عطر پرې ګران وو:

پر رسول الله (ص) عطرګران وو او له بدو بويونو کرکجن و.

۲۵۵_ غم له منځه وړونکی:

د رسول الله (ص) ښه راتلل، چې خپل بدن په غوړيو غوړ کړي او په دې کار کې يې لتې نه کوله ويل يې: ((پر بدن غوړي موړل غم اوخپګان له منځه وړي.))

۲۵٦_ د سر غوړول:

رسول الله (ص) ډول ډول غوړي کارول او سر يې تر ږيرې مخکې غوړاوه ويل يې: ((لومړی سر او بيا ږيره.))

۲۵۷_غوره غوړي:

رسول الله (ص) ډېری وخت د بنفشه په غوړيو سر غوړاوه، ويل يې: تر ټولوغوره غوړي دي.

۲۵۸_ دغوړيو موږلواوډون:

ړومبی يې خپلې وريزې غوړولې بيا برېتې او ورپسې يې پوزو ته وروړل او بويول يې او بيا يې پرې سر غوړاوه.

۲۵۹_ د سردرد درمل:

رسول الله (ص) سردرد درمل ته خپلې وريزې او برېتې په غوړيو غوړولې؛ البته په هغه غوړيو، چې سر ته يې نه کارول.

۲٦۰_ د پاکوالي ارزښت:

امام رضا (رح) وايي: پاکوالی د پېغمبرانو اخلاق دی.

۲٦۱_ څلور پاکوونکې ځانګړنې:

امام صادق (رح) وويل: څلور څيزونه د پېغمبرانو سنتونه دي: عطر وهل، مسواک وهل، وېښتان په نکريزو رنګول او له ښځوسره ډېرکوروالی.

۲۶۲_ زيات عطر وهل:
رسول الله (ص) به ډېر عطر وهل، تردې چې نښې يې په ږيره او ويښتو کې ښکارېدې.
۲۶۳_ پر ږومنځه وهلو سپارښتنه:
رسول الله (ص) پر ځانګړې ږومنځه ((مدري)) خپل د سر ويښتان ږومنځول، ږيره يې د ورځې دوه ځل ږومنځوله او روايت شوي، چې تر ږومنځولو روسته يې ږومنځه تر خپل توشک لاندې ايښووله.
۲٦٤_ ويښتان په منځ اړول:
عمرو بن ثابت وايي، امام صادق (رح) ته مې وويل: خلک وايي: د سر ويښتان پر منځ اړول سنت دي؟ امام هېښنده وويل: کېدای شي، له سنتو وي؟ و مې ويل: خلک خيال کوي، چې رسول الله (ص) دا کار کاوه او ويښتان يې پرمنځ اړول. امام وويل: رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم کله هم ويښتان پرمنځ وانه ړول او د هېڅ پېغمبر ويښتان دومره اوږده نه ول، چې پرمنځ اړولو ته يې اړتيا پيدا کړي.
۲٦٥_ پرمنځ ويښتان اړول:
ايوب بن هارون وايي: امام صادق (رح) ته مې وويل: آيا پېغمبراکرم صلی الله عليه وآله وسلم ويښتان پرمنځ اړول؟ امام وويل: نه!؛ ځکه د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ويښتان به چې څومره هم غټ شول؛ نو د غوږونو له نرمۍ يې لاندې نه راتلل.
۲٦٦_ د سر د ويښتانو خرول:
له مخکې اړخه د سر ويښتان خرول سنت دي.
۲٦۷_ آيا رسول الله (ص) ويښتنان په منځ اړول؟:
ابوبصير وايي: امام صادق (رح) مې وپوښت: ايا پرمنځ ويښتان اړول سنت دي؟ و يې ويل: نه! ورته مې وويل: ايا رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم کله هم ويښتان پرمنځ واړول ؟ و يې ويل: هو! ورته مې ويل: ايا کېدای شي دا کار رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم کړی وي؛ خوسنت نه وي؟ امام وويل: که څوک د پېغمبراکرم صلی الله عليه وآله وسلم په ورته شرايطو کې وي؛ نو هغه دې هم د رسول الله (ص) په څېر وکړي. ورته مې ويل: خو د رسول الله (ص) موقعيت څنګه و؟
۲٦۸_ د رسول الله (ص) ځانګړی موقعيت:
امام وويل: پر شپږم سپوږميز کال، رسول الله (ص) له مدينې څخه د بيت الله الحرام پر لوري ووت، احرام يې وتاړه او له ځان سره يې قرباني هم بوتله خو رسول الله (ص) کفارو پرېنښود، چې مکې ته ورننوځي د ((لقد صدق الله رسول الرويا بالحق))؛ يعنې الله به د خپل رسول؛ خوب رښتيا کړي او د الله پر اراده په پوره امنيت مسجد الحرام ته ورننوځئ، حال دا سرونه مو خريلي وي او نوکان مو اخستې وي او هېڅ وېره به نه لري))، رسول الله (ص) پوه

شو، چې په نږدې راتلونکي کې په امنیت سره مکې ته ورننوځي؛ نو د سر وېښتان یې کم نه کړل او له هغې ورځې، چې احرام یې تړلی و، تر بل کاله یې خپل وېښتان کم نه کړل؛ نو له ناچارۍ یې وېښتان پرمنځ اړول؛ خو تر حج روسته او د وېښتانو تر خریلو روسته یې خپل وېښتان لوی نه کړل او تردې موقیعت مخکې یې هم خپل وېښتان دومره نه لویول، چې ناچاره شي خپل وېښتان پر منځ واړوي.

۲۶۹- د سر د وېښتانو او بږیرې رنګول:

حفص عور وایي: امام صادق (رح) مې وپوښت: د وېښتانو او بږیرې رنګول سنت دي ؟ امام وویل: هو!

۲۷۰_ د بدن اووه برخې ښخول:

حضرت عایشه بي بي وایي: رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم حکم کړی و، چې د بدن اووه برخې دې ښخې شي: نوکان، وېښتان، وینه، حیض، زیلانځ- رحم، غابښ او د ماشوم غورځولو پرمهال پړنه وینه.

۲۷۱_ د تخرګ د وېښتو خرول:

عبدالله بن ابی یعفور وایي: د مدینې په بازار کې مې له ((زراره)) سره د تخرګ د وېښتانو پر رانړولو یا خریلو وېینه شوه، ما ویل: خریل یې تر نړولو ښه دي او "زراره" ویل: نړول یې تر خریلو ښه دي. دواړه له "امام صادق (رح)" کره ولاړو، د ورننووتو اجازه مو ترې وغوښته چې ورننووتو و مو لیدل، چې امام په حمام کې دی او پر تخرګونو یې واجبي وهلې نو "زراره" ته مې وویل: آیا د امام دا کار دې ځواب نه دی؟ "زراره" وویل: کېدای شي، دا کار امام ته ځانګړی وي او د بل چا لپاره جایز نه وي؟ دا مهال د امام راپام شو، و یې ویل: پر څه مو وېینه ده؟ و مې ویل: له "زراره" سره د تخرګ د وېښتانوپرخریلو اویا رانړولو وېینه ده، هغه وایي، نړول یې غوره دي او زه وایم، خرېل یې غوره دي. امام وویل: ستا خبره له سنت سره سمون خوري او"زراره" پر غلطه دی او بیا امام وویل: د تخرګ وېښتان خرول تر نړولو غوره دي او پرې واجبي وهل تر خرولوهم غوره دي.

۲۷۲_ ورځ ترمنځ عطر وهل:

رسول الله (ص) وایي: ((حضرت جبرائیل راته وویل: یوه ورځ روسته پر ځان عطر وهه او د جمعې پر ورځ دې عطر وهل هېر نشي.))

۲۷۳_ ښکلې بوی ثواب لري:

آنحضرت(ص) حضرت علي (ک) ته وویل: ((علي! هره جمعه پر ځان عطر وهه؛ ځکه سنت دي او چې ښه بوی درنه ځي؛ نو درته ثواب لري.))

۲۷٤_ د سورګل ډالۍ:

حضرت انس بن مالک(رض) وایي: چاچې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته ګل ورډالی کړ؛ نو ترې اخسته یې، بویوه یې او بېرته یې خپل خاوند ته ورکاوه؛ خو زعفران یې، چې ورکول تر بویولو روسته یې له ځان سره ساتل.

۲۷۵—د جمعې ورځې آداب:

د جمعې پر ورځ رسول الله (ص) تر لمانځه مخکې نوکان اخستل او برېتې یې کمولې.

۲۷۶_غوره ډالی:

یو مسیحی وایي: د رسول الله (ص) اصحاب مې وپوښتل: رسول الله (ص) ته تر ټولو ښه ډالی څه ده؟ و یې ویل: تر ټولو ښه ډالی ورته عطر وو، چې هېښنده مینه یې ورسره درلوده.

۲۷۷_ پینځه سنتونه په سر کې او پینځه په بدن کې:

امام موسی بن جعفر وویل: پینځه څیزه په سرکې او پینځه په بدن کې سنت دي.

د سر سنت: مسواک وهل، د برېتو کمول، پر مینځ وېښتان اړول او د مرۍ او پوزې غړغړه.

د بدن سنت: سنتول، تر نامه لاندې وېښتان او د تخرګ وېښتان له منځه وړل، د نوکانو اخستل او طهارت کول.

۲۷۸_ د جمعې د ورځې اووه سنتونه:

امام رضا (رح) وویل: پام مو وي، د جمعې پر ورځ اوه څیزونه سنت دي: له خپلو ښځو سره کوروالی، په (ګل ختمی) ږیره او وېښتان وینځل، د برېتوکمول، د نوکانو اخستل او عطر وهل.

۲۷۹—د جمعې پر ورځ پاکوالی:

د جمعې پر ورځ رسول الله (ص) تر لمانځه مخکې نوکان اخستل او برېتې یې کمولې.

۲۸۰—د جمعې پر ورځ عطر وهل:

رسول الله (ص) وایي: ((دوست مې جبرائیل راته وویل: یوه ورځ روسته پر ځان عطر وهه او د جمعې پر ورځ عطر وهل مه هېروه.))

۲۸۱_ د درود سنت:

امام صادق (رح) وویل: د جمعې پر ورځ زرځل او پر نورو ورځو سل ځل پر محمد او آل یې درود سنت دی.

## د رسول الله (ص) د سفر آداب

د الله استازي د پنجشنبې پر ورځ سفر کاوه او خوښ نه و، څوک بې ملګري پر سفر ووځي. په سفر کې يې هنداره، د رنجو کڅوړه، ږومنځه، مسواک، بېټي، تار، ستنه او د بوټانو د ګنډلو ستنه له ځان سره وړه. د اوبو څښلو لوښی يې هم له ځان سره وړه[1] او ويل يې: په سفر کې خپله نفقه او خواړه له ځان سره يوسئ؛ ځکه دا کار ستاسې د نفس د پاکۍ او د اخلاقو د نېکۍ لامل ګرځي.

پر سفر د وتو پرمهال يې داسې دعا کوله: ((خدايه ستا په عنايت مې سفر پيل کړ او تا ته مې پام دی، ستا پر رحمت مې منګولې لګولې، ډاډ او هيله مې ته يې. خدايه! مهمات مې کافي او په هغو مې ملاتړ شې، چې زما په نظر کې ارزښت نه لري؛ خو ستا په نظر کې ارزښت لري. خدايه! تقوا مې توښه او جامه کړې، ګناهونه مې وبښې او هرې خوا ته مې، چې مخه شي، خېر ته مخه کړې.))

ويل يې: له کوره سهار کډن کېږئ او د الله استازي، چې له يوه کوره بل ته کډه وړه نو ږومبی يې دوه رکعته لمونځ کاوه او ويل يې، چې دا ځای مې پر لمانځه ګواهي ورکړي.

په ډله ايز سفرونو کې يې خپل کار په خپله کاوه او خپل کار يې نورو ته نه سپاره. په يو سفر کې ورته يو اصحابي وويل: موږ ټول کارونه په خپله کوو؛ نو د الله استازي (ص) ورته وويل: نه غواړم زما او ستاسې په منځ کې امتيازات وي؛ ځکه الله نه خوښېږي خپل بندګان بېل او د نورو په پرتله ممتاز ويني او بيا پاڅېد او خس يې راټول کړل.

په رڼا ورځ او غرمه کې له سفر راستنېده او ږومبی جومات ته تله، هلته يې دوه رکعته لمونځ کاوه او بيا کور ته تله.

د الله استازي له هغو مسلمانانو سره مخه ښه کوله، چې په سفر وتل، ويل يې: ((الله مو تقوا توښه او جامه کړه، مخې ته مو خېر، اړتياوې مو روا، دين او دنيا مو په امان او په خېر مو الله بېرته راوله)).

او هغوی چې له مکې راستنېدل ورته يې ويل: ((الله مو حج قبول کړه، ګناهونه مو وبښـل شه او هغه دې بېرته درکړي، چې لګولي مو دي)).

---

[1] (د سفر پر مهال خپل وزلې له ځانه سره وړل نبوي سيره ده، چې نن د انتاني ناروغيو متخصصين هم پر دې خبره ټينګار کوي؛ ځکه دا کار د ډېرو ناروغيو د مخنيوي لامل ګرځي او ډېرې داسې ناروغۍ دي، چې د خوراک، څښاک او سينګاروزلو او له نورو سره په ګډه له ځينو څيزونو؛ لکه د ږيرې او د وېښتانو د خرېلو وسايلو له لارې خپرېږي، چې يوه يې هم د تور زېړي رنځ دی، چې يو له هغو رنځونو ځنې دی، چې په لوړه کچه مو ورسره ټولنه لاس وګرېوان ده.)

کورنۍ یې په هکله وایي:
۲۸۲_ دپنجشنبې پر ورځ سفر:
امام باقر(رح) وویل: رسول الله (ص) د پنجشنبې پر ورځ سفر کاوه.
۲۸۳_ په سفر کې پینځه څیزونه:
رسول الله (ص) چې پر سفر وته؛ نو پینځه څیزونه یې له ځان سره اخستل: هنداره، د رنجو کڅوړه، ږومنځه او مسواک او په یو بل روایت کې بېتي هم راغلې ده.
۲۸٤_ کوټلی قدم اوچتول:
رسول الله (ص) مزبوت گامونه اخستل، چې کمزوری نه ښکارېده.
۲۸۵_ پر خره سورېدل:
آنحضرت(ص) خوښ و، چې پر بې کتې خره سپور وي.
۲۸٦_ پر یوه لار به تله او پر بله به راتله:
امام رضا (رح): رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم چې سهار له منی حرکت؛ نو د ضب له لارې تله خو په راستنېدوکې د مشعر او عرفې ترمنځ له لارې راستنېده؛ یعنې رسول الله (ص) به چې پرکومه لار ولاړ؛ نو پر بله راستنېده.
۲۸۷_ چاته یې نه ویل، چې چېرې ځې:
آنحضرت(ص)، چې کومې جگړې یا بل ځای ته تله؛ نو له خلکو یې پټول، چې چېرې ځي او د خپل مقصد په اړه یې په کنایه خبرې کولې.
۲۸۸_ په سفر کې دعا:
رسول الله (ص) چې په سفر کې له لوړې راکوزېده، ویل یې: "سبحان الله" او چې پر لوړه خته، ویل یې: "الله اکبر".
۲۸۹_ د ځمکې لېینه:
رسول الله (ص)، چې به یو ځای ته ولاړ ځو دوه رکعته لمونځ یې پکې نه و کړی؛ نو له هغه ځایه به نه راتله ویل یې: ((غواړم دا ځای مې پر لمانځه لووې/ گواه وي.))
۲۹۰— د تقوی توښه:
مؤمنان، چې په سفر وتل؛ نو رسول الله (ص) یې مخه ښې ته راتله ویل یې: ((الله مو تقوی توښه او لار کړي او درته دې خیر شي او روغ رمټ مو راوگرځوي.))
۲۹۱_ د مخه ښې پرمهال دعا:
رسول الله (ص) له یوه سړي سره الله په اماني وکړه او داسې دعا یې ورته وکړه: ((دین دې پر الله سپارم او د هغه په امان کې یې ږدم او الله دې تقوا ستاسو توښه کړي او مخې ته دې خیر شه.))
د حدیث راوي وایي: بیا امام صادق (رح) راته وکتل او و یې ویل: رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم، چې حضرت علي (ک) هم چېرې لېږه؛ نو همدا دعا یې ورته کوله.
۲۹۲_ حاجیانو ته دعا:
حضرت علي (ک) وایي: هغوی چې له مکې راستېندل؛ نو رسول الله (ص) ورته داسې دعا کوله: الله دې ستاسې حج قبول

کړي، ګناهونه مو دې وبښي او څه چې مو لګولي، بېرته دې یې درکړي.

۲۹۳_ د پنجشنبې سفر:

امام صادق (رح)، محمد بن ابي کرام ته وویل: خوښ یم د پنجشنبې پر ورځ پر سفر ووځې؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم، چې له دښمن سره د جګړې لپاره وته؛ نو د پنجشنبې پر ورځ به وته.

۲۹٤_ په سفر کې ورسره یوه مېرمن وه:

رسول الله (ص)، چې سفر ته وته؛ نو په ښځو کې یې پچه اچوله، چې د هر چا په نوم به راووته؛ نو هماغه یې له ځان سره بوتله.

۲۹۵— له انډیوال سره سفر:

رسول الله (ص) خوښ نه و، چې څوک بې انډیواله سفر وکړي.

۲۹٦—د نفس د پاکوالي لامل:

رسول الله (ص) وویل: ((یوسنت دادی، چې یوه ډله پر سفر وځي؛ نو له ځان سره سفر لګښت او خواړه یوسي؛ ځکه دا عمل د اخلاقو د نېکۍ او د نفس د پاکۍ لامل ګرځي.))

۲۹۷_ په سفر کې اړین څیزونه:

رسول الله (ص) په سفر کې څو څیزونه له ځان سره راخستل: د غوړیو بوتل، چې بدن پرې غوړکړي، د رنجو کڅوړه، بېتې، مسواک، ږومنځه او په یو بل حدیث کې راغلي: تار او ستنه، د پښو ګنډلو ستنه یې هم له ځان سره راخسته.

۲۹۸_ تر سفر مخکې دعا:

حضرت انس بن مالک (رض) وایي: رسول الله (ص)، چې پر هرسفر وته؛ نو دا دعا یې ویله: خدایه!ستا له لورنې اوتوبې سره پر سفر وځم، تا ته مې توبه ده او پر رحمت دې منګولې لګوم، ډاډ او هیله مې ته یې، خدایه مهم کارونه مې هوار کړې او څه ته چې دې ارزښت نه دی ورکړی خو ته پرې ښه پوهېږې، پکې مې ملاتړ شې. خدایه! تقوا مې د لارې توښه کړې، ګناه مې وبښې اوهر لوري ته چې ځم، خیر راسره کړې.

۲۹۹_ په سفر کې چټکتیا:

رسول الله (ص) په سفر کې چټک تله او چې بېدیا ته رسېده؛ نو نوره بیړه یې هم کوله.

۳۰۰_ په مخه ښه کې یې لاس ورکاوه:

امام باقر(رح) وویل: رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم، چې له کوم مسافر سره خدای په امانې کوله؛ نو ورته یې لاس ورکاوه(او بیا یې ورته دعا کوله).

۳۰۱—د رسول الله (ص) کونتې:

حضرت علي (ک) وایي: رسول الله (ص) یوه کونتۍ درلوده، چې لاسکی یې له اوسپنې و، ډډه یې پرې وهله او د اختر پر

ورځو، سفرونو او د لمانځه پرمهال يې خپلې مخې ته ايښووله او لمونځ يې کاوه.

۳۰۲_ د مؤمن نښه د پېغمبرانو سنت:
رسول الله (ص) وايي: کونتۍ نيول د مؤمن نښه او د پېغمبرانو سنت دی.

۳۰۳_ پر کونتۍ ډډه کول:
پرکونتۍ ډډه کول د پېغمبرانو اخلاق دي.

۳۰٤_ له سفره راستنېدل:
رسول الله (ص) د ورځې او په ماسپښين کې له سفره راستنېده.

۳۰۵_ په توده هوا کې دمه:
په توده هوا کې دمه کول او داچې ډېرى لار يې د شپې وهله، د پېغمبراکرم (ص) سنت دي.

۳۰٦_ په سفر کې خوب:
آنحضرت(ص) چې غوښتل په کوم سفر کې د شپې په پيل کې ويده شي؛ نو پر ښي لاس سملاسته او که د شپې په پای کې ويدېده؛ نولاس يې راوچتاوه او سر يې په ورغوي کې ايښوده.

۳۰۷_ په سهار کې وتل:
د رسول الله (ص) سنت و، چې سهار او د پنجشنبې پر ورځ له کوره په سفر وته.

۳۰۸_ د اوبو لوښی يې له ځان سره وړه:
سنت يې دا و، چې په سفر کې يې له ځان سره د اوبو لوښی وړه.

۳۰۹_ له حجه د راستنېدو پرمهال دعا:
رسول الله (ص)، چې له حج او يا له جنګه راستنېده او پر هره لوړه، چې تله؛ نو ويل: "الله اکبر "

۳۱۰_ له کور مخکې جومات ته تله:
چې رسول الله (ص) له سفره راستېنده ړومبی جومات ته تله، دوه رکعته لمونځ يې کاوه او بيا کور ته تله.

## د پېغمبراکرم (ص) جامو اغوستو آداب

۳۱۱_ شنې جامې یې خوښې وې:
رسول الله (ص) ته چې هر ډول جامې لاس ته راتلې اغوستې یې خو شنې جامې یې خوښې وې.
۳۱۲_د سپينو جامو سپارښتنه:
د رسول الله (ص) ډېرى جامې سپينې وې ويل يې: ((ژونديو ته مو سپينې جامې ورواغوندئ او مړي مو پکې کفن کړئ.))
په جنګي او غير عادي شرايطو کې يې دوه پوښه جامې اغوښتې، رسول الله (ص) شنه وربښمينه پګړۍ درلوده، چې د مخ له سپينوالي سره یې خورا ښه برېښېده.
۳۱۳_ د کميس اندازه:
د رسول الله (ص) کميس تر ښنګرو اوږد او هغه چپنه يې چې پرې اغوسته، تر لينګو يې رسېده، هغه يې د کميس له پاسه تړله خو په لمانځه او په نورو وختو کې يې خلاصه پرېښووله. هغه کميس يې، چې د جامو له پاسه اغوسته، په زعفرانو يې رنګ کاوه، چې له هماغه جامو سره يې له خلکو سره لمونځ کاوه او کله يې يوازې يوه چپنه اغوسته.
۳۱٤— په جامه کې بې تکلفي:
رسول الله (ص) يوه زړه او پيوندي چپنه هم درلوده، چې کله کله يې اغوسته، ويل يې: ((زه بنده يم او د بندګانو جامې اغوندم.)) دوه جامې يې درلودې، چې د جمعې ورځې ته ځانګړې وې، نورو ورځو ته يې نورې جامې درلودې. بې له نورو جامو يې يو ځادر هم درلود، چې دواړو اړخونو ته يې د ولو په منځ کې غوټه وراچوله او په هماغې کې يې د جنازې لمونځ کاوه او په کور کې يې هم ورسره لمونځ کاوه او له ځانه راتاووله او له هماغې سره يې د شپې لمونځ هم کاوه او کله يې د جامو يو اړخ اغوسته او بل اړخ يې پر خپلو ځينو ښځو وراچوه او لمونځ يې هم کاوه.
۳۱۵_ ښکلې جامې يې ښېلې:
رسول الله (ص) توره چپنه درلوده، چې هغه يې چاته وروښله.
حضرت ام سلمې (رض) وويل: موروپلار مې درځار! هغه چپنه څه شوه؟ رسول الله (ص) وويل: ((ومې ښله.)) ام سلمه: د رنګ سپينوالى مو د هغې چپنې له توروالي سره ډېر ښکلى ښکارېده.
۳۱٦_ د رسول الله (ص) ساده جامې:
حضرت انس بن مالک(رض) وايي: رسول الله (ص) ډېر وخت د ماسپښين لمونځ په داسې جامو کې کاوه، چې دواړه اړخونه يې سره ګنډل شوي ول.
۳۱۷_ تر نوره غوره:

يوه گوته يې پرگوته وه، پر هماغه گوته يې ليكونه ټاپه كول ويل يې پر ليكونه ټاپه لگول تر نوره غوره دي.

٣١٨_ عرقچين:

عرقچين يې اغوسته، كله يې تر پگړۍ لاندې او كله يې ځانته پر سر ايښوده او كله يې له سره لرې كاوه او يوشال يې سر او تندی تاړه.

٣١٩_ سحاب يې وبښله:

رسول الله (ص) د سحاب په نامه يوه پگړۍ درلوده، چې هغه يې حضرت علي (ک) ته وبښله، چې حضرت علي (ک) له دې پگړۍ سره راتله؛ نو آنحضرت(ص) به ويل: ((علي په سحاب كې درغی.))

٣٢٠_ د جامو اغوستو پرمهال دعا:

رسول الله (ص) تل جامې له ښي اړخه اغوستې ويل يې: ((د هغه الله شكر دی، چې په جامو يې زما عورت پټ كړ او ځان پرې په خلكو كې ښكلی كړم.)) او چې جامې يې ايستې؛ نو له كيڼ اړخه يې ايستې.

٣٢١_ د الله په امان كې:

چې آنحضرت(ص) نوې جامې اخستې نو زړې يې بېوزله ته وركولې ويل يې: ((هر مسلمان، چې د الله د رضا لپاره خپلې زړې جامې يو مسلمان ته ورواغوندي؛ نو تر هغې، چې بېوزله دا جامې اغوستې وي، كه د جامو وركونكی ژوندی وي كه مړ؛ نو د الله په ضمانت او امان كې دی.))

٣٢٢_ د رسول الله (ص) توشک:

د پوټكي يو توشک يې درلود، چې د كجورو له پاڼو يې ډک كړی و، اوږدوالی يې دوه ذراع[1] او پلن والی يې يو ذراع او يو لښت و.

٣٢٣ـــد رسول الله (ص) چپنه:

رسول الله (ص) يوه چپنه درلوده، چې نفل لمونځ يې؛ نو راكتوله يې او تر ځان لاندې يې اچوله، بې له پوزي پر بل فرش نه ويدېده.

٣٢٤_ پر څيزونو نوم ايښوونه:

د رسول الله (ص) له اخلاقو څخه دا و، چې پر خپلو څارويو، وسلې او سامانو يې نومونه ايښي ول، د بېرغ نوم يې "عقاب" او هغه توره، چې په جگړو كې ورسره وه "ذوالفقار" او د بلې تورې نوم يې "مخزم"، د بلې "رسوب" او د بلې نوم يې "قضيب" و. د تورې قبضه يې په سپينو زرو ښكلې كړې وه، د څرمنې ملابند يې درلود، چې درې كړۍ سپين زر پكې راځوړند ول. د كمان نوم يې "كتوم" د غشي د قوطۍ نوم يې "كافور" او د اوښ نوم يې "غضباء"، د اس نوم يې "دلدل" د خره نوم يې "يعفور"

[1]. يادونه: ذراع د لاس د منځنۍ گوتې له سره تر څنگل پورې اوږدوالي ته وايي.

او د هغې مېږې نوم "عينة" وه، چې شيدې يې ترې څښلې.

۳۲۵_ د رسول الله (ص) د اوداسه په اوبو تبرک:

رسول الله (ص) د خټو يوه کوزه درلوده، چې اودس يې پرې کاوه او اوبه يې هم پکې څښلې. خلکو د تبرک لپاره خپل ماشومان ورلېږل، د آنحضرت (ص) کور ته ورتلل او بې له دې چې څوک يې مخه ونيسي؛ نو په هغه کوزه کې يې اوبه څښلې او د تبرک لپاره يې اوبه پر خپل مخ او بدن اچولې.

۳۲۶_ پګړۍ تړل:

روايت دی، چې د رسول الله (ص) پګړۍ دومره وه، چې درې يا پينځه ځل يې له سره تاووله.

۳۲۷_ له پګړۍ سره لمونځ:

رسول الله (ص) توره پګړۍ درلوده، چې لمونځ يې ورسره کاوه.

۳۲۸_ د رسول الله (ص) د زره نوم:

حضرت علي (ک) وايي: ((رسول الله (ص) کرښې کرښې عرقچين پر خپل سر ايښوده او بيا يې وويل: رسول الله (ص) يوه زره درلوده، چې "ذات الفضوي" نومېده، درې کړۍ سپين زر يې درلودل، چې دوه شا ته او يو يې مخې ته وه.

۳۲۹_ "نمره" او "شمله" اغوستل:

رسول الله (ص)"شمله" [تر ځادر کوشنی] او "نمره" [وړينې جامې، چې تورې او سپينې کرښې يې درلودې] اغوسته او د رسول الله (ص) له ښې پنډۍ سره ډېره ښه ښکارېده

۳۳۰_ د لمانځه جامې:

رسول الله (ص) په پراخه جامو کې لمونځ کاوه.

۳۳۱_ نظافت ته بلنه:

رسول الله (ص) دوه بنډلې ټوټې درلودې، چې د لمانځه پرمهال يې اغوستې، آنحضرت(ص) خپل امت ته د پاکوالي سپارښتنه کړې ده.

۳۳۲_ د رسول الله (ص) جامې:

حضرت علي وايي: د پونبې جامې واغوندئ؛ ځکه رسول الله (ص) او زموږ د اهل بيتو جامې هم د پونبې دي.

۳۳۳_ د پونبې جامې واغوندئ:

حضرت علي وايي: له پونبې جوړې جامې واغوندئ؛ ځکه د رسول الله (ص) جامه ده او هغه کله هم وړينې جامې وا نه غوستې خوچې ناچار به شو.

۳۳٤_ د پېغمبراکرم (ص) د څرمنې ملابند:

رسول الله (ص) د څرمنې ملابند درلود، چې يوه غوټه هم پرې وه او په بله خوا کې يې سپين زر وو، چې درې کړۍ سپين زر پکې راځوړند ول، رسول الله (ص) د اوبو

ښځنلو يو جام هم درلود، چې په درې ټوټو سپينو زرو ښايسته شوی و.
۳۳۵_ د رسول الله (ص) توره:
حضرت علي وايي: د تورې د پوښ پای او د تورې قبضه يې له سپينو زرو وه، چې مينځ يې هم په سپينو زرو ښايسته شوی و.
۳۳۶_ د اختر پر ورځ په لاس کې کونتۍ نيول:
رسول الله (ص) يوه کونتۍ درلوده، چې لاندې برخه يې د اوسپنې وه، چې ډډه يې پرې وهله او د کمکي او لوی اختر پر ورځ يې په لاس کې نيوه.
۳۳۷_ د رسول الله (ص) گوته:
امام صادق (رح) وايي: د رسول الله (ص) گوته له سپنو زرو وه.
۳۳۸_ د گوتې گرد غمی:
د گوتې غمی بايد گرد وي؛ ځکه د رسول الله (ص) د گوتې غمی هم گرد و.
۳۳۹_ د گوتې پر غمي نقش:
امام صادق (رح) وايي: د رسول الله (ص) د گوتې پر غمي د((محمد رسول الله)) نقش و.
۳۴۰_ دگوتې د غمي نقش:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) دوه گوتې درلودې، چې پر يوه يې ((لا اله الا لله محمد رسول الله (ص))) او پر بله يې ((صدق الله)) ليکلي ول.
۳۴۱_ پر ښي لاس گوته کول:
امام رضا (رح) وايي: رسول الله (ص)، حضرت علي (ک)، امام حسن، امام حسين او نورو امامانو گوته په ښي لاس گوته کوله.
۳۴۲_ کميس يې تر پر توگ مخکې اغوسته:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) کميس تر پرتوگه مخکې اغوسته.
۳۴۳_ښوک مې، چې له سنته مخ واړوي، له ما ځنې نه دی:
رسول الله (ص) حضرت ابوذر(رض) ته وصيت وکړ: ((ابوذره! پيړې او څيړې جامې اغوندم، پر خاورو کېنم، تر خوړو روسته مې گوتې ستم، پر بې کتې خره سپرېږم او له ځان سره بل هم کېنوم او ښوک مې چې له سنتو مخ واړوي؛ نو له ما ځنې نه دی.))
۳۴۴_ په جگړو کې عرقچين:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) به يو سپين عرقچين، چې کرښې کرښې و، پر سر ايښوده او په جگړو کې يې له داسې عرقچينه گټنه کوله، چې دوه غوږه يې درلودل.
۳۴۵ــله تورو جامو يې کرکه درلوده:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) بې له پگړۍ، پڼو او چپنې نور له تور جامو کرکه درلوده.
۳۴۶_ د پڼو سنت:

امام باقر(رح) وايي: سنت دا دی، چې لومړی ښی بوټ او ورپسې چپ په پښو کړئ او په ایستو کې لومړی چپ او ورپسې ښی وباسې.

**۳۴۷_ د خوړو پرمهال یې پښې ایستې:**
امام صادق (رح) وایي: د خوړو پرمهال بوټان وباسئ؛ ځکه پښې مو ارامو ي اوسنت دي.

**۳۴۸_ د بوټانو او پښو رنګ:**
د آنحضرت (ص) د بوټانو رنګ تور او د پښو یې ژیړ و.

**۳۴۹_ د پیغمبرانو جامه:**
امام صادق (رح) وایي: کتان د پیغمبرانو جامه ده.

**۳۵۰_ له سرو جامو کرکجن و:**
امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) د سرو جامو له اغوستو کرکه درلوده.

**۳۵۱— د رسول الله (ص) کېږدۍ:**
د آنحضرت(ص) د کېږدۍ نوم "کن" و.

**۳۵۲_ د جمعې د ورځې جامه:**
د جمعې پر ورځ یې سره چپن او "سحاب" پګړۍ وهله او د مکې د سوبې پر ورځ یې توره پګړی وهلې وه.
رسول الله (ص) ږومنځه، د رنجو کڅوړه، بېتي او مسواک په یوې توبرې کې ایښوول او له دنیا، چې تله؛ نو پېړه یمني "ملبیده" نومې چپنه یې پر تن وه.
رسول الله (ص) یو تخت درلود، چې حضرت اسعد بن زراره(رض) ورډالۍ کړی و، پر کوم منبر، چې کېناسته، درې پوړه یې درلودل، چې د طرف د ونې له لرګي جوړ شوی و. د رسول الله (ص) جومات مناره نه درلوده اوحضرت بلال(رض) پر ځمکه اذان کاوه.

**۳۵۳_ د رسول الله (ص) د جامو رنګ:**
امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) یوه چپنه درلوده، چې د زعفرانوپه څېر په یو بوټي رنګ شوې وه، چې په کور کې یې اغوسته، چې ددې جامو رنګ د رسول الله (ص) پر مبارک بدن اغېز کړی و.

**۳۵۴—په کور کې د جامو رنګ:**
امام باقر(رح)وایي: موږ په کورنو کې ژیړې جامې اغوندو.

## د رسول الله مبارک د هستوګنځي آداب

۳۵۵_ د رسول الله (ص) ساده ژوند:
رسول الله (ص) په داسې حال له دنيا ولاړ، چې خښته يې پر خښته ايښې نه وه.
۳۵٦_ د پېغمبرانو غونډه:
حضرت علي (ک) وايي: جوماتونه د پېغمبرانو غونډې دي.
۳۵۷_ د پنجشنبې پر ورځ تګ:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) په ګرمۍ کې د پنجشنبې پر ورځ انګړ ته راوته او په ژمي کې د جمعې پر ورځ کوټې ته وردننه کېده.
۳۵۸_ تر ويدېدو مخکې دوه رکعته لمونځ:
حضرت خديجه بي بي وايي: رسول الله (ص)، چې به کور ته راغی؛ نو اوداسه ته يې د اوبو لوښی غوښته او تر دوه رکعته لمانځه روسته به ويده شو.
۳۵۹_ پر دښمن يې د شپې ناڅاپه بريد نه کاوه:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) کله هم پر دښمن د شپې ناڅاپه يرغل و نه کړ.
۳٦۰_ سپين چرګ يې ساتلی و:
رسول الله (ص) وايي: ((سپين چرګ مې ملګری دی او دښمن يې د الله دښمن دی هغه د خپل خاوند پاسوال دی او په شاوخو کې د اوو؛ نورو کورنو پاسوال هم دی.)) رسول الله (ص) د شپې چرګ په خپل کور کې ساته.
۳٦۱_ د سپين چرګ ځانګړنې:
امام رضا (رح) وايي: سپين چرګ د پېغمبرانو پينځه ځانګړنې لري: د لمانځه د وخت پېژندنه، غيرت، ښښنه، مړانه او له خپلو ښځو سره يې ډېر کوروالی.
۳٦۲_ کفترې ساتل:
امام صادق (رح) وايي: د هر پېغمبر په کور کې کفترې وې؛ ځکه ناپوهه پېريان د کورونو له ماشومانو سره لوبې کوي؛ خو که په کوم کور کې کفترې وي؛ نو پيريان له کفترو سره لوبې کوي او د کور له خلکو سره کار نه لري.
۳٦۳_ يوه جوړه سرې کفترې:
امام صادق (رح) وايي: د رسول الله (ص) په کور کې يوه جوړه سرې کفترې وې.
۳٦٤_ تيارې کوټې ته له ننوتو يې کرکه درلوده:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) کرکه درلوده، چې بې څراغه تېارې کوټې ته ورننوځي.
۳٦۵—په ژمي کې وتل او ننوتل:
آنحضرت(ص) په ژمي کې د جمعې پر شپه له کوره وته او ورننووته.
۳٦٦_ مخ پر قبله کېناستل:

حضرت علي (ک): که کله مو هم غوښتل په جومات کې کېنئ؛ نو مخ پر قبله کېنئ؛ ځکه سنت دي.

**۳٦۷_ د کوټې چت مه رنګوئ:**

امام صادق (رح): د کوټې چت مه رنګوئ، چې دا کار د رسول الله (ص) خوښ نه و.

## د پېغمبراکرم د ويدېدو او بسترې آداب

۳٦٨_ رسول الله (ص) پر څه سملاسته ؟
آنحضرت(ص) تر ځان لاندې خپله چپنه اچوله، بالښت يې له پوټکي و، چې د کجورو له پاڼو ډک و، يوه ورځ يې هماغه چپن ورلاندې دوه کته هواره کړه؛ نو سهار چې له خوبه راپاڅېد، و يې ويل: ((دا څه مو چې راته اچولي وو، د شپې له لمانځه يې و ايستم.)) بيا يې حکم وکړ: څه چې تر پېغمبرلاندې اچوئ مه يې دوه کته کوئ، يو بل توشک يې هم درلود، چې د پوټکي و او د کجورو له پاڼو ډک و، بله چپن يې هم درلوده، چې چېرې تله؛ نو ورلاندې يې دوه کته هواروله.

۳٦۹_ پر پوزي سملاستل:
رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پر پوزي سملاسته چې بې له هغه پوزي هېڅ هم ورلاندې نه وو.

۳۷۰_ له خوبه د راپاڅېدو پرمهال سجده:
امام باقر(رح) وايي: رسول الله (ص)، چې تل له خوبه راپاڅېد؛ نو الله ته يې سجده کوله.

۳۷۱- پر ملا سملاستل:
حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) پر ملا سملاسته.

۳۷۲_ د رسول الله (ص) روجايي:
رسول الله (ص) نهه ښځې درلودې، چې ورسره يوه روجايي وه، چې په "ورس" بوټي يا زعفران رنگ شوې وه، د هرې وار، چې رارسېد؛ نو روجايي يې ورلېږله، چې لرې اوبه پرې وشيندي، چې کوټه خوږ بويه کړي.

۳۷۳_ سهار وختي پاڅېدل:
حضرت علي وايي: د شپې په پای کې ويښ پاتېدل، د روغتيا، د الله د خوشحالۍ او د هغه د رحمتونو د راکوزېدو لامل گرځي او همداسې د پېغمبرانو سنت هم دی.

۳۷٤_ د ويدېدو پرمهال دعا:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص)، چې ويدېده، دا دعا يې ويله ((اللهم با سمک احيا وباسمک اموت - خدايه!ستا په نامه ژوندی کېږم او ستا په نامه مړ کېږم)) او چې له خوبه راپاڅېده؛ نو دا دعا يې ويله: ((الحمدالله الذی احيانی بعد ما اماتنی واليه النشور – د هغه الله شکر، چې تر مړه کېدو روسته يې بېرته راژوندی کړم او ټول يې پر لوري محشورېږو)).

۳۷٥_ د ويدېدو پرمهال دعا:
محمد بن مروان وايي: امام صادق (رح) راته وويل: درته ووايم، چې رسول الله (ص)، چې ويدېده؛ نو څه يې ويل؟ ورته مو وويل: هو! امام صادق (رح): ((آيت الکرسی)) يې ويله او بيا يې ويل: د الله په نامه پر الله مې ايمان راوړی او له سرغړاندو

بېزار يم، خدايه! که ويده يم که ويښ خو ته مې مل شې.

**۳۷۶_ د رسول الله (ص) بالښت:**

رسول الله (ص) ډېرى وخت داسې بالښت تر سر لاندې ايښوده، چې له پوټکي و او د کجورو پاڼې پکې وې او کله کله پرې کېناسته هم.

**۳۷۷_ د خوب ليدو پرمهال دعا:**

رسول الله (ص)، چې به وېرونکى خوب وليد؛ نو ويل يې: ((هوالله الذى لا شريک له)) او چې د شپې لمانځه ته راپاڅېده؛ نو ويل يې: ستاينه او شکر د هغه الله دى، چې د اسمانونو، رڼا، ځمکې او څه چې پکې دي، پنځوونکى يې دى. خدايه! حق يې، خبره دې حق ده، جنت او دوزخ دې حق دي، خدايه درتسليم يم، پر تا مې ايمان راوړى، پر تا مې توکل دى، تا ته مې توبه او ستا په ځواک مې دښمن ځپلى، ته مې قاضي يې نو خدايه! پټ، ښکاره، تېر او راتلونکي ګناهونه مې وبښه، ته مې الله يې او بې له تا بل معبود نشته.))

تر اوداسه مخکې يې مسواک وهه.

**۳۷۸_ د خوب پرمهال لس ځيزونه:**

امام هادي وايي: موږ اهل بيت د خوب پرمهال لسو ځيزونو ته پاملرنه کوو: طهارت درلودل، پر ښي لاس مخ ايښوول، **۳۳** ځل "سبحان الله" ، **۳۳** ځل "الحمد الله" او **۳٤** ځل " الله اکبر" ويل، مخ پر قبله يو، سوره فاتحه، آيت الکرسى او ((شهد لله انه لا اله الا هو)) تر پايه ويل. که چا داسې وکړل؛ نو له شپې يې خپله ګټه اخستې ده.

**۳۷۹_ د ويدېدو پرمهال دعا:**

محمد بن مروان وايي: امام صادق (رح) وويل: درته ووايم، چې رسول الله (ص) به د ويدېدو پرمهال څه ويل؟ ورته مې ويل: هو! امام وويل: د آيت الکرسى تر ويلو روسته يې ويل: د الله په نامه، پر الله مې ايمان راوړى، طاغوت نه منم، خدايه! ويده يم که ويښ، و مې ساتې.

**۳۸۰_ د شپې لمونځ سنت دى:**

امام صادق (رح) وايي: د شپې لمونځ وکړئ، چې د پېغمبرانو سنت دى.

## د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم کورني اخلاق

د الله استازي د خپل کور له غړیو سره په ورین تندي چلن کاوه او تل يې له خپلې کورنۍ سره گوزاره کوله او د خپلو مېرمنو حقوقو ته يې بشپړه پاملرنه درلود؛ خو کومې غلطۍ، چې يې له مېرمنو کېدې نو نه یوازې ترې تېرېده؛ بلکې هېڅکله يې ژبه هم ترخه نه شوه او له ټولو سره يې گوزاره کوله او په دې هکله يې وويل:

((ټول خلک هم ښې او هم بدې ځانگړنې لري او سړي ته پکار نه دي، چې یوازې د خپلې مېرمنې بدو ځانگړنو ته وگوري او هغه پرېږدي، که کله يې له یوې ځانگړنې خپه شي؛ نو بله ځانگړنه يې د خوښۍ لامل دی او انسان ته پکار دي، چې دې دواړو ته وگوري.[1]))

### له خپلو مېرمنو سره ورین تندی

د الله د استازي په کورني ژوند کې ورین تندي؛ خورا ارزښت درلود او تل يې پرې سپارښتنه کوله. د حضرت سعد بن معاذ (رض) د خښولو پرمهال یوه پېښه وشوه، چې مؤمنانو ته عبرت شوه. د حضرت سعد بن معاذ مور، چې د خپل زوی په جنازه کې د الله د استازي خواري ولیده، رسول الله (ص) څو ځل د حضرت سعد جنازه پر اوږو کړه، په خپله يې قبر ته ورکوز شو او په قبر کې يې ورکېښود او خاورې يې پرې واچولې نو د خپل زوی په هکله يې وویل: سعده! جنت درپېرزو شه.

رسول الله د سعد مور ته وویل: ((په کلاره شه او د الله په چارو کې لاس مه وهه، چې زوی دې همدا اوس تر ډېر دباو لاندې دی)). ټولو اصحابو په حیرانتیا د الله له استازي، علت وپوښت، ورته يې وویل: ((هغه په کور کې له خپلې کورنۍ سره بد خویه و.[2]))

رسول الله (ص) به له مېرمنو سره پر ښو اخلاقو چلن ته دومره ارزښت ورکاوه، ان د خپل ژوند تر پایه يې پرې سپارښتنه کوله.

یوه ورځ حضرت "اسماء" د یزید انصاري لور د مدینې د مېرمنو له اړخه استازې شوه، چې گیله يې رسول الله (ص) ته یوسي او ځواب يې راوړي. "اسماء"، چې ورغله نو و يې ویل:

((زه د مدینې د ښځمنو استازې یم. موږ مېرمنې وایو: الله تاسې هم نارینه وو او هم ښځمنو ته رالیږلي یاست، ښځمنې هم پر الله او پر تاسې ایمان لري، ښځمنې په کورونو کې ناستې او ستاسې اولادونه روزي خو بلخوا وینو، چې ستر ثوابونه او

[1] (صحیح مسلم۱۷۸/٤)

[2] (بحار۷۳/ ۲۹۹)

سپېڅلي کارونه یوازې په سړو پورې ځانګړي دي او موږ ترې بې برخې یو)).
رسول مبارک خپلو اصحابو ته وکتل او ورته یې وویل: ((ایا په دې هکله مو تر وسه دومره منطقي خبره اورېدلې وه ؟))
په اصحابو کې یو وویل: ((ګومان نه کوم، چې دا خبره به ددې ښځمنو خپله خبره وي.)) د الله استازي ددې اصحابي خبرې ته ارزښت ور نه کړ او "اسماء" ته یې مخ کړ، و یې ویل: "ښه غوږ شه، چې څه درته وایم او بیا زما خبره هغوی ته هم ورسوه، چې یې استازې یې. خیال مو کړی، چې څوک سړی شو او دا دندې، چې تا ورته اشاره وکړه؛ نو په هغوی به فضیلت، اجر او ثواب ته ورسي او تاسې به ترې بې برخې شئ ؟ خو داسې نه ده، که ښځه د کور او خپل مېړه ښه خیال وساتي او پرې نه ږدي، چې د کور د چاپېریال اوبه خړې شي؛ نو اجر او ثواب یې د سړیو له هماغو چارو هومره دی، چې اشاره دې ورته وکړه [1].
رسول الله تل د ښځې د ستر شخصیت درناوی کاوه او تل یې غوښتل سړي پردې حقیقت پوه کړي، چې د ټولنې نېکمرغي اوبدمرغي د ښځې په روزنې پورې اړه لري؛ ځکه غوښتل یې چې په هر ځای کې په ښه توګه د مور مقام وستایي او درناوی یې وکړي او همداسې سړي یې د خپلو مؤمنو مېرمنو درناوي ته هڅول او ویل یې: ((تر اسلام روسته، څه چې انسان ته ورپر برخه کېږي، مؤمنه کوروداني ده، چې ور وګوري، خوشحاله یې کړي او د غوښتنې پرمهال یې خبرې ته غوږ کېږدي او د مېړه په نه شتون کې د مېړه مال وساتي [2])).

## سخت دریځي نه ده پکار

د رسول الله سپارښتنه ده، چې سړی باید د خپلې کورنۍ د هوساینې لپاره هلې ځلې وکړي او پکار وزلي ورته چمتو کړي او هغوی یې رټل، چې په دې چار کې یې ناغېړي کوله، ویل یې: ((الله دې پرې و نه لورېږي، چې خپله کورنۍ ضایع او پر خپل حال یې پرېږدي.))
نبوي حدیث دی: ((مؤمن په الهي آدابو مودب دی او چې الله د انسان ژوند پراخه کړ؛ نوخپلې مېرمنې او اولاد ته دې په ژوند کې پراخوالی ورکړي)).
او د هغوی په هکله، چې مالي وس یې و؛ خو پر کورنۍ یې سختي کوله، ویل: ((هغه له موږ څخه نه دی، چې الله په ژوند کې پراختیا ورکړي؛ خو پر کورنۍ شومتوب کوي.))
او همداسې مېرمنو ته یې هم سپارښتنه کوله، چې د مړونو حقونو ته پاملرنه وکړي او په ژبه یې و نه کړوي.

[1] ((اسدالغابه))

[2] (طرائف الحکم، ۲۸۹ مخ)

نبوي حديث دی: کومه ښځه، چې په ژبه خپل مېړه وکړوي؛ نو تر هغه يې روژه، صدقه او حسنه نه قبلېږي، چې مېړه يې ترې راضي شوی نه وي، که څه د ورځې روژې ونيسي او د شپې عبادتونه وکړي او مريان ازاد کړي او پر اسونو يې جهاد ته ولېږي خو سره له دې ټولو چارو، که مېړه ترې راضي نه وي؛ نو دوزخ ته په تګ کې به لومړۍ وي او همداسې دا خبره د سړي په هکله هم ده[1].

رسول الله (ص) مېرمنو ته سپارښتنه کوله، چې له خپلو مړونو سره ګوزاره وکړي او د هغه څه د اخستو غوښتنه و نه کړي، چې سړی يې وس نه لري او ويل يې: ((ښځه، چې له خپل مېړه سره ګوزاره و نه کړي او داسې څه وغواړي، د مېړه په وس کې يې نه وي؛ نوهېڅ ښېګڼه يې نه قبلېږي او د قيامت پر ورځ به الله ورته پر قهر وي.))

## په کورنيزو چارو کې مرسته

سره له هغو ټولو چارواو دندو، چې د الله استازي ته ور په غاړه وې؛ نو سره له دې چې کور ته به راستون شو؛ نو د کور په ټولو چارو کې يې له کورنۍ سره مرسته کوله.

يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د حضرت علي (ک) کور ته ورغی، ويې ليدل، چې علي نخود پاکوي او فاطمه بي بي هم د دېګ ترڅنګ ناسته ده، چې په دې وخت کې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وويل: ((سړی، چې بې منته په کور کې له خپلې ښځې سره مرسته وکړي؛ نو الله يې نوم د شهيدانو په نوملړ کې ليکي.))

حضرت علي (ک) وايي: ((په کور کې له مېرمنې سره د سړي مرسته د کبيره ګناهونو کفاره ده.))

## د کور له چوپړيالانو سره ښه چلن

رسول الله به له خپلو چوپړيالانو سره په ورين تندي چلن کاوه، ان چوپړيالانو يې له خپلې کورنۍ سره د ژوند پرځای د الله د استازي چوپړ ته لومړيت ورکاوه.

يوه ورځ د الله استازي خپل يو چوپړيال د يو کار لپاره يو نږدې ځای ته ولېږه، چې نيمه ورځ يې تېره کړه ځنډ يې رسول الله (ص) خپه کړ او د رسول الله (ص) کورنۍ داسې ګومان کاوه، چې راستون شي؛ نو رسول الله (ص) به يې ورټي؛ نو چې چوپړيال له هومره ځنډ سره راستون شو؛ نو رسول الله (ص) ورته په مسواک اشاره وکړه، و يې ويل: ((که د الله له لوري له کساته وېره نه وه نو په دې مسواک به مې يو ډب وهلی وې!)).

[1] (مکارم الاخلاق؛ ۲۱٤ مخ).

**د حضرت انس بن مالک (رض) خبره:**

حضرت انس بن مالک (رض) وايي: لس کاله د الله د استازي په چوپړ کې وم خو په دې موده کې مې ترې تريو تندی و نه لید او د "اوف" هومره يې هم راته و نه ويل او کوم کارونه، چې را څخه غلط شوي وو؛ نو هېڅکله يې راته و نه ويل، چې ولې دې دا کار داسې وکړ؟ او کوم کار مې چې و نه کړ؛ نو هېڅکله يې و نه ويل، چې ولې دې دا کار و نه کړ؟

حضرت انس وايي: رسول الله (ص) ته مې د روژه ماتي لپاره خواړه چمتو کول، چې کله شيدې او کله ډوډۍ وه، چې په اوبو کې يې لمدوله. يوه شپه مې د رسول الله (ص) لپاره خواړه چمتو کړل؛ خو رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ناوخته راغی ګومان مې وکړ، چې کوم اصحابي به مېلمه کړی وي؛ نو خواړه مې په خپله وخوړل، څو شېبې روسته راغی، د رسول الله يو ملګری مې وپوښت: رسول الله (ص) روژه ماته کړې که نه؟ راته يې وويل: نه! نودومره خپه شوم، چې له زړه مې يو الله خبر و او له ځان سره مې وويل که خواړه وغواړي او ورته يې چمتو نه کړای شم، که وږی ويده شي؛ نو بيا؟پر هغه شپه د الله استازی (ص) وږی ويده شو او د خوړو په هکله يې و نه پوښتل او تر اوسه يې هم هغه خبره رایاده نه کړه.

**پر کوشنيانو لورنه**

له ماشومانو سره يې په لورنه او مينه چلن کاوه. څو ځل وليدل شول، چې امام حسن او امام حسين يې د سجدې پرمهال پړشا سپاره شول او د الله استازي خپله سجده دومره اوږده کړه، چې حسنين ترې راکوز شول او يا ډېر په کلار يې راکوز کړل او راو يې نيول او ښکل يې کړل.

يوه ورځ د يو شتمن په مخ کې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم امام حسن مجتبی ښکل کړ؛ نو سړي ورته وويل: زه لس زامن لرم، چې تر وسه مې يو هم ښکل کړی نه دی؛ نو د الله استازي ورته وويل: څوک چې لورنه و نه کړي؛ نو الله به پرې و نه لورېږي.

يوه ورځ د يو کار لپاره له کوره بهر وتلی و، چې د خپل اتلس مياشتني زوی ابراهيم له رنځه خبر شو؛ نو چې کور ته راستون شو ويې ليدل، چې د ژوند د هيلو د بڼ چې يوازېني ګل يې له نړۍ سترګې پټې کړې دي. هغه يې په غېږ کې راواخست او په ژړا يې وويل:

((ګرانه ابراهيمه! موږ خو تا لپاره څه نه شو کړای او الهي تقدير هم نه بدلېږي خو ستا د پلار سترګې ستا په وير کې ژړغوني او زړه يې له غمه ډک دی؛ خو هېڅکله به داسې خبره و نه کړم، چې الله مې راڅخه

خپه شي او که الهي ژمنه نه وای، چې موږ به هم له تا سره یو ځای شو؛ نو ستا په غم کې به مې دومره ژړلي وای، چې سترګې مې وچې شوې وای)).

د خپل زوی په ویر کې د الله د استازي اوښکو ځینې حیران کړل تردې چې حضرت عبدالرحمن بن عوف(رض) نیوکه وکړه، ورته یې وویل: ((تاسې خو موږ په خپلو مړیو کې له ژړا منع کوئ؛ نو اوس څنګه په خپله ژاړئ ؟)).

ورته یې وویل: ((هېڅکله مې داسې نه دي ویلي، چې د خپلو مړیو په ویر کې مه ژاړئ؛ ځکه دا ژړا د مینې نښه ده او څوک چې له نورو سره مینه نه کوي؛ نو الله به ورسره مینه و نه کړي او ما درته ویلي، چې ژاړئ خو چغې او سورې مه وهئ او جامې او وېښته مو مه شلوئ او په ویر کې داسې خبرې مه کوئ، چې پر الله نیوکه او یا کفر وي او الله له ځانه خپه کړئ.))

د الله استازي (ص) نه یوازې له خپلو زامنو او ماشومانو سره مینه کوله؛ بلکې په نوم له ماشوم سره یې مینه کوله او سربېره پردې د هغوی درناوی یې هم کاوه. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم (ص) ناست و، چې حسن او حسین را ننوتل، ورپاڅېد او د ماشومانو د را رسېدو په تمه شو ماشومان په تګ کې غښتلي نه وو؛ نو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په خپله ورمخکې شو او په غېږ کې یې راواخستل او پر اوږو یې سپاره کړل او را روان شو او پر هماغه حال یې وویل: ((ګرانو زامنو! څومره ښه سپرلی لرئ او څومره سپاره یاست.))

د الله استازی (ص)، چې به له سفره راستون شو؛ نو په لار کې ماشومان مخې ته ورتلل؛ نو درناوي ته یې تمېده او ځینې یې په غېږ کې اخستل، ځینې یې پر اوږو سپرول او خپلو اصحابو ته یې سپارښتنه کوله، چې تاسې هم داسې وکړئ، چې ماشومانو ته د الله د استازي دې کار خورا خوند ورکاوه او هېڅکله یې دا وخت نه هېراوه.

ځینو میندو خپل ماشومان د "دم" لپاره رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته راوستل، کله داسې هم کېدل، چې ماشومانو پرې متیازې کولې، چې په دې کار یې میندې خپه کېدې؛ خو د الله استازي ورته ویل: مه خپه کېږئ، خیر دی که جامې مې ناولې شوې پاکې به یې کړم، ویل یې: له ماشومانو سره مو مینه وکړئ او ورسره کړې ژمنه مو پوره کړئ او الله په هېڅ څه دومره نه خپه کېږي؛ لکه څومره چې پر ښځو او ماشومانو خپه کېږي.

امام صادق (رح) وایي: یوه ورځ د الله استازي خلکو ته د ماسپښین د لمانځ جمعه ورکوله، چې هغه مبارک دوه روستي رکعتونه رالنډ کړل او لمونځ یې ژر پای ته ورساوه، تر لمانځه روسته اصحابو

رسول الله ددې چار په هکله وپوښت، و يې ويل: ((د ماشوم ژړا او چغې مو وا نه ورېدې ؟)) د ماشوم مور هم په جمعه کې وه، چې په درېيم رکعت کې ماشوم په ژړا شو؛ نو رسول الله (ص) ددې لپاره لمونځ چټک کړ، چې مور ژر خپل ماشوم ته ورشي.

پاک نبي (ص) وايي: ماشومان مې د پينځو ځانگړنو له لامله خوښ دي: ړومبی داچې ډېر ژاړي او ژړنې سترگې د جنت کونجي ده. دويم داچې په خاورو کې لوبې کوي (کبرجن نه دي). درېيم داچې يو له بل سره جنگ کوي؛ خو ژر پخلا کېږي او په زړونو کې يو له بل ته کينه نه ساتي. څلورم داچې څه د سبا لپاره نه زېرموي (؛ ځکه اوږدې هيلې نه لري). پينځم داچې کور جوړ کړي او بېرته يې وران کړي (پر څه زړه نه تړي).

د الله د استازي د ماشومانو ارواپوهنې ته خورا پام و او د انجلۍ د حساسيت او د روح د ظرافت له لامله يې ويل، چې لونړ ته مو ډېر پام وکړئ او که اولاد ته مو ډالۍ اخلئ؛ نو ړومبی يې لور ته واخلئ.

کورنۍ يې په هکله وايي:

۳۸۱_ واده نبوي سنت دی:

حضرت علي (ک) وايي: واده نبوي سنت دی؛ ځکه رسول الله (ص) وويل: څوک غواړي، له سنتو مې لاروي وکړي؛ نو واده زما سنت دی.

۳۸۲_ د الهي پېغمبرانو سنت:

محمد بن فلاد وايي: وا مې ورېدل، چې امام رضا (رح) وويل: عطر وهل، د بدن اضافه وېښتان له منځه وړل او له خپلو ښځو سره ډېر کوروالی، د پېغمبرانو اخلاق دي.

۳۸۳_ له مېرمنو سره چلن:

حضرت علي وايي: د رسول الله (ص) ځينو يارانو له خپلو ښځو سره کوروالی، خواړه او ورسره د شپې ويديدل پر ځان حرام کړي ول. ام سلمې بي بي دا خبره رسول الله ته وکړه، چې رسول الله (ص) ورپسې ورغی و يې ويل: مېرمنو ته مو لېوالتيا نه لرئ، زه چې پېغمبر يم، له خپلو مېرمنو سره کوروالی کوم، د ورځې خواړه خورم او د شپې ويدېږم، چې سنت ته مې شا کړي، له ما څخه نه دی.

۳۸٤_ له مېرمنو سره خبرې:

امام صادق (رح) وايي: له خپلو مېرمنو سره مينه د الهي پېغمبرانو اخلاق دي.

۳۸۵_ د رسول الله (ص) د سترگو رڼا:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) وويل: لمونځ مې د سترگو رڼا او خوند مې په مېرمنو کې دی.

۳۸٦_ تر واده مخکې له مېرمن سره کتل:

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم چې له کومې ښځې سره واده؛ نو لومړی یې لیدو ته یو کس ورلیږه.

۳۸۷_ د انسان هوساینه:

حسن بن بنت الیاس وایي: امام رضا (رح) وویل: الله شپه او ښځه آرام ته پنځولي او په شپه کې واد کول او خواړه ورکول سنت دي.

۳۸۸_ د سر خریلو سنت:

هارون بن مسلم وایي: صاحب الدار[امام مهدي] علیه السلام ته مې ولیکل: په کور کې مې ماشوم شوی، سر مې ورته وخرواه، د وزن هومره مې یې درهم صدقه کړل؛ نو د لیک په ځواب کې راغلل: د ماشوم د ویښتانو وزن ورکول یوازې له سرو او سپنوزرو سره جایز دي، چې پخپله دا کار سنت دی.

۳۸۹_ د ماشوم عقیقه:

حضرت علي (ک) وویل: ماشوم مو چې د اوو ورځو شو؛ نو عقیقه یې وکړئ او د ویښتانو د وزن هومره یې مسلمانانو ته سپین زر ورکړئ؛ ځکه رسول الله (ص) د خپلو زامنوحسن اوحسین لپاره هم داسې وکړل.

۳۹۰_ غوره خلک:

رسول الله (ص) وایي: ((پوه شئ! تر ټولو غوره مو هغه دی، چې پر خپلو مېرمنو لوراند وي او زه درکې تر ټولوغوره یم.))

۳۹۱_ تر ابراهیم هم غیرتي یم:

رسول الله (ص) وایي: پلار مې ابراهیم غیرتي و، چې زه تر هغه هم غیرتي یم.))

۳۹۲_ پر لار د تګ آداب:

امام صادق (رح) د حضرت موسی علیه السلام د کیسې په باب، چې د حضرت شعیب علیه السلام لور ته یې وویل: په ما پسې راروانه شه او لار راوښیه؛ ځکه موږ پېغمبران داسې خلک یو، چې د ښځو شا ته نه ګورو.

۳۹۳_ د متعې یا لنډ مهالې نکاح پر سنت عمل:

بکر بن محمد وایي: امام صادق (رح) مې د متعې په باب وپوښت: و یې ویل: خوښ نه یم یو مسلمان له دنیا ولاړ شي او د رسول الله (ص) پر یو سنت یې هم عمل نه وي کړی.

۳۹٤_ د ولیمې ورکولو سنت:

امام رضا (رح) وایي: چې نجاشي د رسول الله (ص) لپاره د ابوسفیان پر لور ام حبیبې مارکه وکړه او ور واده یې کړه؛ نو خواړه یې چمتو کړل، و یې ویل: د پېغمبرانو یو سنت په ودونو کې خواړه ورکول دي.

۳۹۵_ دوخت په ویش کې دعا:

چې رسول الله (ص) پر خپلو مېرمنو وخت ایشه نو دا دعا یې کوله: خدایه! دا هغه برخه ده، چې په واک کې مې وه نو پر هغه څه مې ملامت نه کړې، چې په واک کې مې نه دي او ته یې څښتن یې .

۳۹٦_ په مېرمنو کې عدالت:

حضرت ام سلمه بي بي وايي: د حجة الوداع په سفر کې د رسول الله (ص) مېرمنې هم ورسره وې او هره شپه له يوې سره و او له دې لارې يې غوښتل په منځ کې يې پر عدالت چلن وکړي.

۳۹۷_ د ټولو مېرمنو کتل:

رسول الله (ص) د سهار تر لمانځه روسته د خپلې هرې مېرمنې کتو ته ورتله.

۳۹۸_درې حلالې لوبې:

حضرت علي (ک) له رسول الله (ص) روايتوي: ((درې لوبې حرامې نه دې: له ليندئ سره لوبې، د ښوونې لپاره له اس سره لوبې او له مېرمنې سره لوبې، چې سنت دي.))

۳۹۹_ پر وخت پابندي:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم که رنځور هم و نو ويل يې: د هرې مېرمن وار مې، چې وي، ورته مې بوځئ.

۴۰۰_ ميمونه بي بي وايي:

حضرت ميمونه بي بي وايي: رسول الله (ص) د مياشتنۍ جامو په وختونو کې راته، ويل يې: چې لنګ وتړم او ورسره سملم.

۴۰۱_ د ښځو د استازي مهريه:

د آنحضرت(ص) د مېرمنو او لوڼو مهريه تر دولس اوقيه او له يو نش زياته نه وه او ورپسې يې وويل: ((اوقيه له څلوېښت درهمو او نش له ۲۰ درهمو سره انډول دی.))

۴۰۲_ د رسول الله (ص) دعا:

خدايه! پناه درووړم، له هغه زوی، چې حکومت راباندې وکړي، هغه مال چې تباه مې کړي او له هغې مېرمن، چې زوړ مې کړي.

۴۰۳_ پر ماشوم نامه ايښوول:

امام رضا (رح) وايي: په موږ اهل بيتو کې، چې ماشوم وشي؛ نو د اوو ورځو لپاره ورته د محمد نوم اخلو تر اوو ورځو روسته که مو غوښتل هماغه نامه ورته اخلو ګنې بل؛ نوم پرې ږدو.

۴۰۴_ د مينې لاس:

آنحضرت(ص) سهار پر خپلو زامنو د مينې لاس راکښوده.

۴۰۵_ د واده پر شپه د تکبير سنت:

امام صادق (رح) وايي: د حضرت فاطمې او حضرت علي (ک) د واده پر شپه جبرائيل، مکائيل او اسرافيل له اسمانه راکوز شول او بيا يې تکبير او الله اکبر وويل؛ ځکه د واده پر شپه د الله اکبر ويل تر قيامته سنت شو.

۴۰۶_ ماشومانو ته د کجورو ورکول:

حضرت علي (ک) وايي: ماشومانو ته مو چې د لومړي ځل لپاره خواړه ورکوئ؛ نو کجوره ورکړئ؛ ځکه د خدای رسول امام حسن او حسين ته هم داسې کړي ول.

۴۰۷_ اوه سنتونه:

امام صادق (رح) وايي: ماشوم، چې وزيږيږي؛ نو اوه څيزونه يې سنت دي:
۱_ نوم ايښوونه. ۲— د سر وېښتان خرېل. ۳—که شونې وه نو د سر د ويښتو د تول هومره يې سره يا سپين زر ورکړئ. ٤— عقيقه کول. ۵—پر سر ورته زعفران موږل. ٦_ سنتول. ۷—له عقيقې سره گاونډيانو ته خواړه ورکول.

۴۰۸— د ماشوم سنتول:

رسول الله (ص) وايي: نر ماشومان سنتول سنت او ماشومانو ته کرامت دی.

۴۰۹_ د غوږ سوري کول:

امام صادق (رح) وايي: د ماشوم غوږ سوری کول او پر اوومه ورځ يې سنتول سنت دي.

۴۱۰_ د امامانو د زامنو پاکوالی:

محمد بن زياد وايي: چې امام رضا (رح) وزيږېد؛ نو له امام موسی کاظم مې واورېدل، چې و يې ويل: دا زوی مې سنت او پاک سوتره دنيا ته راغلی او ټول امامان پاک او سنت شوي دنيا ته راغلي، و يې ويل: خو موږ د حضرت ابراهيم او رسول الله (ص) د سنت پر ځای کولو لپاره د ماشوم سر خروو.

۴۱۱_نېکه کنيه:

امام باقر (رح) وايي: موږ اهل بيت پر خپلو ماشومانو ښه کنيه ږدو، چې څوک پرې بد نوم کېنږدي.

۴۱۲_ د کنيه سنت:

سنت دي، چې پر انسان د پلار له نامې کنيه کېږدي.

۴۱۳_ لمانځه ته هڅونه:

امام صادق (رح) وايي: زموږ د اهلبيتو ماشومان، چې پينځه کلن شي؛ نو حکم ورکوو، چې لمونځ وکړي؛ نو ستاسې اولاد هم، چې اوه کلن شو؛ نو ورته ووايئ، چې لمونځ وکړي او زموږ د اهلبيتو ماشومان، چې اوه کلن شي؛ نو ورته وايو، چې نيمه ورځ روژه ونيسي او ورته وايو، که وږی يا تږی شو؛ نو روژه دې ماته کړي؛ ځکه چې له روژې نيوو سره روږدي شي او ستاسې اولاد هم که نهه کلن شو؛ نو ورته ووايئ، چې روژه ونيسئ او چې وږی شوئ؛ نو ماته دې يې کړي.

۴۱٤_ د لمونځ کولو حکم:

پراهل بيتو، چې تنگسه راتله؛ نو رسول الله (ص) به ويل: ((پاڅئ او لمونځ وکړئ؛ ځکه الله د دې کار دنده راکړې او وايي: خپل اهلبيت دې لمانځه ته راوبله او صبر پرې وکړه او موږ له تا روزي نه غواړو، چې همدا ته روزي رسان يې او پوه شه، چې ښه راتلونکې د پرهېزگارانو ده.

۴۱۵_ د اورمېږ بويول:

آنحضرت(ص)، چې له کومې ښځې سره واده؛ نو خپلې يوې ښځې ته يې ويل: ولاړه شه او اورمېږ يې بوی کړه، که اورمېږ يې ښه بوی درلود نو د بدن خوله به يې هم پاکه وي.

٤١٦_حضرت خديجې(رض) ته ښېښنه غوښتنه:

آنحضرت (ص)، چې به خديجه(رض) رایاده کړه؛ نو پر نېکۍ يې يادوله، دعا يې ورته کوله او ستايله يې.

٤١٧_ اهل بيتو ته د الله ځانګړي نعمتونه:

رسول الله (ص) وايي: ((موږ اهل بيتو ته اوه څيزونه راکړل شوي، چې پخوانيو ته نه دي ورکړل شوي او نه به چاته ورکړل شي: په زړه پورې څېره او ورين تندی، په کلام کې وضاحت او بلاغت، مړانه، زړه ورتوب، ځوانمردي، علم، سخاوت، زغم او حکمت او له خپلو مېرمنو سره مينه.))

## د رسول الله (ص) د خوراک څښاک آداب

د الله نبي له وږوکتوبه ګېډور نه و او د نورو ماشومانو په څېر نه و؛ بلکې په خورا لږو خوړو يې ګوزاره کوله؛ لکه څنګه چې په سيرتونو کې راغلي: همداچې له خوبه راپاڅېد؛ نو د زمزم له چينې به يې يو ګوټ اوبه وڅښلې او چې د غرمې ډوډۍ ته به راوبلل شو؛ نو ويل يې: وږی نه يم! که په وړوکتوب کې وو او که په ځوانۍ کې، هېڅکله يې د لوږې او تندې خبره و نه کړه[1].

امام صادق (رح) وايي: ((پر پيغمبر (ص) له لوږې او له خدايه د وېرې هومره هېڅ هم ګران نه وو.))

حضرت علي (ک) (ک) وايي: ((د الله استازي ته وګورئ، چې په دنيا کې تر ټولو ډنګر او په نس تر ټولو وږی و، په وږې نس روغ له دې نړۍ اخرت ته ولاړ، هېڅکله يې د مړې ګېډې ارګې و نه کړ، چاته يې تمه نه درلوده او کله به يې له ډېرې لوږې تيره پر نس تړله. هر خواړه چې ورته کېښوول شو؛ نو نه يې پکې نه کوله.))

يوه ورځ عايشې بي بي (رض) وپوښت: ولې کله هم د يوه وږي په څېر خوراک نه کوئ ؟ ورته يې وويل: ((عايشې! اولوالعزم ورونه مې تر ما مخکې تللي او لوی څښتن کرامتونه ورکړي، وېرېږم که تنعم وکړم او ترې مې درجه ټيټه شي او ټوله خوښي مې داده، چې له اولوالعزمه ورونو سره مې يو ځای شم.))

حضرت ابن جحيفه (رض) وايي: يوه ورځ مې د الله د استازي (ص) په مخ کې د مړې ګېډې ارګې واچول. رسول الله را ته وويل: کم ارګې (لږه خوره) اچوه او څوک چې په دنيا کې له حده اوختی موړ ويده شي؛ نو په آخرت کې به وږی وي. لږ خواړه روغتيا راوړي او ډېر خواړه د بدن او زړه رنځ[2].

[1] (سيره حلبي ۱۳۸/۱)

[2] ((پښتانه وايي: "لږ خوره، تل خوره. ډېر خوره، زهر او ګنده‌ېر خوره" او بلخوا: زه خو حيران دې ته يم، چې د رسول الله مبارک په کومې خبرې پسې په طب کې وګرځم؛ ځکه هغه خو د زړونو طبيب و او د انسانانو لپاره يې ټولې وقايوي او طبي خبرې د حقيقي طبيب له اړخه راوړې وې. نن که چېرته هم ولاړشئ؛ نو لږ تر لږه يو داسې کس به پيدا نه کړئ، چې يا په خپله د شکرې، فشار او يا زړه په ناروغۍ نه وي اخته او يا يې په کورنۍ کې څوک نه وي اخته، چې ددې درې واړو ناروغيو يو لامل هم هماغه دی، چې ګران نبي ورته هغه وخت اشاره کړې وه؛چې ددې ټولو ناروغيو رابرسېره کوونکې او لمبه ورکوونکې؛ risk factors & predisposing factors) لامل چاقي ده، چې چاقي په خپله د وينې د غوړو د زياتېدو لامل ګرځي، چې په خپله د مغزو (CVA) او زړه د سکتې MI)) لامل ګرځي. رګونه تنګوي، چې تصلب شرايين ورکوي او په طب کې چاقۍ ته د مرضونو مور ويل کېږي، چې

د الله د استازي وينا ده: ((خپل زړونه په ډېرو خوراک څښاک مه وژنئ، چې زړه د ګل په څېر دی، که اوبه پکې ډېرې شوې؛ نو مړاوی به شي [1])).

نبوي حديث دی: په تاسې کې تر ټولو فاضل او الله ته ورنږدې هغه دی، چې اندنه او لوږه يې اوږده وي او هغه د الله دښـمن دی، چې خوب او خواړه يې ډېر وي [2])).

يو لامل يې ډېر خوراک او لټي ده، څه چې هم اسلام او هم ترې د خدای استازی په کلکه کرکجن و؛ لټي وه، چې په خپله همدا هم تر ليلا او مجنونه اوږده کيسه لري، چې ددې کتاب د ژباړې له حوصلې بهر ده او بيا همدا اسلام دی، چې وايي: خيرالامور اوسطها؛ يعنې غوره لار منځ لاري ده او په طب کې هم د پورتينو ناروغيو د وقايې او درمل لپاره پوه ډاکټران د ناروغانو ژوند منځ لاری ته اړباسي؛ يعنې خوره؛ خو ځان مه پړسوه؛مالګه خوره؛خو مناسبه، غوړ خوره؛خو مناسب، کار کوه؛خو حرص مه خوره او... سپينه خو داده، چې د اسلام ټول احکام د انسان د بدن د فيزيولوژۍ له مخې وضع شوي او لنډه بېلګه يې همدا د شکرې، د زړه او د ماغزو د سکتو ناروغان دي، چې چاقي، لټي، حرص، په زړه کې کينې او حسادت دې ځای ته رارسولي دي. هغه وايي: از ګپ ګپ مې برايد. د حسادت خبره شوه. د خدای استازی وايي: حسادت انسان له دننه داسې سوځوي؛لکه اور چې وچه پاڼه سوځوي چې بيا د "اروا پوهنې" په علمي کتابونو کې راغلي، چې حسادت، کينه او هر هغه څه چې په تاسې کې د نورو پر خلاف منفي انرژي جوړوي، په بدن کې د ازادو راډيکالونود ازادېدو او ډېرېدو لامل ګرځي او ازاد راډيکالونه د بدن لپاره تر زهرو هم بدتر دي؛ نو په پايله کې ددې ازادو راډيکالونو يوه منفي پايله د عمر کمېدل دي (هماغه د رسول الله خبره: انسان له دننه سوځوي) دې وييني ته به همدلته د پای ټکی کېږدو چې له اصلي موضوع لرې ولاړ نه شو)

[1] (د زړه په ناروغيو کې د CHF او د ششونو په ناروغيو کې د PULMUNARY EDEMA او د وينې د فشار ناروغي په همدې مېکانزم را منځ ته کېږي، چې د رسول الله مبارک په ويناو کې ورته اشاره وشوه؛خو هغه مبارک په هغه وخت کې په داسې ټکيو دا خبره خلکو ته کړې وه، چې د هغه وخت د خلکو سر پرې خلاص او بيا همدا خبره د داخلې او د زړه د ناروغيو کتابونو په نورو ټکيو کوي، چې د((دو پانزده يک سي ميشه)) خبره ده؛يعنې په بدن کې هر ډول مايعات د ډېروالي له امله جمع کېږي، چې زړه يې د پمپ کولو وس نه لري او په پايله کې د بدن مايعات نورو ځايونو ته ځي، چې يو يې هم سګي دي، چې په پايله کې انسان له ساه اخستو غورځوي، چې دا دواړه ناروغۍ انسان له پښو غورځوي او که ناروغ په بېړنۍ توګه له دې حالته را و نه ايستل شي؛نو مړ به شي)).

[2] (ګرانو لوستونکيو! هغه وايي: چې ځې ځې ځې؛نو ابازو ته به راځې. علم او نوې پوهه که څومره خواري هم وکړي؛نو پايله يې د تجربې له لارې، هغه څه جوتول دي، چې اسلام ويلي دي. د رسول الله په پورتني حديث کې د انډوکراين د فيزيولوژۍ له مخې د انسولين او د انسولين د هورمون د مخالفو هورمونونو مکانيسم او کار ته اشاره شوې، چې په طب کې ورته contra regulatory hormones′ of insulin ويل کېږي، چې هغه ټول هورمونونه د شکرې د ناروغۍ په منځ ته راتګ کې ونډه لري. پاک نبي په خپله وينا کې د تفکر خبره رامنځ ته کړه، چې تفکر په ماغزو کېږي او د ماغزو يوازينۍ خواړه ګلوکوز دي، چې د انسولين اصلي دنده دا ده چې ګلوکوز حجرو ته د سوځېدو لپاره ور دننه کړي او چې کله د انسولين د کمبود له امله او يا داچې د انسولين پر وړاندې په حجرو کې د رسپټورونو مقاومت پورته شو؛نو ګلوکوز په وينه کې

نبوي حديث: اندنه که نيم عبادت وي؛ نو لږ خوړل ټول بشپړ عبادت دی.
نبوي حديثونه دي: ((نس ډېر مه ډکوه، چې په زړه کې دې د معرفت رڼا له منځه وړي [1])).
((چاچې نس ډېر ډک کړ؛ نو داسمانونو ملکوتونو ته به ورپرې نه ښوول شي)).
په اسلامي زده کړو کې د خوړو لپاره ۳۰ حکمونه دي، چې تر ټولو ړومبی يې حلالوالی دی، چې په دې هکله رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وايي: ((چې حرام خواړه د انسان نس ته ورننوځي؛ نو تر هغې چې خواړه يې په نس کې وي، پرښتې به پرې په ځمکه او اسمانونو کې

---

ډېرېږي، چې ورته د شکرې ناروغي وايي؛نو تفکر دی، چې ماغزه فعالوي او کارنده-فعال ماغزه گلوکوز غواړي، چې په دې مکانيسم له يوه اړخه د شکرې له ناورغۍ مخه نيسي، چې په خپله نن يې د بشريت د روغتيا گرېوان ته لاس وراچولې دی او بلخوا نويو څېړنو ښوولې، هغوی چې په ځوانۍ کې له خپلو ماغزو په سمه او فعاله توگه کار اخلي؛ نو دهغوی په پر تله، چې له ماغزو لږ کار اخلی، د "آلزايمر" په نامه پر ناروغۍ په لږه کچه اخته کېږي؛نو له همدې امله دي، چې قرآن وايي: "فاذا فرغت فانصب"؛يعنې بېکاره مه کېنئ او تل مو د ماغزو او بدن د کارولو لپاره يو څه ور اچوئ.
په پورتني حديث کې لوړې، ډېرو خوړو او لږو خوړو ته اشاره شوې، چې په خپله لوږه په انسان کې د Growth Hormone په نامه يو هورمون افرازوي، چې په بدن کې گلوکوز له ذخيرو راباسي او حجرو ته يې ته ورسپاري، چې که په بدن کې همدا ذخيره گلوکوز و نه سوځي؛ نو پر غوړو بدلېږي، او پورته مو ورته اشاره وکړه، چې د وينې او د بدن د غوړو ډېروالی پر انسان څه بلاگانې راوړي، بلخوا که د انسان خوب هم ډېر شي؛نو نوموړی هورمون افرازېږي، چې که په مقابل کې انسولين را ونه پارېږي او يا دا چې انسان فعاليت و نه کړي؛نو په بدن کې يې گلوکوز ډېرېږي؛نو هم ډېر خواړه او هم ډېر خوب دواړه د ((ودې)) د هورمون د ډېرېدو او په پايله کې د بدن د گلوکوز د ډېرېدو لامل گرځي، چې په خپله د بدن د گلوکوز ډېروالی لږ تر لږه پر لاندې غړيو ناوړه اغېز او کله خو يې له کاره هم غورځوي: سترگې، زړه، پښتورگي، د انسان محيطي اعصاب، چې پکې د سړي جنسي ځواک ته هم گواښ را منځ ته کېږي او د پښو بېلابېل زخمونه، چې پايله کې يې د پښې په بېخ کې غوڅېدل دي؛ نو که څوک د رسول الله مبارک پر دې حديث عمل وکړي؛ نو گورئ، چې خپل څومره غړي يې له کاره غورځېدو ژغورلي دي؛نو گرانو باور وکړئ، چې د شکرې ناروغي بده ناروغي ده او کړای شو په اسلامي کړن لاره ترې مخنيوی او درملنه يې وکړو.))
[1] لږ تر لږه په پورتنۍ شرحه کې مو د فيزيولوژۍ د علم په رڼا کې جوته کړه، چې دين له علم سره په تضاد کې نه دی، گورو چې ډېر خواړه پر انسان څومره بلا گانې راوړي؛نو همدا دين دی، چې وايي تاسې لږ وخورئ؛يعنې د خپلې روغتيا پام مو وساتئ؛نو موږ به درته دا کار په عبادت کې وشمېرو؛خو سره له دې ټولو خبرو دا سمه نه ده، هر څه چې ساينس جوت کړل؛نو يوازې هماغه به سم او پر ځای وي؛بلکې علم لا تر اوسه دومره وزلي او ځواک نه لري، چې هر څه او په تېر بيا، ديني او الهي احکام جوت کړي؛نو د هغې ورځ په هيله، چې علم دومره پر مختگ او اوازار لاس ته راوړي، چې د حقيقي طبيب ټولې خبرې پرې جوتې کړای شي او هغه ورځ لرې نه ده، چې بشر به دې پايلې ته ورسي. انشاء الله)

لعنت وايي، دا بنده به د الله له نظره وغورځي او الله به ځان ته غوسه کړي.))
بله پاموړ خبره خو داده، مسلمان نه یوازې حق نه لري، چې حرام وخوري؛ بلکې حق نه لري هغه خوړو ته کېني، چې بلنه يې نه وي ورکړه شوې.
په مدينه کې يو ټبر رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له پينځه يارانو سره مېلمه کړ. د الله استازي (ص) يې هم بلنه ومنله. دې مېلمستيا ته د تګ پرمهال يې يو بل يار هم ورسره شو او مېلمستيا ته ولاړ؛ نو چې د کوربه کور ته ورسېدل؛ نو رسول الله (ص) ورته وويل: دې خلکو نه يې رابللی! دلته کېنه، چې له هغوی دې د ننووتو اجازه وغواړم.
امام صادق (رح) وايي: ((څوک چې هغه خواړه وخوري، چې ورته بلل شوی نه وي؛ نو د دوزخ د اور ټوټه به يې خوړلې وي.))
الله په قرآن پاک کې هغوی سخت رټلي، چې بې له اجازې به د الله د استازي کور ته ورننووتل او خوړو ته به کېناستل او د خپل استازي لويه سينه يې ستايلې، وايي:
((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلاَّ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانتَشِرُوا وَلاَ مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنكُمْ وَاللَّهُ لاَ يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهنَّ مَتَاعاً فَسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذلِكُمْ أَطْهَر لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلاَ أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْدِهِ أَبَداً إِنَّ ذلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيماً[1]=
مؤمنانو! د پېغمبر کورونو ته مه ننوځئ خو داچې خوراك ته وبلل شئ خو (تر وعدې مخکې مه ځئ، چې) د خوړو په تمه کېنئ خو چې کله وبلل شوئ، ننوځئ او چې خواړه مو وخوړل؛ نو خپاره شئ او (تر خوړو روسته) پر خبرو مه بوختېږئ، په واقع کې ستاسې دا کار پېغمبر ربړوي؛ خو له تاسې شرمېږي (او څه نه وايي) خو الله د حق (له ويلو) نه شرمېږي او چې کله له هغوی (= د پېغمبر له ښځو) کوم څيز غواړئ؛ نو د پردې تر شا يې وغواړئ، چې دا کار ستاسې او د هغوی د زړونو د سپېڅلتيا او پاکۍ لپاره غوره دی او تاسې حق نه لرئ، چې "رسول الله (ص)" وځوروئ او په مطلق ډول او د تل لپاره (نه ښايي) چې (تر مړينې) روسته يې له مېرمنو سره نکاح وکړئ ځکه دا کار د الله په نزد ستره (ګناه) ده.
په دې آيت کې له "حق" څخه مراد همدا دی، چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ستاسې پردې کار خپه کېږي او

[1] (احزاب/٥٣)

همدا له حق څخه مراد هماغه دی، چې خلکو ته يې يادونه وشوه [1].

تر خوړو مخکې د اسلام ړومبی حکم د لاسونو وينځل دي او سپارښتنه شوې، چې د خوړو لپاره مو لاسونه ووينځل؛ نو بيا يې په لاسپاک مه وچوئ.

صفوان جمال وايي: يوه ورځ له امام صادق (رح) سره وو، چې خادم يې د لاسونو وينځلو اوبه او لاسپاک راوړ خو امام صادق (رح) لاسپاک ونه منه او و يې ويل: ((لاس مو له لاسپاکه وينځلی دی [2]))؛ يعنې لاس مې له هغه چټليو وويڼځه، چې په لاسپاک کې دي.

نبوي حديث دی: ((چې د خوړو لپاره مو لاسونو ووينځل؛ نو لامده لاسونه مو پر سترګو راکاږئ، چې دا کار به مو سترګې له خوږه وساتي)).

رسول الله، حضرت علي (ک) ته وويل: علي! تر خوړو مخکې "بسم الله" او تر خوړو روسته "الحمدالله" وايه، چې پر اوږو ناستې پرښتې دې د خوړو پرمهال له ثواب ليکلو بېکاره پاتې نشي. خواړه د مالګې په خوړو پيل او د مالګې په خوړو پای ته ورسوه، چې مالګه د اويا رنځونو درمل ده، چې ځينې يې لېونتوب، خوړونکی، پيس، د ګېډې او غاښ خوږ دی.

رسول الله مبارک پر کيڼ لاس خوراک څښناک مکروه کړی او د تګ پرمهال يې خوړل منع کړي دي.

امام صادق (رح) وايي: د تګ پرمهال څه مه خورئ خوچې مضطر يا پرېشانه ياست.

حضرت علي (ک) وايي: هر مهال يې، چې درته تاوده؛ خواړه راوړل؛ نو صبر وکړئ، چې ساړه شي؛ ځکه د الله رسول ته چې يې تاوده؛ خواړه راوړل؛ نو ويل يې: پرېږدئ، چې ساړه شي، الله خو څه اور موږ ته نه دی روزي کړی او برکت په سړو خوړو کې وي او تاوده؛ خواړه برکت نه لري.

د الله رسول وويل: ((خوړو ته پوکی ورکول يې برکت له منځه وړي.))

حضرت علي(ک) وايي: يوازې د لوږې پرمهال خواړه وخورئ، خواړه ښه وجوئ او تر مړښت مخکې له خوړو لاس واخلئ.

يو سړي رسول الله وپوښت: خواړه خورو خو نه مړېږو. ورته يې وويل: کېدای شي يو ځای خواړه نه خورئ، ټول يو ځای خوړو ته کېنئ او د الله په نامه مو خواړه پيل کړئ؛ نو په خوړو کې مو برکت راشي.

---

[1] (الميزان تفسير ۳۲ / ۲۲۰).

[2] (مکارم الاخلاق، ۲٦٥ مخ)

د دسترخوان شاوخواته ډېر کېناستل، په کلار کلار خوړل، تر خوړو مخکې په اوبو د مېوې وینځل مستحب دي؛ خو د خوړو پرمهال یو بل ته کتل، پر هغه هڼوکي خوله وهل، چې غوښه پرې نه وي پاتې، د مېوې پوټکی سپینول (خو د اړتیا پرمهال) او د نیم ځالي مېوې گوزارول مکروه دي.

کورنۍ یې په هکله وایي:

۴۱۸_ د څښتن استازي(ص) ته ګران څیزونه:

امام صادق (رح) وایي: د رسول الله (ص) ښه ایسیدل، چې تل وږی او له خدایه د وېرې په حال کې وي.

۴۱۹_ د غنمو ډوډۍ:

عیص بن قاسم وایي، امام صادق (رح) ته مې وویل: ستاسې د پلار یو حدیث دی، چې وایي: ((رسول الله (ص) د غنمو ډوډۍ په خوړو نه مړېده، دا روایت سم دی؟ امام وویل: نه! داسې نه ده، رسول الله (ص) کله هم د غنمو ډوډۍ ونه خوړه او روټه یې هم په مړه نس ونه خوړه.

۴۲۰_ د رسول الله (ص) زهد:

یهودي، حضرت علي (ک) وپوښت: خلک انګېري، چې حضرت عسیی بن مریم زاهد و؟! امام وویل: دا خبره سمه ده؛ خو رسول الله (ص) تر ټولو پیغمبرانو زاهد و؛ ځکه بې له وینځو یې دیارلس مېرمنې درلودې خو سره له دې په دسترخوان کې یې راټولولو ته ډوډۍ نه پاتېده، د غنمو ډوډۍ یې ونه خوړه او درې ورځې پرلپسې یې روټه هم ونه خوړه.

۴۲۱_ د رسول الله (ص) ساده ژوند:

حضرت علي (ک) وایي: په خپل پاک او سوتره پیغمبر پسې مو اقتدا وکړئ. و یې ویل: په هغوی کې تر ټولو وږی رسول الله (ص) و. بیا یې وویل: رسول الله (ص) وږی نس له دې دنیا ولاړ او روغ آخرت ته ورننووت.

۴۲۲_ د رسول الله (ص) استغفار:

آنحضرت (ص) کله هم په ډډه څه و نه خوړل، یوځل یې وخوړل، چې وریاد شو؛ نو و یې ویل: ((خدایه!زه دې بنده او استاړی یم.))

۴۲۳_ د مریانو په څېر کېناستل او خوړل:

زید بن شعام وایي، امام صادق (رح) وویل: له هغې ورځې، چې الله حضرت محمد پیغمبر کړ، تر مړینې یې پر ډډه ډوډۍ و نه خوړه، د مریانو په څېر کېناسته او د هغوی په څېر یې خوړل کول.

۴۲۴_ په ډډه یې خواړه و نه خوړل:

ابي خدیجه وایي: د امام صادق (رح) په غونډه کې ناست وم، چې بشیر بن دهان امام وپوښت: رسول الله (ص) په ښي یا کیڼ لاس د ډډې وهلو په حال کې خواړه خوړل ؟ امام: نه! و مې ویل: ولې: امام وویل: خدای ته د عاجزۍلپاره.

۴۲۵_ د رسول الله (ص) ساده ژوند:
امام باقر(رح) وايي: رسول الله (ص) پر خارو کېناسته، ويدېده او د مريانو په څېر يې خواړه خوړل او په څېر يې کېناسته.

۴۲۶_ د خوړو ادب:
رسول الله (ص) د خوړو پرمهال پښې راټولولې؛ لکه څنګه چې لمانځه ته کېناسته او کله به زنګون کېش هم کېناسته ويل يې: ((بنده يم او د بندګانو په څېر خواړه خورم او په څېر يې کېنم.))

۴۲۷_ د مريانو په څېر ناسته:
حضرت علي (ک) وويل: رسول الله (ص) به د سترخوان ته د مريانو په څېر کېناسته او پر کينې ورون يې ډډه وهله.

۴۲۸_ د مريانو مېلمستيا ته هم تله:
رسول الله (ص) پر ځمکه کېناسته، مېږې يې پخپله ترلې او ان سوکړک خوړو ته هم د مريانو مېلمستيا ته ورتله.

۴۲۹_ په تواضع خوړل:
اما صادق وايي: رسول الله (ص) د مريانوپه څېر کېناسته، لاس يې پر ځمکه ايښوده او پر درې ګوتو يې خواړ خوړل. امام وويل: رسول الله (ص) داسې خواړه خوړل او د کبرجنوپه څېر يې خواړه نه خوړل.

۴۳۰— د ګوتو ستل:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص)، چې خواړه خوړل؛ نو خپلې ګوتې يې ستلې.

۴۳۱_ انار يې ځان ته خوړ:
آنحضرت(ص)، چې انار خوړ؛ نو څوک يې له ځان سره نه شريکاوه.

۴۳۲— هر ډول خواړه يې خوړل:
آنحضرت (ص) هر ډول خواړه خوړل او هغه خواړه، چې الله ورته حلال کړي ول، له خپلې کورنۍ او چوپړيالانو سره يې خوړل او هر مسلمان، چې به مېلمه کړ؛ نو پر ځمکه او په هر ځای کې ورسره کېناسته او ورسره يې هر ډول خواړه خوړل، چې مخې ته يې ورته کېښوول، رسول الله (ص) ته غوره خواړه هغه وو، چې ډېرو خلکو يې په خوړو کې برخه اخسته.

۴۳۳— د خوړو پرمهال ادب:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص)، چې له يوې ډلې سره روژه ماتي ته کېناسته نو تر ټولو لومړی يې خواړه پيلول او تر ټولو روسته يې بس کول، ټول خواړه وخوري.

۴۳۴— روژه ماتی:
حضرت علي وايي: رسول الله (ص)، چې له يوې ډلې سره روژماتی وکړ، ويل يې: ((روژه تيانو درسره روژه ماتی وکړ او نېکانو مو خواړه وخوړل او غوره شويو پر تاسې درود ووايه.))

۴۳۵_ د شپې خواړه خوړل مه هېروئ:
حضرت علي (ک) وايي: پيغمبرانو د ماښوتن تر لمانځه روسته خواړه خوړل،

تاسې هم دا کار وکړئ، چې پرېښوول یې بدن ته زیان لري.

٤٣٦ــد کجورو خوړل:

امام صادق (رح) وایي: هر خواړه یې، چې له کجورو سره رسول الله (ص) ته کېښوول؛ نو په کجورو یې پیلول.

٤٣٧ــد خوړو پرمهال د خدای شکر:

رسول الله (ص) د دوو کپونو ترمنځ د الله شکر ایسته.

٤٣٨_ د کجورو زنې یې لرې ګوزارول:

رسول الله (ص)، چې به کجورې وخوړې نو زنې یې په لاس کې نیوول او بیا یې لرې ګوزارول.

٤٣٩_ شیدې غوړې لري:

آنحضرت(ص)، چې شیدې څښلې نو غړغړه کولې یې، ویل یې، شیدې غوړې لري.

٤٤٠_ د خولې خوږبویېدل:

وهب بن عبدربه وایي: و مې لیدل، چې امام صادق (رح) خلال کوي، و یې ویل: رسول الله (ص) هم خلال کاوه او دا کار خوله خوږ بویوي.

٤٤١ــ له هر څه سره خلال:

رسول الله (ص) بې د کجورې د ونې او بې له هغه ډکي، چې منځ یې تش و، نور پر هر څه یې خلال کاوه.

٤٤٢_ ځیګر درد:

رسول الله (ص) تر اوبو څښلو مخکې "بسم الله" ویله، اوبه یې رولې او پر یوه ساه یې نه څښلې ویل یې: ((پر یوه ساه اوبه څښل د ځیګردردۍ لامل دی.))

٤٤٣_ په پیل کې د الله نوم په پای کې د الله شکر:

آنحضرت(ص) اوبه پر درېیو ساګانوڅښلې او په پیل کې یې بسم الله او په پای کې یې د الله شکر کاوه.

٤٤٤_ پر دوو ساګانو اوبه څښل:

حضرت ابن عباس وایي: و مې لیدل، چې رسول الله (ص) پر دوو ساګانو اوبه وڅښلې.

٤٤٥_ له درده امان:

حضرت علي (ک) وایي: څوځل مې ولیدل، چې رسول الله (ص) پر درېو ساګانو اوبه څښې، په پیل کې یې بسم الله وایي او په پای کې د الله شکر کوي د دې کار علت مې ترې وپوښت، و یې ویل: ((علي! حمد د شکر په پار او بسم الله له درده د امان په پار وایم.))

٤٤٦_ د اوبو په لوښي کې ساه نه اخستل:

رسول الله (ص)، چې اوبه څښلې نو د اوبو په لوښي کې یې ساه نه اخسته او چې ساه یې اخسته؛ نو خوله یې له لوښي لرې کوله.

٤٤٧_ د اوبو دعا:

حضرت علي وايي : رسول الله (ص)، چې اوبه دمولې نو د اوبو لوښی به يې خولې ته رانږدې کړ او تر هغې يې نيوه، چې د الله خوښه وه، پکې يې دعا ويله خو کله يې هم په اوبو کې توکانې وانه چولې.

٤٤٨_د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم اوبو څښل:

حضرت علي (ک) پر ولاړه اوبه څښلې او يوه ورځ يې له اوداسه پاتې اوبه پر ولاړه وڅښلې، بيا يې امام حسن ته وويل: و مې ليدل، چې نيکه دې رسول الله (ص) هم داسې اوبه څښلې.

٤٤٩_ تازه او زړې کجورې:

امام رضا (رح) وايي: رسول الله (ص) به تازه کجورې د کجورو د ونې له شيرې سره يو ځای خوړې، ويل يې: پردې کار شيطان خپه کېږي، وايي: د آدم زوی دومره ژوندی پاتې شو، چې نوي او زاړه يې يوځای وخوړل.

٤٥٠_ د غوښې خوړل:

رسول الله (ص)، چې غوښه خوړه نو سر يې نه وراوړداوه؛ بلکې کپ يې خولې ته راوړه بيا يې ښه جوله او په تېره د غوښې تر خوړو روسته يې لاسونه ښه وينځل او بيا يې لوند لاس پر مخ راکښوده.

٤٥١_ هر ډول خواړه يې خوړل:

رسول الله (ص) هر ډول خواړه، خوړل.

٤٥٢_ خوښ خواړه:

آنحضرت(ص) هر ډول خواړه خوړل اوکجوره يې له بادرنګ سره خوړه، خربوزه او انګور يې خوښ ول، هندوانه يې له خربوزې او کله له بورې او کله له کجورې سره خوړه.

٤٥٣_ د رسول الله (ص) روژه ماتی:

رسول الله (ص)، چې روژه نيوه او روژه يې د کجورو د رسېدو پرمهال وه نو يوازې په کجورو يې روژه ماتوله، ډېری يې انګور دانه دانه خوړل او پنير يې هم خوړ، کجورې يې خوړلې او ورپسې يې اوبه څښلې.

د آنحضرت(ص) ډېری خواړه کجورې او اوبه وې، کجورې، شيدې اوحليم يې هم خوړ، غوښه او کدو يې هم خوښ ول او "دباء" نومی کدو يې هم خوښ و او خوښ و پر دسترخوان ايښې خوړو پسې لاس وراوږد کړي، د بېديا مېشتو څارويو غوښه، د مرغيوغوښه، پراټه، سرکه، چکني، غرنی ريحان او کلم يې هم خوړل.

٤٥٤_ له بادرنګ سره مالګه:

آنحضرت(ص) بادرنګ له مالګې سره خوړ.

٤٥٥—د مرغۍ د غوښې خوړل:

رسول الله (ص) به د ښکار شوې مرغۍ غوښه خوړه خو پخپله يې ښکار نه کاوه؛ خوښ و نور ورته ښکاره وکړي او راوړل شي.

٤٥٦— د ماهيچې غوښه يې خوښه وه:

حضرت علي (ک) وايي: د رسول الله (ص) د ماهيچې غوښه خوښه وه.

٤٥٧_ شات:

امام صادق (رح) وايي: د رسول الله (ص) شات خورا خوښ وو.

٤٥٧_ کجوره:

سليمان بن جعفر وويل، امام رضا (رح) ته ورغلم، چې ورته "برنی" کجورې ايښې وې او په خورا اشتها يې خوړې او بيا يې راته وويل: سليمانه! رامخکې شه او ته يې هم وخوره! زه هم وروړاندې شوم، و مې ويل: ځار دې شم! وينم، چې په ډېره مينه او اشتها دا کجورې خورئ، امام وويل: هو! زما کجورې خوښې دي. ورته مې وويل: ولې؟ امام: ؛ ځکه د رسول الله (ص) هم کجورې خوښې وې او همداراز د حضرت علي (ک)، حسن، حسين، امام زين العابدين او امام باقر(رح) او همداراز د امام صادق (رح) او خپل پلار مې هم، زموږ د ټولو کجورې ښه راځي او زموږ د لاروېانو هم کجورې ښه راځي؛ ځکه زموږ له خټې پيدا شوي دي او سليمانه! زموږ د دښمنانوشراب خوښ دي؛ ځکه خټه يې د اور له لمبو پيدا شوې ده.

٤٥٩_ خواږه:

امام صادق (رح) وايي: د رسول الله (ص) خواږه روټه وه، که پيدا به يې نه کړه؛ نو



خواږه يې کجورې وې او د کور خس يې د کجورو لښتې وې.

٤٦٠ـــانار خوړل:

عمربن ابان کليني وايي: وا مې وربېدل، چې امام باقر(رح) او امام صادق (رح) وويل: پر ځمکه تر انار د رسول الله بل څه نه ول؛ خوښ. پر الله قسم، چې انار يې خوړ، خوښ نه و څوک پکې شريک کړي.

٤٦١_ ډېر تاوده؛ خواږه برکت نه لري:

رسول الله (ص) ډېر تاوده؛ خواږه نه خوړل او صبر يې کاوه، چې ساړه شي او بيا يې خوړل، وايي: ((الله اور خوړو ته راکړی نه دی اوگرم خواږه برکت نه لري؛ نو خواږه مو ساړه کړئ.))

رسول الله (ص) تر خوړو مخکې بسم الله ويله او پر درې گوتو يې خواږه خوړل او د چا له مخې يې نه راخسته او پخپله مخه کې يې خوړل، چې خواږه به چمتو شول؛ نو آنحضرت(ص) تر ټولو مخکې پرې پيل کاوه او ورپسې به نورو پيلوله. په درېو گوتو يې خوړه، کله يې په څلورو گوتو خوړه او کله په ټول لاس خو په دوو گوتو يې څه و نه خوړل ويل يې: د شيطان خوړل په دوو گوتو دي.

٤٦٢_ د غوړيو او شاتو گډ خواږه:

يوه ورځ يې يارانو يو ډول خواږه راوړل، رسول الله (ص) ورسره وخوړه او بيا يې

وپوښتل: ((دا خواړه له څه جوړیږي؟))
وويل شول: له غوړيو او شاتو. و يې ويل: ((ښه خواړه دي.))

٤٦٣_ د نس زهر:

د نا چاڼو جوارو اوړو ډوډۍ يې خوړه[1]، کله يې هم د غنمو ډوډۍ ونه خوړه او يوه ورځ يې هم سوکړک په مړه و نه خوړ. تر مرگه يې پر رنگين دسترخوان خواړه و نه خوړل، هندوانه او انگور يې خوړل. کجورې يې خوړلې او زنيي يې مېړو ته وراچول، اوړه، پياز، تره او موم شوي شات يې نه خوړل. نه يې د کومو خوړو ستاینه وکړه او نه رټنه، که کوم خواړه يې خوښ وو، خوړل يې او که خوښ يې نه ول؛ نو نه يې خوړل خو د هغو خوړل يې پرنورو نه حرامول.

٤٦٤_ د خوړو د لوښي برکت:

د خوړو لوښی يې په گوتو پاکاوه ويل يې: ((په لوښي کې د پاتې خوړو برکت ډېر وي.))
خواړه يې چې وخوړل؛ نو درې وانه گوتې يې په يو بل پسې ستلې، روسته يې لاسونه وينځل او بيا يې څه نه خوړل.

٤٦٥_ فالوده نه خوړل:

امام صادق (رح) وويل: علي (ک) اوياران يې په "رحبه" کې ول، فالوده يې ورته راوړه. علي (ک) يارانو ته وويل: و يې خورئ! پخپله يې و نه خوړه، و يې ويل: راياد مې شول، چې رسول الله (ص) هم فالوده ونه خوړه نو زه يې هم نه خورم.

٤٦٦_لړې اوبه څښل:

امام صادق (رح) وويل: رسول الله (ص) به چې غوړ خواړه وخوړل، اوبه يې ورپسې لږې څښلې، رسول الله (ص) ته يې وويل: اوبه لږې څښئ؟ و يې ويل: ((غوړو خوړو ته لږې اوبه ښه وي.))

٤٦٧_ پاک لوښی:

د رسول الله (ص) ښه راتلل، چې په شامي جامونو کې اوبه وڅښي ويل يې: ((خورا پاک لوښي دي، چې درسره دي.))

٤٦٨_ په جام کې اوبه څښل:

رسول الله (ص) په شامي، د لرگيو، پوټکي او خټو په جامونو کې اوبه څښلې.

٤٦٩_ لاس تر ټولو پاک لوښی:

آنحضرت (ص) په لاس اوبه څښلې ويل يې: ((تر ټولو پاک لوښی لاس دی.))

٤٧٠_ د اوبو د ژې بدبويېدل:

---

[1]. نن په طب کې هم خورا ټينگار کېږي، چې د ناچاڼو اوړو ډوډۍ وخورئ؛ځکه د هاضمي غونډال له ډېری رنځونو او چنگاښونو مخنيوی کوي، په تېره هغوی چې شکررنځي دي، دا ډول ډوډۍ ورته خورا گټوره ده؛ځکه فايبر لري او له هاضمي غونډاله په ځغاسته وځي او په ډوډۍ کې د شته کاربوهيډارتو د ډېر گلوکوز له جذبه مخنيوی کوي؛همداراز دا چار له قبضيته هم مخنيوی کوي او هېر مو نشي، چې قبضيت د ډېری رنځونو لامل او زېږنده دی.

رسول الله (ص) د اوبو له لوی او کوشني ژي، چې "اودوه" يې ورته وايه اوبه څښلې خو د اوبو څښلو پرمهال يې د هغې خوله بهر ته نه کوله ويل يې، چې له دې لارې د اوبو بوی بدېږي.

۴۷۱_ د دورمو د اوبو څښل:

رسول الله (ص) د دورمو اوبه څښلې.

۴۷۲_ د څارويو حلالول:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د لوی اختر پر ورځ دوه غرني چېلي حلالول، چې يو سپين او بل تور و.

۴۷۳_ د دوو غرنيو چېلو حلالول:

آنحضرت(ص) د لوی اختر پر ورځ دوه غرني سيرلي حلالول يو ځان ته او بل د امت د بېوزليو له اړخه.

۴۷۴—د خوړو وخت:

رسول الله (ص) وايي: ((چې پوره وږي شوي نه يو، خواړه نه خورو او د خوړو پرمهال ځان پوره نه مړوو.))

۴۷۵_ د رسول الله (ص) خواړه:

حضرت ابن عباس(رض) وايي: ډېر پېښېدل، چې رسول الله (ص) څو شپې وږی پاتېده او ځان او کورنۍ ته يې د خوړو لپاره څه نه پيدا کېدل. بيا يې وويل: د رسول الله (ص) ډېری خواړه روټه وه.

۴۷۶_ د نه چاڼ شويو وړو ډوډۍ:

عايشې بي بي وويل: پر هغه الله قسم، چې محمد يې پرحقه مبعوث کړی، چې د رسول الله (ص) په کور کې غلبېل نه پيدا کېده او له هغې ورځې، چې پېغمبر شوی، تر مړينې يې د چاڼ شويو اوړو ډوډۍ و نه خوړه.

۴۷۷_ د دسترخوان له خوړو خوړل:

له حضرت انس بن مالک(رض) روايت شوي: رسول الله (ص) په غوري او غټ لوښي کې خواړه نه خوړل او د غلبېل شوي اوړو ډوډۍ يې هم نه خوړه، حضرت انس وپوښتل شو: رسول الله (ص) ته يې په څه کې خواړه اچول؟ و يې ويل: خواړه يې ورته پر دسترخوان ايښوول او خوړل يې.

۴۷۸_ د څښتن د استازي زهد:

حضرت عايشه بي بي(رض) وايي: و نه شول، چې رسول الله (ص) په ډېرو خوړو نس ډک کړي.

۴۷۹_ د پېغمبراکرم (ص) زهد:

امام باقر(رح)، محمد بن مسلم ته وويل: محمده! له هغې ورځې، چې حضرت محمد عليه السلام پېغمبر شو، چا يو ځل هم و نه ليده، چې په ډډه يې خواړه خوړلي وي. بيا امام وويل: نه! پر الله قسم، رسول الله (ص) درې ورځې پرلپسې د غنمو ډوډۍ ونه خوړه، نه وايم، چې څه يې خوړو ته نه پيدا کول؛ بلکې کله خو راپېښېدل، چې سل اوښان يې په يو وار وربښل او که د رسول الله (ص) زړه

غوښتل، چې و يې خوري نو خوړلي به يې واى.
٤٨٠_ د ځمکې زېرمې يې قبولې نه کړې:
په رښتيا حضرت جبرائيل درې ځل د ځمکې د زېرمو کونجيانې رسول الله (ص) ته راوړې او په ټاکنه کې يې خپلې خوښې ته پرېښود، بې له دې چې د آخرت له ثوابه يې څه کم شي؛ خو رسول الله (ص) د خپل الله پر وړاندې تواضع خوښه کړه او د ځمکې زېرمې يې قبولې نه کړې، راپېښ نه شول، چې څوک ترې څه وغواړي او آنحضرت (ص) ورته د "نه" ځواب ورکړی وي، که درلودل يې نو ورکول يې که نه يې درلودل؛ نو و يل يې: انشاءالله الله يې رارسوي.
۴۸۱_ په دنيا کې د رسول الله (ص) زهد:
حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) له دنيا ولاړه خو درې ورځې يې پرلپسې د غنمو ډوډۍ ونه خوړه.
٤٨٢_ د غنمو ډوډۍ يې په مړه نس و نه خوړه:
حضرت ابوهريره (رض) وايي: پيغمبراکرم له کورنۍ سره درې ورځې پرلپسې د غنمو ډوډۍ ونه خوړه، چې له دنيا ولاړ.
٤٨٣_ د خوړو ښتل:
حضرت عايشه بي بي وايي: تر مړينې رسول الله (ص) درې ورځې پرلپسې په مړه نس د غنمو ډوډۍ ونه خوړه، سره له دې چې رسول الله (ص) د ځان د مړولو وسه درلوده؛ خوځان يې وږی پرېښود او خپله برخه يې بېوزليو ته ورښله.
٤٨٤_ دوه ډوله خواړه:
د رسول الله (ص) په کپ کې دوه ډوله خواړه نه ول، که خواړه يې غوښه وه نو ډوډۍ يې نه درلوده او که ډوډۍ يې درلوده؛ نو غوښه يې نه درلوده.
٤٨٥_ يو ډول يې خوړل او بل ډول يې خيراتول:
کله هم د رسول الله (ص) مخې ته دوه ډوله خواړه نه ول؛ خو داچې يو يې خوړل او بل يې خيراتول.
٤٨٦_ تواضع مې ښه ايسي:
حضرت ابن خولي (رض) په يو لوښي کې رسول الله (ص) ته شات او شيدې راوړې نو آنحضرت (ص) ورته وويل: ((په يوه لوښي کې دوه ډوله څښاک او خواړه ؟!))له خوړو يې ډډه وکړه، و يې ويل: ((خوړل يې درته نه حراموم خو وياړ او مباهات مې هم نه دي؛ خوښ، د دنيا د مال د ډېروالي له لامله د قيامت د ورځې حساب کتاب ته اندېښمن يم، تواضع مې خوښه ده؛ ځکه که څوک د الله په لار کې تواضع وکړي؛ نو الله به يې رتبه لوړه کړي.))
٤٨٧_ زه مې د رور تابع دار يم:
حضرت علي (ک) د شهادت پر شپه خپلې لور ام کلثوم ته وويل: غواړم خپل د تره د زوی او له خپل روره لاروي وکړم،

چې تر مړینې یې دوه ډوله خواړه ورته رانه وړل.

۴۸۸_ په خوړو کې شریک:

چې له لاسه یې کېدل، یوازې یې خواړه نه خوړل.

۴۸۹_ د خوړو څرنګوالی:

حضرت علي (ک)، کمیل ته وصیت وکړ: کمیله! د خوړو څرنګوالي ته ډېر پام مه کوه؛ ځکه رسول الله (ص) ته دې خبرې ارزښت نه درلود.

۴۹۰_ د غټوالي لامل:

امام صادق (رح) وپوښتل شو: رسول الله (ص) خپلې کورنۍ ته ښه او په زړه پورې خواړه ورکول؟ امام: هو! و یې ویل: چې د انسان خواړه خوندور او په زړه پورې وي؛ نو نفس یې قانع شي او د چاقۍ لامل یې ګرځي.

۴۹۱_ د خوړو د لوښي پاکول:

امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) خپله کاسه سټله.

۴۹۲_ دولس پکار ځانګړنې:

له امام حسن نه روایت دی، خوړو ته ۱۲ځانګړنې دي، زده کول یې هر مسلمان ته پکار دي، چې څلور یې واجب دي، څلور سنت او څلور نور یې آداب دي، بیا یې وویل: سنت یې دا دي: پر چپه پښه کېناستل، په درې ګوتو خوړل او له خپلې مخې خوړل.

۴۹۳_ د لاسونو وینځل:

تر خوړو مخکې او روسته لاسونه وینځل سنت دي.

۴۹۴_ د کپ ست:

رسول الله (ص) د خوړو پرمهال د خپل لومړي کپ ست هغه ته کاوه، چې مخامخ ورته ناست و او د اوبو ست یې هغه ته کاوه، چې ښي لوري ته یې ناست و.

۴۹۵_ د اوبو څښلو سنت:

رسول الله (ص) پر ولاړه او کله نا کله، چې پر څه سپور هم و، له ژي، کوزې او په لوښي او لاسونو کې اوبه څښلې.

۴۹۶_ په درې ساه ګانو اوبه څښل:

رسول الله (ص) په درې ساه ګانو اوبه څښلې اوهر ځل یې په پیل کې "بسم الله" او په پای کې یې حمد وایه، تر لومړي ګوټ روسته یې ویل: "الحمدلله" تر دویم ګوټ روسته یې ویل: "الحمد الله رب العالمین". تردېیم ګوټ روسته یې ویل: "الحمد الله رب العالمین الرحمن الرحیم".

۴۹۷_ تر هر ځل اوبو څښلو روسته، د الله شکر:

آنحضرت(ص)تر اوبو څښلو روسته وویل: ((د هغه الله شکر، چې د ګناهونو له لامله یې اوبه ترخې نه کړې؛ بلکې په خپل نعمت او لورنې یې ربښې اوخوږې کړې.))

۴۹۸_ تر هرکپ روسته شکر:

رسول الله (ص) د هر کپ تر خوړو روسته ويل: ((خدايه!ستاينه ځانګړې ستا ده، چې خواړه دې راکړل او په اوبو دې ماړه کړو؛ نو ستاينه او حمد يوازې ستا دی، بې له دې چې ستا ناشکري وکړم او يا له تا لاس واخلم او يا داچې ځان بې له تا مړه خوا وبولم.))

٤٩٩_ سرکه:

آنحضرت(ص) وويل: ((سرکه ښه خوراک دی، خدايه! سرکه راته مبارکه کړې؛ ځکه تر ما مخکې د پېغمبرانو خوراک هم و.))

٥٠٠_ غوره ښوروا:

امام صادق (رح) وويل: د زيتونو او سرکې ښوروا د رسول الله (ص) ډېره خوښه وه ويل يې: ((سرکه او زيتون د پېغمبرانو خواړه دي.))

٥٠١_ د ځارويو پښتورګي يې نه خوړل:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) د ځاروي پښتورګي نه خوړل خو خوړل يې نورو ته نه حرامول، ويل يې: ((؛ ځکه يې نه خورم، چې پښتورګي د ځارويو متيازو ته نږدې دي.))

٥٠٢_ په سفر کې د نورو حق ته پاملرنه:

امام صادق (رح) وايي: انصارو رسول الله (ص) ته له وريجو ډکه کاسه ډالۍ راوړه، رسول الله (ص) سلمان، مقدار او ابوذر(رضی الله عنهم) هم راوغوښتل هغوی ډېر ژر له خوړو لاس واخست او ښښنه يې وغوښته، رسول الله (ص) ورته وويل: ((تاسې خو څه ونه خوړل؟!په تاسې کې، چې زه پر هر چا ګران يم نو ډېره دې وخوري.))

٥٠٣_ د مېلمستيا منل:

امام صادق (رح) وايي: که مؤمن مې ان د پسه پښو خوړو ته هم مېلمه کړي، منم يې، چې دا پخپله دين دی خو که مشرک راته ان اوښ هم حلال کړي؛ نو ورسره به ولاړ نه شم، چې دا هم دين دی. الله د مشرکينو د ډالۍ او ورکړو له قبلولو ژغورلی يم.

٥٠٤_ اوږه:

رسول الله (ص) اوږه، تره او پياز نه خوړل.

٥٠٥— د خوړو پرمهال يې پښې ايستې:

رسول الله (ص) وايي: ((د خوړو پرمهال مو پښې وباسئ؛ ځکه هم سنت دی او هم مو پښې آراموي.))

٥٠٦_ د ماهيچې غوښه:

امام صادق (رح) وايي: د رسول الله (ص) د ماهيچې او د ځارويو د لاس غوښه ښه راتله خو د ځاروي پنډۍ يې بدې راتله؛ ځکه دا برخه مثانې ته نږدې وه.

٥٠٧_ په خوړو کې يې خبرې نه راايستې:

آنحضرت(ص) په خوړو کې خبرې نه راايستې که اشتها يې درلوده، خوړل يې ګڼې نه يې خوړل.

٥٠٨_ خواړه يې نه پوکول:

رسول الله (ص) خواړه نه پو کول او د اوبو
په لوښي کې یې ساه نه اخسته.

**۵۰۹_ سبزي:**

پر دسترخوان سرکه او سبزي ایښوول سنت
دي.

۵۱۰_ حلوا:

آنحضرت (ص) ته یې حلوا راوړه خو و
یې نه خوړه. ورته وویل شو: رسول الله!
حلوا حرامه ده؟ و یې ویل: ((حرامه نه ده؛
خو نه غواړم ځان پر داسې خوړو عادت
کړم.))

۵۱۱_ د لوښي کړول:

پیغمبراکرم د خوړو لوښی پیشو ته
ورکړاوه.

۵۱۲_ په لاس خواړه خوړل:

امام صادق (رح) په پینځو ګوتو خواړه
خوړل، ویل یې: رسول الله (ص) هم
داسې خواړه خوړل، نه هغسې، چې
کبرجن یې خوري.

۵۱۳_ وسکې او کجورې:

حضرت علي وایي: رسول الله (ص) ته به
مو وسکې اوکجورې په اوبو کې ایښوولې،
چې پوره لمدې شي، پر اوله او دویمه ورځ
یې خوړل خو چې وراسته به شول؛ نو
حکم یې کاوه، چې لرې یې تویې کړم.

## د اودسماتي آداب

۵۱٤_ پردې حال چا و نه لید:
رسول الله (ص) چا د تشو یا ډکو متیازو پر حال و نه لید.
۵۱۵_ پوزه سونړ کول:
حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص)، چې پوزه سونړوله؛ نو سر به یې له خلکو پټ کړ او بیا یې د پوزې اوبه ښخولې، توکانې یې، چې تو کړې هغه یې هم ښخولې، چې باس-تشناب ته تله؛ نوخپل سر یې پټاوه.
۵۱٦_ له خدایه شرم:
رسول الله (ص) حضرت ابوذر ته وویل: ((ابوذره!له خدایه وشرمېږه، پر الله قسم، چې باس ته ځم نو سر پټوم؛ ځکه له راسره دوو پرښتو شرمېږم.))
۵۱۷_ د سر پټول:
د اودسماتي پرمهال سرپټول سنت دي.
۵۱۸_ درې ځل وينځل:
حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) تر ډکو میتازو روسته درې ځل استنجا کوله.
۵۱۹_ د گوتې نقش:
حسن بن خالد وايي، چې امام رضا (رح) ته مې وویل: یو حدیث مې اورېدلی، چې رسول الله (ص) یو گوته درلوده، چې((محمد رسول الله)) پرې نقش شوی و او ورسره یې طهارت هم کاوه او علي هم داسې کول؛ نو آیا دا حدیث، چې مې اورېدلی سم دی؟ امام رضا (رح): راویانو سم روایت کړی. ورته مې وویل: آیا موږ هم دا کار کړای شو؟ امام رضا (رح): هغوی گوته پر ښي لاس کوله اوتاسې یې پر کیڼ.
۵۲۰_ پر"براء" درې سنته جاري شول:
امام صادق (رح) وايي: د حضرت براء بن مصرور انصاری(رض) درې کړنې د رسول الله (ص) سنت شوې:
۱_ پخوا خلکو په تیږه ځان پاکاوه، یوځل حضرت براء بن مصرور(رض) کدو خوړلی و او مزاج یې نرم شو، په اوبو یې طهارت وکړ؛ نو الله په دې باب آیت راولېږه((پر الله توبه گار او پاک گران دي)).
۲_ چې د حضرت براء بن مصرور(رض) د مړینې وخت راورسېد؛ نو په مدینه کې و(او رسول الله (ص) په مکه کې و) او داچې له آنحضرت (ص) سره یې خورا مینه درلوده؛ نو امر یې وکړ، چې د قبلې پر لوري یې ښخ کړئ او له همدې ځایه مخ پر قبله مړي ښخول هم نبوي سنت شو.
۳_ حضرت براء(رض) وصیت وکړ، چې د مال درییمه برخه یې رسول الله (ص) ته ورکړي؛ نو د دریيمې برخې وصیت هم نبوي سنت شو.
۵۲۱_ له متیازو ځان ساتل:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) تر هر چا زيات، ځان له متيازو لرې ساته، چې متيازې يې کولې نو لوړ ځای يې ټاکه او يا يې په پسته او يا خاورينه ځمکه متيازې کولې، چې هسې نه دارې ور و رسي.

۵۲۲_ ځانګړې جامې:

امام سجاد(رح) خپل زوی امام باقر(رح) ته وويل: زويه!د اودسماتي ځانګړې جامې راته تيارې کړه؛ ځکه و مې ليدل، چې مچان پر مردارو مايعاتو تر کېناستو روسته زما پر جامو هم کېناستل. امام باقر(رح) وويل: جامې مې تيارې کړې او پلار ته مې راوړې، و يې ويل: رسول الله (ص) او اصحابو يې يوازې يو جوړ جامې درلودې او و يې نه منلې.

۵۲۳_ لومړی کينه پښه او بيا ښۍ:

باس ته د ورننووتو سنت دا دی، چې لومړی کينه پښه او بيا ښۍ پښه کېږدې، سر پټ کړې او د الله ذکر ووايې.

باس/ تشناب ته ورننووتل:

د"ميغريه" يو سړي امام صادق (رح) وپوښت: باس ته د ننووتو سنت څنګه دی؟ امام صادق (رح): د الله ذکر ووايه، له شيطانه پناه وغواړه او چې کار دې خلاص کړ؛ نو ووايه: د الله شکر، چې په اسانۍ يې فضولات رانه بهر کړل.

۵۲۵_ د لمانځه شرط:

امام باقر(رح) واېيي: پاکوالی د لمانځه شرط دی او پاکوالي ته درې کاڼي بسيا دي، چې دا د رسول الله (ص) سنت هم و خو ډکې متيازې دې هرومرو په اوبو ووينځل شي.

۵۲۶_ د طهارت سنت:

امام صادق (رح) وايي: په پاکوالي کې سنت دادی، چې لومړی درې تيږې وکاروې او بيا يې په اوبو ووينځې.

۵۲۷_ په اوبو طهارت:

حضرت علي وايي: په اوبو د پاکوالي سنت دادی، چې لومړی د متيازو ځای پاک کړې، بيا د ډکو متيازو ځای ووينځې او دواړه يو ځای ونه وينځې.

۵۲۸_ په سفر کې:

رسول الله (ص) به چې په سفر کې اودسماتي ته ولاړ؛ نو دومره به له خلکو لرې شو، چې له سترګو به پناه شو.

۵۲۹_ د سر پټول:

رسول الله (ص)، چې به باس ته ورننووت نو سر به يې پټ کړ او چا هم پر اودسماتي ونه ليده.

## د مړي (جنازې) آداب

**۵۳۰_ پر بدن له وړوکې دانې الله ته پناه:**
چې آنحضرت (ص) پر خپل بدن کوشنی دانه ولیده؛ نو الله ته یې پناه وړه، عاجزي یې ورته کوله او ځان یې ورسپاره نو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته وویل شول: رسول الله (ص)! دا خوځه دومره مهمه خبره نه ده! رسول الله (ص) وویل: الله که وغواړي نو هر کوشنی څیز ستروي او ستر څیز کوشنی کوي [1].

**۵۳۱— دوه ګرايه سخت رنځ:**
پیغمبراکرم (ص) تبه درلوده، حضرت ابوسعيد خدري(رض) پر هغه ټوکر لاس کېښود، چې پر رسول الله (ص) پرته وه او د رسول الله (ص) په تبه پوه شو. ورته يې وويل: رسول الله (ص)! ډېره تبه لرې! آنحضرت(ص) وويل: ((موږ داسې يو، بلاګانې راباندې سختې او اجرونه او ثوابونه مو دوه ګرايه دي.))

**۵۳۲_ د تابوت وړل:**
امام باقر(رح) وايي: د تابوت د وړو سنت دادی، چې وړونکي يې څلورو کونجونو ته وراوړه شي او بې له دې حالته جايز نه دي.

**۵۳۳_ له څلورو کونجونو د تابوت نيونې سنت:**
امام موسی بن جعفر(رح) وويل: له څلورو کونجونو د تابوت نيول، چې سنت پرې جاري شوی، دادی، چې لومړی د مړي ښی لاس، بيا ښی پښه، بيا چپه پښه او په پای کې چپ لاس را اوچت کړي، چې په دې ترتيب د تابوت څلورو کونجونو ته ور اوړه شئ.

**۵۳٤_ جنازې ته پاڅېدل:**
يوه ورځ امام حسن له څو يارانو سره ناست و، چې ناڅاپه يې د هغوی له مخې جنازه تېره کړه، د امام حسن ځينې ياران ودرېدل خو امام هماغسې ناست و، چې جنازه يې تېره کړه، ځينو امام وپوښت: الله مو روغ رمټ لره، ولې راجيګ نه شوئ، حال دا رسول الله (ص)، چې جنازه ليده؛ نو ورته ولاړېده. امام وويل: رسول الله (ص) يو ځل يوې جنازې ته ودرېد او هغه هم داسې و، چې د يهودي جنازه يې له يوې تنګې لارې تېروله، هسې نه چې د يهودي جنازه يې پر سرتېره نشي؛ نو رسول الله (ص) له خپل ځايه راپاڅېد.

**۵۳۵_ د جنازې پرمهال د رسول الله (ص) خپګان:**

---

[1]. نن په طب کې هم چنګاښ پېژندنې ته د پيغمبر اکرم دا چار لومړی ګام دی؛يعنې د بدن په هر ځای کې، چې کومه غوټه وليدل شي او د وخت په تېرېدو ستره شي؛نو د سرطان اړوند تشخيصي معاينات ورته کوي.

آنحضرت(ص)، چې کومه جنازه کوله؛ نو خپګان یې پر زړه یرغل کاوه، سر یې په ګرېوان کې اچولی و او لږې خبرې یې کولې.

**۵۳٦_ درې موټې خاورې:**

حضرت علي وايي: رسول الله (ص) د مړي تر ښخلو روسته درې موټې خاورې پرې اچولې.

**۵۳۷_ پر قبر ګوته ایښوول:**

امام باقر(رح) وايي: رسول الله (ص) د بني هاشمو جنازې ته ځانګړي کارونه کول، چې نورو مړیو ته یې نه کول، چې د بني هاشمو د مړي جنازه یې وکړه، پر قبر یې اوبه ور شیندلې، بیا یې پر قبر لاس ایښوده، چې ګوتې یې په ختو کې ښخېدې او که څوک ښار ته نوی راننووت او په هدیره کې یې کوم نوی قبر او د رسول الله (ص) د ګوتو نښې لیدې نو ویل یې، چې د رسول الله (ص) په کورنۍ کې څوک مړ شوی دی.

**۵۳۸_ پر قبر د لاس ایښوولو مانا:**

عبدالرحمن بن ابي عبدالله وايي، امام صادق (رح) مې وپوښت: پر قبر د لاس ایښودو مانا څه ده او ولې خلک دا کار کوي؟ امام وویل: رسول الله (ص) دا کار کاوه، هغه مهال چې د رسول الله (ص) د زوی پر قبر یې اوبه وشیندلې نو رسول الله (ص) یې پر قبر لاس کېښود. عبدالرحمن: څنګه مې لاس د مسلمان پر قبر کېږدم؟امام: مخ پر قبله و، لاس یې پرځمکه کېښود، راجیګ یې کړ، و یې ویل: داسې.

**۵۳۹_ مبارکي او خواشیني ویل:**

حضرت علي وايي: رسول الله (ص)، چې د غمجنو کورنیو ته خواشیني ویله نو ویل یې: ((اجرکم الله ورحمکم الله دې اجر درکړي او تاسې دې الله وبښي)) او چې چاته یې مبارکي ورکوله؛ نو ویل یې: ((بارک الله لکم وبارک الله علیکم)) الله دې برکت درکړي او مبارک مو شه!

**۵٤۰_ د خپګان پرمهال زر رکعته لمونځ:**

امام سجاد(رح) وايي: پر علي(ک)، چې کوم خپګان راتله؛ نو پر هماغه ورځ یې زر رکعته لمونځ کاوه، شپېته بېوزلیو ته یې صدقه ورکوله، درې ورځې روژه و او خپل اولاد ته یې ویل: پر تاسې هم که خپګان راغی؛ نو هماغه وکړئ، چې زه یې کوم؛ ځکه رسول الله (ص) داسې کول. بیا حضرت علي (ک) وویل: د خپل رسول الله (ص) لارویان شئ او ورسره مخالفت و نه کړئ، ګنې الله به درسره مخالفت وکړي او په رښتیا الله ویلي: ((چاچې صبر جامه کړه؛ نو د پیاوړې هوډ ښتن به وي.))

بیا امام سجاد(رح) وویل: ما د خپګان پرمهال د امام علي په څېر کول.

۵۴۱_ د رنځور پوښتنه:
حضرت انس بن مالک(رض) وایي: رسول الله (ص) د رنځور پوښتنه کوله او جنازې ته هم ورتله.
۵۴۲_ د رنځور د پوښتنې دعا:
حضرت علي (ک) وایي: رسول الله (ص)، چې د رنځور پوښتنې ته ولاړ؛ نو داسې دعا یې ورته کوله: خدایه! رنځ ستا په لاس کې دی، هغه روغ کړه، شفا ورکړه، چې یوازې ته شفا ورکونکی یې او بې له تا بل څوک دا چار نشي کړای.
۵۴۳_ د سترګې د خوږ دعا:
چې د رسول الله (ص)، کورنۍ او یارانو سترګې یې خوږېدې، دا دعا یې کوله: خدایه! له غوږو او سترګو مې برخمن کړې، دواړه مې وارثان کړې او راسره د هغوی پر وړاندې ملګری شې، چې ظلم یې راباندې کړی او ته ترې زما غچ واخله.
۵۴۴_ د تبې دعا:
حضرت ابن عباس(رض) وایي: رسول الله (ص) تبې او درد ته دا دعا ویله: ((د لوی الله په نامه د رګ رګ له شره مې وساتې، چې وینه پکې په تېزۍ بهېږي او د دوزخ د اور له شره پناه غواړم.))
۵۴۵_ له لمانځه او روژې مرسته اخستل:
چې کوم څه به رسول الله (ص) غمجن کړ؛ نو د روژې په نیوو او د لمونځ په کولو یې غم لرې کاوه.
۵۴۶_ د خپګان پرمهال دعا:
چې د ښنتن پر استازي(ص) خپګان راتله؛ نو دوه رکعته لمونځ یې کاوه ویل یې: ((خدایه!ما پر هغه څه عمل وکړ، چې تا پرې حکم راکړی و نو ته هم راسره پر کړې ژمنه عمل وکړه.))
۵۴۷_ پر قضا خوښي:
علاء بن کامل وایي، له امام صادق (رح) سره ناست وو، چې د امام له کوره د ښځو د ژړا او چغو غږونه راپورته شول، امام وارخطا پاڅېد او بېرته کېناست، و یې ویل: انالله وانا الیه راجعون. بیا یې خپلې پرې شوې خبرې ته دوام وکړ او د خبرو تر پای ته رسېدو روسته یې وویل: موږ اهلبیت خوښ یو ځان، اولاد او مال مو روغ وي؛ خو چې الهي قضا راپېښه شي؛ نو د الله پر رضا خوښ یو او بې د الله له رضا راته څه هم ګران نه دي.
۵۴۸_ کافور:
امام صادق (رح) وایي: د مړي لپاره د کافور د کارولو سنت ۱. ۳۳ مثقاله دی او بیا یې امام لامل داسې ووایه: جبرائیل علیه السلام د ۴۰ درهمو هومره کافور رسول الله (ص) ته راوړل؛ نو رسول الله (ص) درې برخې کړل، یوه برخه یې ځان ته، یوه یې علي ته او بله یې فاطمې ته کېښوده.
۵۴۹_ د واجب کفن برخې:
زراره او محمد بن مسلم وایي، امام باقر(رح) ته مو وویل: د مړي پګړۍ هم په کفن کې شمېرل کېږي؟ امام وویل: نه!

واجب کفن درې کميسه دی (لنګ، جامه، سرتاسري) که دا ټول ناشوني وو؛ نو هومره لازم دي، چې کفن سراسري وي، چې ټول بدن يې وپوښي، نه ترې ډېر نه ترې لږ، تر پينځو جامو پورې نبوي سنت دی؛ خو تر هغې زيات بدعت دی.

۵۵۰_ د جريده سنت:

په حديث کې راغلي: جريده(د کجورې د ونې دوه شنې لختې، چې له مړي سره ښخول کېږي) هم سنت دي.

۵۵۱_ تر ټولو پاک مال:

امام موسی بن جعفروايي: مور له هغې کورنۍ يو، چې د ښځو مهريه مو د فرض حج د لګښت هومره دي او د مړيو کفنونه مو تر ټولې شتمنۍ چمتو کوو او زه پخپله چمتو کفن لرم.

۵۵۲_ د ښځې او سړي د مړي جنازه:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص)، چې د سړي جنازه کوله؛ نو د سينې مخې ته يې درېده او که ښځه وه نو سر ته يې درېده او د جنازې لمونځ يې کاوه.

۵۵۲_ د جنازې آداب:

حضرت ابو سعيد خدري (رض) وايي: ونه ليدل شول، چې رسول الله (ص) جنازې او يا د اختر لمانځه ته سپور ولاړشي.

۵۵۳_په قبر کې د ښځې ايښوول:

حضرت علي (ک) وايي: په دې باب د رسول الله (ص) سنت دا و، هغه ښځه به يې په قبر کې ايښوده، چې پر ژوندون يې ليدای شوه. (؛ يعنې محرم يې و)

۵۵۵_ قبر ته د ورننووتو آداب:

على بن يقيطن وايي: وا مې ورېدل، چې امام اباالحسن وويل: له پګړۍ عرقچين، پنهو او همداسې له پراخه جامو سره قبر ته مه ورښکته کېږئ، چې قبر ته ورښکته کېدئ؛ نو د جامو تنۍ دې خلاصې کړه؛ ځکه دا پيغمبر سنت و، له رټل شوي شيطانه الله ته پناه يوسه او "فاتحة الكتاب"، "قل اعوذ برب الفلق"، "قل اعوذ برب الناس"، "قل هوالله احد" سورتونه او "آيت الكرسي" ووايئ.

۵۵٦— د ښخولو پرمهال دعا:

عمربن اذينة وايي: و مې ليدل، چې امام صادق (رح) د مړي پر قبر خاورې اچوي، په موټي کې يې خاورې راخستې او بيا يې پر قبر شيندلې او له درې موټيو يې زياتې ور و نه شيندلې، له امام مې د دې چار علت وپوښت، و يې ويل: عمره! زه پردې دعا ويلو بوخت وم: ((خدايه! پر تا ايمان لرم او د قيامت پر ورځ په راژوندي کېدو ايمان لرم او دا هغه څه دي، چې الله او پيغمبر يې ژمنه راکړې او وينا ته يې تسليم يم.))

بيا امام وويل: دا چار د رسول الله (ص) سنت دی.

۵۵۷_ پر قبر اوبه شېندل:

حضرت علي وايي: سنت دي، چې د مړي تر ښخولو روسته پر قبر اوبه واچول شي.

۵۵۸_ د اوبو شيندلو سنت:

امام صادق (رح) وايي: پر قبر د اوبو شيندلو سنت داسې دی، مړی مو چې ښخ کړ، مخ پر قبله ودرېږئ او د مړي له سره پر قبر په اوبو شيندلو پيل وکړئ، څو پښو ته راورسئ او په پای کې اوبه د قبر پر منځنې برخه وشيندئ.

۵۵۹_ د قبر لوړوالی:

سنت خو داسې دی، چې قبر له ځمکې څلور گوتې رالوړ شي؛ خو که تردې رالوړ هم شو پروا نه لري او همدغسې قبر دې هوار وي او د اوښ د شاپه څېر دې جوړ نشي.

۵۶۰_ د مړي کور ته خواړه وړل:

امام صادق (رح) وايي: چې جعفر بن ابيطالب(رض) شهيد شو؛ نو رسول الله (ص) فاطمې ته امر وکړ، چې تر درې ورځو د اسماء بنت عميس(رض) (د جعفر مېرمنې) ته خواړه پاخه کړي او همداراز حکم يې وکړ، چې فاطمه او د رسول الله (ص) نورې مېرمنې دې راشي او د اسماء په کور کې دې وير وکړي. امام وايې، دا چارې سنت شوې.

۵۶۱_ په وير کې د لگښت سنت:

امام باقر(رح) وصيت وکړ، چې د هغه د وير په مراسمو کې دې اته سوه درهمه ولگول شي او دا کار يې سنت باله؛ ځکه رسول الله (ص) هم حکم کړی و، چې د جعفر بن ابيطالب(رض) کورنۍ ته خواړه چمتو کړي، چې پرې خپگان راغلی دی.

۵۶۲_ خواړه لېږل:

امام صادق (رح) وايي: د مړي له کورنۍ سره خواړه خوړل د جاهليت د پېر دود دی او نبوی سنت دا دی، چې د مړي کور ته يې خواړه ورلېږل.

## درمل او درملنه[1]

٥٦٣_ د سرحجامت

رسول الله (ص) د خپل سر منځ حجامتاوه، ابوظبية په يوه ځانګړې مسي وزله د رسول الله سر حجامتاوه او آنحضرت هم ورته درې صاع خرما ورکولې (درې کيلو). د آنحضرت(ص) چې سر خوږېده؛ نو د کونځلو غوړي يې په پوزه کې اچول.

٥٦٤_ زکام يې نه درملاوه:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص)، چې به زکام شو؛ نو ځان يې نه درملاوه او ويل يې: هر څوک يو جذامي رګ[2] لري، چې څوک زکام شي؛ نو د جذام جرړه يې له منځه ځي.

٥٦٥_ له کجورې پرهېز:

محمد بن فيض وايي، امام صادق (رح) ته مې وويل: په موږ کې، چې څوک رنځور شي؛ نو طبيبان يې له ځينو خوړو پرهېزوي. امام وويل: خو موږ اهل بيت يوازې له کجورې پرهېز کوو او پر منه او سړو اوبو ځان درملوو. ورته مې وويل: له کجورې ولې پرهېزکوئ ؟ و يې ويل: ؛ ځکه حضرت علي (ک)، چې رنځور شو؛ نو رسول الله (ص) له کجورې پرهېز کړ.

٥٦٦_ ژغورونکی:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) خپل سر حجامتاوه او دې کارته يې پناه ورکونکی يا ژغورونکی وايه.

٥٦٧_ د حجامت وخت:

آنحضرت(ص) د دوشنبې په مازيګرحجامت کاوه.

٥٦٨_ سر خوږ:

زيد نرسي وويل: له امام موسی بن جعفر(رح) مې واورېدل، چې د جمعې پر ورځ په خطمي (يو ډول بوټي) سر وينځل سنت دي، چې دا کار د رزق د پراختيا، د تنګ لاسی د لرې کېدو لامل دی او د بدن وېښته او پوټکی ښايسته کوي او له سرخوږي مخينوی کوي.

٥٦٩_ په سدر سر وينځل:

---

[1]. په دې کتاب کې دې برخې ته لنډه اشاره شوې او د نبوي طب په اړه په بازار کې کتابونه شته، مينوال کولای شي لا معلوماتو ته ورته مراجعه وکړي.

[2]. ليکوال: اوسمهال، د طب په پتالوژۍ برخه کې جوته شوې، چې که يو انسان، ان پر کوم ميکروبي رنځ هم اخته کېږي؛ نو بايد نوموړي ميکروب ته په بدن کې رسپټور/ اخذه يا د رسول اکرم د وينا له مخې، يو رګ ولري، چې پرې اخته شي او که اړوند رنځ ته دغه اخذه ونلري؛ نو پر هغه رنځ نه اخته کېږي او که و يې لري؛ نو اخته کېږي پرې؛ نو د رسول الله دغه خبره، اوس له علمي او طبي پلوه هم جوته شوې ده. د زياتو معلوماتو لپاره، د کومار رابينز پتالوژۍ کتاب، د انتاني ناروغيو برخې ته مراجعه کولای شئ.

آنحضرت(ص) خپل سر په سدر وينځه او ويل يې: ((چاچې خپل سر په سدر ووينځه نوشيطان ترې لرې کيږي او له چاچې شيطان لرې شو؛ نو گناه به و نه کړي اوچاچې گناه و نه کړه؛ نو جنت ته به ورننوځي.))

۵۷۰_ د پېغمبرانو درمل:

امام صادق (رح) وايي: حجامت کول[1]، واجبي وهل، انفيه کول (ځانگړي عطر دي، چې د پرشي کولو لپاره پوزې ته نيول کيږي) د پېغمبرانو درمل دي.

۵۷۱_ روغونکې دعا:

دښمنتن استازي(ص) وويل: ((نه غواړئ هغه دعا درزده کړم، چې حضرت جبرائيل رازده کړې، چې نور طبيب او درمل ته اړتيا پيدا نه کړئ؟!)) اصحابو وويل: را و يې ښاياست. آنحضرت(ص) وويل: ((د باران اوبه راواخلئ، اويا ځل "سوره حمد"، اويا ځل "قل اعوذبرب الفلق" اويا ځل "قل اعوذبرب الناس"، اويا ځل پرې پر"محمد او آل يې درود" او اويا ځل "سبحان الله" ووايئ او اوه ورځې پرلپسې يې سهارماښام وڅښئ.))

۵۷۲_ ملادرد:

آنحضرت(ص) الله ته د ملا له درده شکايت وکړ، ورته يې وويل: غنم له پخې شوې غوښې سره (حليم) وخوره.

۵۷۳_ په رنځ کې حجامت:

حضرت علي (ک) وايي: چې رسول الله (ص) به رنځور شو؛ نوحجامت يې کاوه.

۵۷٤_ تبه:

امام صادق (رح) وايي: زموږ نېکه د تبې لپاره يو مثقال غوښه او يو مثقال گوړه له سړو اوبو سره خوړه.

---

[1]. نن عصري طب هم حجامت تاييد کړی او ان په لويديځ کې د ډېرې رنځونو درملنې ته ترسره کيږي او د حجامت په اړه او داچې د کومو رنځونودرمل دی، په باب هم خورا عملي کتابونه ليکل شوي دي.

## د مسواک سنت

رسول الله (ص) تل خپله خوله او غاښونه پاک ساتل او مسواک يې واهه، په تېره له خوبه مخکې او تر خوب روسته، ويلې يې دي: که نه وېرېدم، چې لارويانو ته مې سخته شي؛ نو فرض کړي به مې پرې وو، چې د هر لمانځه په اوداسه کې مسواک ووهي.

امام صادق (رح) د خپل نېکه حضرت محمد مصطفی(ص) وينا راخلي، چې و يې ويل: د قرآن لار پاکه وساتئ؛ نو وپوښتل شو: د قرآن له لارې مو مطلب څه دی ؟ و يې ويل: ستاسې خولې! وپوښتل شو: څنگه؟ و يې ويل: د مسواک په وهلو. نبوي حديث دی: خولې م پاکې وساتئ، چې د تسبيح لار ده.

امام صادق (رح) وويل: ((تر مسواک وهلو روسته دوه رکعته لمونځ تر اويا رکعته بې مسواکه لمانځه غوره دی))

او په بل ځای کې وايي: مسواک دولس ځانگړنې لري:

۱_ سنت دی. ۲_د خولې پاکوونکی دی. ۳_ سترگې روښانوي. ٤_ الله خوشحالوي. ۵_غاښونه سپينوي. ٦_د خولې بوی ورکوي. ۷_ورۍ کلکوي. ۸_اشتها ډېروي. ۹_بلغم له منځه وړي. ۱۰_حافظه غښتلې کوي. ۱۱_حسنات دوه گرايه کوي. ۱۲_پرښتې خوشحالوي.

نبوي حديث دی: مسواک خوله پاکوي او د پالونکي د خوښی لامل دی. [۱]))

زموږ گران پېغمبر به د پاکوالي لپاره د خولې او پوزې غړه غړه هم کوله.

کورنی يې په هکله وايي:

۵۷۵_ مسواک وهل:

امام صادق (رح) وايي: مسواک وهل نبوي سنت دی.

۵۷٦_ د خولې پاکوونکی:

حضرت علي (ک) وايي: مسواک وهل، الله خوشحالوي، نبوي سنت دی او خوله هم پاکوي.

۵۷۷_ درې ځل مسواک:

آنحضرت(ص) هره شپه درې ځل مسواک واهه يو ځل له خوبه مخکې، دويم ځل، چې دعا او لمانځه ته راپاڅېده او درېيم ځل، چې د سهار لمانځه ته به وته.

۵۷۸_ د شپې په اوږدو کې مسواک وهل:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص)، چې د ماخښوتن لمونځ؛ نو ويل يې، چې د اودس له اوبو سره ورته مسواک هم راوړي، بيا يې د مسواک سر وپوښه او تر سر لاندې يې کېښود او تر هغې، چې الله غوښتل ويده و چې له خوبه راپاڅېده،

---

[۱] (علل ا لشرايع ۱/ ۲۷۷)

مسواک يې واهه، اودس يې کاوه اوڅلور رکعته لمونځ يې کاوه او بيا به ويده شو، دويم ځل ته هم، چې راپاڅېده؛ نو مسواک يې واهه، اودس او بيا يې لمونځ کاوه. بيا امام صادق (رح) وويل: ((لقد کان لکم فی رسول الله (ص) اسوة حسنه)) په رښتيا رسول الله (ص) درته غوره بېلگه ده)) (تاسې يې هم لارويان شئ) او د حديث په پای کې يې وويل: رسول الله (ص)، چې هر ځل د شپې له خوبه راپاڅېد؛ نو مسواک يې واهه.

۵۷۹_ لمانځه ته مسواک:

آنحضرت(ص) د هر لمانځه لپاره مسواک واهه.

۵۸۰_ د مسواک وهلوطريقه:

آنحضرت(ص) مسواک د غاښو پر لنډوالي واهه.

۵۸۱—د اراک لرگی:

آنحضرت(ص) د اراک پر لخته مسواک واهه؛ ځکه حضرت جبرائيل ورته داسې ويلي ول.

۵۸۲_ د مسواک وهلو شمېر:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) ډېر مسواک واهه.

۵۸۳_ د سهار مسواک:

تر اوداسه مخکې مسواک وهل سنت دي.

۵۸٤_ د مسواک سنت:

سهار مسواک وهل سنت دي.

۵۸۵_ د پېغمبرانو مسواک:

رسول الله (ص) وويل: ((د زيتون د لختې مسواک مناسب دی؛ ځکه خوله خوږبويوي، د وری له وينې کېدو مخنيوی کوي او تر ما مخکې د پېغمبرانو هم مسواک و.))

۵۸٦_ دوه ځل مسواک:

رسول الله (ص) وويل: ((چاچې د ورځې دوه ځل مسواک واهه نو زما سنت يې پلي کړی دی.))

## د اوداسه آداب

۵۸۷_اودس تازه کول:
رسول الله (ص) هر مستحب او فرض لمانځه ته اودس تازه کاوه.
۵۸۸_ په يوه اودس ټول لمونځونه:
حضرت بريده(رض) وايي: رسول الله (ص) هر لمانځه ته اودس تازه کاوه؛ خو د مکې د سوبې پر کال يې په يوه اودس ټول لمونځونه وکړل. حضرت عمر(رض) وپوښتل: يو کار مو وکړ، چې تروسه مو له تا نه و ليدلی. رسول الله (ص) وويل: ((په لوی لاس مې دا کار وکړ.))
۵۸۹_ هر لمانځه ته بېل اودس:
امام صادق (رح) وايي: حضرت علي (ک) هر لمونځ ته بېل اودس کاوه او دا آيت يې وايه: ((مؤمنانو!چې لمانځه ته پاڅېدئ؛ نو مخ او لاسونه مو ترڅنګلو ووينځی.))
۵۹۰_ د اودس طريقه:
امام باقر(رح)، زراره ته وويل: درته ووايم، چې د رسول الله (ص) اودس کول څرنګه وو؟ورته مې وويل: هو!راته يې ووايئ. امام د اوبو لوښی راووړ، مخې ته يې کېښود، لستوڼي يې بډ وهل بيا يې لاسونه په اوبو کې غوپه کړل، و يې ويل: دا په هغه حال کې دي، چې لاسونه پاک وي، بيا يې لاسونه له اوبو ډک کړل او پر تندي يې کېښوول، و يې ويل: بسم الله او لاسونه يې د ږيرې په لوري راکاږهل او يو څل يې خپل لاس پر تندي او مخ راکاږه. (تردې چې ټول مخ يې ووينځه) بيا يې خپل چپ لاس په اوبو کې کړ، يوموټی اوبه يې راواخستې او پر ښي څنګله يې واچولې او پر کيڼ لاس يې له ښي څنګلې اوبه تر ګوتو راو رسولې بيا يې ښی لاس په اوبو کې ډوب کړ او پر کيڼه څنګلې يې واچولې او کيڼ لاس يې د ګوتو تر نوکانو ووينځه او بيا يې سر او پښې د چپ لاس په لمده بل او د ښي لاس په لمده بل مسح کړې.
زراره وايي: امام باقر(رح) وويل: الله ايکي يو دی او توحيد يې خوښ دی؛ نو اودس کولو ته هم درې لپې اوبه بس دي: يو مخ ته او دوه نورې لاسونو ته او په هماغه لامدو لاسونو لومړی سر مسح کول او بيا په ښي لاس ښۍ پښه او په چپ لاس چپه پښه مسح کړئ.
زراره وايي: امام باقر(رح) وويل: يو سړي له علي د نبوي اودس په باب وپوښتل، ورته يې همداسې وويل، چې ما درته وويل.
۵۹۱_ د رسول الله (ص) اودس:
حضرت ابوهريرة(رض) وايي: رسول الله (ص) اودس له ښي اړخه پيلاوه.
۵۹۲_ د اوداسه د اوبو اندازه:

ابوبصير وايي: امام صادق (رح) مې د اودس د اوبو د اندازې په هکله وپوښت. راته يې وويل: رسول الله (ص) په يو مُد اوبو (لسو سيرو ته نږدې) اودس کاوه او په يو صاع (درې کيلو) يې غسل کاوه.

۵۹۳_ صدقه:

آنحضرت(ص) وايي: ((موږ اهل بيتو ته صدقه حرامه ده او دنده لرو، چې په ډېرو اوبو اودس وکړو او خره ته خرېمې نه نيسو.

۵۹٤_ په خوله کې اوبه اچول:

امام صادق (رح) وايي: په خوله او پوزه کې اوبه اچول نبوي سنت دی.

۵۹۵_ دوه ارزښتناک څيزونه:

آنحضرت(ص) وايي: ((په دوو څيزونو کې خوښ نه يم، چې څوک راسره مرسته وکړي، يو اودس دی؛ ځکه د لمانځه له اجزاوو مې دی او بل صدقه ورکول دي اوخوښ يم په خپلو لاسونو يې بېوزلو ته ورکړم؛ ځکه صدقه د الله لاسو ته وررسي.))

۵۹٦_ اودس ته اوبه چمتو کول:

تر ويدېدو مخکې آنحضرت(ص) د ځان لپاره د اودس اوبه چمتو کولې او په خپل څنگ کې يې ايښوولې.

۵۹۷—نبوي اودس:

حضرت علي (ک)، چې محمد بن ابوبکر د مصر والي وټاکه؛ نو په خپلو سپارښتنونو کې يې ورته وويل: چې اودس دې؛ نو درې ځل دې خوله وينځه او درې ځل پوزه، بيا دې مخ ووينځه، بيا ښی لاس بيا چپ لاس، بيا د سر مخکېنۍ برخه مسح کړه او ورپسې دې پښې مسح کړه، چې پخپلو سترگو مې وليدل، چې رسول الله (ص) داسې اودس کاوه.

۵۹۸ـ د گوتې خوځول:

آنحضرت(ص) چې اودس کاوه، خپله گوتمه يې په گوتو کې خوځوله.

۵۹۹ ـ د سر مسح:

په اوداسه کې به آنحضرت(ص) د سر مخکېنۍ برخه؛ يعنې د سر څلورمه برخه مسح کوله.

٦٠٠ – د څنگلې وينځل:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وويل: جبرائيل حکم راکړی، چې د اودس پرمهال څنگلې هم ووينځم.

## د غسل آداب

۶۰۱_ د رسول الله (ص) غسل:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) په يوه صاع اوبو (درې کيلو) غسل کاوه او که له يوې ښځې سره يې غسل؛ نو يو مد (لس سيره) اوبه يې ورسره زياتولې.
۶۰۲_ د غسل طريقه:
حسن بن محمد د نبوي غسل په باب جابربن عبدالله وپوښت، چې جابر ورته وويل: رسول الله (ص) د اوبو درې لپې پر سر رااړولې. حسن بن محمد وويل؛ لکه چې وينې زما د سر وېښتان هم زيات دي!جابر وويل: هو! د الله بنده!داسې مه وايه، د رسول الله (ص) د سر وېښتان تر تا ډېر او ښکلي ول.
۶۰۳_ په اخترونو کې غسل:
حضرت علي (ک) وايي: په اخترونو کې غسل کول د پاکوالي او د اړتياوو د روا کېدو لامل ګرځي او د رسول الله (ص) سنت هم دی.
۶۰۴_ د جمعې پر ورځ غسل:
امام صادق (رح) وايي: د جمعې پر ورځ غسل هغه سنت دی، چې کول يې هر مسلمان او مسلمانې ته په کار دي، که په سفر کې وي که په کور کې، د جمعې پر ورځ غسل د پاکوالي، طهارت او له يوې جمعې څخه تر بلې د ګناهونو کفاره ده.
امام وويل: علت يې د جمعې د ورځې تشريع و؛ ځکه انصار په ټوله اونۍ کې د خپلو اوښانو او نورو څارويو پر وينځلو بوخت ول او چې د جمعې ورځ شوه؛ نو بې له دې چې ځان ووينځي، جومات ته راننووتل او بدبويونو يې خلک کړول؛ ځکه رسول الله (ص) حکم وکړ، چې د جمعې د ورځې غسل وکړئ اوسنت شو.
۶۰۵_ د جمعې د ورځې د غسل سنت:
امام صادق (رح) وايي: د جمعې د ورځې غسل سنت دی.
۶۰۶_د رمضان په مياشت کې هره شپه غسل:
د رمضان مياشتې روستۍ لسيزه، چې رارسېده؛ نو آنحضرت (ص) د عبادت لپاره ځان چمتو کاوه، له کوره وته او په جومات کې به معتکف شو او تر سبا به ويخ و او عبادت يې کاوه او هره شپه يې د ماښام اوماخښوتن د لمانځه ترمنځ غسل کاوه.
۶۰۷_ د ګوتې چورلول:
آنحضرت (ص) وايي: ((حضرت جبرائيل حکم راکړی، چې د اودس او د جنابت د غسل پرمهال مې ګوته په ګوته کې وچورلوم.))
۶۰۸_ د جنابت غسل:
رسول الله (ص) وايي: (جبرائيل حکم راکړی، چې د جنابت د غسل پرمهال په خپل؛ نوم کې هم ګوته ووهم.))

**۶۰۹_ ځانګړې ورځې:**
رسول الله (ص) د جمعې، عرفې، لوی او
کمکي اخترونو پر ورځو غسل کاوه.

## د لمانځه آداب

رسول الله (ص) تل سوچ کاوه او د لوی څښتن په یاد کې و. په هر حال او ځای کې یې فکر له لوی پالونکي سره وو. تل یې ځان ته "عبد" وایه او "عبد" هغه دی، چې خپل معبود تر ټولو ښه پېژني او تر ټولو غوره عبادت یې کوي او له دې لارې د خپلې بندګۍ مقام لوړوي.
نبوي حدیث دی: د انسان رفیع مقام، چې هماغه لوی پالونکي ته قرب مقام دی، په عبادت لاس ته راځي. رسول الله مبارک د لوی څښتن پر ستروالي پوه شوی و؛ نوځکه تر ټولو عابد و او پردې مقام او منزلت ویاړېده. په هر ځای او حال کې یې د الله پر یاد سپارښتنه کړې ده.
یوه ورځ یې د خپلو مبارکو ویناوو په ترڅ کې اصحابو ته وویل: که څوک خوښ وي، چې د الله پر وړاندې له خپل مقامه خبر شي او له ځان سره د الله پر مقام خبر شي؛ نو پوه شئ، چې الله انسان ته هغه مقام ورکوي، چې بنده یې ورته په زړه لري. پوه شئ، چې د الله په نزد تر ټولو غوره کړنې او تر ټولو ستره درجه او په عالم کې تر هر څه غوره، د الله یاد دی؛ ځکه په خپله لوی پالونکي ویلي: ((زه له هغه سره ملګری یم، چې مې یادوي.))
د رسول الله (ص) وینا ده: تر ټولو غوره خلک هغه دي، چې پر عبادت مین وي، د زړه له کومې ورسره مینه وکړي او په غېږیو یې ترسره کړي او داسې خلک دي، اندېښمن نه دی، چې د دنیا چارې یې سختې تېرېږي که اسانه.



### لمونځ

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له لمانځه سره هېښنده مینه درلوده، ویل یې: ((لمونځ مې د سترګو رڼا ده، چې یو بنده لمونځ کوي او زړه یې له الله سره وي؛ نو چې لمونځ یې پای ته ورسي نو د زوکړې د ړومبۍ ورځې په څېر وي.))
تل یې ویل: ((لمانځه ته مه شا کوئ.))
د "بني ثقیف" د ټبر یوه ډله د اسلام راوړو په موخه له رسول الله (ص) سره پر خبرو اترو شوه، پلاوي د خبرو او وړاندیزونو په ترځ کې دا وړاندیز هم ورکړ، چې د "بني ثقیف" ټبر به په څو شرطونو مسلمان شي، چې یو هم لمونځ نه کول دي. رسول الله (ص) یې په ځواب کې وویل: ((رابه شو د لمونځ خبرې ته په هغه دین کې خیر نشته، چې لمونځ پکې نه وي.))
نبوي حدیث دی: ((لمونځ د کېږدۍ د ستني په څېر دی، که د کېږدۍ ستنه پخه او پرځای وي؛ نو کېږدۍ او پړي یې هم پاخه او پرځای کلک وي او که ستنه ماته شوه؛ نو کېږدۍ هم رانړېږي.))

یوه ورځ یې له خپلو یارانو سره په خبرو کې پوښتنه رامنځ ته کړه: فرض کړئ د کور په مخ کې مو د اوبو یو نهر دی او تاسې هر ورځ پینځه ځل پکې ځان وینځئ؛ نو ایا پر بدن به مو خېرې پاتې شي؟ ورته وویل شو: نه! داسې وینځل به هېڅ ډول خیرې پر بدن پرېږ نه دي. رسول الله (ص) وویل: پینځه وخته لمونځ هم داسې اغېز لري. په پینځه وخت لمونځ الله انسان پاکوي، ویل یې: هغه لمونځ نه دی، چې لاروي ترې نه کوي او له لمانځه لاروي دا ده، چې له فحشا او منکراتو لاس واخلئ.

نبوي حدیث دی: ((هغه لمونځ د سپېڅلتیا لامل ګرځي، چې د الله په پامنیوي د زړه له کومې وشي.)) له اندنې سره دوه رکعته لمونځ یې تر ډېرو ټونګو تر لمانځونو غوره ګاڼه.

د هغه مبارک او ددیني مشرانو په زده کړو کې راغلي دي: هومره لمونځ قبلېږي، چې د زړه په حضور کې وي.

په لمانځه کې د زړه او ذهن د حضور په هکله وایي: لمونځ د هغه چا په څېروکړئ؛ لکه چې له لمانځه سره مخه ښه کوي او چې لمونځ ته چمتو شوئ؛ نو ووایئ چې په دنیا کې مې دا روستی لمونځ دی او داسې وسئ؛ لکه جنت مو چې مخې ته، دوزخ مو تر پښو لاندې، د مرګ پرښته مو شاته، پېغمبران مو ښي اړخ ته، پرښتې مو کیڼ اړخ او الله مو پر سر وي؛ نو پام مو وي، چې د چا عبادت کوئ او څوک مو ځاري ؟

نبوي حدیث دی: ((د خپل پالونکي داسې عبادت وکړه، چې ته وا وینې یې او که نه یې وینې نو هغه خو دې ویني.))

یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په جومات کې ناست و، چې یو سړی راننووت او پر لمانځه ودرېد او دومره چټک یې لمونځ وکړ، چې پاک نبي یې په هکله وویل: هغه سړی د لمانځه پرځای د کارغه په څېر ټونګې وهي او که له دنیا ولاړ شي او لمونځ یې همدا وي؛ نو زما پر دین به له دنیا نه وي تللی.

نبوي حدیث دی: که څوک د خلکو په مخ کې په تواضع لمونځ کوي؛ خو چې ځان ته شي او په هماغه تواضع لمونځ و نه کړي؛ نو دا به د پالونکي ستر سپکاوی وي.

نبوي حدیث دی: په خشوع کې له نفاقه له الله پناه وغواړئ. وپوښتل شو: په خشوع کې نفاق څه دی ؟ و یې ویل: داچې د انسان بدن خاشع وي؛ خو زړه یې نه وي او ډېر دي داسې کسان، چې د لمانځه پایله یې یوازې ستړیا وي.

رسول الله مبارک په لېواتیا د لمانځه د وخت په تمه و او د لمونځ وخت چې را ورسېد؛ نو خپل موذن ته یې ویل: بلاله! (په اذان مې) خوشحاله کړه.

یوه ورځ یې حضرت ابوذرغفاري (رض) ته وویل: ابوذره! الله مې د سترګو رڼا په لمانځه کې ایښې او راباندې ګران کړی یې دی؛ لکه څنګه چې یې خواړه پر وږي او اوبه پر تږي خو پر دومره توپیر، چې وږی په خوړو او تږی په اوبو مړېږي خو زه پر لمانځه نه مړېږم.

د حضرت علي (ک) وینا ده: رسول الله (ص) ته د لمانځه پر وړاندې هېڅ هم وړ نه وو او چې د لمانځه وخت به شو؛ نو ته وا په خپل شاوخوا کې څوک نه پېژني.

د رسول الله مبارک د یوې مېرمنې وینا ده: رسول الله (ص) له موږ سره او موږ له هغه سره خبرې کولې نو همداچې د لمانځه وخت شو؛ نو یو داسې حالت به پرې راغی، چې ته وا بېخي موږ نه پېژني او نه یې موږ پېژنو. په لمانځه کې یې د الله له وېرې رنګ تښتېده او غږ به یې ژړغونی شو.

هغه مبارک، چې په خپله لمونځ؛ نو لمونځ یې ډېر اوږد و خو چې نورو ته یې لمونځ ور؛ نو د نورو د حال په پامنیوي یې لمونځ نه اوږداوه او ویل یې: زړه مې غواړي لمونځ مې اوږد کړم خو هغه د هغه ماشوم د ژړا غږ واورم، چې مور یې راپسې لمانځه ته ولاړه ده؛ نو لمونځ مې لنډوم.

یوه ورځ یو سړی، چې ټوله ورځ یې د خپل پټي په خړوبولو تېره شوې وه لمانځه ته په حضرت معاذ بن جبل (رض) پسې ودرېد او هغه هم په لمانځه کې د بقرې سورت پیل کړ، چې هغه سړي د ستړیا له لامله ونه شو کړای په جمع لمونځ وکړي؛ نو سلام یې واړو او په خپله یې لمونځ وکړ. حضرت معاذ(رض) ورته وویل: تا نفاق وکړ او له موږه بېل شوې او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم، چې له دې پېښې خبر شو؛ نو له غوسې سور شو او حصرت معاذ ته یې وویل: په دې کار له دینه د مسلمانانو زړه توروئ خو دې خبرې ته مو پام نه وي، چې په لمانځه کې ستړي، رنځوران، بوډاګان هم ولاړ دي او په ټولنیزو چارو کې باید د کمزوریو وګړیو حال هم په پام کې ونیول شي، ولې دې لنډ سورت ونه وایه؟!

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم نه خوښېدل، چې پر لوړ غږ ذکر او دعا وکړي. د یو سفر په ترڅ کې یو اصحابي، چې لوړې ته به ورسېد؛ نو پر لوړ غږ یې تکبیر وایه، چې د الله استازي ورته وویل: په کلار تکبیر وایه! هغه ته چې ته غږ کوې نه کوڼ دی او نه کوم لرې ځای ته تللی هغه په هر ځای کې تاسې ته نږدی او اورېدونکی دی.

رسول الله مبارک به ډېرې روژې نیوې. د رمضان او شعبان پر میاشتو سربېره په ټول کال کې یو شواروز روسته یې روژه نیوه او

د خپل مبارک ژوند په روستیو کلونو کې یې د هرې میاشت پر درې ړومبیو پنجشنبو، منځنۍ چهارشنبو او روستیو پنجشنبو روژه کېده.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یوه ورځ خپلو یارانو ته وویل: په تاسې کې څوک ټولې ورځې روژې نیسي؟ حضرت سلمان(رض) ورته وویل: زه! پردې مهال په هغه ډله کې یو سړي وویل: سلمانه! ډېری ورځې دې گورم، چې خواړه خورې. حضرت سلمان(رض) ورته وویل: پر کوم گومان، چې ته یې داسې نه ده؛ بلکې د هرې میاشتې درې ورځې روژه یم او څښتن تعالی ویلي دي: چاچې یو ښه کار وکړ؛ نو لس ثوابه به ورکړل شي او بلخوا تر رمضان مخکې په شعبان کې هم روژه نیسم او که څوک داسې وکړي؛ نو داسې به وي؛ لکه ټولې ورځې یې چې روژه وي.

د روژې د میاشتې روستۍ لس شپې، چې شوې؛ نو د الله رسول به خپله بستره ټوله کړه او ډېری به پر عبادت بوخت و او، چې د روژې **۲۳**مه شپه به شوه؛ نو خپل اهل بیت یې هم ویخول ا پر مخونو یې اوبه ورپخنکولې، چې خوب یې یو نه سي، چې د خپل پلار د سنت د پلي کولو په موخه زهرا بي بي هم دا کار د خپل کور له غړیو سره کاوه او ویل یې: ((بې برخې دی هغه چې ددې شپې له برخې بې برخې شي.))

## په عبادت کې منځ لاری

لکه څنگه چې رسول الله (ص) په حیواني شهوتونو کې له ډوبیدو سره مبارزه کوله؛ نو هماغسې یې په رهبانیت پسې هم راخستې وه او د هغوی مخه یې نیوه، چې دنیا ته یې شا کړې وه او خپل ټول وخت یې پر عبادت تېراوه او ویل یې: ((ستاسې بدن، کورنۍ، اولاد، مېرمن او ملگري درباندې یو لړ حقونه لري، چې باید رعایت یې کړئ))

حضرت عثمان بن مظعون (رض) د الله د استازي له ځان تېرو یارانو و، چې یوه ورځ یې مېرمنه رسول الله مبارک ته راغله او ورته یې وویل: څه موده ده، چې مېړه مې له کار او ژونده لاس اخستې او تل پر عبادت بوخت وي، هغه ټوله ورځ روژه وي او د شپې لمونځونه کوي.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم، چې تل د اعتدال او منځلارۍ پلوی او ښوونکی و او له هر ډول افراط (زیاتی) او تفریط (کمی) سره یې مبارزه کوله؛ نو چې دا خبره یې واورېده؛ نو له خپل یاره خورا خواشینی او ورته غوسه شو او بې ځنډه هغه ځای ته ولاړ، چې حضرت عثمان پکې عبادت کاوه. رسول الله (ص)، چې

راورسېد؛ نو حضرت عثمان پر لمانځه و نو عثمان پوه شو، چې رسول الله مبارک راغلی، ژر يې لمونځ پای ته و رساوه او رسول الله(ص) ته يې ښه راغلاست ووايه. د الله استازي (ص) ورته وويل: عثمانه! زما په دين کې رهبانيت او دنيا ته شا کول نشته؛ بلکې الله زه له ساده، پاک او اسان دين سره مبعوث کړی يم، زه چې د الله استازی يم هم روژه نيسم، هم لمونځ کوم، هم مې کورني کار او ژوند ته پام کوم، د چاچې زما دين خوښ وي؛ نو هغه دې وکړي، چې زه يې کوم او زما يوه کړلار هم واده، کور جوړول او ژوند، کورنۍ او مېرمنې ته وخت ورکول او پام دی[1].

نبوي حديث دی: اسلام کوټلی دی؛ نو د احکامو په پلي کولو کې يې محکم پر متانت ګام واخلئ او د الله له عبادته (په ډېر عبادت) د خلکو زړه مه توروئ او که داسې مو وکړل؛ نو د هغه پر اوښ سپور په څېر به ياست، چې منزل ته تر رسېدو مخکې خپل اوښ له ستړيا له پښو وغورځوي[2].

حضرت علي(ک) خپل مشر زوی ته د وصيت په ترځ کې وويل: په ژوند او د الله په عبادت کې دې منځ لاري او اعتدال جامه کړه، چې تل ورته لېوال او دوام ورکړای شې.

د يو سفر په ترځ کې د الله د استازي ځينو يارانو روژه نيولې وه او د ګرمۍ له لامله په يو کونج کې بې حاله پراته ول؛ خو ځينې نور روژه نه وو او پر کېږدۍ وهلو، څارويانو ته پر اوبو ورکولو او يو د بل پر چوپړ بوخت وو، چې پردې مهال رسول الله مبارک دې ډلې ته اشاره وکړه او و يې ويل: ټول ثواب به ددې ډلې کېږي [3].

چې شپه به نيمه شوه؛ نو رسول الله (ص) به راپاڅېد او د اودس، مسواک وهولو او د قرآن تر تلاوت روسته به په يو ګوټ کې پر عبادت بوخت شو او اوښکې يې تويولې د رسول الله (ص) ځينو بيبيانو، چې به کله هغه پردې حال وليد؛ نو ورته يې وويل:

((ته خوګناه نه لرې نو ولې دومره ژاړې ؟))

رسول الله (ص) ورته ويل: ((اياشکر و نه باسم ؟))

حضرت ام سلمه بي بي (رض) وايي: ((رسول الله (ص) يوه شپه له ما کره و، شپه، چې نيمه شوه، هغه نه و، ورپاڅېدم، و مې ليدل، چې په تپه تياره کې ولاړ دی، لاسونه يې پورته کړي او اوښکې تويوي، وايي: ((خدايه!راکړي نعمتونه دې راڅخه

[1] (سفينة البحار ٢ /٥٧٤)
[2] (بحارالانوار ٧١ /٢١١)
[3] (صحيح مسلم ١٤٤/٣)

مه اخله، دښمن مې مه ښادوه، له هغو بلاګانو، چې دې ساتلی یم، بیامې پرې مه اخته کوه، ان د سترګې د رپ هومره مې هم پر خپل حال مه پرېږده.))
ورته مې وویل: ((موروپلار مې درځار، ته خو ښښل شوی یې.))
و یې ویل: ((څوک هم له خدایه مړه خوا نه دی، حضرت یونس د یوې شېبې لپاره پر خپل حال پرېښوول شو، چې د کب په نس کې بندي شو)). [1]
د روژې میاشت به چې راغله نو رسول الله (ص) به خپل ټول مریان آزاد کړل، د لمانځه پرمهال لړزېده او چې کله به ځانته پر لمانځه و نو رکوع او سجدې یې اوږدولې خو چې له خلکو سره لمونځ یې؛ نو ډېر عادي او ساده لمونځ یې کاوه. خپل یو یار ته یې، چې د نورو مسلمانانو د جماعت امام شوی و، سپارښتنه وکړه: ((چې خلکو ته لمونځ ورکوې؛ نو د حمد تر سورت روسته یو وړوکی سورت وایه او لمونځ دې مه اوږدوه)).
کورنۍ یې په هکله وایي:
٦١٠_ د مستحبو روژو او لمونځونو شمېر:
امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) د فرضو لمونځونو دوه ګرایه مستحب لمونځ کاوه او د فرضي روژو دوه ګرایه روژې یې نیوې.

٦١١_ د رسول الله (ص) د لمونځونو شمېر:
حنان بن سدیر وایي: له امام صادق (رح) سره وم، چې عمرو بن حدیث امام وپوښت: ځار دې شم! د رسول الله (ص) د لمانځه په باب راته ووایه. امام وویل: رسول الله (ص) د ماسپښین څلور رکعته فرض او ۸ رکعته نفل او څلور رکعته فرض لمونځ کاوه، مازیګر یې ۸ رکعته نفل، ماښام یې درې رکعته فرض او څلور رکعته نفل، دماسخوتن یې څلور رکعته فرض او ۸ رکعته د شپې نفل، درې رکعته وتر لمونځ، دوه رکعته د سهار نفل او دوه رکعته یې د سهار فرض کول. ورته می وویل: ځار دې شم، که تردې ډېر لمونځ وکړم نو آیا الله به مې په عذاب کړي؟ امام وویل: نه خو که د پیغمبرسنت دې پرېښول؛ نو پر عذاب به دې کړي.
٦١٢_ وتیره لمونځ:
امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) به د ماسخوتن تر فرض لمانځه روسته دوه رکعته وتیره لمونځ کاوه او ویدیده به. ابوبصیر وویل: له لمونځ اوتېره مومطلب هماغه دوه رکعته دي، چې د ماخښوتن تر لمانځه روسته په ناسته کېږي؟! امام وویل: هو! هغه دوه رکعته یو رکعت شمېرل کېږي او که چا وکړل او پر هماغه شپه مړ شي؛ نو

[1]. (بحار الانوار۱٦/۲۱۷)

د هغه په خبر به وي، چې د آخرې شپې د وتر لمونځ يې کړی وي او که مړ هم نه شو؛ نو داسې دی، چې د شپې په پای کې پاڅېدلی وي او د وتر لمونځ يې کړی وي. ورته مې وويل: آيا پېغمبر هم دا دوه رکعته کول؟امام: نه! ومې پوښتل: ولې؟ امام: ؛ ځکه رسول الله (ص) ته وحې راتله، چې پر هغه شپه به مرې که نه او که ژوندی دی، چې نورو دا پوهه نه درلوده؛ ځکه يې پخپله نه کوله خو نورو ته يې پرې سپارښتنه کوله.

٦١٣_ په سفر کې لمونځ:

امام باقر (رح) وايي: رسول الله (ص) که په کور کې و که په سفر خو هره شپه يې ديارلس رکعته لمونځ کاوه، چې د وترو او د سهار دوه رکعته هم په دې ديارلس رکعتونوکې ول.

٦١٤_ د پېغمبرانوځانګړنې:

امام رضا (رح) وايي: په سپين چرګ کې د الهي پېغمبرانو پينځه ځانګړنې دي ، چې يو يې هم د لمانځه د وخت پېژندل دي.

٦١٥_ فرض او نفل لمونځ:

زراره وايي: امام باقر (رح) مې د لمانځه د وخت په باب وپوښت، و يې ويل: چې د يو ذراع – شاخص سيوري- هومره د لمر له زواله وخت واوړي نو د ماسپښين د لمانځه د فضيلت وخت دی او د مازيګر د فضيلت وخت له لومړي ماسپښينه د دوو ذراعو هومره د سيوری لوړېدل دي، چې د څلور ګامونو هومره د لمر له زواله تېر شوی وي. بيا امام باقر (رح) وويل: د رسول الله (ص) د جومات د دېوال لوړوالی د يو انسان د اوږدوالي هومره و، چې سيوری يې د يو ذراع هومره شو؛ نو رسول الله (ص) د ماسپښين لمونځ کاوه او چې کله به د دوو ذراع هومره شوه؛ نو رسول الله (ص) د مازيګر لمونځ کاوه. بيا يې وويل: آيا پوهېږې، چې د لمانځه وخت ولې د يوه ذرع او دوه ذرع هومره وځنډېد؟ و مې ويل: نه! ولې داسې وشول؟ امام: د نفل د لمونځ لپاره وکړای شي، چې د ماسپښين له پيله پر نوافلو بوخت شي، چې سيوری يو ذارع ته راورسي او چې سيوری يو ذارع شو؛ نو فرض لمونځ دې وکړه او نفل پرېږده او چې سيوری دوه ذراع شو؛ نو د مازيګر فرض لمونځ وکړه او نفل پرېږده.

٦١٦_ د سهار لمونځ:

زراره وويل: وا مې واورېدل، چې امام محمد باقر وويل: رسول الله (ص) تر ماسپښينه هېڅ لمونځ نه کاوه، د ماسپښين پرمهال ، چې سيوری د نيمې ګوتې هومره راورسېد؛ نو د ماسپښين پر لمونځ به بوخت شو؛ نو د ماسپښين تر لمانځه روسته يې د مازيګر دوه رکعته نفل کول او مخکې تردې، چې مازيګر راورسي نو دوه رکعته يې کول، څو سيوری دوو ذارع ته

ورسېد؛ نو هله يې د مازيګر لمونځ وکړ او چې لمر پرېووت نو د ماښام لمونځ يې کاوه او د شفق تر پټېدو روسته يې د ماخښوتن لمونځ کاوه ويل يې: د ماخښوتن لمونځ د شپې تر دريمې برخې وي او تر هغې روسته يې لمونځ نه کاوه، چې شپه پر نيمايي واوختړه؛ نو راپاڅېده او ديارلس رکعته لمونځ يې هم کاوه او چې د سهار څرک به راښکاره شوه او هوا به روښانه شوه؛ نو د سهار لمونځ يې کاوه.

۶۱۷_ د شپې لمونځ:

معاوية بن وهب وايي: امام صادق (رح) وويل: چې به شپه شوه؛ نو د ويدېدو پرمهال يې درسول الله (ص) سر ته د اوبو سرپوښلی لوښی کېښوده، رسول الله (ص) به مسواک هم خپل سرته کېښود او ويده به شو اوتر هغه به ويده و، چې الله غوښتل، چې له خوبه به راپاڅېد، کېناسته او اسمان ته يې کتل، ويل يې: ((ان فی خلق السموات ولارض)) د آل عمران سورت يې تر پايه وايه، بيا يې مسواک واهه، اودس يې کاوه، د خپل لمانځه ځای ته تله او پر څلور رکعتي لمانځه به بوخت شو، د هرې رکوع اوږدوالی يې د فاتحې او (اخلاص) سورتونو هومره و او د سجدی اوږدوالی يې د رکوع هومره و، تردې چې خلکو وويل، چې کله له سجدې راپورته کېږي او سجدې ته ځي او سجده دومره اوږدېده، چې ويل کېدل: څه وخت سر راپورته کوي؟

بيا خپلې بسترې ته ورتله او ويدېده اوتر هغې ويده و، چې الله غوښتل؛ نو بيا به راويښ شو، کېناسته، هماغه آيتونه يې ويل مسواک يې واهه، اودس يې کاوه، درې رکعته د وتر لمونځ يې کاوه، بيا يې د سهار د لمانځه دوه رکعته نفل وکړل او د سهار د لمانځه لپاره به جومات ته ولاړ.

۶۱۸_ د سهار نفل:

چې د سهار څرک به راښکاره شو؛ نو رسول الله (ص) د سهار نفل کول او بيا د سهار لمانځه ته له کوره وته.

۶۱۹_ د ګناهونو ښښل کېدل:

شيخ طوسي وايي: د رسول الله (ص) لمونځ دوه رکعته دی، په هر رکعت کې د حمد سورت تر ويلو روسته پر ولاړه پينځلس ځل د ((انا انزلنا)) سورت وايي، پينځلس ځل په رکوع کې، پينځلس ځل، چې له رکوع سر راپورته کړي، پينځلس ځل په لومړۍ سجده کې، پينځلس ځل له سجدې تر سر راپورته کولو روسته، پينځلس ځل په دويمه سجده کې، پينځلس ځل چې سر له دوېمې سجدې راپورته کړي او دويم رکعت هم همداسې وکړي، چې سلام دې واړوه نو څنګه دې، چې زړه و د لمونځ تعقيبات ووايه او لمونځ، چې دې خلاص شو؛ نو ټول ګناهونه دې ښښل شوي دي.

٦٢٠_ د لمونځونو زياتول:

امام صادق (رح) وايي: د روژې مياشت، چې رارسېده؛ نو رسول الله (ص) خپل لمونځونه زياتول، زه يې هم ډېروم تاسې هم دا كار وكړئ.

٦٢١_ د رمضان مياشتې نفل:

محمد بن يحيى وايي: له امام صادق (رح) سره وم، چې وپوښتل شو: د رمضان په مياشت كې مو نفل ډېرولای شو؟ امام وويل: هو!(د روژې په مياشت كې به) رسول الله (ص) تر وتيره لمانځه روسته پخپله مصلا كې ودرېده او پر نفلونو به بوخت شو، تردې چې خلک ورو ورو د الله په رسول پسې راټولېدل اوغوښتل يې دا نفل لمونځ له رسول الله (ص) سره پر جمعه وكړي، چې خلک به راټول شول؛ نو رسول الله (ص) له نفلو لاس اخسته او كور ته تله، چې خلک به خپاره شول؛ نو جومات ته راستنېده او نفل يې كول، بيا ورپسې خلک راغلل او غوښتل يې دا نفل لمونځ له رسول الله سره پر جمع وكړي؛ خو پيغمبراكرم صلى الله عليه وآله وسلم هغوی پرېښوول او كور ته تله او دا كار يې څو ځل وكړ.

٦٢٢_ په روژه كې د رسول الله (ص) لمونځ:

د امامانو يو شمېر يارانو وويل: د روژې په مياشت كې مو د رسول الله (ص) د لمانځه په باب له امام صادق (رح) او امام رضا (رح) وپوښت، چې دواړو راته دا حديث روايت كړ:

د رمضان مياشتې لومړۍ شپه، چې به راورسېده؛ نو رسول الله (ص) د ماښام له لمانځه سره څلور ركعته نفل كول، بيا يې ٨ ركعته نور هم كول او د ماخښوتن تر لمانځه روسته يې دوه ركعته نفل په ناسته كول او بيا پاڅېده او دولس ركعته نور يې په ولاړه كول او بيا كور ته تله، خلكو ليدل، چې د روژې د مياشتې په راتګ د رسول الله (ص) لمونځونه هم زيات شي، د كار علت يې ترې وپوښت، رسول الله (ص) ورته وويل: ((دا لمونځونه؛ ځكه كوم، چې د روژې مياشت د نورو په پرتله ډېر فضيلت لري.)) بله شپه بيا رسول الله (ص) غوښتل نفل لمونځ وكړي، بيا ورپسې خلک ودرېدل، چې په جماعت ورسره نفل وكړي؛ نو رسول الله (ص) خلكو ته وويل: ((خلكو! دا لمونځ نفل دی او نفل په جماعت نه كېږي! هر يو پخپله لمونځ وكړئ او څه چې الله په خپل كتاب كې درښوولي، ويې وياست او بيا يې سپارښتنه او ټينګار وكړ: خلكو!په نفل لمونځونو كې جماعت نه وي.)) خلک ټول خپاره شول او هر يوه ځان ته لمونځ وكړ، څو د رمضان نولسمه شپه راورسېده، د لمر پرېوتنې پرمهال رسول الله (ص) غسل وكړ، د

ماښام لمونځ یې وکړ او د تل په څېر یې د ماښام تر لمانځه روسته څلور رکعته وکړل او بیا کور ته ولاړ، چې بلال د ماخښوتن اذان وکړ؛ نو رسول الله (ص) راغی او له خلکو سره یې د ماخښوتن لمونځ په جماعت وکړ او روسته یې د نورو شپو په څېر دوه رکعته نفل په ناسته وکړل، بیا پاڅېد او د قدر د شپې (۱۰۰) رکعته نفل لمونځ یې وکړ، چې په هر رکعت کې یې د ((حمد)) تر سورت روسته لس ځل د ((قل هوالله حد)) سورت وایه، چې د قدر د شپې له نفلو خلاص شو؛ نو د نورو شپور په څېر یې د شپې لمونځ او وتر وکړل. د روژې په شلمه یې د نورو شپو په څېر د ماښام تر لمانځه روسته ۸ رکعته او د ماخښوتن تر لمانځه روسته یې د روژې د میاشتې دولس رکعته نفل وکړل. پر ۲۱ مه شپه، تر لمر پرېوتنې ور و رسته به یې غسل وکړ او د نولسمې شپې کړنې یې پرځای کړې. پر ۲۲مه یې لمونځونه نور هم زیات کړل، د ماښام تر لمانځه روسته یې ۸ رکعته او د ماخښوتن تر لمانځه روسته یې د روژی د میاشتې ۲۰ رکعته نفل وکړل. ۲۲مه شپه چې راورسېده؛ نو غسل یې وکړ او د نولسمې او۲۱مې شپې کړنې یې پرځای کړې.

بیا امام د روژې په میاشت کې د یومیه نافل-پنځوس رکتعه –په باب وپوښتل شو، و یې ویل: رسول الله (ص) د روژې د میاشتې نوافل هم کول او ورسره یې هغه پنځوس رکعتونه هم کول، چې په نورو میاشتو کې یې کول.

له ۲٤ مې شپې څخه تر پایه د نورو شپو لمونځونه هم د ۲۲مې شپې په څېر دي.

۶۲۳_ دوه رکعتي لمونځ:

امام رضا (رح) وایي: رسول الله (ص) د محرم د میاشتې پر ړومبۍ ورځ دوه رکعته لمونځ کاوه.

۶۲٤_ د ماښام په لمانځه کې ځنډ:

یزید بن خلیفه وایي: امام صادق (رح) ته مې وویل: عمر بن حنظله د لمانځه د وختونو په باب څه مطالب ستاسې له خولې رانقل کړي. امام: هغه زموږ په باب دروغ نه وایي. ورته مې وویل: عمر بن حنظله وایي: د ماښام د لمانځه وخت هله دی، چې د لمر ټیکلی پټ شي؛ خو رسول الله (ص)، چې په سفر کې په بیړه کې و؛ نو د ماښام لمونځ یې ځنډاوه او له ماخښوتن سره یې کاوه. امام: عمر بن حنظله سم ویلي دي.

۶۲۵_پر لمونځ کوونکیو لورنه:

امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) د باران پر شپه د ماښام لمونځ ځنډاوه او د ماخښوتن لمونځ یې رامخې ته کاوه او دواړه یې یو ځای کول، ویل یې: ((هغه چې پر نورو نه لورېږي، الله به پرې و نه لورېږي.))

٦٢٦_ د ماسپښین او مازیگر د لمانځه یو ځای کول:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) د سفر او مهمو چارو پرمهال د ماسپښین او مازیگر او د ماښام او ماخښوتن لمونځ یوځای کاوه.
٦٢٧_ پرېږده، چې هوا سړه شي:
امام صادق (رح) وايي: په گرمو ورځو کې، چې موذن د اذان کولو اجازه غوښته نو رسول الله (ص) ورته وویل: ابرد، ابرد، پرېږده، چې هوا سړه شي، پرېږده، چې هوا سړه شي.
د"علاء" په کتاب کې له محمد بن مسلم روایت دی، چې و یې ویل: په نبوي جومات کې مې لمونځ کاوه، امام باقر(رح) ولیدم، چې روسته یې راته وویل: کله هم په هغه وخت کې فرض لمونځ مه کوه. آیا په هغه گرمۍ کې دې لمونځ کاوه؟ ورته مې وویل: نفل مې کول.
٦٢٨_تر لمانځه روسته د اړتیاوو پوره کول:
چې رسول الله (ص) ته به څوک راغی او آنحضرت(ص) لمونځ؛ نو کس به د رسول الله (ص) ترڅنگ کېناسته نو د هغه په پار یې لمونځ لنډاوه، ورته یې ویل یې: ((آیا اړتیا لرې؟)) د هغه تر اړتیا پوره کونې روسته بیا لمونځ کاوه.
٦٢٩_ په لمانځه کې د رسول الله (ص) ژړا:
آنحضرت(ص)، چې به په لمانځه بوخت شو؛ نو د الله له وېرې به یې رنگ والوت او ژړغونی غږ ترې اورېدل کېده.
٦٣٠_ د رسول الله (ص) خضوع:
آنحضرت(ص) په لمانځه کې داسې و؛ لکه جامې چې پرځمکه پرتې وې.
٦٣١_ د لمانځه وخت:
حضرت عایشه بي بي وايي: رسول الله (ص) له موږ سره خبرې کولې او موږ هم ورسره خبرې کولې، چې د لمانځه وخت به شو؛ نو بیا رسول الله (ص) به داسې حالت راغی، چې نه یې موږ پېژندو او نه موږ هغه پېژنده.
٦٣٢_ چپ او ښي اړخ ته کتل:
آنحضرت(ص) کله کله په لمانځه کې کیڼ او ښي خوا ته کتل خو شا ته یې نه کتل.
٦٣٣_ سجدو او رکوع ته دې پام وسه:
حضرت علي (ک)، چې محمد بن ابي بکر د مصر والي کړ؛ نو په خپلو سپارښتنو کې یې ورته وویل: خپلو رکوع گانو او سجدو ته دې پام وسه؛ ځکه د رسول الله (ص) لمونځ تر ټولو بشپړ او په عین حال کې لنډ و.
٦٣٤_ خوله وینځل:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص)، چې به غوښه وخوړه نو بې له دې چې لاسونه ووینځي، په هماغه حال کې یې

لمونځ کاوه؛ خو چې شيدې به يې وڅښلې نو د لاسونو او خولې تر وينځلو روسته يې لمونځ کاوه.

۶۳۵— ګټور اذان:

ابن سنان وايي: امام صادق (رح) ته مې وويل: موږ داسې موذن لرو، چې تر سهار مخکې اذان کوي. امام وويل: که څه سهار شوی نه وي؛ خو اذان يې د ګاونډويان په ګټه دی؛ ځکه د شپې لمانځه ته به راپاڅي خو سنت دا دی، چې د سهار راختنې پرمهال اذان وشي و يې ويل: د اذان او د لمانځه ترمنځ هماغه دوه رکعته د سهار د نفل لمونځ واټن دی.

۶۳۶_ پر لوړ غږ اذان:

امام صادق (رح) وايي: چې د لمانځه وخت به شو؛ نو رسول الله (ص) حضرت بلال ته ويل، چې پردېوال وخيژه او پر لوړغږ اذان وکړه.

۶۳۷_ اووه تکبيرونه:

امام باقر(رح) وايي : يوه ورځ رسول الله (ص) حسين پر اوږو سپور کړی، له کوره د جومات پر لوري ولاړ، رسول الله (ص) حسين په څنګ کې کېناوه او خلک هم په رسول الله (ص) پسې په صفونو کې ودرېدل (امام حسين ډېر روسته په خبرو راغی او خلک وېرېدل، چې تر پايه خبرې و نه کړي) رسول الله (ص) د لمانځه تکبير ووايه، چې امام حسين هم له رسول الله (ص) سره تکبير ووايه، رسول الله (ص)، چې د خپل زوی تکبير واورېد؛ نو بيا يې تکبير ووايه، دا ځل بيا امام حسين له رسول الله سره تکبير ووايه، څو رسول الله (ص) اوه ځل تکبير ووايه او امام حسين هم ورسره ووايه؛ نوهمدا وو، چې د لمانځه په پيل کې تکبير ويل سنت شول.

۶۳۸—د رسول الله (ص) تکبير:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) به د تکبيرة الاحرام او همداراز د رکوع او تر رکوع روسته تکبير ويلو ته خپل لاسونه تر غوږونو راپورته کول.

۶۳۹_ په لوړ غږ "بسم الله":

امام باقر(رح) وايي: رسول الله (ص) په لمانځه کې "بسم الله الرحمن الرحيم" پر لوړ غږ ويله.

۶۴۰_ په لوړ غږ بسم الله:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص)، چې له خلکو سره لمونځ؛ نو بسم الله يې په لوړ غږ ويله.

۶۴۱_ په لمانځه کې خوله وازی:

حضرت علي (ک) وايي: که رسول الله (ص) ته په لمانځه کې خوله وازی راتله؛ نو پر خوله يې ښی لاس ايښوده.

۶۴۲_ د ډېر غم پرمهال:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) د لمانځه پرمهال پر ږيره لاس راکښود، ددې کار لامل مې ترې وپوښت، و يې ويل: ((هغه مهال راباندې غم زيات وي.))

۶۴۳ـ تر لمانځه مخکې استعاذه:
حضرت ابوسعید خدري(رض) وايي: رسول الله (ص) به لمانځه کې تر قرائت مخکې ((اعوذبالله من الشيطان الرجيم)) ويل.
٦٤٤_ لنډ خو بشپړ لمونځ:
د آنحضرت(ص) لمونځ تر ټولو لنډ خو بشپړ و، پر لمانځه چې درېده، تر "الله اکبر" وېلو روسته يې ژر "بسم الله" ويله.
٦٤٥_ د پېغمبراکرم دوه ځل تمېدنه:
امام صادق (رح)د امام باقر(رح) له خولې ويلي: په لمانځه کې د رسول الله (ص) د قرائت په اړه د دوو اصحابو ترمنځ اړپېچ شو، د اړپېچ هواري لپاره يې ابي بن کعب ته ليک واستو، هغه ورته په ځواب کې وويل: رسول الله (ص) په دوو ځايو کې تمېده: يو ځل د فاتحة الکتاب تر ويلو روسته او بل ځل د سورت تر ويلو روسته.
٦٤٦_ په لمانځه کې دوه دمې:
سمره او ابي بن کعب ويلي: لومړی مکث تر تکبيرة الاحرام ويلو روسته او بل يې د حمد تر سورت روسته و.
٦٤٧_ په هر لمانځه کې سورت:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) د سهار په لمانځه کې "عم يتسالون"، "هل اتيک حديث الغايشه"، "لااقسم بيوم القيامه" او دې ته ورته سورتونه ويل. د ماسپښين په لمانځه کې يې "سبح اسم"، "والشمس وضحيها"، "هل اتيک حديث الغاشيه" په څېر سورتونه ويل او د ماښام په لمانځه کې يې د "قل هوالله احد"، " اذاجاءنصرالله والفتح" او د "اذا زلزلت" په څېر لنډ سورتونه ويل او د ماخښوتن په لمانځه کې يې د ماسپښين، مازيګر او ماښام په څېر سورتونه ويل.
٦٤٨— د شپې په لمانځه کې سورت:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) د شپې د لمانځه په روستي رکعت کې د "هل اتی علی الانسان" سورت وايه.
٦٤٩_ د شپې لمونځ:
آنحضرت(ص) د شپې لمانځه درې روستي رکعتونه "شفع او وتر" له نهمو سورتونو سره کاوه: په لومړي رکعت کې "الهکم التکاثر"، " انا انزلناه" او " اذا زلزلت"، په دويم رکعت کې "الصمد"، "والعصر" او "اذاجاءنصرالله والفتح" او په يو رکعتي وتر کې يې د"قل ياايها الکافرون"، "تبت" او د "قل هوالله احد" سورتونه ويل.
٦٥٠_ قنوت:
امام صادق (رح) وايي: په ټولو لمونځونو کې په دويم رکعت کې تر رکوع مخکې قنوت ويل لازمي سنت دي.
٦٥١_ په ټولو لمونځونو کې قنوت:
حضرت براء بن عازب ويلي: رسول الله (ص) هېڅ فرض لمونځ بې قنوته و نه کړ.

۶۵۲_ قنوت د انبیاوو علیه السلام ځانګړنه ده:
امام حسن عسکري وايي: الله رسول الله (ص) ته وويل: ته، علي او د علي له ځوځاته امامان مې د قیامت تر ورځې پر لسو ځانګړنو ځانګړي کړئ، چې یو یې هم د لمانځه په دویم رکعت کې د قنوت ویل دي.
۶۵۳_ د رکوع او سجدې د ذکر علت:
هشام بن حکم وايي: امام موسی بن جعفر مې وپوښت: ولې په رکوع کې "سبحان ربی العظیم وبحمده" او په سجده کې "سبحان ربی الاعلی وبحمده" ویل کیږي؟
و یې ویل: هشامه!رسول الله (ص) یې، چې معراج ته بوت نو هلته یې لمونځ وکړ او پر هغه شپه، چې ستر الله یې لیدلی و، بدن یې په لړزه شو او بې واکه رکوع ته ولاړ او پکې یې وويل: "سبحان ربی العظیم وبحمده"او، چې له رکوع راپاڅېد؛ نو حق تعالی یې له هغې هم پر لوړ مقام وموند نو له وېرې پر سجده شو او یې ویل: "سبحان ربی الاعلی وبحمده" او چې دا ذکر یې اوه ځل تکرار کړ؛ نو له زړه یې وېره لرې شوه؛ ځکه سنت شو.
۶۵۵_ رکوع او سجدې ته دې پام وسه:
حضرت علي (ک)، محمد بن ابوبکر ته ولیکل: رکوع اوسجدو ته دې پام وسه؛ ځکه سره له دې چې د رسول الله (ص) لمونځ تر ټولو بشپړ و خوتر ټولو زیات یې ورته پام و، په رکوع کې یې یوازې درې ځل "سبحان ربی العظیم وبحمده" او په سجده کې یې "سبحان ربی لاعلی وبحمده" ویل.
۶۵۶— د رسول الله (ص) سجده:
حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص)، چې سجدې ته تله؛ نو لاسونه یې تر زنګونو مخکې ځمکې ته وړل.
۶۵۷_ د سجدې څرنګوالی:
حضرت علي وايي: رسول الله (ص) په سجده کې پر ورغیو ډډه وهله، مټې یې خلاصې وې، چې تخرګونه یې له شا ښکارېدل.
۶۵۸_ پر خمره سجده:
رسول الله (ص) پر خمره (کوشنې پوزي، چې د کجورو له پاڼو بڼل کېده) سجده کوله.
۶۵۹— د سجدې کولو پرځای اوبه شیندل:
امام باقر(رح) وايي: رسول الله (ص) د خپلې سجدې پرځای اوبه شیندلې.
۶۶۰_ د رسول الله (ص) کونټۍ:
امام باقر(رح) وايي: رسول الله (ص) یوه کونټۍ درلوده، لاسکی یا قبضه یې د اوسپنې وه، چې ډډه یې پرې وهله او د اختر پر ورځو یې را اخسته او د لمانځه پرمهال یې خپلې مخې ته ایښوده.
۶۶۱_ د سجده ځي او خلکو ترمنځ حایل:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص)، چې لمونځ؛ نو د جای نماز مخې ته يې خپله کونتې ايښوده.

٦٦٢_د اختر په لمانځه کې اووه تکبيرونه:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) د لوی ختر په لمانځه کې په لومړي رکعت کې اووه تکبيرونه (تکبيرة الحرام + د قنوت پينځه تکبيرونه + رکوع ته د تلو تکبير) او په دويم رکعت کې پينځه تکبيرونه (څلور د قنوت لپاره او يو رکوع ته د تګ لپاره) ويل.

٦٦٣_ د استسقاء لمونځ:

امام باقر(رح) وايي: رسول الله (ص) استسقاء او باران غوښتو ته دوه رکعته لمونځ کاوه، په ناسته يې دعا کوله او له خدايه يې باران غوښته او د اسستقاء په لمانځه پسې يې خطبه ويله او لمونځ يې هم په جيګ غږ کاوه.

٦٦٥_ په بېديا کې د اختر د لمانځه سنت:

امام باقر(رح)وايي: سنت دی، چې د هر ښار اوسېدونکي د لوی او کمکي اختر لمانځه ته بېديا ته ولاړ شي؛ خو د مکې خلک چې په مسجدالحرام کې يې لمونځ کاوه.

٦٦٦_ په بېديا کې لمونځ:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص)، چې لمانځه ته له ښاره وته؛ نو د"شجره" له لارې تله او د"معرس" له لارې راستنېده او چې مصلی ته تله؛ نو اوږده لار يې ټاکله او راتګ ته يې لنډه لار ټاکله.

٦٦٧_ په بېديا کې د باران غوښتنه:

حضرت علي (ک) وايي: سنت دی، چې يوازې په بېديا کې د باران غوښتنه وشي، چې خلک وکړای شي، اسمان ووينې؛ خو په مکه کې بايد په مسجد الحرام کې د باران غوښتنه وشي.

٦٦٨_د لمانځه د ليکو اوډون:

حضرت نعمان وايي: رسول الله (ص) د جمعې د لمانځه ليکې داسې برابرولې، چې د غشي په څېر هېڅ کوږوالی پکې نه و(دې مسلې ډېر اهميت درلود) يوه ورځ جومات ته راغی او په لمونځ ودرېد، چې غوښتل يې تکبيرة الاحرام ووايي، پام يې شو، چې د يو سړي سينه له نورو رامخکې ده؛ نو رسول الله وويل: ((د الله بندګانو! صفونه مو منظم کړئ ګنې نو په زړونو کې به مواړېيچ راپيدا شي.))

٦٧٠_ د لمانځه د وخت لېوالتيا:

آنحضرت(ص) بې صبره د لمونځ وخت ته په تمه و، چې د لمانځه وخت رارسېده؛ نو خپل موذن حضرت بلال ته يې ويل: ((بلاله! په اذان مې خوشحاله کړه!))

٦٧١_ لومړی لمونځ:

حضرت علي وايي : رسول الله (ص) هېڅ څه پر لمانځه نه مخکې کول، چې د لمانځه وخت به شو؛ نو ته وا له خپله

کورنۍ، اولاد، خپلوانو او دوستانو یو هم نه پېژني.

٦٧٢_ د ماښام لمونځ:

د ماښام د لمانځه وخت، چې رارسېده؛ نوآنحضرت(ص) یو کار هم پر ماښام لمانځه نه ورمخکې او د ماښام لمونځ یې په لومړي کې وخت کاوه.

٦٧٣_ د رسول الله (ص) د سترگو رڼا:

رسول الله (ص) وایي: ((زما د سترگو رڼا یې په لمانځه او روژه کې ایښې ده.))

٦٧٤_ پر لمانځه نه مړېږم:

رسول الله (ص) وایي: ((ابوذره!الله زما د سترگو رڼا په لمانځه کې ایښې‌او راباندې یې گرانه کړی دی؛لکه خواړه یې، چې پر وږي او اوبه پر تږي گرانې کړي دي.)) بیا یې وویل: ((وږی په خوړو او تږی په اوبو مړېږي؛ خو زه په لمانځه نه مړېږم.))

٦٧٥_ له الله وېره:

د الله له وېرې د آنحضرت(ص)زړه؛ لکه د دېگ خوټېده.

٦٧٦_ په لمانځه کې خشوع:

رسول الله (ص) د لمانځه پرمهال اسمان ته کتل خو د ((الذین هم فی صلاتم خاشعون)) آیت، چې نازل شو؛ نو سر یې لاندې کړ او ځمکې ته یې کتل.

٦٧٧_ په لمانځه کې پام:

شیخ صدوق ویلي: په شپږ لمونځونو کې تر تکبیرةالاحرام روسته د "توجه" د "وجهت وجهی للذی فطر السموات ولارض" دعا ویل سنت دي. د شپې د لمانځه لومړی رکعت، یو رکعت د وتر د لمانځه، د ماسپښین د نفلو لومړی رکعت، د احرام د لمانځه لومړی رکعت، د ماښام د لمانځه د نفلو لومړی رکعت او د هر لمانځه لومړی رکعت.

٦٧٨_ تر تکبیرة الاحرام روسته دعا:

په هغه حدیثونو کې، چې محمد بن عبدالله حمیري ته رارسېدلي، راغلي: په "توجه" کې هېڅ ویل شوی دعا فرض نه ده؛ خو سنت دی، چې تر تکبیرة الاحرام روسته داسې وویل شي: مخ مې د هغه الله پر لوري، چې ځمکه او اسمانونه یې پنځولي، حال دا[ د ابراهیم د ملت، د محمد(ص) ددین او امیرالمؤمنین علي د ښیون له مخې] مسلمان او یولمانځی یم او کله هم له مشرکانو څخې نه یم او په رښتیا لمونځ، قرباني، ژوند او مرگ مې د الله په واک کې دي، شریک نه لري او پرهمدې گروهه دنده راکړه شوې او مسلمان یم، خدایه! له مسلمانانو مې وگڼې، د رټل شوي شیطان له شره، اوربېدونکي او پوه الله ته پناه وړم)) او بیا د حمد سورت پیل کړه.

٦٧٩_ د پیل اووه تکبیرونه:

ابوالحسن راشد وایي: امام رضا (رح) مې د افتتاحیه تکبیرونو په باب وپوښت، و یې ویل: اوه تکبیره دي. ورته مې وویل: د الله له رسوله روایت شوي، چې په پیل کې او شپږو ورو او یو تکبیر ویل کېږی. امام

وویل: رسول الله (ص) له دې اوه تکبیرونو یو په لوړ غږ وایه.

٦٨٠_ مؤکد سنت:

سید بن طاووس وايي: د لمانځه تر سلام روسته، درې ځل تکبیر ویل او هر ځل ورسره غوږونو ته لاس وړل موکد سنت دي او رسول الله (ص) د هغو زېرو په پار، چې پرې شوي ول، خپل سنت کړل.

٦٨١— دوه رکعته نفل:

امام صادق (رح) وايي: د سهار، ماښام او ماخښوتن د اذان او لمانځه ترمنځ سنت دادي، چې کېني او نفل و نه کړي؛ خو د ماسپښین او مازیګر د اذان او لمانځه ترمنځ دوه رکعته نفل لمونځ کول سنت دي.

٦٨٢_ په جومات کې ښځې[1]:

امام باقر (رح) وايي: سنت دا دی، چې په جماعت لمانځه کې ښځې په نارینوو پسې له رکوع او سجدې سرونه راپورته کړي.

٦٨٣_ د رسول الله (ص) رکوع:

آنحضرت (ص) چې رکوع کوله؛ نو سر یې نه ډېر ټیټ و او نه جیګ؛ یعنې منځنی حالت یې درلود.

٦٨٤_ پر لارویانو پام:

امام باقر (رح) وايي: چې رسول الله (ص) به په لمانځه کې د ماشوم ژړا واورېده؛ نو لمونځ به یې لنډ کړ، چې مور یې ژر ورستنه شي او کلار یې کړي.

٦٨٥_ په سفر کې لمونځ:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) (ظاهراً په سفر کې) د اوښ کته چې یو ذراع اوږدوالی یې درلود، په خپل مخ کې ایښوده او لمونځ یې کاوه، چې د هغه او تېرېدونکیو ترمنځ حایل وي.

٦٨٦_ د وتر لمونځ وخت:

ابان بن تغلب وايي، امام صادق (رح) ته مې وویل: رسول الله (ص) به د وتر لمونځ کله کاوه؟ و یې ویل: د سهار تر راښکاره کېدو مخکې (داسې، چې د وتر لمونځ یې د سهار له راښکاره کېدو سره یو ځای خلاصېده)

٦٨٧_ د اختر پر ورځ روژه ماتی:

امام صادق (رح) وايي: سنت دي، چې د کمکي اختر پر ورځ لمونځ ته تر تلو مخکې او د لوی اختر پر ورځ تر لمانځه روسته روژه ماته شي.

٦٨٨_ په بېدیا کې لمونځ:

امام صادق (رح) وايي: د کمکي اختر پر ورځ چې پلار مې بېدیا ته د اختر لمانځه

---

[1]. ګورو چې جومات ته د ښځې په تګ بندیز نشته؛ نو موږ ته هم پکار ده، چې جوماتونو ته د ښځمنو د تګ لپاره لازمې لارې چارې چمتو کړو.

ته تله؛ نو څوک یې نه پرېښوول، چې تر پښولاندې دری او یا پوزی هوار کړي ویل یې: دا هماغه ورځ ده، چې رسول الله (ص) د لمونځ لپاره بېدیا ته تله اوخوښ و، چې په خلاصه فضا کې وي، چې اسمان ووینې، بیا یې خپل تندی پر ځمکه ایښوده اولمونځ یې کاوه.

٦٨٩_ په بېدیا کې د لمونځ کولو لامل:
امام صادق (رح) وایي: د کمکي او لوی اختر پر ورځ یې رسول الله (ص) ته وویل: څه به وشي، چې په خپل جومات کې لمونځ وکړئ ؟ و یې ویل: ((خوښ یم ټول بدن مې د اسمان ټولو څنډو ته وروښیم.))

٦٩٠_ د چپنې یا عبا اغوستل:
په روایت کې راغلي، چې د کمکي او لوی اختر پر ورځ ، که هوا سړه که توده؛ نو رسول الله (ص) چپنه اغوسته او پگړۍ یې وهله.

٦٩١_ په جیگ غږ تکبیر:
آنحضرت(ص)، چې د اختر د لمانځه لپاره واته نو د تکبیر ویلو پرمهال یې خپل غږ جیگاوه.

٦٩٢_ په مدینه کې لمونځ:
امام صادق (رح) وایي: سنت دي، چې یوازې په مدینه کې او نه په بل ښار کې د اختر لمانځه ته تر تلومخکې په نبوي جومات کې دوه رکعته نفل لمونځ وکړای شي؛ ځکه رسول الله (ص) هم کړي ول.

٦٩٣_ د اختر لمونځ:
په حدیث کې راغلي : د اختر ورځ راورسېده، مامون له امام رضا (رح) وغوښتل، چې ورسره سپور د اختر لمانځه او خطبو ته ولاړ شي.... مامون خورا ټینگار وکړ خو امام ورته وویل: امیرالمؤمنینه! که ما له دې کاره وبښئ؛ نو ډېر خوښ یم او که و دې هم نه ښښلم نو هماغسې به ولاړ شم، چې رسول الله (ص) او علي تلل. سهار شو، امام رضا (رح) غسل وکړ، سپینه پگړۍ یې ووهله، د پگړۍ یو اړخ یې شا ته، بل یې پر سینه راواچوه، خپلو مریانو او چوپړیالانو ته یې هم حکم ورکړ، چې چمتو شئ او په څېر یې عمل وکړئ، بیا یې د اوسپنې کونتۍ راواخسته، کمیس یې راپورته کړ، پښې یې ښکارېدې، لوڅې پښې بهر ووت، امام اسمان ته وکتل، څلور ځل یې تکبیر ووایه، د خپل کور مخې ته ودرېد، و یې ویل: الله اکبر الله اکبر الله اکبر علی ما هدانا الله اکبرعلی مارزقنامن بهیمة الا نعام ولحمد لله علی ما ابلانا.
امام دا هرڅه په جیگ غږ ویل او مریانو یې هم ورپسې په جیگ غږ ویل..... امام تر هر لسو قدمونو روسته ودرېده او په جیگ غږ یې څلور ځل تکبیر وایه.

٦٩٤_ د اختر لمانځه ته تگ:
آنحضرت(ص) چې د اختر لمانځه ته پر یوه ولاړ؛ نو پر بله لار راستنېده.

٦٨٥_ د امام حسین تکبیر:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) د کمکي او لوی اختر د لمانځه پرمهال يوازې يو تکبير وايه. امام حسين لا پر خبرو نه و راغلی او د ډېرې مودې هم و، يوه ورځ مور يې فاطمې جامې ورواغوستې او له نيکه سره يې کړ، هغه مهال چې رسول الله (ص) تکبير وايه؛ نو امام حسين هم تر اوو ځلو ورسره ووايه، بيا چې رسول الله (ص) دويم رکعت ته راپاڅېد او تکبير يې ووايه؛ نو امام حسين هم ورسره تکبير ووايه (دا ځل پينځه وارې) او تر هغې ورځې تر ننه دا د رسول الله (ص) سنت شو.

٦٩٦_ داستسقاء لمونځ:

حضرت علي (ک) وايي: د استسقاء د لمانځه سنت داسې دی، چې امام پاځي، دوه رکعته استسقاء لمونځ وکړي او بيا د دعا لپاره لاسونه پورته کړي (او له خدايه اورښت وغواړي).

٦٩٧_ په استسقاء لمانځه کې چپن اپوته اغوستل:

امام باقر(رح) وايي: رسول الله (ص)، چې د استسقاء لمونځ او د باران غوښتنې لپاره بېديا ته تله؛ نو اسمان ته يې کتل او خپله چپن يې اپوته اغوسته.[1] (؛ يعنې رسول الله د الله درشل ته ويل: خدايه!؛ لکه چې دا چپن مې په واک کې ده، سرچپه مې کړه؛ نو ته هم) وچکالي پر نعمت واړوه.)

راوي وايي: له امام مې د دې کار علت وپوښت، و يې ويل: دا کار د رسول الله (ص) او د اصحابو ترمنځ يوه نښه وه[1].

٦٩٨_ د باران غوښتو دعا:

آنحضرت(ص) د باران غوښتنې پرمهال داسې دعا کوله: خدايه! بندګان او څاروي دې په اوبو ماړه کړه، لورنه دې راخپره کړه او مړې ځمکې راژوندۍ کړه)) اودا دعا يې درې ځل کوله.

٦٩٩_ تر باران لاندې درېدل:

حضرت علي وايي: هغه باران، چې د خوړو او د څارويو د روزۍ جوړونکی دی، له عرشه راکوزيږي؛ نو رسول الله (ص) د باران پرمهال تر باران لاندې درېده، تردې چې سره او ږيره به يې لمده شوه.

٧٠٠—د باران پرمهال دعا:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص)چې باران ته کتل، ويل يې: ((خدايه! دا باران راته ګټور وګرځوې.))

٧٠١_ د جمعې د لمانځه سنت:

امام باقر(رح) وايي : ((رسول الله (ص)چې دُجمعې پر ورځ دُجمعې لمانځه ته له کوره ووت نو تر هغې پر منبر ناست و، چې موذن به اذان خلاص کړ.

۷۰۲_ لمونځ کوونکیو ته د جماعت د امام سلام:

حضرت علي (ک) وایي: سنت و چې امام پر ممبر کښني او پر خلکو سلام واچوي.

۷۰۳_ په لمانځه کې دوه خطبې:

امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) دوه خطبې ویلې، چې لومړۍ خطبه به یې وویله نو پر منبر کښناسته او چې بیا درېده؛ نو دویمه خطبه به یې پیل کړه.

۷۰٤_ حمد او سورت په لوړ غږ ویل:

امام باقر(رح) وایي: د ُجمعې لمانځه حمد او سورت په لوړ غږ ووایئ، چې سنت دي.

۷۰۵_ د ُجمعې ورځې د لمانځه وخت:

امام باقر(رح) وایي: هغه وخت، چې لمر د اسمان له نیمایي واوخوت نو رسول الله (ص) به د ُجمعې لمونځ کاوه.

۷۰٦_ قنوت:

اما سجاد وایي: د ُجمعې په لمانځه کې قنوت ویل مستحب دي.

۷۰۷_ د ُجمعې لمونځ:

امام صادق (رح) وایي: د ُجمعې په لمانځه کې سنت دي، چې امام په لومړي رکعت کې جمعه سورت او په دویم رکعت کې منافقون سورت ووایي.

۷۰۸_ د اذان پرمهال ناسته:

حضرت علي وایي: رسول الله (ص)، چې جومات ته ورننووت او حضرت بلال اذان؛ نورسول الله (ص) کېناسته.

۷۰۹_ د جانماز او دېوال ترمنځ واټن:

حضرت سهل ساعدي وایي: د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم د جا نماز او دېوال ترمنځ د یوې مېږي د تېرېدو هومره فاصله وه.

۷۱۰_ درې ځل سنت دي:

د رسول الله (ص) په رکوع اوسجده کې د تسبیح په هکله هشام بن حکم امام صادق (رح) وپوښت، امام ورته وویل: په رکوع کې ((سبحان ربی العظیم)) او په سجده کې ((سبحان ربی لاعلی)) وایه. بیا امام وویل: د تسبح ویل یوځل فرض دي، درې ځل سنت او اوه ځل فضیلت دي.

۷۱۱_رکوع اوسجده:

آنحضرت(ص) په هر رکعت کې پینځلس آیتونه ویل او رکوع یې د قیام هومره او سجده یې د رکوع هومره وه او له رکوع او سجدې سر راپورته کول یې مساوي ول.

۷۱۲_ د سهار لمانځه وخت:

امام باقر(رح) وایي : رسول الله (ص) د سهار لمونځ هله کاوه، چې هوا به رڼا شوه.

۷۱۳_ پرځمکه سجده:

اسحاق بن فضل له امام صادق (رح) پر پوزي د سجدې په باب وپوښتل، امام وویل: پروا نه لري؛ خو خوښ یم پر ځمکه سجده ولګوم؛ ځکه رسول الله (ص) خوښ و، چې خپل تندی پر ځمکه

ولګوي او تا ته مې هغه خوښ دي، چې د الله د رسول خوښ ول.

۷۱٤_ ټول قرآن ویل:

له معصوم امام روایت شوي: د ((قل هوالله احد)) سورة د قرآن د درېیمې برخې‌هومره دی او د ((قل یایها الکافرون)) سورت د قرآن د څلورمې برخې هومره دی او رسول الله (ص) د وترو په لمانځه کې د ((قل هوالله احد)) سورت درې ځل وایه؛ یعنې داچې قرآن یې ختماوه.

۷۱۵_ د شپې او ورځې نفل:

امام صادق (رح) وایي: سنت دا دی، چې د ورځې د نفل لمونځ په ټیټ غږ او د شپې نفل په لوړ غږ وشي.

۷۱٦_ تر لمانځه روسته دعا:

امام باقر(رح) وایي: تر هر فرض لمونځ روسته د دعا فضیلت او ثواب تر مستحب لمانځه زیات او سنت هم دی.

۷۱۷_ له لمانځه سره تسبیح:

امام صادق (رح)، ابو هارون مکفوف ته وویل: اباهارونه! موږ اهلبیت، چې خپل اولاد ته د لمانځه سپارښتنه کوو؛ نو د فاطمة الزهرا د تسبیحاتو[1]سپارښتنه هم ورسره کوو او ته هم دا تسبیحات وایه او چاچې وویل؛ نو الله به یې بدمرغه نه کړي.

۷۱۸_ آیت الکرسي:

امام باقر(رح) وایي: رسول الله (ص) حضرت علي (ک) ته وویل: ((علي! تر فرض لمانځه روسته د آیت الکرسي ویلو سپارښتنه درته کوم؛ ځکه دا کار یوازې پېغمبران، صدیقین او شهیدان کوي.))

۷۱۹_ د وتر لمونځ:

رسول الله (ص) په خپلو دوو لمونځونو؛ یعنې شفع او یو رکعت وتر کې په لومړي رکعت کې د"سبح اسم ربک الاعلی"سورت او په دویم رکعت کې د "قل یا ایهاالکا فرون" سورت او په درېیم رکعت؛ یعنې وتر کې، چې قنوت هم پکې ویل کېږي، د"قل هوالله احد"سورت ویل، چې دا ټول سورتونه تر حمد سورت روسته ویل کېږي.

۷۲۰_ په سجده کې دعا:

حضرت علي (ک) وایي: رسول الله (ص) په سجده کې دا دعا ویله: خدایه! تا ته سجده کوم، پر تا مې ایمان راوړی او تا ته تسلیم یم، څېره مې پر خاورو هغه ته ایښې، چې جوړه کړې یې ده او پکې یې غوږ او

---

[1] د فاطمة الزهرا د تسبیحاتو په اړه د لا معلوماتو لپاره د څېړونکي د فاطمه الزهرا ژوند او یا هم خوشال بابا او نبوي کورنۍ کتابونو ته مراجعه وکړئ.

سترګې جوړې کړي؛ نو الله ستر دی او ترټولو غوره جوړونکی دی.

۷۲۱_ رکوع ته پام کوه:

حضرت علي (ک) محمد بن ابوبکر ته وليکل: رکوع ته دې پام وسه.... رسول الله (ص)، چې له رکوع راپورته کېده، ويل يې: هغوی چې الله وستايي؛ نو د هغوی ستاينه دې قبوله کړي خدايه د اسمانونو او ځمکو هومره دې شکرونه.

۷۲۲_ د دوو سجدو ترمنځ دعا:

آنحضرت(ص) د دوو سجدو ترمنځ داسې دعا کوله: خدايه! و مې بښې، راباندې ولورېږې، پناه راکړه، عافيت راوبښې، خير ته دې اړين يم ، چې رالېږې يې، نړۍ پال خدای، سپېڅلی او د لوړمقام خاوند دی.

۷۲۳_ پر پوزې لمونځ:

ميمونه بي بي وايي: هغه وړوکی پوزی، چې د خرما له پاڼو بڼل شوی و، رسول الله (ص) ته يې په جومات کې لمانځه ته هواراوه.

۷۲٤_ پر خاوره سجده :

امام حسن عسکري وويل: الله مې نيکه ته وحې راولېږله: ته، علي او د علي له ځوځاته امامانو ته مې لس ځانګړنې ورکړي، چې يوه يې په هر لمانځه کې پر خاورو سجده ده.

۷۲۵_ بشپړ لمونځ:

رسول الله (ص) خپل لمونځ په بشپړه توګه کاوه.

۷۲٦_ پر رسول ګران لمونځ:

هغه لمونځ پر آنحضرت (ص) ډېر ګران و، چې مداومت به پرې وشو او که پخپله رسول الله (ص) لمونځ پيلاوه؛ نو مداومت يې پرې کوه، که څه لنډ لمونځ و.

۷۲۷_ د شپې دوه رکعته لمونځ:

حضرت انس بن مالک(رض) وايي: وا مې ورېدل، چې رسول الله (ص) وايي: ((د شپې دوه رکعته لمونځ، پر ما له ټولې دنيا اوڅه چې پکې دي، راته ګران دی.))

۷۲۸_ د روژې په پای کې د شپې لمونځ:

آنحضرت(ص) وايي: ((قسم پر هغه الله، چې پېغمبر يې کړم، حضرت جبرائيل له حضرت اسرافيل څخه او هغه هم له الله راوړي، که څوک د روژې د مياشتې په روستۍ شپه لس رکعته لمونځ وکړي او په هر رکعت کې يوځل (حمد) سورت، لس ځل "قل هو الله احد" سورت، په رکوع او سجده کې لس ځل "سبحان الله والحمدالله ولااله الا لله ولله اکبر" ووايي او تر دوو رکعتونو روسته سلام واړوي او تر لس رکعتو روسته زر ځل " استغفرالله" ووايي او ورپسې سجدې ته ولاړشي، ووايي: ((يا حی يا قيوم يا ذی الجلال ولاکرام يا رحمن الدنيا ولاخره وحيمهما، يا ارحم الرحمين، يا اله اولالين ولاخرين اغفرلنا ذنوبنا وتقبل منا صلاتنا وصيامنا

وقیامنا)) او بیا یې ددې لمانځه د ثواب په باب ډېرې خبرې وکړې، و یې ویل: دا لمونځ یوازې الله ماته او زما امت ته راډالی کړ، چې تر ما مخکې یو پیغمبر ته یې هم ورنه کړ.))

**۷۲۹**—کور ته د ننووتو پرمهال لمونځ:

آنحضرت(ص)، چې کور ته ورننووت نو مخکې تردې، چې کېني، څلور رکعته لمونځ یې کاوه (ظاهراً دوه رکعتي) په لومړي رکعت کې یې"لقمان" سورت، په دوېم کې "یسن" سورت، په درېیم کې "دخان" او په څلورم کې یې د "تبارک الملک" سورت وایه.

## د روژې آداب

۷۳۰_ ورځ ترمنځ روژه نيول:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) پرلپسې دومره روژې ونيوې، چې خلکو ويل بيخي نه بوزه کېږي او بيا دومره بوزه و، چې خلکو ويل نوره روژه نه نيسي، تردې روسته يې يو ورځ ترمنځ روژه نيوه، بيا په هره اونۍ کې پر پنجشنبې او دوشنبې روژه کېده او په پای کې سنت داسې شو، چې رسول الله (ص) د هرې مياشتې په پيل او پای کې د پنجشنبې پر ورځ او د مياشتې په منځ کې د چهار شنبې پر ورځ روژه نيوه او ويل يې: ((چاچې داسې روژه ونيوه؛ نو داسې به وي؛ لکه ټول عمر، چې روژه وي.))

۷۳۱_ د الله په نزد خورا ناوړه چار:
امام صادق (رح) وايي: پلار مې څو ځل وويل: د الله خورا هغه خلک بد ايسي، چې ورته وويل شي، رسول الله (ص) داسې عمل کړی و او هغه څواب درکړي، چې الله به ما د ډېر لمونځ او روژو له لامله پر عذاب نه کړي؛ ځکه مانا يې دا ده، چې رسول الله (ص) يې له ډېرو کولوعاجز و.

۷۳۲_ په مياشت کې درې ورځې روژه:
امام صادق (رح) وايي: د بعثت په لومړيو ورځو کې رسول الله (ص) هره ورځ روژه کېده، خلکو ويل، چې نور رسول الله (ص) نه بوزه کېږي، بيا يې يوه ورځ ترمنځ روژه نيوه، چې دا د حضرت داوود عليه السلام روژه هم وه، بيا يې هغه هم پرېښوده او په "ايام البيض" کې؛ يعنې د هرې مياشتې په ديارلسمه، څوارلسمه اوپينځلسمه روژه کېده، بيا يې هغه هم پرېښووله او روژه يې داسې نيوه، چې يوه روژه يې د مياشتې د لومړۍ لسيزې په پنجشنبې، دويمه يې د دويمې لسيزې په چهارشنبې او درېيمه يې د درېيمې لسيزې په پنجشنبې نيوه او چې ژوندی و نو پر همدې اوډون يې روژه نيوه.

۷۳۳_ له زړه نه د وسوسو وتل:
حضرت علي (ک) وايي: د شعبان په مياشت کې روژه نيول او دا شان په هره مياشت کې درې ورځې روژه کېدل، غم اوخپگان له زړه باسي، چې لومړۍ يې د مياشت په پيل کې د پنجشنبې پر ورځ، دويمه يې  د مياشتې په منځ کې د چهارشنبې پر ورځ او درېيمه يې د مياشتې په پای کې د پنجشنبې پر ورځ ده اوموږ اهل بيت د مياشتې دا درې روژې نيسو.

۷۳٤_ د رسول الله (ص) د روژه کېدو طريقه:
تر مړينې د آنحضرت(ص) د روژه کېدو سنت دا و، چې بې د روژې د مياشتې له روژه کېدو، د شعبان مياشتې او په هره مياشت کې درې ورځې روژه کېده.

۷۳۵_ هره ورځ روژه نيسئ ؟!

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) يوه ورځ خپلو يارانو ته وويل: ((په تاسې کې کوم يو هره ورځ روژه نيسي؟)) حضرت سلمان وويل: زه، ای رسول الله (ص). يو سړي سلمان ته وويل: سلمانه! ما خو ډېرې ورځې ليدلی، چې خواړه خوري؟سلمان: هغسې نه ده، چې فکرکوې؛ بلکې په هره مياشت کې درې ورځې روژه يم او الله ويلي: چاچې نېک عمل وکړ؛ نو الله به ورته لس ګرايه ثواب ورکړي او بلخوا د شعبان مياشتې روژې هم له رمضان سره نښلوم او هر چا که داسې وکړل؛ نو داسې به وي؛ لکه ټول عمر، چې روژه وي.

رسول الله (ص) هغه سړي ته وويل: ((د هغه په څېر حکيم لقمان به پيدا نه کړې، ويې پوښته چې ځواب يې درکړي.))

۷۳۶_ د شعبان روژه:

سماعه وايي: امام صادق (رح) مې وپوښت: رسول الله (ص) به د شعبان په مياشت کې روژه و؟ امام: هو! خو ټوله مياشت روژه نه و. و مې ويل: د شعبان په مياشت کې څو ورځې بوزه و؟ امام وويل: بوزه به و. دا پوښتنه مې ترې درې ځل وکړه او درې ځل يې ځواب راکړ، چې بوزه به و. سماعه وويل: بل کال مې هماغه پوښتنه بيا وکړه او امام هماغه ځواب راکړ.

۷۳۷_ د ګناهونو کفاره:

امام باقر(رح) وايي: رسول الله (ص) د رمضان اوشعبان په دواړومياشتو کې روژه و او دا دواړه مياشتې يې سره نښلولې خو نور يې له دې کاره ژغورل او ويل يې: ((دا دواړه مياشتې د الله مياشتې دي او پکې روژه نيول د ګناهونو کفاره ده.))

۷۳۸_ د رسول الله (ص) پېشنمی او روژه ماتی:

حضرت انس بن مالک(رض) وايي: په روژه ماتي او پيشنمي کې د رسول الله (ص) خواړه يو شربت و او ډېر راپېښېدل، چې بې له دې شربته يې هېڅ خواړه نه درلودل او ډېر وخت دا شربت د شيدو و او کله به يې خواړه لمده شوې ډوډۍ وه.

۷۳۹_ په کجوره روژه ماتی:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) به د کجورو په څېرکي کې په کجورو او د وچو کجورو په څېرکي يې په وچو کجورو روژه ماتوله.

۷۴۰_ په اوبو روژه ماتی:

امام باقر(رح) وايي: رسول الله (ص)، چې روژه و، که حلوا او يا بل خوږ څيز به يې روژه ماتي ته پيدا نه کړ؛ نو په اوبو يې روژه ماتوله.

۷۴۱_ په وسکو روژه ماتی:

رسول الله (ص) به په وسکو هم روژه ماتوله.

۷۴۲_ غوره پېشنمی:

له آل محمد روایت دی: پېشنمی کول مستحب دی، ان که په یوشربت وي. روایت شوی، چې د پېشنمي غوره خواړه کجوره او قاووت دي؛ ځکه رسول الله (ص) په پېشنمي کې خوړل.

۷٤۳_ د پېشنمي خواړه:

د رسول الله (ص) ډېری خواړه حلیم و او کله یې پېشنمي ته هم ساتل.

۷٤٤_ په روژه کې ښه کار:

رمضان، چې راتله؛ نو آنحضرت(ص) ټول اسیران ازادول او بېوزلیو ته یې خیرات ورکاوه.

۷۳۵_ د رمضان په روستۍ لسیزه کې عبادت:

حضرت علي (ک) وایي: د روژې د میاشتې روستۍ لسیزه، چې رارسېده؛ نو رسول الله (ص) خپله بستره راټوله او عبادت ته یې ملا تړله او چې دروېشتمه شپه به شوه؛ نو خپله کورنۍ یې ویخه ساتله او هر یوه ته چې خوب ورتله پرمخ یې ورته سړې اوبه اچولې.

۷٤٦_ حقیقي بې برخې:

فاطمه بي بي هم د روژې پر دروېشتمه شپه کې خپله کورنۍ خوب ته نه پرېښوده او داچې د کور وګړیو ته یې خوب ورنشي؛ نو خواړه یې لږ ورکول او له ورځې یې ځان ددې شپې شوګیرې ته چمتو کول او ویل یې: بې برخې هغه دی، چې ددې شپې له خیره بې ګټې پاتې شي.

۷٤۷_ د اختر تر لمانځه مخکې روژه ماتی:

حضرت علي (ک) وایي: د کمکي اختر پر ورځ چې رسول الله (ص) د اختر د لمانځه لپاره وته؛ نو تر وتو مخکې یې په څو کجورو او وسکو روژه ماتوله.

۷٤۸_ په اخترونو کې روژه ماتی:

سنت دي، چې د لوی اختر پر ورځ تر لمانځه روسته او د کمکي اختر پر ورځ تر لمانځه مخکې روژه ماته کړې.

۷٤۹_ د ذي الحجة په میاشت کې روژه:

رسول الله (ص) د ذي الجحې پر نهمه او په هره میاشت کې درې روژې نیوې.

۷۵۰_ په رمضان کې ډېر عبادت:

د رمضان میاشت، چې راتله؛ نو د رسول الله (ص) رنګ به واوخوت، لمونځونه یې زیاتول او د الله درشل ته یې په ډېر تضرع او زارۍ دعا کوله او له الله به وېرېدلی و.

۷۵۱_ له روژې مرسته غوښتل:

آنحضرت(ص) ته به چې څه ورپېښ شول، چې غمجن به یې کړ؛ نو په روژې نیوو او لمونځ کولو یې هواروواه .

۷۵۲_ د شعبان په میاشت کې روژه:

حضرت علي وایي: په شعبان میاشت کې رسول الله (ص) د میاشتې په پیل کې درې ورځې، د میاشتې په منځ کې درې روژې او د میاشت په پای کې هم درې روژې نیوې، چې رمضان ته دوه ورځې پاتېدې نو

بوزه به شو او بیا یې د رمضان میاشتې روژې نیوې.

۷۵۳_ په خوږو خواړو روژه ماتی:

امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) روژه په حلوا ماتوله او که نه به وه نو په کجوره یې ماتوله او که دا دواړه به نه ول؛ نو په سړو اوبو یې روژه ماتوله.

۷۵۴_ پر اوبو او کجورو روژه ماتی:

امام باقر(رح) وایي: رسول الله (ص) پر "اسودین" روژه ماتوله. امام وپوښتل شو، اسودین څه دي؟ و یې ویل: یو یې وچې کجورې او اوبه دي او بل یې تازه کجورې او اوبه دي.

۷۵۵_ په بوره یا کجوره روژه ماتول:

آنحضرت(ص) په کجوره روژه ماتوله او که نه وه؛ نو په بوره.

۷۵۶_ عبادت ته ملا تړل:

امام صادق (رح) وایي: د رمضان میاشتې روستی لسیزه، چې رارسېده؛ نو رسول الله (ص) عبادت ته ځای خوشې کاوه، له ښځوسره یې کوروالی نه کاوه اوعبادت ته یې ملا تړله.

۷۵۷_ د سپوږمۍ د لیدو دنده:

د ځښتن د استازي (ص) یو ثابت سنت دا و، چې د میاشتې لیدو دنده یې پخپله پر غاړه اخسته.

۷۵۸_ د اختر تر لمانځه مخکې فطریه:

امام علی وایي: د اختر تر لمانځه مخکې فطریه ورکول سنت دي.

۷۵۹_تکبیر:

د کمکي اختر د شپې د ماښام او ماخښوتن تر لمانځه روسته، د شعبان میاشتې د دویم تر مازیګر لمانځه روسته، تر لسو لمونځونو روسته او د لوی اختر د ورځې د ماسپښین او مازیګر تر لمانځه روسته، د ذي الحجې د میاشتې د دولسم تر ګهیځ لمانځه روسته تکبیر ویل مکې ناهستوګنو ته سنت دي.

۷٦۰_ په اختر کې تکبیر:

سعید نقاشی وایي: امام صادق (رح) راته وویل: پوه شه، چې د کمکي اختر پر ورځ تکبیر ویل سنت دي. و مې ویل: کله باید وویل شي؟ و یې ویل: تر څلورو لمونځونو روسته تکبیر ویل، د ماښام او ماخښوتن تر لمانځه روسته، د کمکي اختر پر شپه، د سهار تر لمانځه روسته او د اختر تر لمانځه روسته تکبیر ویل سنت دي.

۷٦۱_ تر روژه ماتي مخکې سنت:

حضرت علي (ک) وایي: د روژه ماتي ځنډول، د پېشنمي د خوړوو ځنډول او تر روژه ماتي مخکې د ماښام لمونځ کول سنت دي.

۷٦۲_ د فطر زکات:

امام صادق (رح) وایي: د فطر زکات یو صاع سنت دی؛ یعنې له یوه جنسه درې

کیلو ورکړئ؛ لکه کجورې، وسکې یا وربشې.
**۷۶۳_ په روژه خوله کنځل:**
امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) وویل: ((الله راته شپږ ځانګړنې خوښې نه کړې او زه یې هم خپلو ځایناستو او لاروبانو ته نه خوښوم، چې یو یې هم په روژه خوله کنځل او سپکې سپورې دي.))
**۷۶٤_ برکتي او سنتي روژه ماتی:**
د کمکي اختر پر ورځ یو کس امام رضا (رح) ته وویل: نن مې په کجورو او د قبر په خاوره روژه ماتی وکړ. امام راته وویل: سنت او برکت دې یو ځای کړ.
**۷۶۵_ په کجوره روژه ماتی:**
آنحضرت (ص) په ګوټ اوبو یا لږو شیدو یا څو کجورو روژماتی کاوه.

## په نبوي سننو کې د اعتکاف آداب

۷٦٦_ د اعتکاف وخت:

امام صادق (رح) وايي: پر لومړي سپوږميز کال رسول الله (ص) د رمضان په لومړۍ لسيزه کې، پر بل کال د رمضان په دويمه لسيزه کې خو تردې روسته يې تل د رمضان په درېيمه لسيزه کې اعتکاف کاوه.

۷٦۷_ د اعتکاف قضا:

امام صادق (رح) وايي: پر دويم سپوږميز کال د بدر جګړه په رمضان کې راپېښه شوه؛ نو رسول الله (ص) په جومات کې معتکف نه شو او په بل کال رسول الله (ص) دوه لسيزې معتکف شو، چې يوه لسيزه يې د تېر کال قضا وه.

۷٦۸_ د رمضان په روستۍ لسيزه کې اعتکاف:

امام صادق (رح) وايي: د رمضان روستۍ لسيزه، چې رارسېده؛ نو رسول الله (ص) ته يې په جومات کې کېږدۍ وهله نو رسول الله (ص) پکې معتکفېده او عبادت ته يې ملا تړله.

يو سړي امام صادق (رح) وپوښت: رسول الله (ص) دا مهال له خپلو مېرمنو سره ليدل؟ امام: بې له دې چې له مېرمنو يې لرې شي[1].

---

[1]. يادونه: ارواښاد علامه طباطبايي وايي: له لرېوالي موخه کوروالی و؛ نه خبرې اترې.

## په نبوي سيرت کې د صدقې آداب

۷۶۹_ په صدقه ورکولو کې اسراف:
آنحضرت(ص) په خپل وصيت کې حضرت علي (ک) ته سپارښتنه وکړه:..... شپږم داچې په لمانځه، روژه او صدقه ورکولو کې له ما لاروي وکړې.... خو د صدقې په باب، دومره صدقې ورکولو ته ملا وتړه، چې د کال په اوږدو کې فکر وکړې، چې اسراف دې کړی دی.
۷۷۰_ اړمنو ته د مال ورکړه:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) کله هم له ځانه فقير و نه شړه، که څه يې درلودل ورکول يې که نه يې درلودل؛ نو ويل يې: ((الله دې راورسوي.))
۷۷۱—بلاعوضه ښښل:
امام صادق (رح) وايي: موږ اهل بيتو، چې څه د الله په لار کې ښښلي وي، بېرته يې نه اخلو.
۷۷۲_ په خپل لاس مرسته:
آنحضرت(ص) وويل: ((څو څيزونه به پرېنږدم: پر بې کتې خره سورېدل، له مريانو سره پر پوزي ناسته او ورسره خوړل او په خپل لاس بېوزلي ته صدقه ورکول.))
۷۷۳_ ښښنه:
رسول الله (ص) وويل: ((چې موږ يې بې برخې کړي يو او ظلم يې راباندې کړی، زموږ د اهل بيتو مړانه په دې کې ده، چې ويې ښښو.))
۷۷٤_ تر ټولو سخي:
آنحضرت(ص) تر ټولوسخي او ښښونکی و، تل يې ورکړه درلوده، چا ترې کنجوسي ونه ليده او بېوزلی يې ونه شړه.
۷۷۵_ له هر چا سره مرسته:
حضرت علي (ک) وايي: موږ اهل بيت نامستحقو ته هم ورکړه کوو، له دې وېرې، چې واقعي مستحق رد نه کړو.
۷۷٦— د"نه" ځواب ترې چا وا نهورېد:
حضرت علي (ک) وايي: د الله له رسول، چې څه وغوښتل شو، که خوښه يې وه، ورکول يې که نه يې درلوده؛ نو غلی به شو خو چا ترې د "نه" ټکی وانه ورېد.
۷۷۷_ د مؤمنانو د ستونزو هوارول:
حسن بن علي بن فضال روايتوي: امام رضا (رح) مې وپوښت: هغه مهال چې حضرت علي (ک) خليفه شو، ولې يې د فدک ځمکه راونه گرځوله؟ راته يې وويل: موږ اهل بيت د مؤمنانو پالندويان يو، گټې ته يې حکم ورکوو، حقونه يې له ظالمانو اخلو او ورگرځوو يې، موږ له خپل ځواکه د ځان لپاره گټنه نه کوو، يوازې الله کړای شي غضب شوي مالونه مو راوگرځوي.

## په نبوي سيرت کې د قرآن کريم د لوستو آداب

۷۷۸_ په هر حال کې قرآن لوستل:
حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) تل قرآن لوسته؛ خو د جنابت پرمهال نه.
۷۷۹_ د آيتونو بېلول:
حضرت ام سلمه وايي: رسول الله (ص)، چې قرآن لوسته نو هر آيت يې له بله بېلاوه.
۷۸۰_ هغه آيت، چې فضيلت يې تر زرو آيتونو ډېر دی:
آنحضرت(ص)، چې مسبحات نه ول ويلي نو نه ويدېده ويل يې: ((په دې آيتونوکې يو آيت شته چې فضيلت يې تر زر آيتونو زيات دی.)) ورته وويل شو: مسبحات کوم سورتونه دي؟ رسول الله (ص) وويل: ((حديد، حشر، صف، جمعه او تغابن))
۷۸۱_ د ويدېدو پرمهال سورت:
حضرت جابر(رض) وايي: څو د "تبارک" او د "الم تنزيل" سورتونه يې نه ول ويلي؛ نو آنحضرت(ص) نه ويدېده.
۷۸۲_ سوره اعلی:
پر آنحضرت (ص) د"سبح اسم ربک الاعلی" آيت ګران و، ويل يې: ((مکائيل لومړی تن و، چې د سبح اسم ربک الاعلی سورت يې ووايه.))
۷۸۳_تر تلاوت روسته ذکر:
حضرت ابن عباس (رض) وويل: رسول الله (ص)، چې د "سبح ربک الاعلی" سورت تلاوت کړ؛ نو ويل يې: "سبحان ربی الاعلی".
دا حديث له امام علي(ک) هم رارسېدلی دی.
۷۸٤_ د الله پر څواک د رسول الله (ص) لېينه:
حضرت ابي امامة (رض) وايي: تر حجة الوداع روسته مې د الله له رسول سره لمونځ وکړ؛ نو د "لااقسم بيوم القيامة" سورت يې ووايه او چې يې د "اليس ذلک بقادرعلی ان يحيی الموتی" سورت وايه؛ نو وا مې ورېدل، چې و يې ويل: "بلی و اناعلی ذلک من الشاهدين "؛ يعنې هو!زه هم پردې خبره لېينه ورکوم.
۷۸٥_ د رسول الله (ص) دعا:
حضرت ابن عباس(رض) وايي: د الله رسول به چې د "ونفس وماسواها فالهمها فجورها وتقويها" سورت تلاوت کړ؛ نو يوه شېبه دمه به يې وکړه او ورپسې يې وويل: ((خدايه! پرهېزګاري راکړه، زړه مې پاک کړی، ای تر ټولو غوره پاکوونکيه)) دا يې په لمونځ کې ويل.
۷۸٦— تر تلاوت مخکې استغاذه:
آنحضرت(ص) د قرآن تر لوستومخکې ويل: "اعوذبالله من الشيطان الرجيم."

۷۸۷_ په خوږ غږ تلاوت:
امام باقر(رح) وايي: په رښتيا رسول الله (ص) تر ټولو په خوږ غږ قرآن لوسته.
۷۸۸_ په ولاړه تلاوت:
رسول الله (ص) وايي: ((حضرت جبرائيل امر راکړ، چې قرآن په ولاړه تلاوت کړم.))
۷۸۹_ د تلاوت پرمهال غږ راکښل:
امام صادق (رح) وايي: مونږ اهل بيت قرآن د ((ابی)) په طريقه وايو.
د اهلبيتو په ځينو روايتونو کې د نورو اووګونو قرآيتونو تجويز هم شوی دی.
۷۹۱_ تر تلاوت روسته شهادت:
حضرت قتاده(رض): رسول الله (ص) چې به د "اليقين" سورت ولوست؛ نو ويل يې: ((هو پالونکيه! زه هم شاهد يم.))
۷۹۲_ هو! ته وسمن يې:
آنحضرت(ص) چې د ((أَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ[1] - ايا دغسې [الله] نشي کړای چې مړي بيا را ژوندي کړي؟!)) وايه نو و يې ويل: ((خدايه! ته له هر ډول عيب اونيمګړتيا پاک يې، هو! ته کړای شې، مړي راژوندي کړې.))
۷۹۳_ د تلاوت پرمهال د رسول الله (ص) ژړا:
روايت شوي، چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم به د يونس ٦۱ آيت لوسته نو سخت يې ژړل، آيت دادی: [ (نبي!) او ته چې په هر حالت (او فکر) کې يې او چې د هغه [= الله] له لوري د قرآن هره برخه لولې (او خلکو!) څه چې کوئ (نو) موږ درباندې شاهدان يو ان په هغه بهير کې (هم) چې تاسې په خپلو کړنو کې ښه ډوب ياست، د يو بخري هومره څيز ستا له پالونکي، په ځمکه او اسمان کې پټېدای نشي او تر هر څه کوشنی او تر څه لوی هم (دا ټول) په څرګندکتاب (لوح محفوظ) کې (ثبت) دي. ]
۷۹٤_ تر هر آيت روسته مکث:
آنحضرت(ص) د "قل هوالله احد" تر هر آيت روسته مکث کاوه.
۷۹۵_ په لمانځه کې "حريم" او "طلاق" سورت ويل:
څوک چې پخپلو فرضو لمونځونو کې د طلاق او تحريم سورتونه ووايي نو الله به يې د قيامت پر ورځ د وېرېدليو او غمجنو له ليکو خوندي کړي او ددې دوو سورتونو د تلاوت او ساتنې په پار به يې الله د دوزخ له اوره وساتي اوجنت ته به يې ورننباسي؛ ځکه دا دوه سورتونه په رسول الله (ص) پورې اړه لري.
۷۹٦_ د قرآن په حفظ کې بيړه:
حضرت ابن عباس(رض) وايي: چې پر رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم به د قرآن آيت نازليده؛ نو د هغې په حفظولو

[1] (قيامت /۴۰)

کې يې بيړه کوله، چې دا آيت نازل شو ((لاَ تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ))

٧٩٧_ د قرآن تلاوت:

تردې روسته چې حضرت جبرائيل رسول الله (ص) ته راتله نو هماغسې قرائت يې کاوه، چې الله ورته ويلي وو.

٧٩٨_ د سورتونو پای:

آنحضرت (ص) د سورتونو پای نه پېژنده، تردې چې [بسم الله الرحمن الرحيم] نازل شو.

٧٩٩— په کور کې د قرآن تلاوت:

په قمي تفسير کې راغلي: آنحضرت (ص) په کور کې ناست و او د قرآن تلاوت يې کاوه.

## د خاتم النبيين (ص) دعا کول

رسول الله (ص) د دعا ډېره سپارښتنه کوله او د عبادت ماغزه يې ګڼله او د دعا د ارزښت په هکله يې ويل: ((دعا د مؤمن وسله، د دين ستن او داسمانونو او ځمکې رڼا ده)). پوه شئ! قضا بې له دعا بل څه نشي بدلولای.

او ويلي يې دي: ((الله ته دعا وکړئ، د خپلې دعا پر قبلېدو ډاډ ولرئ، پوه شئ، چې الله د غافل او بې خبره زړه دعا نه مني)).

بيا يې وويل: ((د اړتيا پرمهال يې له الله وغواړئ او په سختيو کې ورته پناه يوسئ او ورته زاري او دعا وکړئ؛ ځکه دعا د عبادت ماغزه دي او داسې مؤمن به نه وي، چې دعا وکړي او الله يې دعا ونه مني خو دومره خبره ده، چې ځينې د خپلې دعا پايله په همدې دنيا کې او ځينې يې په هغه دنيا کېويني او دا ټول هغه مهال کېدای شي، چې د چا غوښتنه ګناه نه وي.))

پېغمبراکرم (ص) وويل: الله خپل يو استازي ته داسې وحې و کړه: ((پر خپل عزت او جلال مې قسم، چې که څوک بې له ما بل ته هيلمن شي؛ نو نهيلی به يې کړم او په خلکو کې به يې خوار او ذليل کړم او له خپل فضل او پراختيا به يې لرې او بې برخې کړم. زما بنده په سختيو کې نورو ته سترګې اړوي حال دا سختۍ زما په لاس کې دي او نورو ته هيلمنېږي، زه مړه خوا ښښونکی يم، د تړليو ورونو کونجي له ماسره ده او هغوی ته مې د دعا د قبلېدو ور خلاص دی، چې ما ته دعا وکړي)).

د الله د استازي او د ديني مشرانو سپارښتنه ده، چې د دعا په پيل او پای کې پر "محمد" او " آل" يې درود ووايئ.

امام جعفر صادق ته يې يو يار وويل: په قرآن شريف کې آيت دی:

((ادعونی استجب لکم)) حال دا موږ دعا کوو خو نه قبلېږي. امام ورته وويل: ګومان کوې، چې الله پر خپله ژمنه ولاړ نه دی ؟ورته يې وويل: نه!امام وپوښتل: ستا په ګومان علت يې څه دی ؟ يار يې ورته وويل: نه پوهېږم! بيا امام ورته وويل: څوک چې د الله احکام پلي کړي او له خپلې لارې دعا وکړي؛ نو الله به يې دعا قبوله کړي. ويې پوښتل: د دعا خپله لار څه ده ؟ امام ورته وويل: داچې ړومبی د الله ستاينه وکړې، نعمتونه يې رایاد او شکر يې وباسې او بيا پر محمد او آل يې درود ووايې، بيا خپلې ګناهګانې بيان او منښته پرې وکړې او بيا له خدايه ښښنه وغواړې، دا دعا لار ده.

## د خاتم الانبياء د دعاوو بېلګه

حضرت ام سلمه بي بي وايي: يوه شپه له خوبه پاڅېدم، ومې ليدل، چې رسول الله (ص) په بستره کې نشته؛ نو له ځان سره مې وويل: رسول الله به چېرې تللی وي ؟ پام مې شو، چې د کوټې په ګوټ کې پر عبادت بوخت دی، ورته غوږ شوم، چې پر ژړغوني غږ يې ويل: ((خدايه! کوم صالح څيزونه، چې دې راکړي؛ نو له ما يې مه اخله. خدايه! کينه کښ دښمن رالاسبری مه کړې. خدايه! هغه بديو او ناوړه پېښو ته مې ورستون نه کړې، چې تا ترې راايستی يم. خدايه! د سترګو د رپ هومره مې هم پر خپل حال پرېنږدې.))

ام سلمه بي بي وايي: دلته چې راورسېد؛ نو په چغو چغو مې وژړل، چې د رسول الله مبارک لمونځ او دعا پای ته ورسېده، و يې پوښتلم: ام سلمې! ولې ژاړې؟ ورته مې وويل: رسول الله! سره له دې چې د الله استازی يې، داسې وياست؛ نو موږ ته خو پر خپل حال ژړا په کار ده. رسول الله مبارک وويل: هو همداسې ده! رور مې حضرت يونس عليه السلام الله د يوې شېبې لپاره پر خپل حال پرېښود؛ نو څه پرې راغلل.

امام جواد وايي: د الله استازي (ص) به داسې دعا کوله: خدايه! د هغه څه له لامله مې وبښې، چې کړي مې دي، ځنډولي مې



دي، پټ مې کړي، ښکاره مې کړي او پر خپل ځان مې اسراف وبښه او له ټولو هغو څيزونو، چې ته ترې خبر يې. خدايه! بې له تا بل معبود نشته. خدايه! قسم دې پر خپله پوهه او واک! تر هغه مې، چې ژوند په ګټه او ستا په خوښه وي؛ نو ژوند راکړه او هغه مهال مې مړ کړې، چې ته راته مړينه غوره وګڼې. خدايه! په پټه او ښکاره کې مې په زړه کې له تا وېره واچوې. خدايه! په خپګان او خوشحالۍ کې له تا د حق خبره غواړم او په بېوزلۍ او شتمنۍ کې در څخه منځلاري غواړم. خدايه! له تا فاني ناپايه نعمت، د سترګو نه تياره کېدونکې رڼا، پر قضا خوښي، تر ژوند روسته ښه ژونداو له تاسره د ليدوکاتو مينه غواړم، بې له دې چې ستر تاوان او بې لارې کوونکې فتنه راورسي. خدايه! پر ايمان مې سينګار او د ښيون-ښيون شويو لارښود مې کړې. خدايه! موږ له هغوی کړی، چې تا ورته لار ښوولې وي. خدايه! په چارو کې پايښتي او په استقامت کې مې مرسته وکړې. خدايه! له تا د نعمت د شکر توفيق، ښه خاتمه او ستا د حق د ادا کولو وس غواړم. خدايه!روغ زړه او رښتينه ژبه راکړې. خدايه! د ټولو هغو چارو ښېنه درڅخه غواړم، چې ترې خبر يې. خدايه! هغه راکړې، چې ترې خبر يې، چې پر ګټه مې دی. خدايه! پناه غواړم له هغه بديو،

چې ترې خبر يې او موږ ترې خبر نه يو او ته علام العيوب يې[1].

خدايه! ته مې شاکراو صابر، په خپلو سترګو کې خوار او د خلکو په سترګو کې ستر کړې. خدايه! د ټول چارو اخره خاتمه مې په خېر کړې او د دنيا له خوارۍ او د آخرت له عذاب مې وساتې. خدايه! په پوهه مې ځواکمن، په حلم مې سينګار، په تقوا مې عزيز او اخره خاتمه مې ښايسته کړې. خدايه! له تا ښيون، تقوا او عفت غواړم او چاته مې اړين نه کړې. خدايه! د نعمتونو له ورکېدو، د عافيت له بدلون، ناڅاپه غضب او له هر هغه څه پناه غواړم، چې خوښي دې پکې نه وي.

خدايه! له تا له بدو اخلاقو، بدو کړنو، بدو ځاني غوښتنو او بدو رنځونو پناه غواړم. خدايه! د امت په سهار وختي پاڅېدنه کې مې برکت واچوې. خدايه! پر خپله پوهه دې قسم او واک وي، تر هغه مې، چې په ګټه او ستا خوښه وي؛ نو ژوند راکړه او هغه مهال مې مړ کړې، چې ته راته مړينه غوره وګڼې. خدايه! د خلقت په څېر مې سيرت هم نېک کړه. خدايه! چاچې زما د امت چارې په لاس کې واخستې او زما پر امت يې سخته راوړه نو خدايه! ته هم پرې سخته راوړې او که چا زما له امت سره ګوزاره وکړه؛ نو خدايه! ته هم ورسره ګوزاره وکړه. خدايه! د يوې شېبې لپاره مې هم پر خپل حال پرېنږدې او هغه ښه ځيزونه، چې دې راکړي، راڅخه يې وانخلې[2].

کورنۍ يې په هکله وايي:

۸۰۰_ په ناسته دعا:

آنحضرت(ص)وايي: ((حضرت جبرائيل امر راکړی، چې قرآن پر ولاړه ووايم، چې په رکوع کې د الله حمد او په سجده کې يې تسبيح او پر ناسته دعا وکړم.))

۸۰۱_ دعا ته لاس پورته کول:

رسول الله (ص) د دعا پرمهال خپل لاسونه پورته کول او د يو فقير په څېر، چې ډوډۍ غواړي زاري يې کوله.

۸۰۲_ هنداري ته د ليدو پرمهال دعا:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص)، چې هنداري ته کتل، داسې يې ويل: ((د الله شکرونه او ستاينه ده، چې زما پيدايښت يې بشپړ کړ او زما څېره يې ښکلې پيدا کړه او د نورو د نيمګړتياوو پر وړاندې يې ښايست راوبښه او د اسلام لارښوونه يې راته وکړه او په نبوت يې راباندې منت کېښود.))

۸۰۳_ د ښايست شکر:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص)، چې هنداري ته کتل؛ نو ويل يې: ((د الله شکرونه او ستاينه ده، چې ښکلی يې پيدا

[1] (اصول کافي؛ ٤ ټوک)

[2] (نهج الفصاحه)

کړم او د نورو د نیمګړتیاوو پر وړاندې یې ښایست راکړ.))

۸۰٤_ د سورېدو پرمهال دعا:

په سفرونو کې، چې آنحضرت(ص) پرڅه سپور و نو درې ځل یې الله اکبر او د ((سُبْحانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ)) آیت یې تر پایه لوسته، ویل یې: ((خدایه!په دې سفر کې له تا نېکي او پرهېزګاري غواړم او هغه کار له تا غواړم، چې د خوشحالۍ لامل دې ګرځي. خدایه! دا سفر راته اسان او لرېوالی یې رانږدې کړه. خدایه! ته په سفر کې له موږ سره او په کورونو کی مو ځایناستی یې، خدایه! د سفر د غم او کړاو او د کور د غم او خپګانه او اولاد او شتمنۍ ته د بدې وررسېدو په باب پناه دروړم.))

چې له سفره راستنېده؛ نو ویل یې: ((حال دا الله ته مې توبه کړې، عبادت او مننه یې کوم، چې خپل کور ته راستون شوم.))

۸۰۵_ په شپه کې د سفر دعا:

آنحضرت(ص) چې په سفر کې و او شپه به شوه، ویل یې: ((ځمکې! زما او ستا پالونکی الله دی، ستا له شره او د هر هغه څه له شره، چې درباندې خوځي، الله ته پناه وړم او همداراز د هر داړونکي، چیچونکي مار او لړم او د هر موجود له شره، چې په دې بېدیا کې دي او هم د هر پلار او زوی له شره، الله ته پناه وړم.))

۸۰٦_ د نویو جامو اغوستو پرمهال دعا:

رسول الله (ص)، چې نوې جامې اغوستې، ویل یې: ((د هغه الله شکر او ستاینه ده، چې پر هغه څه یې وپوښلم، چې خپل عورت پرې پټ کړم او په خلکو کې پرې ځان سینګار کړم.))

۸۰۷_ د نوي جامو اغوستو پرمهال د الله ستاینه:

آنحضرت(ص)، چې جامې له تنه ایستې، له کیڼ اړخه یې ایستې او د جامواغوستو پرمهال یې د الله ستاینه او شکر کاوه. بیا به یې یو بېوزلی راغوښته او زړې جامې یې ورکولې، ویل یې: ((که چا د الله د رضا لپاره یو بېوزلي ته خپلې جامې ورکړې نو که د جامو خاوند ژوندی وي که مړ، څو دا جامې د بېوزلي پر غاړه وي؛ نو د جامو خاوند به د الله په پناه کې وي.))

۸۰۸_ د نویو جامو دعا:

رسول الله (ص)، چې نوې جامې واغوستې؛ نو پاڅېده او مخکې تردې، چې له کوره ووځي، ویل یې: ((خدایه! ستا له لارې مې ځان وپوښه اوتا ته مخه کوم او ستا پر رسۍ منګولې لګوم، پر تا مې توکل دی، خدایه! ته مې ډاډ او هیله یې، خدایه! مهمات مې بسیا کړې او څه ته مې چې پام نه وي او ته پرې ښه پوهېږې، راسره پکې ملاتړی شې، بې له تا بل الله نشته، خدایه! تقوا مې د لارې توښه کړې، و مې ښښه او

هر لوري ته مې، چې مخه کړه، خير ښېګڼه راپېښه کړې)) دا يې ويل او بيا په خپل کار پسې وته.

۸۰۹_ له غونډې د پاڅېدو پرمهال دعا:

آنحضرت(ص)، چې له کومې غونډې پاڅېده، ويل يې: ((خدايه!ته له هر ډول عيب اونيمګړتيا پاک يې، حمد او ستاينه يوازې ستا ده، شهادت ورکوم، چې بې له تا بل الله نشته له تا ښښنه غواړم اوتا ته درستنېږم.))

۸۱۰_ جومات ته د ورننووتو او وتو دعا:

حضرت علي وايي: رسول الله (ص)، چې جومات ته ننووت نو ويل يې: "اللهم افتح لی ابواب رحمتک  خدايه! د رحمت ورونه راخلاص کړې" او د راوتو پرمهال يې ويل: "اللهم افتح لی ابواب رزقک خدايه د روزۍ ورونه راخلاص کړې. "

۸۱۱— جومات ته د ننووتو پرمهال دعا:

حضرت فاطمه بي بي وايي: رسول الله (ص)، چې جومات ته ورننووته، ويل يې: ((د الله په نامه او خدايه! پر محمد او آل يې درود ووايه، ګناهونه مې وبښې او د رحمت ورونه راخلاص کړې.)) او له جوماته د وتو پرمهال يې ويل: ((د الله په نامه، خدايه! پر محمد او آل يې درود ووايه، ومې ښښه او د فضل او کرامت ورونه راخلاص کړه.))

۸۱۲_ د ويدېدو پرمهال دعا:

رسول الله (ص)، چې ويدېده؛ نو پر ښي اړخ ويدېده، ښی لاس يې تر مخ لاندې ايښوده، ويل يې: ((خدايه! پر هغه ورځ مې له خپل عذابه وساتې، چې بندګان دې له قبرونو راپاڅوې.))

۸۱٤_ آيت الکرسي:

رسول الله (ص) د ويدېدو پرمهال آيت الکرسي ويله، ويل يې: ((جبرائيل راغی، و يې ويل: محمده!چې ويده کېږې نو پيريان درباندې جادو کوي؛ نو تر ويدېدو مخکې آيت الکرسي وايه.))

۸۱۵_ د دسترخوان دعا:

چې آنحضرت(ص) ته يې دسترخوان خپور کړ؛ نو ويل يې: ((خدايه! ته پاک يې! هغه څومره ښکلي دي، چې موږ پرې ازمېيې، ته پاک يې، هغه نعمتونه څومره ډېر دي، چې رابښلي دې دي، ته پاک يې، څومره نعمتونه دې رابښلي، خدايه! موږ، مؤمنو او مسلمانوښوزليو ته پراخه روزي ورکړې.))

۸۱٦_ د دسترخوان د برکت دعا:

آنحضرت(ص) ته يې چې دسترخوان هوار کړ؛ نو ويل يې: ((د الله په نامه، خدايه! دا نعمتونه راته له مشکورو نعمتونو وګرځوې او د جنت له نعمتونو سره يې يو ځای کړې.))

۸۱۷_ خوړو ته د لاس وړو پرمهال دعا:

رسول الله (ص)، چې خوړو ته لاس وراوږداوه، ويل يې: ((د الله په نامه،

خدايه!څه چې دې روزي راکړې، برکت پکې واچوې او پرځای يې نوره روزي راکړې.))

۸۱۸— د دسترخوان ټولولو پرمهال دعا:

امام باقر(رح)وايي: د رسول الله (ص) له مخې يې، چې خواړه ټولول، ويل يې: ((خدايه! ډېر نعمتونه دې راکړل، هغه دې پاک کړل، برکت دې پکې واچوه، موږ دې ماړه کړو، د هغه الله ځانګړې ستاينه ده، چې روزي يې راکړه خو پخپله روزۍ ته اړمن نه دی.))

۸۱۹_ د خوړو او شيدو څښلو پرمهال دعا:

امام باقر(رح) وايي :رسول الله (ص)، چې څه خوړل يا څښل؛ نو ويل يې: ((خدايه په دې خوړو کې برکت واچوې او ترې غوره راکړې.))

د شيدو څښلو پرمهال يې ويل: ((خدايه! دا شيدې راته مبارک کړه او رزق مې ترې زيات کړه.))

۸۲۰_ د کپ خوړو پرمهال دعا:

رسول الله (ص)چې کپ خولې ته کاوه، ويل يې: ((خدايه!ستاينه يوازې ستا ده، چې خواړه دې راکړل او په اوبو دې ماړه کړو، زه دې شکر باسم د هغه چا شکر، چې ستا د نعمتونو په اړه ناشکره دی او ستا له نعمت سره يې وداع کړې نه ده او له تامړه خوا نه دی.))

۸۲۱_ د تازه مېوې د ليدو پرمهال دعا:



حضرت علي وايي: رسول الله (ص)، چې تازه مېوه ليده؛ نو هغه يې ښکلوله او پر سترګو او خوله يې کېښوده او بيا يې ويل: ((خدايه؛لکه څنګه چې دې په روغتيا کې ددې مېوې رارسېدب راښوول؛ نو په پای ته رسېدو کې يې هم په روغتيا کې راوښيه.))

۸۲۲_ باس ته دننووتو دعا:

آنحضرت(ص)، چې باس ته ورننووت، داسې يې ويل: ((خدايه! د پليد، نجس، خبيث او ناپاکه شيطان له شره پناه دروړم. خدايه! غم اوخپګان رانه لرې کړې او له رټل شوي شيطانه پناه راکړه.)) او چې اودسماتي ته کېناسته، ويل يې: ((خدايه!خپګان او ناپاکي رانه لرې کړې او له پاکانو مې کړې.))

د مدفوع د وتو پرمهال يې ويل: ((خدايه!؛ لکه څنګه چې دې د روغتيا په حالت کې پاک خواړه راکړل؛ نو د روغتيا په حالت کې يې رانه فضولات هم وباسه.))

۸۲۳_ د الله ستاينه او شکر:

رسول الله (ص)چې باس ته تله؛ نو کله يې داسې هم ويل: ((د هغه الله ستاينه او شکر دی، چې د انسان ساتونکی او د اړتياوو پوره کوونکی يې دی.))

۸۲٤_ له باس د راوتو پرمهال دعا:

له باس چې راوته؛ نو لاس يې پر نس راکښوده، ويل يې: ((د هغه الله شکر او

ستاینه، چې د خوړو کړونکي فضولات يې رانه وایستل او له خوړو پاتې قوت يې راکې پرېښود، دا ستر نعمت دی، چې څوک يې هم په اندازه کولو وسمن نه دی.))

۸۲۵_ له هدیرې د تیرېدو پرمهال دعا:

له هدیرې د تېرېدو پرمهال يې ویل: ((د مؤمنانو له اړخه دې پر تاسې سلام او درود وي، موږ به هم هله ورسره یوځای شو، چې الله غوښتل .))

۸۲۶_ د قبر د زیارت دعا:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) له ځینو یارانو سره د بقیع هدیرې ته تله او درې ځل يې ویل، ((السلام علیکم یااهل الدیار)) سلام دې وي پر تاسې، چې ویده یاست. درې ځل يې ویل: ((رحمکم الله)) پر تاسې دې د الله رحمت وي.

۸۲۷_ د خوشحالی پرمهال د رسول الله (ص) دعا:

امام صادق (رح) وايي: هره خوشحالونکې خبره، چې رسول الله (ص) ته رارسېده؛ نو ویل يې: ((الحمدالله لله علی هذه النعمه، ستاینه او شکر د هغه الله دی، چې دا نعمتونه يې راکړل.)) او چې خپه به شو، ویل يې: ((الحمدالله علی کل حال، په هر حال کې د الله شکراوستاینه ده.))

۸۲۸_ د خوبښ څیز د لیدو پرمهال دعا:

حضرت علي (ک): آنحضرت (ص) چې به د خپلې خوښې څیز ولید، ویل يې: (الحمدالله الذی تتم الصالحات= ځانګړې ستاینه د هغه الله ده، چې خپل نعمتونه راکوي.))

۸۲۹_ د اذان پرمهال دعا:

امام زین العابدین وايي: رسول الله (ص)، چې به اذان واورېد؛ نو په موذن پسې يې اذان وایه خو موذن، چې ((حی علی الصلاة))، ((حی علی الفلاح)) او ((حی علی خیرالعمل)) ته ورسېد؛ نو د الله رسول به ویل: ((لاحول ولاقوة الابالله)) او چې لمونځ به وشو؛ نو رسول الله (ص) به دا دعا ویله: ((اللهم رب هذاالدعوة التامه والصلاة القایمه اعطا محمداً رسوله یوم القیامه، وبلغة الدرجة الوزله من الجنه وتقبل شفاعة فی امته- خدایه! دا بشپړه بلنه او لمونځ پای ته ورسېد، د قیامت پر ورځ د محمد اړتیا او غوښتنې پوره کړې او په جنت کې يې د وزلې او مرتبې درجې ته ورسوه او د امت په باب يې شفاعت قبول کړه.))

۸۳۰_ د ماښام په روستي رکعت کې د رسول الله (ص) ذکر:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) د ماښام د لمانځه په درېیم رکعت کې داسې ویل: ((ربنالاتزع قلوبنا بعد اذهدیتنا وهب لنا من لدنک رحمه انک انت الوهاب-خدایه! زړونه مو تر ښیون روسته

بېرته وانهړوې، پر موږ ولورېږه؛ ځکه یوازې ته ښونکی یې.))

۸۳۱_ د وترو لمانځه په قنوت کې د رسول الله (ص) ذکر:

رسول الله (ص) به ۷۰ ځلې د وترو په لمانځه کې اسغفار کاوه او بیا یې ویل: ((دا د هغه چا مقام دی، چې له اوره پناه دروړي.))

۸۳۲_ د وترو په قنوت کې دعا:

رسول الله (ص) د وترو د لمانځه په قنوت کې ویل: ((خدایه!ما له هغوی ځنې کړې، چې تا ورته لارښو نه کړې او ښېلي دې دي او له هغوی مې کړې، چې تا یې د کارونو پالندویي په غاړه اخستې او څه چې دې راکړي، پکې برکت واچوه او له هغه شره مې وساتې، چې راته دې تقدیر کړي، یوازې ستا حکم دی، چې پلي کېږي اوڅوک هم حکم نشي درکولای، ته له هر عیب او نیمګړتیا پاک یې. د کعبې پالونکیه! ښښه درنه غواړم او درستنېږم، پر تا ایمان لرم او توکل مې پر تا دی، بې له تا هېڅ ځواک پاتېدونکی نه دی، ای لوراند څښتنه!.))

۸۳۳_ د روژه ماتي پرمهال دعا:

رسول الله (ص) د روژه ماتي پرمهال ویل: ((اللهم لک صمنا، وعلی رزقک افطرنا، فتقبله منا - خدایه!تا لپاره مو روژه ونیوه او ستا پر راکړي رزق مې ماته کړه، روژه مو قبوله کړه، تنده ماته شوه، د بدن رګونه ډک شول؛ خو د روژې ثواب پرځای پاتې دی.))

۸۳۴- تر لمانځه روسته دعا:

امام باقر(رح) وایي: د خدای رسول تر لمانځه روسته پر ځنګونونو کېناسته، ښې لاس یې پر سر کېښود، ویل یې: ((د هغه خدای په نامه، چې بې له هغه بل خدای نشته چې له پټ او ښکاره هر څه خبر دی. خدایه! پر محمد او آل یې درود ووایه او غم او خپګان رانه لرې کړه.))

۸۳۵- محمد بن فرج وایي: امام رضا (رح) راته په یوه لیک ولیکل، چې د خدای رسول تر لمانځه روسته دا دعا کوله: ((خدایه! زما تېر شوي او راتلونکي، پټ او ښکاره ګناهونه وبښه او همداشان له حده تېریدنې مې هم وبښه او هغه مې وبښې، چې پرې ښه خبر یې. خدایه د چارو پرمختګ او شاتګ دې په لاس کې دی، بې له تا بل خدای نشته. خدایه! تا ته دې په خپل غیبي علم او پر هغه واک او ځواک قسم درکوم، چې پر خپلو مخلوقاتو یې لرې، پوهېږې، چې دا ژوند راته ښه دی؛ نو ژوندی مې پرېږده او چې پوه شوې، مړینه مې تر ژونده غوره ده؛ نو مړ مې کړه. خدایه! له تا غواړم په پټه او ښکاره راکې له تا وېره واچوې او د خوشحالۍ او غم پرمهال د حق په ملګرتیا

کې راسره ملاتړی شې او په شتمنۍ او فقر کې منځګړتوب ته مې اړ کړې. خدایه! زه له تا هغه نعمت غواړم، چې خلاصېدونکی نه وي او د سترګو نه تتېدونکی رڼا درنه غواړم او له تا غواړم، چې په هرومرو قضا کې رانه خوشحاله شې او تر مړینې په روسته ژوند کې مې برکت واچوې او راته يې خوږ کړې او تا ته په لیدو کې راته خوند واچوې او ستا د لیدو ویاړ ته مې هیلمن کړې، بې له دې چې په دې لار کې سختي راورسي یا ازمېښت رامخې ته شي. خدایه په چارو کې ټیکاو، هوډ او استقامت راپه برخه کړې. خدایه له تا پاک زړه او رښتینې ژبه غواړم او له تا ښېنه غواړم؛ ځکه ته له پټ اوښکاره خبر یې.))

۸۳۶-رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم، چې به د ګهیځ دوه رکعته لمونځ وکړل، په ښي اړخ به ویدیده، ښی لاس یې تر مخ لاندې ایښووه، ویل یې: ((الهي ټینګه کړې مې ونیوه او د خدای په نه شلېدونکې رسۍ مې منګولې ولګولې او د عربو او عجمو او انسي او جني شیطانانو له غوسې او تېري خدای ته پناه وړم، پر خدای توکل کوم او د خپلو اړتیاوو پوره کول ترې غواړم، خدای راته بسیا او ښه چارسازی دی، یوازې متعال او ستر خدای ستر ځواک دی.))

۸۳۷_ د سهار تر لمانځه روسته دعا:

رسول الله (ص) د سهار د لمانځه پرمهال په لوړ غږ دا دعا کوله: ((خدایه هغه دین وساتې، چې زما د ساتلو وزله دې ګرځولی دی.)) درې ځل یې وویل: ((خدایه!په کومه دنیا کې، چې اوسېږم، راته یې اصلاح کړې.)) درې ځل یې ویل: ((خدایه ورستنېدل مې آخرت ته دي راته یې ښه کړې.)) او درې ځل یې ویل: ((خدایه! له غوسې دې رضا ته او له سزا دې ښښنې ته پناه وړم.)) او په پای کې یې ویل: ((خدایه پناه دروړم، څه چې راوبښې نو څوک یې مخه نشي نیوای او د څه چې مخه ونیسې نو څوک یې نشي راکولای او د هر هڅاند هڅه بې له تا ګټه نه لري.))

۸۳۸_ سترګو او غوږونو ته دعا:

آنحضرت(ص) د سهار لمانځه پرمهال ویل: ((خدایه! غوږونه او سترګې مې راته ګټورې کړې او دا دواړه مې وارثان کړې او د خپلو سترګو په مخ کې مې له دښمنه غچ واخلې.))

۸٤۰_ د ماسپښین تر لمانځه روسته دعا:

حضرت علي وایي: د ماسپښن تر لمانځه روسته د رسول الله (ص) یوه دعا دا وه: ((بې له ستر او زغمنال څښتنه بل الله نشته، یوازې الله د ستر عرش پالونکی دی او ستاینې یوازې نړۍ پال ته دي. خدایه له تا لورنه، برات، ښښنه، ښېګڼه، خیر، روغتیا او د هرې ګناه ښښنه غواړم. خدایه! ټول ګناهونه مې وبښې، ټول خپګانونه مې لرې

کړې، ټولې رنځ مې ورغوې، ټول عيبونه مې پټ کړې، روزي مې پراخه کړې او هغه وکړې، چې زما پکې خير او ستا پکې رضا وي، ای تر ټولو لورانده! آمين نړی پاله!))

۸۴۱_ په سجده کې د رسول الله (ص) دعا:

رسول الله (ص)چې تندی د سجدې لپاره پرځمکه کېښود نو ويل يې: ((خدايه! زما په نزد زما له ګناهونو ستا رحمت ستر دی او تر کړنو مې ستا رحمت ته مې هيله ډېره ده؛ نو څښتنه! ګناهونه مې وبښه، ای هغه ژونديه، چې مرګ او ورکاوی نه لري.))

۸۴۲_ له لمانځه د راستنېدو پرمهال دعا:

رسول الله (ص) چې به له لمانځه راستون شو؛ نو تندی به يې په ښي لاس مسح کړ، ويل يې: ((څښتنه! ټولې ستاينې ستا دي، بې له تا بل څښتن نشته، چې له ښکاره او پټو خبر وي. څښتنه!پټې او ښکاره فتنې او غمونه رانه لرې کړه.)) ويل يې:

((په امت کې مې، چې چا دا کار وکړ؛ نو څه يې چې له الله وغوښتل، ور به يې کړي.))

۸۴۳_ تر هر لمانځه روسته دعا:

حضرت انس بن مالک(رض) وايي: رسول الله (ص) تر هر لمانځه روسته ويل: ((څښتنه! له هغې پوهې پناه غواړم، چې ګټه نه لري، له هغه زړه، چې خشوع نه لري، له هغه نس، چې ډ ک نشي او له هغې دعا چې ونه منل شي، څښتنه! له دې څلورو څيزونو پناه غواړم.))

۸۴۴_ د نوي کال پرمهال د رسول الله (ص) دعا:

رسول الله (ص) به د محرم پر لومړۍ ورځ دوه رکعته لمونځ کاوه او تر لمانځه روسته يې لاسونه پورته کړل او درې ځل يې دا دعا وويله: ((څښتنه! ته پخوانی معبود او دا کال؛ نوی دی؛ نو څښتنه! په دې کال کې له تا غواړم، چې د شيطان له شره مې خلاص کړې، پر اماره نفس مې لاسبر کړې او پر هغه مې بوخت کړې، چې درنژدې مې کړي. کريمه! د جلال او اکرام څښتنه! ای د هغو اډانه، چې ډډه نه لري، ای د هغو د چغو اورېدونکيه، چې اورېدونکی نه لري، ای د هغوی پناه، چې پناه نه لري، ای د هغوی خزانې، چې خزانه نه لري، ای نېک ښونکيه، ای سترې هيلې، ای د بېوزليو عزته، ای د پوپنا شويو ژغورونکيه، ای د هلاک شويو ژغورونکيه، ای احسان کوونکيه، ته هغه الله يې، چې د شپې تياره، د ورځې رڼا، د سپوږمۍ او لمر ځلا، د اوبو غږ، د ونو غږونه ټول درته سجده کوي. څښتنه! شريک نه لرې. څښتنه تر هغه مو غوره کړې، چې خلک مو په باب فکر کوي او هغه ګناهونه مو وبښه، چې څوک ترې خبر نه دي، الله چې مو مل وي؛ نو

همدا راته بس دی او په الله مې توکل دی.
هغه د ستر عرش خاوند دی، زه پرې ایمان لرم او له دې خبرې بې له هوښیاراونو بل څوک خبر نه دي، چې ټولې چارې د الله له لوري دي، څښتنه! زړونه مو و نه لړزوې، راولوربېره، چې یوازې ته ښونکی یې.))

٨٤٥_ د شعبان پر پینځلسم د رسول الله (ص) دعا:

پېغمبراکرم د شعبان پر پینځلسمه شپه دا دعا کوله: ((خدایه! په زړونو کې مو له تا دومره وېره واچوې، چې د ګناه د مخنیوي لامل وګرځي او په دومره عبادت مې بوخت کړې، چې پرې رانه خوښ شې، دومره مې ډاډمن کړې، چې د دنیا ټولې سختۍ رااساني شي، څښتنه! څو ژوندي یو، سترګې، غوږونه او ځواک مو ګټور کړې او زموږ وارثان یې وګرځوې، له دښمنانو مو غچ واخله او پرې مو لاسبري کړه، څښتنه! په دین کې مو غم رانه وړې او دنیا راته غم او د علم پای ونه ګرځوې او هغوی راباندې لاسبري نه کړې، چې راباندې رحم نه لري؛ نو ستا رحمت ته هیلمن یم، ای تر ټولو لورانده.))

٨٤٦_ د شعبان پر پینځلسمه د رسول الله (ص) بله دعا:

د رسول الله (ص) د یوې مېرمنې د خولې خبره ده، چې پر هغه شپه زما وار و نو رسول الله (ص) له بسترې داسې پاڅېد، چې پرې پوه نه شوم، راپاڅېدم نو ښځینه غیرت مې راوپارېد او فکر مې وکړ، چې ګنې رسول الله (ص) د بلې ښځې کوټې ته ورغلی، ناڅاپه مې پرې سترګې ولګېدې، چې د جامو په څېر پر خاورو پروت دی او په سجدی کې وایي: ((خدایه!تل دې د درشل فقیر یم، اړمن دې یم، تل له تا وېرېږم او له تا پناه غواړم! نو ته مې هم نامه د نېکانو له نوملړه ونه باسې، په جسم کې مې بدلون را نه وړې، په سختوازمېښتونو کې مې ښکېل نه کړې او ومې بښې.))

بیا یې وویل: رسول الله (ص) له سجدې سر راپورته کړ او بېرته سجدې ته ولاړ او دا ځل یې په سجده کې وویل: ((خدایه! جسم او روح دواړه مې درته پر سجده دي او زړه مې پر تا ایمان لري او دا هماغه دواړه جنایتي لاسونه دي (چې تا ته په سجده دي) ستر څښتنه! چې د هر ستر چار د کولو هیله یوازې له تا کېدای شي، ستر ګناهونه مې وبښه، چې بې له ستر الله بل څوک د سترو ګناهونو د ښلو واک او ځواک نه لري.)) سر یې له سجدې راپورته کړ بیا سجدې ته ولاړ، وا مې وربېدل، چې و یې ویل: ((خدایه، ستا له عذاب، غضب او سزا دې تېرېدنې، ښنې، رضا، خوشحالۍ او عفوې ته پنا دروړم. هو څښتنه! له تا څخه تا ته پناه دروړم، ته هماغه یې، چې ځان دې ستایلی او تردې ډېر ستر یې، چې خلک فکر کوي.))

له سجدې يې سر راپورته کړ او په څلورم ځل بيا په سجده شو، و يې ويل: ((خدايه! ستا د وجهې له رڼا پنا دروړم، چې اسمانونه او ځمکې پرې روښانه شوې، تيارې پرې له منځه تللي او لومړنی او روستی چارې دې پرې سمې کړې، له دې وېرې، چې غضب دې رانازل نه کړې يا داچې عذاب دې رانازل نشي، خدايه! د نعمت د ورکېدو، د ناڅاپه عذاب، له رنځ او له غوسې او عذابه دې پناه غواړم، خدايه! پر هغه چې کړای شې و مې رټې اوهېڅ داسې ځواک نشته خو داچې ستا په سپېڅلې ذات به وي.))

دالله رسول مې، چې پردې حال وليد؛ نو پر خپل حال ورپرېښود، ساه مې تله راتله، کوټې ته مې راغلم، رسول الله هم راغی، و يې ويل: ((ولی دې ساه ځي راځي؟))ورته مې وويل: زه په تاسې پسې درووتم اوستاسې کړه مې وليدل. پېغمبراکرم وويل: ((خبره يې، چې نن د څه شپه ده؟نن د شعبان د پينځلسمې شپه ده، چې پکې د انسان کړنې، روزي او د مرگ اجل ټاکل کېږي، الله په دې شپه کې د ټولوګناهونه ببنبي خو مشرک، باجګير، بې رحمه، شرابخور، څوک چې پخپله ګناه ټينګار کوي، ببځايه ګرېدونکی، غيب ويونکی او پالي په دې شپه نه ببنبي.))

۸۴۷_ د نوې مياشتې د ليدو پرمهال د رسول الله (ص) دعا:

حضرت علي (ک) وايي: د رسول الله (ص) سترګې، چې به د سپوږمۍ په هلال ولګيدې؛ نو لاسونه يې پورته کول او ويل يې: ((د الله په نامه. څښتنه! ددې مياشتې هلال راته د ايمان او روغتيا له امنيت سره يو ځای کړې او اسلام راته ګټور کړې (او ای سپوږمۍ) زما او ستا پالونکی هماغه ايکي يوالله دی.))

۸۴۸_ د رمضان مياشتې د ليدو پرمهال دعا:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص)، چې د روژې د مياشت سپوږمۍ وليده؛ نو مخ پر قبله درېده، ويل يې: ((خدايه ددې مياشتې هلال راته د امنيت ايمان، روغتيا، پر اسلام د عمل، نېک عاقبت او د رنځونو پر وړاندې د دفاع او د لمونځ، روژې او د قرآن د تلاوت مياشت وګرځوې، څښتنه! توفيق راکړې، چې ددې مياشتې کړنې ترسره کړو او دا مياشت رانه خوشحاله کړې او راته پکې روغه سته هم راکړې او څو دا مياشت په خير پای ته رسي، چې په خير دې ببنلي يو.))

۸۴۹_ د رسول الله (ص) ورځنی ذکر:

امام صادق (رح) و ايي: رسول الله (ص) هره ورځ د خپل بدن د رګونوهومره؛ يعنې (۳۶۰) ځل د الله ستاينه کوله، ويل يې:

((الحمدالله رب العالمین کثیراً علی کل حال - په هر حال کې ډېره ستاینه د نړۍ پال خدای ده.))

۸۵۰_ ۳٦۰ ځل ستاینه او شکر:

پېغمبراکرم وویل: ((د بني آدم په بدن کې ۳٦۰ رګونه دي، چې ۱۸۰ رګونه یې متحرک یا خوځنده او ۱۸۰ یې ساکن دي؛ نو که متحرک رګونه ساکن او ساکن متحرک شول؛ نو انسان ته به خوب ور نشي.))

ځکه پېغمبراکرم د ورځې ۳٦۰ ځل ویل: ((الحمدالله کثیراً علی کل حال)) او شپه، چې رارسېده؛ نو هماغومره یې بیا پورتنی ذکر وایه.

۸۵۱_ ۳٦۰ ځلې:

حضرت علي وايي: لمر، چې راوخوت نو رسول الله (ص) ۳٦۰ ځل ویل: ((الحمدالله رب العالمین کثیرا طیباً علی کل حال=په ګردو حالاتو کې ډېره او پاکه ستاینه یوازې نړۍ پال خدای ته ده.))

۸۵۲_ د سهار او ماښام پرمهال د رسول الله (ص) ذکر:

چې امام زین العابدین (رح) یې یزید ته بوت نو یزید خپلې مخې ته ودراوه اوغوښتل یې ترې خبرې وباسي او د همدې خبرو په پلمه د امام سجاد (رح) سر هم غوڅ کړي. امام زین العابدین یې هم ټولې پوښتنې ځواب کړې او وړې تسبیح یې په لاس کې اړولې: یزید وپوښت: ولې د ځواب راکولو پرمهال بې پروا تسبیح اړوې ؟

امام ورته وویل: پلارمې له نیکه روایت کړي، رسول الله (ص)، چې د سهار لمونځ او ورپسې دعا وکړه؛ نو تر هغې یې له چا سره خبرې نه کولې، څو یې تسبیح نه وې راخستې او داسې یې نه و ویلي: خدایه! سهار دې کړ، حال دا د تسبو د دانو د شمېرهومره دې ستاینه او یادونه کوم.

بیا امام زین العابدین وویل: نیکه مې رسول الله (ص)، چې دا ذکر و وایه؛ نوتسبیح یې اړولې او ورځني کارونه او له خلکو سره یې خبرې کولې، ویل یې: ((په دې کار د تسبو د اړولو دانو هومره انسان ته د الله ذکر شمېرل کېږي او دا کار الله ته د پناه وړو وزله ده او چې د خوب لپاره بسترې ته ولاړ؛ نو تسبیح یې راخستې او پورتنی ذکر یې وایه او بیا یې تسبې تر خپل سر لاندې کېښودې او ویل یې: ددې کار له لارې تر سهاره د انسان په کړنلیک کې د انسان لپاره ذکر لیکل کېږي.

بیا امام سجاد (رح)، یزید ته وویل: ؛ ځکه تسبې اړوم، چې د خپل نیکه سنت مې دی.

یزید د امام د ځوابونو تر اورېدو روسته څو څو ځل وویل: له تاسې هر یوه سره مې، چې خبرې کړې؛ نو داسې ځواب مو راکړی، چې پایله یې ستاسې پر ګټه وه.

يزيد د امام له وژولو تېر شو او حکم يې وکړ، چې زولنۍ يې پرانځئ.

٨٥٣_ د سر درد لپاره دعا:

د سردرد پرمهال به رسول الله (ص) لاسونه اسمان ته پورته کړل او حمد سورت او معوذتين يې وويل؛ نو رنځوري يې رغېده.

٨٥٤_ د تبې او نورو دردونو لپاره دعا:

رسول الله (ص) د تبې او شپې پرمهال داسې وويل: ((څښتنه! د هغه رګ له شره، چې وينه پکې په شدت روانه ده او د دوزخ د اور له شره پناه غواړم.))

٨٥٥_ د تبې تعويذ:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) سختې تبې ونيو، حضرت جبرائيل راغی، ورته يې داسې تعويذ وليکه: ((بسم الله ارفيک، بسم الله، اشفيک من کل دا يوذيک، والله شافيک، بسم الله خذها فلتهنيک، بسم الله الرحمن الرحيم، و لا اقسم بمواقع النجوم وانه لقسم لوتعلمون عظيم، لتبران باذن الله عزوجل- د الله په نامه دې تعويذ او پناه درکوم، د الله په نامه دې هر کړونکی درد ښه کوم او الله شفا ورکونکی دی، د الله په نامه دا تعويذ واخله، چې پکې درته ښېګڼه ده، د لوراند او لورين څښتن په نامه، د ستورو پر ځايونو قسم، چې په رښتيادا يو ستر قسم دی که پوهېدای، چې بايد د خدای په امر ښه شې.)) د رسول الله (ص) تبه ښه شوه او حضرت جبرائيل ته يې وويل: ډېرښه تعويذ و. حضرت جبرائيل: دا تعويذ د اووم اسمان له زېرمو و.

٨٥٦_ کوډو ته د رسول الله (ص) دعا او تعويذ:

حضرت ابن عباس: لبيد بن اعصم د الله پر رسول کوډې وکړې او د بني زايق په څاه کې يې پټې کړې، رسول الله (ص) ډېر رنځور شو، چې ويده شو؛ نو دوه پرښتې يې پښو ته او دوه يې سر ته کېناستې او له کوډو يې خبر کړ، چې کوډې د کجورې په غوټۍ کې تر يوه کاڼي لاندې د ذوران په څاه کې ايښوول شوي، له خوبه راپاڅېد او حضرت علي، حضرت زبير او حضرت عمار يې په کوډو پسې ولېږل، چې راويې باسي. دا چار وشو او رسول الله (ص) ته يې راوړې. د کجورې په غوټۍ کې د رسول الله (ص) د سر وېښتان، چې د ږمنځولو پرمهال تويې شوي ول، د رسول الله (ص) د ږومنځې له څو غاښونو سره ول، چې همدا مهال د الله پر رسول د((قل اعوذ برب الفلق)) او ((قل اعوذبرب الناس)) سورتونه نازل شول؛ نو رسول الله (ص)، چې دا هر سورت لوسته نو يوه يوه غوټه پرانستل کېده او چې ټولې غوټې پرانستل شوې؛ نو رسول الله داسې تازه راغی؛ لکه بندي، چې له بنده ازاد شي. حضرت جبرائيل هم رسول الله (ص) ته په

لاندې ټکيو تعويذ وکړ. ((بسم الله ارقيک من کل شی يوذيک من حاسد وعين والله يشفيک)) د الله په نامه د هر کينه کښ له شره او بدې سترګې دې تعويذوم، الله دې شفا درکړي.

۸۵۷_ د يهودۍ ښځې له شره د امان لپاره دعا او تعويذ:

امام حسن عسکري (رح) وويل: يوې يهودۍ رسول الله (ص) ته د پسه غوښه زهرجنه کړې وه نو رسول الله (ص)، چې خبر شو؛ نو پر غوښې يې لاس راکښود، و يې ويل: ((بسم الله الشافی، بسم الله الکافی، بسم الله لمعانی، بسم الله الذی لايضر مع اسمه شی فی لارض ولافی السما وهوالسميع العليم – د شفا ورکونکي الله په نامه او د کفايت کوونکي الله په نامه، دعافيت کوونکي الله په نامه، د هغه الله په نامه، چې د نامه په يادولو يې نه پر ځمکه او نه په اسمان کې څوک ضرر درسولای نشي او هغه پوه اورېدونکی دی)) بيا يې وويل: ((د الله په نامه يې وخورئ)) او بيا رسول الله (ص) او يارانو يې زهرجنه غوښه وخوړه خوځه هم پرې و نه شول.

۸۵۸_ دغم او خپګان پرمهال د رسول الله (ص) دعا:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص)، چې به خپه و يا غم پرې راغی؛ نو دا دعا يې ويله: ((يا حی ياقيوم، يا حيا لايموت، يا حی، لا اله الا انت، کاشف الهم، مجيب دعوة المضطرين، اسالک بان لک الحمد لا اله الا افت المنان بديع السماوات والارض ذوالجلال والاکرام، رحمان الدنيا والاخره ورحيمها، رب ارحمنی رحمة تغنيني بهاعن رحمة من سواک، يا ارحم الرحمين -ژوندي خدايه! پايند خدايه! ای هغه ژونديه، چې نېستي درته نشته، ای ژونديه! بې له تا بل الله نشته، چې يوازې ته د هر کړکېچ او غم له منځه وړونکی او د بېوزليو د دعا منونکی يې، بې له تا بل الله نشته، له تا يې غواړم؛ ځکه ستاينه يوازې تا ته ځانګړې ده. بې له تا بل الله نشته، د نعمتونو ورکونکی او د ځمکې او اسمانونو جوړونکی او د اکرام او جلال خاوند يې او يوازې ته په دنيا او آخرت کې لوراند او لورين يې، راولورېږه، چې د نورو له لورنې مړه خوا شم، ای تر ټولو لورينه.))

رسول الله (ص) وويل: ((هر مسلمان، چې درې ځل دا دعا وويله نو الله به يې غوښتنه ورپوره کړي؛ خو د ګناه او د زړه سوي د پرېکولو لپاره دعا نه مني.))

۸۵۹_ د قرآن د حفظولو لپاره دعا:

امام صادق (رح) وايي: د رسول الله (ص) يوه دعا دا وه: ((خدايه څو ژوندی يم، رالورېږه، چې ځان له ګناه لرې کړم او هغه څه ته ملا وتړم، چې پرې خوشحالېږې، خدايه!؛ لکه څنګه چې دې قرآن رازده کړ، زړه مې يې ساتونکی کړې، چې ته

پرې راضي یې، د قرآن د تلاوت توفیق راکړې، خدایه! سترګې مې پرې روښانه، سینه مې پرې پراخه، زړه مې پرې ګواه او بدن ته مې په قرآن د عمل توفیق ورکړې او ددې کارونو په ترسره کولو کې راسره مرسته وکړې؛ ځکه ټول ځواکونه ستا له اړخه دي.))

۸۶۰_ د دښمن له شره د امان لپاره دعا:
پېغمبراکرم د دښمن له شره د امان لپاره دا دعا ویله: ((موږ د کفارو پر زړونو پردې اچولي، چې په قرآن نه پوهېږي او غوږونه یې درانه دي او(ته ای زمارسوله!) چې یوازې الله په قرآن کې یادوې، هغوی له کرکې در شا کوي.
خدایه! پر هغه جمال او جلال قسم درکوم، چې په حجابونو کې پټ دی او د کمال پر هغه نور دې قسم درکوم، چې عرش یې رانغښتلی او پر عزت او شرافت دې قسم، چې ستا د قدرت په عرش کې دی او پر هغه څه قسم درکوم، چې د ملکوت قدرت دې راایسار کړي. خدایه! چې حکم دې تل پلي کېږي او حکم او قضاوت دې نه راستنېدونکی دی، زموږ او د دښمن ترمنځ یوه پرده راوړې، چې تېرې تورې او نیزې یې د شلولو ځواک و نه لري. ای پیاوړي بریدمن خدایه! چې ځواک دې تر ټولو ډېر دی، له هغوی مې وساتې، چې د غشیو او بلاګانوخولې یې زما په لور رااړولي. ای هغه خدایه، چې د یعقوب غم دې لرې کړ؛ نو زما غم هم لرې کړه، خدایه، چې د یعقوب رنځوري دې ورغوله نو زما رنځ هم لرې کړه، خدایه! برې تل ستا دی؛ نو ما هم پر خپل دښمن لاسبر کړه. [ او الله کافران په غوسه ستانه کړل، بې له دې چې له خپل کاره کومه پایله تر لاسه کړي، الله (په دې ډګر کې) مؤمنان له جګړې بې نیازه کړل (او بریا یې ور پر برخه کړه) او الله غښتلی ناماتی دی.[1] ] [مؤمنانو! د الله [ د دین] مرستندویان شئ لکه عیسی د مریمې زوی، چې حواریونو ته وویل: ((څوك د الله په لار کې زما مرستندویان دي؟!)) حواریونو وویل: ((موږ د الله مرستندویان یو.)) (او په دې ترڅ کې) د بني اسراییلو یوې ډلې ایمان راووړ او بله ډله پرې کافره شوه؛ نو موږ یې له مؤمنانو سره د دښمن پرخلاف مرسته وکړه؛ نو بریالي شول.[2] ]

۸۶۱_ په هر حال کې ذکر:
پېغمبراکرم په ناسته او ولاړه د الله ذکر وایه.

۸۶۲_ د پېغمبرانو وسلې:
امام رضا (رح) خپلو یارانو ته وویل: د پېغمبرانو وسلې له ځان سره وساتئ، ورته وویل شول: د پېغمبرانو وسله څه ده؟و یې ویل: دعا کول.

[1]. احزاب/۲۵
[2]. صف/۱۴

۸٦۳_ د دعا پرمهال زاري:
پیغمبراکرم د دعا پرمهال دومره ژړاوې کولې، چې چپن یې له اوږې ولوېده.
۸٦٤_ د الله پر قضا خوښ:
امام باقر(رح) وایي: موږ اهل بیت دعا کوو او هغه چې مو خوښ وي، له خدایه یې غواړو؛ خو که را یې نه کړل؛ نو په رضا یې راضي کېږو.
۸٦۵_ په سهار کې دعا:
امام صادق (رح) وایي: د دعا درې غونډلې ټولو پیغمبرانو له آدامه تر خاتمه لاس په لاس کړي او رسول الله (ص) به دا دعا هر سهار ویله: ((خدایه! هغه ایمان درنه غواړم، چې زړه مې تل درسره وي او هغه ډاډ غواړم، چې پوه شم څه چې رارسي، تا راپر برخه کړي دي، خدایه! پر هغه مې خوشحاله کړې، چې تا راته ټاکلي دي.))
۸٦٦_ په سختیوکې دعا:
حضرت جبرائیل رسول الله (ص) ته یوه دعا راوړه، و یې ویل: دا دعا د سختیو پرمهال وایه، رسول الله (ص) هم هغه دعا امام علي ته ورزده کړه، چې داده: ((ای د هغوی اډانې، چې ډډه نه لري، ای د هغوی پناه، چې پناه نه لري، ای د هغوی زېرمې، چې زېرمه نه لري، ای د هغوی ملاتړه، چې ملاتړ نه لري، ای د هغوی د غږ اورېدونکیه، چې اورېدونکی نه لري، ای هغه خدایه، چې ښېنه او لورنه دې تر ټولو ډېره ده، بلاګانې او ازمېښتونه دې نېک دي او د ښېنې هیله یوازې له تا کېږي ، ای د کمزوریو او ورکو ملګریه، ای احسان کوونکیه، ای ښایسته جوړونکیه، ای نعمت ښېونکیه، ای لورینه. ته هغه الله یې، چې د شپې تیاره، د ورځې رڼا، د سپوږمۍ ځلا، د لمر وړانګې، د اوبو او ونو غږونه ټول دې یادوي. خدایه! خدایه!خدایه!ته ایکې یو یې او شریک نه لرې.))
بیا رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ، حضرت علي (ک) ته وویل: اوس دې خپلې اړتیاوې وغواړه او ان شاء الله چې اړتیا به دې پوره شي.
۸٦۷— حسنینو ته د رسول الله (ص) تعویذ:
حضرت علي (ک) وایي: رسول الله (ص) امام حسن او امام حسین ته داسې تعویذ وکړ: ((د لوراند او لورین څښتن په نامه، ځان، مال، دین، کورنۍ، اولاد، د کار پایله او څه چې مې پالونکي راکړي، ټول د الله عزت، ستریا، جبروت، سطلنت، لورنه، رافت، ښېنه او ځواک سره بردم او د الله له الفت، عزت، احسان او نعمت سره به د رسول الله (ص) پر لوري او څه چې الله غواړي پناه وروړم، پناه غواړم له هر زهرجن او بې زهره ځناوره، له پېري او انسانه او څه چې پرځمکه خوځي او ترې بهر راوځي او د هغه څیز له شره پناه غواړم، چې له اسمانه راورېږي او څه چې پورته

خېژي او د هر ځناور له شره، چې واک یې
زما د پالونکي په لاس کې دی، په رښتیا
پالونکی مې پر سمه دی او هغه هرکار
کړای شي او بې له هغه بل قدرت نشته او
د الله درود دې زموږ پر ښاغلي حضرت
محمد(ص) او پر کورنۍ یې وي.))
۸۶۷_ په سختیو کې تعویذ:
پر پېغمبراکرم، چې به کوم غم یا خپګان
راغی او د مشرکانو له اړخه به کومه ستونزه
ورمخې ته شوه؛ نو خپل لاس یې تاړه او
زور یې ورکاوه، ویل یې: تنګ شه او
خلاص شه او بیا مخ پر قبله درېده، خپل
لاس یې پورته کاوه او ویل یې: ((بسم الله
الرحمن الرحیم، لاحول ولاقوه الابالله
العلی العظیم الهم ایاک نعبد وایاک
نستعین، اللهم کف باس الذین کفرو فانک
اشد باسا واشد کفیلا- د لوراند او لورین
ښتن په نامه، بې له خدایه بل زرور او
ځواک نشته، خدایه!یوازې ستا عبادت
کوم او له تا مرسته غواړم. خدایه! د کافرانو
زور رانه لرې کړې؛ ځکه ستا قدرت او زور
تر ټولو زیات دی او یوازې ته کړای شې
شر یې له ما لرې کړې.))
حضرت جابر(رض) وویل: پر الله قسم
رسول الله (ص) به لاس راښکته کړی نه و،
چې ستونزه به یې هواره وه.
۸۶۸_ د غم پرمهال دعا:



امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص)،
چې به خپه و نو دا دعا یې ویله، چې د
خرج دعا نومېږي: ((خدایه! پر هغه نظر
دې ما وځاره، چې نه ویده کېږي او پر هغه
کلکوستونو مې وسا ته چې نه رانړېږي او
پر خپل قدرت دې پر ما ولورېږه او پر هغه
امید، چې تا ته یې لرم، هلاک مې نه کړې،
ډېر نعمتونه دې راکړل؛ خو ما دې سم
شکر و نه کړ او څومره کړاوونه، چې دې
راولېږل، ما پرې صبر و نه کړ. خدایه! چې
زه دې د ناشکریو پر وړاندې له نعمته بې
برخې نه کړم، ای هغه خدایه، چې زه دې
د کړخت پرمهال د بې صبرۍ له لامله
خوار نه کړم، خدایه و دې لیدم، چې ګناه
کولو ته زړور یم خو رسوا دې نه کړم، له تا
غواړم، چې پر محمد اوآل یې درود
ووایې، خدایه! دنیا مې له دین سره د یارۍ
لامل وګرځوې او پرهېزګاري مې د آخرت
د سعادت لامل وګرځوې، خدایه! هغه
نعمتونه، چې دې راکړي او له سترګو مو
پټ دي، راته ویې ساتې او څه چې دې
راکړي او راسره دي؛ نو د هغه نعمتونو
ساتل راته مه پرغاړه کوه. خدایه! چې د
بندګانو ګناهونه زیان نه دررسوي او د
بندګانو ښښل درنه هېڅ څه نه کموي؛ نو
هغه څه چې له تا هېڅ نه کموي، رایې کړه
او هغه چې تا ته هېڅ ضرر نه دررسوي را
و یې ښه، چې یوازې ته لوراند او لورین

خدای یې، خدایه! له تا په نږدو کې پراختیا، صبر، پراخه رزق، روغتیا او د ټولو نعمتونو د شکر ایستنې توفیق غواړم.))

۸۷۰_ د میاشتې لیدو پرمهال دعا:

حضرت علي (ک) وايي: د رسول الله (ص) سترګې، چې به پر میاشتې ولګېدې نو ویل یې: ((ای لاس پرسینه مخلوقه، چې د اسمان په ملکوتونو کې له الهي تقدير سره د ګرځېدو په حال کې یې، زما او ستا پالونکی الله دی. خدایه! دا میاشت راته د ایمان، اسلام او روغتیا میاشت وګرځوې؛ نو؛ لکه څنګه چې ددې میاشت پیل راوښود نو ددې میاشت پای هم راوښیه او مبارکه میاشت یې وګرځوې، چې زموږ ګناهونه پکې وښښې، درجه مو پکې لوړه کړې، خدایه ستا خیرات ستر دی.))

۸۷۱_ د رجب میاشتې د لیدو پرمهال دعا:

پیغمبراکرم، چې د رجب میاشت ولیده؛ نو ویل یې: ((خدایه! دا میاشت راته د اسلام ایمان، امنیت او روغتیا میاشت وګرځوې. سپوږمۍ! زما او ستا پالونکی ایکي یو الله دی.))

۸۷۲_ د شعبان میاشتې د لیدو پرمهال دعا:

پیغمبراکرم د رجب میاشتې د لیدو پرمهال ویل: ((خدایه! د رجب او شعبان میاشت پر موږ مبارکه کړه او په خیر رمضان راورسوې او په هغه میاشت کې د روژې په نیوو، له نامحرمو د سترګې په پټولو، روژه او عبادت کولو کې راسره مرسته وکړې او په هغه میاشت کې یوازې لوږه او تنده مې پر برخه نه کړې.))

۸۷۳_ د میاشتې لیدو پرمهال دعا:

د پیغمبراکرم سترګې، چې به د میاشتې پر هلال ولګېدې؛ نو درې ځل یې "الله اکبر" درې ځل "لااله الا الله" وایه او بیا یې ویل: ((د الله شکر، چې پلانۍ میاشت یې خلاصه او نوې میاشت یې پیل کړه.))

۸۷٤—محمده! ووایه:

حضرت جابر بن عبدالله انصاري(رض) وايي: آنحضرت(ص) وویل: ((جبرائیل راته وویل، چې هر وخت ووایه: الحمدلله رب العمالين=ستاینه یوازې نړۍ پال خدای ته ده.))

۸۷٦_ الله ته پناه وړل:

دا دعا له پیغمبراکرم رانقل شوې: خدایه! د ځان او اولاد لپاره مې د بدې قضا، بدقدره او بدې لیدلورې پناه دروړم.

۸۷۷_ پناه غواړم:

رسول الله (ص) په دعا کې وویل: ((خدایه! له هغې شتمنۍ پناه غواړم، چې د ګناه کولولامل مې شي، له هغه فقره، چې د هېرېدنې لامل مې شي، له ځاني غوښتنو، چې غافل مې کړي، هغه عمل، چې خوار مې کړي او هغه ګاونډی، چې و مې کړوي.))

۸۷۸_ خدایه! ژمنه دې راپوره کړه:

رسول الله (ص) وویل: ((خدایه! ما دې د حکمونو پلي کوونکی، پر ژمنو دې ایمان

راوړنکی، له خلقه دې نهيلی، درسره مينه کوونکی، له تا وېرېدونکی، پر قضا دې راضي، پر بلاګانو دې صبرکوونکی، پر نعمتو دې شکر ايستونکی، له ذکره دې خوند اخستونکی، پرکتاب دې خوښ، په شپه او ورځ کې دې يادونکی، مړينې ته تل چمتو، ليدو ته دې لېوال، د دنيا دښمن او د آخرت دوست وګرځوې او چې له الهي رسولانو سره دې څه ژمنه کړې، را يې کړې او د قيامت پر ورځ مو سرښکته نه کړې، رښتيا ده، چې ته تل پر خپله خبره ولاړ يې.))

۸۷۹_ د خوړو د ليدو پرمهال دعا:

حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) ته يې، چې خواړه راوړل؛ نو ويل يې: ((خدايه دا خواړه راته له برکته ډک او هغه خواړه يې کړې، چې د جنت له خوړو سره يو ځای شي .))

۸۸۰_ له الله سره دوستي:

حضرت عرباص بن سارية (رض) وايي: رسول الله (ص) داسې دعا کوله: ((خدايه له تا سره مينه راباندې له خپل ځان، غوږونو، سترګو، کورنۍ، مال او له يخو اوبو سره له مينې هم راباندې ګرانه کړې.))

۸۸۱_ محمدي دعا:

رسول الله (ص) په دعا کې ويل: ((خدايه! تاته له هغه اولاده پناه درووړم، چې پر ما واکمن شي او له هغه ماله، چې د تباهۍ لامل مې شي او له هغې مېرمنې، چې له زړېدو مخکې مې زوړ کړي، له هغه ملګري، چې ټګي راسره وکړي، سترګې يې ما ومني او زړه يې نه او که خير ويني پټ يې کړي او که شر ويني، ښکاره يې کړي او له تا د ګېډې له درده پناه غواړم.))

۸۸۲_ د لارښوونې دعا:

خدايه! له دې پناه غواړم، چې اړمن شم، سره له دې چې غني يې او ستا د ښيون له شتوالي سره بې لارې شم او د عزت په شتون کې دې ذليل شم.... خدايه! پناه درووړم، چې د زور خبره وکړم، ظلم وکړم او درباندې غره شم.

۸۸۳_ شپږ شرونه:

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) هره ورځ له خدايه ددې شپږ څيزونو پناه غوښته: شرک، شک، بېځايه تعصب، غوسه، ظلم او کينه.

۸۸٤_ د شعبان مياشت:

د پيغمبراکرم يارانو يې په مخ کې د شعبان مياشتې د فضائلو خبره رامنځ ته کړه، چې پيغمبراکرم وويل: ډېره مبارکه مياشت ده او هغه زما مياشت ده.

۸۸۵_ د الله او پيغمبر مياشت:

پيغمبراکرم وويل: شعبان زما مياشت او رمضان د الله مياشت ده.

۸۸٦_ غوره دعا:

رسول الله (ص) وويل: تر ټولو غوره دعا زما وي او تر ما مخکې د پېغمبرانو دعا ده او هغه دا ده: ((لا اله الله له وحده وحده وحده، لاشريک له، له الملک، وله لحمد، يحيى ويميت وهو حی لايموت بيده الخير وهوعلى کل شی قدير)) بيا يې وويل: دا دعا يوازې الهي تمجيد او تقديس دی.))

۸۸۷_د رسول الله (ص) شفقت:

پېغمبراکرم په يوه اوږد حديث کې وويل: ((هر نبي او پېغمبر خپل قوم ته ښېرې وکړې؛ خو ما د قيامت پر ورځ خپله دعا امت ته مې شفاعت کړه.))

۸۸۸_ د پېغمبر د غونډې پای:

روايت دی، چې رسول الله (ص) هره غونډه په دعا پای ته رسوله.

۸۸۹_ د غونډې پای:

د پېغمبراکرم‌خبرې به چې پا ته ورسېدې او پاڅېده، ويل يې: ((خدايه! ګناهونه مو وبښه، څه چې مو په لوی لاس او په پټه کړي، ته پرې پوه يې، ته ړومبی او روستی يې، بې له تا بل الله نشته.))

۸۹۰_ د رسول الله (ص) دعا:

حضرت ام سلمه (رض) وايي: رسول الله (ص) په خپلو دعاوو کې ډېر ويل: ((ای د زړونو اړونکی خدايه! زړه مې پر خپل دين ټينګ کړې.))و مې ويل: رسول الله (ص)! زړونه هم اوړي؟ رسول الله (ص) وويل: ((الله چې هر بشر پيدا کړی؛ نو زړه يې د الله د دوو ګوتو په منځ کې دی؛ نوکه الله وغواړي پاڅوي يې او که وغواړي کښنوي يې.

۹۸۱_ د تالندې پرمهال دعا:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم، چې د اسمان تالنده اورېده، ويل يې: ((پاک اوسپېڅلی دی هغه الله، چې تالنده يې هم ستايي.))

۸۹۲_ د برښنا او تالندې پرمهال دعا:

سالم بن عبدالله د خپل پلار له خولې وايي: رسول الله (ص)، چې د برښنا او د تالندې غږ واورېد، ويل يې: ((خدايه! مخکې تردې، چې ومې بښې نو په خپل غضب او عذاب مې هلاک نه کړې)).

۸۹۳_پناه:

د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په مخ کې، چې به د "اصحاب اخدود" يادونه وشوه؛ نو له خدايه يې د کړاو له نازلېدو پناه غوښته.

## په نبوي سننو کې د حج آداب

۹۰۶_ د طوافونو شمېر:
ابان، امام صادق (رح) وپوښت: رسول الله (ص) په شواروز کې څو ځل د الله د کور طواف کاوه. ورته یې وویل: لس ځل او په هر وار کې یې اوه ځل د الله د کور طواف کاوه. درې ځل د شپې په پیل کې، درې ځل د شپې په پای کې، دوه ځل سهار او دوه ځل مازیگر.

۹۰۷_ حجرالارسود مسح کول:
امام صادق (رح) وایي : رسول الله (ص) په هر فرض یا مستحب طواف کې حجرالاسود په خپلو لاسونو مسح (استلام) کاوه.

۹۰۸_ د حجرالاسود مسح:
امام باقر(رح) وایي: رسول الله (ص) د حجرالاسود دوه رکنه او رکن یماني پخپلولاسونومسح کاوه، ښکلاوه یې، خپل مخ یې پرې ایښوده او بیا یې ویل: ((پلار مې هم داشان کول.))

۹۰۹_ د حجرالاسود د رکن مسح:
امام باقر(رح) وایي: رسول الله (ص) په هر طواف کې یماني او حجرلاسود رکن مسح کاوه.

۹۱۰_ زمزم اوبه:
امام باقر(رح) وایي: رسول الله (ص)، چې په مدینه کې و نو غوښتل یې د زمزم اوبه ورته راوړل شي.

۹۱۱_ د ذي المعارج دعا:
امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) د ذي المعارج دعا ډېره ویله او چې سپور یې لیده او یا پرکومه لوړه خته او یا ترې راکوزېده، د شپې په پای کې او په هر لمانځه پسې یې تلبیه دعا ویله.

۹۱۲_ د حج لبیک:
امام باقر(رح) وایي: حضرت جابر بن عبدالله(ض) وویل: په حج کې د رسول الله (ص) (تلبیه) لبیک ویل داسې وو: لبیک اللهم لبیک، لا شریک لک لبیک، ان الحمد ولنعمة لک والملک، لاشریک لک.))

۹۱۳_ قرباني:
امام باقر(رح) وایي: رسول الله (ص) دوه نر غرني بکري حلالول، چې ښکرونه یې ستر او خوله او سترگې یې تورې وې.

۹۱٤_ د لوی اختر اعمال:
امام صادق (رح) وایي: رسول الله (ص) د لوی اختر پر ورځ، سر خراوه، نوکان یې اخستل، برېتې او د ږیرې شاوخوا یې کموله.

۹۱۵_ د نوکانو اخستل او د وېښتانو کمول:
د نوکانو اخستل، د برېتوکمول او تر نامه لاندې د وېښتانو خرول د احرام سنت دي.

۹۱٦_ د عرفې پر مازیگر دعا:
سنت دي، هغوی، چې مکه مېشت نه دي او امام نه لري؛ نو د عرفې د ورځې پر

مازیگر راتلول شي، الله یاد کړي او دعا
وکړي.

## د نبوي سننو د بڼ څه نور ګلان

۹۱۷_ په ښه توګه پور ورکول:
امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) داسې کول، که له چا يې دوه کلن اوښ بچی پور اخسته؛ نو پرځای يې اوه کلن د اوښ بچی ورکاوه او که له چا يې دوه پور درهمه اخسته؛ نو د ورکولو پرمهال يې څلور درهمه ورکول.

۹۱۸_ د فضيلت د بيان پرمهال د پېغمبراکرم ادب:
حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص)، چې به خپل کوم يو فضيلت يادکړ؛ نو ويل يې: ((سره له دې چې زه دا فضيلت لرم؛ خو پر چا پرې وياړنه نه کوم.))

۹۱۹_ د مؤمن ذکر:
رسول الله وويل: ((يو سنت دا دی، چې هر مؤمن د غدير د اختر پر ورځ سل ځل دا ذکر ووايي: الحمدلله لذی جعل کمال دينه وتمام نعمته بولاية اميرالمؤمنين علی بن ابطالب.

۹۲۰_ د ساداتو د زيارت سنت:
پېغمبراکرم وويل: ((د بني هاشمو (ساداتو) عيادت فرض او واجب دی او زيارت يې سنت دی.))

۹۲۱_ د پسه د قربانۍ سنت:
له امام صادق (رح) په ولاړه د قربانۍ پوښتنه وشوه، امام وويل: ښه نه ده، چې پسه په ولاړه قرباني شي؛ بلکې سنت دا دی، چې پسه مخ پر قبله سملول شي او حلال شي.

۹۲۲_ پر ژمنه وفا:
امام رضا (رح) وايي: موږ اهل بيت پر کړيو ژمنو مو ولاړ يو؛ ځکه رسول الله (ص) داسې و.

۹۲۳_ د تالندې غږ د اورېدو پرمهال دعا:
پېغمبراکرم د تالندې د غږ د اورېدو پرمهال ويل: ((پاک او سپيڅلی دی هغه الله، چې تالنده يې هم ستايي او تسبيح يې وايي.))
رسول الله (ص)، چې به د تالندې غږ واورېد، ويل يې: ((خدايه څو ښنلی دې نه يم نو په خپله غوسه او عذاب مې مه هلاکوه.))

۹۲۵_ په سختيوکې له خدايه مرسته غوښتل:
د پېغمبراکرم په مخ کې به چې د "اصحاب اخدود" خبره رامنځ ته شوه؛ نو رسول الله (ص) له سختيو الله ته پناه وړه.

۹۲۶— باران الهي لورنه:
ژېړ، سور يا تور باد به چې ولګېد؛ نو د پېغمبراکرم څېره به هم د يو وېرېدلي انسان په څېر اوخوته او د باران ړومبی څاڅکی چې به راوورېد؛ نو د څېرې رنګ يې غوړېده، ويل يې: ((د الله رحمت مو پر لوري راغی.))

۹۲۷_ د وريځو د ليدو پرمهال دعا:

پېغمبراکرم، چې وریځ لیده؛ نوهر کار یې، چې درلود، پرېښود یې، ویل یې: ((خدایه! له شره یې له تا پناه غواړم.)) او چې وریځې ولاړې نو د الله شکر یې کاوه او چې باران به پر ورېدو شو، ویل یې: ((خدایه راته یې ګټور وګرځوې.))

**۹۲۸_ د جومات پر لور:**

امام صادق (رح) وایي: لمر یا سپوږمۍ چې به تندر ونیو؛ نو رسول الله (ص) خلکو ته ویل، چې د جومات پر لور شئ.

**۹۲۹_ لمونځ:**

په جومات کې او په جماعت لمونځ سنت دي.

**۹۳۰_ د بیت المال ویش:**

حضرت علي (ک) وایي: رسول الله (ص) له بیت الماله سبا ته څه نه پرېښوول؛ خو حضرت ابوبکر(رض) دا کار کاوه او د حضرت عمربن خطاب (رض) هم پردې کار خوښه وه او د بیت المال مال یې تر یوکاله هم ساته خو زه د رسول الله (ص) په څېر یم.

حضرت علي (ک) هره جمعه بیت المال ایشه او تر وېش روسته یې وویل:

**۹۳۱_ د الله ړومبی مخلوق:**

حضرت جابر بن عبدالله انصاري(رض) وایي: رسول الله (ص) ته مې وویل: د الله ړومبی مخلوق څوک و؟ پېغمبراکرم وویل: ((جابره!خدای لومړی د پېغمبر رڼا جوړه کړه او بیا یې ترې ټولې ښېګڼې وپنځولې.))

**۹۳۲_ د رسول الله (ص) د وجود رڼا:**

پېغمبراکرم وویل: ((ړومبی څیز، چې الله وپنځاوه، زما رڼا وه، چې له خپلې رڼا یې جوړه او د خپل عظمت له جلاله یې واخسته.))

**۹۳۳_ د عرش له مرغلرې مخلوق:**

امام باقر(رح) وایي: الله، رسول الله (ص) له یوې مرغلرې جوړ کړ، چې تر عرش لاندې و.

**۹۳٤_ ړومبی مخلوق:**

پېغمبراکرم وویل: ((الله زه او اهل بیت له یوې داسې ختې او خمبیرې جوړ کړو، چې څوک یې هم ترې جوړ کړي نه وو او موږ د الله تر ټولو ړومبي مخلوقات یو.))

**۹۳۵_ د رسول الله (ص) نصب او توکم:**

امام صادق (رح) په یوه خطبه کې د رسول الله (ص) او اهل بیتو د ځانګړنو په باب وویل: د خلکو سترو ګناهونواو ناوړه چارو د الله د مهلت، حلم او لورنې مخه و نه شوه نیوای، چې تر ټولوګران پېغمبر؛ یعنې محمد بن عبدالله (ص) یې راولېږه، هغه پېغمبر، چې زوکړه یې په ستره او اصلي کورنۍ کې وه، حسب یې بې نقصه او نسب یې له هرې چټلۍ پاک و، چې ځانګړنې یې عالمانو ته ناپېژاندې نه وې . تر هغه مخکې ټولو پېغمبرانو یې د راتګ زېرې کړی و، عالمانو یې نېکې ځانګړنې

ستايلې او حکيمان يې غورو ځانګړنو ته سترګې په لار وو، هغه پاک او تهذيب شوی وجود و، چې کله هم نه خوارېده او يوازېنی هاشمي و، چې ساری يې نه درلود او يوازېنی مکي و، چې څوک يې هم شوکت او وياړ ته نه ورسېده، د حيا او نجابت بېلګه وه، څوک يې هم سرېټوب ته نه رسېده، مړانه يې په ختيه کې اغږل شوې وه، هيبت، ستروالی او نبوي اخلاق يې درلودل، د وحې د رسالت د هوښيارتوب نښې يې په ختيه کې اغږل شوې وې، چې الهي مقرراتو ورته لار هواره کړه او الهي ټينګ حکم پرې پای ته ورسېد او دا مهال وو، چې الهي محتومې قضا د خپل پېغمبر درجې تر ټولو لوړې کړې. هر امت پر يو بل د دې پېغمبر د راتګ زېری کاوه او د هغه سپېڅلې رڼا هم له يوه پلاره بل ته لېږدېده او په دې لېږد کې کومې نامشروعې اړيکې د رسول الله (ص) عنصر چټل نه کړ او له حضرت آدمه يې تر پلاره کوم ناروا واده ونه شو، رسول الله (ص) په غوره پرګو، توکمونو، کورنيو او تر ټولو په پاک اوسپېڅلي زيلانځ کې دې دنيا ته راغی، هغه تر ټولو په امينه لمنه کې لوی شو، الله وټاکه، خوښ يې کړ، د علم کونجيانې يې ورکړې او د حکمت ټولې چينې يې وروبښلې.

۹۳۶_ د زوکړې پرمهال دعا:

حضرت علي (ک) وايي: پر هغه ورځ چې حضرت محمد (ص) وزيږېد؛ نو کينې لاس يې ځمکې او ښی يې اسمان ته ونيو او شونډې يې د الله په ذکر شوې.

۹۳۷_ د قبلې پر لوري سجده:

حضرت آمنه بي بي وايي: چې زوی مې محمد پرځمکه کېښوول شو؛ نو د کعبې پر لوري يې سجده کوله، بيا يې لاسونه اسمان ته پورته کړل اوخپل پالونکي ته يې زارۍ کولې.

۹۳۸_ بې رنځه نس:

حضرت آمنه بي بي وايي: هغه مهال مې، چې محمد(ص) مې په نس و نو د ګېډې درونوالی مې نه ننګېره او د نورو ښځوپه څېر مې د ګېډې له درونوالي شکايت نه درلود.

۹۳۹_ د رسول الله (ص) وده:

د پېغمبراکرم يوه ورځنۍ وده د نورو ماشومانو په پرتله د يوې ونۍ هومره او د يوې ونۍ وده يې د يوې مياشت هومره وه.

۹۴۰_ د زانګو خوځول:

په ماشومتوب کې د پېغمبراکرم زانګو سپوږمۍ خوځوله.

۹۴۱_ له زانګو د تسبيح ويلو غږ:

په بحار کې روايت دی: څوک چې د رسول الله (ص) د زانګو ترڅنګه تېرېدل؛ نو د الله د تسبيح غږ ترې راتله.

۹۴۲_ سوتره زوکړه:

پېغمبراکرم سنت شوی وزيږېد.

۹۴۳_ دوريځو سيوری:

حليمه سعديه (د رسول الله (ص) دايه) وايي: په هره گرمه ورځ مې، چې رسول الله (ص) بهر بوته؛ نوتل پرې د يوې وريځې سيوری و او همداراز هغه له بارانه هم ساتل کېده.

۹۴۴_ پر سر سيوری:

حضرت علي وايي: له زوکړې تر وفاته که رسول الله (ص) په کور کې و که په سفر کې نوتل پرې د يوې وريځې سيوری و....

په وړوکتوب کې ورته علم اوحکمت ورکړل شوی و، سره له دې چې د بوتنمانځنې او د شيطان د گوند په چاپېريال کې يې ژوند کاوه ان يوه ورځ يې هم د بوت عبادت ته لېواله نه شو، د بوتنمانځو په اخترونو کې خوشحاله نه و او کله هم ترې دروغ وانهورېدل شول.

۹۴۵_ يوازېتوب او تواضع:

د پېغمبراکرم تره ابوطالب وايي: له رسول الله (ص) مې کله هم دروغ وانه ورېدل او نه مې پکې د جاهليت د وخت کوم عادت وليد، بې ځايه خندا مې ترې ونه ليده، له ماشومانو سره يې لوبې نه کولې او ورسره يې مينه نه درلوده او ترټولو پرې يوازېتوب او تواضع گران و.

۹۴۶_ د وينبتياپه ځېر خوب:

حليمه سعديه وايي: د خوب پرمهال د رسول الله (ص) سترگې داسې وې؛ لکه وينې، چې وي، تل موسکې و او تودې او سړې هوا زيان ور رسولای نه شو.

۹۴۷— د پېغمبراکرم ښوونډ:

حضرت علي (ک) وويل: له هغې ورځې، چې رسول الله (ص) له تي غوځ شو؛ نو الله سترې پرښتې ته دنده ورکړه، چې هره ورځ محمد ته تر ټولو غوره اخلاق وروښيي او زه هم؛ لکه د اوښ بچی، چې په خپلې مور پسې وي، په رسول الله پسې وم او څه چې هغه کول ما هم کول.

۹۴۸_ په حرا غار کې:

حضرت علي (ک) وويل: پېغمبراکرم (ص) خپل هر يو خوی راښوده او حکم يې راکاوه، چې پلې يې کړم. هرکال به يوې مودې ته د حرا په غار کې و او بې له ما بل چا نه ليده او پرهغه مهال چې د الله پر رسول وحې نازله شوه؛ نو ما د شيطان رمباړه واورېده، چې ومې پوښتل: د الله رسوله! دا چغه د څه وه؟ و يې ويل: ((دا د شيطان چغه وه، چې له خپلې پالنې نهيلی شو. علي! څه چې زه اورم، ته يې هم اورې او څه چې گورم، ته يې هم گورې خو پېغمبر نه يې.))

۹۴۹_ د پېغمبراکرم ساتنه:

((عَالِمُ الْغَيْبِ فَلاَ يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَداً إِلاَّ مَنِ ارْتَضَى مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ

يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَداً [1]- (هغه) پر غيبو پوهېږي او هېڅوك د خپلو غيبو (پر رازونو) نه پوهوي؛ خو هغه استازی (ترې خبروي) چې (دې كار ته يې) غوره كړي نو په حقيقت كې مخكې او شاته يې ورته ساتونكي ګومارلي دي))

امام باقر(رح) ددې آيتونو په تفسير كې وايي: الله خپلو پرښتو ته دنده وركړې، چې له پېغمبرانو سره د رسالت په تبليغ كې مرسته وكړي او په چارو كې يې له تېروتنې وساتي.

بيا امام وويل: پر هغه ورځ چې رسول الله (ص) له شيدو غوڅ شو؛ نو الله يوې پرښتې ته دنده وركړه، چې محمد(ص) ته ټولې ښيګڼې، نېكي او نېک خويونه وروښيي او له شر او بدو خويونو يې لرې وساتي.

۹۵۰_ تر حضرت يوسف عليه السلام هم ښكلی:

امام صادق (رح) وايي: زليخا له حضرت يوسف عليه السلام سره د ليدو اجازه وغوښته..... حضرت يوسف عليه السلام زليخا ته وويل: څه څيز لامل شو، چې پر هغه ناوړه كار دې لاس پورې كړ؟ زليخا: ستا ښايست! حضرت يوسف: كه تا د اخرې زمانې پېغمبر ليدلای وای نوڅه به دې كړي ول؟ هغه تر ما ښكلی، اخلاق يې تر ما غوره اوتر ما ډېرښونكی دی.

۹۵۱_ په زړه پورې څېره:

پېغمبراكرم وويل: ((يوسف تر ما ښكلی و خو زما څېره ترې په زړه پورې ده.))

۹۵۲_ د رسول الله (ص) پياوړی بدن:

پېغمبراكرم انډول غټ و خو د عمر په پای كې څه چاغ شو خو د بدن د غوښې له پلوه، دومره پياوړی و، ته وا زوړوالي پرې بيخي اغېز نه دی كړی.

۹۵۳_ د نبوت مهر:

حضرت علي، يهودانو ته د پوښتنو د ځوابونو پرمهال وويل: د پېغمبر پر شا د نبوت مهر و، چې دوه كرښې پرې ليكل شوې وې، پر يوې يې ((لا اله لاالله)) او پر دويمې يې ((محمد رسول الله (ص))).

۹۵٤_ د نبوت مهر:

د پېغمبراكرم پر شا د نبوت مهر و، چې رڼا يې د لمر تر رڼا ډېره و: بې له الله بل الله نشته، شريک نه لری، ای زما رسوله: هرچيرې، چې ځې، ولاړشه، چې مرسته درسره شوې او ته بريالی يې.

۹۵۵_ د نبوت د مهر ځرنګوالی:

پېغمبراكرم چهارشانه و، پر شا يې د نبوت مهر و، چې ښی اوږې ته نږدې و، په مهر كې خالي تور ژېړبخن رنګ و، چې شاوخوا ته يې وېښتان و.

[1] (جن/۲٦، ۲۷)

۹۵٦_ پر اننگي تورخال:
امام باقر(رح) وايي: رسول الله (ص) پر ښي اننگي تور خال درلود.
۹۵۷_ د نبوت د مهرځای:
د پېغمبراکرم د دوو ولو ترمنځ د کفترې د هگۍ هومره د نبوت مهر و.
۹۵۸— د ولو ترمنځ واټن:
حضرت علي وايي: څوک مې ونه ليدل، چې درسول الله (ص) هومره يې د ولو ترمنځ واټن ډېر وي، چې دا د مړنتوب نښه وه.
۹۵۹—د پېغمبراکرم ورمېږ:
د پېغمبراکرم ورمېږ تر ټولوښکلی و نه اوږد و او نه لنډ.
۹٦۰_ گرد مخ:
حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) گردمخ درلود.
۹٦۱_ پر لاندې شونډه خال:
حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) پر لاندې شونډه خال درلود.
۹٦۲_ تورې سترگې:
حضرت علي (ک) وايي: د رسول الله (ص) سترگې تورې وې.
۹٦۳_ په سر کې سپين وېښتان:
حضرت جابربن سمره(رض) وپوښتل شو: آيا د رسول الله (ص) په سر کې سپين وېښتان هم ليدل کېدل؟ و يې ويل: د رسول الله (ص) په ککره کې څو سپين وېښتان ول، چې تر غوړولو روسته نه ښکارېدل.
۹٦٤_ پر نس ليکې:
د پېغمبراکرم پر نس څو ليکې ليدل کېدې، چې يوه يې تر جامو لاندې پټېده او دوه نورې ښکارېدې.
۹٦۵_ د پېغمبراکرم دبدبه او برم:
حضرت علي (ک) وايي: رسول الله (ص) ځانگړې دبدبه او برم درلود.
۹٦٦_ د پېغمبراکرم وقار:
د هر چا په سترگو کې پېغمبراکرم د ستر وقار خاوند و.
۹٦۷_ د رڼا ځلېدل:
حضرت علي (ک) د يو يهودي د پوښتنې په ځواب کې وويل: رسول الله (ص)، چې په کوم غونډه کې ناست و؛ نو يوه رڼا ترې ځلېده، چې ټولو ليده.
۹٦۸_ د پېغمبراکرم د رڼا ځلېدل:
امام صادق (رح) وايي: د شپې په تپه تياره کې رسول الله (ص) دومره ځلېده، چې ټولو ته ښکارېده.
۹٦۹_ د لارې رڼا:
پېغمبراکرم چې چېرې تله؛ نو مخکې ترې رڼا روانه وه.
۹۷۰_ سپېڅلی لوراند:
د حضرت عمر(رض) زوی وايي: د رسول الله (ص) په څېر مې بل څوک سپېڅلی، لوراند، مېړنی او پاک و نه ليده.
۹۷۱_ د نبي درې ځانگړې ځانگړنې:

امام باقر (رح) وايي: رسول الله (ص) درې څانګړنې درلودې، چې په چا کې هم نه وې: سيوری يې نه درلود، له هر لارې، چې تېر شو؛ نو تر درې ورځو، چې هر څوک له هغه ځايه تېرېده؛ نو د رسول الله (ص) د عطرو بوی يې ننګېره، د هرې ونې له مخې، چې تېرېده؛ نو ونې ورته سجده کوله.

۹۷۲_ خوږ نبوي بوی:

تپه تياره به وه او مخکې تردې، چې څوک پېغمبراکرم ووينې نو د عطرو له بوی يې پوهېدل، چې دا رسول الله (ص) دی.

۹۷۳_ تر عطرو خوږ بويه خوله:

په بحار کې راغلي: حضرت جابر (رض) ويلي: د رسول الله (ص) د خولې بوی د عطرو په څېر و، بې له دې چې عطر يې کارولي وي.

۹۷٤_ تر مشکو خوږې توکانې:

پېغمبراکرم په يوه لوښي کې توکانې واچولې، چې خلکو ترې له مشکو غوره بوی ننګېره.

۹۷۵_ محمدي ګل د پېغمبراکرم د بدن عطر:

پېغمبراکرم وايي: ((څوک چې غواړي عطر مې بوی کړي؛ نو محمدي ګل دې بوی کړي.

۹۷٦_ له خولو د عطر په ځای ګټنه:

سليم د ام سلمې بي بي زوی وايي: يوه ورځ رسول الله (ص) راکره راغی او د ورځې په خوب ويده شو، مور مې يو بوتل راوړ او د پېغمبراکرم صلی الله عليه وآله وسلم د تن خوله يې پکې راټوله کړه، دا مهال رسول الله (ص) له خوبه راپاڅېد او و يې ويل: ام سلمې! څه کوې؟ مور مې وويل: دا د بدن خوله دې له عطرو سره ګډوم، چې تر ټولو غوره عطر دي. رسول الله (ص) وويل: ښه دې وويل.

۹۷۷_ د پېغمبراکرم ونه:

پېغمبراکرم، چې له هر څومره اوږد قدي انسان سره روان و؛ خو بيا هم ترې اوږد ښکارېده.

۹۷۸_ د جامواندازه:

لنډې او اوږدې جامې دواړه د آنحضرت (ص) پر تن سمې وې، که لنډې جامې يې واغوستې نو اوږدې به شوې که اوږدې يې واغوستې نو لنډې به شوې ته وا ښځي همدې ته يې ګنډلې وي.

۹۷۹_ پر نرمه خاوره د پښې چاپ نه درلود:

پېغمبراکرم (ص) که پړکومه پسته خاوره پښه ايښووله نو د پښې پل يې نه پاتېده؛ خو که پرسخته ځمکه يې پښه ايښووله نو د پښې پل يې معلومېده.

۹۸۰_ ويښ زړه، پټې سترګې:

پېغمبراکرم به ويده و؛ خو زړه يې ويښ و.

۹۸۱_ پر سر يې الوتونکي نه الوتل:

د پیغمبراکرم پر سر هېڅ الوتونکی الوتنه نه کوله.

۹۸۲_ له حشراتو خوندي:

پر پیغمبراکرم مچ نه کېناسته او زهرجن او بې زهره حشرات نه ورنږدېدل.

۹۸۳_ له شا یې هم کتل:

پیغمبراکرم ؛لکه څنګه چې له مخې کتل، له شا یې هم کتل.

۹۸٤_ په خوب کې اورېدنه:

پیغمبراکرم د خوب پرمهال هم د ویښتیا په څېر اورېدل.

۹۸۵_ بد بوی نه درلودل:

له پیدایښته تر مړینې له پیغمبراکرمه بد بوی ولاړ نه شو.

۹۸٦_ محتلم نه شو:

پیغمبراکرم کله هم محتلم نه شو.

۹۸۷— د څاروي نه زړېدل:

پیغمبراکرم چې به پر هر څاروي سپور شو؛ نو هغه به نه زړېده.

۹۸۸_ د رسول الله له وجوده شفا:

په بحار کې راغلي: خلکو د رسول الله (ص) له وجوده شفا غوښته.

۹۸۹_ د پیغمبراکرم څواک:

د پیغمبراکرم په څېر څوک هم څواکمن نه و.

۹۹۰_ولې حضرت علي (ک) پاڅون و نه کړ:

د سلیمان بن خالد د خولې وینا د: امام صادق (رح) ته مې وویل: خلک وایي، که خلافت د علي حق و نو ولې یې د خپل حق د اخستو لپاره پاڅون و نه کړ؟امام وویل: متعال الله پاڅون یوازې پر یو انسان فرض کړی و او هغه رسول الله (ص) و او په دې باب متعال الله وویل: فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللّهِ لاَ تُكَلَّفُ إِلاَّ نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَسَى اللّهُ أَن يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ وَاللّهُ أَشَدُّ بَأْساً وَأَشَدُّ تَنكِيلاً- د الله په لار کې وجنګېږه، یوازې د خپل ځان مکلفیت درپرغاړه دی او مؤمنان (دې کار ته) وهڅوه، هیله ده، چې الله د کافرانو زور اوبه کړي (ان که ته یوازې د جګړې ډګر ته ولاړ شې) او د الله زور تر ټولو ډېر زیات او سزا یې ډېره سخته ده[1].))

دا دنده یوازې د رسول الله (ص) وه او د نوروخلکو په باب یې وویل: وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلاَّ مُتَحَرِّفاً لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزاً إِلَى فِئَةٍ فَقَدْ بَاء بِغَضَبٍ مِّنَ اللّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ- او څوك چې ورته شا کړي خو داچې د نوي برید او یا له نورو (مجاهدینو) سره دیو ځای کېدو په موخه ډګر پرېږدي؛ نو د الله په غضب به ککړ شي او هستوګنځی یې دوزخ دی، چې ډېر ناوړه ځای دی[2]!))

[1] (نساء/۸۴)

[2] (انفال/۱٦)

بیا امام وویل: هغه مهال چې له علي خلافت غصب کړای شو؛ نو څوک نه ول، چې له علی سره یې مرسته کړې وای ګنې پاڅون یې کاوه.

۹۹۱_ تر ټولو پوه انسان:

په مناقب کې راغلي: پر ځمکه تر پېغمبراکرمه بل ښه پوه نه و.

۹۹۲_ د وحې پرمهال د پېغمبراکرم حالات:

د وحې د نزول پرمهال به د رسول الله (ص) رنګ واوخوت او سر یې لاندې نیوه.

۹۹۳_ د پېغمبراکرم بېسدي:

امام صادق (رح) وپوښتل شو: رسول الله (ص)، چې بېسدېده؛ نو آیا دا یوازې هغه مهال ول، چې حضرت جبرائیل پرې نازلېده؟ امام وویل: نه داسې نه ده؛ بلکې حضرت جبرائیل بې اجازې په پېغمبر نه نازلېده، بل داچې حضرت جبرائیل به چې رسول الله (ص) ته راغی؛ نو د یوه بنده په څېر به د رسول الله (ص) مخې ته ناست و، پېغمبراکرم هله بېسدېده، چې الله ورسره بې واسطه خبرې کولې.

۹۹٤_ په واسطې او بې واسطې وحې:

امام صادق (رح) ته وویل شول: آیا رسول الله (ص) دوه حالته درلودل، چې کله یې ویل، جبرائیل وویل او دا جبرائیل دی او داسې حکم یې راوړ او کله به هم بېسده شو؟ امام صادق (رح) وویل: چې کله وحې د جبرائیل له واسطې پرته وه نو د وحې د دروندوالي له لامله رسول الله (ص) بېسدېده او که د وحې واسطه حضرت جبرائیل و نو دا دروندوالی نه و نو رسول الله (ص) ویل، چې حضرت جبرائیل وویل او دا جبرائیل و او داسې حکم یې راکړ.

۹۹۵_ د وحې راتلو پرمهال د پېغمبراکرم حالات:

د وحې د راتلو پرمهال له پېغمبراکرم د شاتو د مچې په څېر غږ اورېدل کېده او په ډېرو سړو ورځو کې، چې ورته وحې راتله؛ نو خولې یې پرتندي راماتېدې.

۹۹۶_ په کال کې دوه ځل قرآئت:

پېغمبراکرم وایي: ((حضرت جبرائیل هرکال یوځل راته قرآن لوسته؛ خو سږ کال (د پېغمبرد عمر روستی کال) یې دوه ځل راته ووایه.))

۹۹۸_ د امام علم:

د مفضل بن عمر د خولې وینا ده، چې امام صادق (رح) مې د امام د علم په باب وپوښت، ورته مې وویل: سره له دې چې امام په خپل کور کې ناست دی؛ نوڅنګه د نړۍ له پېښو خبرېږي؟ امام وویل: مفضله!الله د خپل رسول په وجود کې پینځه روحه کېښول: "روح الحیاة"، چې په دې روح تله او حرکت یې کاوه، "روح

القوه"، چې په دې روح يې کار او کوښښ کاوه، "روح الشهوه"، چې په دې روح يې خوراک څښاک او له خپلو مېرمنو سره کوروالی کاوه، "روح الايمان" چې په دې روح يې پر الله ايمان راووړ او په خلکوکې يې په عدالت چلن کاوه اوپينځم "روح القدس"، چې دا روح د نبوت حامل و .

مفضله! هغه وخت، چې رسول الله (ص) له دنيا ولاړ؛ نو"روح القدس" امام ته راولېږدول شو او دا هماغه روح دی، چې خوب، غفلت، بېځايه کار اوځان غوښتنه يې نه درلوده؛ خو دا حالتونو په هغو نورو روحونو کې شته او په "روح القدس" د عالم پيښې ليدل کېږي.

۹۹۹_ د((رُوحاً مِنْ أَمْرِنَا)) مانا:

د ابو بصير وينا ده، چې: د ((وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحاً مِنْ أَمْرِنَا مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلاَ الْإِيمَانُ[1])) په آيت کې مې د ((رُوحاً مِنْ أَمْرِنَا)) د مانا په باب وپوښتل، چې امام راته وويل: هغه روح د الله له مخلوقاتو يو روح دی، چې د حضرت جبرائيل او حضرت مکائيل تر روحونو هم ستر دی، هغه تل رسول الله (ص) سره و او رسول الله (ص) يې له پېښوخبراوه او چارې يې ورته غښتلې کولې، بيا امام وويل: تر رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم روسته دا روح له سپين لمنو امامانوسره دی.

۱۰۰۰ – دا روح يوازې د الله له رسول سره و:

امام صادق (رح) وايي: دا روح بې له حضرت محمد(ص) بل يو پېغمبرسره هم نه و.

۱۰۱_ تر پرښتو هم لوړ مقام:

امام صادق (رح) وايي: د معراج پر شپه، چې حضرت جبرائيل رسول الله له ځان سره بوت نو حضرت جبرائيل هغه تر يوه ځايه بوته او ترې بېل شو، رسول الله (ص) ورته وويل: جبرائيله! ولې مې په داسې ځای کې ځان ته پرېږدې؟ حضرت جبرائيل وويل: رسول الله (ص)!ځه ولاړ شه او مخکې ولاړ شه، پر الله قسم! پر کوم مقام، چې اوس ولاړ يې، تر تا مخکې پرې د يو انسان لار هم نه وه راپېښه شوې.

۱۰۰۲_ نبوي مقام:

حضرت جبرائيل پېغمبراکرم ته وويل: قسم پر هغه الله، چې ته يې پېغمبر کړی، پرکوم مقام، چې ولاړ يې، تر وسه ورته هېڅ مرسل پېغمبر او مقربه پرښته وررسېدلې نه ده.

۱۰۰۳_ د الله او پېغمبر ترمنځ يوه پرده:

[1] (شوری – ۵۲)

پېغمبراکرم وويل: (د معراج په شپه) پر براق (يوډول اس)سپور شوم او داسې پردې ته ورسېدم، چې هاخوا ترې الله و.))

١٠٠٤_ د زړه په سترګو د پالونکي ليدل:

محمد بن فيضل وايي: امام موسی بن جعفر(رح) مې وپوښت: راپېښ شوي، چې رسول الله (ص) په خپلو سترګو الله وويني؟ امام راته وويل: هو! په خپل زړه يې الله ليده. آيا د الله هغه خبره مو اورېدلې نه ده، چې و يې ويل: ((څه، چې زړه وليدل، دروغ نه دي)) رسول الله (ص) په خپلو سترګو الله ونه ليده؛ خو د زړه په سترګو يې الله وليده.

١٠٠٥_ يوازې د الله جلال واټن و:

رسول الله (ص) وويل: "د معراج پر شپه"الله مې د زړه په سترګو وکوت او زما او د هغه ترمنځ يوازې الهي جلال واټن و.

١٠٠٦_ د الله او پېغمبراکرم ځانګړی وخت:

پېغمبراکرم وويل: ((زه له الله سره يو وخت لرم، چې هېڅ مقربه پرښته او مرسل پېغمبر او هغه بنده چې الله يې زړه په ايمان ازمېيلی، د هغه حال د زغملو ځواک نه لري.))

١٠٠٧_ پېغمبراکرم په اووم اسمان کې:

پېغمبراکرم وويل: (د معراج پر شپه)، چې اووم اسمان ته ورسېدم نو راسره ټولې پرښتې او حضرت جبرائيل ودرېدل او پاتې شوې او زه هم د الله حجاب ته ورسېدم، اويا حجابو ته ورننووتم، چې له يوه حجابه تر بله د عزت، ځواک، بها، کرامت، کبريا، عظمت، نور، ظلمت او وقار نورحجابونه ول، تردې چې د جلال حجاب ته ور و رسېدم نو د خپل پالونکي عبادت مې وکړ او ودرېدم.))

١٠٠٨_ پېغمبراکرم ته د الله ډالۍ:

پېغمبراکرم وويل: ((داسې ورځ يا شپه نه نشته، چې پکې د الله له اړخه ډالۍ نه راتله.))

١٠٠٩_ له پېغمبراکرم سره د (٧٢) ټکيو علم:

امام صادق (رح) وايي: حضرت عيسی عليه السلام ته (له الهي علمه) دوه ټکي ورکړل شوي ول او په هماغه دوه ټکيو يې کار کاوه. حضرت موسی عليه السلام ته يې څلور ټکي، حضرت ابراهيم عليه السلام ته (٨) ټکي، حضرت نوح عليه السلام ته يې پينځلس، حضرت آدم ته يې (٢٥) ورکړي ول، چې الله هغه ټول د حضرت محمد په وجود کې راټول کړي ول. د الله اعظم نوم (٧٣) ټکي دی، چې

الله يې (۷۲) حضرت محمد ته ورکړل؛ خو يو يې ور نه کړ.[۱]

## نبوي سیرت او د عطرو کارول

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم، چې له هرې کوڅې تېرېده؛ نو د عطرو خوږ بوي يې تر ډېره هلته و. په دې هکله امام صادق (رح) وايي: ((د الله استازي به تر خوړو پر عطرو ډېر لګښت کاوه.[۲]))
تل يې خپلو يارانو ته سپارښتنه کوله، چې ځان پاک او خوږبويه وساتئ.
د جمعې پر ورځ يې خپل ياران هڅول، چې غسل وکړي، عطر وکاروي او خوږ بويه د جمعې لمانځه ته ولاړ شئ.
يوه ورځ يې حضرت علي (ک) ته وويل: علي! د جمعې پر ورځ عطر کاروه، چې دا مې سنت دی او تر هغه چې له خوږ بويه يې، ثواب درته ليکل کېږي، ويل يې: که چاته کوم مسلمان رور ګل ورډالۍ کړ؛ نو ودې يې مني، چې ګل د جنت دی.
د امامانو سيرت هم د عطرو په هکله د الله د استازي په څېر و؛ لکه څنګه چې امام


رضا (رح) وايي: ((په جومات کې خلکو د امام صادق (رح) ځای يې د عطرو له بويه پېژنده.))
د امام صادق (رح) وينا ده: عطر لګول د الهي انبياوو عليه السلام اخلاق او سنت وو.
بيا يې وويل: له عطرو سره دوه رکعته لمونځ بې له عطرو له اويا رکعتو سره برابر دي. بيا وايي: انسان ته پکار دي، چې هره ورځ عطر لګول هير نه کړي او که دا کار نشي کړای؛ نو يوه ورځ روسته دې دا کار وکړي او که بيا هم نشي کړای؛ نو د جمعې پر ورځ دې هرومرو دا کار وکړي.
پاک نبي مشک درلودل، چې تر هر اوداسه روسته يې پر لاس موږل.
دا خبره دې له قلمه ونه غورځي، چې پاک نبي په هرو شرايطو کې د عطر د کاررولو اجازه نه ده ورکړې. د بېلګې په توګه: د ښځې د بهر وتو پرمهال يې عطر لګول منع کړي دي، تردې چې و يې ويل: ((کومه ښځه، چې عطر ولګوي او له کوره بهر ووځي؛ نو تر هغه به پرې د الله لعنت ويل کېږي، چې کور ته راستنه شي)).

---

[۱]. د رسول الله (ص) ۱۰۰۹ ژونددودنه مو د الميزان تفسير د ستر مفسر اروابناد علامه طباطبايي د سنن النبی له کتابه راخستي دي.

[۲] (مکارم الاخلاق؛ ۸۳ مخ)

## قدرمني او حق پېژندنه

رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم به د هغوی بې ساري قدرمني کوله، چې په يوه نه يو ډول يې د هغه مبارک په ژوند کې ونډه درلوده او خپلو لارويانو ته يې سيرت جوتوي، چې که انسان ونشي کړای د خپل همډولي حق پرځای کړي؛ نو د خپل پنځګر حق به پوره کولای نشي.

سره له دې چې پاک نبي خپل پالونکي روزلی و؛ خو بيا يې هم د هغوی ځانګړی درناوی کاوه، چې د هغه په ښوونه، روزنه او د موخو په پرمختګ کې يې ورسره مرسته او يا لاسنيوی کړی و او په هر مناسب وخت کې يې ترې مننه کوله او تر وسې يې خدمت ورته کاوه.

د رسول الله مبارک پام يوازې له موروپلار او خپلوانو سره نېکۍ ته نه و؛ بلکې په هره شونې بڼه يې له ټولو خلکو سره ځانګړې مرسته، قدر مني کوله او دې چار ته يې دومره پام و، چې په دې هکله يې په تاريخ کې ځانګړی نوم پرېښی دی.

جومات يې يوې ښځې جارو کاوه او د شپې به هملته ويدېده او خلکو يې خرڅ ور؛ نو يوه شپه يې هغه ښځه په جومات کې ونه ليده؛ نو د هغې پوښتنه يې وکړه، ورته وويل شول، مړه شوې ده او خاورو ته هم وسپارل شوه.

د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم يارانو ګومان کاوه، چې ددې بوډۍ مړينه رسول الله ته ارزښت نه لري؛ نوځکه يې له مړينې کړی نه و خو رسول الله مبارک يې پر مړينه خورا خواشينی شو او له ملګرو سره يې کيڅ-قبر ته ولاړ، لمونځ يې ورته وکړ او له الله يې ورته ښښنه وغوښته.

له خپلو دايه ګانو: "ثوبيه" او "حليمې" سره مينه، لاسنيوی، مرسته او قدرمني په تاريخ کې د قدردانيو، مرستو او مينې بې ځارې بېلګه ده.

"ثوبيه" د "ابولهب" وينځه وه، چې څلور مياشتې يې د الله استازي ته شيدې ورکړې، چې د ژوند تر پايه يې رسول الله او مېرمنې يې خديجې بي بي ورسره مينه، مرسته او قدرمني کوله. تر بعثت روسته د الله استازي يو ورپسې ولېږه، چې له ابولهبه يې وپېري خو هغه ونه منله خو د الله استازي بيا هم ورسره د ژوند تر پايه مرسته او مينه کوله، چې رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم د "خيبر" له جګړې راستون شو؛ نو وايې ورېدل، چې "ثوبيه" مړه شوې؛ نو په دې خبره د پاک نبي چرت ډېر زيات خراب شو؛ نو د هغې د زوی پوښتنه يې وکړه، چې ورسره مرسته وکړي؛ خو ورته وويل شو، چې زوی يې تر مور مخکې له دې دنياسترګې پټې کړې دي.

د "حنین" په جګړه کې، چې د "هوازن" ټبر دوه خپلې او دوه پردۍ کړی؛ نو ښځې او ماشومان یې اسیران شول؛ نو د هغه ټبر خلکو د الله د استازي رضاعي تره، چې د هم دې ټبر و، رسول الله (ص) ته واسطه کړ، چې کېدای شي، د درناوي په پار یې اسیران خوشې کړي؛ نو همدا وو، چې د الله استازي، د خپل رضاعي تره د درناوي له لامله مجاهدینو ته ورغی او د اسیرانو شفاعت یې وکړ خو په مجاهدینو کې ځو کسانو د خپلو اسیرانو له خوشې کولو سرغړونه وکړه، چې بیا پخپله د الله استازي اسیران وپېرل او خوشې یې کړل.

له "ام ایمن" سره هم د پاک نبي له مینې او وفا ډکه کیسه بې سارې ده. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم شپږ کلن و، چې مور یې د عبدالله د قبر له زیارته د راستنېدو پرمهال د "ابوا" په سیمه کې له دې دنیا سترګې پټې کړې، چې تردې روسته "ام ایمن" ددې شپږ کلن ماشوم پر روزنې سرېېره، مورولي یې هم پر غاړه واخسته.

دې مېړنۍ ښځې په هغه بېدیا کې، چې ډول ډول لوټ ماران پکې وو، هڅه وکړه، چې ماشوم روغ رمټ خپلې کورنۍ ته ورسوي او خپل ګران نېکه "عبدالمطلب" ته ور وسپاري.

د الله استازي به د خپل ټول عمر په ترڅ کې ددې ښځې ښېګنې نه هېرولې او ځومره چې یې له لاسه کېدل، مرسته یې ورسره کوله او تل یې ورته مور ویله.

## د ام المؤمنین خدیجه کبری(رضی الله عنها) قدرمني

په دې ټول خبر دي، چې په ښځو کې خدیجه بي بي وه، چې تر ټولو ړومبی یې د الله پر استازي ایمان راوړ. د الله استازي یې هم هېڅکله دا ارزښتناک خدمتونه هېر نه کړل او په هر ځای کې یې په درناوي یادوله او تل یې ویل: ((پر الله قسم، چې پالونکي بې له خدیجې ښه نه ده را پر برخه کړې هغه مهال چې ټول کفار وو ایمان یې راباندې راوړ، هغه مهال چې ټولو دروغجن ګڼلم تصدیق یې کړم، هغه مهال چې نورو له خپلې شتمنۍ بې برخې کړم پخپله شتمنۍ یې زما ملاتړ وکړ او الله ترې اولاد راکړ.))

پاک نبي به نه یوازې د خدیجې درناوی کاوه؛ بلکې د خدیجې د ملګرو درناوی یې هم کاوه او د هغوی پوښتنه یې کوله.

یوه ورځ یوه بوډۍ د رسول الله (ص) لیدو ته راغله، چې د الله استازي یې خورا درناوی وکړ او بیا یې پر ورین تندي رخصت کړه؛ نو چې دا کتنه پای ته ورسېده؛ نو ام المؤمنین عایشې بي بي د الله له استازي د دې دومره درناوي پوښتنه ورکړه، چې ورته یې وویل: دا ښځه به د

خديجې پر ژوندون هم زموږ پوښتنې ته راتله.

يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د لارې پر سر له يوې بوډۍ سره ودرېد، د هغې پر احوال يې ځان پوه کړ او ورسره يې خبرې وکړې او بيا يې وويل: ((پخوانۍ دوستي ټينګه ساتل د ايمان نښه ده)) دا ښځه د خديجې پر ژوندون هم زموږ پوښتنې ته راتله.

د ام المؤمنين عايشې وينا ده، چې د الله له استازي کره به حلاله وشوه؛ نو برخې برخې به يې کړه او د خديجې د ملګرو برخه يې هم پکې کوله.

## کار او کوښښ

له وړوکتوبه تکړه او خواري کښ و. هغه مهال چې له ((حليمې)) بي بي سره و نو ويې پوښتل، چې ورونه مې چېرې ځي ؟ حليمې وويل: څاروي څرولو ته وړي. و يې ويل: سر له سبا زه هم ورسره ځم.

په اوه کلنۍ کې وليدل شو، چې لمنه يې له خاورو ډکه کړې او له "عبدالله بن جدعان" سره د کور په جوړولو کې مرسته کوي.

په ژوند کې ونه ليدل شو، چې کومه شېبه يې پر ناغېړۍ تېره کړې وي، خپل کارونه يې په خپله کول او په کور پورې اړوند چارې يې په خپله ترسره کولې او دعا يې



کوله: ((خدايه! له لټۍ او بې کارۍ درڅخه پناه غواړم)).

مسلمانان يې کار و کوښښ ته هڅول او ويل يې: ((امين کارګر پر الله ګران دی او عبادت اويا برخې لري، چې تر ټولو غوره يې د حلال رزق ګټل دي.)) ويل يې: ((څوک چې د دنيا په چارو کې ناغېړی وي؛ نو د اخرت چارې به يې هم ناغېړې وي)).

نبوي حديث دی: ((لعنت ويل شوی پر هغه چې د خپل خرڅ پېټې پر نورو وراچوي او پخپله بېکاره وي.))

يوه ورځ د الله استازي يو تکړه غښتلی سړی وليد، چې هغه مبارک يې حيران کړ؛ نو پاک نبي يې د کار او کسب په هکله وپوښتل، چې منفي ځواب يې واورېد؛ نو ويې وويل: ((له سترګو مې وغورځېد)).

د الله د استازي يو اصحابي ډېر بېوزله شوی و او د خپلې ښځې په وړانديز يې هوډ وکړ، چې خپله وضع رسول الله مبارک ته ووايي او مرسته ترې وغواړي او په همدې نيت پاک نبي ته ورغی خو مخکې تردې چې خپله اړتيا وغواړي، له رسول الله يې واورېدل: ((څوک چې له موږ څخه څه وغواړي نو موږ يې ورکوو خو هغه چې ځان نورو ته نه اړينوي او خپل لاس نورو ته اوږد نه کړي؛ نو الله به يې مړه خوا کړي)). دې سړي هم پر هغه

ورځ د الله له استازي هېڅ ونه غوښتل او کور ته راستون شو، کور ته راغی خو د بېوزلی له لامله بیا د الله استازي ته ورغی او دواړه ځل یې هماغه خبره واورېده او بې له دې چې له پاک نبي مرسته وغواړي خپل کور ته راستون شو خو دا ځل یې له ځان سره فکر وکړ، چې څه کړای شم ؟ ذهن ته یې راغلل، چې دومره خو کړای شي، چې بېدیا ته ولاړ شي، خس راټول او ویې پلوري. ترخزه یې راواخسته، بېدیا ته ولاړ، خس یې راوړل او خرڅ ویې پلورل او نه یوازې خپله اړتیا یې لاس ته راوړه؛ بلکې سوکه سوکه شتمن هم شو. بله ورځ چې د الله رسول ولید؛ نو په موسکا یې ورته وویل: ((درته مې نه وو ویلي: څوک چې له موږ مرسته وغواړي نو مرسته یې کوو خو که ځان اړین نه کړي؛ نو الله به یې مړه خوا کړي.))

د الله د استازي وینا ده: دا به ډېره غوره وي، چې په تاسې کې یو کس بې له دې چې له خلکو څه وغواړي، خپله رسۍ واخلي، غره ته ولاړ شي، خس راټول کړي اوو یې پلوري.))

((وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْراً[1] = او ورته له داسې ځایه روزي ورکوي، چې گومان یې نه کوي او څوك چې پر الله توکل وکړي نو الله ورته بس دی، په حقیقت کې الله د خپل کار ترسره کوونکی دی، په یقین چې الله هر څیز ته یوه اندازه ټاکلې ده.[2]))

د الله د استازي ځینو یارانو، چې د ا آیت واورېد؛ نو له کار و کوښښ یې لاس واخست او په ځان پسې یې ورونه وتړل او پر عبادتونو بوخت شول او له ځان سره یې وویل، چې نوره اړتیا نه لرو چې ورځنۍ-کار او کسب ولرو.

د الله استازی چې خبر شو؛ نو ټول یې راوغوښتل او و یې وپوښتل: ولې مو له کاره لاس واخست او یوازې پر عبادت بوخت شوي یاست ؟ په ځواب کې یې ورته وویل: الله ویلي او ضمانت یې کړی، چې روزي به مو راکوي؛ نو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورټل او ورته یې وویل: چاچې داسې وکړل او له کار او کوښښه یې لاس واخست؛ نو دعا به یې قبوله نشي، درته په کار دي، چې کار او کوښښ وکړئ او د خپل کوښښ او کسب تر سیوري لاندې له خدایه مرسته وغواړئ. په بل ځای کې وایي: ((تر ټولو پاک خواړه هغه دي، چې انسان یې پخپل کار او کوښښ لاس ته راوړي)).

رسول الله ټول هغه مشروع کوښښونه عبادت گڼلي او جهاد یې بولي، چې د

[1] (طلاق/۳)

[2] (اسد الغابه ۲ /۲۶۹)

ژوند د ښه کولو او اړتیاو د لرې کولو لپاره کېږي.

پېغمبراکرم له اصحابو سره ناست و، چې یو غښتلی او تکړه ځوان یې ولید، چې سهار وختي پر کار بوخت شو، چې پردې مهال اصحابو وویل: دا ځوان به هله د ستاینې وړ و، چې خپله ځواني او غښتلیتا یې د الله په لار کې کارولې وای. د الله استازي وویل: دا خبره مه کوئ! که دا ځوان ددې لپاره کار کوي، چې په ژوند کې نورو ته اړتیا ونه لري؛ نو دا کار یې د الله په لار کې شمېرل کېږي او که ددې لپاره کار کوي، چې بېوزلیو ماشومانو او خپل موروپلار ته ګټه ورسوي؛ نو بیا یې هم کار عبادت دی؛ خو که ددې لپاره کار کوي، چې مال ډېر کړي؛ نو د شېطان پر لار تللی او له نېغې لارې کوږ شوی دی.

ګران پېغمبر به له زیارکښو او کارګرانو سره ځانګړې مینه درلوده، چې په تاریخ کې لا له دې طبقې سره دومره مینه له هېڅ مشر تابه څخه هم نه ده لیدل شوې؛ لکه څنګه چې حضرت انس بن مالک(رض) وایي: ((هغه مهال چې رسول الله د "تبوک" له جګړې راستون شو؛ نو "سعد انصاري" یې ستړو مه شو ته ورغی؛ نو د الله استازي، چې لاس ورکړ؛ نو د هغه لاس یې ځیر وموند، چې و یې ویل: پر لاس دې څه شوي؟ ورته و یې ویل: الله مې دې له تا لوړی کړي! زه په پړي کار کوم او کورنۍ ته مې پرې روزي ګټم.

پردې مهال هغه مبارک ددې کارګر لاس ښکل کړ، و یې ویل: دا هغه لاس دی، چې د دوزخ اور به ور ونه رسي[1].

وینو چې د اسلام د ستر پېغمبر په ښوونو کې کار یوازې د مجبورۍ له مخې نه دی؛ بلکې که څوک له مالي اړخه هم کار ته اړتیا نه لري؛ نو بیا یې هم کار د انسان د بشپړتیا لپاره ارزښتمن ګڼلی، چې د ډول ډول استعدادونو په زرغونولو کې مهمه ونډه لوبوي.

رسول الله مبارک د خپل ژوند یوه شېبه هم بېکاره تېره نه کړه او چې د خپلو دندو د ترسره کولو روسته به کور ته راستون شو؛ نو خپل وخت یې درې برخې کاوه:

۱_ په یوه برخه کې یې د الله عبادت کاوه.

۲_ په یوه برخه کې له خپلې کورنۍ سره و او د هغوی اړتیاوې یې پوره کولې.

۳_ په یوه برخه کې یې استراحت کاوه، شخصي کارونه یې پکې کول، چې په دې وخت کې یې یو څه وخت ځانګړیو اصحابو او نورو خلکو ته هم ورکاوه.

[1] (اسد الغابه ۲ /۲۶۹)

**ژوند غنيمت دی**

رسول الله (ص) تل هڅه کوله، چې د خپل امت سر د ژوند پر ارزښت خلاص کړي، ويل يې: ((د آدم اولاد ته حيران يم، چې شتمني يې ډېره شي؛ نو خوشحاله شي او چې شتمني يې لږه شي؛ نو د خپګان په څپو کې ډوب شي؛ خو پردې خبره هېڅکله نه خواشينېږي، چې د ژوند شپې او ورځې يې تېرېږي او پردې خبره سر خلاص کړئ!: هغه هوسا نه دی، چې شتمني يې ډېره خو عمر يې لنډ وي او ويل يې: الهي پرښته هر شپه پر شل کلنو ځوانانو غږ کوي، چې نه ستړی کېدونکی کوښښ وکړئ او کمال او نېکمرغی ته د رسېدو لپاره ملا وتړئ. د ايمان خاوند ته پکار دي، چې له خپل ځواکه د خپلو ګټو، له دنيا د آخرت لپاره او له ځوانی د بوډاتوب لپاره وکاروي.

رسول الله (ص)، حضرت ابوذر غفاري(رض) ته وويل: پينځه څيزونه تر پينځو څيزونو مخکې غنيمت وګڼه: ځواني تر بوډاتوبه، روغتيا تر رنځ، شتمني تر بېوزلی، فراغت تر ګرفتاری او ژوند تر مړينې.

او ويل يې: چاته چې د خير ور پرانستل شو؛ نو هغه دې غنيمت وګڼي او له وخته دې ګټه واخلي؛ څکه پته ورته نه وي، چې کله پرې دا ور بندېږي.

د الله د استازي وينا ده: په ژوند کې به مو داسې ورځې راشي، چې د الله ځانګړی پام به درته وي او مناسب وخت به لاس ته راوړئ؛ نو هغه مهال کوښښ وکړئ، چې له دې فرصته ګټه واخلئ او ځان د الله پر لار سم کړئ.

د الله د استازي وينا ده: په قيامت کې به يو بنده هم مخکې ولاړ نشي؛ خو داچې څو پوښتنې ترې وشي؛ لکه:

١ـ ژوند دې پر څه تېر کړی دی.

٢ـځواني دې څنګه او په کومه لار کې تېره کړې ده.

٣ـشتمني دې څنګه لاس ته راوړې او په کوم ځای کې دې لګولې ده.

٤ـ امام دې څوک دی؛ لکه څنګه چې لوی څښتن ويلي دي:

((يوم ندعوا کل اناس بامامهم)) پر هغه ورځ به ټول خلک د هغوی له امام سره راغواړو او په پای کې به له فرصتونو او واکه کمال ته د وررسېدو په هکله هم پوښتنه کېږي.

د رسول الله (ص) وينا ده: د چاچې نن له پرون سره يو شان وي؛ نو مغبون دی او د چاچې نن تر پرونه بدتر وي؛ نو ملعون دی او کم عقله هغه دی، چې خپلې نيمګړتياوې له منځه يو نه سي او د هغه چې عقل او عمل نيمګړې وي؛ نو تر

**غوره بېلګه (أُسوَةٌ حَسنَةٌ)**
ژونده ورته مرګ غوره دی (؛ ځکه ورځ په ورځ یې ګناهګانې ډېرېږي [1])

**له بېکارۍ او ناغېړۍ کرکجن و**
له بېکارۍ او لټۍ سخت کرکجن و، ویل یې: ((خدایه! له لټۍ، ناغېړۍ، کمزورۍ او سستۍ له تا پناه غواړم. [2]))
مسلمانان یې کار ته هڅول، ویل یې: ((عبادت اویا برخې دی، چې خورا غوره یې حلال کسب دی.))

**امانت**
تر بعث مخکې حضرت خدیجې ـچې بیا یې مېرمن شوه ـ ته د سوداګرۍ په موخه شام ته ولاړ. په دې سفر کې یې امانت ساتي، استعداد او سمچاري روښانه شوه په خلکو کې په امانت ساتنه کې دومره مشهور و، چې د "محمد امین" لقب یې ورکړی و. تر بعثت روسته سره له دې چې قریشو ورسره دښمني پیدا کړه خو بیا یې هم خپل امانتونه ورسره ایښوول؛ نوځکه تر خپل هجرت روسته یې حضرت علي (ک) څو ورځې په مکه کې پرېښود، چې د خلکو امانتونه یې خاوندانو ته ورکړي.

**له تېري سره مبارزه**

**لومړی ټوک**
پېغمبراکرم د جاهلیت په پېر کې د "حلف الفضول" په تړون کې هم ژمنی و. دا تړون هغې ډلې د "عبدالله بن جدعان" په کور کې رامنځ ته کړی و، چې له تېري او زورمټۍ پوزې ته راغلي ول. پېغمبراکرم به تر رسالت روسته دا تړون یاداوه ویل یې، چې چمتو نه یم دا تړون مات شي او اوس هم چمتو یم، چې په داسې تړون کې هم ژمنی شم.

[1] (ارشاد القلوب ابومحمد حسن دیلمي ۲ /۷)
[2] وګ: الجامع الصغیر ۵۸/۱

**د حضرت محمد کورني خویونه**

په کور کې لوراند و له مېرمنو سره یې هېڅ ډول تاوتریخوالی نه کاوه، چې دا چار د مکیانو د دود پرخلاف و. له ښځو سره پر ښه چلن ټینگار کاوه، ویل یې: ((هر څوک ناوړه او ښه خویونه لري سړي نباید یوازې د خپلې مېرمنې ناوړه خویونه په پام کې ونیسي او خوښې یې کړي او هر مهال چې د مېرمنې یوې ځانگړنې خپه کړې نو بله داسې ښه ځانگړنه پکې شته چې خوشحاله دې کړي او باید دا دواړه ځانگړنې په پام کې ونیول شي.))

له اولاد او لمسیو سره په مینه چلېده په غېږ کې یې کېنول، پر اوږو یې سپرول او ښکلول یې، چې دا ټول؛ خویونه د هغه وخت د دودونو پرخلاف ول. یوه ورځ یې امام حسن ښکلاوه، چې یو سړي ورته وویل: ((دوه زامن لرم، چې تر وسه مې یو هم نه دی ښکل کړی.)) رسول الله ورته وویل: ((څوک چې پر نورو و نه لورېږي نو الله به پرې و نه لورېږي. [1]))

د مسلمانانو پر اولاد هم خورا لوراند و پر زنگانه یې کېنول او پر سر یې ورته د مینې لاس راکښوده. میندو به خپل ماشومان دعا ته رسول الله ته راوستل. کله به پېښېدل، چې ماشومانو به د رسول الله په غېږ کې متیازې کولې، چې په دې کار به میندې

[1] وگ: الفقیه٢٧٢/٤.



خپه او ماشومانو ته غوسه کېدې؛ خو رسول الله به ویل: له متیازو کولو یې مخنیوی مه کوئ خیر دی که جامې مې چټلې شوې و به یې مینځم.

**له مریانو سره چلن**

پر مریانو خورا لوراند و، خلکو ته یې ویل: ((دوی مو ورونه دي کوم خواړه، چې پخپله خورئ، پر دوی یې هم وخورئ، د ځان په څېر جامه ورکړئ، تر وسې پورته کار پرې مه کوئ او پخپله ورسره په چارو کې مرسته وکړئ ورته د وینځې او مریي په نوم غږ مه کوئ؛ ځکه موږ ټول د الله مملوک یو او د ټولو حقیقي مالک خاوند الله دی او په ځوانه! یا ځوانې ورته غږ کوئ.))

اسلامي شریعت ټول هغه شونتیاوې رامنځ ته کړل، چې د مریانو ازادول یې اسانول. "نخاسي"؛ یعنې د مریانو پلورل یې خورا ناوړه چار گانه، ویل یې: ((انسان پلوري د الله پر واندې خورا ناوړه وگړي دي. [2]))

نبوي چلن

په ورین تندي له خلکو سره مخېده. په سلام اچولو کې ان پر ماشومانو او مریانو مخکېکېده و. د چا په مخ کې یې پښې نه غځولې او پر چا یې ډډه نه وهله. ډېری په

[2] وگ: وسایل ١٢/٩٧

زنگنو کېناسته. د غونډو د ناستو بڼه يې گرده وه، چې لاندې باندې پکې نه وي او ټول يو شان ځای ولري. د اصحابو پوښتنه يې کوله که په درې ورځو کې به يې و نه ليد نو پوښتنه يې کوله که رنځور به و نو پوښتنې ته يې ورته او که ستونزه يې درلوده؛ نو په هواري که يې ورسره مرسته کوله. په غونډو کې يې يوازې يوه ته نه ليدل او له يوه سره يې خبرې نه کولې؛ بلکې ټولو ته يې کتل او ځان يې پر غونډه ويشه. ښه يې نه ايسيدل، چې کله غونډې ته رانوځي ځوک ورته له ځايه پاځي او په کارونو کې يې ونډه اخسته، وايي:

((د الله نه خوښېږي، چې خپل بنده په نورو بندگانو کې داسې ووينې، چې د نورو په پرتله ځان ته پر امتياز قايل وي. [1]))

## پرېکنده نرم خويه

په وگړيزو او هغو مسايلو کې خورا نرم چلنه او لوراند و، چې پخپله په همده پورې يې اړه درلوده، چې سترې او تاريخي ښننې يې د پرمختگ لامل دی؛ خو په آريزو، عمومي او قانوني مسايلو کې پرېکنده او سخت چلنه و او په دې چارو کې له چا هم نه تېرېده. سره له دې چې قريشو پرې خورا تېري کړي ول؛ خو د مکې تر سوبې روسته يې ټول وبښل. د

[1] وگ: کحل البصر /٦٨ مخ.



خپل گران تره حضرت "حمزه سيدالشهداء" د وژونکي توبه يې ومنله خو پر هماغه ورځ يې يوې ښځې ته د کړي جرم سزا ورکړه، چې ټول قريش يې ښنلي ول. کيسه يې داسې وه: د "بني مخزوم" د ټبر يوې ښځې غلا کړې وه او جرم يې جوت شوی هم و. د ټبر خلکو پر ښځه د حد جاري کېدل، د خپل ټبر سپکاوی گاڼه او له رسول الله يې وغوښتل، چې د حد له جاري کولو ډډه وکړي او ډېر ستر اصحاب يې هم رسول الله ته واسطه کړل؛ خو رسول الله په غوسه وويل: دا د واسطې ځای نه دی! د خلکو لپاره د الهي قانون پلي پرېښولای نشم او د هماغې ورځ پر مازيگر يې خلکو ته وينا وکړه:

((تېر خلک او قومونه؛ ځکه ورک شول، چې د الهي قانون په پلي کولو کې يې تبعيض کاوه که واکمنو او زورورو به جرم وکړ؛ نو ښنل کېده به او که کمزوري به جرم وکړ؛ نو قانون پرې پلي کېده قسم پر الله! د عدالت په پلي کولو کې به له چا سره سستي و نه کړم که څه نږدې خپلوان مې وي. [2]))

## د رسول الله عبادت

د شپې ډېری برخه يې پر عبادت تېروله. سره له دې چې ټوله ورځ يې – په تېره په

[2] وگ: صحيح مسلم ١١٤/٥.

مدینه – کار و کوښښ کاوه؛ خو د عبادت وخت یې نه لږېده. هوساېنه او ارام یې د حق په عبادت کې لیده عبادت یې جنت ته د تمې او یا د دوزخ د اور له وېرې نه و؛ بلکې مینې، ستاینې او منني ته و. یوه ورځ یې یوې مېرمنې وویل: ته خو ښښل شوی یې نو ولې دومره عبادت کوې؟ رسول الله (ص) وویل: ((آیا باید مننندوی بنده و نه وسم؟))

ډېرې روژې یې نیوې. پر رمضان او شعبان سربېره ورځ ترمنځ روژه و. د رمضان په روستیو لسو شپو کې یې بستره ببخي ټولوله او په جومات کې اعتکاف ته کېناسته خو خلکو ته یې ویل: (بسیا ده، چې په هره میاشت کې یوازې درې ورځې روژه شئ.)) ویل یې: ((د خپلې وسې هومره عبادت کوئ او تر خپلې وسې ډېر عبادت پر ځان مه پېټی کوئ، چې اپوټه اغېز لري.)) له رهبانیت، گوښه ناستی او کورنی ته له شاکولو سره مخالف و او هغه اصحاب یې په کلکه ورټل، چې داسې هوډ یې نیولی و. ویل یې: ((بدن، مېرمن، اولاد او ملگري مو دربانديې یو لړ حقوق لري، چې باید رعایت شي.)) ځان ته لمونځ یې اوږداوه او کله به ساعتونه ساعتونه د تهجدو پر لمانځه بوخت و خو د جماعت لمونځ یې لنډاوه او د کمزوریو، ښځمنو، بوډاگانو او ماشومانو پر حقوقو او درناوي یې ټینگار کاوه.

### زهد او ساده ژوند

زهد او ساده اوسېدل یې د ژوند آرونه ول. ساده؛ خواړه یې خوړل، ساده جامې یې اغوستې او ساده حرکت یې کاوه. پر پوزي او ځمکه کېناسته. په خپله یې اوزې لوشلې او پر بې کتې سپرلی به سورېده. ډېری خواړه یې روټه او کجورې وې. خپلې جامې او پڼې یې په خپله پیوندولې. د سادگی پلوی و خو د بېوزلی د فلسفې نه شتمني یې د ټولنې گټې او په مشروعو لارو کې لگولو ته پکار گڼله، ویل یې:

((ښومره ښه ده هغه شتمني، چې له حلالو لاس ته راشي او خاوند یې پوه شي، چې په کوم ځای کې یې ولگوي.[1]))

((شتمني تقوا ته ښه مرسته ده.[2]))

### هوډ او استقامت

بې ساری هوډ او استقامت یې درلود، چې یارانو یې ترې هم زده کړی و. د رسالت درویش کلن پېر یې د هوډ او استقامت له زده کړو ډک دی. کله به داسې پېښېدل، چې ټول به نهیلي شول؛ خو هغه یوه شېبه هم نهیلی نه شو او ماته یې ذهن ته نه راته

---

[1] وگ: محجة البیضاء٦/٤٤.

[2] وگ: وسائل١٢/١٦.

او د يوې شېبې لپاره يې هم پر بري ايمان لږ نه شو.

**مشري، مديريت او سلامشوره**

سره له دې چې يارانو يې بې ځنډه حکم پلي کاوه او تل يې اصحابو ويل: ((داچې بشپړ ايمان دربانديې لرو که حکم وکړې، چې ځان سيند ته واچوئ او يا په اور کې وسوځوئ؛ نو دا کار به وکړو.))

خو پيغمبراکرم د زور واکو په څېر نه و او په هغو چارو کې يې له يارانو سره سلامشوره کوله، چې په هکله يې وحې او الهي حکم نه و راغلی او تر مشورې روسته يې د ورکړ شوې مشورې درناوی هم کاوه او له دې لارې يې خپلو يارانو ته شخصيت ورکاوه. په "بدر" کې يې د جګړې کولو او نه کولو لپاره له ملګرو سره مشوره وکړه. د "اُحُد" په جګړه کې داچې په مدينه کې پاتې شي که ووځي هم يې له يارانو سره مشوره وکړه او همداراز د "احزاب" او "تبوک" په جګړه کې.

د پيغمبراکرم نرمي، لورنه، ښېنه، د اصحابو او امت د تېروتنو ښښلو ته لېوالتيا، پر يارانو يې شمېرل، ورسره مشوره او شخصيت ورکول يې هغه لاملونه دي، چې پر اصحابو او امت يې خورا ګران کړی و. قرآن کريم په دې هکله وايي:

((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ[1]= خلکو ته د الهي رحمت (په برکت) نرم (او لوراند) شوی يې او که توند خويه او سخت زړی وې؛ نو خلك درځنې خورېدل؛ نو له هغوی تېرشه او ښښنه ورته وغواړه او په چارو کې ور سره مشوره وکړه؛ خو چې کله دې هوډ وکړ (نو پرېکنده وسه او) پر الله توکل وکړه؛ ځکه چې توکل کوونکي د الله خو ښېږي.))

**نظم او انضباط**

پر چارو يې نظم او انضباط واکمن و. مهال ويش يې درلود او ددې کار سپارښتنه يې هم کوله او اصحابو يې هم په پلوی همدا کار کاوه. پکار وه، چې ځنې هوډونه ښکاره نه کړي، چې دښمن ترې خبر نشي؛ نو نه يې ښکاره کول؛ خو يارانو يې هوډ هرومرو پلي کاوه. د بېلګې په توګه: حکم يې کاوه: تيار شئ! سبا حرکت کوو. بې له دې چې له نهايي مقصده خبر وي، ټول به سبا پر هغه لور تلل، چې رسول الله حکم کړی و او په روستيو شېبو کې به خبرېدل، چې چېرې ځوو. کله به يې يوې ډلې ته د تګ حکم کاوه او يو ليک يې ورکاوه او

[1] (آل عمران/۱۵۹)

ورته ويل يې، چې تر درې شپو او ورځو مزله روسته ليک ولولئ او پکې ليکل شوي حکمونه پلي کړئ او هغوی به همداسې کول او نهايي مقصد ته تر رسېدو د مخه نه پوهېدل، چې چېرې روان دي او يې ميرځن-دښمن او ځري يې بې خبره پرېښوول.

**نيوکه يې اورېده؛ خو لوڅې پوڅې نه!**

ځينو يارانو پرې سختې او بېځايه نيوکې کولې خو رسول الله (ص) به د نيولي هوډ د فلسفې او حکمت په بيانولو خپل هوډ ته راماتول. له ستاينې او لوڅو پوڅو- چاپلوسی کرکجن و، ويل يې: ((د چاپلوسانو او غوړه مالونو پر مخ خاورې وشيندئ[1]))

له ډاډ سره کار يې ښه ايسيده. حضرت سعد بن معاذ (رض)، چې ومړ او پيغمبراکرم په خپله په لحد کې کېښود او چې کله يې د لحد تيږې ايښودې، ويل يې: ((پوهېږم، چې څو ورځې روسته نړېږي خو الله خوښېږي، چې بنده يې کوم کار کوي، ډاډمن او کلک يې وکړي.))

**له کمزوريو ټکيو سره مبارزه**

د وګړيو له کمزوريو ټکيو او ناپوهيو يې ناوړګټنه نه کوله اپوټه مبارزه يې ورسره کوله او خلک يې له خپلو ناپوهيو خبرول. اتلس مياشتېنی زوی يې ابراهيم، چې ومړ نو پر هغه ورځ لمر تندر ونيو. خلکو و انګېرل، چې لمر د پيغمبراکرم د زوی په وير کې تندر نيولی خو رسول الله (ص) د خلکو ددې جاهلي آند پر وړاندې چوپ پاتې نه شو او د خلکو له دې کمزورې ټکي يې ناوړګټنه و نه کړه پر ممبر کېناست، و يې ويل: ((خلکو! لمر و سپوږمی دوه الهي آيتونه دي او د چا د مړينې په پار يې تندر نه نيسي.))

**د مشرۍ شرايط**

د مشرۍ شرايط يې درلودل؛ لکه تشخيص، پرېکندتوب، مړانه، وړاندوينه، لرليد، د نيوکو زغم، د وګړيو پر وړتياوو پوهېدل او د وړتيا له مخې دنده ورسپارل، په شخصي چارو کې نرمي او په آريزو او قانوني چارو کې سختي، پر لاروپانو او يارانو شمېرنه، شخصيت ورکول او د هغوی د عاطفي، عقلي او عملي استعدادونو روزنه، له استبداده ډډه کول، له خاکسارۍ، پت، امانت ساتنې او په تشکيلاتو کې د انساني ځواکونو له تنظيم سره يې خورا مينه درلوده، ويل يې: ((که درې تنه يو ځای سفر کوئ؛ نو يو مو مشر وټاکئ.))

[1] (بحارالانوار۳/۲۹٤)

په مدينه کې يې ځانګړي تشکيلات درلودل او هرې ډلې به ځانګړې دنده درلوده: ځنې د وحې کاتبان ول او قرآن يې ليکه، ځينو د رسول الله (ص) د ځانګړيو ليکونو ليکوالان ول، ځينو به د خلکو تړونونه او معاملې ثبتولې، ځينو د صدقو او مالياتو حساب و کتاب کاوه[1].

## د تبليغ کړنلار

د اسلام په تبليغ کې يې سختي نه کوله او تر وېرې او ګواښنې ډېر يې پر زېري او هيلې ډډه وه. يو يار يې، چې يمن ته د تبليغ لپاره لېږه، ورته يې وويل: ((اسانې کوه او سختي مه کوه زېری ورکړه (خوښې راهڅوه) او خلک مه توري کوه. [2]))

د اسلام د تبليغ په چار کې يې خوځښت درلود، طائف ته يې سفر وکړ، د حج په موسم کې پر ټبرونو ګرځېده او بلنه يې ورکوله. يو ځل يې حضرت علي (ک) او بل ځل يې حضرت معاذ بن جبل (رض) يمن ته د تبليغ لپاره ولېږه. مدينې ته د راتګ تر مخه يې حضرت مصب بن عمير (رض) تبليغ ته استولی و. يوه ډله يې حبشې ته ولېږل، چې په دې سفر هم د قريشو له کړاوونو وژغورل شول او هم يې په حبشه کې اسلام ته تبليغ کاوه. پر شپږم هجري کال يې پاچايانو ته ليکونه واستول او اسلام ته يې راوبلل، چې تاريخ يې د سلو په شاوخوا کې ليکونه ثبت کړي دي.

## پوهې ته هڅونه

خلک يې پوهې او ليک لوست ته هڅول. د اصحابو اولاد يې هڅاوه، چې ليک لوست زده کړي. ځينې يارانو ته يې حکم وکړ، چې "سرياني" ژبه زده کړي، ويل يې: ((د علم زده کړه پر هر مسلمان او مسلمانې فرض ده. [3]))

((حکمت لاس ته راوړئ ان که له مشرک او منافقه وي. [4]))

((علم زده کړئ ان که په چين کې وي. [5]))

د علم پر زده کړې دا دومره سپارښتنې او ټينګار ددې لامل شو، چې مسلمان د علم زده کړې ته ملا وتړي او له ډېرو ژبو يې ګټور علمي آثار وژباړل او په خپله هم پر څېړنو بوخت شول او په دې کار نه يوازې د پخوانيو يوناني، رومي، ايراني، مصري، هندي او... تمدنو ترمنځ ارتباطي کړۍ شوه پخپله يې هم تر ټولو ستر او پرمختلی اسلامي تمدن رامنځ ته کړ.

[1] د تاريخ په کتابو؛لکه د يعقوبي تاريخ، د مسعودي التنبيه و الاشراف او د بلاذري معجم البلدان او ابن سعد په طبقات کې دا ټول ليکل شوي دي.

[2] وګ: دلائل النبوة٤٠١/٥.

[3] وګ: بحارالانوار ١٧٧/١

[4] وګ: بحارالانوار ٩٩/٢-٩٧

[5] وګ: بحارالانوار ١٧٧/١.

سيرت او خوی يې د وينا او دين په څېر هراړخيز او پراخ بنسټه و. تاريخ يې په څېر شخصيت نه دی ليدلی، چې په ټولو انساني اړخونو کې کمال ته رسېدلی و او په رښتيا هغه بشپړ انسان و.

## خپل کار په خپله کول

تر شوني بريده يې خپل کارونه پخپله کول خپلې څپلۍ يې په خپله ګنډلې او که جامې يې شلېدې نو په خپله يې ګنډلې. اوداسه ته يې په خپله اوبه راوړې او نه يوازې خپل کارونه يې په خپله کول؛ بلکې د کور په چارو کې يې له کورنۍ سره هم مرسته کوله او که د کور لپاره به سودا په کار وه نو په خپله يې راوړه او هېڅکله ترې چا ونه ليدل، چې په بازار کې پېرل شوې سودا په بل چا يوسي او سپارښتنه يې کوله، چې مو له لاسه کېږي؛ نو خپل کارونه په خپله وکړئ او نورو ته يې مه ورسپارئ.

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له اصحابو سره پر سفر وتلی و، چې غرمه شوه؛ نو کاروان ودرېد، ټول له سپرليو راکوز شول، رسول الله مبارک هم له سپرلۍ راکوز شو او اوداسه ته د اوبو راوړو په تکل کې شو، له خپل اوښه، چې لرې شو، راستون شو او اصحابو ګومان وکړ، چې کېدای شي دا ځای د دمې او اوداسه لپاره مناسب نه ګڼي او راستون شو، چې د تګ حکم وکړي، ټول په تمه وو، چې څه وايي او خلک خو نور هم هله حيران شول، چې ويې ليدل، رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم راغی او د اوښ پښې يې په خپله وتړلې او بېرته په اوبو پسې ولاړ. ټولو وويل: د الله استازيه! ولې دې موږ ته حکم و نه کړ، چې دا کار درته وکړو او ولې مو ځان په زحمت کړ ؟ رسول الله مبارک تاريخي ځواب ورکړ: له نورو په خپلو چارو کې مرسته مه غواړئ، که څه د وړوکي کار لپاره وي! که څه مسواک درته راواخلي؛ يعنې څومره مو چې له لاسه کېږي؛ نو خپل کارونه په خپله کوئ او له نورو مه غواړئ، چې کار مو وکړي.

رسول الله مبارک داسې ياران درلودل، چې که يې ترې غوښتي وای نو ځانونه يې سيند ته هم ګوزارول او د يارانو ټول وياړ يې هم دا و، چې په حکم يې ځان د ميرځن-دښمن تر تورو لاندې کوي او د داسې يارانو په درلودو بيا هم نه خوښېده، چې خپلې چارې وروسپاري، ويل يې: ((خپل کار پخپله کول د انبياوو عليه السلام کړنلار ده.))

## خبرې او چوپتيا

رسول الله مبارک خوږ او غوځ ژبی و او تل د وينا پرمهال موسکی و نه ډېر ګړېده او نه تل چوپ و. چوپتيا يې اوږده وه او

ناآړین نه ګرېده. یوه ورځ یې حضرت ابوذر غفاري (رض) ته وویل: ((په څه کې، چې دې ګټه نه وي؛ نو پرېږده یې او هغه خبره مه کوه، چې ګټه دې پکې نه وي او پر خپله ژبه د خپلو پیسوپه څېر پام کوه او ویې ساته. ابوذره! که ګړېدل سپین زر وي؛ نو چوپتیا سره زر دي.))

خبره یې نه اوږدوله، خبره یې بیاځلي نه وه، غوڅه او څرګنده وینا یې درلوده، خبرې یې په حوصله، چې په ډله کې ټول ناست پرې پوهېدل. بې بنسټه خبره ترې چا وا نهورېده، په خبرو کې نه تروربېده، وینا یې هم د نورو حرکتونو په څېر معتدله وه، خبره یې بشپړه، پراخ بنسټه، بې له کوم زیاتوالي او کموالي وه؛ نوځکه ټکي یې جوامع الکلام او څرګندونې یې فصل الخطاب وې.

نبوي حدیث دی: ((زه تر ټولو فصیح ژبی عرب یم)).

د رسول الله مبارک غونډلې-غونډلې او ویناوې ورې خو پخې وې او په خپله یې ویل: ((ښتن مې هر اړخیز ټکي راکړي دي.))

په رښتیا لوی ښتن داسې ځواک ورکړی و، چې په یوه وړه خبره یې خورا زیات علم او حکمت څرګنداوه، چې دا ځواک یې په مبارکو ویناوو کې هر چاته څرګند دی؛ خو له هر چا سره یې د هغوی د عقل او پوهې هومره خبرې کولې.

غږ یې لوړ او تر ټولو خوږ و. داسې څوک به نه وي، چې د رسول الله مبارک غږ او خبرې یې اورېدلې وي او په زړه کې یې ناستې نه وي او زړه یې پرې نه وي بایللی او؛ ځکه قریشو په مکه کې مسلمانان شویو ته "صباة" (زړه باېلونکي) ویل او ویل یې: وېره له دې ده، چې "ولید بن مغیره" پر محمد زړه ونه بایلي، چې ټول قریش ورته په تمه دي او که هغه هم پر محمد زړه وبایله نو ټول قریش به پر محمد زړه وبایلي. قریشو ویل: ((وینا یې کوډې دي او تر شرابو پکې ډېره مستي ده.))

خپل زامن یې له رسول الله سره له ناسې پاستې منع کول، چې د محمد (ص) خوږې خبرې او په زړه پورې څېره پرې اغېز و نه کړي.

چې رسول الله مبارک به په "حجر اسماعیل" کې کېناسته او پخپل ښایسته غږ یې قرآن لوسته نو کفارو په غوږونو کې ګوتې ایښووې، چې د رسول الله مبارک ښکلی غږ یې زړونه را نه کاږي او پر سرونو به یې څادرونه را اچول، چې سترګې یې د محمد (ص) پر زړه راکښونکې څېره ونه لګي؛ ځکه چا به چې

د الله د استازي خوړه او په زړه پورې وینا واورېده؛ نو اسلام یې راووړه[1].

### د ځناورو او څارویو حقوق

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د رحمت تر سیورې لاندې څاروي هم وو او پر څارویو هم لورانده و. پیشوته یې د اوبه لوښی داسې نیوه، چې ښه مړه شي. یوه ورځ یې پخپله کورنی رنځور شوی چرګ درمل کړ. یوه ورځ یې یو څاروی ولید، چې داغ یې پرې ایښی و او له پوزو یې لوړی راوته، چې پردې مهال د الله استازي وویل: د الله لعنت دې پر هغه وي، چې دا کار یې کړی دی. هېڅکله دې څوک څاروي نه داغوي او نه دې یې وهي.

نبوي حدیث دی: ((الله یوه ښځه په دوزخ کې کړه؛ ځکه په کور کې یې یوه پیشو بنده کړې وه او اوبه او خواړه یې ورکړي نه وو او دومره یې وهلې وه، چې مړه شوه.))

خپلو اصحابو ته یې دا کیسه وکړه: یوه ورځ یو سړی په سوځونکې بېدیا کې تږی شو او د تندی ماتولو ته یو څاه ته ورکوز شو؛ نو چې راووت ویې لیدل، چې یو سپی له تندی رپېږي او پوزه او ژبه پر ځمکه راکاږي. سړي له ځان سره وویل: دا سپی هم تندی راخستی نو بیا څاه ته ورکوز شو او خپل بوټان یې له اوبو راډک او سپي یې پرې موړ کړ، چې الله هم دا سړی د دې نېک عمل له لامله وبښه.

اصحابو ورته وویل: ایا موږ له څارویو سره په احسان کولو هم له خدایه ثواب ګټو ؟ د الله استازي ورته وویل: هو! له الله سره هره نېکي ثواب لري.

د رسول الله (ص) د څارویو د ژوند هر اړخ ته پام و، ویل یې: ګورئ چې کله درې کسان یو ځای پر کوم څاروي سپاره نشئ؛ ځکه یو پکې ملعون دی او ویل یې: ((د اوښ پر روستۍ برخه بار ږدئ، چې د بار سختي پرې نه وي. یوه ورځ یې ولیدل، چې اوښ یې له زنګونونو تړلی او بار یې ترې کوز کړی نه دی؛ نو و یې ویل: ددې اوښ خاوند چېرې دی ؟ ورته ووایئ، چې د قیامت په ورځ دې ځان پوښتنې ته چمتو کړي.

حضرت ابوذر یې په ربذه کې ولید، چې یو څاروي ته اوبه ورکوي، یو ورته وویل: ابوذره! چوپړیال نه لرې، چې ددې کار له پېټې دې خلاص کړي. ورته یې وویل: د الله له استازي مې واورېدل، چې و یې ویل: داسې څاروی به نه وي، چې هره

[1] (شرح نهج البلاغه ابن ابي الحدید۲/۱۲۰ د بیروت چاپ)

ورځ له خدایه ونه غواړي، چې خدایه صالح خاوند راکړې، چې پر اوبو مې موړ او پر زوره ډېر بار راباندې کېنږدي؛؛ نوځکه خوښ یم، چې دې څاروي ته په خپله اوبه ورکوم.
پیغمبراکرم (ص) به د زهرجنو او خطرناکو ځناورو هم خیال ساته او ویل یې: که وژل یې پکار وي؛ نو په داسې ښه یې ووژنئ، چې و نه کړېږي. د بېلګې په توګه د "وزغه" په هکله، چې په خپله یو ډول خطرناک ښامار دی وایي: که چا له "وزغه" د خلاصون لپاره پر لومړي ګوزار وواژه نو سل ثوابه ورته لیکل کېږي او که په دویم ګوزار یې ووژني نو ثواب به یې لږ وي.
هو ګرانو! زموږ ګران نبي په هغه وخت کې مخکې له دې چې د نړۍ خلک د ځناورو او څارویو له حقوقو د دفاع لپاره موسسې جوړې کړي، په ډېر ښه ډول د ځناورو او څارویو حقوق خلکو ته ورښوولي او سپارښتنه یې کړې وه، چې د ځناورو حقوق په پام کې ونیول شي او که چا له دې حقوقو سرغړونه وکړه؛ نو شرعي حاکم به یې په هکله اجرات کوي؛ نوځکه رسول الله وویل: څاروي پر خاوندانو یو لړ حقوق لري؛ لکه:
١_هر چېرې یې، چې بیول واښه ورکړي.
٢_که له اوبو تېرېږي؛ نو اوبه ورکړي.
٣_څاروي پر مخ ونه وهي.
٤_د اوږد وخت لپاره پرې سپاره نشي.
٥_د څاروي تر وس ډېر بار پرې کېنږدي.
٦_پر هغه لار یې یو نه سي، چې څاروي پرې نشي تلای.

## د مور و پلار حقوق

ګران نبي تر زیږېدو دمخه پلارمړی و او له مور سره یې هم ژوند وفا و نه کړه او په ماشومتوب کې د مور و پلار له نعمته بې برخې شو خو دومره یې له مور و پلار سره مینې ته پام و، چې په پینځه پنځوس کلنۍ کې د "عمرة القضاء" په سفر کې د خپل مور قبر ته ولاړ؛ نو د خپلې مور پر قبر یې دومره وژړل، چې ټول یې پر ژړا کړل.
د مور و پلار په هکله دولس ګونو امامانو او د یني مشرانو خورا سپارښتنې کړې دي، چې څو ته یې په لنډه اشاره کوو:
١_ له مور و پلار سره احسان: قرآن پاک څو ځل له مور و پلار سره پر احسان سپارښتنه کړې ده.
((وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اياهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لَهُمَا أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَهُمَا قَوْلاً كَرِيماً[1] = او پالونکي دې پرېکړه کړې، چې: بې له هغه بل مه نمانځئ، له

[1] (اسراء / ٢٣)

(خپل) مور و پلار سره احسان وکړئ، که له تا سره له هغو یویا دواړه زړښت ته ورسي نو ته ان " اوف "(هومره ورته) مه وایه (هېڅ ډول سپکاوی یې مه کوه ") او مه یې رټه او په درناوي پستې (ادبناکې او سنجول شوې) خبرې ورته وکړه))

امام صادق (رح) وپوښتل شو: په دې آیتونو کې له احسانه مراد څه دی؟

ورته و یې ویل: ((له احسانه مراد دادی، چې له مور و پلار سره دې چلن ښه وي او دې ته یې اړ نه کړې، څه چې یې پکار وي، له تا یې وغواړي؛ یعنې مخکې تردې چې خپلې غوښتنې په خوله راوړي نو ته باید هر څه ورته چمتو کړې.))

امام محمد باقر وایي: ((الله په درې ځیزونو کې چاته د سرغړونې اجازه نه ده ورکړې: د امانت په ادا کولو کې (که خاوند بد وي که ښه) پر ژمنه وفا (که مقابل لوری مو بد و که ښه) او له مور و پلار سره نېکي (که ښه وي که بد).

د رسول الله له ویناوو دي: ((که په چا کې، چې دا څلور ځانګړنې وي؛ نو الله به یې ملاتړی شي:

۱_اخلاق یې ښه وي او له خلکو سره ګوزاره وکړي. ۲_له خپه او ویرجنو سره نرمي وکړي. ۳_پر مور و پلار یې لورانده وي. ٤_ پر تر لاس لاندیو احسان وکړي.))

امام صادق (رح) له نامسلمان مور و پلارسره د معاشرت په هکله وایي:

((ورسره ګوزاره او لورنه کوه، که هغوی په عذابولې نو خیر دی؛ نو ته ورته خپله سینه د هغو زحمتونو په پار پراخه کړه، چې په وړوکتوب کې یې ستا لپاره ګاللي او که الله دې روزي پراخه کړي؛ نو ورسره شومتوب مه کوه او هېڅکله له هغوی مخ وا نه ړوې، چې دا د الله سپارښتنې دي)).

۲_ له موروپلاره لاروي؛ خو داچې د شرعې پرخلاف حکم وکړي.

امام صادق (رح) وایي: له مور و پلار سر نېکي فرض ده؛ خو که ګناه ته یې رابللئ؛ نو که مشرکان هم نه وي؛ نو لاروي ترې پکار نه ده؛ ځکه له مخلوقه لاروی ته د خالق معصیت په کار نه دی.

۳_له موروپلاره عاقېدل:

عاق د مورو پلار کړول، له حکمه یې سرغړونه او پرې ظلم کول دي، چې کبیره ګناه ده. رسول الله مبارک اصحاب وپوښتل: درته ووایم، چې تر ټولوستره کبیره ګناه کومه ده ؟ځواب ورکړ شو: هو! رسول الله مبارک وویل: ((له الله سره شرک کول، له والدینو عاقېدل، تور تړل او د دروغو او باطل شهادت ورکول)).

سبحان څښتن وایي: فلا تقل لهما اف؛ یعنې مور و پلار ته دې د اوف هومره هم مه وایه. امام صادق (رح) ددې آیت په هکله وایي: که الله ته تر اوفه هم بل څه پرېوتي ول؛ نو له هغې به یې د مور وپلار په هکله منع کړې وه. مور و پلار ته کاږه

او غوسه کتل هم ګناه ده او د امام صادق (رح) وینا ده، چې که چا خپل مور و پلار له ځانه خپه کړل؛ نو عاق دی

٤_ موروپلار ته کنځل:

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وايي: د الله لعنت دې پر هغه وي، چې مور و پلار ته کنځلې کوي.

امام موسی بن جعفر وايي: یو سړي د الله رسول وپوښت: پر اولاد د مور و پلار حق څه دی ؟ پاک نبي وویل: ((پلار ته په نوم غږ و نه کړي، مخکې ترې نشي، په مخ کې ورته کېنني او داسې کوم کار و نه کړي، چې څوک يې مور و پلار ته کنځلې وکړي.))

٥_ د مور و پلار بې اجازې مسافرت او ان کله هم جهاد ته نه تلل: دلته د مور و پلار اجازه هله شرط ده، چې مسافرت پر اولاد فرض نه وي او همداسې دی جهاد؛ یعنې هغه مهال د مور و پلار اجازه په کار ده، چې د معصوم امام یا يې پر حقه ځایناستي له پلوه حکم نه وي او د حج په څېر سفر او هغه جهاد د تګ لپاره د مور و پلار اجازه په کار نه ده، چې معصوم امام يې حکم کړی وي.

٦_د مور و پلار بې اجازې ژمنه، نذر، قسم، مستحبي روژه او په جمعه لمونځ کول نه

[1] (اسراء / ۲۳)

[2] (اسراء / ۲۴)



دي په کار، ان که څوک د مستحبي لمونځ په حال کې وي او که مور و پلار پرې غږ وکړي؛ نو ورته پکار دي، چې ژر تر ژره لمونځ پای ته ورسوي او مور و پلار ته ځواب ورکړي.

٧_ مور و پلار، چې زاړه شي؛ نو د اولاد دنده لاپسې نوره هم درنېږي.

الله وايي: ((وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اياهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لَهُمَا أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَهُمَا قَوْلاً كَرِيماً[1]= او پالونکي دې پرېکړه کړې، چې بې له هغه بل مه نمانځئ، له (خپل) مور و پلار سره احسان وکړئ، که له تا سره له هغو یویا دواړه زړښت ته ورسي نو ته ان " اوف "(هومره ورته) مه وايه (هېڅ ډول سپکاوی يې مه کوه") او مه يې رټه او په درناوي پستې (ادبناکې او سنجول شوي) خبرې ورته وکړه

((وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيراً[2]= اوله لورنې پرې د خپلې تواضع (او نرمې غاړې) وزرونه راښکته کړه، ووایه: ((پالونکیه! پر دوی رحم وکړه لکه څنګه چې دوی زه په ماشومتوب کې روزلی وم.))[3]

[3] (الاسراء/۲۳ او ۲٤ ایتونه).

رسول الله مبارک یوه ورځ په یوه ډله کې وویل: ((مخ دې پر خاورو شي (او دا خبره یې درې ځل وکړه) وپوښتل شو: د چا ؟ و یې ویل: له چا سره، چې زاړه مور و پلار وي؛ خو جنت ته ولاړ نشي؛ یعنې خدمت یې و نه کړي؛ ځکه په خدمت کې یې جنت دی، په تره بیا، چې زاړه شي.

۸_ د اړتیا پرمهال پر اولاد د مور و پلار نفقه فرض ده.

که له مور و پلار سره څه نه وي؛ نو پر اولاد شرعاً فرض دي، چې خپل مور و پلار ته یې د شان له مخې نفقه، کور، کالی او ډوډۍ چمتو کړي، که څه مور و پلار یې مشرک او نامسلمان وي.

یو چا د الله رسول وپوښت: د مور و پلار حق څه دی ؟

پاک نبي: ((مور وپلار دې دوزخ او جنت دی))؛ یعنې اوس خوښه ستا چې جنت غواړې که دوزخ.

امام صادق (رح) وپوښتل شو: هغه څوک دي، چې مور ملزم یو لګښت یې ورکړو؟ امام ورته وویل: مورو‌پلار، اولاد او مېرمن.

۹_ له مور سره ډېره مینه.

((وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَاناً حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهاً وَوَضَعَتْهُ كُرْهاً وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْراً ان إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحاً تَرْضَاهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ الْمُسْلِمِينَ[1]= او انسان ته مو سپارښتنه کړې، چې له خپل مور وپلار سره نېکي وکړئ مور یې هغه په ستونزو په نس کې ساتلی او په سختۍ یې زېږولی دی او د پرنس کېدو او تي ورکولو ټوله موده یې دېرش میاشتې ده، تردې چې د خپلې بشپړې ودې برید ته ورسي او څلوېښت کلن شي، وایي: ((پالونکیه! ماته الهام وکړه (توفیق راکړه) چې زه ستا د هغو پېرزوینو شکر پرځای کړم، چې پر ما او زما پرمور و پلار دې لورولي او (داسې) ښې چارې وکړم، چې ته یې خوښوې او اولاده مې نېکه کړه او په واقع کې توبه مې درته کړې او په حقیقت کې زه له مسلمانانو څخه یم.))

په دې هکله امام صادق (رح) وایي: یو سړي الله استازی وپوښت: له چا سره نېکي وکړو؟ پاک نبي ورته وویل: له مور سره. سړي بیا وپوښتل: تر مور روسته له چا سره ؟ رسول الله (ص): له مور سره. سړي بیا هماغه پوښتنه وکړه او له رسول الله (ص) یې بیا هم هماغه ځواب واورېد، چې په څلورم ځل، یې وپوښتل؛ نو د الله استازي ورته وویل: له پلار سره.

۱۰_ مور ته دعا او ورسره نېکي کول.

---

[1] (احقاف/۱۵)

سبحان څښتن وايي: ((وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيراً[1] = اوله لورنې پرې د خپلې تواضع (او نرمې غاړې) وزرونه راښکته کړه او ووایه: ((پالونکيه! پر دوی رحم وکړه لکه څنګه چې يې په ماشومتوب کې روزلی وم.))

محمد بن مروان وايي: امام صادق (رح) راته وويل: ((څه له له مور و پلار سره د احسان مخه نيسي که ژوندي وي که مړه، د هغوی له اړخه لمونځ وکړي، صدقه ورکړي، روژه ونيسي، حج وکړي، چې ددې کړنو ثواب يې مور و پلار ته وي او هغه ته هم (د مور و پلار د ثواب هومره) ورکړل شي؛ بلکې الله به يې ثواب د نېکۍ او زره سوي په پار ډېر کړي.))

۱۱_د مور و پلار دعا وغواړئ او له ښېرو يې ځان وساتئ.

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وويل: اولاد ته د پلار دعا، امت ته د پېغمبر د دعا په څېر ده.

بيا پاک نبي وايي: د مور و پلار له ښېرو ووېرېږئ، چې تر توري ډېره تېزه ده.

په بل ځای کې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وايي: د مور دعا ژر قبلېږي. وپوښتل شو: ولې ؟ و يې ويل: ؛ ځکه مور تر پلاره ډېره لورانده ده.

[1] (اسراء / ۲۴)

## له خلکو سره ملګرتوب او ګوزاره

رسول الله (ص) له خلکو سره ګوزاره کوله، ويل يې؛ لکه څنګه چې موږ انبياء عليه السلام دنده لرو، چې فرض پرځای کړو؛ نو هماغسې دنده لرو، چې له خلکو سره ګوزاره او سازش وکړو.

نبوي حديث دی: زه له خلکو سره ګوزارې ته مبعوث شوی يم او له خلکو سره د ګوزارې حکم راکړ شوی؛ لکه څنګه چې حکم راکړ شوی، چې رسالت مې تبليغ کړم.

څو يهودو دسيسه جوړه کړې وه، چې لږ ترلږه پر ژبه د الله استازي وزوروي، چې ټول په يو بل پسې مجلس ته راننوتل او د سلام عليکم پرځای يې وويل: السام عليکم؛ يعنې مرګ دې پر تا وي. حضرت عايشه بي بي، چې هلته وه، سخته غوسه شوه او چغه يې کړه: مرګ دې پر تاسې وي او....))

رسول الله (ص) وويل: عايشې! ولې غوسه شوې ؟ کنځلې مه کوه. کنځلې که انځور شي؛ نو تر ټولو بده او ربړلې څېره لري او نرمي، ملايمت او ښېګڼه که پر هر څه ورپورې شي؛ نو ښکلا ورکوي او له هر څه، چې لرې شي؛ نو ښکلا يې له منځه ځي.))

بي بي ورته وويل: د الله استازيه! نه وينئ، څومره پر بې شرمۍ وايي، چې مرگ دې پر تاسې وي ؟
رسول الله: ما يې هم په ځواب کې وويل: ((عليکم)) پر تاسې دې وي _ نو همدومره يې بس دی.
د الله استازي د خلکو ترخې او بې ادبه خبرې زغملې. يوه ورځ يو بېدياني عرب مدينې ته راغی او نېغ جومات ته ددې لپاره ولاړ، چې له رسول الله (ص) سره زر واخلي نو چې راننووت، رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم يې په خپلو يارانو کې ومونډ. دې سړي خپله اړتيا وغوښته. د الله استازي يو څه ورکړل؛ خو هغه پرې قانع نه شو، رسول الله ته يې سپکې سپورې وکړې. د رسول الله مبارک اصحاب ددې سړي له دې کاره خورا خپه او غوسه شوي وو او نږدې ول، چې هملته يې وږه سابه کړي؛ خو د الله استازي اصحابو ته ددې کار اجازه ورنه کړه او تردې روسته رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم هغه عربي له ځان سره کور ته يووړ او هلته يې ورسره نوره نقدي مرسته هم وکړه، چې د رسول الله (ص) په کور کې عربي هم وکتل، چې د الله د استازي کور د نورو واکمنانو په څېر نه دی او د سيکو او زرو درک پکې نشته، چې د تگ پرمهال عربي خوشحاله د الله د رسول له کوره ووت، چې په دې وخت کې د الله استازي ورته وويل: ته نن له ما مننه کوې او پرون دې راته ډېرې سپکې سپورې وکړې، چې زما اصحاب دې غوسه کړل او وېرېږم، چې چېرې دې د هغه رټلي کار له لامله خراب نه کړي؛ نو ايا کېدای شي همدا خبره يې په ډله کې وکړې، چې د تا لپاره يې په زړه کې غوسه له منځه ولاړه شي. عربي هم دې کار ته غاړه کېښوده. بله ورځ عربي جومات راغی، چې اصحاب له رسول الله (ص) داسې را تاو وو؛ لکه پتنگان له گله نو دا مهال د الله استازي خپلو يارانو ته وويل: دې سړي ماته وېلي، چې له موږ څخه راضي شوی دی. په دې وخت کې يې عربي ته مخ کړ او ورته يې وويل: ايا همداسې ده ؟ عربي وويل: هو همداسې ده! او هماغه مننه يې په ډله کې هم وکړه، چې له رسول الله (ص) يې کړې وه، د الله استازي اويارانو يې وخندل او په دې وخت کې د الله استازي وويل: زما او ددې سړي مثال د هغه سړي دی، چې اوښه يې ترې اوټاو شوې وه او منډې يې ترې وهلې او خلکو هم د اوښ له خاوند سره د مرستې په موخه په اوښ پسې منډلې وهلې، چې هغه اوښ د خلکو له وېرې لاپسې نور هم توري شو، چې په دې وخت کې د اوښ خاوند چغې کړې: خلکو! هيله کوم، له اوښ سره مې کار مه لرئ؛ ځکه په خپله ښه پوهېږم، چې څنگه مې اوښ رام کړم او را ويې نيسم او همداچې خلک يې په

اوښ پسې له منډو وژغورل؛ نو ولاړ او واښه یې راواخستل، په کلار کلار اوښ ته ورمخکې شو، بې له دې چې چغې او یا منډې ووهي او همداسې رامخکی شو، راغی او خپل اوښ یې له پړي راونیو او روان شو او که تاسې هم ما پرون پرېښې وئ؛ نو هغه عربي به مو ډېر پر بد حال وژلی و خو ما تاسې دې کار ته پرېښنبووئ او په خپله مې په نرمه رام اولارې ته راوست)).

رسول الله(ص) وویل: ایا له هغه مو خبر کړم، چې دوزخ پرې حرام دی ؟ دوزخ پر هر ګوزاره کوونکي او د نرمو اخلاقو پر خاوند حرام دی.

د الله استازی (ص) جومات ته روان و، چې په لار کې یو سړی ورمخې ته شو، و یې ویل: تاسې زما پوروړي یاست او همدا اوس باید زما پور راکړئ. رسول الله(ص) ورته وویل: ړومبی داچې زه دې پوروړی نه یم او بل داچې اوس په جېب کې څه نه لرم؛ نو اجازه راکړه، چې له کوره درته پیسې راوړم. هغه سړي ورته وویل: یو ګام هم له دې ځایه نشئ اخستئ. رسول الله، چې هر څومره ورسره له سړې سیني کار اخسته؛ نو هغه سړي به دوه زوره کول، تردې، چې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم څادر یې د هغه مبارک په ورمېږ کې واچوه او راکش یې کړ، چې تغمه یې په ورمېږ کې پاتې شوه. مسلمانان په جومات کې رسول الله (ص) ته په تمه وو او همداچې ویې لیدل، چې هغه مبارک ناوخته کړ؛ نو له جوماته راووتل او ویې لیدل، چې یو یهودي د رسول الله(ص) مخه نیولې ده. اصحابو غوښتل هغه یهودي کونج ته کړي همله ترې د بوسو خوسې جوړ کړي؛ خو رسول الله وویل: تاسې ورسره کار مه لرئ! زه پخپله پوهېږم، چې له دې ملګري سره څنګه چلن وکړم او دومره نرمي یې وښووله، چې یهودي ځای پرځای وویل: ((اشهد ان لا اله الله و اشهدانک رسول الله)) او زیاته یې کړه: یو عادي انسان دومره زغم او پراخه سینه نشي درلودای او څرګنده ده، چې تاسې د څښتن استازی یاست.

## له پوروړي سره ګوزاره

پاک نبي (ص) وایي: ((چاچې په تنګسه کې له چا سره ګوزاره وکړه؛ نو الله به ورسره په دنیا او اخرت کې ګوزاره وکړي. تر هغه چې بنده له خپل مسلمان رور سره مرسته کوي؛ نو الله هم ورسره مرسته کوي او چاچې په تنګسه کې له چا سره ګوزاره وکړه او د هغه د پور یوه برخه ورووبښي نو الله به یې د قیامت پر ورځ د خپل عرش تر سیوري لاندې کړي پر هغه ورځ چې بې د هغه له سیوري بل سیوری نشته.

پاک نبي (ص) خپلو يارانو ته وويل: په تاسې کې به کوم يو خوشحاله شي، چې پوه شي الله يې د دوزخ له عذابه ژغوري ؟ ټولو ورته وويل: موږ ټول به خوشحاله شو، چې داسې ښه خبر واورو. پاک نبي ورته وويل: هغه چې خپل په تنگسه کې پوروړي ته وخت ورکړي.

د پور غوښتو او داچې له چا وغوښتل شي، اصل دادی، چې د انسان چې څومره له لاسه کېږي، خپلې غوښتنې او اړتياوې پخپله لاس ته راوړي او که کله هم کار تردې راورسېد، چې له چا پور وغواړي نو په داسې طريقه دې نه غواړي، چې پکې خواري او ذلت وي.

نبوي حديث دی: ((که له چا څه غواړئ؛ نو له عزت نفس سره يې وغواړئ او د پور په پار ځان مه خواروئ.))

روايت دی: يو سړی امام صادق (رح) ته راغی او له روزگاره يې ورته گيله وکړه او و يې ويل: په پورونو کې ډوب يم. امام ورته يو څه نقدې ورکړې. هغه سړي ورته وويل: مطلب مې دا نه و، چې نقدې راکړئ؛ بلکې له دې لپاره مې درته د زړه حال بيان کړ، چې دعا راته وکړئ. امام ورته وويل: ما خو نه دي ويلي، چې ستا مطلب دا و، اوس دا نقدې واخله او سپارښتنه درته کوم: هره ستونزه، چې لرئ؛ نو د خلکو په مخ کې يې مه وايه، چې خوار نشئ.

ښښنه

پاک نبي به هغوی ښښل، چې ظلم يې پرې کړی او د نورو تېروتنې يې ښښلې. چې رسول الله مبارک مکه سوبه کړه هغه ښار چې پکې هغه او ياران يې ۱۳ کاله کړېدلي ول او تردې چې نږدې وو، ويې وژني نو ټولو دا تمه درلوده، چې اوس خو به د هغو ۱۳ کالو عچ اخلي خو د الله استازي خلک وپوښتل: زه به اوس درسره څه کوم او څه تمه لرئ ؟ خلکو ورته وويل: موږ له تا يوازې د خير تمه لرو، ته مو ستر رور او د ستر رور زوی يې. پېغمبراکرم ددې خبرو تر اغېز لاندې راغی، اوښکې يې راغلې او و يې ويل: زه به درته هماغه ووايم، چې رور مې يوسف عليه السلام خپلو ورونو ته وويل:

((قَالَ لاَ تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ[1]= وويل: ((نن پر تاسې پړه نشته، الله دې تاسې وښښي او هغه د لورنو ډېر لورين دی))

او همدا وو چې لوراند او رحمت للعالمين محمد (ص) هغه ټول وښښل، چې ۱۳ کاله يې سور اور ته نيولی و او ټولو ته يې وويل: ولاړ شئ! ټول ازاد ياست!

[1] (يوسف/۹۲)

او قرآن پاک رښتيا ويلي وو: و ما ارسلناک الا رحمة للعالمين.

ډېرو له رسول الله (ص) سره بد وکړل؛ خو هغه مبارک وبښل او هېڅکله يې په زړه کې د چا کينه ونه ساتله او له هېڅ چا يې غچ وانه خست؛ بلکې ببنه يې د غچ په پرتله وړ ګڼله.

سره له دې چې د "احد" په غزا کې په رسول الله مبارک هومره تېري وشول او د هغه د زمري په څېر تره حضرت حمزه د "معاوبه بن ابوسفيان" مور "هندې" په ډېر غېر انساني توګه شهيد او د هغه ځيګر يې له بدنه راوايست او هغه يې وخوړه خو بيا هم دا رحمت للعالمين و، چې د يوې کنځلي هومره يې دې کينه کښې ښځې ته و نه کړه.

د "تبوک" له جګړې، چې راستنېده؛ نو ځينو هوډ کړی و، چې رسول الله ترور کړي او هغه داسې، چې په يو کنډو کې ورته تربوزک وهلي پټ وو، چې د پېغمبر(ص) اوښ توري کړي او له دې لارې هغه مبارک درې ته لاندې ګوزار کړي او سره له دې چې پېغمبراکرم صلی الله عليه وآله وسلم هغوی ټول وپېژندل؛ نو چې يارانو يې غوښتل، د هغو کسانو نوم ورته واخلي خو رسول الله مبارک يې نوم خپلو يارانو ته ونه ښود او ورته له سزا ورکولو يې سترګې پټې کړې.



سره له دې چې د "عبدالله بن ابی" (د مديني د منافقانو مشر)، چې څومره له لاسه کېدل، چې له شا پر پېغمبر ګوزار وکړي او څومره خنډونه يې ورته په لار کې کېښوول؛ خو دا رحمت للعالمين و، چې ورسره بد چلن و نه کړ.

خو له ياده مو و نه وځي، چې دې ټولو شخصي اړخ درلود، که چا به يې سپکاوی؛ نو غبرګون يې موسکا او ښښل وو خو که چا به د اسلام له چوکاټه پښه وايسته او يا داچې د اسلام قانون ولتاړي نو بيا هماغه موسکی او ښښونکی پېغمبر و، چې پرېکنده يې د حق د پلي کولو لپاره ګام پورته کاوه.

## د عدالت په پلي کولو کې يې ګوزاره نه کوله

که چا به د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم سپکاوی؛ نو هغه يې ښښه؛ خو که په کوم ځای کې، چې به چا حق، الهي حکم او يا شرع لتاړله نو رسول الله داسې غوسه کېده، چې چا يې د الهي غوسې مخه نيوای نه شوه او تر هغه نه کلارېده، چې حق يې حقوال ته ورکړی نه و. پر چا يې چرت خراب نه و او هر چاچې له الهي چوکاټه پښه بهر کړه؛ نو پر هر مقام چې و نو پېغمبراکرم يې د سزا حکم ورکاوه او يا داچې په خپله يې ګناه کار ته سزا ورکوله.

په حقوقو کې ورته ټول یو شان او مساوي وو، حق یې پلې کاوه، که څه په خپله او یا د یارانو په تاوان یې هم و او د چارو د سمبالولو بنسټ یې حق و.

یوه ورځ د یو انصاري مسلمان له کوره غلا وشوه، چې یو یهودي او یو مسلمان پکې تورن وو، چې په دې وخت کې یوه ډله انصار پاک نبي ته واسطه شول، چې د یهودو د دښمنۍ او د مسلمانانو د پټ د ساتلو لپاره دې یوازې یهودي ته سزا ورکړه شي او مسلمان ته نه خو تر څېړنو روسته رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته جوته شوه، چې یهودي بې گناه دی؛ نو په بشپړ پرېکندتوب یې یهودی پرېښود او مسلمان ته یې سزا ورکړه.

د پاک نبي دې چار هم د نورو کړنو په څېر یې قرآني بڼه درلوده:

((يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُوا إِعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ[1]= مؤمنانو! تل د الله (د فرایضو) لپاره راپاځئ او په قسط او عدل گواهي ورکړئ، له کومې ډلې سره دښمني دې تاسې دې ته اړ نه کړي، چې عدالت و نه کړئ عدالت وکړئ، چې هغه (ځان ساتنې او) پرهېزگارۍ ته ډېر نږدې دی او (ځانونه مو) د الله له (عذابه) وساتئ، څه چې کوئ، الله پرې ښه خبر دی.))

سره له دې چې رسول الله د مکې د سوبې پرمهال ټول ببښلي وو خو له یوې ښځې سره چې د یوې سترې کورنۍ هم وه، پر عدالت چلن وکړ. کیسه داسې وه:

د "فاطمې "په نامه یوې ښځې، چې د "بني مخزوم" د ټبر وه، غلا وکړه او هغه یې رسول الله (ص) ته راوړه، چې تر څېړنو روسته پرې غلا جوته شوه. قریشو گومان کاوه، موږ چې هومره پېغمبر کړولی او زورلی و نو موږ یې چې وبښلو نو د هغې ښځې غلا خو به هرومرو ببښي خو ټول حیران شول، چې رسول الله مبارک پر هغه ښځې د الهي حکم د جاري کولو په تکل کې دی؛ نو قریشو هڅې پیل کړې، چې له دې کاره مخنیوی وکړي؛ ځکه هغوی ته سخته او د شرم خبره وه، چې د هغوی د ټبر یوه ښځه د غلا په تور سزا ووینې نو ړومبی یې گومان وکړ، چې د تاوان او نقدو په ورکولو له دې کاره مخنیوی وکړي؛ خو د الله استازي ورسره ونه منله. غلې، چې حالات ولیدل؛ نو د ځان د خلاصون لپاره یې د رسول الله (ص) یوې مېرمنې ته پناه یووړه او رسول الله ته یې واسطه کړه خو واسطې هم گټه نه درلوده او روستی ځل یې حضرت "اسامه بن زید" واسطه کړ،

---

[1] (مایده/۸)

چې د خپل پلار په څېر پر رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خورا ګران و خو همداچې "اسامه" پر خبرو شو؛ نو د اسلام د ستر مشرتابه څېره له غوسې سره شوه او و یې ویل: د الهي حد د نه جاري کېدو لپاره واسطه شوی یې؟ او ځای پرځای یې د غلې د سزا حکم یې ورکړ. اسامه پر خپله تېروتنه پوه شو، ښښنه یې وغوښته او ولاړ.

پر هغه ورځ پاک نبي (ص) خلک جومات ته راوغوښتل او ورته یې داسې وینا وکړه: ((پخواني قومونه؛ ځکه ورک شول او له منځه ولاړل، چې د عدالت په پلي کولو کې یې تبعیض روا ګاڼه او چې کله به د کوم منصب خاوند یا شتمن ګناه وکړه؛ نو له سزا معاف و خو که کوم بېوزله او تر لاس لاندې به خطا وکړه؛ نو تر ټولو سخته سزا ورکول کېده. قسم پر هغه الله چې زه یې درته پېغمبر رالېږلی یم، د عدالت په پلي کولو کې به د چار مخ خاطر و نه کړم او د محمد لور فاطمې هم که داسې رټلی کار کړی و نو بې ځنډه به مې ترې لاس غوڅ کړی و.))

او په خپل چلن یې وښوول، چې د الهي عدل د قانون پر وړاندې ټول یو شان او مساوي دي.

بله داچې: "سمرة بن جندب" په داسې ځای کې د کجورې و نه درلوده، چې لار یې د یو انصاري له کوره تېرېده او "سمرة" به هم، چې خپلې ونې ته تله؛ نو بې اجازې د انصاري کور ته ورننووته او ځان یې ونې ته رساوه. انصاري د "سمرة" په دې کار خپه شو او ورته یې وویل: چې خپلې ونې ته ورځې نو کور ته تر ننوتو مخکې اجازه غواړه خو "سمرة" د انصاري پر خبره غوږ و نه ګرواه او هماغسې بې اجازې د انصاري کور ته ورننووته. انصاري هم د الله استازي ته ګیله وکړه. د الله استازي هم "سمرة" را وغوښت او ورته یې وویل: پلانی در څخه ګیله کړې او نېغه په نېغه یې ورته وویل: تردې روسته، چې یې کور ته ننوځې نو اجازه به ترې غواړې. "سمرة" د رسول الله (ص) خبرې ته هم غوږ و نه نیوه؛ نو چې د الله استازي یې کار ولید؛ نو وړاندیز یې ورکړ، چې ونه دې وپلوره او داچې "سمرة" دې کار وهڅوي؛ نو د جیګې بیې وړاندیز یې هم ورکړ او ورته یې وویل: پر کومه بیه، چې دې خوښه وي، دا ونه وپلوره خو "سمرة" د ونې پلورلو ته هم غاړه کېنښووه. پاک نبي ورته د معنویاتو او اخرت په هکله خبرې وکړې، چې که د انصاري کور ته د ننووتو پرمهال اجازه وغواړې او یا داچې که ونه وپلورې نو الله به خورا ثواب درکړي؛ خو "سمرة" بیا هم ورسر ونه منله خو چې خبره له نرمۍ او ګوزارې تېره شوه؛ نو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته غوڅ وویل: مضر

انسان يې او د اسلام په دين کې ضرر ليدل او ضرر رسول نشته او بيا يې انصاري ته وويل: ((ولاړ شه او د کجورې ونه يې له بېخه را ونړوه!)) او بيا يې "سمرة" ته وويل: ((څه اوس ولاړ شه او په کوم ځای کې، چې دې زړه وي؛ نو همهلته دې ونه وکره.)) که منافقانو به د الله د استازي سپکاوی؛ نو د آنحضرت (ص) غبرگون ښښه او گوزاره وه او ان د هغوی نامې يې هم نه بربنډولې خو چې منافقانو غوښتل، د اسلام پر خلاف دسيسه جوړه کړي، که څه د جومات جوړولو په بڼه (د ضرار د جومات کيسه) نو جومات يې له خاورو سره خاورې کاوه او له هغه ځايه يې ډېران جوړاوه.

پاک نبي د الهي احکامو او عدالت د پلي کول راز په لاندې وينا کې څرگند کړی دی: ((يو ټبر په بېړۍ کې د سوربېدو لپاره پچه واچوله، چې ځينې په پاسني او ځينې په لاندني پوړ کې ځای پرځای شول، چې د لاندې پوړ خلکو اوبو ته د رسېدو لپاره د پاسني پوړ له خلکو تېرېدل؛ نو دوی له ځان سره وويل: څه به وشي، چې موږ هم اوبو ته د لاس رسي لپاره په لاندې پوړ کې سوری وکړو؛ نو په دې بڼه که د کشتۍ خاوند هر څوک د خپلو غوښتنو د لاس ته راوړو لپاره ازاد پرېږدي؛ نو ټول به هلاک شي او که مخه يې ونيول شي؛ نو ټول به نېکمرغه شي او خلاصون به ومومي.))

## د رسول الله تواضع

څښتن تعالی د خپل استازي په هکله وايي: ((وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ[1]= او له مؤمنانو، چې څوک ستا لاروي کوي، ورته خپل وزر ټيټ کړه (او په نرمۍ ورسره چلن کوه).

پاک نبي وايي: ((الله راته وحې کړې، چې دراعلان کړم، چې تواضع مو جامه کړئ.))

په رښتيا هغه ددې ډول تواضع په سترگو ليدل شوې بېلگه وه او بې له دې چې له ځانه کومه خواري او ذلت وښيي، متواضع و او د تواضع تر څنگ يې بشپړ هېبت او دبدبه هم درلوده، چې د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم دا کار د ځينو صوفيانو د اخلاقو پرخلاف و، چې د نفس د رامولو په پار، عزت نفس لتاړي.

(د بېلگې په توگه "ابراهيم ادهم" د تصوف يو ليکوال وايي، چې ما په څو ځايونو کې خپل نفس پر خپل مراد وموند يو ځل هغه چې يوه ورځ په بېړۍ کې ناست وم او په بېړۍ کې ناستو راپورې خندل او يو ملنډې وهونکی هم و، چې هره شېبه راتله او زما وېښتان يې راکښودل او پر سټ به يې وهلم او زه هم د خپل نفس له دې خوارۍ ډېر

---

[1] (شعراء/۲۱۵)

خوشحاله وم! بل ځل هغه مهال وو، چې ما د "دجلې" د سیند پر غاړه اودس کاوه او یو سړي پر ما توکاڼې را تو کړې، چې د هغه له دې کاره خوار خوشحاله شوم!)

په وسایل کتاب کې د ظلم د کراهت تر عنوان لاندې راغلي، چې انسان د خپل مال، دندې او... واک لري؛ خو د خپل پت واک نه لري، چې ولتاړل شي.

په دې هکله په تحف العقول کې له امام صادق (رح) نه روایت دی: ((مه دومره تریخېږه، چې خلک درځنې وتښتي او مه دومر نرمېږه، چې دربانديې سپاره شي او سپکاوی دې وکړي.))

امام حسین علیه السلام وايي: ((تر ذلیل ژونده عزتمنه مړینه غوره ده.))

د الله استازي د ځان اونورو ترمنځ پر امتیاز نه قایلېده. حضرت ابوذر غفاري(رض) وايي: چې کوم ناپېژندګلو به مو ډلې ته راغی؛ نو پېغمبراکرم (ص) یې نه پېژانده، پوښتل یې: په تاسې کې محمد (ص) څوک دی ؟ رسول الله(ص) خلک له دې ژغورل، چې څوک ورته په غونډه کې له ځایه پاڅي او له دې کاره په کلکه کرکجن و او داچې خلک هم پوه وو، چې رسول الله (ص) پردې کار خپه کېږي؛ نو چې هغه مبارک به راتله؛ نو څوک ورته له ځایه نه پاڅېده.

یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یو یار غوښتل، پېغمبر ته په پښو کې پرېوځي؛ یعنې سجده ورته وکړي، چې پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم ورته وویل: دا څه وايې ؟! دا کارونه د "قیصر" او "کسری" دي او دا کارونه زما د پېغمبرۍ او بندګۍ له شان سره سمون نه خوري.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم چې به روان و نو چاته اجازه یې نه ورکوله، چې ورپسې شي او که سپور و او څوک به ورسره روان و نو ورته یې د دریو کارونو واک ورکاوه: یا داچې ترې مخکې شي او د پېغمبر شاته روان نشي یا داچې صبر وکړي، چې رسول الله ولاړ شي او بیا هغه راشي او یا داچې که کېدای شول دواړه یو ځای پر سپرلۍ سپاره شي او ویل یې: سمه نه ده، چې زه سپور او تاسې پر خپلو پښو یاست.

چا ترې ونه لیدل، چې په خپله سپور وي او څوک ورسره روان وي او که داسې نه کېدل؛ نو په خپله هم له سپرلۍ کوزېده او په ټولیزه توګه له ظاهري دبدبې کرکجن و او په مسلمانانو کې یې له کبر، ځانمنۍ او غرور سره مبارزه کوله.

حضرت علي (ک) وايي: ((زه او رسول الله (ص) پر لار روان وو؛ نو په لار کې مې یوه ډله ولیده، چې له یو سړي راتاوه ده. پېغمبراکرم (ص) وپوښتل: دا خلک د څه

لپاره راټول شوي دي ؟ ورته يې وويل: يو خطرناک لېونی دی، چې خلک ترې راټاو شوي دي. د الله استازي وويل: دا سړی خو رنځور دی؛ خوحقيقي لېونی هغه دی، چې د تکبر او غرور له لامله د تګ پرمهال لاسونه مخکې او شاته کوي، ولې پورته او سينه يې راايستې وي او له خدايه جنت غواړي، حال دا وجود يې له ګناه ډک دی، چې دا د کبر او ځان منۍ نښه ده [1].

يوه ورځ رسول الله (ص) او ياران يې په يوه غونډه کې ناست وو. يو بېوزله مسلمان، چې جامې يې هم شلېدلې وې، مجلس ته راننووت او د ناستې د ځای په لټه کې شو، چې د يو شتمن سړي تر څنګ يې د ناستې لپاره ځای وموند. شتمن له دې خپه او کرکجن شو، چې بېوزله يې تر څنګه ناست دی؛ نو ځان يې راټول کړ او بېوزله يې له ځانه لرې کړ؛ نو د پيغمبراکرم (ص) هم، چې دې خبرې ته پام و، و يې ويل: ووېرېدې، چې بېوزلي يې تاته هم در شي ؟

ـ نه! د الله رسوله!

ـ ووېرېدې جامې به دې ککړې شي ؟

ـ نه! رسول الله (ص)!

ـ نو ولې دې ځان راونغاړه او ترې لرې شوې ؟

ـ د الله استازيه! منم چې تېروتی يم او ددې ګناه د کفارې د ادا کولو لپاره چمتو يم، چې خپله نيمه شتمني دې مسلمان رور ته ورکړم.

بېوزله سړي چې دا خبره واورېده؛ نو و يې ويل: زه يې نه منم.

په ډله کې ناست حيران شول، ويې پوښتل: ولې ؟

و يې ويل: وېرېږم ددې شتمنۍ له لامله زه هم مغرور او همداسې چلن؛ لکه له ما سره چې وشو، له خپل مسلمان رور سره وکړم.

رسول الله (ص) به تل خپل ياران له ځانمنۍ ژغورل او ورته يې ويل: ((ان په زړه کې مو هم د ځان منۍ خبره رانشي.))

د الله استازي ته د يو سړي خورا ستاينه وشوه، چې يوه ورځ هغه سړی د رسول الله (ص) غونډې ته راغی؛ نو اصحابو وويل: رسول الله (ص)! دا هماغه سړی دی، چې ستاينه يې درته شوې وه. د الله استازي، چې وليد؛ نو و يې وويل: ((په تندي کې يې د شېطان نښې وينم)) چې سړی رانږدې شو؛ نو د الله استازي ورته وويل: ((پر الله مو قسم دې غونډې ته چې راننووتې نو په زړه کې دې را نه غلل، چې په دې غونډه کې تر ټولو غوره يې))؟ و يې ويل: هو!

---

[1] (معانی الاخبار؛٦٧ باب)

امام صادق (رح) وايي: ((يو سړي پر غرور د الله استازي ته وويل: رسول الله (ص)! زه پلانی د پلاني زوی يم او د خپلو نهو نيکونو نومونه يې واخستل. د الله استازي ورته وويل: ته ورپسې لسم په دوزخ کې يې [1].

"احمد بن محمد بن ابي نصر بزنطي" د امام رضا (رح) يار و، چې وايي: موږ له څو کسانو سره امام ته ورغلو او څو شېبې ورسره کېناستو نو د راستنېدو پرمهال يې راته وويل: احمده! ته کېنه! راسره راغلي ولاړل او زه له امام سره پاتې شوم او له امام مې يو لړ پوښتنې درلودلې، چې د ټولو ځوابونه يې راکړل، چې د شپې يوه برخه تېره شوه؛ نو غوښتل مې ولاړ شم، راته و يې ويل: ځې که پاتېږې ؟ ورته مې وويل: څه چې تاسې وياست که وياست چې ولاړ شم نو ولاړ به شم که وياست، چې پاتې شئ؛ نو پاتې به شم راته يې وويل: پاتې شه او دا دې هم د خوب ځای. بيا امام پاڅېد او خپلې کوټې ته ولاړ او ما هم له لېوالتيا سجده وکړه او و مې ويل: خدايه ستا شکر! د پېغمبرانو د علومو وارث او امام په دې ټولو کسانو کې له ما سره دومره مينه لري؛ نو په سجده وم، چې احساس مې کړل، چې امام راغی، پاڅېدم، امام زما لاس په خپلو مبارکو لاسونو کې ونيو او و



يې ويل: احمده! اميرالمؤمنين علي د خپل يو يار "صعصعة بن صوحان" پوښتنې ته ولاړ او چې راستنېده؛ نو و يې ويل: صعصعة! داچې پوښتنې ته دې راغلی يم نو له ورونو دې ځان پورته ورنه ګڼې زما پوښتنه دې ددې لامل نشي، چې ته ترې ځان غوره وګڼې، له الله ووېرېږه، تقوا دې جامه کړه، متواضع وسه، چې الله دې لوړمقامی کړي.))

امام په دې خبره خبرداری ورکوي، چې هېڅ څه د انسان د ځان جوړونې، د نفس د روزنې او نېکچاريو ځای نه نيسي او انسان ته په کار نه دي، چې پر امتيازاتو غره شي، ان امام ته نږدوالی او له اړخه يې ځانګړې مينه يې هم بايد د انسان د غرور او پر نورو د ځان د غوره ګڼلو لامل نشي.

### ټوکې

د الله استازي سره له هومره دبدبې، شان او شوکت تل موسکی او تندی يې ورين و، چې وحې ورته راتله او يا داچې د روزنې په حال کې به و نو جدي به و ګڼې نو په عادي ژوند کې يې له خپلو اصحابو سره ټوکې او ورسره يې خبرې او اترې کولې.

امام صادق (رح) وپوښتل شو: ايا رسول الله (ص) به ټوکې هم کولې ؟ و يې ويل: الله حضرت محمد پر " ستر خلق" ستايلی

[1] (اصول کافي)

و او الله چې څومره پېغمبران هم رالېږلي ول؛ نو په ټولو کې یو څه تريخوالی و خو د حضرت محمد (ص) تندی تل ورين و، تل به موسکی و او له خپلو اصحابو سره يې ټوکې کولې، چې د هغه مبارک هيبت پرې کېنني او و کړای شي رسول الله (ص) ته وګوري او خپلې غوښتنې او پوښتنې له رسول الله (ص) وکړي او رسول الله، که کوم صحابي غمجن وليد؛ نو پر ټوکو يې خوشحالوه او ويل يې: هغه د الله دښمن دی، چې پر تريو تندي له خپلو مسلمانانو ورونو سره مخامخېږي[1].

امام صادق (رح) خپلو يارانو ته وايي: ولې يو له بل سره ټوکې نه کوئ؟

د ښو اخلاقو خاوندان ټوکې کوي، پر ټوکو کړای شئ خپل مسلمان رور خوشحاله کړئ، د الله استازي له خپلو يارانو سره ټوکې کولې، له دې لارې يې خوشحالول او د حضرت محمد(ص) وينا ده: ((هغه مسلمان نه دی، چې ټوکې نه کوي.))

له ياده دې ونه وځي: سره له دې چې د الله استازي ټوکې کولې خو په ټوکو کې يې هم بې له حقه څه نه ويل.

امام رضا (رح) وايي: يو عربي د الله د استازي کتو ته راغی او ورته يې ډالۍ ورکړه او همدلته يې وويل: زما د ډالۍ پيسې راکړه. د الله استازي وخندل او چې غمجن به و نو ويل يې: څومره به ښه شي، چې اوس هغه پانډيځي راشي.

د الله استازي سپکه ټوکه نه کوله او خپلو اصحابو ته يې هم ويل: ((سپکه ټوکه مه کوئ.)) هېڅکله يې اجازه نه ورکوله، چې پر حقايقو او جدي چارو ټوکې او ملنډې ووهل شي او په ټوکوکې يې سپکاوی وشي، چې دلته موږ د الله د استازي يو څو ټوکو ته اشاره کړې ده:

((يوه ورځ يې د زړو ښځو په ډله کې وويل: هېڅ بوډۍ به جنت ته لاړه نشي))

چې ټولې بوډۍ ګانې پردې خبره خپه شوې، چې رسول الله(ص) ورته وويل: ((هغه پردې مانا نه ده، چې تاسې څوک جنت ته نه پرېږدي؛ بلکې جنت تر ننووتو مخکې به بېرته ټولې ځوانانې شئ.))

يوه ورځ يې خپله ښې پښه رامخکې او ويې پوښتل: زما دا پښه څه ته ورته ده ؟ په دې وخت کې يو د خندا لپاره څو تشبيه ګانې وکړې؛ خو د الله د استازي يوه هم خوښه نه شوه؛ نو ورته وويل شول: د الله استازيه! اوس په خپله ووايئ، چې پښه مو څه ته ورته ده ؟ په دې وخت کې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم موسکی شو، و يې ويل: ((دا پښه مې دې بلې پښې ته ورته ده.))

[1] (سنن النبی؛٦٠ مخ)

نبوي حديث دی: ((تفريح او سرګرمي وکړئ؛ ځکه خوښ نه يم، چې په دين کې مو تاوتريخوالی وليدل شي.))
پاموړ خبره خو داده، چې د الله د استازي ټوکې يوازې د يارانو د خندلو لپاره نه؛ بلکې له ټوکو يې د خپل يارانو د روزنې لپاره ګټه اخسته. يوه ورځ يې حضرت انس بن مالک (رض) ته "دوه غوږی" ووايه، چې هم يې ورسره ټوکه کړې وي او هم يې پوه کړی وي، چې خوله يوه خو غوږونه دوه دي او د انسان د حق اورېدل بايد د خبرو په پرتله ډېره وي. د الله د استازي دې خبرې ته خورا پام و، چې په ټوکه د دين او انسانانو سپکاوی ونشي. د رسول الله له ټوکو څرګندېږي، چې هغه ټوکې په اسلامي آدابو کې شاملې دي چې:
١ـکنځلې او ناروا پکې نه وي.
٢ـد نورو د سترګو د شلېدو لامل و نه ګرځي.
٣ـکينه او دښمني جوړه نه کړي.
٤ـ په ټوکه کې منځلاري او ډېره ټوکه هم د انسان دبدبه له منځه وړي.
٤ـ په ټوکو روزي لاس ته نه راوړل.

**مينه او درناوی**

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم خپلو اصحابو سره دومره مينه کوله، چې که کوم يو يې درې ورځې ونه کوت نو پوښتل يې، که پر سفر وتلی و نو دعا يې ورته کوله او که په کور کې و او خبر به شو، چې ناجوړه دی؛ نو کتنې او پوښتنې ته يې ورتله.
رسول الله له خلکو سره دومره مينه کوله، چې ټولو داسې ويل: ((دا زموږ لوراند پلار دی.)) او په ستونزو او سختيو کې يې پناه وروړه. د خلکو پام يې د هغوی تېروتنو ته کاوه او د هغوی پر دننيو ټپونو يې د مينې ملهم ايښـوول؛ خو د چا نيمګړتيا يې نه بربنډوله او تل يې پر ورين تندي او د زړه له کومې په مينه له خلکو سره معاشرت کاوه او اصحابو ته يې ويل: ((يو د بل بدی راته مه وياست؛ ځکه غواړم بې له کينې او په پاک زړه درسره مخ شم.))
چې څوک به ورکره ورغلل؛ نو درناوي ته يې ورلاندې خپل څادر هواروه او يا داچې پر خپل توشک يې کېناوه. هېڅکله يې پښې د اصحابو په مخ کې نه غځولې او چې مېلمانه به پاڅېدلي نه وو؛ نو رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم نه پاڅېده او چې له خلکو سره يو ځای کېده؛ نو تر هغه چې کېدل، ورسره د مينې له لامله همغږی و؛ يعنې که د آخرت په هکله به خبره وه نو د الله استازي هم د آخرت په باب خبرې کولې او که د دنيا خبره به شوه؛ نو رسول الله (ص) هم د دنيا خبره کوله. کله به د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په مخ

کې شعرونه ویل کېدل او یو د بل خبرې کېدې؛ خو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم بیا هم هغوی نه منع کول؛ خو داچې خبره به حرامې ته شوه.

د الله استازي (ص) به په معاشرت کې له ډېر احتیاطه کار اخسته، چې د چا حق هم و نه لتاړل شي. په یوه جګړه کې پېغمبر (ص) پر لمانځه و، چې څو کسان په مخ کې یې تېر شول، د یوې شېبې لپاره تم شول او له اصحابو یې د الله د استازي پوښتنه وکړه او ورته یې دعا وکړه او ښښنه یې وغوښته، چې د بیړې له لامله نشي کړای رسول الله (ص) ته په تمه شي او خپل سلام یې پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم ته ورسوه او ولاړل. تر لمانځه روسته رسول الله پر خپګان وویل: ډېره هېښنده ده! یوه ډله ستاسې مخې ته راځي او زما پوښتنه کوي او تاسې یې درناوي ته پا نه څېدئ او مېلمستیا مو ترې و نه کړه او بیا یې د "جعفر طیار" خبره را واچوله، چې څومره مېلمه پال و او د نورو درناوی یې کاوه.

## نیوکې

سره له دې چې هغه مهال ټولو د الله د استازي پر عصمت او په ټولو چارو کې پر نه تېروتو بشبړ ایمان درلود او هېڅ چا د الله د استازي یو کار هم د نیوکې وړ نه ګاڼه خو په مشرۍ کې د رسول الله سیرت داسې و، چې په پراخه سینه او ورین تندي یې ټولو نیوکو ته غوږ نیوه او د هرې نیوکې په هکله یې شرح او معلومات ورکول.

رسول الله حضرت ابوذرغفاري (رض) ته وویل: ابوذره!ما ته نصیحت وکړه او ابوذر هم ورته د قرآن پاک شریف څو آیتونه وویل.

د "حنین" په جګړه کې یې د مصلحت له مخې د غنیمتونو یوه برخه نویو مسلمان شویو ته ځانګړې کړه، چې په دې وخت کې حضرت سعد بن عباده (رض)، انصارو او نورو مجاهدینو، چې له مخکښانو هم وو، نیوکه وکړه، چې ولې ورته زموږ په پرتله وړتیا ورکړ شوه؟ د الله استازي وویل: ټول نیوکه کوونکي دې په یو ځای کې راټول شي او بیا یې په خوږه او غوسه ژبه ټول ددې کار پر علت پوه کړل، چې تر غونډې روسته، هېڅ چا نیوکه نه درلوده او ټول پښېمانه شوي او له رسول الله یې ښښنه وغوښته.

نبوي حدیث دی: ((چې کوم چارواکي د عدل د قانون پرخلاف کار وکړ؛ نو نیوکه پرې وکړئ.))

یوه ورځ د الله استازي یو لښکر ته پوځي دنده ورکړه او له انصارو یې یو ورمشر کړ. په لار کې دا مشر د یوې خبرې له لامله غوسه شو او حکم یې وکړ، چې ډېر خس راټول کړئ او ستر اور بل کړئ؛ نو

همداچې اور پر لمبو شو؛ نو و يې ويل: ايا رسول الله حکم نه و کړی، چې زما حکم به منئ؟ ټولو وويل: هو همداسې ده. و يې ويل: حکم کوم، چې په دې اور کې ځان وسوځوئ. چا يې خبره ونه منله. چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له دې خبرې خبر شو؛ نو و يې ويل: ((که د هغه له حکم مو لاروي کړې وای نو د تل لپاره به په اور کې وئ، لاروي هغه مهال په کار ده، چې چارواکی د قانون په چوکاټ کې حکم وکړي.))

په جګړو کې له سرتېرو سره يو ځای و او په سرتېرو کې نه پېژندل کېده او سره له دې چې تر هجرت روسته دننني او بهرني دښمنانو هومره خنډونه په مخ کې کېښوول؛ خو د اسلام معارف يې خلکو ته ورسول او د اسلام له دښمنانو سره يې اتيا جګړې وکړې؛ خو سره له دې ټولو جګړو او کړاوونو هېڅکله نهيلی او ناغېړی نه شو او نه پر شا ولاړ. پوټی يې هم د زړه لورنه کمه نه شوه. د عمر په پای کې يې په مدينه کې يې هومره پراخه سينه او حوصله وه؛ لکه څومره يې، چې په مکه کې د رسالت په پيل کې درلوده. په مشرۍ کې يې چا د زور خبره نه شوه کړای او ټول د قانون پر وړاندې يو شان او دنده يې درلوده، چې د قانون له مخې چلن وکړي.

[1] (مستدرک الوسايل۲/۵۱۷)

## ادمان/ ورزش

پېغمبراکرم (ص) فاطمې بي بي کره ولاړ او "حسن" او "حسين" ته يې وويل: ((يو له بل سره غېږ ونيسئ)) او دواړه يې دې کار ته هڅول[1].

پېغمبراکرم صلی الله عليه وآله وسلم د اسونو د منډې سيالي جوړه کړه، چې پيل او پای يې جومات و او ړومبي، دويم او درېيم تن ته يې د کجورې ونه انعام ورکړه[2].

بايد دې خبرې ته مو پام وي، چې رسول الله مبارک په دې سيالۍ کې درې آرونه پلي کړل، چې په ننيو کې ترې غفلت کېږي:

۱ـ د سيالۍ ډول: پاک نبي د اسونو سپرلي سيالي کړه، چې هم ورزش او هم هغه مهال په جګړه کې په کار راتلای شول؛ خو ننني وارداتي ورزشونه که څه ساعت تېري او تفريح ده؛ خو هېڅکله د هېواد په راتلونکي او يا په دفاع کې ونډه نه لري.

۲ـد سيالۍ پيل او پای يې جومات کړ او کېدای شي پردې مانا وي، چې ټول حرکتونه بايد الهي اړخ ولري او پر هغه لوري وي.

۳ـپه ننيو سياليو کې لګښتي او سينګاري توکي انعام ورکول کېږي؛ خو رسول الله

[2] (جواهر الکلام۲۸ /۲۱۳)

صلی الله علیه وآله وسلم د کجورې ونه (چې مېوه ورکوي) انعام وټاکله، چې درلودل يې د بزګرۍ لامل ګرځي او په غېر مستقیمه توګه خلک بزګرۍ ته هڅوي.

## جګړه

مړانه، غښتلتیا او زړورتوب، چې پر الله د ایمان پایله وه، له وړوکتوبه د رسول الله(ص) په وینا او کړنو کې نغښتې وه.
پاک نبي درې کلن و، چې حلیمې بي بي ته يې وويل: مور جانې! د ورځې مې ورونه چېرې ځي ؟ ورته و يې ويل: بېديا ته ګډې د څر لپاره وړي. پاک نبي هم وغوښتل، چې سبا ورسره ولاړ شي؛ نو چې سبا شو حلیمې بي بي پاک وويناځه، وېښتان يې ورته غوړ او رانجه يې ورته په سترګو کړل او د ساتنې لپاره يې ورته يو يماني کاڼی په غاړه کې واچو. کوشني محمد (ص) هغه له غاړې راوايست او بي بي ته يې وويل: ((الله مې تل راسره او تر ټولو ستر او ښه ساتونکی مې دی.))
پينځلس کلن و، چې په "حرب" نومي جګړه کې يې ګډون وکړ، چې د "قریشو" او د "هوازن" د ټبرونو ترمنځ وه. تر رسالت روسته هم په جګړو کې تر ټولو مخکښ و، د جګړې جامې يې پرتن وې او تر ټولو به زړور و. په دې هکله حضرت علي (ک) وايي: چې په جګړه کې راباندې سخته شوه؛ نو رسول الله ته مو پناه وړه او هغه تل په ړومبۍ لیکه کې و او دښمن ته تر ټولو ورنږدې و او په بل ځای کې وايي: د "بدر" په جګړه کې مونږ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته پناه یووړه، چې له ټولو دښمن ته ورنږدې و.
د "احد" په جګړه کې يې غاښ شهید او ډول ډول بریدونه پرې وشول؛ خو د یوې شېبې لپاره يې هم له جګړې لاس وا نه خست او سره له دې چې ډېرو نږدې یارانو يې له جګړې پښې سپکې کړې وې خو رسول الله مبارک په مړانه وجنګېد او ټول يې پر شا وتمبول.

## انساني آرونه

ان په جګړو کې يې هم د دښمنانو پر وړاندې انساني آرونه له یاده نه ایستل او چې د اسلام لښکر تګ ته چمتو شو؛ نو ټول يې راټول او ورته يې ويل: ((ولاړ شئ، د الله په نامه او د الله په لار کې د خپل پېغمبرد امت لپاره جهاد وکړئ، ټګي و نه کړئ، غنیمتونه مه پټوئ او کفار تر وژلو روسته مه مثله (غړي ترې مه غوڅوئ) کوئ او ماشومان، ښځې او بوډاګان مه وژنئ او هغه مسافر او وګړي مه وژنئ، چې په غرونو کې وسېږي، حلال څاروي مه وژنئ خو داچې د خوړو اړتیا يې وي، هېڅکله د کفارو د څښاک په اوبو

کې زهر مه اچوئ، بوټي، ونې او د کښت پټي مه خرابوئ، ښځو ته اور مه اچوئ او ډېر خوښ یم، چې د راستنېدو پرمهال درسره داسې کسان وي، چې اسلام یې منلی وي او داسې ماشومان او ښځې چې پلرونه او مړونه مو ورته وژلي وي.))

یوه ورځ یې یوه ډله بندیان د الله د استازي په مخ کې تېرول، چې پر لیدو یې پر شونډو موسکا راغله، چې بندیانو ورته وویل: حق لرئ، چې پر موږ بېوسو بندیانو وخاندئ! رسول الله (ص) وویل: ((حیران یم هغه ډلې ته، چې په زنځیرونو جنت ته راکښودل کېږي؛ یعنې یوه شئ چې ملنډې درباندې نه وهم او؛ ځکه خاندم، چې زه مو جنت ته بوځم او تاسې یې نه منئ.))

## په غونډو او ټولنو کې ګډون

حضرت امام حسین وایي: له پلاره مې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په غونډو کې د ګډون د سیرت په هکله وپوښتل، و یې ویل: ناسته او پاسته یې د الله په نامه وه. په غونډو کې یې د ناستې لپاره ځانګړی ځای نه ټاکه، چې له نورو د ځان غوره ګڼلو نښه شي او ټول یې له دې کاره ژغورل او چې کومې غونډې ته به ولاړ؛ نو کوم ځای، چې تش و نو هملته کېناسته او یارانو ته یې سپارښتنه کوله، چې داسې وکړئ.



د چا په خبره کې یې نه وردانګل او په غونډه کې یې له هر ګډونوال سره یې د هغه د فکر او شان له مخې بنډار کاوه که ډله به پر خندا شوه؛ نو پاک نبي به هم موسکی شو او که حیران به شول؛ نو رسول الله (ص) هم حیرانتیا څرګندوله.

د خلکو اړتیاوې یې پوره کولې، په غونډو کې یې له خلکو سره خبرې اترې کولې او چوپ او یا ګونګی نه پاتېده او د ژوند، کاروبار او روزګار په هکله یې پوښتل او خلک یې ددین له ښوونو سره اشنا کول او په دې هکله، چې یې څه ویل؛ نو سپارښتنه یې کوله، چې په غونډه کې ناست کسان دې غایبین هم خبر کړي. تل یې سپارښتنه وه: ((هغه بېوزله، چې اړتیاوې لري؛ خو ما ته نشي رارسېدای نو که له اړتیاوو یې خبر یاست نو راته یې وواییئ او په دې کار کې ست مه کوئ؛ ځکه چاچې د کوم اړمن اړتیا چارواکي ته ورسوله او د هغه د ستونزې د حل لپاره یې هڅې وکړې نو الله به یې د قیامت پر ورځ و نه ښویوي.))

د رسول الله (ص) په مخ کې چا خپل غږ جیګولای نه شو او د چا حرمت او درناوی له منځه نه تله او که څوک تېروته؛ نو تېروتنه یې په بل ځای کې نه ویل کېده؛ ځکه رسول الله (ص) ویل: ((په غونډه کې ناست کسان یو د بل امانت ساتي دي

او روا نه ده، چې څوک د خپل ملګري راز برېنډ کړي.))

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم حضرت ابوذر غفاري ته وویل: ((غونډې امانت او د رورنو د راز برېنډول خیانت دی؛ نو له دې کاره ځان وژغوره.))

؛البته رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د درېو غونډو د راز برېنډول نه یوازې نه دی منع کړی؛ بلکې برېنډول یې د ټولو دنده ګڼلې ده:

۱_ هغه غونډه، چې د بې ګناه وینه پکې تویې شي.

۲_هغه غونډه، چې پکې د بې ګناه وینه توینه حلاله وګڼل شي.

۳_هغه غونډه، چې پکې د بل مال حلال وشمېرل شي.

د رسول الله (ص) غونډې داسې وې، چې هر چا پکې ګډون کړای شو او کورونو یې ساتندویان هم نه درلودل خو هغوی یې هم نه خوښول، چې وخت ناوخته بې له کوم اړین چار راتلل؛ لکه چې یو ورځ یې همداسې یو کس ته وویل: ((هره ورځ مه راځه، چې په منځ کې مو مینه همداسې زیاته پاتې شي.[1]))

د مجلس ادب او انضباط یې خورا خوښ و او په دې هکله یې سپارښتنې کولې؛ لکه: یوه ورځ جومات ته راغی او ویې لیدل، چې ټول په جومات کې ډلې ډلې او یو له بله بېل بېل ناست دي؛ نو و یې ویل: ((ولې داسې خپاره واره ناست یاست، راټول شئ، د الله مرسته له ټولنې او غونډې سره ده.))

په غونډو کې ترې ټول راټولېدل او څوک چې راننووته او کوم ځای چې تش و نو هملته کېناسته.

ټول اصحاب یې پر وړاندې متواضع وو او چې د الله استازي خبرې کولې نو هغوی به چوپ وو او د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په مخ کې یې سره ناندرۍ نه کولې.

**لارښوونه**

همداچې آنحضرت(ص) د الله له لوري پېغمبر وټاکل شو او د "و انذر عشیرتک الاقربین" حکم راغی؛ نو متې یې بډ وهلې او ړومبی یې د کوشني "علي" په مرسته خپلو خپلوانو ته مېلمستیا وکړه، چې پنځه څلوېښت تنو "بني هاشم" یې ګډنوال وو خو سره له دې چې د "ابولهب" چټیاتو د پېغمبراکرم (ص) د موخو د بیانولو مخه ونیوه خو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم بیا هم په کلار نه شو او سبا یې بیا مېلمستیا وکړه او ورته یې الهي پېغام ور ورساوه. درې کاله یې په پټه خلک اسلام

[1] (نهج الفصاحة ۵۱ مخ)

ته رابلل او په درې کالو کې یې له خلکو سره خپلې اړیکې نیوې او دین ته یې راوبلل، چې د ښکاره بلنې حکم وشو او په ښکاره یې خلک اسلام ته رابلل پیل کړل او له همدې ځایه ول، چې ګواښونه او کړاوونه پیل شول او روسته تردې، چې د "صفا" پر غونډۍ د الله د استازي ویناوې پای ته ورسېدې؛ نو د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تره وویل: مړ شې! همدې خبرو ته دې دلته راټول کړي وو ؟.

او څومره چې د اسلام د لمر وړانګې خپرېدې نو هومره ورسره د "قریشو" دښمنۍ ډېرېدې او ویل یې چې (نعوذ با الله) دا سړی پالي او کودګر دی، چې په کورنیو کې د اولاد، موروپلار ترمنځ درز اچوي او ځینو ویل، چې لېونی دی او د اوښ د لرې مرداري، خاورې او ایرې یې پر مخ وروشیندلې خو دې ټولو کړاوونو ته یې سینه پراخه کړې وه او دې ټولو سختیو یې پوټی هم چرت خراب نه کړ او خپلې الهي دندې ته یې دوام ورکړ او دومره یې د خلکو له لارښوونې سره مینه درلوده، چې نږدې وو په دې مینه کې ځان له منځه یوسي، چې الله ورته پیغام راولېږه:

((فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَىٰ آثَارِهِم إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا بِهٰذَا الْحَدِيثِ أَسَفاً[1] = او که په دې خبره (= قرآن) ایمان را نه وړي نو ښایي ته یې د کړنو له لامله ځان له غمه مړ کړې.))

حضرت علي (ک) د الله د استازي د تبلیغ په هکله وایي: ((پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم ګرځنده طبیب و، چې له خپل طب سره په خلکو کې ګرځېده او په هر ځای کې، چې په کار وو؛ نو پر خلکو یې ملهم ایښوول او پر ځینو ټپونو یې تاوده شوي اوزار هم ایښوول او دې مانیز طبیب غافل، ناپوهه او سرګردانه زړونه درملول.))

استاد مطهري د رسول الله(ص) په باب د حضرت علي (ک) ددې تعبیر په هکله وایي: ((داچې هغه مبارک یې له طبیب سره ورته کړی، غواړي ووایي: د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم کړنلار د طبیب کړنلار وه، چې د طبیبانو یوه ځانګړنه پر رنځورانو لورنه ده او بیا وایي خو طبیبان یو له بل سره توپیر لري:

۱_ هغه طبیب، چې ثابت کتنځی لري، هر څوک ورته راځي او ورته وایي، چې درملنه مې وکړئ او طبیب هم ورته نسخه ورکوي او که څوک ورنغی؛ نو طبیب هم ورسره کار نه لري.

۲_ګرځنده طبیب یوازې پردې خوښ نه دی، چې رنځوران ورته راشي؛ بلکې هغه په خپله هم په رنځورانو پسې ځي او حضرت علي (ک) هم وایي چې رسول

---

[1] (کهف/٦)

الله (ص) همداسې طبيب و، چې پخپله په مانيزو او اخلاقي رنځورانو پسې تله او دا يې عمري دنده وه [1].

د رسول الله مبارک سيره داسې وه، چې ښيون ته په چمتو زړونو پسې و او چې په مکه کې قريشو ورسره هغسې بد وکړل؛ نو"طايف" ته يې سفر وکړ خو هغوی هم هماغه وکړل، چې قريشو ورسره کړي وو د هغه تېر شتمنو، کوڅه ډب وګړي، رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ته وپړسول او آنحضرت (ص) يې د ډبرو تر باران لاندې کړ او ټول مبارک بدن يې ورته ټپي کړ خو يوازې د "عداس بن ربيعه" په نامه يو مسيحي مريی و، چې د عظمتونو کان يې راوسپړه.

د حج موسم به چې را وروسېد؛ نو عرب په بېلابېلو سيمو "عکاظ"، "مجنه" او "ذی المجاز" کې راټولېدل او شاعران او ويناوال په هر ځای کې ناست وو او بنډار يې؛ نو داچې حج په حرامو مياشتو کې ترسره کېده او رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د کافرانو له تېري خوندي و نو له دې فرصته يې ګټنه کوله او پر يو لوړ ځای به کېناسته او خلکو ته يې لارښوونه کوله او ويل يې: ((د الله پر يووالي منښته وکړئ، چې نېکمرغه شئ او د ايمان په ځواک سره کړای شئ د نړۍ واک او ټول خلک تر خپلې واکمنۍ لاندې کړئ او په آخرت کې به مو ځای جنت وي.))

د عربو له مشرانو او سپين ږيرو سره يې کتل، کور ته يې ورتله او د خپل دين پر حقيقت يې پوهول؛ خو "ابولهب" هم غلی او په کلار نه کېناسته او خلکو ته يې ويل: ((خلکو! پر خبره مه تېروځئ!خبرې يې بې بنسټه دي؛ ځکه هغه مو د پلار نېکه د دين دښمن دی.)) د "ابولهب" زهرجنو تبليغاتو د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د تبليغ د اغېز کچه را ټيټوله؛ ځکه د عربو مشرانو ويل: ((که د محمد دين پر سمه او حقه وي؛ نو خپلوانو به يې ورسره مخالفت نه کاوه.))

پر رسالت د آنحضرت (ص) ايمان تردې خورا ډېر او غښتلی و، چې داسې کسان او تبليغات يې نهيلی کړي او په ډول ډول؛ نورو لارو يې خلک دين ته رابلل.

[1] (سيره نبوي؛٤٧مخ)

## څوک د الله پر استازي ګران وو ؟

ومو لیدل چې د الله استازي د ټولو درناوی کاوه او پر مقام او شتمنۍ یې چرت نه واهه خو سره له دې، په غونډو، ناستو پاستو، راکړو ورکړو او د ښوونې او روزنې په ټولګیو کې پرې هغوی خورا ګران ول، چې تقوا یې د نورو په پرتله ډېره وه او همداسې خلکو ته یې د آل عمران د سورت ٦٨ آیت وایه:

((إِنَّ أَوْلَىَ النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ=ابراهیم ته ډېر نژدې (او منسوب) خلك هغه دي، چې د هغه لاروي یې کړې ده او (په هغه وخت کې یې لاروی ته وفادار وو، همداراز) دا پیغمبر او هغوی چې پرې ایمان راوړی دی (ابراهیم ته منسوب دي) اوالله د مؤمنینو ولي (پالندوی) دی.

او همداراز هغوی هم پرې ګران وو، چې د ښېګڼې کارونه یې کول او په ژوند کې یې عدالت پلي کاوه، چې په دې هکله حضرت علي (ک) وایي: ((پیغمبرانو ته تر ټولو نږدې هغوی دي، چې د پیغمبرانو پر راوړونکیو پیغامونو علم او عمل ولري، بیا وایي: حضرت محمد(ص) ته تر ټولو نږدې هغه دی، چې له خدایه لاروي کوي، که څه نسب یې له پیغمبره لرې وي



او هغه ورته نږدې نه دی، چې د الله لاروی نه وي که څه نږدې خپلوان یې وي.

## د مؤمنینو حقوق

رسول الله مبارک وایي: هر مؤمن پر بل مؤمن دېرش حقه لري: ((١_ تېروتنې یې وبښي. ٢_ پر ژړا او زارۍ یې ولورېږي. ٣_ رازونه او یې بربنډ نه کړي. ٤_ غلطۍ یې وبښي. ٥_ بښنه یې ومني. ٦_ په نه شتون کې ترې دفاع وکړي او له غیبته یې مخنیوی وکړي. ٧_ تل یې خېر او ښېګڼه غواړي. ٨_ ملګرتوب ورسره ټینګ وساتي. ٩_ د ژمنو درناوی یې وکړي. ١٠_ که رنځور شي؛ نو پوښتنه یې وکړي. ١١_ په مړینه او ویر کې یې ګډون وکړي. ١٢_ بلنه یې ومني. ١٣_ ډالۍ یې ومني. ١٤_ احسان او ډالۍ یې جبران کړي. ١٥_ د نعمتونواو نېکیو څواب یې ورکړي. ١٦_ په نېکچاریو کې یې ملاتړ شي. ١٧_ مېرمن یې وساتي. ١٨_ اړتیاوې یې پوره کړي. ١٩_واسطه او منځګړتوب یې ومني. ٢٠_ د پرشي پرمهال پرې رحمت ووایي. ٢١_ ورک شوی ورته راپیدا کړي ٢٢_ د سلام څواب یې ورکړي. ٢٣_په پسته او نېکو الفاظو ورسره وګړېږي. ٢٤_که نېکې او احسان یې ورسره کړی وي؛ نو وسره دې وکړي. ٢٥_ قسمونه یې تایید کړي. ٢٦_ ورسره دوستي وکړي او دښمني ورسره و نه

کړي ۲۷_ ملا تړ يې شي، که ظالم وي که مظلوم خو د ظلم پرمهال دې ملاتړي او مرسته داسې وي، چې هغه له ظلمه وژغوري او د مظلوميت پرمهال داسې، چې د خپل حق په اخستو کې ورسره مرسته وکړي. ۲۸ _ دښمن ته يې ونه سپاري او خوار يې نه کړي. ۲۹_ هره ښېګڼه، چې د ځان لپاره غواړي، د هغه لپاره يې هم وغواړي. ۳۰_ هره بدي، چې د ځان لپاره نه غواړي، د هغه لپاره يې هم ونه غواړي.))

نبوي حديث دی: ((مسلمان د مسلمان رور دی، ورسره دښمني نه کوي او کنځل ورته نه کوي او څوک چې د خپل مسلمان رور د ستونزې د هواري لپاره هلې ځلې وکړي؛ نو الله به يې ستونزې هوارې کړي او څوک چې د مسلمان غم او خپګان له منځه يوسي نو الله يې د قيامت پر ورځ نه غمجنوي او څوک چې د بل مسلمان پر نيمګړتيا پرده واچوي؛ نو الله به يې د قيامت پر ورځ بې پردې نه کړي.))

نبوي حديث دی: ((خلکو! دښمني مه کوئ، کينه مه کوئ، يو بل ته مه شا کوئ، يو د بل ورونه شئ او هېڅ مسلمان له بل مسلمانه تر دريو ورځو ډېر خپه کېدای نشي.))

**د رنځورانو پوښتنه**

رسول الله(ص) د رنځورانو پوښتنې ته ورتله او ددې کار سپارښتنه يې هم کوله او د اسلام له نظره د رنځور پوښتنه پر مسلمان فرض ده او خورا ثواب لري ؛البته له ياده مو ونه وځي، چې پوښتنه مو د رنځور د استراحت لپاره خنډ نشي، په اخلاص دا کار وکړي او د رنځور لپاره يو روحي يا جسمي کار وکړي نه داچې ايله يې مېلمه شي.

د رنځور د پوښتنې پرمهال لاندې خبرو ته پام پکار دی:

۱_ که د لاسه يې کېږي؛ نو رنځور ته يو څه له ځان سره يوسي. د امام صادق (رح) يو يار وايي: زموږ يو ملګری رنځور شو، يوه ډله يې پوښتنه ته روانه شوه، چې په لار کې مو امام صادق (رح) وليد؛ نو ويې پوښتل: چېرې روان ياست ؟ ورته مو وويل: د يو ملګري پوښتنې ته روان يو. راته يې وويل: ايا مېوه يا کوم پاک شربت مو له ځان سره اخستی که نه؟ ورته مو وويل: نه! راته يې وويل: نه پوهېږئ، چې که رنځور ته څه يوسئ؛ نو خوشحاله به شي.

۲_ له رنځور سره مينه او له خدايه ورته بېړنۍ شفا غوښتل، چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د حضرت سلمان پوښتنې ته ورغی نو داسې دعا يې ورته وکړه: سلمانه! الله دې ژر تر ژره ښه کړه،

ګناه دې وبښل شه او الله دې د عمر تر پایه د دین او بدن روغتیا درکړي.

۳_ له رنځور ډېرې پوښتنې او ورسره خبرې نه کول، امام صادق (رح) وایي: د رنځور په مخ کې ډېرې خبرې یې تر خپل رنځه ډېر کړوي.

٤_ له رنځور سره لږ کېناستل خو داچې رنځور ټینګار وکړي، حضرت علي (ک) وایي: تر ټولو ستر ثواب د هغه دی، چې د رنځور د پوښتنې پرمهال له رنځور سره لږ پاتې شي؛ خو داچې د رنځور غوښتنه او ټینګار وي.

٥_رنځور ته ډاډ ورکول، امام صادق (رح) وایي: د رنځور پوښتنې ته چې ولاړئ؛ نو د روغتیا ډاډ ورکړئ، چې په دې کار به کم نشئ خو د رنځور روحیه به غښتلې شي.

٦_ ژر ژر د رنځور پوښتنې ته مه ځئ، د الله د استازي وینا ده:

ژر ژر د رنځور پوښتنې ته مه ځئ (د مثال په توګه)څلور ورځې روسته ولاړ شئ.

## د رنځور دندې

انسان چې رنځور شي؛ نو پر ځینو رنځونو په اخته کېدو کې پخپله پړ وي او ځینې رنځ یا د پېښو له لامله وي یا له نورو ورغلې وي، چې پخپله یې په ککړېدو کې ګرم نه وي؛ نو چې انسان رنځور شو؛ نو یا دې په



خپله او یا یې کورنۍ د درملنې غم وخوري. انسان ته پکار دي، چې په رنځ کې لاندې ټکیو ته پام وکړي:

١_ د الله پر رضا او الهي تقدیراتو خوښي او له خدایه ګیلې نه کول.

رسول الله مبارک وایي: الله وایي: چې کوم مؤمن بنده مې رنځور او په بستره کې کړ او که څوک یې پوښتنې ته ورغلل او په سپکو سپورو او ګیلو یې لاس پورې نه کړ؛ نوغوښه او وینه به یې ښه اوغوره کړم او که خوښه مې شوه؛ نو ساه به ترې واخلم او خپل رحمت ته به یې را وبولم، که خوښه مې شوه؛ نو روغتیا به ورکړم او له ټولو ګناهونو به یې تېر شم نو په دې وخت کې وپوښتل شو: د الله استازیه! غوره او ښه غوښه؛ یعنې څه ؟ د الله استازي (ص) وویل: هغه وینه او غوښه چې پر ګناه ککړه نه وي[1].

٢- صبر او پراخه سینه او د رنځ له لامله چغې او سورې نه وهل، د پاک نبي وینا ده: لوی څښتن وایي: چې کوم بنده مې د مال، اولاد او بدن په ستونزه کې راښکېل کړ؛ نو که پراخه سینه او صبر زغم ولري؛ نو د قیامت پر ورځ شرمېږم، چې حساب کتاب ورسره وکړم.

د امام صادق (رح) وینا ده: انسان له الله سره یو داسې مقام لري، چې په نه وررسي؛

[1] (بحار ۸۱ /۲۰۷)

بلکې د مال، اولاد او بدن په ستونزو کې د زغم او صبر له لامله وررسي.
٣_ پرهېز کول: امام صادق (رح) وايي: ((پرهېز د درملنو مور ده)) او بيا وايي: ((که خلک لږ وخوري نو بدن به يې روغ وي.))
٤_ د بدن روغتيا له الله غوښتل او د روغتيا د لاس ته راوړو لپاره صدقه ورکول.
٥_ له ځانه او ډېر درمل نه خوړل او هر يو درمل د ډاکټر د نسخې له مخې و خوري. رسول الله مبارک وايي: ((چې ګورئ، بدن مو د رنځ زغم لري؛ نو درمل مه کاروئ خو که بدن مو زغم نه لري؛ نو هله درمل وخورئ.))
امام صادق (رح): مؤمن دې تر هغې درمل نه خوري څو يې رنځ بدن لاندې کړی نه وي.
امام رضا (رح) وايي: داسې درمل به پيدا نه کړئ، چې تر څنګ عوارض ونه لري.
٦_ که عذرنه لرئ؛ نو مؤمنانو ته اجازه ورکړئ، چې پوښتنه مو وکړي؛ يعنې څنګه چې پر مسلمانانو فرض دي، چې د رنځور پوښتنه وکړي؛ نو رنځور ته هم پکار دي، چې مسلمانانو ته يې د پوښتنې اجازه ورکړي، ورين تندی ورکړي، دعا ورته وکړي او دعا ترې واخلي.
٧_توبه کول اوله خپلې رنځ عبرت اخستل؛ يعنې لږ دې سر په ګرېوان کې ښکته کړي، چې کېدای شي، د همدې رنځ له لامله ومري او د ګناهونو د جبران او د توبې وخت و نه مومي او پرېکنده هوډ وکړي، چې د روغتيا تر لاس ته راوړو روسته ښه ښه کارونه وکړي.
امام صادق (رح) وايي: څومره بختور دی هغه، چې (رنځ يې ددې لامل شي، چې د خپلو ګناهانو) توبه وکړي او څومره بدمرغه دی هغه چې د روغتيا تر لاس ته راوړو روسته بيا ګناهونو ته ورمخ کړي.
نبوي حديث دی: چې کوم مؤمن رنځور شي او بيا الله روغتيا ورکړي؛ نو رنځ يې د تېرو ګناهونو کفاره او د راتلونکي لپار موعظه ده؛ خو که کوم منافق رنځور شي؛ نو مثال يې هغه اوښ ته ورته دی، چې خاوند يې له پښو تړي او بيا يې پرانځي حال دا اوښ نه پوهېږي، چې د څه لپاره تړل او بيا پرانستل شوی دی.
٨_ که له پخوا يې وصيت کړی نه وي؛ نو ژر تر ژره دې يې وکړي، که د رنځ له لامله ومري، چې د چا حق و نه لتاړل شي. انسان ته پکار ده، چې د خوب پرمهال خپل وصيت تر سر لاندې کېږدي او سپارښته او خورا ټينګار شوی، چې رنځور دې هرومرو وصيت وکړي.
٩_ څنګه چې ورته اساني وي، خپلې شرعي دندې ترسره کړي. د بېلګې په توګه: که اودس نشي کړای؛ نو "تيمم" دې وکړي او که پر ولاړه لمونځ نشي کړای؛ نو په ناسته دې لمونځ وکړي او....

**د ګاونډیانوحقوق**

د ګاونډیانو په هکله د الله د استازي وینا ده: ((په مینه ورسره تګ راتګ ولرئ))که پر سفر ووت نو د کور او پاتې خلکو خیال یې وساتئ او په ناوړه پېښو کې یې ملاتړ شئ.))

نبوي حدیث: ((پر ګاونډي د ګاونډي حرمت د مور په څېر دی.))

((پر قیامت او الله ایمان نه لري هغه چې پخپله په موړ نس ویده شي؛ خو ګاونډی یې وږی تږی وي)).

د یادونې خبره ده، چې له ګاونډیانو سره په مینه تګ راتګ او پورته سپارښتنې یوازې په مسلمانانو پورې ځانګړې نه وې، تردې چې وایي: ((له ګاونډیانو سره مو نېکي وکړئ ان که کافران وي.))

د تبوک په جګړه کې یې د ګاونډیانو د حقوقو په هکله وویل: ((چاچې خپل ګاونډی زورولی وي؛ نو له موږ سره دې نه راځي.))

په اسلام کې ګاونډی یو لړ حقوق لري، چې ځینې یې دادي:

۱_ مسلمان باید پر ګاونډویانو په سلام اچولو کې مخکښ وي او د سلام ځواب یې پر ورین تندي ورکړي.

۲_د ټولو ګاونډیانو د کورنۍ درناوی وکړي او دا درناوی په چلن کې هم څرګند کړي او ورسره یې مینه ورځ پر ورځ ډېره شي، چې په دې هکله رسول الله مبارک وایي: ((څوک چې پر الله او قیامت ایمان لري؛ نو باید د خپل ګاونډي درناوی وکړي.))

۳_ مسلمان باید د خپل ګاونډي ناموس خپل ناموس وګڼي او په خیرنه سترګه ور ونه ګوري. یوه ورځ امام صادق (رح) ته وویل شول، پلانی وایي، چې ستا لاروی دی؛ خو د ګاونډي ناموس ته په خیرنه سترګه ګوري. امام ورته وویل: هغه دروغ وایي، چې زموږ لاروی دی! څوک چې زموږ لاروی وي؛ نو د خپل ګاونډي ناموس ته پر خیرنه سترګه نه ګوري.

٤_ د ګاونډیانو کړنې تر څارنې لاندې ونه نیسي او په چار کې یې تجسس او پلټنه و نه کړي، چې دا ډېر کرکجن چار دی او په اسلام کې ترې په کلکه ژغورل شوي یو. رسول الله مبارک وایي: ((ای یوازې پر خولو مؤمنانو! په خلکو پسې بد رد او غیبت یې مه کوئ او په نیمګړتیاوو کې یې تجسس مه کوئ او چاچې دا کار وکړ؛ نو الله به یې په چارو کې تجسس وکړي او د چا په چار کې، چې الله تجسس وکړ؛ نو وبه یې شرموي.))

٥_ که د ګاونډي نیمګړتیا مو ولیده؛ نو کوښښ وکړئ، چې پرده پرې واچوئ او پوه شئ، چې د ښکلا او ښېګڼو څرګندول

او پر بدو پرده اچول الهي ځانگړنه ده او د بدیو بربنډول شیطاني چار دی[1].

د پاک نبي وینا ده: ((چاچې د نورو پر نیمگړتیاو پرده واچوله؛ نو الله به یې په قیامت کې بې پردې نه کړي.))

٦_د ناوې په اوبو، د باس د اوبو په لمدبل، د تنور او بخارۍ په لوگي، د خوړو په بوی د گاونډي د کور د لمر د مخ نیونه، پر گډ دېوال په اغزي ایښوولو او د گاونډي کور ته په لیدو او... باید گاونډی و نه ځورول شي او ورپسې له خبرو، کنځلو او بدو ردو ځان وژغورو.

رسول الله مبارک ته وویل شو: پلانۍ ښځه لمونځ کوي او روژه نیسي خو گاونډیان ترې پوزې ته را رسېدلي دي. د الله استازي ورته وویل: ((ځای یې د دوزخ په اور کې دی)) او بیا یې وویل: ((ایمان یې نه دی راوړی، چې گاونډې یې ترې تنگ وي)) او په بل ځای کې وایي: ((څوک چې گاونډی وزوروي؛ نو الله به پرې د جنت بوی حرام کړي او دوزخي به یې کړي، چې دوزخ ډېر بد ځای دی.[2]))

د پاک نبي وینا ده: ((پر یو بل دوه بریدگر گاونډیان به د قیامت پر ورځ تر ټولو ړومبي محاکمه کېږي.))

٧_ د گاونډي په نه شتون کې یې د کور او مال ساتنه وکړي

٨_ په هره شونې بڼه، چې وي، له گاونډي سره مرسته وکړي (د بېلگې په توگه: که پور یې پکار وي که لوښي یا نور څه یې پکار وي) د رسول الله مبارک وینا ده: ((چاچې د اړتیا پرمهال خپل لوښي گاونډي ته ور نه کړل؛ نو الله به د قیامت پر ورځ خپل خیر و نه کړي.)) ؛ البته له یاده مو ونه وځي، چې هغه گاونډي ته خپل لوښي او نور څیزونه ورکول نه دي پکار، چې روغ یې وړي او مات یا خراب یې راستنوي.

امام صادق (رح) وپوښتل شو: ځینو گاونډیانو ته مو لوښي ورکوو، چې په راستنېدو کې یا خراب یا مات وي؛ نو که بیا خپل لوښي ور نه کړو؛ نو گناه مو کړې ده ؟ امام صادق (رح) وویل: داسې گاونډي ته لوښي ورکول پکار نه دي.

٩_ مسلمان ته پکار دي، چې د خپل گاونډي په غم او ښادۍ کې ځان شریک کړي. یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خپل یاران وپوښتل: خبر یاست، چې د گاونډي حقوق څه دي ؟بیا یې وویل: د گاونډي حق دادی، چې که رنځور شو؛ نو پوښتنې ته یې ورشي، که

---

[1] (بحار الانوار۷٤ /۱٥)

[2] (بحار الانوار۷٤ / ۱٥۰)

ومړ، په جنازه کې يې ګډون وکړي او په غم او ښادۍ کې يې شريک شئ.
حضرت علي (ک) وايي: ((د الله استازي د ګاونډي په هکله دومره سپارښتنې وکړې، چې ګومان مو وکړ، ګاونډي ته پاتوړی-ارث هم رسي.))

### د لومړي ټوک پای

يادونه: پاتې برخه په دويم ټوک کې

## سرچينې


١_آداب تعليم و تعلم،شهيد ثاني

٢_احياء علوم الدين،امام محمد غزالي

٣_ارشاد القلوب،ابو محمد حسن ديلمي

٤_اصول كافي،كليني

٥_اعلام الورى باعلام الهدى،شيخ طبرسي

٦_امالي،شيخ صدوق

٧_امتاع الاسماع،مقريزي

٨_بحارالانوار،محمد باقر مجلسي

٩_پيامبر رحمت،محمد خالد د صدر بلاغي ژباړه

١٠_پيام و پيامبر،سيد محمد تقي حكيم

١١_تاريخ طبري

١٢_تاريخ يعقوبي

١٣_تحف العقول

١٤_الترغيب

١٥_جامع السادات،مولى مهدي نراقي

١٦_حيوة الحيوان،دميري

١٧_حقايق،مولى محسن فيض كاشاني

١٨_حقوق حيوانات در اسلام،محمد تقي جعفرى

١٩_خلاصه تعاليم اسلام،علامه طباطبايي

٢٠_داستان راستان،استاد شهيد مطهري

٢١_دلايل النبوة،ابوبكر احمد بن حسين بيهقي

٢٢_روش دعوت محمد (ص)

٢٣_زندگي فاطمه زهرا ،دكتر شهيدي

٢٤_سنن النبي،علامه طباطبايى

٢٥_سيره ابن هشام

٢٦_ سيره حلبي

٢٧_سنن ابي داوود

٢٨_سيره احمد زيني

٢٩_سفينة البحار،حاج شيخ عباس قمي

٣٠_شرح نهج البلاغه،ابن ابي الحديد

۳۱_شرح المواهب،زرقاني

۳۲_صحيح بخاري

۳۳_صحيح ترمذي

۳٤_صحيح مسلم

۳۵_الطبقات الکبری

۳٦_طرايف الحکم،مېرزا احمد اشتياني

۳۷_طبقات، ابن سعد

۳۸_عوائد الايام، نراقي

۳۹_علل الشرايع، شيخ صدوق

٤۰_فروغ ابديت، شيخ جعفر سبحاني

٤۱_کيماى سعادت، امام محمد غزالي

٤۲_کحل البصر،حاج شيخ عباس قمي

٤۳_کشف الريبه عن احکام الغيبه، شهيد ثاني

٤٤_گناهان کبيره، ايت الله شهيد دستغيب شيرازي

٤۵_مکارم الاخلاق، ابو نصر حسن بن فضل طبرسي

٤٦_المحجه البيضاء فی التهذيب الاحياء، ملا محسن فيض کاشانی

٤۷_مناقب،ابن شهر اشوب

٤۸_محمد (ص)خاتم پيامبران، جمعي از نويستدگان

٤۹_معاني الاخبار، شيخ صدوق

۵۰_ترجمه الميزان في تفسير القرآن، مرحوم علامه طباطبايي

۵۱_مستدرک الوسايل، محدث نوري

۵۲_مسئله حجاب، استاد شهيد مطهري

۵۳_معجم البلدان، بلاذري

۵٤_المعجم المفهرس لا لفاظ حديث لنبوي

۵۵_ معراج السعادة، ملا احمد نراقي

۵٦_نهج الفصاحة، سخنان پيامبر اکرم(ص)

۵۷_نهج البلاغه، سخنان امام علي

۵۸_نورالثقلين، ابن جمعه حويزي

۵۹_وسايل، شيخ حر عاملي

٦۰_وحي و نبوت، استاد شهيد مطهری.

٦۱-سيری در سيره نبوي، انديال شهيد مرتضی مطهری

٦۲-سيره پيامبر، جمعی از نويسندگان مرکز تربيت معلم

٦٣-شش گفتار- اندیال شهید مرتضی مطهری
٦۴-فرازهایی از تاریخ پیامبر اسلام –آیت الله جعفر سبحانی
٦۵-سیره پیامبر با نگاهی به آیات قرآنی –شیخ محسن قرآیتی
٦٦-محمدي ښوونځی – د اجرالدین اقبال خپړنه
٦٧-پنجاه درس اصول عقاید برای جوانان –استاد ناصر مکارم شیرازی
٦٨- تلخیص اصول عقاید - شیخ محسن قرآیتی
٦٩-سیره پیامبر در رهبری و انسان سازی –استاد سالم الصفار
٧٠-تفسیر نمونه
٧١-تفسیر نور
٧١- کابلی تفسیر
٧٢-الرحیق المختوم
٧٣-نهج البلاغه د اجرالدین اقبال پښتو ژباړه.
٧۴- انسان ٢۵٠ ساله- سید علی حسینی خامنه ای
٧۵- پیامبر رحمت- سید علی حسینی خامنه ای
٧۵- درسهایی از پیامبر اعظم – سید علی حسینی خامنه ای
٧۵- نیراعظم- سید علی حسینی خامنه ای
٧٦- ده گفتار- علامه شهید مرتضی مطهری
٧٧- بیست گفتار- علامه شهید مرتضی مطهری
٧٨- معارف الحدیث
٧٩- خلافت او ملوکیت- ابوالاعلی مودودی